وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِنْ مُدَّكِرٍ

تفسير

أحسن الكلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الرابع

څلورم

د سورة مائده نه تر سورة توبه پورې

الناشر

جامعة عربية لإشاعة التوحيد والسنة

پډه بېر - پشاور

وَلَقَدْ يَسَّرْنَا الْقُرْآنَ لِلذِّكْرِ فَهَلْ مِن مُّدَّكِرٍ

تفسیر

احسن الکلام

بلغة البشتو

للشيخ أبي زكريا عبد السلام الرستمي

الجزء الرابع

(څلورم جزء)

من سورة مائده الى سورة توبه

الناشر:
جامعة عربية لاشاعة التوحيد والسنة
بډه بير - پشاور

سورة المآئدة مدنية | بسم الله الرحمٰن الرحيم | اياتها ١٢٠ ركوعاتها ١٦

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شروع کولو کښې چه رحمٰن او رحيم دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَوْفُوْا بِالْعُقُوْدِ ؕ اُحِلَّتْ

اے ایمان والو! پوره کړئ لوظونه، حلال کړے شویدي

المنزل ٢

بسم الله الرحمٰن الرحيم

سورة المائدة: اودَ دے نور نومونه سورة العقود او سورة المنقذة دی۔

ربط دَ دے دَ مخکښې سورت سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه مخکښې سورت کښې رد دے په مظالمو دَ جاهلیت په باره دَ کمزورے مخلوق کښې او س رد کوی په مظالمو دَ جاهلیت باندے په باره دَ حِل او حرمت کښې۔ دويمه وجه داده چه په هغه سورت کښې خطاب عام وؤ دَ پاره دَ کمال دَ انسانیت نو په دے سورت کښې خطاب خاص دے دَ پاره دَ کمال دَ ایمان۔ دریمه وجه داده چه په مخکښې سورت کښې ذکر شول قبائح دَ یهودو او رد وؤ په شرک دَ نصاریٰ باندے نو په دے سورت کښې نهی ده دَ هغوی دَ موالات (دوستانے) نه او دَ هغے نور اسباب ذکر کوی او شهادت دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر کوی په ورځ دَ قیامت دَ پاره دَ رد په نصاریٰ باندے۔

دعویٰ دَ سورت: امر په وفاء دَ عقودو ایمانیو عمومًا او په باره دَ تحلیل و تحریم کښې خصوصًا سرهٔ دَ رد کولو نه په هغه کسانو باندے چه وفائے په عقودو نه ده کړے چه یهود او نصاریٰ دی۔ او رد دے په اقسامو دَ شرک باندے یعنی شرک فی التصرف، شرک فی العلم، شرک فی العبادت، شرک فی التحلیل والتحریم۔ او دَ معرفتِ الٰهیه دَ پاره یئے شپاړس اسماء حسنیٰ ذکر کړے دی۔

خلاصه دَ سورت په طریقه دَ اجمال سره داده چه شپاړس کرته یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ئے ذکر کړے او دا عقودِ ایمانیه دی اووه اوامر شپږ نواهی درے اخبارات۔ او دَ سورت په اول او اخر کښې خطابات دی دَ پاره دَ مؤمنانو او په مینځ کښې تفصیل دَ قبائحو دَ اهلِ کتابو او دعوت دے نصاریٰ ته۔

خلاصه تفصیلی داده: چه په سورت کښې درے حصے دی اوله حصه تر ۷۸ پورے ده په دیکښې دوه بابونه دی اول باب تر ۵۰ پورے دے په دے کښې پنځه خطابات دی مؤمنانو ته او هغه عقود دی چه په هغے کښې رد دے په شرک

لَكُمۡ بَهِيۡمَةُ الۡاَنۡعَامِ اِلَّا مَا يُتۡلٰى عَلَيۡكُمۡ

تاسو لره حلال کړی شو ځناور د څارو - مګر هغه چه لوستلے کیږی په تاسو باندے

غَيۡرَ مُحِلِّى الصَّيۡدِ وَاَنۡتُمۡ حُرُمٌ

مه کیږئ حلال ګڼرونکی دَ ښکار چه تاسو په حال دَ احرام کښ یئ.

اِنَّ اللّٰهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيۡدُ ① يٰۤاَيُّهَا الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡۤا

یقیناً الله تعالیٰ فیصله کوی هغه چه اوغواړی. اے ایمان والو

فی التحلیل والتحریم باندے. په اول آیت کښ رد دے په تحریم لغیر الله اوذکردَ تحریم الٰهی دے او په ۲ کښ ذکر دَ ادب دے په باره تحریماتو الٰهیو کښ چه هغے ته نذور الٰهیه هم وئیلے کیدے شی او په ۳ کښ تفصیل دے دَ تحریماتو چه په هغے کښ رد دے په نذر دَ غیرالله باندے او په ٤ ۵ کښ نور تحریماتِ الٰهیه ذکر کوی او په ٦ کښ دریم خطاب دے په باره دَ طهارتِ بدنیه کښ او په ٧ کښ ترغیب دے په ایفاءِ عقود باندے او په ٨ کښ څلورم خطاب دے په باره دَ استقامت او عدل کولو کښ او په ٩ کښ بشارت او په ١٠ کښ تخویف اخروی دے او په ١١ کښ پنځم خطاب دے په باره دَ شکر دَ نعمتونو دَ الله کښ دَ باره دَ ترغیب دَ ایفاء دَ عقودو. او په ١٢ کښ ذکر دے دَ عقودو دَ بنی اسرائیلو چه پنځه دی او په ١٣ کښ دَ هغے عقودو دَ ماتولو دَ وجے نه پنځه عذابونه دنیوی ذکر دی او په ١٤ کښ دَ نصاریٰ نقضِ عقود سرهٔ دَ یو عذاب نه ذکر شویدے.

تفسیر:

١ عُقُوْد هغه ټول احکام دی چه په تقاضا دَ ایمان سره په قرآن او سنت کښ لازم شویدی عموماً او په باره دَ تحلیل او تحریم کښ خصوصاً او هر کله چه دا سورت نازل شوے دے په وخت دَ فتح مکه کښ او دَ مشرکانو رسومِ شرکیه دَ حلال او حرام په هغه وخت کښ رائج وُو نو اول ئے رد اوکړو په شرک فعلی (شرك فی التحلیل والتحریم) باندے. او فرق په مینځ دَ عقود او عهود کښ دادے چه عقود خاص دی په ایمان والو پورے او عهود عام دے هر هغه چا ته چه آسمانی کتاب ئے منلی وی که کتابی کافر وی او که مؤمن وی دَ دے وجے نه په سورة بقره ٤٠ کښ "اوفوا بعهدی" وئیلے دے. بَهِيۡمَةُ الۡاَنۡعَامِ بهیمه دَ بهم نه ماخوذ دے

لَا تُحِلُّوْا شَعَآئِرَ اللّٰهِ وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ

بې عزتي مه کوئ د نخو د الله تعالی او نه د میاشت د عزت

وَلَا الْهَدْیَ وَلَا الْقَلَآئِدَ وَلَآ آٰمِّیْنَ

او نه د قربانئ او نه د امیل والو څاروو او نه د قصد کوونکو

الْبَیْتَ الْحَرَامَ یَبْتَغُوْنَ فَضْلًا مِّنْ رَّبِّهِمْ

د کور د عزت والا چه طلب کوی فضل د رب خپل

هغه څیز ته وئیلے شي چه ژبه ئې وی لیکن خبرے نشي کولے او اَنْعَامِ د نَعَم نه دے څرنډونکے مال ته وئیلے شي او د دوارو مصداق یو دے یعني څاروی (چارپایه) او دا اضافت بیانیه دے په لفظ د بهیمه کښ معنی د عموم ده چه هغه ئې په لفظ د جنس سره (مفرد) ذکر کړو او په لفظ د انعام کښ ډیرو قسمونو ته اشاره وه د دے وجے نه هغه ئې جمع ذکر کړله۔ اُحِلَّتْ د مطلق تحلیل د پاره استعمالیږی لیکن دلته کښ مراد د دے نه رد دے د مشرکانو په تحریم لغیرالله باندے چه هغوی بحیره او سائبه وغیره په ځان باندے حرام کړل دا رنګ معالم التنزیل کښ وئیلے دی۔ غَیْرَ مُحِلِّی الصَّیْدِ د دے په نصب (زور ورکولو) کښ اختلاف دے۔ حال دے د ضمیر د لکم نه په طریقه د استثناء سره که لفظ د بهیمة الانعام شامل وی صید ته نو استثناء متصل ده او که شامل نه وی نو استثناء منقطع ده لیکن غوره داده چه د دے فعل محذوف دے (کونوا) او دا رنګ ابن مالک په الفیه کښ وئیلے دی چه عرب کَانَ سره د اسم نه حذف کوی او خبر باقی پریږدی او دا توجیه ځکه غوره ده چه دا مستقلے مسئلے ته اشاره ده چه هغه تحریم الٰهی دے چه د دے سورت د سکوع نه په تفصیل سره ذکر کیږی۔ اِنَّ اللّٰهَ یَحْکُمُ مَا یُرِیْدُ دا علت دے چه مخکښ تحلیل او تحریم په اجمالی طریقے سره وو او په دے کښ رد دے په معتزلو باندے هغوی وائی چه په الله تعالی باندے په احکامو شرعیو کښ مصلحت د بندګانو واجب دے نو دا غلطه خبره ده۔

وَرِضْوَانًا ؕ وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوا ؕ وَلَا

او رضامندی۔ او کله چه اوځئ د احرام نه نو ښکار کوئ (که خوښه موشی)۔ او نه دې

يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ أَنْ صَدُّوكُمْ

تیزوی تاسو بُغض (دُشمنی) د یو قوم په دې وجه چه منع کړیوئ تاسو

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ أَنْ تَعْتَدُوا ۘ

د مسجد حرام نه چه د حد نه تیر شئ۔

وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَىٰ ۖ وَلَا تَعَاوَنُوا

او مدد کوئ د یو بل سره په نیکئ او تقوی کښې او مدد مه کوئ د یو بل سره

عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ ؕ وقف لازم

په گناه او د ظلم په کارونو کښې او یره کوئ د الله تعالیٰ نه۔

إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (٢) حُرِّمَتْ الربع

یقینًا الله تعالیٰ سخت عذاب والا دې۔ حرام کړیدۀ

ت۲۔ په دې ایت کښې حکم ذکر کوی د هغه څیزونو چه د حرم کعبه سره یې تعلق وی که مکان وی اوکه زمان وی ښاروی وی اوکه انسانان (چه د هغې نه تعبیر کیدیشی په نذورِ الٰهیه سره) او په دې کښې درې منهیات اودرې مأمورات دی او دا د عقودونه دویم عقد دې. لَا تُحِلُّوا احلال د حرمت خلاف کولو ته وئیلې شی او حرمت دوه قسمه دې یو قسم منهیات دی نو په هغې کښې احلال په معنی ارتکاب د منهی عنه دې او دویم قسم حُرمت په معنی د احترام او د عزت دې نو په هغې کښې احلال په معنی د بې احترامئ او بې عزتئ کولو دې دلته دویمه معنی مراد ده۔ شَعَآئِرَ اللهِ شعائر جمع د شعیرت ده هر هغه څیز چه په هغې سره بل څیز معلومیږی یعنی خاص علامت او نښې ته وئیلې شی. بیا د هر دین او مسلك د پاره خاص خاص علامات وی چه په هغې سره هغه دین او د هغه دین والا خلق معلومیږی لکه د هندوانو د دین نخه مندر (درمسال) او زِنار په غاړه کول دی او د سیکانو نخه توره کرپان او سنړې وغیره ساتل دی او د انګریزانو نخه صلیب ساتل او ګرجا وغیره ده

نو دا رنګ د دين اسلام د پاره خاص علامات دي لکه مساجد، مونځونه، مناسك د حج
(صفا مروه، منی، مزدلفه، عرفات، بُدن، قرباني، قلائد) قران کريم او نور عبادات
شرعيه چه دا ټول سبب د تقرب د الله تعالیٰ دي او مسلمان په دے اعمالو سره
معلوميږي- نو د دے شعائرو بے عزتي کول حرام دي او د دے ذکر په سورة بقره ۱۵۸
او سورة حج ۳۲ ۳۶ کښې شوے دے- وَلَا الشَّهْرَ الْحَرَامَ لا د پاره د تاکيد د نهي دے-
الشَّهْرَ مفرد په معنی د جمع سره دے او هغه څلور مياشتے دي لکه سورة بقره ۱۹۴
۲۱۷ او سورة توبه ۳۶ کښې دي- اَلْحَرَامَ يعني حرمت والا دي چه په هغے کښې قتال
کول حرام دي او نور فسادونه پکښې په تاکيد سره حرام دي- او د اهلِ علمو اختلاف
دے چه قتال په مياشتو د حرمت کښې اوس هم حرام دے او يا منسوخ شوے دے
او بل قول په کښې دا دے چه ابتداء د قتال په کښې اوس هم حرام ده اګر چه جوابي
قتال په کښې جائز دے- وَلَا الْهَدْيَ دا نوم د هغه څاروي دے چه احرام کوونکے
د عمرے يا د حج ئے په طريقه د هدئے سره حرم مکه ته اوړي يائے د چا په لاس
بانديے ليږي د هغے بے حرمتي کول (په لاره کښې نيول يا ذبح کول مخکښې د رسيدلو نه
حرم ته) ناجائز دي- ولا الْقَلَآئِدَ دا تخصيص دے روستو د تعميم نه يعني هدی
عام ده او قلائد هغه څاروي وي چه د هغے ستو ته ئے څه علامت اويزان کړے
وي او حرم ته ئے اوړي يا ليږي نو د هغے بے حرمتي کول هم حرام دي- وَلَآ آٰمِّيْنَ
الْبَيْتَ الْحَرَامَ يعني څوک چه د عمرے يا د حج قصد کوي نو د هغوي منع کول او د
هغوي بے حرمتي کول حرام دي او په دے کښې دوه قوله د اهلِ علمو دي اول
دا چه دا لفظ مشرکانو ته هم شامل دے نو بيا په هغے کښې نسخ (تخصيص) کړے
شوے دے په سبب د ايت "فلا يقربوا المسجد الحرام" سره دويم قول دا دے
چه مراد د دے نه صرف مؤمنان دي په دليل د دے چه ورضوانا خاص دے
په مؤمنانو پورے او د حسن بصري نه خطيب شربيني روايت راوړے دے
چه په سورة مائده کښې منسوخ نيشته نو بنا په دے باندے دويم قول غوره دے
وَإِذَا حَلَلْتُمْ فَاصْطَادُوْا په دے کښې اشاره ده چه د صيد حرمت خاص دے په
حرم او احرام پورے د هغے حرمت هميشه نه دے او امر د اصْطَادُوْا د پاره د
اباحت دے- او ابن کثير وئيلي دي چه دا امر دے روستو د منع نه نو که مخکښې د
منع نه يو څيز واجب وي نو روستو د نهي نه به امر د پاره د وجوب وي او که مخکښې
د پاره د اباحت وي نو روستو به هم د پاره د اباحت وي نو امر د صيد مخکښې هم

د پاره د اباحت وؤ نو روستو به هم د پاره د اباحت وی یعنی هر امر روستو د نهی نه
د پاره د اباحت نه دے۔ وَلَا یَجْرِمَنَّکُمْ شَنَاٰنُ قَوْمٍ اه دا تعلق لری د آمین البیت الحرام
سره او عطف دے په لا تحلوا باندے۔ مقصد دا دے چه په واقعه د حدیبیه کښ
مشرکانو مؤمنانو لره د مسجد حرام نه منع کړل نو د هغوی په زړونو کښ د کافرانو سره
ډیر بغض او دشمنی پیدا شوه نو هرکله چه په اتم کال د هجرت باندے مکه مکرمه
فتح شوه او ډیرو مشرکانو ایمان راوړو نو هغوی عمرے او حج له راتلل نو شاید
چه د مؤمنانو په زړونو کښ دا خیال راغلے وی چه هرکله دوی مونږ لره د مسجد
حرام نه په واقعه حدیبیه کښ منع کړے وؤ د دے وجے نه مونږ هم دوی لره
د مسجد حرام نه منع کوؤ نو الله تعالیٰ مؤمنانو لره د دے اراده کولو نه په دے
قول سره "وَلَا یَجْرِمَنَّکُمْ" منع کړل د دوه وجونه اول وجه دا وه چه دوی ایمان
راوړو او په ایمان راوړلو سره ټول گناهونه معاف شول نو د هغوی سره بغض
او دشمنی کول حرام شول دویمه وجه دا ده که چرے په دوی باندے عدوان اوکړے
شی نو په هغے سره به د لا تحلوا شعائر الله اه مخالفت لازم شی یعنی د شعائر الله او
شهر حرام او هدی او قلائد او د قصد کوونکو د بیت الله بے عزتی به اوکړے شی۔
لَا یَجْرِمَنَّکُمْ د اجرام نه ماخوذ دے یعنی په کسب کولو د جرم باندے اماده کول
شَنَاٰنُ سخت بغض ته وئیلے شی۔ اَنْ صَدُّوْکُمْ په تقدیر د لام سره دے یعنی
لِاَنْ علت دے د پاره د اجرام۔ یا په محل د صفت کښ دے د پاره د قوم۔
اَنْ تَعْتَدُوْا دا دویم مفعول دے د پاره لا یجرمنکم او مراد د اعتداء نه هغوی
قتل کول یا هغوی لره د مسجد حرام نه منع کول او د هغوی د هدی او قلائد
بے احترامی کول دی۔ وَتَعَاوَنُوْا عَلَی الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی یعنی د بُغض په مقابله کښ
محبت کول ضروری دی او د محبت تقاضا تعاون کول دی د یو بل سره په بر
او تقوی باندے۔ بِرٌّ فعل او عمل کولو ته وائی په ماموراتو باندے او تَقْوٰی
ځان بچ ساتل دی د منهیاتو د الله تعالیٰ نه نو په بِرّ کښ اول ایمان او توحید
داخل دے او په تقوی کښ د شرک او بدعاتو نه ځان بچ ساتل داخل دی۔
یا بِرّ په حقوق العباد کښ او تقوی په حقوق الله کښ ده۔ وَلَا تَعَاوَنُوْا عَلَی الْاِثْمِ
وَالْعُدْوَانِ، اِثم پریخودل د اوامرو د الله تعالیٰ او عدوان ارتکاب د منهیاتو دے
یا اثم هغه گناهونه چه تعلق لری د حقوق الله سره او عدوان هغه گناهونه چه تعلق لری
د حقوق العباد سره او په اثم کښ اول شرک او کفر او په عدوان کښ بدعت کول

عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ وَالدَّمُ وَلَحْمُ الْخِنْزِيْرِ وَمَآ اُهِلَّ

په تاسو باندے مردار او وینه او غوښه دَ خنزیر او هغه څیز چه آواز اوشی

لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ وَالْمُنْخَنِقَةُ وَالْمَوْقُوْذَةُ وَالْمُتَرَدِّيَةُ

دَ مخنتے دَ غیرالله په هغے او مرئ (غاړه) خفه کړے شوے او ټکولے شوے او رار غختے

وَالنَّطِيْحَةُ وَمَآ اَكَلَ السَّبُعُ اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ ۟ وَ

او په ښکر وهلے شوے او هغه چه خوړلے وی درنده ګانو (ځناورو) مګر هغه چه حلال ئے کړئ تاسو، او

مَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ ؕ

هغه چه ذبح کړے شوی وی په درګاهونو دَ غیرالله، او هغه چه قسمت معلوموئ تاسو په غشو سره

ذٰلِكُمْ فِسْقٌ ؕ اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ

دا (کارونه) نافرمانی ده لویه. نن ورځ نا اُمیده شول کافران دَ

دِيْنِكُمْ فَلَا تَخْشَوْهُمْ وَاخْشَوْنِ ؕ اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ

دین ستاسو نه پس مه یریږئ دَ دوینه او یریږئ څما نه. نن پوره کړو ما

لَكُمْ دِيْنَكُمْ وَاَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ وَرَضِيْتُ

تاسو لره دین ستاسو او پوره کړو ما په تاسو باندے نعمت خپل او غوره کړے دے ما

لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا ؕ فَمَنِ اضْطُرَّ فِيْ مَخْمَصَةٍ

تاسو لره اسلام دین. نو څوک چه ناچاره (مجبوره) کړے شو په سخته لوږه کښې

غَيْرَ مُتَجَانِفٍ لِّاِثْمٍ ۙ فَاِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٣

نه وو دے کږیدونکے ګناه ته نو یقیناً الله تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے.

داخل دی. وَاتَّقُوا اللّٰهَ تقوٰی په معنی دَ اطاعت دے.

۳ په دے ایت کښې تفصیل دَ محرماتو الٰهیو دے په ذکر دَ دولس محرماتو سره

چه په هغے کښې مَآ اُهِلَّ او ما ذبح علی النصب کښې نذر دَ غیرالله مراد دے چه هغه عمل

دَ شرك دے. او دا رنګ دا تفصیل دَ مَا يُتْلٰى عَلَيْكُمْ (چه په اول ایت کښې ذکروؤ)

دے۔ حُرِّمَتْ په سورة بقره کښ حَرَّمَ معلوم صيغے سره ذکر کړے وۓ چه فاعل ئے الله
تعالیٰ دے نو دلته فاعل ذکر کولو ته حاجت پاتے نه شو۔ او دا څلور اصول دَ محرماتو
دَ خوراك دی چه په ټولو ادیانِ سماویو کښ حرام دی او دَ دے تفصیل په تفسیر
دَ سورة بقره ۱۷۳ کښ تیر شوید ے۔ وَمَآ أُهِلَّ لِغَيْرِ اللَّهِ بِهِ، په سورة بقره کښ بِهِ
مخکښ کړے وۓ دَ لغیر الله نه او دلته برعکس دے وجه دا ده چه هغه سورت پدے
مسئله کښ اول سورت وۓ نو په هغے کښ رعایت دَ لفظ اوشو یعنی تعدیت دَ اهل
په لفظ بِهِ سره او په دے سورت او سورة انعام او نحل کښ رعایت دَ معنی اوشو
چه سبب دَ حرمت دَ ما اهل دَ وجے دَ غیر الله نه دے۔ وَالْمُنْخَنِقَةُ دا او دَ دے څلور
څیزونو تخصیص بعد التعمیم دے دَ لفظ دَ میتة نه او میتة عامه ده (هر هغه ځاروے
چه نه وی ذبح کړے شوے په ذبح شرعی سره یا حرام وی شرعًا اگرچه ذبح شی په ذبح
شرعی لکه سپے وغیره) - او دا پنځه هغه ځاروی دی چه شرعًا حلال دی لیکن ذبح
ئے په ذبح شرعی سره نه ده کړے شوے نو مردار دی۔ او منخنقه عام دے که څوک
ئے قصدًا پانسی کړی (په مرئ خفه کولو سره) یا پخپله دا سے اوشی۔ وَالْمَوْقُوذَةُ هغه
ځاروے چه او وهلے شی په لرگی یا په کڼه باندے او مړشی او په دے کښ داخل دے
هغه ښکار چه دَ غشی په پلنو سره اولږی "یعنی دَ غشی په تیرۀ طرف نه بلکه په اوږدو
سره اولږی" (او دا په حدیث صحیح کښ دی) او شربینی وئیلے دی چه هغه ښکار
چه په بندقه سره اولږی هغه هم په دے کښ داخل دے (بندقه گولئ دَ
ټوپک ته وئیلے شی) ځکه چه هغه دَ درون والی دَ وجے نه قتل کوی دَ تیرۀ والی دَ
وجے نه نه کوی۔ او په ښکار دَ شيِ ثقیل (درونه څیز) سره ابن کثیر ډیر تفصیل
ذکر کړے دے۔ وَالْمُتَرَدِّيَةُ هغه چه دَ بره ځائے نه ښکته او غورزیږی دَ غر
یا دَ کمر نه زمکے ته یا دَ زمکے نه کوهی ته او رغړی۔ وَالنَّطِيحَةُ هغه ده چه دَ بل
ځاروی په ښکر سره او وهلے شی او مړۀ شی اگرچه وینه دَ هغے دَ مرئ نه بهیدلے
وی۔ فائده: په مخکښ درے الفاظو کښ تا دَ تانیث ده بِنا په دے چه اکثر دَ
خوراك دَ پاره کلے بیزے او ښے غوا (مؤنثات) استعمالیږی او په النطیحة
کښ تا دَ پاره دَ تانیث نه ده ځکه چه په دے صیغه کښ تا نه استعمالیږی اگر
چه مؤنث وی نو دا تا دَ پاره دَ نقل دَ وصفیت نه اسمیة ته ده۔ وَمَآ أَكَلَ السَّبُعُ سپے
شرمخ، گیدړ، پړانګ وغیره په دے کښ مراد دی هغوی که یو ځاروے اوخوری
اگرچه په مرئ کښ زخمی کړی او وینه تر ینه او بهیږی او مړشی نو هم مردار دے۔

اِلَّا مَا ذَكَّيْتُمْ دا استثناء متصل دہ دَ المنخنقة اوما بعد نه ځکه چه هغه عام دے چه روستو دَ دغه عوارضونه په هغے کښ روح باقی وی اوکه نه وی نوکه روح پکښ باقی وی اوذبح کړے شی په طریقه شرعیه سره نو حلال به وی یا استثناء منقطع ده دا خطیب شربینی لیکلے دی. بعضو دا استثناء خاص کړیده ما اکل السبع پورے لیکن تخصیص ته حاجت نیشته او بعضِ (دَ دے وخت تحریف کوؤنکو) وما اهل لغیر الله بِه" ته خاص کړیده او وئیلے دی چه هغه په ذبح سره حلال ګرزی لیکن دا قول باطل دے او ابن ابی حاتم دَ علی رضی الله عنه نه نقل کړیدے چه هرکله یو درنده یوښکار وے (یا چرګ وغیره) اوخوړی یعنی زخمی ئے کړی او په هغے کښ ساه باقی وی اوذبح شی او روستو دَ ذبح نه لګئ یا خپه اوخوزوی نو حلال به وی دا رنګ ابن جریر هم وئیلے دی.-وَمَا ذُبِحَ عَلَى النُّصُبِ دا قِسم خاص دے دَ ما اهل نه ځکه چه ما اهل مذبوح او غیر مذبوح دواړو ته شامل دے او دا په مذبوح پورے خاص دے دا رنګ دا قسم دَ نصب سره خاص دے او ما اهل لغیر الله ټول غیر الله ته شامل دے که نصب وی اوکه بتان وی اوکه قبرونه-

پوهه شه: چه اصنام هغه بتان دی چه شکل دَ هغے جوړ کړے شوے وی او نصب هغه ځیزونه دی چه شکل دَ هغے نه وی جوړ کړے شوے لیکن دَ هغے عبادت کیږی او په هغے باندے نذرانے اوشکرانے اچولے کیږی او په هغے باندے ذبح کوی- ابن کثیر دَ ابن جریج او مجاهد نه نقل کړیدی چه دا دریے سوه شپیته ګټے وے دَ کعبے شریفے نه چاپیره دَ هغے په خواکښ به جاهلیت والو ذبح کوله او دَ هغے وینے به ئے په بیت الله پورے مخلے او دَ هغے غوښے به ئے په نصب باندے غوړولے (دَ پاړه دَ تبرك) او بیائے وئیلے دی چه په دے ذبائحو باندے اګرچه نوم دَ الله تعالیٰ په وخت دَ ذبح کښ ذکر شی لیکن دا شرك دے.-وَاَنْ تَسْتَقْسِمُوْا بِالْاَزْلَامِ، استقسام قِسمت معلومول دی یا برخه معلومول.- اَزْلَام جمع دَ زلَم ده هغه غشے چه دَ هغے وزر او تیره څوکه نه وی صرف لرګے وی ابن جریر وئیلے دی چه دا غشی (دریے یا اووه) دَ هُبل بت په خواکښ دَ کعبے په مینځ کښ به پراته وو چا به چه خپل قسمت معلومول غوختل مثلاً سفر اوکړم یا نه فلانے کار اوکړم اوکه نه نو دَ هبل مجاور ته به لاړو او هغه ته به ئے اول سل درهمه او یو اوښه پیش کړه په نذرانه کښ بیا به هغه مجاور دَ دهٔ دَ پاره غشی راویستل په هغے باندے مختلف لیکل موجود وو او هغه به دے شخص خپل یقینی قسمت ګڼړلو

او وئیل به ئې چه داد هبل (شهیل) فیصله ده - امام بخاری هم وئیلې دی چه هغه به دغلره منع کړو نو منع به شو اوکه امر به ئې ورته اوکړو نو په هغې باندې به ئې ضرور عمل کوؤ او دوی په هغه غشو باندې نښې لګولې وې. خطیب شربیني وئیلې دی چه درې غشي وؤ په یو باندې لیکلي وؤ اَمَرَنِي رَبِّيْ (زما رب ما ته امر کړیدې) او په دویم باندې ئې لیکلي وؤ نهانِي ربِّيْ (زه خپل رب منع کړې یم) او دریم به بغیر د نښې نه وؤ نو دا دریم غشې چه به را اوتلو نو دوباره به ئې غشي وهل. او امام بخاری روایت ذکر کړې دې چه په فتح مکه کښې صحابه کرامو بتان د کعبې نه را اویستل نو په هغې کښې صورتونه د ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام وؤ او د هغوی په لاسونو کښې غشي ورکړې وؤ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل الله تعالیٰ دې دا مشرکان هلاک کړي دوی ته ښه معلومه ده چه ابراهیم او اسماعیل علیهما السلام چرې استقسام بالازلام نه وؤ کړې. او د مجاهد نه ابن کثیر روایت راوړې دې چه مراد د دې غشي نه د جوارئ کول دي او دارنګ سراج المنیر کښې هم ذکر دي نو د هغې یو مثال په دې زمانه کښې لاټری کول دي چه د یو څیز د پاره د ډیرو خلقو نه روپئ واخلي او غشي یا بل څه په طریقه د قرعه (حسنړی سره واچوي نو د یو کس را اوځی نو هغه څیز د هغه کس د پاره شي.

ذٰلِكُمْ فِسْقٌ دا اشاره ده ما قبل ذکر کړې شوې ټولو محرماتو ته یعنی استحلال (حلال ګنړل) د دې حرامو وتل دي د طاعت د الله تعالیٰ نه بالکل یعنی کفر او شرك دې یا خوړل د دې محرماتو بغیر حلال ګنړلو نه لوئې ګناه دې او بعض مفسرینو ذٰلِكُمْ اشاره خاص کړې ده په استقسام بالازلام پورې لیکن عموم غوره دې. اَلْيَوْمَ يَئِسَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ دِيْنِكُمْ مراد د الیوم نه زمانه حاضر د نزول د دې محرماتو ده سره د راتلونکو زمانو نه (قرطبی او سراج المنیر).

مِنْ دِيْنِكُمْ قرطبي وئیلې دي چه کافران نا امیده شول د رجوع ستاسو د دین ستاسو نه دین د مشرکانو ته خازن وغیره وئیلې دي چه د ابطال د دین ستاسو نه نا امیده شول ځکه د فتح مکه نه روستو قوت د اسلام زیات شو په مقابله د کافرانو کښې. دارنګ په مخالفت د رسمونو شرکیو سره د مؤمنانو پوره تمیز راغې د مشرکانو نه او د مؤمنانو پوخوالې ثابت شو.

اَلْيَوْمَ اَكْمَلْتُ لَكُمْ دِيْنَكُمْ، الیوم نه مراد ورځ د جمعې ده چه ورځ د عرفې وه په مقام عرفات کښې روستو د مونځ د ظهر او عصر نه او دا ورځ د حج الوداع وه

اوډ سعيد ابن جبير نه روايت دے چه نبي صلى الله عليه وسلم روستو د نزول د دے جملونه يو اتيا ورځے ژوندے ووُ بيا وفات شو او دا سے روايت د ابن جريج نه ابن كثير ذكر كړے دے او خطيب شربيني وئيلے دي چه نبي صلى الله عليه وسلم وفات شويدے په دريمه شپه د ربيع الاول باندے. او معنیٰ د اكمال دين دا نه ده چه د دے نه روستو وحي بنده شوه بلكه مراد دا دے چه ترد ے پورے فرائض او احكام تشريعيه او حلال او حرام بيان شول د دے نه روستو فرائض حلال حرام حدود نه دي نازل شوي او نوره وحي نازليده.

سوال: اكمال خو دلالت كوي چه تر دغه وخت پورے دين ناقص ووُ آيا نبي او صحابه كرامو به تر دغه وخت پورے په ناقص دين باندے عمل كووُ او دا رنګ د دغه ورځ نه وړاندے چه كوم صحابه وفات شويدي نو د هغوي دين ناقص ووُ؟.

جواب: دين د نبي صلى الله عليه وسلم هره ورځ كامل وي په كمال سره تر خاص وخت پورے ليكن انتظار د نسخ يا د زيادت پكښ موجود ووُ او په دغه ورځ (د عرفے) كمال مطلقه راغے يعني كامل دے د ورځ د قيامت پورے نه به منسوخ كيږي او نه به پكښ زيادت د احكامو راځي.

وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِيْ خازن وئيلے دي چه دغه اكمال د دين سبب دے د اتمام د نعمت ځكه د دينِ كامل (اسلام) نه زيات نعمت بل نيشته. او ابن قيم[2] وئيلے دي چه فرق د اكمال او د اتمام دا دے چه اكمال په اصولو او ذواتو كښ استعماليږي او اتمام په فروعو او صفاتو كښ استعماليږي دا رنګ دين اكثر په اصول كښ مستعمليږي او نعمت په فروعو او اوصافو كښ استعماليږي نو د هر يو سره مناسب لفظ مستعمل شويدے. نو په دے كښ اشاره ده چه دينِ اسلام په اعتبار د اصول د احكامو سره پوره دے (لكه مونځ، روژه، زكوٰة، حج او جهاد وغيره) او په اعتبار د فروعو او صفاتو د احكامو (لكه اوقات د عباداتو او مقدارونه او كيفيات) سره هم پوره دے. نو د دے وجے نه په دين كښ د اصولو او د عباداتو او دا رنګ د هغے د اوصافو زياتے كول بدعت قبيحه دے او د غسے استدلال د امام مالك رحمة الله نه په واسطه د ابن ماجشون سره كتاب الاعتصام كښ علامه شاطبي رحمة الله نقل كړيدے چه هغه وئيلے دي "چا چه په دينِ اسلام كښ يو نوے عمل او قول پيدا كړو او دعوي كوي چه

يَسْـَٔلُوْنَكَ مَاذَآ اُحِلَّ لَهُمْ ؕ قُلْ اُحِلَّ

تپوس کوی دوی ستا نه چه څه څیز حلال کړے شوے دے دوی لره۔ نه ورته او وایه، حلال کړے شوی

لَكُمُ الطَّيِّبٰتُ ۙ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ

تاسو لره پاک څیزونه، او هغه څیز چه تعلیم ورکړے وی تاسو دَ ښکار کوونکو ښامارونه

مُكَلِّبِيْنَ تُعَلِّمُوْنَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ ز

چه لیږونکے یئ تاسو خودنه ورکوئ تاسو هغوی ته دَ هغه څه نه چه خودنه کړیده تاسو ته الله تعالیٰ،

داخائسته کار دے نود غه شخص گمان اوکړو چه نبی صلی الله علیه وسلم په رسالت (پیغام رسولو) کښ خیانت کړے دے ځکه چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی" الیوم اکملت لکم دینکم الایة"۔ نو په دے ایت کښ رد دے په هر بدعت او په هر مبتدع فی دین الله باندے او ملا علی قاری وئیلے دی په شرح فقه اکبر کښ چه دَ دے ایت دَ نزول نه روستو په تکمیل دَ دین کښ دَ قراٰن او دَ حدیث نه سیوا بل څیز ته محتاج نه یو ځکه چه دین په دے دواړو کښ پوره شویدے هاں په تشریح کښ نورو علمونو ته حاجت ضرور شته دے۔ وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا، الاسلام کښ الف لام عهدی دی یعنی هغه چه کامل او تام دے او دا سے په سورة العمران ١٩ ۸۵ کښ تیر شوے دی۔ فَمَنِ اضْطُرَّ دا متعلق دے دَ تیر شوی محرماتو سره او په مینځ کښ جمله معترضه ده چه په هغے کښ څلور خبرے ذکر شوے (١) خوراک دَ دغه محرماتو فسق دے (٢) حرمت دَ هغے دَ دین کامل تکړه ده (٣) او نعمت تامه دے (۴) او غوره دین دے۔ فِيْ مَخْمَصَةٍ دا سے په سورة بقره ۱۷۳ او سورة انعام ۱۴۵ او سورة نحل ۱۱۵ کښ هم دی۔ په دغه ایاتونو کښ اضطرار عام ذکر کړے دے اکراه او لوږے ته شامل دے دَ هغه سورتونو نزول مکې کښ دَ غلبے دَ اسلام نه وُو نو په هغه وخت کښ دَ اکراه حالات پیش راتلل او په دے سورت کښ صرف مخمصه ذکر کړے ده ځکه دا سورت دَ غلبے دَ اسلام نه روستو نازل شوے دے نو په دغه حالت کښ دَ اکراه خطره نه وه صرف دَ لوږے یره وه نو دَ هغے تخصیص یئے اوکړو۔

فَكُلُوا مِمَّآ أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ وَاذْكُرُوا

نو خورئ دَ هغې نه چه بند ساتلے وي دوی تاسو لره او یادوئ

اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ ۖ وَاتَّقُوا اللّٰهَ ۚ إِنَّ اللّٰهَ

نوم دَ الله تعالیٰ په هغې باندے او ویرهٔ کوئ دَ الله تعالیٰ نه - یقینًا الله تعالیٰ

سَرِيعُ الْحِسَابِ ﴿٤﴾ اَلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ

زر حساب کوونکے دے - نن ورځ حلال کړے شویدی تاسو لره

سے هرکله چه تیر شوی ایت کښې محرمات ذکر شول نو ضرور سوال پیدا شو چه دَ دے په مقابله کښې حلال څه دی او خصوصًا تپوس کړے شوے وؤ په باره دَ ښکار کولو کښې نو په دے ایت او دَ دے نه په روستو ایت کښې تفصیل دَ حلالو دے. يَسْـَٔلُونَكَ مَاذَآ أُحِلَّ لَهُمْ دَ عربیت په لحاظ سره لهم اولنا دواړه جائز دی. اَلطَّيِّبٰتُ سمعانی وئیلی دی چه مراد په دے سره هغه دی چه عرب یې ښه ګڼړی او مزه ورکوی او دَ هغې په حرمت باندے کتاب او سنت نه وی راغلی. او ابن کثیر مراد کړیدی ذبائح په نوم دَ الله تعالیٰ سره او هر حلال رزق. او شربینی وئیلی دی چه هر هغه چه په کتاب او سنت او په قیاس دَ مجتهد کښې دَ هغې تحریم نه وی ثابت شوے او طبائع سلیمه یې بد نه ګڼړی نو دالفظ شامل دے ټول مذبوح ته چه ذبح یې شرعًا جائز وی اګرچه تحریم دَ غیر الله وی او هغه چه بغیر دَ ذبح نه په شرع کښې جائز وی لکه ملخ او مهی (کبان) وغیره. وَمَا عَلَّمْتُمْ دا معطوف دے په الطیبات باندے په حذف دَ مضاف سره یعنی صید ما علمتم - یا دا مستقل کلام دے دا مبتدا ده او فکلوا یې خبر دے او دَ دے دَ حِلّت دَ پاره پنځه شرطونه ذکر دی. جوارح، تکلیب، تعلیم، امساك، ذکر اسم الله. اَلْجَوَارِحِ دا جمع دَ جارحة ده او جرح په معنی دَ کسب سره دے لکه په سورة انعام ۶۰ کښې او مراد دَ دے نه سپے، پړانګ، باز، شاهین او هغه ټول ښکاروونه چه تعلیم قبلوی. او هرکله چه جرح زخم ته هم وئیلی شی نو امام ابو حنیفه رحمة الله علیه زخم دَ ښکار هم شرط کړیدے - مُكَلِّبِينَ حال دے دَ ضمیر دَ علمتم نه او تکلیب لیږل او تیزی ورکول دی په ښکار باندے. دَ دے نه معلومه شوه چه کوم سپے (مثلًا) بغیر دَ لیږلو دَ مالک نه

اَلطَّيِّبٰتُ ؕ وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ

پاک څیزونه .　او خوراکه (ذبح) دَ هغه کسانو چه ورکړے شوي ده ورته کتاب

حِلٌّ لَّكُمْ ۪ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۫

حلال دہ تاسو لرہ ، او خوراکه (ذبح) ستاسو حلال دہ هغوی لرہ

وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ وَالْمُحْصَنٰتُ

او پاک ښځې　مؤمنې ښځې　او پاک ښځې دَ

څه ښکار اونیسی او مړشی نو هغه ښکار حلال نه دے۔
تُعَلِّمُوْنَهُنَّ اه سوال :- دا شرط خو دَ علمتم نه معلوم شوے دے نو بیا ولے ذکر کړے شو؟
جواب :- مقصد په دے کښ تاکید دَ دے شرط دے او اشاره ده چه تعلیم
ورکوونکے دے ځنا ور ته داسے شخص پکار دے چه عالم فقیه وی چه په
شرطونو دَ صید باندے پوهه لری۔ عَلَّمَكُمُ اللّٰهُ هغه شرطونه چه قرآن او
سنت کښ خودلے شوی دی چه ښکار پسے په لیږلو دَ مالک سره ځی او هسے
نه ځی او چه مالک یے واپس راغواړی نو واپس راځی او دَ ښکار نه هیڅ حصه
نه نیمګړے کوی او په کوم پسے چه لیږلے شوے وی نو دَ هغے نه بغیر بل
ښکار پسے نه ځی نو دَ دهٔ مثال دَ وکیل دَ ذبح کولو دے۔ فَكُلُوْا مِمَّآ اَمْسَكْنَ
عَلَيْكُمْ امساك دا دے چه دَ ښکار نه هیڅ حصه ځان دَ پاره نه خوری ځکه
چه دَ وکیل تصرف دَ مؤکل دَ پاره وی او اهل علم شرط لګولے دے چه
دا کار (امساك) دړے کرته اوکړی نو معلّم به شی۔ وَاذْكُرُوا اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهِ غوره
دا ده چه دا ضمیر راجع دے ما علمتم ته یعنی په وخت دَ لیږلو کښ دَ بسم الله
او وائی دا قائم مقام ده دَ هغه بسم الله چه په وخت دَ ذبح کښ وئیلے کیږی
او دا رنګ په وخت دَ خوراک کښ بسم الله وئیل هم په دے کښ داخل دی
او سنت سره ثابت دی چه داسے وخت کښ دَ بسم الله سره الرحمن الرحیم
وئیل صحیح نه دی۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ اشاره ده رعایت دَ دے شرطونو ته او دَ سعید
بن جبیر نه نقل دے چه په دے کښ مراد دا دے چه بسم الله ورباندے
نه وی ذکر شوے نو هغه حلال مه ګڼړئ۔

مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ

دَ هغه چا نه چه ورکړے شوے ورته کتاب مخکښ ستاسو نه

اِذَآ اٰتَيْتُمُوْهُنَّ اُجُوْرَهُنَّ مُحْصِنِيْنَ

کله چه ورکوئ تاسو هغوی ته مهرونه دَ هغوی، نکاح کوونکی به یئ

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ وَلَا مُتَّخِذِيْٓ اَخْدَانٍ ط

نه به یئ بدکاره بدکاری کوونکی او نه به یئ پټے اشنایئ نیوونکی۔

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ فَقَدْ حَبِطَ عَمَلُهٗ ز

او چا چه کفر وکړو دَ ایمان سره نو یقیناً برباد شو عمل دَ دهٔ

ع ۱ ۵ ۵ وَهُوَ فِي الْاٰخِرَةِ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۵﴾ ع

او دے به په آخرت کښ دَ تاوان والو نه وی۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ

اے ایمان والو! کله چه پورته کیږئ ما نځه ته

ف داهم تفصیل دَ حلالو دے هغه حلال چه تعلق لری دَ کتابیانو او دَ مسلمانانو سره. اَلْيَوْمَ دَ دے نه مراد وخت حاضره دے. الطَّيِّبٰتُ دَ دے نه مراد مخکنی طیبات دی مقصود په تکرار کښ دا دے چه په وخت دَ پوره والی دَ دین کښ دغه حکم باقی دے یا مراد دَ دے نه دویم قسم طیبات دی یعنی دَ انواع دَ ذبائحو نه سیوا نور پاک خوراکونه. وَطَعَامُ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ، ابن کثیر وئیلے دی چه اجماع ده دَ مسلمانانو چه مراد دَ طعام نه ذبائح دی یا عام دی چه ذبائح پکښ داخل دی په دے شرط سره چه نوم دَ غیر الله یئ وربانده نه وی ذکر کړے او دَ مکحول وغیره نه نقل دی که چرے دوی نوم دَ غیر الله یاد کړے وی نو هم جائز دی دا قول ابن کثیر رد کړے دے. او دلته مراد دَ طعام نه ذبائح محکه دی چه سیوا دَ مذبوح نه نور خوراکونه دوړئ، میوے وغیره خو دَ غیر کتابی کافرانو هم جائز دی او دلیل نقلی دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په ورځ دَ خیبر

دَ کتابیانو دعوت قبول کړے وُچه غوښه دَ بیزے وه او دوی پکښې زهر اچولی وُو او نبی صلی الله علیه وسلم څهٔ حصّه دَ هغې نه اوخوړله او بیا دَ الله تعالیٰ دَ وحی په وجه خبر شو چه په دے کښې زهر دی نو خوراک ئے بس کړو. او تخصیص دَ ذبح دَ کتابیانو دَ حل په دے وجه سره دے چه دَ دوی په دین کښې ذبح په نوم دَ غیر الله باندے حرام ده او دوی هم په خپله مذ بوحه باندے نوم دَ الله تعالیٰ ذکر کوی اگرچه عقیده دَ اتخاذ ولد لری. او شربینی وئیلی دی که چرے یهودی نصرانی ذبح په نوم دَ غیر الله اوکړی نو هغه حرامه ده دارنګ که ذبح اونکړی بلکه هسے په مرئ ورله زور کړی اوځناور مړ کړی نو هغه هم حرام دے. او مبسوط دَ سرخسی لیکلی دی چه ذبیحه دَ کتابی که کافر حربی وی او که ذمی وی نو حلال له دهٔ ځکه چه هغوی توحید ته دین وائی اگرچه شرک کوی خو هغه توحید ګڼړی.

فائده:- معارف القرآن کښې لیکلے دی چه دَ کومو یهودو او نصاراؤ په باره کښې یقینًا معلومه شی چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ وجود منکر دی یا موسیٰ او عیسیٰ علیهم السلام انبیاء نهٔ ګڼړی (یا قیامت نه منی) نو هغه دَ اهل کتاب په حکم کښې داخل نه دی لکه چه په دے زمانه کښې اکثر داسے دی.

وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ سوال:- کتابیان خو په حال دَ کفر کښې زمونږ په دین سره مکلف نه دی لکه چه دا غوره قول دے او نه هغوی زمونږ خبره منی نو دَ دے جملے څه فائده ده؟

جواب:- که مؤمنان خپله مذبوحه په کتابیانو کافرانو باندے خوروی نو دا مؤمن په دیکښې ګناهګار نه دے او هرچه حدیث کښې راځی چه (لَا يَاكُلْ طَعَامَكَ اِلَّا تَقِیٌّ) دا په استحباب باندے حمل دے نو معنیٰ دَ ایت داسے ده چه مذبوحه ستاسو حلاله ده په تاسو باندے چه په هغوی باندے ئے اوخوروئ. دویمه وجه دَ دے جملے دفع دَ وهم ده هغه دا چه حل په باب دَ نکاح کښې دَ یو طرف نه دے لکه چه روستو جمله کښې ذکر دے نو ایا حل دَ طعام دَ یو طرف نه دے؟ نو په دے جملے سره دا وهم ئے دفع کړو. وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الْمُؤْمِنٰتِ مراد دَ دے نه پاکدامنے دی که حرّه (ازاده) وی او که وینځه وی ځکه حلالوالے دَ وینځو په سورة نساء ۲۵ کښې ذکر دے او دا جمله تمهید دے روستو جملے ته. وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ دلته محصنات کښې دوه قولونه دی. اول دا چه په معنیٰ دَ پاکدامنو دے که حره وی او که وینځه وی، که

حربيه اوكه ذميه وى اودا قول دَ امام ابوحنيفه رحمة الله دے او دويمه داچه په معنى دَ حرائرو (آزادو) دے نو نكاح دَ وينځے كتابيے جائز نه دے او دا قول دَ امام شافعى رحمة الله دے او په نيز دَ ابن عباس رضى الله عنهما داحكم حربيے ته شامل نه دے ځكه چه هغوى سره دَ قتال كولو امر دے په دے قول سرهٔ قاتلوا الذين لا يؤمنون تر دے قوله پورے من الذين اوتوا الكتٰب او په نيز دَ جمهورو اهل علمو نكاح دَ حربيے او ذميے دواړو سره جائز دے سرهٔ دَ كراهيت نه۔ أُوتُوا الْكِتٰبَ مراد دَ دے نه يهود او نصارى دى سرهٔ دَ دے نه چه شرك او كفر كوى ځكه چه موحد ے مؤمنے خو په مخكښ لفظ (المومنٰت) كښ داخلے دى او دا قول دَ ټولو اهل سنت والجماعت دے او شيعه ګان وائى چه نكاح دَ مشركانو جائز نه دے په دليل دَ آيت دَ سورة بقرة ۲۲۱ سره. او اهل سنت وائى چه آيت دَ سورة بقره عام وؤ نو تخصيص ئے كړے شويد ے په دے آيت سره او بعضو علماؤ دَ دوى نه وئيلے دى چه آيت دَ سورة بقرة كتابيانو ته شامل نه وؤ ځكه چه په هغوى باند ے په عام عرف كښ دَ مشركانو اطلاق نه كيږى اګرچه شرك كوى ليكن صحيح اول قول دے چه دَ مشركانو په كتابيانو باند ے په نصوصو دَ قرآن كښ اشارةً او په احاديثو صحيحو كښ صراحةً دارد دے۔

سوال:۔ دَ ابن عمر رضى الله عنهما نه روايت دے چه نكاح دَ كتابيانو دَ مشركانو سره جائز نه دے؟

جواب:۔ منع دَ هغه په كراهيت باند ے حمل ده لكه چه دَ عمر رضى الله عنه نه هم كراهيت نقل دے سرهٔ دَ جواز نه دا رنګ سرخسى په مبسوط ص۲۱۰ ج۵ او فتح القدير په شرح دَ هدايه او كتاب الآثار كښ ذكر دى. او حكمت په جواز دَ نكاح دَ كتابيانو مشركو كښ دا دے چه هر كله هغوى شرك دَ شرك په حيثيت سره نه كوى بلكه هغے ته توحيد وائى او په خپل كتاب باند ے دَ ايمان دعوىٰ كوى نو روستو دَ نكاح نه مؤحد خاوند هغوى ته دعوت دَ توحيد په آسانه طريقه وركولے شى په دے وجه چه دَ خاوند رعب هم وى په ښځه باند ے او نكاح دَ سړى مشرك كتابى سره جائز نه دے ځكه چه هغوى كښ دا فائده حاصليدل مشكل دى. مُحْصِنِيْنَ هر كله چه دَ زنانه احصان ئے په لفظ دَ محصنات سره مخكښ ذكر كړے دے نو اوس احصان

فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ وَاَيْدِيَكُمْ اِلَى الْمَرَافِقِ

نو او وینځئ مخونه خپل او لاسونه خپل د سنګلو پورې

وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ وَاَرْجُلَكُمْ اِلَى الْكَعْبَيْنِ

او مسحه اوکړئ په سرونو خپلو او (وینځئ) خپې خپلې تر ګیټو (خینګرو) پورې

وَاِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوْا ؕ وَاِنْ كُنْتُمْ

او که تاسو په حالت د جنابت کښ یئ نو ځان ښه پاک کړئ (غُسل اوکړئ). او که تاسو

مَّرْضٰۤى اَوْ عَلٰى سَفَرٍ اَوْ جَآءَ اَحَدٌ مِّنْكُمْ

بیماران (ناجوړه) یئ یا په سفر باندې یئ یا راشی یو تن ستاسو نه

مِّنَ الْغَآئِطِ اَوْ لٰمَسْتُمُ النِّسَآءَ فَلَمْ

د اودس ماتی نه یا یو ځائے شوی یئ د زنانو سره او نه

تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا

مومئ اوبه نو تیمم اوکړئ په خاوره پاکه

د نارینه ذکر کوی او دا احصان په معنی د نکاح کولو دے.

غَيْرَ مُسٰفِحِيْنَ سفاح ښکاره زنا کول دی او اَخْدَانٍ جمع د خِدن پټ دوست د عشق په طور سره چه د هغې سره پټه بدکاری کوی او خدن مذکر او مؤنث دواړو ته شامل دے.

وَمَنْ يَّكْفُرْ بِالْاِيْمَانِ دا جواب د سوال دے هر کله چه نکاح د کتابیه مشرکه سره جائز کړے شو نو معلومیږی چه د هغوی دین هم صحیح دے جواب او شو چه د هغوی په دین کښ کفر ګډ دے د ایمان سره نو هغه دین باطل دے. بِالْاِيْمَانِ مراد د دے نه مؤمَن بِهٖ دے یعنی توحید رسالت قرآن بعث بعد الموت وغیره او کفر په معنی د جحود او انکار سره دے (ابن جریر نیشاپوری) یا با په معنی د مع سره دے یعنی کفر ئې ګډ کړو د ایمان سره لکه په سورة یوسف ۱۰۶ کښ دی.

فَامْسَحُوْا بِوُجُوْهِكُمْ وَاَيْدِيْكُمْ مِّنْهُ ط

تو مسحه اوکړئ په مخونو خپلو او په لاسونو خپلو دَ هغې نه.

مَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِّنْ حَرَجٍ

نه غواړي الله تعالیٰ چه کیږدي په تاسو باندے څه تنګسیا

وَّلٰكِنْ يُّرِيْدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهٗ

لیکن غواړي چه پاک کړي تاسو او دے دپاره چه پوره کړي نعمت خپل

عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ۝٦ وَاذْكُرُوْا

په تاسو باندے دے دپاره چه شکر اوکړئ. او یاد کړئ

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَمِيْثَاقَهُ الَّذِيْ

نعمت دَ الله تعالیٰ په تاسو باندے او (پوره کړئ) وعده دَ هغه هغه وعده

سلا ربط دادے چه هرکله طهارتِ معنویه دَ خوراک او دَ نکاح دپاره ذکر شو نو اوس طهارتِ ظاهره ذکر کوی دَ حدث (پلیتئ) دَ جنابت نه او دا دَ استعمال دَ خوراک او نکاح نه پیدا کیږی. او دا یو عقد دَ عقودو دے دَ ایمان والو نه.

اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلٰوةِ مراد دَ دے نه اراده دَ قیام ده لیکن په لفظ دَ قیام سره ئے ذکر کړو اشاره ده چه دَ فعل دَ ارادے نه جدا والے پکار نه دے.

سوال:. دَ دے نه معلومیږی چه دَ هر مونځ سره اودس کول واجب دی؟

جواب:. په دے کښ لفظ دَ محدثون (چه بے اودسه ئے) پټ دے په دلالت دَ حدیث صحیح سره چه نبی صلی الله علیه وسلم په واقعه دَ خندق کښ څلور مونځونه او په واقعه دَ فتح مکه کښ پنځه مونځونه په یو اودس سره کړے دی اول روایت ترمذی او نسائی او احمد نقل کړے دے او دویم روایت مسلم، ابوداؤد، ترمذی او ابن ماجه روایت کړے دے. دویم جواب بعضِ علماؤ وئیلے دی چه مراد دادے چه کله راپاسئ تاسو دَ خوب نه. دریم دادے چه دا په طریقه دَ استحباب سره دے. څلورم جواب دَ نسخ دے لیکن بیضاوی په هغې باندے رد کړے دے. فَاغْسِلُوْا وُجُوْهَكُمْ اه قرآن کریم کښ دا څلور اعضاء خاص ذکر کړے دی دلیل دے چه په اعتبار دَ غسل او دَ مسح (پاکوالی) سره

داخلو فرض دی نو که په بل څه حیثیت سره د یو څیز فرضیت یعنی په حدیث
سره معلوم شی نو هغه د دے سره منافات نه لری لکه نیت کول یا ترتیب او ولاء وغیره
فائدة علٰی د دے اعضاؤ تخصیص په دے وجه سره دے چه د انسان د پاره پاکوالے
خو د ټول بدن ضروری دے لیکن ټول بدن وینځل هر وخت تکلیف دے
نو د هغه اندامونو ذکر او شو چه د انسان د بدن نه هر وخت ښکاره وی یا
ښکاره کول یٔ آسان وی او هغه داخلو ردی او هر کله چه سر وینځل تکلیف دے
ځکه چه باقی بدن ورسره لوندیږی او په وخت د سر زیٔ (یخنیٔ) کښ ټول
سر وینځل هم تکلیف دے او هر وخت پټکے لرے کول او په سر کول هم تکلیف دے
د دے وجے د هغے د پاره په مسح باندے اکتفا او کړے شوه.
فائدة ع۲ د دے نه علاوه چه په احادیثو سره د کوم اعضاؤ وینځل یا مسح ثابت
ده نو هغه د دے څلور اندامونو نه بهر نه دی لکه خله او پوزه او سترګے
کیره په مخ کښ داخل دی نو مضمضه او استنشاق او استنثار او خلال
د ګیرے ته شامل شو او خلال د ګوتو په لاس او خپو کښ داخل دی او غوږونه
په سر کښ داخل دی نو ټولو سننو ته شمول راغے.
اِلَى الْمَرَافِقِ، اِلَیٰ په معنی د مع سره په ډیر و آیاتو نو کښ شته لکه سورة
نساء ۲ او هود ۵۲ یا دا چه یدا په اصل کښ تر اوګے پورے دے نو الیٰ د پاره
د غایئے د اسقاط دے یعنی د مرافقو نه بره حصه ساقطه ده یا عبارت کښ
تقدیر دے یعنی "ایدیکم واترکوها الی المرافق" او څنګل ته مرفق په دے
وجه سره وئیلے شی چه انسان په هغے سره ارتفاق (فائده) اخلی په وخت د تکیه
وهلو کښ. وَامْسَحُوْا بِرُءُوْسِكُمْ با د پاره د الصاق ده یا زایده ده یا په معنی د
تبعیض ده بنا په اول دوه توجیه باندے مسح د ټول سر مراد ده لکه چه دا قول
د امام مالک او امام احمد دے او بنا په دریم قول باندے مسح د بعض حصے
د سر فرض ده چه هغه په مقدار د ناصیه (تندی) د یا یو ویخته درے ویخته چه
په هغے باندے اطلاق د مسح کیدے شی اول قول د امام ابو حنیفه او دویم
قول د امام شافعی رحمة الله علیهم دے لیکن اکتفاء په ناصیه یا په بعض
حصه د سر بغیر د مسح د عمامه نه نقل نه دے راغلے. وَاَرْجُلَكُمْ په دے کښ
دوه قراءت دی اول په زور د لام سره نو عطف دے په وجوهکم او ایدیکم
باندے نو دا دلیل دے چه غسل (وینځل) د خپو فرض دی. او بل قراءت

په زير دَ لام سره دے نو دا دَ وجے دَ جوار نه دے يعني دَ وجے دَ ګاونډيتوب کيږي دَ برؤسکم نه زير دے او په معنیٰ کښ عطف دے په ايديکم باندے يا عطف دَے په ارجلکم باندے ليکن مراد دَ دے نه مسح ده په حال دَ موزو اغوستلو کښ. او شيعه ګان وائي چه دَ قراءت دَ زير نه معلومه شوه چه مسح په بربنړو خپو باندے فرض ده او دَ دے وجے نه هغوی انکار کوی دَ مسح دَ موزو او دَ جورابونه او دا قول دَ دوی دَ اول قراءت نه خلاف دے او دا رنګ دَ احاديثِ متواتره نه چه راغلے دی په باره دَ وينځلو دَ خپو او په باره دَ مسح دَ موزو کښ دا قول مخالف دے.

سوال:۔ دَ ابن جرير نه هم مسح دَ خپو نقل ده او هغه په دے باره کښ روايات نقل کړے دی؟

جواب:۔ ابن کثير او قرطبي دَ هغے تاويل کړے دے په غسلِ خفيف (معمولي وينځلو) سره. إِلَى الْكَعْبَيْنِ قرطبي وئيلے دی چه په لغت او په سنت سره ثابت ده چه دَ کعب نه مراد هغه دوه ګيټے دی چه دَ پنډئ دَ لاندے او دَ خپے دَ پاسه دی او په هره خپه کښ دوه دی او چا چه وئيلے دی چه هغه ګيټې مراد ده چه دَ خپے په شا کښ ده دَ سنت نه بالکل خلاف ده او اصمعي وئيلے دی چه دَ لغت نه هم خلاف ده. فَاطَّهَّرُوا په شد سره دلالت کوی په کامل طهارت باندے او مراد دَ هغے وينځل دَ ټول بدن دی يعني غسل کول. وَإِنْ كُنتُم مَّرْضَىٰ الخ مراد دَ مرض نه هغه مرض دے چه په هغے سره عاجز وی دَ استعمال دَ اوبو نه يا مرض زياتيږی يا سبب دَ هلاکت ګرځی. مِنَ الْغَائِطِ په لغت کښ کوز ځائے ته وئيلے شی او انسان عادتاً په صحراء کښ اودس ماتے په ښکته زمکه کنده وغيره کښ کوی دَ وجے دَ پردے او دَ حيا نه نو ذکر دَ محل او مراد ترينه حال دے يعني اودس ماتے کول که لوئے وی او که وړوکے وی او شر بيني وئيلے دی چه دا سے حالت په انسان باندے الله تعالیٰ مقرر کړے دے دَ پاره دَ دفع دَ تکبر کولو. أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ په لمس کښ اختلاف دے دَ صحابه کرامو دَ ابن مسعود رضی الله عنه په نيز باندے لمس په لاس سره دے او ښکلول هم په دے کښ داخل دی چه په هغے سره اودس ماتيږی او په نيز دَ ابن عباس رضی الله عنهما لمس په معنیٰ دَ جماع کولو دے چه په دے سره جنابت حاصليږی. فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً وجدان لفظ دلالت کوی په طلب دَ اوبو باندے تر استطاعت پورے او عدم وجدان عام دَے

نه مونډل په ظاهر کښې يا نه مونډل په اعتبار د عدم قدرت بدني يعنې د بيمارۍ د وجې نه. صَعِيۡدًا الخ د زمکې ته وئيلې شي ليکن د صحيح روايا تو په بنا سره ضروري ده چه په هغې کښې د خاورې اثر وي خالص په صفا کټه باندې تيمم کول پکار نه دي. مِنۡهُ ضمير صعيد ته راجع دے نو دا دليل دے چه څه حصه د زمکې يعنې خاوره يا دوړه په لاسونو پورې اونخلي.

فائده ۱ د حديث صحيح د امام بخاري نه ثابت ده چه دا آيت د تيمم د جواز د پاره نازل شوېدے او دا سفر وُو او وخت د صبا د مونځ وُو او ديته برکتِ الٰهيه وئيلې شوېدے. او دا سے آيت په سورة نساء ۴۳ کښې هم دے معلوميږي چه هغه آيت د دے آيت نه روستو نازل شوېدے هغه مقيّد دے په قربانِ د صلوٰة او د موضع د صلوٰة پورې چه سکر او حدث او جنابت په باره د منع د قربان صلوٰة کښې يو شان دي او په دے آيت کښې مطلب دا دے چه د مونځ د پاره طهارت شرط دے په اودس يا غسل سره د جنابت نه يا تيمم سره.

فائده ۲ په دے آيت کښې دوه اسباب د عدم وجدان د اوبو ذکر کړيدي په طريقه د مانعة الخلو سره يعنې مرض چه په هغې کښې عدم وجدان معنوي دے او سفر چه په هغې کښې اکثر عدم وجدان د اوبو حقيقي وي او کله دواړه اسباب جمع شي چه هم مريض وي او هم مسافر وي او اوبو باندے قادر نه وي بيا دوه اسباب موجب د نقض طهارت ذکر کړے دي چه اودس ماتول په بول يا غائط سره او لمس چه په يو معنی سره سبب د حدث دے او په بله معنی سره سبب د جنابت دے او په دے کښې هم مانعة الخلو ده جمع هم جائز ده چه اودس ماتے ئے کړے وي او لمس ئے هم کړے وي په دويمه معنی يعنې حدث او جنابت دواړه موجود شي بيا د اول دواړو سببو نو جمع ضروري ده د روستنو دواړو اسبابو سره يا د هر واحد سره يا د دواړو سره.

مَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ الخ او دا سے په سورة حج ۷۸ کښې هم شته په دے او روستنو جملو کښې حکمتونه د جواز د اودس او غسل او تيمم ذکر کوي په اوله جمله کښې سلبي فائده ده يعنې حرج دفع کول. او په دويمه جمله کښې طهارت ظاهري د حدث او جنابت نه او طهارتِ معنويه يعنې د ګناهونو مغفرت کيدل او په دے کښې اشاره ده چه تيمم په وخت د ضرورت د هغې کښې طهارتِ کامله دے پشان د اودس او غسل کولو او په دريمه جمله کښې اتمام نعمت دے

وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ اِذْ قُلْتُمْ سَمِعْنَا وَاَطَعْنَا ز

چه پخه کړې وه تاسو سره هغه، کله چه اُوئیل تاسو اوریدلې دې مونږ او تابعداري کړیده مونږه.

وَاتَّقُوا اللّٰهَ ط اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ ﴿٧﴾

او اویریږئ د اللّٰه تعالیٰ نه. یقینًا اللّٰه تعالیٰ بوهه دې په هغه خبرو چه په سینو کښې دی.

اشاره ده چه په مخکنو امتونو کښې تیمم نه وُو دا د دې امت فضیلت دې چه تیمم د دوی د پاره مشروع اوګرځولې شو. تَشْكُرُوْنَ شکر کښې مراد عمل کول دی په دې امور بانډې.

ک دا هم تعلق لري د اوفوا بالعقود سره. ترغیب دې ایفاء د عقودو ته په دري طریقو سره اول ذکر د نعمت د اللّٰه تعالیٰ او ذکر د نعمت په طریقه د شکر سره دې او دلته مراد د نعمت نه جنسی نعمتونه دی چه بې شماره دی هدایت کول دین اسلام ته ژوند، صحت، عقل، هدایت د احکامو شرعیو، بچ کول د آفاتونه او خیر رسول په دنیا او اٰخرت کښې او هغه نعمتونه چه په مخکښې اٰیت کښې ذکر شول وغیره. سوال:- نعم اللّٰه ئې په صیغه د جمع سره ولې اونه وئیلو؟ جواب:- د اللّٰه تعالیٰ د نعمتونو خو شمار نیشته نو که جمع ئې ذکر کړې وې نو کیدې شي چه انسان په خطره کښې وې چه د ټولو نعمتونو د شکر نه خوځه عاجز یم دا زما د طاقت نه بهر ده نو دا تکلیف مالا یطاق دې. وَمِيْثَاقَهُ دا دویمه طریقه د ترغیب ده چه دا عقود خو ستاسو په میثاق کښې داخل دی نو د دې ایفاء واجب ده اکثر مفسرینو وئیلې دی چه صحابه کرامو په وخت د بیعت د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم کښې عقد کړې وُو په سمع او طاعت سره په تنګسیا او اسانتیا او خوشحالئ او تکلیف کښې او بیعت د نبی سره بیعت دې د اللّٰه تعالیٰ سره ځکه د دې وجې نه اضافت د میثاق اللّٰه تعالیٰ ته اوشو. او بعض مفسرینو وئیلې دی چه مراد ګډې نه میثاق د یوم الذر دې. اَلَّذِیْ وَاثَقَكُمْ بِهٖٓ توثیق د اللّٰه تعالیٰ د طرف نه په هر وخت کښې یاداشت ورکول دی په قراٰن کښې او په ژبه د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم سره وَاتَّقُوا اللّٰهَ دا دریمه طریقه د ترغیب ده او مراد د تقوٰی نه ځان ساتل دی د بې لوظئ نه اګرچه په زړه کښې وی او پټ وی ځکه ورپسې ئې اوفرمائیل اِنَّ اللّٰهَ عَلِيْمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوْرِ هغه خبرې چه صرف په زړه کښې

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ

اے ایمان والو! شئ تاسو کلک دپاره د الله تعالیٰ

شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ ۖ وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَـَٔانُ

بیان کوونکی شئ په انصاف سره ، او نه دې تیزدې نه کړي تاسو لره بغض

قَوْمٍ عَلَىٰٓ أَلَّا تَعْدِلُوا۟ ۚ ٱعْدِلُوا۟ هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَىٰ ۖ

دیو قوم پرے چه انصاف اونکړئ ۔ انصاف کوئ، دا ډیر تیزدے دے تقوی ته

وَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ خَبِيرٌۢ بِمَا تَعْمَلُونَ ⑧

او اوبریږئ د الله تعالیٰ نه ۔ یقینًا الله تعالیٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو یئے کوئ ۔

وی او ژبه باندے نه وی راغلے۔

ف داهم متعلق دے په اوفوا بالعقود پورے او ترغیب دے ایفاء عقود ته په درے طریقو سره (قوام، عدل، تقوی) او نهی د سبب د نقض عهد نه چه تعصب د دُشمنئ دے۔ یَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ دا اوامر د ایمان د مقتضیا تو نه دی د دے وجے په دے خطاب سره مصدر کړو او هرچه مخکنی دی نو هغه د عامو خلقو نه تقاضا ده۔ كُونُوا۟ قَوَّٰمِينَ لِلَّهِ پوره استقامت کوونکی او پوره کوشش صرف کوونکی په حقوق الله کښ. لِلَّهِ یعنی نه د خلقو د رضا او د ریا او سمعت دپاره بلکه فقط د الله تعالیٰ دپاره۔ او په دے استقامت کښ داخل دے ایفاء په عقودو باندے۔

شُهَدَآءَ بِٱلْقِسْطِ دا حقوق العباد ته اشاره ده شهادت عام دے گواهی کول او د ارنګ بیان او دعوت د حق خلقو ته په عدل او رشتیا سره چه د خپلوئ لحاظ نه وی او د دُشمنئ تعصب نه وی، دا سے په سورة نساء ۱۳۵ کښ هم دی لیکن هلته قسط ئے د قوامین سره او لِلَّهِ ئے د شهداء سره لګولے دے یو وجه دا ده چه آیت د سورة نساء په باره د اقرار کښ دے په ځان او مور او پلار او خپلوانو او په هغے کښ قسط (عدل او هرچاله د هغه برخه ورکول) اول شرط دے او دلته ئے د پاره د ترك د دُشمنئ راوړے دے او د دے د پاره قیام بالقسط ضروری دے دویمه وجه دا ده چه هغه نازل شوے دے په رد د مشرکانو کښ او دا نازل شوے دے په رد د یهودیانو کښ او په یهودیانو کښ

وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

وعده کړيده الله تعالیٰ هغه چا سره چه ایمان یې راوړے دے او عمل یې کړیدی په طریقه دَ پیغمبر

لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ وَّاَجْرٌ عَظِيْمٌ ⑨ وَالَّذِيْنَ

دوی لره بخنه ده او ثواب لوئے دے ۔ او هغه کسان

كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ

چه کفر یې کړیدے او دروغ ژن کړیدی آیاتونه زمونږ دغه کسان

لِلْهِيّت نه وۀ دَ دے وجے نه دَدوی په خطاب کښ یې لِلّٰه مخکښ ذکر کړو.
وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ اه اجرام باعث جوړیدل دی په جرم کولو باندے. شَنَاٰنُ دشمنی
اوبغض دَ باطن نه وئیلے شی. قَوْمٍ مراد دَ دے نه عام دے کافران مشرکان
یا هغه خلق چه روستو دَ کفر نه یې ایمان راوړے دے دارنګ هغه څوک
چه دَ هغوی سره دنیوی عداوت وی نو دغه دُشمنی اوبغض دَ ترک عدل دَ
پاره سبب نشی کیدلے دَ نبی صلی الله علیه وسلم دَ اخلاقو نه ثابت ده چه
دَ دشمنانو سره یې دَ عدل نه کار اخستلے دے. اِعْدِلُوْا عام دے عدل په
حقوق الله او حقوق العباد کښ لکه په سورة نحل ۹۰ کښ دی. اَقْرَبُ
لِلتَّقْوٰى اسم تفضیل په معنی دَ نفس فعل دے یا اشاره ده چه دَ تقوٰی
نور اسباب هم شته لیکن عدل پکښ ډیر اقرب سبب دے. لِلتَّقْوٰى تقوٰی
من الله یا تقوٰی (بچ کیدل) دَ اُور دَ جهنم نه. اشاره ده چه ظلم او جور کول
انسان لره دَ تقوٰی نه لرے کوی.
۹ په دے ایت کښ بشارت دے په ایمان او په عمل صالح سره اګرچه
درجه دَ قوامین ته رسیدلے نه وی.
لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ داجمله په محل دَ مفعول کښ ده دَ پاره دَ وعد یا مستقله جمله
ده او مفعول دَ وعد محذوف دے.
اَجْرٌ عَظِيْمٌ لفظ دَ عظمت او تنکیر دَ هغے سره دَ تنکیر دَ اجر نه دلالت
کوی چه دَ دے اجر غایه منتهٰی دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل چا ته معلوم
نه ده.

الْجَحِيمِ ⑩ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا

دوزخ والا دي۔ اے ایمان والو ! یاد دوئ

نِعْمَتَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ أَنْ

نعمت دَ الله تعالىٰ په تاسو باندے کله چه قصد اوکړو يو قوم چه

يَبْسُطُوا إِلَيْكُمْ أَيْدِيَهُمْ فَكَفَّ أَيْدِيَهُمْ

اوږده کړي تاسو ته لاسونه خپل نو بند ئې کړل لاسونه دَ هغوی

عَنْكُمْ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَعَلَى اللّٰهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ ⑪

ستاسو نه او اوويرېږئ دَ الله تعالىٰ نه۔ اوخاص په الله تعالىٰ دِ څان سپاري مؤمنان۔

ئ په دے کښ تخويف اخروی دے۔ أُولَٰئِكَ اه دا دلالت کوی په حصر باندے او اصحاب لفظ دلالت کوی په ملازمت باندے او ملازمه دلالت کوی په هميش والی يعنی هميشه عذاب حصر دے په کافرانو کښ۔

ئل دا هم ترغيب دے ايفاءِ بالعقود ته په ذکر دَ نعمت دَ حفاظت سره دَ دشمنانونه او بشارتِ دنيويه دے روستو دَ اخروی بشارت نه۔ إِذْ هَمَّ قَوْمٌ اه دا شامل دے واقعه دَ غزوه عسفان ته چه مشرکينو اراده کړے وه چه په دے مؤمنانو باندے حمله کوؤ په وخت دَ مونځ دَ دوی کښ نو صلوٰة خوف نازل شو او واقعه دَ اعرابی چه په رسول الله صلی الله عليه وسلم باندے ئې توره راويستلے وه او بيائې ايمان راوړلو او واقعه دَ بنی نضير و چه نبی صلی الله عليه وسلم هغوی ته په باره دَ صلح کښ ورغلے وؤ او دوی اراده دَ قتل دَ هغه اوکړله ليکن الله تعالىٰ بچ کړو او دَ عموم دَ وجے نه په دے کښ مراد مغلوبيت دَ کافرانو او محفوظيت او امن دَ مؤمنانو په هر دور کښ دے او دا لوئے نعمت دَ الله تعالىٰ دے۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ اه اشاره ده چه دا سے نعمت حاصليږی په تقوٰی او توکل علی الله سره۔

وَلَقَدْ اَخَذَ اللّٰہُ مِیْثَاقَ بَنِیْٓ اِسْرَآءِیْلَ ج

او یقیناً اخستے دے اللہ تعالیٰ بوخ لوظ دَ بنی اسرائیلو نه

وَبَعَثْنَا مِنْھُمُ اثْنَیْ عَشَرَ نَقِیْبًا ط وَقَالَ

او لیږلے دی مونږ دَ دوینه دولس مشران۔ او وئیلے وو

اللّٰہُ اِنِّیْ مَعَکُمْ لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوۃَ وَ

اللہ تعالیٰ چه یقیناً زۂ ستاسو ملګرے یم که تاسو پابندی کوئ دَ مانځه او

اٰتَیْتُمُ الزَّکٰوۃَ وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ وَعَزَّرْتُمُوْھُمْ

ورکوئ زکوٰۃ او ایمان مو اولرلو په رسولانو ځما او کړ امداد مو او کړو دَ دوی

وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰہَ قَرْضًا حَسَنًا لَّاُکَفِّرَنَّ

او قرض مو ورکړو اللہ تعالیٰ ته قرض په اخلاص، خامخا لرے به کړم

عَنْکُمْ سَیِّاٰتِکُمْ وَلَاُدْخِلَنَّکُمْ جَنّٰتٍ

ستاسو نه بدئ ستاسو او خامخا داخل به کړم تاسو جنتونو ته

تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِھَا الْاَنْھٰرُ ج فَمَنْ کَفَرَ

چه بهیږی لاندے دَ هغے نه ولے (نهرونه)، نو چا چه کفر اوکړو

بَعْدَ ذٰلِکَ مِنْکُمْ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ

روستو دَ دینه ستاسو نه نو یقیناً ګمراه شو دَ برابر

السَّبِیْلِ ⑫ فَبِمَا نَقْضِھِمْ مِّیْثَاقَھُمْ

لارے نه۔ پس په وجه دَ ماتولو دَ دوی لوظ خپل لره

سلا دا متعلق دے دَ اوفوا بالعقود سره یعنی ذکر کوی حال دَ وفا نه کوونکو (ناقضین دَ عهد) چه هغه یهودیان دی نو دا اوله نمونه ده دَ پاره دَ بے لوظئ کوونکی په طریقه دَ تخویف دنیوی سره. په ذکر دَ پنځه لوظونو او بیا پنځه عذابونه دنیوی په سبب دَ بے لوظئ سره۔ نَقِیْبًا، نقیب تفشیش کوونکے

دَ حالا تو دَ بنی اسرائیلو او هغه ته کفیل او امین او ضامن هم وئیلے شی.
دولس خاندانونه وؤ دَ بنی اسرائیلو نو دَ هر یو خاندان دَ اصلاح او نظم ونسق
جوړولو دَ پاره یو یو نقیب مقرر وؤ او دا به په دوی کښې هر وخت موجود وؤ
او دَ دوی نوم ونه قرطبی او ابن کثیر لیکلے دی. اِنِّیْ مَعَکُمْ دَ سلف صالحینو اجماع
ده چه مراد دَ دے نه معیت خاصه دے په نصرت او معونت سره.
لَئِنْ اَقَمْتُمُ الصَّلٰوةَ دا تفصیل دَ میثاق دے په ذکر دَ پنځه امورو سره.
وَاٰمَنْتُمْ بِرُسُلِیْ ټول رسولان بغیر دَ تفریق نه منل او دَ هغوی تصدیق کول
سوال:- ایمان خو مخکښې دے په صلوة او زکوٰة باندے نو دلته ئے ولے
ترتیب بدل کړو؟
جواب:- بنی اسرائیل خو دَ صلوٰة او زکوٰة قائل وؤ لیکن هغه ئے په طریقه
دَ رسولانو باندے نه کول دَ خپل رائے او خواهش مطابق ئے کول نو الله
تعالیٰ دا قید ورباندے اولګولو چه تصدیق دَ ټولو رسولانو به کوئ.
سوال:- ایمان بالله ئے ولے نه دے ذکر کړے؟
جواب:- په وخت دَ دے میثاق کښې دوی ایمان بالله لرلو لیکن په دے
نورو امورو کښې ئے سستی کوله.
وَعَزَّرْتُمُوْهُمْ دا لفظ چه دَ نصرت سره یوځائے ذکر شی لکه سورة اعراف
۱۵۷ کښې نو هلته دَ دواړو فرق ملحوظ وی او کله چه جدا ذکر شی نو دَ یو بل
په معنی سره وی یعنی نصرت او مدافعت کول دَ دین دَ هغه نه دَ شبهاتو
دَ خلقو او دَ دشمنانو او دا اشاره ده دعوت او جهاد کولو ته.
وَاَقْرَضْتُمُ اللّٰهَ اه دَ زکوٰة نه روستو دَ قرض نه مراد انفاق فی سبیل الله
دے ځکه چه دَ دعوت او جهاد سره دَ انفاق ډیر ضرورت دے. لَاُکَفِّرَنَّ
عَنْکُمْ اه یعنی دَ وفا دَ دے لوظ دوه وعدے دی دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه.
بَعْدَ ذٰلِکَ اه سوال:- چا چه دَ دے نه مخکښې کفر کړے وی نو هغه هم ګمراه
دے نو دَ دے قید لګولو څه فائده ده؟
جواب:- اشاره ده چه مخکښې دَ میثاق نه خو انسان عذر کولے شی چه ما ته
علم نه وؤ او پوره تاکید دَ دے امورو ما ته معلوم نه وؤ ځکه ما خلاف کړے
لیکن روستو دَ عهد او میثاق نه دا عذر نشی کولے.

لَعَنّٰهُمْ وَجَعَلْنَا قُلُوْبَهُمْ قٰسِيَةً يُحَرِّفُوْنَ

لعنت اوکړو موږ په دوی او اوګرځول موږ زړونه د دوی سخت ، دوی بدلوی

الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِهٖ وَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا

کلمې د الله تعالیٰ د خپلو ځایونو نه او هیره کړه دوی یو حصه د هغې نه

ذُكِّرُوْا بِهٖ وَلَا تَزَالُ تَطَّلِعُ عَلٰى خَآئِنَةٍ

چه بیان شوې وه هغه په دوی، او همیشه په خبر برې ته په خیانت (نقصان)

مِّنْهُمْ اِلَّا قَلِيْلًا مِّنْهُمْ فَاعْفُ عَنْهُمْ

د دوی مګر لږ د دوی نه ، نو معافی کوه د دوینه

وَاصْفَحْ اِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿١٣﴾

او مخ اړوه (د ملامته کولو د دوینه) - یقینًا الله تعالیٰ خوښوی احسان کوونکی -

ف١٣ په دې کښې ذکر د پنځه عذابونو دنیویه دې په سبب د لوظ ماتولو سره. فَبِمَا نَقْضِهِمْ مِّيْثَاقَهُمْ دا نقض د دوی نه ډیر کرته صادر شوې دې لکه چه د هغې ذکر په سورة بقره کښې تیر شوی دې - لَعَنّٰهُمْ لعنت خوځیلې شی ابعاد (لرې والې) ته د رحمت خاصه د الله تعالیٰ نه او دا په طریقه د مسخ او د نورو عذابونو سره وو. قٰسِيَةً چه په هغوی کښې هیڅ وعظ او تخویف او بشارت اثر نه کوی او حسنه ته سیئه او سیئه ته حسنه وائي دا سې په سورة بقره ف٧ او سورة حدید ف١٦ کښې هم دی. يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ دا اثر د قسوةِ قلب دې د دې وجې نه په غیر د عطف نه ئې ذکر کړو او مراد د دینه تحریف معنوی دې یعنی دا سې تاویلونه کوی چه په هغې سره شرک، کفر او بدعات او ګناهونه ثابتوی دا سې په سورة بقره ف٤٥ او سورة نساء ف٤٦ او د دې سورت ف٤٢ کښې هم راغلی دی. عَنْ مَّوَاضِعِهٖ مراد د دې نه معانی مناسبه (حقیقیه) دی نو تحریف معنوی او تفسیر په رائې مذموم سره مراد دې. وَنَسُوْا حَظًّا اه د تورات او انجیل هغه حصه چه په هغې کښې توحید او ذکر د رسالت د آخری رسول وو هغه دوی دا سې پریخودل لکه چه نسیًا منسیا وی اګرچه بعضِ حصه منی نو مصداق دی د دې

وَمِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى اَخَذْنَا

او دَ هغه کسانو نه چه دوی وائی بیشکه موږ نصارٰی یو واخسته موږ

مِيْثَاقَهُمْ فَنَسُوْا حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا بِهٖ ۪

پخه وعده دَ هغوی نو هیره کړه دوی یوه برخه دَ هغې نه چه بیان کړے شوې وه دوی ته

فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ

نو راپورته کړه موږ په مینځ دَ دوی کښ دشمنی (په ظاهر کښ) او کینه (په زړه کښ)

قول" افتؤمنون ببعض الکتاب وتکفرون ببعض" یا داچه دَ تحریف دَوجے نه دَ دوی قوت حافظه خرابه شوه نو دَ کتاب الله او دَ دین الٰهی ډیره حصه ترینه هیره شوه۔ شربینی دَ ابن مسعود رضی الله عنهما نه روایت راوړے دے چه انسان بعض علم دَ گناه دَوجے نه هیر کړی او دا آیت ئے اولوستلو۔

خَآئِنَةٍ مِّنْهُمْ دا په معنی دَ مصدر دے یعنی خیانت. یا موصوف پټ دے (فِرْقَةٌ خَآئِنَةٌ) او مراد دَ خیانت نه دهوکے کول او په نبی صلی الله علیه وسلم باندے دَ حملے کولو اراده کول او دروغ وئیل او دَ مشرکانو سره ملګرتیا کول وغیره دی او دا امور پیدا کیږی دَ نسیان دَ کتاب الله نه. اِلَّا قَلِيْلًا دا استثناء دَ نقضهم میثاقهم سره متعلق ده یا دَ لَعَنّٰهُمْ او دَ هغې نه دَ روستو عبارت سره تعلق لری. فَاعْفُ عَنْهُمْ دا ضمیر راجع دے قلیلًا (مؤمنانو) ته یا راجع دے ناقضینو دَ عهد ته او مراد دَ عفو نه عفو ده دَ هغه جرم نه چه ستا په حق کښ ئے کړے وی یعنی دَ هغې بدله ترینه مه اخله لکه چه نبی صلی الله علیه وسلم سحر کوونکی په هغه باندے او زهر ورکوونکے ښځه معاف کړے وو وَاصْفَحْ مراد دَ دے نه سرهٔ دَ عفو نه مخ گرځول دی دَ هغوی دَ ملامته کولو نه یا مراد داچه روستو دَ عفو نه مخ ترینه اړوه یعنی دوستانه ورسره مه کوه او دیته اخلاق حسنه وئیلے کیږی دا منسوخ نه دی په آیاتونو دَ قتال سره ځکه دَ اخلاقو دَ استعمال ځائے جدا وی او دَ قتال جدا وی۔ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ په دے کښ روستو دَ عفو او صفح نه دریم خوئی ته اشاره ده (احسان او انعام کول) یعنی څه انعام ورکړه او احسان اوکړه دَ پاره دَ تالیف دَ زړونو دَ هغوی۔

اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ ؕ وَسَوْفَ يُنَبِّئُهُمُ اللّٰهُ

تر ورځ د قيامت پورې. او زر دے خبر به ورکړي دوئيته الله تعالىٰ

بِمَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ ﴿١٤﴾ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ

په هغه كاروتو چه دوى يئے كوى. اے كتاب والو!

سلا په دے كښ ذكر د دويمے نمونے د بے لوظئ دے د هغوى بے لوظى يئے ذكر
كړه او يو عذاب دنيوى يئے ذكر كړے دے او دا ذكر دے د حال د نصاراؤ
روستو د حال د يهوديانو نه. قَالُوْٓا اِنَّا نَصٰرٰٓى په قالوا كښ اشاره ده چه
نصارى نوم دِے خلقو ځان د پاره پخپله ايخودلے وو په دے دعوى سره
چه مونږ د عيسىٰ عليه السلام نصرت كوونكى يو. دا نوم د دوى د طرف
د الله تعالىٰ نه نه دے خو مراد په دے سره هغه نصارى دى چه بے لوظى يئے
كړے ده. مِيْثَاقَهُمْ دلته تفصيل د ميثاق نه دے ذكر كړے ځكه چه مراد
هغه ميثاق دے چه په سلا كښ ذكر شو يعنى پشان د ميثاق د يهوديانو.
فَنَسُوْا حَظًّا اه دلته نقضِ عهد يئے په طريقه د نسيان ذكر كړو ځكه چه
د دوى بے لوظى د اول وخت نه د يهوديانو په شان ښكاره نه وه بلكه د
جهل د وجے نه وه او بے لوظى د يهودو خو سره د علم نه وه بله وجه دا چه
نصاراؤ كښ شرك د نورو ګناهونو نه زيات وو په نسبت د يهوديانو او
حَظًّا مِّمَّا ذُكِّرُوْا كښ مراد مسئله د توحيد ده. فَاَغْرَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ
وَالْبَغْضَآءَ، اغراء ماخوذ دے د غِراء نه سريش او جوړلے ته وئيلے شى يعنى
دشمنى په دوى كښ داسے پيدا شوه چه په يو بل پورے د بغض وحسد
د وجے او نختل يا هغه دشمنى په دوى پورے او نختله. اشاره ده چه په
دوى كښ فرقه بازى د يهوديانو نه ډيره پيدا شوه اول په دوى كښ
يعقوبيه نسطوريه او ملكانيه پيدا شول په باره د عيسىٰ عليه السلام
كښ او بيا نورے ډلے د دوى نه پيدا شوے او ډير اختلاف او جنګ جګړے
په دوى كښ پيدا شوے د هغے تاريخ ابن قيم رحمة الله په اغاثة اللهفان
ص كښ په تفصيل سره ليكلے دے. اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ مراد د دے نه
وخت د نزول د عيسىٰ عليه السلام دے او هغه زمانه قريب ده ورځ
د قيامت ته. وَسَوْفَ اه په دے كښ تخويف اخروى ته اشاره ده.

قَدْ جَآءَكُمْ رَسُولُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيرًا

يقيناً راغلے دے تاسو ته رسول زمونږ واضحه بيانوی تاسو ته ډيرے (مسئلے)

مِّمَّا كُنتُمْ تُخْفُونَ مِنَ الْكِتَٰبِ وَيَعْفُوا

د هغے نه چه تاسو د كتاب د الله تعالىٰ نه پټولے او تيريږى

عَن كَثِيرٍ ۚ قَدْ جَآءَكُم مِّنَ اللَّهِ نُورٌ

د ډيرو نه . يقيناً راغلے ده تاسو ته د طرف د الله تعالىٰ نه رنړا

وَكِتَٰبٌ مُّبِينٌ ﴿١٥﴾ يَهْدِى بِهِ اللَّهُ مَنِ اتَّبَعَ

او كتاب واضح بيان والا . خود نه كوى په دے سره الله تعالىٰ هغه چاته چه تابعدارى كوى

يَصْنَعُونَ، صنع په هغه عمل كښ استعماليږى چه هميشه كيږى يعنى دوى (نصارىٰ) په باطل دين اختلافات او جګړے هميشه كوى د دے وجے نه چه دين يے ګنړى.

۱۵ د دے آيت نه د دے حصے دويم باب دے تر ۴۱ پورے په دے كښ ذكر د احوالِ تفصيليه د كتابيانو دے چه نقض د عهد يے كړے وو په ديكښ دوه خطابات د اهل كتابو او يو خطاب د ايمان والو ذكر دے په ۱۵ ۱۶ كښ او دعوت دے اهل كتابو ته طرف د اطاعت د رسول او قرآن ته د پاره د نجات د آثار قبيحه د نقضِ عهد نه . بيا ذكر د نقضِ عهد د هغوى دے په شرك فى الالوهيت د عيسىٰ عليه السلام او په ذكر د تزكيے د دوى خپل ځان لره ۱۷ ۱۸ كښ او بيا دعوت دے اطاعت د رسول ته په ۱۹ كښ . بيا ذكر د نقضِ عهد د دوى دے په بزدلئ ښكاره كولو او په ترك د جهاد او په عذاب د حيرانتيا سره تر ۲۶ پورے بيا ذكر د قباحتونو د قابيل دے او د هغه قباحتونه چه نقل شويدى بنى اسرائيلو ته چه هغه اسباب د ذلت او د ندامت دى تر ۳۱ پورے بيا ذكر د قباحاتو د بنى اسرائيلو د افساد، قتل بغير حق، محاربه د الله او د رسول سره او سرقے (غلا كانے) كول سره د سزاګانو ذكر كولو نه په ۳۲ ۳۳ ۳۴ ۳۸ كښ او خطاب د مؤمنانو دے په ترغيب د تقوى (بچ كيدل د قباحاتو د بنى اسرائيلو نه) او طلب د تقرب الى الله په نيک عملونو سره په ۳۵ كښ سره د ذكر

رِضْوَانَهٗ سُبُلَ السَّلٰمِ وَيُخْرِجُهُمْ

د رضا د الله تعالیٰ د لارو د سلامتیا او اوباسی دوی لره

مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ بِاِذْنِهٖ وَيَهْدِيْهِمْ

د تیارو نه رڼا ته په حکم خپل سره او رسوی دوی لره

د تخویف اخروی نه په ۳۶ ۳۷ کښ او په اخرکښ ترغیب دے سره د رد د شرك فی التصرف نه په ۴۰.

تفسیر: په دے ۱۵ کښ خطاب دے اهل کتابو ته د یاد د اطاعت د اخری رسول او د قران، په ذکر د عظمتِ شان د رسول او د قران. یٰاَهْلَ الْكِتٰبِ کتاب په معنی د جنس کتاب دے که تورات وی او که انجیل وی نو شامل دے یهود او نصارٰی دواړو ته. يُبَيِّنُ لَكُمْ او دا صفت د رسول صلی الله علیه وسلم دے او اشاره ده چه د حق والو نښه دا ده چه هغه مسائیل به ښکاره کوی کوم چه باطل پرستو ملا یانو پټ کړے دی. مِّنَ الْكِتٰبِ یعنی مسائیل په کتاب د الله تعالیٰ کښ شته او تاسو پټ کړے دی. وَيَعْفُوْا عَنْ كَثِيْرٍ د عفو نه مراد پریخودل او اعراض دے د بیان د هغې نه او مراد د دے نه هغه مسائیل دی چه د دے اخری دین سره یې تعلق نیشته بلکه په دې دین کښ هغه منسوخ دی او دواړه طرف ته عموکثرت نشی کیدلے نو مراد د دے نه کثرت فی نفسه دے. قَدْ جَآءَكُمْ مِّنَ اللّٰهِ دا ترغیب دے د قران ته په ذکر د دوه صفتونو د هغه اول نُوْرٌ یعنی قران نور دے چه په سبب د دۀ سره حق واضح کیږی او تیارے د جهل زائیله کیږی او دا سے په سورة نساء ۱۷۴ او سورة تغابن ۸ کښ شته دے. وَكِتٰبٌ مُّبِيْنٌ دا عطف د صفت دے په صفت باندے او موصوف یو دے. مُبِيْنٌ لازمی او متعدی دواړه معنے لری څخپله په کښ احکام ښکاره دی یا ښکاره کوونکے دے. دویم قول دا دے چه مراد د نُوْرٌ نه اسلام دے. دریم قول دا چه محمد صلی الله علیه وسلم دے دا قول د زجاج نه نقل دے.

فائده: بعضِ زائغینو د دے لفظ نه استدلال کړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلم بشر نه دے بلکه نور دے؟ جواب دا دے چه وصف د نُور تعارض نه لری د بشریت او د رجولیت د هغه سره ځکه د نُور مراد

دادے چه دَ هغه په سبب الله تعالیٰ حق لره ښکاره کړے دے او شرک یې محوه کړے دے او دَ هغه دا نارت (نورکیدلو) فائده داده چه پټے مسئلے دَ اهل کتابو یې ښکاره کړے دا ابن جریر ذکر کړے ده او دا معنی په دے وجه ده چه په ډیرو آیاتونو کښې بشریت او رجولیت دَ انبیاؤ ذکر دے آیاتونه دَ اثبات دَ بشریت سورة العمران ۷۹، سورة انعام ۹۱، سورة ابراهیم ۱۱، سورة کهف ۱۱۰، سورة انبیاء ۳، سورة مؤمنون ۲۴ ۳۳ ۳۴ ۴۷، سورة شعراء ۱۵۴، سورة یٰس ۱۵ سورة فصلت ۶، سورة تغابن ۶، سورة هود ۲۷، سورة اسراء ۹۳ ۹۴ او سورة قمر ۲۴. آیاتونه دَ اثبات دَ رجولیت سورة اعراف ۶۳ ۶۹، سورة یونس ۲، سورة مؤمنون ۲۵ ۳۸، سورة سبا ۷ ۴۳، سورة فرقان ۸ سورة غافر ۲۸، سورة یوسف ۱۰۹، سورة نحل ۴۳ او سورة انبیاء ۷ نو ځوک چه دَ نُور دَ صفت دَ وجے نه بشریت او رجولیت نه منی نو هغوی دَ دے ټولو آیاتونو نه منکر دی.

سوال: دوی وائي چه نور په حقیقت کښې دے او په شکل دَ سړي او بشر سره متمثل شوے دے؟

جواب: نورانی مخلوق (ملائک) چه کله په شکل دَ بشر راښکاره شویدی نو په هغه ځائے کښې دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ طرف نه تصریح موجود وی چه دا تمثل دے لکه سورة مریم ۱۷ او دا رنګ په ډیرو احادیثو کښې راغلے دی. او دَ هیڅ نبی په باره کښې په هیڅ نص کښې داسے نه دی راغلی چه فتمثل

سوال: دَ نبی صلی الله علیه وسلم سورے به نه وُو نو دلیل دے چه جسم یې نه وُو بلکه نُورِ محضه وُو؟

جواب: الزامی دادے که بدن یې جسم نه وُو لیکن جامے یې اغوستلے وے نو دَ هغې ولے سورے نه ښکاره کیدلو. او تحقیقی جواب دادے چه دا حدیث حکیم ترمذی نقل کړے دے او هغه حدیث ضعیف دے دَ هغې یو راوی دے عبدالرحمٰن بن قیس هغه ته ائمو دَ جرح ضعیف متروک الحدیث وئیلے دے (تاریخ بغداد ص ۲۵۱/۱۰ تهذیب التهذیب ص ۲۵۸/۶) او دا حدیث په نوادر الاصول کښې ذکر دے او بیا سیوطی په خصائص الکبریٰ کښې نقل کړے دے شاه عبدالعزیز په بستان المحدثین کښې وئیلے دی چه نوادر الاصول کښې اکثر احادیث غیر معتبر دی. معلومه شوه چه صحیح عقیده

إِلَىٰ صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿١٦﴾ لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ

لارې نیغې ته. یقیناً کفر کړیدے هغه کسانو

قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ ۚ

چه وائي، یقیناً الله تعالیٰ (واکدار) هغه خو مسیح ځوئے دَ مریم دے.

قُلْ فَمَنْ يَمْلِكُ مِنَ اللَّهِ شَيْئًا

نه ورته اووایه! تو څوک اختیار لري په مقابله دَ الله تعالیٰ کښ دَ څه څیز

داده چه نبی صلی الله علیه وسلم نور هم وُو او بشر حقیقةً هم وُو.

لله په دے کښ درے فائدے دَ آخری رسول دَ رالیږلو یا دَ قرآن دَ پاره یئے ذکر کړے دی. اوله فائده يَهْدِي بِهِ ضمیر دَ بِهِ قرآن یا رسول ته راجع دے هر یو سبب دَ هدایت الٰهیه دے. مَنِ اتَّبَعَ رِضْوَانَهُ دا قید یئے دَ دے وجے نه ذکر کړے دے چه مراد دَ یهدی نه ایصال الی المطلوب او توفیق دے.

سُبُلَ السَّلَامِ سلام نوم دَ الله تعالیٰ دے یا مراد دَ دے نه سلامتیا دَ عذاب دَ جهنم نه ده او سلامتیا دَ تولو آفاتو نه او هغه جنت دے. سوال: قرآن کښ چه دَ صراط مستقیم دَ پاره تعبیر کیږی په مفرد سره یعنی "صراط" او "سبیل الله" نو دلته ولے جمع ذکر شوه؟ جواب دَ مفرد په ځایونو کښ عقیده او ایمان مراد دے او هغه یو دے دَ دے وجے نه مفرد یئے ذکر کړے او دلته مراد دَ سبل نه احکام او اعمال قرانیه دی او هغه ډیر دی ځکه جمع ذکر کړے شوه. دویمه فائده يُخْرِجُهُم مِّنَ الظُّلُمَاتِ الخ مراد دَ دے نه ظلمات او نور گناهونه معنویه دی یعنی تیارے دَ شرك او کفر او دَ بدعاتو رسوماتو او نور گناهونو نه دَ قرآن او رسول په وجے سره نجات حاصلیږی بِإِذْنِهِ اشاره ده چه اخراج دَ ظلماتو نه په معنی دَ توفیق سره دے او دَ هغه دَ پاره اذن دَ الله تعالیٰ شرط دے. یهدی سره یئے دا ذکر نه کړو ځکه چه هلته یئے بِهِ دَ سببیت ذکر کړے دے او دا سے په سورة ابراهیم سلـ کښ هم شته. او دریمه فائده ويهديهم الی صراط مستقیم اول هدایت دَ احکامو او اعمالو وُو او دلته هدایت دَ عقیدے مراد دے یا هلته هدایت دَ مقاصدو او دلته مراد هدایت دے دَ دلیلونو سره.

إِنْ أَرَادَ أَنْ يُّهْلِكَ الْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ

که اوغواړی الله تعالیٰ چه مړ کړی مسیح ځویئے دَ مریم

وَأُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْأَرْضِ جَمِيْعًا ۗ وَلِلّٰهِ

او مور دَ هغه او هغه څوک چه په زمکه کښ دی ټول۔ او خاص الله تعالیٰ لره

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۗ

بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے ده او دَ مینځ دَ دے دواړو۔

يَخْلُقُ مَا يَشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾

پیدا کوی څه چه اوغواړی۔ او الله تعالیٰ په هر څیز باندے قدرت لری۔

ټکل دا متعلق دے دَ يُبَيِّنُ لَكُمْ كَثِيْرًا اه او رد دے په یوه ډله دَ اهل کتابو چه نصارٰی دی چه هغوی ته په انجیل کښ عبدیت دَ عیسیٰ علیه السلام بیان شوے وؤ او هغه دوی پټ کړو او الوهیت دَ عیسیٰ علیه السلام یئے خپل دین اوګرځوؤ نو قرآن هغه خبره ښکاره کړه او حکم یئے اوکړو چه دا قول او عقیده خو کفر دے چه څوك عیسیٰ علیه السلام ته اِلٰه وائی دا قول دَ یعقوبیه ډلے وؤ دَ نصارٰی نه دَ دوی مقصد دا وؤ چه الله تعالیٰ په عیسیٰ علیه السلام کښ حلول کړے دے نو الوهیت دَ ناسوتیت سره یو شوے دے۔ سوال په نصاراؤ کښ داسے څوک نیشته چه هغوی داسے وائی چه ان الله هو المسیح بلکه برعکس وائی؟ جواب دا رد دے په طریقه دَ الزام سره چه دَ دوی په قول سره هر کله چه الله تعالیٰ حلول په عیسیٰ علیه السلام کښ اوکړو او عیسیٰ علیه السلام اله شو نو لازمًا وئیلے کیږی چه الله تعالیٰ مسیح دے قصر دَ مسند الیه اوشو په مسند کښ۔ او شربینی بله توجیه دا ذکر کړے ده (بغیر دَ حلول نه) چه دوی وئیل چه عیسیٰ علیه السلام مرغئ پیدا کوی او مړی ژوندی کوی او تدبیر دَ ټول عالم کوی نو بنا په دے دَ (الله) نه مراد وصفِ مشهوره دے چه متصرف او مدبر دَ ټول عالم عیسیٰ علیه السلام دے۔ قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ اه نو په څلورو طریقو سره دَ دغه عقیدے تردید کوی اوله طریقه دا ده چه دا عالم سره دَ عیسیٰ علیه السلام نه فنا کیدونکے دے او څوك دَ فنا کیدلو نه بچ کوؤنکے

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ وَالنَّصٰرٰى نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ

او وائی يهوديان او نصارٰی موږ نازولی (ځامن) د الله تعالٰی يو

وَاَحِبَّآؤُهٗ ؕ قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ ؕ

او دوستان د هغه يو۔ ته ورته او وايه، نو ولے عذاب درکوی تاسو ته په ګناهونو ستاسو۔

بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ مِّمَّنْ خَلَقَ ؕ يَغْفِرُ

بلکه تاسو بندګان يئ د هغه چا نه چه پيدا کړی الله تعالٰی۔ بخنه کوی

نيشته نو عيسٰی عليه السلام هم فنا کيدونکے دے او د فنا نه ځان او نور مخلوق هم نشی بچ کولے نو څنګه مدبر او اِله کيدے شی۔ يَمْلِكُ په معنٰی د يقدر او يستطيع يا يمنع سره دے۔ مِنَ اللّٰهِ نه مراد من عذاب الله يا من مرادات الله او من امر الله دے سوال: وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِى الْاَرْضِ جَمِيْعًا ئے ورسره ولے ذکر کړو؟ جواب¹: په دے کښ اشاره ده چه په اعتبار د مرګ او فنا سره عيسٰی عليه السلام او دا نور مخلوق برابر دی۔ جواب²: مراد دا چه مور او ټول زمکے والا اګرچه د هغه په امداد کښ وی هم ئے نشی بچ کولے۔ وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ اه دا دويمه طريقه ده چه نظام چلوونکے د ټول عالم الله تعالٰی دے او عيسٰی عليه السلام خو په ما بينهما کښ داخل دے نو هغه رعيت او مملوک دے اِله نه دے او وَمَا بَيْنَهُمَا دلالت کوی چه عيسٰی عليه السلام او مور ئے مخلوق او محدود او محصور دی نو اِله نشی کيدے۔ سوال: دلته ما بينهن پکار وؤ؟ جواب: دا ضمير راجع دے اسمانونو او زمکے ته په اعتبار د طرفينو يا په اعتبار د دوه نوعو سره۔ يَخْلُقُ اه دا دريمه طريقه ده يعنی عيسٰی عليه السلام خَلْق په معنٰی د ايجاد سره نشی کولے هغه صرف صورت جوړوؤ او صرف مرغۍ ئے جوړولے هر څيز (ما يشاء) ئے نشو جوړولے۔ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ دا څلورمه طريقه ده چه الله تعالٰی خو قدرتِ مطلقه لری چه بغير د اصل نه خلق کولے شی لکه اسمانونه او زمکه شوه او د اصل نه خلق کولے شی لکه ما بينهما شو او د غير جنس نه خلق کوی لکه آدم عليه السلام شو او د يو جنس نه کولے شی لکه حواء شوه او عيسٰی ؑ شو او د دوه جنسونه خلق کولے شی لکه عام انسانان دی۔

لِمَنْ يَّشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَلِلّٰهِ

هغه چاته چه اوغواړی او عذاب ورکوی چاته چه اوغواړی. اوخاص الله تعالیٰ لره

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ز

بادشاهی دَ اسمانونو او دَ زمکے ده اودَ هغه څه چه په مینځ دَدِ دواړو کښ دی

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ ⑱ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ قَدْ جَآءَكُمْ

او خاص هغه ته ورګرځیدل دی. اے کتاب والو! یقینًا راغلے دے تاسو ته

۱۸ دا بل رد دے په عقیده دَ اهل کتابو (چه یهود اونصارٰی دی) او اشاره ده
لکه چه دوی افراط کړے وؤ په باره دَ عیسیٰ او عزیر علیهما السلام کښ
نو داسے دوی افراط کوؤ دَخپل ځانونو په باره کښ دَ پاره دَ تزکیے او غوره
والی ښکاره کولو په نورو خلقو او دَ پاره دَ دے چه څوک په دوی باندے
هیڅ قسم طعن او اعتراض اونکړی. نو دوی وئیل نَحْنُ اَبْنٰٓؤُا اللّٰهِ وَاَحِبَّآؤُهٗ
په دے سره دوی خپل عصمت ثابتولو. په دے قول کښ ډیر توجیهات
دی اول دا چه دا دعوٰی په تشبیه باندے بِنا ده یعنی الله تعالیٰ په مونږ
باندے پشان دَ پلار شفقت کوؤنکے دے او مونږ دَ هغه خواص او مقربین
یو پشان دَ ځامنو پلار ته، او اَحِبَّآؤُهٗ دَ هغے تفسیر دے. دویمه توجیه سمعانی
دَ ابراهیم نخعی نه نقل کړے ده چه یهودو په تورات کښ موندلے وؤ "یا ابناءُ
اَحْبَارِیْ" (اے ځامن دَ علماؤ ځما) نو دوی په کښ تحریف اوکړو او اولوستلو
چه "یا انباء ابکاری" (اے ځامنو دَ جینکو ځما) او نصارٰی دَ عیسیٰ علیه السلام
نه نقل کړے دے چه هغه یو ځلے اووئیل چه اَذْهَبُ اِلٰی اَبِیْ وَاَبِیْکُمْ چه
ورځم خپل پلار او ستاسو پلار ته نو دوی وئیل دَ دے نه معلومه شوه
چه مونږ دَ الله ځامن یو. دریمه توجیه، قرطبی شربینی وغیره وئیلے دی
چه په دے کښ حذف دَ مضاف دے یعنی "ابناءُ الرسل والانبیاءُ" او مقصد په
کښ فخر کول او خپل تقرب ثابتول وؤ په وسیله دَ انبیاؤ او رسولانو
سره. څلورمه توجیه آلوسی وئیلے دی چه دَ تورات او انجیل په اصطلاح
کښ ابن تابعدار او مقرب او دوست ته وئیلے کیدلو او آلوسی په روح
المعانی کښ دَ هغوی نه ډیر عبارتونه په دے طریقے سره نقل کړیدی.

قُلْ فَلِمَ يُعَذِّبُكُمْ بِذُنُوْبِكُمْ په دے قول سره دَ دوی ردکوی په څلورو طریقو سره اوله داده چه پلار خپل خوږ ځوئی ته او دوست خپل محبوب دوست ته خو عذاب نه ورکوی او تاسوله خو الله تعالیٰ ډیر عذابونه درکړے دی په مسخ سره په غرونو پورته کولو سره په تذلیل او پریشان کولو سره او په مقتضیٰ دَ قول دَ دوی سره چه (لَنْ تَمَسَّنَا النَّارُ اِلَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً) سره۔ او یعذب مضارع په معنی دَ ماضی سره ده **سوال:** که مراد دَ دے نه عذاب دَ دُنیا شی نو معارضه کیدے شی په واقعه دَ اُحد سره چه اویا اصحاب کرام قتل کړے شول او واقعه دَ قتل دَ حسین رضی الله عنه ځکه چه دوی اولیاء الله وو؟

جواب: مراد دَ دے نه هغه مخصوص عذابونه دی چه په یهودو او نصاراؤ راغلی وو مسخ په شکل دَ قِردة (شادوګان) او خنزیرانو سره یا مراد دَ دے نه عذاب النار دے په سبب دَ قول دَ دوی لن تمسنا النار الَّآ اَيَّامًا مَّعْدُوْدَةً۔ یا داچه دا ملازمه بناده په دعوی دَ ابنیت او محبوبیت باندے او صحابه کرامو خو دا دعوی نه ده کړے۔ دا سوال او جواب نیشاپوری ذکر کړے دے۔

او تحقیقی جواب دادے چه قتل په طریقه دَ شهادت یا نور مصیبتونه په دنیا کښ په حق پرستو باندے داخو عذابونه نه دی بلکه په دے سره رفع دَ درجاتو راځی۔

بَلْ اَنْتُمْ بَشَرٌ اه دا دویمه طریقه ده دَ رد دَ قول دَ هغوی. یعنی ابنیت دَ الله تعالیٰ خو وتل دی دَ بشریت نه او تاسو خو بشریئ بیا وهم پیدا کیدلو چه کیدے شی چه دَ محبوبیت دَ وجے دَ بشریت نه منتقل شوی یئ نو او ئیلے شی چه مِمَّنْ خَلَقَ یعنی دَ مخلوقیت نه نشی وتلے او دَ مشیئت دَ لاندے داخل یئ په قرینه دَ دے چه يَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ اه۔

وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ دا دریمه طریقه دَ رد ده یعنی مملوک یئ دَ الله تعالیٰ او راګیر یئ په اسمانونو او زمکو کښ۔

وَاِلَيْهِ الْمَصِيْرُ دا څلورمه طریقه ده یعنی په آخرت کښ دَ هغه دَ ملك او مشیت نه نشی بهر کیدلے بلکه دَ جزا او سزا دَ پاره هغه ته ورګرځیدل دی۔

رَسُوْلُنَا يُبَيِّنُ لَكُمْ عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ

رسولانو کښې د بندیز لو وخت په (د مسائلو) تاسو ته بیان کوی رسول زموږ

اَنْ تَقُوْلُوْا مَا جَآءَنَا مِنْ بَشِيْرٍ وَّلَا نَذِيْرٍ

راکوونکے بره نه او راکوونکے زیرے څوک موږ ته راغلی وو نه چه وایئ نه او چه

فَقَدْ جَآءَكُمْ بَشِيْرٌ وَّنَذِيْرٌ ؕ وَاللّٰهُ

الله تعالیٰ او - درکوونکے بره او درکوونکے زیرے ته تاسو راغلیٰ یقیناً تو

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٩﴾ ع وَاِذْ قَالَ ع۳ ۷

اُوئیل چه کله او .دے لرونکے قدرت باندے څیز هر په

سلا داتکرار د خطاب دے چه ارسال د دے رسول د پاره د دفع کولو د عذار
د خلقو دے او په دے سره دفع کول د یو وهم دی هغه دا دے چه دوی
وئیل چه زموږ په کتابونو کښې متشابهات دی د هغې د وجې نه عیسیٰ علیه
السلام ته اِله وایو او ځان ته ابناءُ الله وایو. حاصل د جواب دا دے چه
رسول تاسو ته رالیږلے شوے دے او هغه محکمات پیش کړے دی تاسو ته
او بیان کړے دی او طریقه د عمل په متشابهاتو باندے ئې گرځولے ده نو
اوس هیڅ عذر مکوئ. يُبَيِّنُ لَكُمْ مفعول د دے حذف دے د دے د وجې
نه چه مخکښې تیر شوید دے كثيراً مما كنتم تخفونهٗ يا الشرائع والاحكام،
يا الكيفية رَدِّ المتشابهاتِ الى المحكماتِ. عَلٰى فَتْرَةٍ مِّنَ الرُّسُلِ، د فتور نه
ماخوذ دے سست کیدل او سکون او انقطاع ته وئیلے شی یعنی په داسے
زمانه کښې چه شرائع د مخکنو انبیاؤ باندے عمل کول سست شوے وُو
او منقطع شوے وو د هغې آثار هم ختم شوے وُو ځکه چه د انبیاؤ سلسله
قطع شوے وه او ټول عالم په هدایت کښې آخری رسول ته محتاج وُو
نو داسے وخت کښې الله تعالیٰ دے رالیږلو او د عیسیٰ علیه السلام
او د محمد صلی الله علیه وسلم په مینځ کښې د مدت فترة اختلاف دے
یو قول دا چه شپږ سوه کلونه دی دویم پنځه سوه او شپیته کاله دریم
دا چه شپږ سوه او خلویښت کاله. او امام بخاری حدیث ذکر کړے دے

مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ يٰقَوْمِ اذْكُرُوْا نِعْمَةَ اللّٰهِ

موسٰی (علیہ السلام) قوم خپل ته اے قومه ځما، یاد کړئ نعمت دَ الله تعالٰی

عَلَيْكُمْ اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ وَجَعَلَكُمْ

په تاسو باندے کله چه پیدا ئے کړل په تاسو کښں رسولان او جوړ ئے کړئ تاسو

مُّلُوْكًا ۖ وَّاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اَحَدًا

بادشاهان او درکړیدی تاسو ته هغه نعمتونه چه نه ئے دی ورکړی هیچا ته

مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٢٠﴾ يٰقَوْمِ ادْخُلُوا الْاَرْضَ

دَ خلقو نه - اے قومه ځما، داخل شئ زمکے

چه (لیس بینی وبینه نبی) "دَ دوی په مینځ کښں هیڅ نبی (رسول) نه دے راغلے" او دا صریح رد دے په هغه چا چه وائي چه دَ دوی په مینځ کښں څلور یا درے رسولان راغلی وُو دا صحیح خبره نه ده. اَنْ تَقُوْلُوْا کراهیة ان تقولوا یا لئلا تقولوا اول قول دَ بصریانو او دویم دَ کوفیانو دے. فَقَدْ جَآءَكُمْ دَ دے نه مخکښں عبارت پټ دے یعنی (فَلَا تَعْتَذِرُوْا بِهٰذَا الْعذر) دغه بهانه مه کوئ. قَدِيْرٌ قدرت لری نو کله رسولان پرله پسے رالیږی او کله په طریقه دَ فترت سره رالیږی. په دیکښں لطیفه اشاره ده چه کوم خلق په زمانه دَ فترت کښں مړه شویدی نو هغوی دا سے عذر پیش کولے شی.

۲۰ ربط دَ دے دَ مخکښں مضمون سره په ډیرو وجوهو سره دے اوله وجه دا چه متعلق دے دَ كَثِيْرًا مِّمَّا كُنْتُمْ تُخْفُوْنَ مِنَ الْكِتٰبِ سره یعنی جهاد پریخودل دَ قوم دَ موسٰی دا خبره دوی پټه وله نو قرآن په دے ذکر سره ښکاره کړه. دویمه دا چه مخکښں دَ دوی بعضے خیانتونه ذکر کړل چه هغه دَ افراط سره تعلق لری نو اوس دَ دوی تفریط ذکر کوی چه هغه په ۲۲ ۲۴ کښں ذکر دے. دریمه وجه دا ده چه دا نمونه دَ بے لوظئ دَ بنی اسرائیلو ده سره دَ سزا نه یعنی سرگردان کیدل په سبب دَ ترک دَ جهاد سره. وَاِذْ قَالَ مُوْسٰى دا عطف دَ یو مضمون دے په بل مضمون باندے یعنی مخکښں چه تا دَ دوی افراط ذکر کړو نو دا رنګ ذکر کړه دوی ته دا قِصّه.

الْمُقَدَّسَةَ الَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوْا

پاک کے ته هغه چه فرض کړی دی الله تعالیٰ په تاسو یا تاسو جهاد دَ هغې او مه واپس کیږئ

عَلٰٓى اَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ ﴿۲۱﴾

په شاګانو خپلو پس شئ به تاوان والا ۔

نِعْمَةَ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ نعمت په معنیٰ دَ انعام دے او علیکم دَ هغې سره متعلق دے یا صفت دے په تقدیر دَ كائنة علیکم باندے او مراد دَ ذکر نه شکر کول په منلو دَ امر دَ جهاد سره دی. اِذْ جَعَلَ فِيْكُمْ اَنْۢبِيَآءَ دا تفصیل دَ نعمت دے په ذکر دَ درے امورو سره اول په کثرت سره انبیاء رالیږل په بنی اسرائیلو کښ دَ یعقوب علیه السّلام نه تر عیسیٰ علیه السلام پورے او جعل فعل ماضی په معنیٰ دَ استمرار سره دے چه ماضی او استقبال دواړو ته شامل دے نو دَ موسیٰ علیه السلام نه مخکښ او روستو ته عام دہ ۔ او دا نعمت دینیه اعلیٰ نعمت دے ۔ او دویم وَجَعَلَكُمْ مُّلُوْكًا دَ دے نه عامه معنیٰ مراد دہ یعنی آزادی دَ غلامئ دَ فرعونیانو نه او خاوندان دَ خادمانو او کورونو او ښځو او سمعانی لیکلی دی چه څوک به تاسو ته بے اجازته نه داخلیږی ۔ او دا نعمت په ټولو کښ موجود وو ځکه ئے فیکم نه دے وئیلے بلکه جعلکم ئے اوئیل او دا نعمت دنیویه ظاهریه دے ۔ او دریم وَاٰتٰىكُمْ مَّا لَمْ يُؤْتِ اه ، دا نعمتونه معجزانه ظاهری او باطنی دواړه دی او مراد هغه دی چه په سورة بقره کښ ذکر دی یعنی اهلاک دَ دشمن او شلول دَ بحر ، او انزال دَ من وسلویٰ او اوبه راویستل دَ کڼے نه او سورے کول په وریځ سره ۔ مِنَ الْعٰلَمِيْنَ مراد دَ دے نه هغه خلق دی چه دَ بنی اسرائیلو په وخت کښ یا دَ هغوی نه مخکښ وو معنی فعل ماضی په دے باندے دلالت کوی ۔ او شربینی وئیلے دی چه دغه زمانه کښ دوی علماء بالله او احباب الله او انصار دَ دین الهی وو ځکه هغوی ته دا کرامات دَ وجے دَ توحید او دَ اتباع دَ موسیٰ علیه السلام نه ورکړے شوے وو ۔

۲۱ مخکښ ایت کښ تمهید وو او په دے ایت کښ دَ شکر نعمت طریقه ذکر کوی ۔ اُدْخُلُوا دا دخول په طریقه دَ جهاد سره دے . الْاَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ په معنیٰ دَ مبارکه او پاکه یعنی برکاتِ دنیویه او اخرویه پکښ ډیر دی او قتاده وئیلے دی چه دا دَ شام زمکه دہ او په هغې کښ بیت المقدس او

قَالُوْا يٰمُوْسٰٓى اِنَّ فِيْهَا قَوْمًا جَبَّارِيْنَ ۖ ق

دوی اوئیل اے موسیٰ (علیه السّلام) یقینًا په دې کښې قوم زورور دی

وَاِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا حَتّٰى يَخْرُجُوْا مِنْهَا ۚ ج

او یقینًا مونږ چرے نه داخلیږو هغې ته تر دے چه اوځي دوی دَ هغې نه

فَاِنْ يَّخْرُجُوْا مِنْهَا فَاِنَّا دٰخِلُوْنَ ﴿٢٢﴾

نو که اوونل دوی دَ هغې نه نو یقینًا مونږ به داخل شو۔

دمشق، فلسطین او بعضے حِصّه دَ اردن داخله ده۔ اَلَّتِيْ كَتَبَ اللّٰهُ لَكُمْ په معنیٰ دَ تقدیر سره په لوح محفوظ کښې یا په معنیٰ دَ وعدے دَ الله تعالیٰ په ژبه دَ یعقوب علیه السلام۔ یا په معنیٰ دَ فرض یعنی فرض کړے دے الله تعالیٰ په تاسو جهاد دَ هغې۔ ابن کثیر لیکلی دی چه دا زمکه مقدسه مسکن وُو دَ یعقوب علیه السلام او دَ اولاد دَ هغه بیا په امر دَ یوسف علیه السلام دوی ټول مصر ته نقل شول نو بیا دَ موسیٰ علیه السلام زمانه کښې چه دَ مصر نه هجرت اوکړو نو دوی ته دے زمکے ته دَ داخلیدلو حکم اوشو او دَ حالات معلومولو دَ پاره یې دولس نقیبان اولیږل نو هغه زمکه بانده عمالقه جبابره قوم اباد شوے وو نو دوی ته حکم اوشو چه دَ هغوی نه دا زمکه مقدسه په ذریعه دَ قتال سره ازاده کړئ۔

وَلَا تَرْتَدُّوْا اه دَ قتال نه انکار کول ارتداد دے یا دا معنیٰ چه واپس مه راګرځئ دَ وجے دَ بزدلئ نه۔ فَتَنْقَلِبُوْا خٰسِرِيْنَ اشاره ده چه ترک دَ جهاد روستو دَ فرض کیدلو نه سبب دَ خسران دَ دنیا او دَ اخرت دے۔

۲۳ په دې کښې دَ هغوی بے لوظی او خیانت او بزدلی ذکر کوی۔ قَالُوْا دَ نقباؤ نه لس کسانو دا سے اوئیل او نورو بنی اسرائیلو دَ هغوی په تقلید کښې دا سے اوئیل نو دوی دَ نبي دَ قول په مقابله کښې قول دَ بل چا واغستلو۔ جَبَّارِيْنَ جبار هغه چا ته وئیلے شی چه خلق په زور سره خپل مقصد ته راړوی نو دا دَ اجبار نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ اکراه (زور) سره۔ یا دَ جبر نه ماخوذ دے په معنیٰ دَ اصلاح سره۔ لیکن استعمالیږی په باره دَ هغه چا کښې چه ځان ته نفع راکاږی که په حقه سره وی یا په باطله

قَالَ رَجُلٰنِ مِنَ الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ

اوئیل دوه سړو (نارینو) دَ هغه کسانو نه چه یره ئې کوله

أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا ادْخُلُوْا عَلَيْهِمُ الْبَابَ ۚ

انعام کړیوؤ الله تعالٰی په هغې دواړو باندے داخل شئ په دوی باندے دروازے ته

فَإِذَا دَخَلْتُمُوْهُ فَإِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ ۚ۵ وَعَلَى

نو کله چه داخل شوئ هغې ته نو یقیناً تاسو به غالب یئ او خاص په

اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿۲۳﴾

الله تعالٰی باندے توکل کوئ که تاسو مؤمنان (ایمان والا) یئ.

سره. زجاج وئیلے دی چه جبار دَ انسانانو په باره کښې سرکش ته وئیلے شی او هغه روایات چه بعض مفسرینو نقل کړے دی دَ هغوی دَ قد په اوږد والی کښې سره دَ قصے دَ عوج بن عنق نه نو ابن کثیر وئیلے دی چه دَ دے دَ ذکر کولو نه حیاء پکار ده او دا رنګ دا خلاف دے دَ حدیث دَ بخاری نه چه په هغې کښې راځی چه دَ آدم علیه السلام قد شپیته ذراعه وؤ او اولاد ئې په دمه دمه دَ هغه نه په قد کښې کمیږی. نو عوج او نور جبارین څه رنګ دَ هغه نه په قد کښې اوچت شول نو معلومه شوه چه دا دروغ قصّے دی. وَإِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَا اه اول ئې سبب ذکر کړو او دا ئې مسبب دے یعنی عدم دَ دخول ئې بنا کړو په عذر باندے معلومه شوه چه دَ قتال نه ئې صریح انکار نه دے کړے.

۲۳ رَجُلٰنِ دوی مشهور دی په یوشع او په کالب سره. يَخَافُوْنَ دَ هغه کسانو دَ جماعت نه وؤ چه دَ جبابره نه ئې یره کوله. یا هغه کسان چه ویره کوی دَ مخالفت کولو دَ امر دَ الله تعالٰی نه. أَنْعَمَ اللّٰهُ عَلَيْهِمَا یعنی دوی دَ نورو ملګرو نه په دے وصف سره جدا وؤ چه الله تعالٰی په دوی باندے خاص انعام کړے وؤ هغه توفیق او صبر او یقین وؤ بعضو وئیلے دی چه مراد دَ دے نه نبوت دے چه دوی ته روستو دَ موسٰی علیه السلام نه ورکړے شوے وؤ. الْبَابَ یعنی دَ دوی دَ ښار یوه دروازه وه نو هغې ته په داخلیدلو

قَالُوْا يٰمُوْسٰۤى اِنَّا لَنْ نَّدْخُلَهَاۤ اَبَدًا

دوی اوئیل اے موسیٰ (علیه السّلام)، مونږ چرے نه داخلیږو د دے (زمکے) ته هر ګز

مَّا دَامُوْا فِيْهَا فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ

څو پورے چه دوی په هغے کښں وی بس لاړ شه ته او رب ستا

فَقَاتِلَاۤ اِنَّا هٰهُنَا قٰعِدُوْنَ ﴿۲۴﴾ قَالَ رَبِّ

نو جنګ اوکړئ دواړه (هغوی سره) یقینًا مونږ به دلته کښں ناست یو - اوئیل (موسیٰ علیه السّلام) اے ربه زما

سره په دوی باندے رعب راځی۔ فَاِنَّكُمْ غٰلِبُوْنَ دا دَ وجے دَ عدم ایمان دَ
مخالفینو نه او په اعتماد دَ نصرت دَ الله تعالیٰ سره وه۔ وَعَلَى اللّٰهِ فَتَوَكَّلُوْٓا اه دا ذکر
دے دَ سبب دَ حصول دَ غلبے یعنی ایمان سرهٔ دَ توکل کولو نه خاص په الله تعالیٰ
باندے۔ اِنْ په معنیٰ دَ اِذْ دے دَ تاکید دَ پاره ئے ان ذکر کړے دے دَ شك
دَ پاره نه دے۔

۲۴ دا ذکر دَ خباثت دَ بنی اسرائیلو دے چه په هغے کښں دَ انکار سره بے عزتی
دَ الله تعالیٰ او دَ موسیٰ علیه السلام هم دوی اوکړله. او بنی اسرائیلو دلته
دَ هغه دوه صالحینو قول باندے عمل پرےنخودلو او په کثرت دَ بل طرف
باندے ئے اعتبار اوکړلو۔ فَاذْهَبْ اَنْتَ وَرَبُّكَ، دا قول دَ دوی په طریقه
دَ بے پرواهئ او دَ توهین دَ رب دے یا دا قول دے پشان دَ مشرِّهو
(قرطبی) نو دوی په سبب دَ دے کافر شول. یا په دیکښں تقدیر دَ عبارت دے
وَلْيُعِنْكَ رَبُّكَ یا وَرَبُّكَ مَعَكَ (یعنی تا سره به ستا رب امداد کوی) یا دَ
رب نه مشر رور مراد دے هارون علیه السّلام بِنا په دے روستنی توجیهاتو
باندے بنی اسرائیل فاسقان شول لکه چه روستو الله تعالیٰ دوی ته فاسقان
وئیلے دی۔ امام بخاری او امام مسلم حدیث دَ مقداد بن عمرو رضی الله
عنه راوړے دے چه نبی صلی الله علیه وسلّم هر کله دَ بدر په ورځ
صحابو ته ترغیب دَ قتال فی سبیل الله ورکړو نو مقداد اوئیل چه
مونږ تا ته هغه خبره نه کوؤ کومه چه بنی اسرائیلو موسیٰ علیه السلام
ته کړے وه "اذهب انت وربك فقاتلا انا ههنا قاعدون" لیکن مونږ
وایو چه ځه لاړ شه چه کوم خوا ځے او مونږ در سره ملګری یو۔ او

إِنِّىْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِىْ وَاَخِىْ فَافْرُقْ

يقينًا څه وس نه لرم مګر دَ ځان خپل او دَ رور خپل پس فيصله اوکه

بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٥﴾ قَالَ

په مينځ زموږ او په مينځ دَ قوم نافرمان کښ . او فرمائيل الله تعالىٰ

فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَيْهِمْ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً

پس يقينًا دا زمکه بنده ده په دوی باندې څلويښت کاله

يَتِيْهُوْنَ فِى الْاَرْضِ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ

حيران به ګرځي په زمکه کښ . پس مه خفه کيږه په قوم

بل روايت کښ دی که ته مونږه دَ برك الغماد مقام ته په سخت سفر سره بوځې نو هم مونږ درسره يو (رضی الله عن جميع اصحابه صلى الله عليه وسلّم).

۲۴ دا دعاءِ شر دَ موسیٰ عليه السّلام ده په دغه قوم باندې او دا بد اثر دے دَ ترك دَ فرض شوی جهاد - اِنِّىْ لَآ اَمْلِكُ اِلَّا نَفْسِىْ (سوال) ملکيت رقبي خو دَ انسان په خپل ځان باندے هم نيشته - ځان خرڅولے نشي، ځان قتل کولے نشي؟ (جواب) مراد دَ دے نه تصرف ظاهری دے - وَاَخِىْ (سوال) انسان خو په رور کښ تصرف نشي کولے؟ (جواب ع۱) مراد دَ دے نه مِلك دَ اطاعت کولو دے يعنی ځما اطاعت نه کوی مګر ځما نفس او رور ځما - (جواب ع۲) دا جمله مستقله ده په تقديردَ عبارت سره يعنی وَاَخِىْ لَا يَمْلِكُ اِلَّا نَفْسَهٗ - اطاعت خو دَ دهٔ هغه دوه ملګرو هم کړے وو يعنی يوشع او کالب؟ (جواب ع۱) په هغوی باندے هم دَ دهٔ مکمل اعتماد نه وو پشان دَ اعتماد کولو په هارون عليه السلام باندے. (جواب ع۲) شر بيني وئيلے دی چه مراد دَ اخى نه معنى عامه ده يعنی مَنْ يُّوَاخِيْنِىْ فِى الدِّيْن - (څوك چه په دين کښ ځما رور والی او موافقت کوی) - فَافْرُقْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ الْقَوْمِ الْفَاسِقِيْنَ فرق په معنی دَ فيصلے کولو او حکم کولو دے مناسب دَ هريو سره - يا مراد دَ دے نه جدائي دَ دوۀ دَ جماعت

الْفٰسِقِيْنَ ﴿٢٦﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ ابْنَيْ اٰدَمَ

نافرمان باندے۔ او بیان کړه په دوی باندے خبرد دوو ځامنو د آدم (علیه السلام)

دَ هغوی نه او لرے والے دَ هغوی دَ ګناه او دَ عذاب دَ شرکت نه. یا مراد
دَ دے نه جدا والے دے په آخرت کښ۔

سے۲۶ دا اجابت دَ دُعا دَ موسٰی علیه السلام دے او ذکر دَ عذابِ دنیوی دے په هغه قوم باندے۔ مُحَرَّمَةٌ اکثر مفسرینو وئیلے دی چه دا تحریم منعی وؤ (یعنی په معنی لغوی سره) الله تعالٰی دوی لره منع کړل دوی قدرت نه لرلو دَ هغے نه دَ وتلو الله تعالٰی داسے نا اشنا اسباب پیدا کړل چه دوی دَ هغے نه بهر نشو وتلے۔ او ابو علی وئیلے دی چه تحریم تعبدی شرعی وو یعنی دوی شرعًا منع کړے شول زمکے مقدسے ته دَ داخلیدلو نه۔ لیکن اول قول غوره دے۔ اَرْبَعِيْنَ سَنَةً په عامل دَ اربعین کښ دوه قوله دی اول دا متعلق دے په محرمة پورے یعنی تحریم موقت وؤ نو دَ خلوینبت نه روستو دوی په هغه ملك باندے په زمانه دَ یوشع علیه السلام کښ الله تعالٰی غالب کړل. یا متعلق دے په یتیهون (مؤخر) پورے بیا تحریم ابدی مراد شو خو دَ دوی عمرونه الله تعالٰی خلوینبت کالو نه سره دَ پریشانتیا نه اوګرځول او دَ خلوینبت کالو نه روستو دغه بنی اسرائیل ختم شول او دَ دوی اولاد باقی پاتے شول او هغوی جهاد اوکړو دَ جبابرو سره په ملګرتیا دَ یوشع علیه السلام کښ او غالب شول۔

(فائده) موسٰی او هارون علیهما السّلام په دغه زمکه کښ دَ دوی سره اوسیدل یعنی دَ هغوی اوسیدل په طریقه دَ عذاب سره نه وؤ لکه ملائک دَ نارِ جهنم. بے شک دی دَ جهنم نه او حال دا چه دَ جهنم خوکیدار دی. بیا دواړه (موسٰی او هارون علیهما السّلام) په دغه ملک کښ وفات شو او دَ هغوی نه روستو الله تعالٰی نبوت ورکړو یوشع علیه السلام لره۔

يَتِيْهُوْنَ دَ تیه نه ماخوذ دے حیرانتیا او پریشانئ ته وئیلے شی او دا عذاب وؤ په سبب دَ ترک دَ جهاد سره نو اوس هم ترک دَ جهاد دَ زوند دَ پریشانئ سبب دے او دَ دے وجے نه هغه ملک مشهور شویدے په میدان تیه سره۔ فَلَا تَاْسَ عَلَى الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ دا تسلّی ده دَ

وقف لازم

بِالْحَقِّ ۘ اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ

په رشتیا۔ کله چه قربانی اوکړه دواړو قربانی جدا جدا نو قبوله کړے شوه دَ

اَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْاٰخَرِ ؕ

یوکس دَ دے دواړو نه (چه هابیل وو) او قبوله نه شوه دَ بل کس نه (قابیل نه)۔

قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ ؕ قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللّٰهُ

اوئیل (قابیل) خامخا قتل کووم به تا لره۔ اوئیل (هابیل) یقینًا قبلوی الله تعالیٰ (عملونه)

نصف

مِنَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٢٧﴾ لَئِنْ بَسَطْتَّ اِلَيَّ يَدَكَ

دَ اخلاص کوونکو نه۔ که ته اوږده کړے ماته لاسونه خپل

الله تعالیٰ موسیٰ علیه السلام ته۔ اَسَی وئیلے شی غم او افسوس دَ همدردئ دَ وجے نه نو دَ فاسقانو او دَ کافرانو په عذابونو او مصیبتونو باندے دَ هغوی سره غم خوری او همدردی کول حرام دی او دا سے په دے سورة ۶٨ اوسورة اعراف ٩٣ کښ هم دی۔

٢٧ دَ دے قصے ربط دَ مخکښ سره په څو وجوهو سره دے اول دا چه مخکښ ترک دَ قتال دَ کافرانو سبب دَ پریشانئ وو نو په دے واقعه کښ ناحق قتل کول دَ زور مؤمن سبب دَ بے عقلئ او دَ پریشانئ ګرځولے شوے دے۔ دویم دا چه مخکښ هم خباثات دَ بنی اسرائیلو ذکر شول نو په دے قصه کښ ذکر کوی چه په دوی کښ حسد او قتل وقتال دے په کورنئ کښ او دا میراث دَ قابیل دے نو دَ دوی نور خبائث ئے ذکر کړیدی قتل ناحق، اسراف، محاربه دَ الله او رسول سره، اوسعی (کوشش) دَ فساد فی الارض سره او دا ټول دَ حسد نه پیدا شویدی۔ دریم دا چه مخکښ دَ دوی بے لوظی په ترک دَ جهاد سره ذکر کړه او ورسره دَ هغے عذاب ذکر شو چه ذلت دے نو په دے قصه کښ بے لوظی دَ قابیل ذکر کوی په سبب دَ حسد کولو او تقویٰ پرےښودلو او قتل کول دَ زور په ناحقه سره چه دا سبب شو دَ پاره دَ عقل دَ زوال پښان دَ عذاب او دَ پاره دَ ندامت (حیرانتیا پریشانی)

وَاتْلُ عَلَيْهِمْ ضمیر بنی اسرائیلو ته راجع دے یا موجوده امت ته راجع دے۔

ابنیٰ ادمَ صحیح قول دا دے چه دا دَ آدم علیه السلام او حواء علیهما السّلام صلبی ځامن ووُ او خوک وائی چه دوی په بنی اسرائیلو کښ ووُ - ابن کثیر او قرطبی او آلوسی دویم قول ضعیف ګنړلے دے - او دَ دوی نومونه ووُ هابیل او قابیل - اِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا ابن کثیر وئیلی دی ظاهر دَ قرآن دا دے چه سبب دَ قربانئ کولو امر دَ الله تعالیٰ ووُ بل هیڅ سبب نه ووُ او اشاره ده چه قربانی کول زوړ سنت دے او چاچه وئیلی دی چه سبب دَ دے واقعے دَ نکاح کولو ووچه قابیل خپله خور هابیل له نه ورکوله او حال دا دے چه په هغه وخت کښ داسے نکاح کول جائز ووُ نو دوی ته امر اوشو دَ قربانئ کولو نو دا اسرائیلی روایت دے نه ئے تصدیق کوؤ او نه تکذیب.
قُرْبَان هر هغه څیز چه په هغے سره تقرب الی الله حاصلیږی او اکثر استعمال ئے په صدقه مالی کښ کیږی که ذبح کول وی په نوم دَ الله تعالیٰ یا یو جنس (غنم وریشے وغیره) په صدقه کښ ورکول وی او قربانی دَ هابیل کښ ذبح کول ووُ او دَ قابیل څه ردی (بے کاره) دانے صدقه کښ ورکول ووُ - فَتُقُبِّلَ مِنْ اَحَدِهِمَا طریقه دَ قبولیت په هغه وخت کښ داسے وه چه اور به دَ آسمان نه نازل شو نو چه کوم په ئے اوسیزلو هغه به قبول ووُ او دیته اشاره شویده په سورة آل العمران ۱۸۳ کښ - نو قبولیت اوشو دَ قربانئ دَ هابیل او دَ قابیل قبوله نه شوه او روستو لفظ دَ متقین دلالت کوی چه دَ عدم تقوٰی (اخلاص) دَ وجے نه دَ قابیل قربانی قبوله نه شوه او دا شرط دَ قبولیت په سورة حج ۳۷ کښ ذکر دے - قَالَ لَاَقْتُلَنَّكَ دا قول دَ حسد دَ وجے نه دے یعنی قبولیت دَ قربانئ دلیل شو په فضلیت دَ هابیل باندے نو دَ دے وجے نه قابیل حسد شورو کړو - دَ بعض اهلِ علم نه نقل دے چه اول ګناه دَ حسد په آسمانو نو کښ ابلیس کړے دے دَ آدم علیه السلام سره او اول ګناه دَ حسد په زمکه کښ قابیل کړے دے دَ خپل رور سره - بیا مرض دَ حسد ډیر پیدا شویدے په بنی اسرائیلو کښ او دَ دے امت نه په دمه دمه منتقل شویدے داسے په حدیث کښ راغلے دی -
قَالَ اِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللهُ مِنَ الْمُتَّقِيْنَ دا مختصر جواب دے تفصیل ئے داسے دے چه قبولیت خو په تقوٰی باندے بِنا دے او په تاکښ تقوٰی نه وه نو دا نقصان ستا دَ نفس دَ طرف نه دے ځما خو په دے کښ

لِتَقْتُلَنِیْ مَآ اَنَا بِبَاسِطٍ یَّدِیَ اِلَیْكَ

دے دَپارہ چه ماؤژنې، خو نه یم زه او بړدوونکے لاس خپل تا ته

لِاَقْتُلَكَ ۚ اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۲۸﴾

دے دَپاره چه قتل کړم تا، یقیناً زه یریږم دَ الله تعالیٰ نه چه پالونکے دَ خلقو دے۔

هیڅ دخل نیشته. الْمُتَّقِیْنَ نه مراد مؤحدین او متبعین سنت دی سرهٔ دَ اخلاص نه او اِنَّمَا په حصر باندے دلالت کوی یعنی عدم تقویٰ مستلزم دے عدم قبولیت لره او ملا علی قاری په شرح دَ مشکوٰة کښ وئیلی دی چه دا یوه جمله (قضیه) ده او بله جمله په حدیث کښ ده چه "لا یقبل الله لِصَاحِبِ بِدْعَةٍ صَوْمًا وَلَا صَلٰوةً" الحدیث (ابن ماجه) نو دَ دواړو جملو دَ پیوستوالی نه معلومه شوه چه بدعتی متقی نه دے۔

۲۸ دا قول دَ هابیل دَ طرف نه دے. بَسْط دَید (اوږدول دَ لاس) کنایه ده دَ ارادے دَ ښکاره کولو دَ قتل نه. لِاَقْتُلَكَ اشاره ده چه زه اراده ستا دَ قتل نه کوؤم دا ئے نه دی وئیلی چه مدافعت به نه کوؤم مدافعت کول خو واجب دی او زمونږ په اُمت کښ دغسے حکم دے په وخت دَ فتنه کښ او دَ جنګونو دَ مسلمانانو کښ چه خپل مدافعت به کوئ او قرطبی حدیث دَ ابوداؤد ذکر کړیدے دَ سعد رضی الله عنه چه په وخت دَ فتنه دَ مسلمانانو کښ څوک زما کور ته داخل شی او لاس اوږد کړی زما دَ قتل دَپاره (نو څه به کوؤم) رسول الله صلی الله علیه وسلم جواب ورکړو "کُنْ کَخَیْرِ ابْنَیْ اٰدَمَ" او دا ایت ئے اولوستلو. اِنِّیْٓ اَخَافُ اللّٰهَ رَبَّ الْعٰلَمِیْنَ یعنی اراده دَ قتل دَ بل مسلمان مخالفت دے دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه چه دَ الله نه خوف ضروری دے چه داسے کار او نشی. نو لفظ دَ لاقتلك او حدیث دَ ابوداؤد او لفظ دَ اِنِّیْٓ اَخَافُ اه دلیلونه دی چه هابیل بزدلی نه ده کړے او خاموش هم ناست نه دے بلکه خازن او نسفی وغیره ټولو لیکلی دی چه هابیل په طاقت کښ دَ قابیل نه زیات وو لیکن ځان ئے دَ ګناه نه بچ کوؤ نو هغه خبره چه بعضے استاذانو په دے مقام کښ لیکلی ده چه په دے قصه کښ اشاره ده چه دَ هابیل پشان کار مه کوئ خاموش مه کینئ دا قول دَ مخکنو دلیلونو په وجه سره باطل دے (عفا الله تعالیٰ عنه)۔

إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ فَتَكُونَ

يقيناً زه اراده لرم (چه دَ ګناه نه ځان بچ کړم) نو ته به اخته شے په ګناه (دَ قتل) زما او په (زوړ) ګناه ستا نو شے به ته

مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِۚ وَذَٰلِكَ جَزَٰٓؤُاْ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٢٩﴾

دَ اور والو نه او دا (اور) سزا دَ ظالمانو ده.

فَطَوَّعَتۡ لَهُۥ نَفۡسُهُۥ قَتۡلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُۥ

نو خائسته کړو هغه ته نفس دَ هغه وژل دَ رور خپل نو قتل ئے کړو هغه

س۲۹ دا قول دَ هابیل تخویف ورکول دی قابیل ته دَ قتلِ ناحق نه. إِنِّيٓ أُرِيدُ أَن تَبُوٓأَ اه (سوال) دا اراده کول چه فلانے شخص دِ ګناهګار شی او جهنم ته دِ لاړشی جائز نه ده دے ته غش وئیلے شی او غش خو حرام دے؟

(جواب ۱) یعنی زه خو ستا مدافعت حتی الوسع کووم او ستا دَ قتل اراده خو نه لرم نو په داسے حال کښ چه ته ما لره قتل کړے نو ګناه به تا یا ندے انبار شی نو تقدیر دَ عبارت دادے إِنِّيٓ أُرِيدُ مُدَافَعَتَكَ لَا قَتۡلَكَ فَإِذَا قَتَلۡتَنِي فَتَبُوٓءُ بِإِثۡمِي اه (زه خو ستا دَ دفع کولو اراده لرم نه دَ قتل کولو نو ته که ما لره قتل کړے نو اخته به شے په ګناه دَ قتل زما، او خازن وئیلے دی انسان چه تمنی اوکړی چه زما دَ وینے ګناه دے په قاتل باندے راشی نو دے په دے کښ ملامته نه دے. (جواب ۲) زمخشری وئیلے دی چه دیته ئے اراده مجازاً وئیلے ده. (جواب ۳) سمعانی وئیلے دی مراد دَ دے نه عِقاب إِثۡمِي اه دے. بِإِثۡمِي وَإِثۡمِكَ (سوال دَ اول لفظ نه ظاهراً معلومیږی چه ګناه دَ هابیل به په قابیل باندے راځی او دا خو دَ دے ایت نه خلاف ده چه لَا تَزِرُ وَازِرَةٞ وِزۡرَ أُخۡرَىٰ؟ (جواب) دَ اثمی نه مراد ګناه دَ قتل کولو دَ قابیل دے هابیل لره او دا عمل خو دَ قابیل دے. وَإِثۡمِكَ دَ دے نه مراد دَ قابیل نور ګناهونه دی تقوی نه کول، حسد کول دَ رور سره، دَ پلار نه خلاف کول وغیره. ابن جریر وئیلے دی چه دَ مجاهد نه دا روایت چه نقل دے چه دَ اثمی نه ګناهونه دَ هابیل مراد دی نو دا غلط معلومیږی. مِنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلنَّارِ دا لفظ اکثر دَ کافرانو باره کښ استعمالیږی دَ دے وجے نه بعضِ مفسرینو تصریح کړے ده چه

فَأَصْبَحَ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۳۰﴾ فَبَعَثَ اللّٰهُ

نو شو دے دَ تاوان والو نه ۔ نو راولیږو الله تعالیٰ

غُرَابًا يَّبْحَثُ فِي الْاَرْضِ لِيُرِيَهٗ كَيْفَ

یو کارغه کنستل یې کول په زمکه کښې دے د پاره چه او ښائی دهٔ ته چه څه رنګه

يُوَارِيْ سَوْءَةَ اَخِيْهِ ؕ قَالَ يٰوَيْلَتٰٓى اَعَجَزْتُ

پټ کړی وجود (لاش) دَ رور خپل ۔ اوئیل دهٔ ! هائے ارمان دے آیا عاجز شوم څهٔ دیته

اَنْ اَكُوْنَ مِثْلَ هٰذَا الْغُرَابِ فَاُوَارِيَ

چه شم دے پشان دَ دے کارغه چه پټ کړم

سَوْءَةَ اَخِيْ ۚ فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ ﴿۳۱﴾

وجود (لاش) دَ رور خپل نو شو دے دَ حیرانو (پښیمانو) نه ۔

وقف النبي صلى الله عليه وسلم

قابیل کافر وؤ لیکن قرطبی دَ هغې رد کړے دے او اصحاب النار دَ قاتِل په باره کښې استعمالیږی اشاره ده چه په جهنم کښې یه دے ډیره موده پورے اوسیږی۔ نتـ۳۰ اشاره ده چه دَ هابیل وعظ قابیل ته فائده ورنکړله۔ فَطَوَّعَتْ لَهٗ په معنیٰ دَ تشجیع او خائسته کول او اسانولو سره دے۔ نَفْسُهٗ اشاره ده چه دا سے نفس امّاره بالسوء وی۔ اَلْخٰسِرِيْنَ خسران په دنیا کښې دا دے چه مور او پلار ترینه خفه شول او بے روره پاتے شو او خسران اخروی دا دے چه الله تعالیٰ یې ناراض کړو او ظالم شو او اور ورله واجب شو او دا رنګ دَ صریح او صحیح حدیث په بِنا هر قتل ناحق چه په دُنیا کښې واقع کیږی نو دَ هغې نه دَ ګناه څه حِصّه په قابیل باندے بارکیږی ځکه چه دهٔ اول دَ قتلِ ناحق بنیاد کیخودلے دے نو دا هم لوئے خسران دے۔ (او دا روایت بخاری مسلم او نورو محدثینو ذکر کړے دے۔)

نتـ۳۱ دا ذکر دَ یو اثر دے دَ اثارو دَ خسران نه یعنی پوهه دَ قابیل دومره کمه شوه چه تعلیم کښې غراب ته محتاج شو۔ ظاهر دَ ایت دا دے چه یو کارغه وؤ او زمکه یې اوکنستله او خپل څه خوراک یې پکښې پټ کړو نو قابیل هغه اولیدلو او هغه نه یې عبرت واخستلو نو دهٔ هم هابیل دَ پاره قبر اوکنستلو او هغه یې

مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ ۛۚ كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ

دَ وجې دَ دې واقعې نه ، فرض کړو مونږ په بنی اسرائیلو

اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًاۢ بِغَيْرِ نَفْسٍ اَوْ فَسَادٍ

چه یقینًا چا چه قتل کړو یو تن بغیر دَ بدل دَ یو تن نه یا بغیر دَ خه وراني نه

فِي الْاَرْضِ فَكَاَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

په زمکه کښې نو ګویا که قتل کړل دهٔ خلق ټول.

وَمَنْ اَحْيَاهَا فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ جَمِيْعًا ؕ

او چا چه بچ اوساتو یو تن لره نو ګویا که چه بچ یې اوساتل خلق ټول.

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ رُسُلُنَا بِالْبَيِّنٰتِ ز ثُمَّ

او یقینًا راغلي وو دوی ته رسولان زمونږ په ښکاره حکمونو سره بیا

یکښې نخ کړو او دا یو سنتِ مستمره دے په انسانانو کښې او دا اول مړے وو په انسانانو کښې دَ دے وجې قابیل ته علم نه وو چه دهٔ سره څه چل اوکړي. لِيُرِيَهٗ كَيْفَ اه لام متعلق دے په فَبَعَثَ پورے. سَوْءَةَ اَخِيْهِ دَ بدن هغه حصه چه دَ هغې په ښکاره کیدلو بدا ګڼړلے کیدیشي نو دَ ژوندې عورت ته سوءت او دَ مړي ټول بدن ته سوءت یعنی لاش وئیلے کیږي. يٰوَيْلَتٰٓى په اصل کښې یاویلتِي په زیر دَ تاء سره دے نو په حال دَ ندا کښې په تاء باندے زور راغې او دا کلمه عرب په وخت دَ دُعا دَ هلاکت کښې ذکر کوي او دَ افسوس دَ پاره هم استعمالیږي. اَعَجَزْتُ اه استفهام تقریری دے او تمنّٰی یې اوکړله دَ مشابهت دَ کارغه سره دا هم ډیره بے وقوفئ باندے دلیل دے.

فَاَصْبَحَ مِنَ النّٰدِمِيْنَ سوال: ندامت خو توبه ده لکه چه په حدیث کښې وارد دی "اَلنَّدَامَةُ تَوْبَةٌ"؟ جواب: دا ندامت په ګرځولو دَ هابیل دَ لاش سره دے په خپله غاړه باندے مخکښې دَ دفن نه. یا ندامت دَ یې په کموالی دَ فائدے دَ قتل او زیات والی دَ نقصان دَ هغې، صرف په قتل کولو یې ندامت نه دے کړے. دا سے هم وئیلے شوے دی چه ندامت په هغه زمانه کښې توبه نه وه. او مدارک وئیلي دی چه نادمین په معنی دَ متحیرین دے. بعضِ

إِنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم بَعْدَ ذَٰلِكَ فِي الْأَرْضِ لَمُسْرِفُونَ ﴿٣٢﴾

یقیناً ډیر د دوی نه روستو د دے نه په زمکه کښې زیاتے کوونکی (د حد نه تیریدونکی) دی.

مفسرینو دلته د آدم علیه السلام شعرونه په مرثیه د هابیل کښې ذکر کړیدی لیکن زمخشری وئیلے دی چه هغه خالص دروغ دی او امام رازی هم د زمخشری تصدیق کړے دے.

۳۲ په دے کښې انتقال د بحث دے د واقعے د قابیل نه ذکر د خبائثو د بنی اسرائیلو ته. مِنْ اَجْلِ ذٰلِكَ قرطبی وئیلے دی چه اجل په معنی د جنایت او د جرم سره دے او ذٰلك اشاره ده قابیل ته یا اجل په معنی مشهوره سره دے او ذٰلك اشاره ده هغه مفاسدو ته چه پیدا شویدی د قتلِ عمد نه یعنی دغه جرم چه مستلزم دے ډیرو مفاسدو لره سبب دے د پاره د مشروعیت د قصاص او د تشدید په باره د قتلِ عمد کښې په ټولو روستنو دینونو کښې او بالخصوص په بنی اسرائیلو کښې.

كَتَبْنَا عَلٰى بَنِيٓ اِسْرَآءِيْلَ تخصیص د دوی د دے وجے نه دے چه اول غټ اسمانی کتاب (تورات) په دوی باندے نازل شوے وُو د دوی نه وړاندے خو دا مسئله په طریقه د وحی سره وه لیکن کتابی صورت ئے نه وُو. او بله وجه دا چه بنی اسرائیلو کښې قسوة قلب (سختوالے د زړونو) ډیر وُو د حسد د وجے نه په هغوی کښې قتل و قتال او نور مفاسد ډیر پیدا وُو. اَنَّهٗ مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ اه په طریقه د اشارة النص سره معلومه ده چه قتل د نفس په قصاص سره او په زنا کولو روستو د وادهٔ نه او ارتداد او قطع الطریق سره ضروری دے او د دے نه چه علاوه وی نو هغے ته قتل ظلماً او بغیر حق وئیلے شی نو د هغے خباثت او شدت ذکر کبری په عبارة النص کښې. اَوْ فَسَادٍ فِي الْاَرْضِ مراد د دے نه هغه معاصی دی چه شرعاً سبب دے د پاره د قتل کولو چه په حدیث د بخاری او مسلم کښې راغلے دی "لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ اِلَّا بِاِحْدٰى ثَلٰثٍ، كُفْرٍ بَعْدَ اِيْمَانٍ اَوْ زِنًا بَعْدَ اِحْصَانٍ اَوْ قَتْلِ نَفْسٍ بِغَيْرِ نَفْسٍ" (حلال نه دے وینه د مسلمان شخص مګر په یو د درے خصلتونو سره، کفر کول[۱] روستو د ایمان نه یا زنا کول[۲] روستو د واده کولو نه یا وژل د یو نفس په غیر[۳] د بدل نه).

إِنَّمَا جَزٰٓؤُا الَّذِيْنَ يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

یقینًا سزا دَ هغه کسانو چه جنگ کوی دَ الله تعالیٰ سره او دَ رسول دَ هغه سره

وَيَسْعَوْنَ فِي الْاَرْضِ فَسَادًا اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا

او کوشش کوی په زمکه (ملک) کښی دَ وراني کولو داده چه قتل دِ کړېشی دوی

فَكَاَنَّمَآ اَحْيَا النَّاسَ سوال: عقوبت دَ هغه چا چه ډیر قتلونه اوکړی زیات دے دَ قتل دَ یو نفس نه نو دا تشبیه څنګه صحیح کیږی؟

جواب (۱) دا تشبیه په عقوبت کښی نه ده هتكِ حرمت کښی ده او په فساد پیدا کیدلو کښی ده دَ دے مثال دادے چه دوه کسان قسم اوکړی چه دَ دے اونے نه به میوه نه خورم نو یو تن ترینه یوه دانه اوخوړله او بل ترینه ټولے اوخوړلے نو په ماتولو دَ قسم کښی دواړه برابر دی. دا سے ابن عطیه او قرطبی وئیلے دی۔

جواب (۲) دلته خاص نفس مراد دے لکه نبی دَ الله تعالیٰ یا امام عادل دَ هغه قتل یا پټ کول مشابه دے دَ قتل او پټ کولو دَ ټولو انسانانو سره په عقوبت او ګناه کښی (ابن جریر۔ قرطبی)۔

وَمَنْ اَحْيَاهَا مراد دَ احیاء مقابل دَ قتل دے مقابل دَ موت نه دے او مقابل دَ قتل دا دے چه یو نفس لره دَ هلاکت دَ ځائے نه او دَ غرق یا سوزیدلو یا دَ قاتل دَ لاس نه بچ کړی او دیته معنوی حیات وئیلے شی لکه په سورة انفال ۲۴ کښ نو اشارةً معلومه شوه چه په قتل کښی مرتد کول دَ انسان او په ژوندی کولو کښی مسلمان کول هم داخل دی۔

وَلَقَدْ جَآءَتْهُمْ اشاره ده چه دَ دغه حکم دَ جاری ساتلو دَ پاره په بنی اسرائیلو کښی ډیر رسولان الله تعالیٰ رالیږلے دی دَ پاره دَ دے چه دَ دوی بهانه پاتے نشی۔

لَمُسْرِفُوْنَ اسراف تجاوز کول دی دَ حد نه په حقوق الله کښی لکه شرك او کفر او بدعات کول او په حقوق دَ بندګانو کښی ظلم او قتل په ناحق وغیره او دا ټول اسباب دَ عذاب دی۔

أَوْ يُصَلَّبُوْٓا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيْهِمْ وَأَرْجُلُهُمْ

یا په سولئ کړیشي یا پرے کړیشي لاسونه د دوی او خپے د دوی

مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ۚ ذٰلِكَ

ادل بدل یا دے اوشړلے شي د ملک نه ۔ دا (سزاګانے)

لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

دوی لره شرمندګي ده په دنیا کښ او دوی لره په اٰخرت کښ

عَذَابٌ عَظِيْمٌ ﴿٣٣﴾ إِلَّا الَّذِيْنَ تَابُوْا مِنْ قَبْلِ

عذاب لوئے دے، مګر هغه کسان چه توبه یُے ویستله مخکښ

۳۳ دا ذکر د بعض قسمونو د اسراف دے چه هغه سبب د سزا دے په دنیا او اٰخرت کښ. او دا احباثات په بنی اسرائیلو کښ روستو د تورات نه موجود شوے وُو د دے اٰیت په باره کښ اختلاف دے د مفسرینو چا وئیلے دی چه دا نازل شوے دے په باره د عکل او عرینینو کښ چه هغوی مرتد شوے وُو او اوښان یُے تختولے وُو او شوکیدار د اوښانو یُے په ناکاره قتل سره وژلے وُو او هغه بخاری مسلم روایت کړے دے او چا وئیلے دی چه نازل شوے دے په باره د اهل کتابو کښ دا ابن جریر قرطبی د ابن عباس او ضحاك نه نقل کړے دے او ابو داؤد او نسائي روایت کړے دے چه دا د مشرکینو په باره کښ نازل شویدے لیکن صحیح دا ده (ابن کثیر وئیلے دی) چه دا اٰیت عام دے مشرکانو وغیره ټولو ته چه په چا کښ دا صفتونه پیدا شي اګرچه مسلمان وی ځکه چه علماؤ د دے اٰیت نه د لاره شوکولو (داکوزني) د سزا د باره استدلال نیولے دے اګرچه مرتد شوے نه وی۔
يُحَارِبُوْنَ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ مخالفت کوی د الله تعالٰی او د رسول د هغه نه برابره خبره ده که په طریقه د کفر او ارتداد سره وی یا نه وی. بعضو مفسرینو وئیلے دی چه دلته مضاف پټ مراد دے یعنی اولیاء الله و رسوله مقصد یُے یو شان دے. وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا په لارے شوکولو سره د خلقو په قتل کولو یا په یره ولو سره او په مالونو اخستلو سره۔

اَنْ تَقْدِرُوْا عَلَيْهِمْ ۚ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

دَ دینه چه وس پرشی ستاسو په هغوی باندے نو پوهه شئ ‏ یقینًا ‏ الله تعالیٰ ‏ بخونکے دے

رَّحِيْمٌ ﴿۳۴﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ ٥ ع ٨ ٩

رحم کوونکے دے۔ ‏ اے ایمان والو! ‏ یرهٔ کوئ ‏ دَ الله تعالیٰ نه

اَنْ يُّقَتَّلُوْٓا اه په دے کښ اختلاف دَ اقوالو دَ سلفو دے یو قول دا چه او
دپاره دَ تخییر (اختیار) دے دَ قاضی یا امیرالمؤمنین خوښه ده که په سزاگانو کښ
هر یوه سزا ورکوی۔ دویم قول دا دے چه اَو دَ پاره دَ تنویع (قسم) دے دَ ابن
عباس رضی الله عنهما نه روایت دے چه که دوی صِرف قتل دَ مسلمان
کړے وی نو سزا ئے صِرف قتل دے او که قتل ئے کړے وی او ورسره ئے
مال ترینه اخستلے وی نو سزا ئے قتل او پهانسی کول دواړه دی او که صرف
مال ئے اخستلے وی او قتل ئے نه وی کړے نو سزا ئے دا ده چه خے لاس
او ګسه خپه دِ ترینه پریکړے شی او که مسلمانانو ئے صرف یره ولے وی
ډرے ئے ورباندے کړے وی یا ئے وهلے وی نو سزا ئے جیل ته اچول
یا دَ ملک نه جلاوطن کول دی۔ اَوْ يُنْفَوْا مِنَ الْاَرْضِ سمعانی دَ عمر بن
عبدالعزیز نه نقل کړے دے چه دَ ټولو اسلامی بلادو نو نه به اوشړلے
شی او دَ اهل کوفه نه نقل دے چه جیل کښ دے بند کړیشی او ابن جریر
دا غوره کړے ده په دے شرط چه په بل کلی کښ به جیل ته اچولے شی۔
ذٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ اه هر کله چه په قطع الطریق سره تجارتونه بند شی
سفر کول دَ طاعتونو او عباداتو دَپاره هم بند شی دَ دے وجے نه الله تعالیٰ دَ دے
دَپاره سخته سزا مقرر کړه۔ او په تیر شوے سزاگانو کښ په هر یو کښ
تذلیل او توهین او شرمندګی ده په دنیا کښ۔ وَلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ عَذَابٌ
عَظِيْمٌ دَ دے نه استدلال دے دَ هغه چا چه وائی چه په عقوبتِ دنیویه سره
سزا دَ اٰخرت نه معاف کیږی۔ او مقابل قول والا وائی چه دا په باره دَ
کافرانو کښ دے لیکن صحیح دا ده چه اٰیت عام دے۔
۳۴ که اٰیت په باره دَ کافرانو کښ وی نو دا حکم خو ظاهر دے چه په توبه
کولو سره دَ شرک او کفر نه ټول ګناهونه معاف کیږی او چه اٰیت په
باره دَ مسلمان کښ شی نو دَ اکثر اهلِ علم مسلک دا دے چه په دے

وَابْتَغُوْٓا اِلَيْهِ الْوَسِيْلَةَ وَجَاهِدُوْا فِيْ سَبِيْلِهٖ

او لټوئ خاص الله تعالیٰ ته نیږدے والے او کوشش (جهاد) کوئ په لار د الله تعالیٰ کښ

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۳۵﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

دے د پاره چه تاسو کامیاب شئ. یقیناً هغه کسان چه کفر ئے کړے دے

توبه سره حقوق الله معاف شول او قصاص او حقوق العباد نه معاف کیږی کله چه مخکښ د قدرت موندلو نه په دوئ باندے توبه اوباسی. او روستو د قدرت موندلو نه (یعنی رانیولو نه) توبه اوباسی نو حدود الٰهیه ورته هم نه معاف کیږی لکه چه حقوق العباد هم ورته معاف نه دی او دا قول راجح دے.

۳۵ ربط د دے ایت د مخکښ سره دا دے چه مخکښ ایاتونو کښ خبائث د بنی اسرائیلو قولی او عملی ذکر شول نو اوس مؤمنانو ته په تقویٰ سره خطاب کوی مراد د تقویٰ نه دا دے چه دغه خبائث چه ذکر شول د هغے نه ځان بچ ساتئ. دویم ربط دا دے (نیشاپوری وئیلے دی) چه دا متعلق دے د ۱۸ سره یعنی یهود او نصاریٰ د تقرب الی الله او د نجات د پاره فخر کوی په اباؤ خپلو او د هغوی په عملونو باندے نو الله تعالیٰ مؤمنانو ته فرمائی چه تاسو په خپلو عملونو صالحو سره الله تعالیٰ ته تقرب حاصل کړئ په ذواتو د مشرانو او په عملونو د هغوی باندے توسل او تقرب نه حاصلیږی. اتَّقُوا اللّٰهَ احکام شرعیه دوه قسمه دی یو منهیات د هغے نه ځان بچ کول پکار دی دویم مامورات چه د هغے امتثال او عمل کول پکار دی دا رنګ د احکام شرعیه دوه حالته دی یو بخپله عمل کول دویم نورو خلقو ته دعوت کول. نو ترک د منهیات ته اشاره ده په اتقوا الله کښ او دا معنی ابن کثیر او خازن وغیره ذکر کړے ده او عمل په ماموراتو ته اشاره ده په وابتغوا الیه الوسیلة سره او دعوت او جهاد ته اشاره ده په جاهدوا فی سبیله سره او دا ارکان د فلاح په سورة العصر کښ په بل تعبیر سره ذکر دی.

د وسیلے د مسئلے تفصیل:- دا مشتمل دے په شپږ بحثونو باندے (اول بحث په معنی لغوی او معنیٰ اصطلاحی کښ) صاحب قاموس او د هغے په

شرح کښ لیکلي دي چه وسیله او داسے منزله په نیزد باد شاه درجے، قربة، وصلة ته وئیلے شي. جوهري په صحاح کښ وئیلي دي وسیله ما یتقرب به الی الغیر (هغه څیز چه په هغے سره بل څیز ته نزدیکت کیږي). او ابن کثیر وئیلي دي چه "ما یُتَوَصَّلُ بِهٖ إِلٰی تَحْصِیْلِ الْمَقْصُوْدِ" (چه په هغے سره مقصد ته رسیدل کیږي) تفسیر خازن کښ وئیلي دي چه وسیلةٌ وزن د فعیلةٌ دے د وَسَلَ نه په معنیٰ د تقرّب اِلَیه دے او داسے شاعر وئیلي دي اِنَّ الرِّجَالَ لَهُمْ اِلَیْكَ وَسِیْلَةٌ یعني قربةٌ او آلوسي وئیلي دي چه وسیلةٌ وزن د فعیلةٌ دے په معنیٰ د "ما یتوسل به ویتقرب به الی الله مِن فعل الطاعات وترك المعاصي" (هغه شے چه په هغے سره نزدیکت حاصلیږي الله ته یعني کول د نیکو کارونو او غلط کارونه پریخودل) او ابن کثیر د ابن عباس رض او مجاهد د ابو وائل او حسن بصري او قتاده او عبد الله بن کثیر او سدّي او ابن زید نه نقل کړیدي چه وسیله په معنیٰ د قربت سره دے او بیا یې وئیلي دي چه په دے معنیٰ کښ د مفسرینو خلاف نیشته دے. او ابن جریر د دغه ټولو سندونه ذکر کړیدي او د ابن زید نه یې معنیٰ د وسیله محبت نقل کړیدے. او امام راغب په مفردات القران کښ وئیلي دي چه وسیله وئیلے کیږي "التوصل الی الشّيء برغبته" (رسیدل یو څیز ته په مینه سره) او ابن منظور په لسان العرب کښ وئیلي دي وسیلة منزله، درجه، قربت، وصلة، واسل (رغبت کوونکے) په یو شعر کښ دي اَلَا کُلُّ ذی رایءٍ اِلَی اللّٰهِ واسِلٌ.

او **وسیله** په اصطلاح د شریعت کښ امام راغب وئیلي دي چه مُرَاعَاةُ سَبِیْلِهٖ بالعلم والعبادة وتحرّي مکارِمِ الشّریعة (مفردات) (لحاظ کول د لارے د الله تعالیٰ په علم او عبادت سره او کوشش کول په ښه کارونو د شریعت کښ) او رفاعي وئیلي دي وسیله په شرع کښ الله تعالیٰ ته نزدیکت دے په طاعت او عبادت د هغهٔ او په اتباع د رسولانو د هغهٔ او په هر عمل چه محبوب وي الله تعالیٰ ته (التوصل ص۱۲)

دویم بحث: توسل او د هغے سره متقارب (نزدے) الفاظ. ۱ استغاثه طلب د غوث ته وئیلے شي او غوث ازاله د سختئ ته وائي. ۲ استنصار:- طلب د نصرت ته وئیلے شي. نو استغاثه او استنصار د مخلوق نه په هغه څیزونو کښ چه په قدرت د مخلوق کښ وي هغه بغیر د خلاف نه جائز دے یعني اختلاف

پکښې نیشته لکه په دے ایت کښې "فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِیْ مِنْ شِیْعَتِهٖ" اودا ایت "وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِی الدِّیْنِ فَعَلَیْكُمُ النَّصْرُ" (انفال)۔ "او مَنْ اَنْصَارِیْٓ اِلَی اللّٰهِ" او دَکوم کار چه مخلوق قدرت نه لری په هغے کښې استغاثه او استنصار په الله تعالیٰ پورے خاص دے لکه "اِذْ تَسْتَغِیْثُوْنَ رَبَّكُمْ" (انفال) او "مَا النَّصْرُ اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ" (انفال) او دَ طبرانی نه په معجم کبیر کښې روایت دے چه صحابه کرام دَیو منافق نه ډیر تنګ وُو نو ابوبکر رضی الله عنه اُوئیل "قُوْمُوْا بِنَا نَسْتَغِیْثُ بِرَسُوْلِ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم مِنْ هٰذَا الْمُنَافِقِ فَقَالَ صلی الله علیه وسلم اِنَّهٗ لَا یُسْتَغَاثُ بِیْ وَاِنَّمَا یُسْتَغَاثُ بِاللّٰهِ" (راځئ چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه فریاد رسی اوکړو دَ دے منافق نه نو اوئیل رسول الله صلی الله علیه وسلم یقیناً په ما سره فریاد رسی نه شی کیدے بلکه فریاد رسی په الله تعالیٰ سره کیږی)۔ نو دلته مراد استغاثه ده په هغه کار کښې چه په قدرت دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښې نیشته دے۔ ۳ **استعانت**:- او استعانت طلب دَ عون (مدد) دے په دے کښې هم دغه تفصیل دے چه کوم په قدرت دَ بنده کښې داخل وی نو استعانت دَ بنده استعمالیږی لکه "اَعِیْنُوْنِیْ بِقُوَّةٍ (کهف) او کوم چه په قدرت دَ بنده کښې داخل نه وی نو هغه خاص دے په الله تعالیٰ پورے لکه "ایاك نعبد و ایاك نستعین" او "والله المستعان علی ما تصفون" (یوسف) ۴ او استمداد:- کوم چه قدرت دَ بنده کښې وی نو هغه نه مدد طلب کیدلے شی لکه "اَتُمِدُّوْنَنِیْ بِمَالٍ" (نمل) او چه په قدرت دَ بنده کښې نه وی نو هغه استمداد په الله تعالیٰ پورے خاص دے لکه "كُلًّا نُّمِدُّ هٰٓؤُلَآءِ وَهٰٓؤُلَآءِ مِنْ عَطَآءِ رَبِّكَ" (اسراء) ۵ او استشفاع (شفاعت) کوم چه په قدرت دَ بنده کښې داخل وی لکه دَ بل چا دَ پاره دُعا غوختل یا په آخرت کښې په اذن دَ الله تعالیٰ سره دَ چا شفاعت کول، په دے وجے سره دَ نبی صلی الله علیه وسلم صفت شافع شفیع او المشفع راغلے دے او دا مراد دے په هغه حدیث کښې چه ابو داؤد روایت کړے دے یو سړی اُوئیل نبی صلی الله علیه وسلم ته "اِنَّا نَسْتَشْفِعُ بِاللّٰهِ عَلَیْكَ وَنَسْتَشْفِعُ بِكَ عَلَی اللّٰهِ فَقَالَ شَأْنُ اللّٰهِ اَعْظَمُ مِنْ ذٰلِكَ اِنَّهٗ لَا یُسْتَشْفَعُ بِهٖ عَلٰٓی اَحَدٍ مِّنْ خَلْقِهٖ" (چه شفاعت طلب کوؤ په الله تعالیٰ په تا باندے او شفاعت طلب کوؤ په تا سره په الله تعالیٰ باندے نو هغه اوفرمائیل شان دَ الله تعالیٰ ډیر لوئے دے دَ دے نه یقیناً په هغه سره شفاعت نشی

طلب کیدے په هیڅ بانده د مخلوق نه)۔ نو دلته شفاعت بالاذن مراد دے.
او کوم چه شفاعت (سفارش) د مخلوق دے پشان د هغه خلقو چه وئیل یئے
"هٰؤُلَاءِ شُفَعَاءُنَا عِنْدَ اللّٰهِ" نو هغه شفاعتِ شرکیه دے. او توسل کښ هم ډیر
قسمونه دی لکه روستو بیانیږی۔

تنبیه:- د دے بیان نه معلومه شوه چه دغه الفاظ اوخصوصًا توسل مجمل
یا مشترک الفاظ دی. شیخ الاسلام کتاب الوسیله کښ لیکلی دی چه دا مشترک
لفظ دے. او شرح عقیدة الطحاویه ص۲۶۳ طبع مکتبه سلفیه لاهور کښ دی
فَلَفْظُ التوسلُ بِالشَّخْصِ وَالتَّوَجُّهُ بِهٖ فِيْهِ اِجْمَالٌ غَلَطَ بِسَبَبِهٖ مَنْ لَمْ يَفْهَمْ
مَعْنَاهُ (لفظ د توسل په شخص سره په دے کښ اجمال دے چه په سبب
د هغے سره غلط شوے وی هغه څوک چه د دے په معنٰی باندے نه پوهیږی)
دا رنګ لفظ د وسیله په فلانی سره او وسیله بالذوات او وسیله په دُعا
سره دا ټول مجمل الفاظ دی په وخت د بحث او مناظره کښ تعین د یو قسم
مراد دے چه شرعی دے یا غیر شرعی دے۔ مطلقًا که یو انسان اُوائی چه
زهٔ هر قسم وسیله منم نو په شرک یا بدعت کښ به پریوځی او که وائی
چه زه هیڅ قسم وسیله نه منم نو دا به دهری کافر وی۔

دریم بحث په اقسامو د وسیله کښ دے۔ پوهه شه چه وسیله کښ
بعضِ اقسام شرعی دی او بعضِ اقسام شرکیه دی او بعضِ قسمونه بدعیه
دی۔ دا رنګ توسل دوه قسمه دے یو دا چه طلب د قربت د الله تعالٰی په
ایمان او نیک عملونو سره بغیر د طلب د حاجت نه او د دُعا نه وی یعنی یو
شخص ایمان راوړی او نیک عملونه په دے نیت سره کوی چه الله تعالٰی
ته نزدے شی او دا (وسیله) مصداق د دے قول د الله تعالٰی دے چه
"قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوْبَكُمْ" العمران
(نه اُوایه که چرے محبت (نزدیکت) د الله تعالٰی غواړئ نو زما تابعداری
اوکړئ نو الله تعالٰی به در سره محبت اوکړی او ګناهونه به تاسو نه اوبښی)
یعنی قربت او محبت د الله تعالٰی د نبی صلی الله علیه وسلم په تابعداری
سره صِرف حاصلیږی نو اتباع د نبی صلی الله علیه وسلم وسیله ده الله
تعالٰی ته د قربت او محبت د پاره دا وسیله عین ایمان او توحید دے. او
څوک چه نزدیکت د الله تعالٰی په عبادت د غیر الله سره طلب کوی نو

هغه عين شرك دے لكه چه الله تعالیٰ فرمائيلي دي "وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ مَا نَعْبُدُهُمْ اِلَّا لِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى" (زمر ۳) نو دا وسيله شركيه ده. ابن قيم رحمة الله قصيده نونيه كښ وائي ـــه

فَالشِّرْكُ هُوَ تَوَسُّلٌ مَقْصُوْدُهُ الزُّلْفٰى ❊ مِنَ الرَّبِّ الْعَظِيْمِ الشَّانِ
بِعِبَادَةِ الْمَخْلُوْقِ مِنْ شَجَرٍ ❊ وَمِنْ قَبْرٍ وَمِنْ اَوْثَانِ

(معنیٰ) "شرك چه دے هغه وسيله نيول دي الله تعالیٰ ته په مقصد د نزدے كيدلو الله تعالیٰ ته په عبادت د مخلوق سره كه ونه وي، كه قبر وي، اوكه بُت وي". دويم قسم توسل په طلب د حاجت او د دُعا كښ دے او په هغے كښ ډير اقسام دي چه روستو ذكر كيدلے شي۔

تنبيه: په دے ايت كريمه كښ مقصود اول قِسم وسيله ده لكه چه روستو په معنیٰ د دے ايت سره به معلومه شي او د وسيلے د دُعا سره د دے تعلق نيشته مولانا اشرف علي تهانوي رح په مسائل السلوك د بيان القرآن كښ ذكر كړيدي (كه اِس ايت كا توسل بالذوات كيساته كوئی تعلق نهيں) ليكن هر كله چه باطل پرست خلق د دے ايت نه د خپل غلط مقصد د پاره استدلال كوي د دے وجے نه بعض علماؤ لكه مفسر آلوسي او مونږ د دے ايت سره دغه تحقيق ليكلے دے۔

ځلورم بحث اقسام شرعيه د وسيلے او د هغے دليلونه: مراد د وسيلے نه دويم قسم دے يعني په دُعاء او طلب الحاجات كښ وسيله نيول نو شرعي اقسام په دے كښ شپږ دي اول قسم۔ وسيله نيول په نومونو او صفتونو د الله تعالیٰ سره لكه چه وئيلے كيږي يا الله، اللهم، ربنا، يا رحمٰن، يا رحيم، ياحي، يا قيوم، ياذالجلال والاكرام او دغسے نور، او دليل د دے د پاره قول د الله تعالیٰ دے۔ "وَلِلّٰهِ الْاَسْمَآءُ الْحُسْنٰى فَادْعُوْهُ بِهَا" (اعراف ۱۸۰) او د دے تفسير په سورة اعراف كښ راتلونكے دے نو معنیٰ دا ده چه خاص الله تعالیٰ لره ښائسته نومونه دي نو دُعا د الله تعالیٰ نه غواړئ د هغه په نومونو سره يعني د هغے په وسيلے سره۔ او د دے مثالونه په قرآن كښ هغه ايا تونه د دُعاګانو دي چه د هغے په سر كښ اللهم او ربّنا راغلي دي او دا رنګ سورة يوسف ۱۰۱ سورة ابراهيم ۳۸ ۳۹ كښ دي او هغه احاديث چه په هغے كښ دُعاګانے په وسيله د نومونو د الله تعالیٰ راغلي دي هغه خو ډير دي يو د هغے نه حديث عائشه رضي الله عنها دے چه ابن ماجه ذكر كړے دے په هغے كښ دي

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُکَ بِاسْمِکَ الطَّاهِرِ الطَّیِّبِ الْمُبَارَکِ الْاَحَبُّ اِلَیْکَ (الحدیث)
بل حدیث د انس رضی الله عنه دے چه اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُکَ بِاَنَّ لَکَ الْحَمْدُ
لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ یَا مَنَّانُ یَا بَدِیْعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ یَا ذَا الْجَلَالِ وَالْاِکْرَامِ (الحدیث)
دا ابو داؤد، نسائی، ابن ماجه روایت کریدے۔ بل حدیث اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُکَ
بِکُلِّ اِسْمٍ هُوَ لَکَ سَمَّیْتَ بِهٖ نَفْسَکَ اَوْ اَنْزَلْتَهٗ فِیْ کِتَابِکَ اَوْ عَلَّمْتَهٗ اَحَدًا مِنْ
خَلْقِکَ اَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهٖ فِیْ مَکْنُوْنِ الْغَیْبِ عِنْدَکَ (الحدیث) او بنا دے په دې
قول باندے قول د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه چه فرمائیلے یې دی" لَا یَنْبَغِیْ
لِاَحَدٍ اَنْ یَدْعُوَ اللهَ اِلَّا بِهٖ (او شامی وئیلی دی) اَیْ بِذَاتِهٖ وَاَسْمَائِهٖ او درِ مختار
ورسره وئیلی دی لِاَنَّ الدعاء الماذون فیها ما استفید من قوله تعالٰی
وَلِلّٰهِ الاسماء الحسنٰی فادعوه بها (جائز نه دی هیچا لره چه دُعا غواړی مګر
په الله تعالٰی سره یعنی په ذات د هغه او نوموتو او صفتونو د هغه سره ځکه چه
هغه دُعا چه د هغې اِذن دے په شریعت کښ هغهٔ ده چه معلومه ده د دے اٰیت
نه ولله الاسماء الحسنٰی فادعوه بها) دا قول درمختار او شامی او عالمګیری
او صیانة الانسان په ص۳۰۱ او ص۳۰۵ او ص۲۶۵ او ص۲۹ کښ د شرح مختصر الکرخی
او شرح التنویر تتارخانیه او ابن بلدجی او شیخ الاسلام په کتاب الوسیله
او کتاب الصراط المستقیم او ابن قیم په اغاثة اللهفان کښ نقل کړیدی او سند
د دے یې د بشر بن الولید عن ابی یوسف عن ابی حنیفه سره نقل کړیدے۔
تنبیه احنافو لره ضروری دی چه په دے قول د امام ابوحنیفه رحمه الله
چه د قرآن سره موافق دے او په سند سره نقل دے عمل اوکړی او د هیچا
نوم دِ په وسیله کښ نه ذکر کوی (نه په حق او نه په جاه او نه په حرمت طفیل
وغیره سره) بغیر د نوم د الله تعالٰی نه۔ د هغه د مقلدینو د پاره دا قول پوره دے۔
دویم قسم وسیله ده په ایمان او اعمالِ صالحو سره په دُعا کښ۔ دا هم په قرآن
کریم او احادیث صحیحه او اجماع د امت سره ثابت ده په قرآن کریم کښ ځکښ
راغلې د ایاك نعبد په ایاك نستعین باندے او هم دلته وَاسْتَعِیْنُوْا بِالصَّبْرِ
وَالصَّلٰوةِ (بنا په یو تفسیر باندے) دا رنګ په سورة اٰل عمران ۱۶ ۵۳ ۱۹۳
کښ وسیله د ایمان او اتباع رسول ذکر ده او سورة ابراهیم ۳۷ یونس ۸۵ او
نور هم دلته ډیرے دی۔ او حدیثِ غار خو په دے باب کښ صحیح او ډیر مشهور
دے بخاری وغیره دا حدیث راوړے دے۔ دریم قسم وسیله په خپل عجز سره

لکه په دُعا دَ آدم وحواء علیهما السّلام سره سورة اعراف ۲۳ کښ دُعا دَ زکریاؑ په
سورة مریم ۷ کښ او دُعا دَ ابوبکر رضی الله عنه چه دَ مانځه په آخره قاعده
کښ هغه ته نبی صلی الله علیه وسلم خودلے وه اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا کَثِیْرًا
وَلَا یَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّآ اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ اَنْتَ
الْغَفُوْرُ الرَّحِیْمُ. (الحدیث بخاری) - څلورم قسم وسیله په دُعا غوختلو سره دَ
ژوندی نه چه حاضر وی یا ورته په اسبابو ظاهر یو سره علم وی یعنی په
ډاك ټیلفون تار وغیره سره دا هم په قرآن او سنت سره ثابت ده آیاتونه
دادی بقره ۱۸۶ ۲۸۶ نساء ۶۴ یوسف ۹۷ فتح ۱۱ مؤمن ۷ حشر ۱۰ نوح
۲۸ - احادیث په دے کښ ډیر دی، اول حدیث ترمذی کښ دے چه عمر
رضی الله عنه دَ نبی صلّی الله علیه وسلم نه دَ عمرے کولو اذن غوختلو نو
هغه ورته او فرمائیل لَا تَنْسَانَا یَا اُخَیَّ فِیْ دُعَائِكَ او بل روایت کښ اَشْرِكْنَا
یَا اُخَیَّ فِیْ دُعَائِكَ بلکه دا حدیث دلالت کوی چه اعلیٰ او افضل شخص دَ ځان نه
ادنیٰ مسلمان نه هم دَ دُعا غوښتلو دَ پاره وئیلے شی. دویم حدیث حدیث دَ عکاشه
رضی الله عنه (اُوږد حدیث بخاری مسلم وغیره روایت کړے دے) عکاشه رض
نبی صلی الله علیه وسلم ته اوئیل اُدع الله تعالیٰ اَنْ یَّجْعَلَنِیْ مِنْهُمْ. او حدیث
دَ عمر رضی الله عنه چه روستو دَ وفات دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه عباس
رضی الله عنه ته اُوئیلے شو چه ته مونږ دَ پاره دَ باران دُعا اُوغواړه نو هغه دُعا
اوغوختله دا حدیث بخاری روایت کړیدے روستو به انشاء الله تعالیٰ تفصیلاً ذکر
شی. پنځم قسم وسیله په اضافت دَ رب سره عبادِ صالحینو ته لکه چه په
حدیث عائشه رض کښ دی دُعا دَ نبی صلی الله علیه وسلّم کښ اللهم رب
جبرئیل ومیکائیل واسرافیل (حدیث مسلم) دا هم په اصل کښ راجع دے
توسل کولو ته په نومونو او صفتونو دَ الله تعالیٰ سره او تخصیص دَ مضاف
الیه دلالت کوی په ډیر عظمت دَ مضاف باندے. دے ته توسل بذوات
الصالحین وئیل جهل دے ځکه چه مضاف غیر وی دَ مضاف الیه نه.
شپږم قسم وسیله نیول په صلوٰة وئیلو سره په نبی صلی الله علیه وسلّم
باندے چه اول درود شرعی اُوائی او بیا دُعا غواړی لکه دَ ترمذی او ابوداؤد
روایت کښ دَ فضالة بن عبیدة رض نه نقل دی چه یو سړی مونځ کوؤ نو صرف
اللهم اغفرلی وارحمنی ئے اوئیل نو نبی کریم صلی الله علیه وسلم ورته

اوفرمائیل اه تا دی دِ اوکړه کله چه د مانځه په قاعده کښ کینے نو د الله تعالیٰ ثنا اُوایه (لکه التحیات لوستل شول) بیا درود اُوایه بیا دُعا اُوغواړه بیا بل صحابی راغے په قعده د مانځه کښ یٔے درود اُوئیلو نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل اُوس دُعا غواړه نو قبلیږی به او نور احادیث هم شته دے او دا قسم د وسیلے هم راجع دے توسل کولو ته په عملِ صالح سره ځکه چه درود وئیل په نبی صلی الله علیه وسلم عمل صالح دے دا قِسمونه د وسیلے شرعی قسمونه دی د دے نه انکار کول د قرآن کریم او د احادیثو نه انکار کول دی۔

پنځم بحث په ذکر د اقسامِ غیر شرعیه د وسیلے کښ۔ اول قِسم دا دے لکه چه په دُعا کښ وائی په حق د فلانی او جاه د هغه او حرمت د هغه او برکت او طفیل د هغه۔ په دے کښ فیصله دا ده که په دے طریقے سره دُعا چرته په حدیث صحیح یا حسن سره ثابت شی نو جائز ده لیکن په دے کښ په بعضِ الفاظو کښ د سرهٔ حدیث نیشته او د حق وجاه په باره کښ چه کوم احادیث دی موضوعی یا ضعیف دی نو معلومه شوه چه دا الفاظ لوستل بدعت دے او آلوسی په روح المعانی کښ وئیلے دی ص۱۲۶ کښ چه ته پوهیږے چه هغه دُعاګانے چه منقول دی د اهل بیت او نورو ائمه نه نیشته په هغے کښ توسل بالذات د نبی صلی الله علیه وسلّم اوکه چرته فرض شی وجود ظاهراً نو هغه په تقدیر د مضاف سره دے او که څوک دعویٰ کوی د صریح نص نو هغه دِ اُوښائی؛ او شرح عقیده طحاویه ص۲۶ کښ لیکلے دی چه دُعا کوونکے وائی بحق انبیائِك او بحق فلان نو دا ممنوع دے د دوه وجونه اول دا چه دا قسم دے په غیر الله سره او هغه په صریح حدیث کښ منع دے او دویم دا چه نیشته هیڅ لره حق واجبه په الله تعالیٰ سِوا د هغے نه چه الله تعالیٰ پخپل ځان بانن دے حق ذکر کړیدے لکه "وَكَانَ حَقًّا عَلَيْنَا نَصْرُ الْمُؤْمِنِيْنَ" (روم ۴۷) او دا سے تولو فقهاءِ احناف لیکلے دی په کتاب الکراهیة کښ چه لَا حَقَّ لِلْمَخْلُوقِ عَلَى الْخَالِقِ په هدایه، کنزاخیر، قناوی، شامی، عالمګیری، فتح القدیر وغیره کښ۔ سوال:- که یو سړے په حق سره اراده اوکړی د هغه حق چه الله تعالیٰ په ځان بان دے ایخے دے لکه حقًا علینا نصر المؤمنین یا په حدیث معاذ کښ حق العباد علی الله او وسیله په دغه حق سره اونیسی؟ جواب:- د حق واجبه قول معتزله کوی نو که بحق فلان اُوئیلے شی اګرچه دویمه معنیٰ

مرادکوی لیکن داموهم لفظ دے اوبل داچه په دُعاکانو منقولوکښ داسے لفظ نه دے راغلے. دارنګ شرح عقیدة طحاویه ص۲٦۲ کښ وئیلے دی چه داالفاظ (حق، جاه، حرمت وغیره) اعتداء ده په دُعاکښ او الله تعالیٰ فرمائیلی دی "اِنَّهٗ لَا یُحِبُّ الْمُعْتَدِیْنَ"، (اعراف ۵۵) ځکه چه دُعا افضل عبادت دے او دَعبادتونو بنا په سنت او اتباع باندے ده نه په خواهش او ابتداع. او دَلفظ جاه په باره کښ آلوسی وئیلے دی چه داهم اِقسام غیر مشروع دے ځکه چه دَهیچا دَسلفونه نقل دَ دے لفظ نیشته او یوصفحه روستو ئے فرمائیلی دی چه لفظ حرمت کښ هم کلام په شان دَلفظ دَجاه دے او وئیلے دی چه دَهیچا دَصحابه کرامونه توسل په جاه او حرمت سره نقل نیشته: سوال:- آلوسی په دغه ځائے کښ په لفظ دَجاه او حرمت کښ تاویل کړے دے دَ پاره دَجواز او راجع کړے دے توسل ته په صفت دَالله تعالیٰ سره؟- جواب:- سهسوانی پدے تاویل رد کړیدے په صیانة الانسان ص۲۳۳ کښ او آلوسی په خپله هم وړسے وئیلے دی چه زما دَ تاویل مطلب دا نه دے چه په دے الفاظو سره دُعا غوره ده غوره خو هغه دی چه الله تعالیٰ اودَ هغه رسول مونږ ته تعلیم راکړے دے او هرکله چه تقل ئے نیشته لکه چه آلوسی پخپله وئیلے دی نو جواز بغیر دَ دلیل نه باطله خبره ده. اولفظ دَ برکت او لفظ طفیل هم نقل دَصحابه کرامونه نیشته او تاویلونو سره جواز نه ثابتیږی اوڅوک چه په دے کښ اقوال دَعلماءِ دیوبند وغیره پیش کوی نو دَ هغوی اقوال بغیر دَ دلیل شرعی نه په شرع کښ هیڅ اعتبار نه لری. او دارنګ دَ دے ټولو الفاظو په تردید کښ قول دَامام ابوحنیفه رحمة الله علیه (چه مخکښ ذکر شویدے) کافی دے چه په هغے کښ دَالله تعالیٰ دَ نومونو او صفتونو نه علاوه دَ بل چا نوم ذکر کول منع کړیدی. دَویم قسم دَ توسل غیر شرعی، دُعا غوختل دَ یوخاص قبر په خواکښ پدے عقیدے سره چه دُعا دَ دے قبر په خواکښ ښه قبلیږی. دا هم بدعت دے او دَ اسبابو دَ شرک نه دے ځکه چه دَ قبر په خواکښ دَ دُعا دَ قبلیدلو دَ پاره هیڅ دلیل شرعی نیشته احادیثوکښ چه کوم مقامات دَ اجابت ذکر دی هغه دادی مسجد، ملتزم دَ کعبے، حجر اسود، طواف، صفا، مروه، مزدلفه، عرفات او مِنیٰ په هغے کښ ذکر دَ قبر نیشته دے بلکه آلوسی په ص۱۲۵ کښ لیکلی دی چه دَصحابه کرامونه

دا نقل نیشته چه د دُعا په وخت کښ به قبر ته مخ کوی بلکه قبلے ته به مخ کوی
او د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه قول یئے هم دا سے ذکر کړے دے.
دریم قسم د توسل غیر شرعی. چه د قبر په خوا کښ قبر والا ته خطاب اوکړی
چه اے فلانیه ځما د پاره د الله تعالیٰ نه دُعا اُوغواړه او عقیده لری چه دا
مړے اوری نو دا هم په اتفاق د علماؤ سره ناجائز ده. الوسی په ص۱۲۵/۶ کښ
وئیلے دی اَمَّا اِذَا کَانَ الْمَطْلُوْبُ مِنْهُ مَیِّتًا اَوْ غَائِبًا فَلَا یَسْتَرِیْبُ عَالِمٌ اَنَّهٗ
غَیْرُ جَائِزٍ وَاَنَّهٗ مِنَ الْبِدَعِ الَّتِیْ لَمْ یَفْعَلْهَا اَحَدٌ مِنَ السَّلَفِ (هر کله چه
هغه څوک چه د هغه نه دُعا طلب کیدے شی مړوی یا غائب وی نو شک
نه کوی هیڅ عالم چه دا هم جائز دے او د هغه بدعاتو نه دے چه د سلف
نه هیچا نه دے کړے) او دا سے د ابن الهادی په الصارم المنکی ص او په مجموعة
الفتاوی د مولانا عبدالحی ص۳۳۸/۱ کښ او جلاء العینین ص۴۹۵ او فتاوی رشیدیه
ص۵۹ کښ شته. بله وجه دا ده چه عقیده د مړو اوریدلو د پاره د طلب
د دُعا کانو د اسبابو د شرک نه ده. او دا رنګ دا طلب د شفاعت دے په غیر
د اذن نه ځکه چه په دلیل شرعی سره ثابت نه دی چه مړی د ژوندو د پاره
دُعا یا شفاعت غواړی. او دا شفاعت قهریه بلا اذنه دے او دا مصداق دے
د عبارت د امام رازی نه په تفسیر کبیر ص۱۷/۶ کښ او نظیر د دے په دے
زمانه کښ اشتغال د ډیرو خلقو دے په تعظیم د قبرونو د مشرانو پدے
عقیده سره چه مونږ د دے قبرونو تعظیم اوکړو نو دوی به زمونږ د پاره
سفارش کوی الله تعالیٰ ته دا رنګ عبارت د شاه ولی الله په تفهیمات کښ
چه "مَنْ ذَهَبَ اِلٰی بَلْدَةِ اَجْمِیْرَ اَوْ اِلٰی قَبْرِ سَالَارِ مَسْعُوْدٍ اَوْ مَا ضَاهَاهَا
لِاَجْلِ حَاجَةٍ یَطْلُبُهَا فَاِنَّهٗ اِثْمٌ اِثْمًا اَکْبَرُ مِنَ الْقَتْلِ وَالزِّنَا لَیْسَ مِثْلُهٗ
اِلَّا مِثْلَ مَنْ کَانَ یَعْبُدُ الْمَصْنُوْعَاتِ اَوْ مِثْلَ مَنْ کَانَ یَعْبُدُ اللَّاتِ وَالْعُزّٰی".
(تفهیمات الٰهیه ص۴۹/۲ تفهیم ع۳۴). څلورم قسم د وسیلے غیر مشروع دا دے چه
د قبر په خوا کښ قبر والا ته خطاب کوی چه ځما فلانے حاجت پوره کړه
ځما نه فلانے مصیبت لرے کړه وغیره نو دا خو ښکاره شرک حقیقی دے
صیانة الانسان ص۳۶۰ اغاثة اللهفان د ابن قیم ص۲۱۷/۱. او الوسی هم په ص۱۲۸/۷
کښ وائی چه دا علماؤ شرک ګڼړلے دے او که شرک نه شی نو قریب د شرک
خو ضرور دے ځکه چه دا سے انسان عقیده لری چه د غه مدعو مړے

یا غائب ژوندے علم د غیب لری او آوازونه اوری او قدرت لری د نفعے او ضرر (او دا عقیده د شرک ده). پنځم قِسم د توسل غیر مشروع دا دے، چه آواز کوی یو غائب ته (په غیر د اسبابو نه) یا مړی ته لرے د قبر نه چه یا فلانی ولی یا پیره ځما د پاره د الله تعالیٰ نه دُعا اُوغواړه په دے عقیده سره چه هغه په غیبو باندے علم لری او د هر ځائے نه خبرے اوری او دُعا غوختلے شی نو دا هم شرک صریح دے ځکه چه علم د غیب او د هر ځائے نه بے د اسبابو نه اوریدل دا صفت خاصه د الله تعالیٰ دے چه په قرآن کریم کښ په ډیرو آیاتونو او ډیرو صحیح او صریح احادیثو کښ دا مسئله موجود ده او په کتابونو شرعیو او خاص د فقه حنفیه په کتابونو کښ ده او دے عقیدے ته کفر او شرک وئیلے شویدے لکه په سورة نمل نمبر ۶۵ کښ او سورة انعام نمبر ۵۰ او سورة اعراف نمبر ۱۸۸ کښ. او واقعه د افک د عائشه رضی الله عنها او ټوله قصه د یوسف علیه السلام او حدیث د ام العلاء الانصاریه، "والله لا ادری وانا رسول الله ما یفعل به" (بخاری) او حدیث د حوضِ کوثر "انك لا تدری ما احدثوا بعدك" (بخاری، مسلم) او فتاوی هندیه ص ۲۸۳/۳ ص ۲۱۲/۳ بحرالرائق ص ۸۸/۳ او شرح فقه اکبر ص ۱۳۷ او فتاوی قاضیخان ص ۴۶۹/۴ ص ۵۷۶/۳. شپږم قسم توسل غیر شرعی، چه آواز کوی مړی ته د قبر نه لرے یا یو غائب ته بے اسبابو چه فلانی بزرګه او یا پیره زما مریض جوړ کړے زما فلانے حاجت پوره کړه دا خو صریح شرک دے په ډیرو وجوسره اول دا چه عقیده د علم غیب د پاره د غیر الله لری دویم دا چه هغه غیر له قدرتِ مستقله په نفع ورکولو یا په ضرر دفع کولو باندے کنړی. دریم دا چه دُعا پدے عقیدے سره عبادت دے او عبادت د غیر الله شرک دے او په دے باب کښ ډیر آیاتونه او احادیث او اقوال د فقهاؤ شته مونږ په التبیان ص ۶۱ او تنشیط الاذهان ص ۳۵-۳۶ کښ ذکر کړے دی حاصل دا دے چه د توسل فی الدعا شپږ اقسام شرعیه دی او شپږ اقسام غیر شرعی دی.

شپږم بحث په باره د شبهاتو د توسل کولو په غیر شرعی طریقو سره او د هغے جوابات اوله شُبهه استدلال کړے د دے آیت نه "وابتغوا الیه الوسیلة" وائی چه مراد دینه وسیله بالذوات ده او طریقه د استدلال یے دا سے ده چه دا معطوف دے په اتقوالله باندے او تقوی په معنیٰ د طاعت کول او د منهیاتو او ګناهونو نه ځان بچ کول دی او معطوف خو غیر وی د معطوف علیه نه نو معلومه شوه

چه وابتغوا اليه الوسيلة نه مراد ذواتِ فاضله دی۔
جواب دَ دے په څو وجو سره دے اوله وجه دا ده چه عطف مغائرت په هر وجه سره نه غواړی بلکه کله خاص عطف شی په عام باندے لکه پدے قول دَ الله تعالیٰ کښ "مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ" (بقره ۹۸) نو دلته وسیله په معنیٰ دَ طاعات کولو خاص ده دَ معنی دَ تقویٰ نه۔ دویمه وجه مخکښ دَ بحث په سر کښ نقل کړے شوے وُو دَ ابن کثیر وغیره نه چه دلته مراد دَ تقویٰ نه خاص معنی ده یعنی دَ ګناهونو نه ځان بچ کول او پدے معنی سره تقویٰ په قرآن کښ ډیر کرته ذکر ده لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ "وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ" (بقره ۱۰۳) او په تفسیر دَ بقره کښ دَ المتقین دَ لاندے مونږ لیکلی دی چه په قرآن کریم کښ تقویٰ په اووه معانو سره وارد ده۔
دریمه وجه دا ده چه دَ وسیلے دا تفسیر (په ذواتِ فاضله سره) هیڅ یو مفسر نه دے ذکر کړے او په تفسیر کښ سلف صالحین نه خلاف قول کول جائز نه دی لکه چه الصارم المنکی ص۲۷ کښ لیکلی دی۔ او مفسرینو دَ دے تفسیر په اعمال صالحه او طاعات سره او عمل په هغه چه الله تعالیٰ پرے رضا وی، قربت په طاعاتو او نیک عملونه، او فعل دَ طاعاتو او ترک دَ سیئاتو وغیره عباراتو سره کړیدے او تفسیر ابن عباس، ابن کثیر، ابن جریر، معالم التنزیل بیضاوی، مدارک، روح المعانی، قرطبی، سمعانی وغیره په تفسیرونو کښ دا شته دے، څلورمه وجه دا ده چه دَ بحث په اول کښ دَ نیشاپوری نه نقل شویدے چه دا ایت دَ پاره دَ رد دے په هغه یهودو او نصارئ چه تقرب ئے په خپل مشرانو او دَ هغوی په عملونو سره کوؤ او تهانوی رحمة الله علیه وئیلی دی چه دَ دے ایت دَ وسیلے بالذوات سره هیڅ تعلق نیشته دے او شاه انور شاه رحمة الله علیه وئیلی دی چه پدے ایت کښ دلیل نیشته په توسل معروف په نو مونو سره فقط۔ او ابن تیمیهؒ دَ هغے دَ تحریم قائل دے او صاحب دَ درمختار جائز وئیلی دے لیکن دَ سلفو نه ئے هیڅ نقل نه دے راوړے (فیض الباری ص۴۳۵/۳)۔
دویمه شبهه۔ حدیث دَ توسل دَ آدم علیه السلام دے په محمد صلی الله علیه وسلم سره دا بیهقی په دلائل النبوة او حاکم په مستدرک کښ

راوړے دے او هغه ورته صحیح وئیلے دی؟۔ (جواب) په دے حدیث باندے کلام په درے وجوسره دے اوله وجه دا ده چه دا حدیث ضعیف دے بلکه موضوعی دے (التوصل ص۲۱۷) په دے کښ ضعیف راوی دے چه هغه عبد الرحمٰن بن زید بن اسلم دے (کنز العمال ص ۳۵۵/ج ۱۱) او په دے کښ حماد بن عمر النصیبی دَ سری نه او هغه روایت کوی دَ خالد نه او دوی دواړه واهیان دی (کنز العمال ص ۳۵۹/ج ۲) او په دے کښ رافضی راوی دے (صیانة الانسان ص۱۲۴ ص۱۲۹ ص۱۳۶) تعلیق دَ ذهبی دَ مستدرک په حاشیه باندے په ص ۶۱۵/ج ۲ او صیانة الانسان په ص۲۷۶ کښ لیکلے دی چه دا روایت موضوع دے او عبد الرحمٰن واهی دے۔ سوال:۔ حاکم خو دے حدیث ته صحیح وئیلے دی؟ جواب:۔ حاکم دَ محدثینو په نیز په تصحیح کښ ډیر تساهل کوونکے دے دَ دے وجے نه دَ هغه تصحیح ته اعتبار نیشته (صیانة الانسان ص۱۲۳) بل دا چه حاکم په کتاب الضعفاء کښ په عبد الرحمٰن بن زید باندے طعن کړے دے او شیخ الاسلام ابن تیمیه رح فرمائیلے دی چه حاکم په مدخل الی معرفة الصحیح من السقیم کتاب کښ وئیلے دی چه عبد الرحمٰن بن زید دَ خپل پلار نه احادیث موضوعه روایت کول او امام احمد، ابو زرعه، ابو حاتم، نسائی او دارقطنی وغیره دهٔ ته ضعیف وئیلے دی.

دویمه وجه دا ده چه دا حدیث دَ قرآن کریم دَ مضمون نه صریح خلاف دے ځکه چه سورة ذاریات ۵۶ کښ علت دَ خلق عبادت دَ الله تعالیٰ دے او سورة طلاق ۱۲ کښ علت دَ خلق علم دَ دوه صفتونو دَ الله تعالیٰ دے او سورة یونس ۵ کښ او نورو داسے ایاتونو کښ علت دَ خلق اظهار او اثبات دَ حق (چه توحید دے) ګرځولے شوے دے او په دے حدیث کښ الفاظ دی چه لَوْلَا محمد مَا خَلَقْتُكَ دا پشان دَ لَوْلَاكَ لَوْلَاكَ لَمَا خَلَقْتُ الْاَفْلَاكَ دے چه هغه هم موضوعی حدیث دے نو دَ وجے دَ مخالفت دَ دے ایاتونو نه دا حدیث موضوعی دے.

دریمه وجه دا ده چه دُعا دَ دے حدیث دَ قرآنی دُعا نه خلاف ده قرآن کښ تصریح ده چه آدم او حواء علیهما السلام دا دُعا لوستله رَبَّنَا ظَلَمْنَا اَنْفُسَنَا (الآیة) اعراف ۲۳۔

تنبیه تعجب دے دَ شیخ الحدیث مولوی محمد زکریا رئیس دَ جماعت

تبلیغیه چه دا حدیث ئې په فضائل الذکر کښ راوړے دے او تصریح ئې د هغه په تضعیف یا موضوعیت باندے نه ده کړے لیکن د یو حدیث د صحت دلیل دا نشي کیدے چه یو محدث ئې صرف پخپل کتاب وغیره کښ ذکر کړی بلکه د هغې به پوره تحقیق کیدے شي دریمه شبه ، حدیث د استسقاء د عمر دے په عباس رضی الله عنه چه بخاری هم روایت کړے دے؟ (جواب) په دے حدیث کښ توسل دے په دُعا د عباس رضی الله عنه سره او توسل په دُعا د ژوندی قریب سره جائز دے او هر کله چه صحابه خو ډیر وو لیکن عمر رضی الله عنه دُعا په ذریعه د عباس رضی الله عنه سره غوره کړیده نو د ترجیح وجه ئې ذکر کړیده عم النبی صلی الله علیه وسلم (چه تره وو د نبی صلی الله علیه وسلم) او قول د عباس رض په دُعا کښ لِمَكَانِی مِنْ نَبِيِّكَ ذکر کړیدے. او د دے تقدیر (بِدُعَاءِ عَبَّاس) د پاره قرینے او تائیدات دا دی اول چه په دے کښ "كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِينَا" ذکر دی او په ژوند د نبی صلی الله علیه وسلم کښ صحابه کرامو به په دُعا کښ د هغه سره استسقاء کوله دا سے خو په هیڅ صحیح حدیث کښ وارد نه دی چه دوی په نبی صلی الله علیه وسلم بغیر د دعا د هغه نه توسل کړے وی. دویم دا چه محدثینو د دے حدیث سره الفاظ د دُعا د عباس رضی الله عنه ذکر کړیدی (فتح الباری عمدة القاری وغیره) التوصل ص۲۵۶ صیانة الانسان ص۱۹۶. دریم دا چه شاه انور شاه الکشمیری په فیض الباری کښ په ص$\frac{۳۷۹}{۲}$ او دا رنګ په ص$\frac{۴۳۴}{۳}$ کښ وئیلے دی چه په دے کښ توسل د متقدمینو دے یعنی توسل په دُعا سره. او توسل د متأخرینو په کښ نیشته ګنی نو د عباس رض بوتللو ته حاجت نه وو. دا رنګ شرح عقیده الطحاویه ص۲۶۳ کښ دی (بِدُعَاءِ عباس رض) او صیانة الانسان ص۲۷۸ کښ. دا رنګ دا حدیث صریح دلیل دے چه په نبی صلی الله علیه وسلم سره روستو د وفات نه وسیله نیول جائز نه وو د دے وجے نه صحابه کرام توسل کوی په دُعا د عباس رضی الله عنه سره.

څلورمه شبهه. حدیث د عثمان بن حنیف رضی الله عنه چه ړوند سړے نبی صلی الله علیه وسلم ته راغے د هغه نه ئې دُعا او غوختله نو هغه ورته دُعا او خودله په دا سے الفاظو سره اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِیِّ الرَّحْمَةِ يَا مُحَمَّدُ اِنِّیْ اَتَوَجَّهُ بِكَ اِلٰى رَبِّیْ اه (الحدیث)

ترمذی روایت کړے دے او صحیح ئې ورته وئیلې دی؟ دَ دے جواب په
ضیا نة الانسان ص۱۲۵ ص۱۸۶ ص۱۹۹ ص۲۰۲ ص۳۶۹ او په التوصل کښ دَ ص۲۲۸ نه
تو ص۲۳۲ پورے اوګوری او البلاغ المبین دَ شاه ولی الله رحمه الله کښ او روح المعانی
ص۱۲۶/۶ کښ او ملا علی قاری په مرقات شرح مشکات کښ۔ حاصل دَ دغه
جواب دا دے چه اول خو دا حدیث سنداً ضعیف دے ځکه چه دَ دے
په سند کښ ابوجعفر راوی دے نو که هغه ابوجعفر الرازی التمیمی وی
چه نوم ئې عیسٰی بن ابی عیسٰی دے نو په تقریب کښ وئیلې دی چه
اکثر محدثین دَ هغه دَ ضعف قائل دی یعنی امام احمد او نسائی او علی
بن المدنی او فلاس او ابن حبان او ابوزرعه وغیره دَ هغه تضعیف کړے دے
(میزان الاعتدال ـ الکاشف)۔ او که دے ابوجعفر مدنی وی نو هغه مجهول دے۔
(سوال) امام ترمذی خو دَ دے حدیث تصحیح کړے ده؟ (جواب)
محدثینو وئیلې دی چه هر کله په سند کښ ضعیف یا مجهول راوی موجود
وی نو تصحیح دَ امام ترمذی ته اعتبار نیشته دے دا ضیا نة الانسان
ص۱۰۴ ص۳۲۶ کښ په تفصیل سره لیکلې دی۔ او ثانیاً که دا حدیث صحیح شی
نو هم پدیکښ مقصد توسل دے په دُعا دَ نبی صلی الله علیه وسلّم
سره الوسی وئیلې دی چه لفظ دَ دُعا پټ دے او په دے باندے په
نفس الفاظ دَ حدیث کښ دلیلونه دی اول دا چه هغه رسول الله صلی الله
علیه وسلّم ته وئیلې دی چه ته ماله دُعا اوغواړه۔ دویم جواب دَ رسول
صلی الله علیه وسلّم که ستا خوښه وی دُعا به اوغواړم یا صبر اوکړه۔
دریم په هغه دُعا کښ دا الفاظ دی اَللّٰهُمَّ شَفِّعْهُ فِیَّ (اے الله تعالیٰ دَ دے
نبی شفاعت زما دَ پاره قبول کړه)۔ څلورم دا چه که توسل په ذات دَ
نبی سره مقصد وے نو کور په ناست وو دُعا به ئې کړے وه حاضریدلو
او دَ هغه ته طلب کولو دَ دُعا ته به ضرورت نه وو۔ حاصل دا دے چه نبی
صلی الله علیه وسلّم خو دهٔ لره دُعا غوښتلې وه لیکن ورته ئې اوفرمائیل
چه ته هم دا سے دُعا اوغواړه چه اے الله زهٔ دَ دے نبی دُعا تا ته
پیش کوم نو دَ دهٔ دُعا ځما دَ پاره قبوله کړے۔
پنځمه شبهه۔ حدیث دَ اعرابی چه دَ نبی صلی الله علیه وسلّم دَ دفن نه
درے ورځے روستو راغے او دَ قبر دَ هغه سره ئې استغفار او دُعا دَ

نبی صلی الله علیه وسلّم نه طلب کړه او دَ قبر نه ورته آواز راغے چه تا ته بخنه اوشوه دا بیهقی په شعب الایمان ص۱۰۹ ج۱ طبع هند کښې راوړے دے او بعض مفسرینو دَ سورة نساء س۶۴ په تفسیر کښې لیکلے دے ؟

(جواب) کنز العمال ص۲۸۶ ج۲ کښې وئیلے دی چه دَ دے په سند کښې هیثم بن عدی الطائی دے او هغه متروک دے او التوصل الی حقیقة التوسل دَ ص۲۶۵ نه تر ص۲۸۱ پورے ډیر تفصیل لیکلے دے او صیانة الانسان ص۲۴۷ کښې او دَ دغه آیت نه دَ استدلال کولو په رد کښې شپاړس وجے ذکر کړے دی (هغه په تفسیر دَ سورة نساء کښې دی) دَ ص۲۳ نه تر ص۴۱ پورے.

او الصارم المنکی فی الرد علی السبکی کښې دَ دے تفصیلی جواب په ص۲۱۲ ص۲۴۳ ص۲۸۶ کښې کړے دے دَ هغے خلاصه دا ده چه دا خبر منکر او موضوع دے او اثر جوړ کړے شوے مصنوع دے او سند دَ دهٔ تیارے دی بعض دَ پاسه دَ بعضو نه. او هیثم نیکه دَ احمد دَ هغه پاره کښې گمان دا دے چه دے ابن عدی الطائی دے نو هغه متروک کذاب دے او که هغه نه وی نو بیا مجهول دے او هیثم ته یحیی بن معین دروغ ژن وئیلے دی او ابو حاتم، رازی او نسائی او دولابی او ازدی ورته متروک الحدیث وئیلے دے او دا سے ابن حبان او ذهبی په میزان کښې په دهٔ پاندے کلام کړے دے دا رنګ دا حکایت بعضو روایت دَ عتبی نه بے سنده کړے دے او بیهقی په شعب الایمان کښې په اسناد مظلم سره راوړے دے. او بعضو دروغژنو دَ دے دَ پاره سند تر علی رضی الله عنه پورے جوړ کړے دے نو په دے قصه او حدیث سره حجت او دلیل نشی نیولے کیدے.

شپږمه شبهه. حدیث دَ عام الفتق. مضمون ئے دا دے چه په مدینه منوره کښې سخت قحط راغے نو دوی عائشه رضی الله عنها ته شکایت اوکړو نو هغے ورته اووئیل چه دَ قبر دَ رسول الله صلی الله علیه وسلّم نه یو سورے آسمان طرف ته په چهت کښې جوړ کړئ، هغوی دا سے اوکړل نو باران اُوشو بُوتی پیدا شول او اوښان دومره خاربه شول چه دوا زدو نه اوشلیدل دَ دے وجے نه هغے ته عام الفتق وئیلے شی (دارمی او مشکوٰة) ؟ (جواب) په دے باندے تفصیلی کلام صیانة الانسان په ص۲۴۵ س۲۴۶ کښې په اتهٔ طریقو سره کړے دے او رفاعی په التوصل کښې دَ دے حدیث په متن باندے په نههٔ طریقو سره

او په اسناد دَ دے باندے په اتو طریقو سره کلام کړے دے۔ حاصل دا دے چه دَ دے حدیث سند ضعیف او منقطع او موقوف دے او دَ استسقاء دَ پاره چه کوم په صحیح احادیثو سره مسنون طریقے ثابت دی دَ هغے نه خلاف دے دَ دے په سند کښې محمد بن الفضل سدوسی دے دَ هغه په آخر دَ عمر کښې متغیر شو یوؤ۔ بل پکښې سعید بن زید دے په هغه باندے ذهبی او ابن حجر تنقید ذکر کړے دے او ضعیف دے بل په سند کښې عمر بن مالک دے په تقریب کښې وئیلے دی چه دَ هغه اوهام وؤ۔ بل دَ دے په سند کښې ابو الجوزاء دے۔ یحیٰی بن سعید او بخاری وئیلے دی چه دَ دهٔ په اسناد کښې نظر دے آخر دا خبره ده که دا حدیث متناً سنداً صحیح وے نو بیا خو دُنیا هر وخت کښې او خصوصاً حجاز مقدس باران و ته محتاج دے نو یکار وؤ چه دا چهت یۍ تر ننه لرے کړے وے او حال دا چه روسته خلقو ور باندے گنبد جوړ کړے دے (اگرچه گنبد جوړول په هغے باندے جائز نه دی)۔

او ومه شبهه۔ په حدیث دَ ابن ماجه کښې راغلے دی چه نبی صلی الله علیه وسلّم دا دُعا خودلے ده چه څوک دَ مونځ دَ پاره دَ کور نه بهر اوځی نو دا سے دِ او وائی اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْأَلُكَ بِحَقِّ السَّائِلِیْنَ عَلَیْكَ وَبِحَقِّ مَمْشَایَ هٰذَا اِلَیْكَ (الحدیث)؟ (جواب) روح المعانی ص۱۲۷/۶ کښې وئیلے دی دَ دے په سند کښې عوفی دے او په هغه کښې ضعف دے او که فرض شی چه دا کلام دَ نبی صلی الله علیه وسلّم دے نو مراد دَ حق نه وعده دَ اجابت ده چه ثابته ده دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه فضلاً او واجب نه ده په هغه باندے رنو دا حق تفضلی دے لیکن مخکښې ذکر شویدی چه فقهاء احنافو سوال بحق فلان مطلقاً مکروه گنړلے دے ځکه چه موهم لفظ دے) دا رنگ صیانة الانسان دَ ص۹۶ نه تر ص۱۰۲ پورے په سند دَ دے باندے تفصیلی کلام کړے دے حاصل یۍ دا دے چه په سند دَ دے حدیث کښې عطیه عوفی دے اگرچه دَ هغه په باره کښې اختلاف دے لیکن راجح دا ده چه دے ضعیف دے ذهبی په میزان کښې او الکاشف کښې او ابن قیم په زاد المعاد کښې (په باب دَ سنت دَ جمعه کښې) او هیثمی په مجمع الزوائد کښې او ابن حجر په تهذیب کښې دا کلام ذکر کړے دے۔

اتمه شبهه - دَ طبراني په کبير کښ اواوسط کښ او ابن حبان او حاکم حديث ذکر کړے دے چه په هغے کښ بحق نبيك والانبياء الذين من قبلى ذکر دے ؟ (جواب) دَ دے په سند کښ روح بن الصلاح المصرى دے ابن عدى هغه ته ضعيف وئيلے دى ابن حبان او حاکم اگر چه ورته ثقه وئيلے دى ليکن محدثينو وئيلے دى چه توثيق دَ دے دواړو باندے اعتماد نشى کيدلے (صيانة الانسان ص۱۲۳ او ص۳۸۶ او ص۲۷۶).

تهمه شبهه - حديث دے چه ستاسو څه حاجت وى الله تعالى ته نو داسے وايئ (فَاسْئَلُوا اللهَ بِجَاهِى فَاِنَّ جَاهِى عِنْدَ اللهِ تَعَالىٰ عَظِيْم) ؟ (جواب) الوسى وئيلے دى داخو دَ عامو خلقو وينا ده داخو په اهلِ علمو کښ هيچا نقل کړے نه دے او نه په کتابونو دَ حديث کښ شته دے (روح المعانى ص۱۲۷) او صيانة الانسان ص۳۵۷ کښ وئيلے دى چه دا حديث موضوعى دے او په ص۱۸۵ کښ وئيلے دى چه لفظ دَ جاه په وسيله کښ وئيل بدعتِ مذمومه دے ځکه چه په هيڅ نص کښ ثابت نه دے.

لسمه شبهه - بخارى حديث دَ ابن عمر رضى الله عنه کښ راوړے دى چه ما څخ دَ نبى صلى الله عليه وسلم ته نظر کوؤ چه استسقاء ئے کوله او اوبه دَ هرے پرنالے نه رابهيدلے نو دا شعر دَ ابو طالب راته راياد شو (په مدح دَ نبى صلى الله عليه وسلم کښ) ؎

وَاَبْيَضُ يُسْتَسْقَى الغمام بِوَجْهه ثِمَالُ الْيتامىٰ عِصْمَةٌ لِلْاَرَامل

(او سپين دے چه دَ وريځو نه باران دَ هغه په مخ طلب کيږى - غمخوار دَ يتيمانانو دے بچ کوؤنکے دَ کونډو بنځو دے) - نو په دے کښ وسيله بوجه النبى ثابته شوه ؟ - جواب الفاظ دَ ابن عمر رضى الله عنهما دليل دے چه صحابو به داسے دُعا نه لوستله صرف ده ته په وخت دَ دُعا دَ استسقاء کښ دا شعر راياد شو - نو معلومه شوه چه مراد دَ دے نه په قول دَ ابو طالب کښ برکت دَ حضور دَ ذات دَ هغه دے او حضور دَ هغه سبب دَ ياره دَ دفع دَ عذاب دے په دليل دَ دے ايت دَ سورة انفال سره وَمَا كَانَ اللهُ لِيعذبهم وَاَنْتَ فِيهِمْ س۳۳ - نو مراد دا شو چه نبى صلى الله عليه وسلم به حاضر وؤ او خلقو به دَ باران دَ ياره دُعا غوختله نو هغه دُعا به قبليدله.

لَوْ اَنَّ لَهُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا وَّ مِثْلَهٗ

کہ چرے شی دوی لرہ ھغہ څہ چہ پہ زمکہ کښں دی ټول او پشان دَ ھغے

مَعَهٗ لِیَفْتَدُوْا بِهٖ مِنْ عَذَابِ یَوْمِ الْقِیٰمَةِ

وردسرہ نور شی دے دَ پارہ چہ بدلہ کښں ئے ورکړی دَ عذاب دَ ورځ دَ قیامت نہ

مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ ۚ وَ لَهُمْ عَذَابٌ اَلِیْمٌ ﴿٣٦﴾

قبول بہ نہ کړے شی دَ دوی نہ او دوی لرہ عذاب درد ناک دے۔

یُرِیْدُوْنَ اَنْ یَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَ مَا هُمْ

غواړی بہ دوی چہ اوځی دَ اور نہ او نہ بہ وی دوی

تنبیہ دَ دے نہ علاوہ نور ھم څہ روایات شتہ چہ ھغہ ضعیف بلکہ موضوعی دی او اقوال دَ داسے خلقو شتہ دے چہ دَ ھغوی نفسِ قول دلیل شرعی نہ دے موتږ پہ دے مسئلہ کښں لږ تفصیل اوکړو ځکہ چہ دَ جاھلانو یا دَ متجاھلینو پہ دے کښں ډیر شکونہ دی او پہ عوامو باندے تلبیس کوی چونکہ دا مقام دَ تفسیر دے نو دَ دے نہ زیات تفصیل دلتہ مناسب نہ گنڑم دَ اللہ تعالیٰ نہ سوال کوؤم چہ موتږ نہ پہ قرآن کریم او پہ سنتِ صحیحہ باندے پوھہ او استقامت راکړی۔ (اللّٰھم آمین)

س۳٦ دا تخویف اخروی دے او اشارہ دہ چہ فلاح دَ پارہ دغہ مخکښں ذکر شوے امور ضروری دی او چا سرہ چہ دغہ درے اوصاف نہ وی نو ھغہ پہ ھیڅ قسم فدیہ ورکولو سرہ دَ عذاب دَ اللہ تعالیٰ نہ نشی بچ کیدلے۔ کَفَرُوْا نہ مراد ھغہ خلق دی چہ دغہ درے صفتونو نہ خالی وی۔ لِیَفْتَدُوْا بِهٖ ضمیر دَ مفرد پہ تاویل دَ مذکور من الامرین سرہ راجع دے۔

مَا تُقُبِّلَ مِنْهُمْ او پہ تفسیر دَ دیکښں ھغہ حدیث دے دَ بخاری او مسلم چہ کافر تہ بہ او ئیلے شی پہ ورځ دَ قیامت کہ تالہ ډکہ زمکہ سرۂ زر درکړے شی آیا تہ بہ ئے دَ عذاب نہ دَ بچ کیدلو دَ پارہ پہ فدیہ کښں ورکړے ھغہ بہ اووائی ھاؤ یا ربہ! اللہ تعالیٰ بہ اوفرمائی چہ ما ستا نہ پہ دُنیا کښں دَ دے نہ آسان څیز غوختلے وؤ چہ شرک مہ کوہ۔ او داسے آیات پہ سورۃ آل عمران ۹۱ س

يَخْرِجِيْنَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٣٧﴾

وتونکی دَ هغې (اور) نه، او دوی دَپاره عذاب دے همیشه۔

وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوْٓا اَيْدِيَهُمَا

او غلا کوونکے سړے او غلا کوونکے ښځه، نو پرېکړئ لاسونه دَ دوی

جَزَآءًۢ بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ

دا سزا ده په وجه دَ هغې چه کړے وی دوی، عبرتناکه سزا دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه۔ او الله تعالیٰ

عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٣٨﴾ فَمَنْ تَابَ مِنْ بَعْدِ ظُلْمِهٖ

زور اور دے حکمتونو والا دے۔ تو چاچه توبه اوکړه روستو دَ ظلم خپل نه

سورة بقره ۲۸ سـ ۱۲۳ او سورة انعام ۷ کښ هم دی۔ عَذَابٌ اَلِيْمٌ الم (درد) په دَ دے وجے نه هم وی چه په زړه کښ به ارمانونه اقسوسونه کوی۔

۳۷ مخکښ اوفرمائیل چه په فدیه سره نه بچ کیږی اوس پرے اضافه کوی چه په تختیدلو سره هم نشی بچ کیدلے۔ يُرِيْدُوْنَ سمعانی وئیلے دی چه اراده په معنیٰ دَ تمنیٰ کولو ده او سورة حج ۲۲ کښ هم دی او ایت په باره دَ کافرانو کښ دے په دلیل دَ اول ایت سره نو دا منافات نه لری دَ راوتلو دَ گناهگارانو مؤمنانو دَ جهنم نه په سبب دَ شفاعت سره۔ مُقِيْمٌ عذاب همیشه دائم چه زوال او تبدیلی او کمے به پکښ نه راځی اگرچه ترقی به پکښ کیږی۔

۳۸ ربط دا دے چه دفع دَ وهم ده هغه دا چه که اوئیلے شی چه قدیه به څکه نه قبلیږی چه دَ مال دَ دنیا دَ الله تعالیٰ په تیز هیڅ احترام نیشته نو جواب اوشو چه احترام دَ مال په شرع کښ دا دے چه په سرقه دَ مال سره لاس پرېکیږی۔ او دَ دے تعلق دَ انما جزاء الذین یحاربون اه سره دے یعنی هغه حکم دَ هغه چا وو چه ښکاره په زور ونیا سره مالونه دَ خلقو نه اخلی او اوس حکم دَ هغه چا دے چه په پټه او حیلو سره دَ خلقو نه غلا کوی۔ وَالسَّارِقُ اه ایت اگرچه عام او مطلق دے لیکن دَ احادیثو صحیحه په وجه سره دَ مال نصاب مقرر کړے شوے دے چه

وَاَصْلَحَ فَاِنَّ اللّٰهَ يَتُوْبُ عَلَيْهِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او نیک ئے کړو عمل خپل نو یقیناً اللہ تعالیٰ توبه قبلوی د دهٔ ۔ یقیناً اللہ تعالیٰ

هغه قیمت د مجن (ډال) دے په حدیث صحیح کښ راغلے دی اګرچه په هغې کښ اختلاف د مجتهدینو دے او خوارج (د انکار حدیث د وجے نه) د نصاب د سرقے قول نه کوی۔ (سوال) السارق مذکر ئے په څه وجے مخکښ راوړے دے؟ (جواب) چه غلا ګانے کول په نارینو کښ اکثر وی په نسبت د زنانو سره۔ فَاقْطَعُوْا مراد د دے نه دا سے پریکول دی چه جدا شی د بدن نه۔ (سوال) سورة یوسف کښ راغلی دی ”فَقَطَّعْنَ“ هلته معنیٰ زخمی کول دی او الفاظ یو بل ته نیزدے دی نو دلته معنیٰ د پریکولو په جدا کولو سره څنګه صحیح کیږی؟ (جواب) سورة یوسف کښ معنیٰ مجازی مراد کړے شویده د یو قرینے د وجے نه او هغه هم قول د بعض مفسرینو دے نو دا ضروری نه ده چه د قطع معنیٰ دِ بل ځائے هم دا وی بلکه کوم ځائے چه معنیٰ حقیقی امکان لری او قرینه د مجاز نه وی نو لفظ به په معنیٰ حقیقی باندے حمل کیدے شی په ایت د سرقه کښ یله قرینه هم نیشته او په سلفو کښ د هیڅ مفسر قول نیشته چه د قطع معنیٰ مجازی دِ واخستلے شی۔ او دے باره کښ احادیث صراحتًا راغلے دی لکه مستدرک ص ۳۸۱/۴ او نصب الرایه ص ۳۷/۳، بل حدیث دارقطنی نقل کړیدے ص ۱۸/۳۔ او لفظ د قطع په قرآن کښ په مختلفو معانیو سره استعمال شویدے، تفصیل د پاره د لغت کتاب لسان العرب ص ۳۲۰/۱۱ ملاحظه کړئ۔

اَیْدِیَهُمَا (سوال) جمع (ایدی) ولے ذکر کړے نه ده؟ (جواب ۱) په السارق والسارقة کښ جنس مراد دے نو دلالت کوی په جمع باندے او ضمیر د تثنیه په اعتبار د ظاهر لفظ سره دے۔ (جواب ۲) زجاج او فراء وئیلے دی هر اندام د انسان چه د هغې نه دوه ذکر کیږی نو په لفظ د جمع سره وی لکه صَغَتْ قُلُوْبُكُمَا، نو یمین د هر انسان یو یو دے نو چه د دوه کسانو (مذکر او مؤنث) لاسونه ذکر کیږی نو جمع به مضاف کیږی تثنیے ته او مراد د لاسونو نه په اول ځل کښ ښی لاسونه دی په سبب د حدیث او قراءت د عبدالله بن مسعودؓ او په عمل د خلفاء راشدینو سره۔

غَفُوۡرٌ رَّحِیۡمٌ ﴿۳۹﴾ اَلَمۡ تَعۡلَمۡ اَنَّ اللّٰہَ لَہٗ

بخنه کوونکے رحم کوونکے دے۔ آیا نه پوهیږے ته چه یقیناً الله تعالیٰ لره ده

(سوال) دلته امر شوید ے په قطع دَ آله (اندام) دَ سرقے سره چه لاس دے او په زنا کښ قطع دَ آله دَ زنا سره حکم نیشته؟ (جواب ۱) دواړه حکمونه په حکم شرعی سره ثابت دی حکمت معلومول ضروری نه دی. (جواب ۲) حکمت دا کیدیشی چه په قطع دَ لاس سره انسان دَ کسب نه پوره نه محروم کیږی او په قطع دَ آلهٔ دَ زنا سره قوت دَ مردانیت بالکل ختم شی نو فائده دَ زجر ورکولو نه پاتے کیږی (سمعانی او قرطبی په تفسیر کښ دا ذکر کړے دی).
جَزَآءًۢ بِمَا کَسَبَا بدله مناسب ده دَ عمل سره اشاره ده چه دا عمل دَ غلا په لاس بانده کیږی نو مناسب هم دا ده چه سزا لاس له ورکړے شی لکه چه ابولهب په لاسونو سره نبی صلی الله علیه وسلم ته ډیر ایذا رسولے وه نو "تَبَّتۡ یَدَاۤ اَبِیۡ لَهَبٍ" ذکر شو۔ نَکَالًا مِّنَ اللّٰہِ نکال هغه سزا وی چه په سبب دَ عبرت دَ هغے سره منع شی دَ ارتکاب دَ داسے عمل نه په ایند ه زمانه کښ دغه کوونکے او نور تماشه کوونکے هم۔ وَاللّٰہُ عَزِیۡزٌ حَکِیۡمٌ دَ اصمعی نه روایت دے چه هغه په غلطئ سره پدے ایت کښ غفور رحیم اولوستلو نو یو بانډچی په خوا کښ وو تپوس ئے اوکړو چه دا دَ چا کلام دے نو ما ورته اوئیل چه دَ الله کلام دے نو هغه اوئیل چه داسے کلام دَ الله نشی کیدلے نو زه پخپلے غلطئ بانده پوهه شوم نو زر م اولوستلو عزیز حکیم نو هغه اوئیل چه دا دَ الله تعالیٰ کلام دے ځکه دَ سزا سره لائق عزیز او حکیم صفت دے۔
۳۹ دا ترغیب دے توبه کولو ته دَ دے جرم نه اشاره ده چه یوائے عقوبت دَ ګناه دَ ختم کولو دَ پاره کافی نه دے خو پورے چه توبه نه وی۔ مِنۡۢ بَعۡدِ ظُلۡمِهٖ ظلم نه مراد سرقه کول دی۔ وَاَصۡلَحَ یعنی لکه چه دَ غلا نه توبه کړی نو دغسے دَ هر ګناه نه توبه او باسی دَ هغه جرم په ځائے بانده بل جرم نه کوی۔ فَاِنَّ اللّٰہَ یَتُوۡبُ عَلَیۡهِ په توبه سره حد نه ساقطیږی توبه خو قبوله ده او پریکول دَ لاس دَ پاره دَ نکال او دَ عبرت دی لکه چه مخکښ تیر شول۔

مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ يُعَذِّبُ مَنْ

بادشاهي دَ اسمانونو او دَ زمکے ۔ عذاب ورکوی چاله

يَّشَآءُ وَيَغْفِرُ لِمَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ

چه اوغواړی او بخنه کوی چاته چه اوغواړی ۔ او الله تعالیٰ په هر

شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿٤٠﴾ يٰۤاَيُّهَا الرَّسُوْلُ لَا يَحْزُنْكَ

خیز قدرت لرونکے دے۔ اے رسوله (صلی الله علیه وسلم)! نه دے خفه کوی تا لره

الَّذِيْنَ يُسَارِعُوْنَ فِى الْكُفْرِ مِنَ الَّذِيْنَ

هغه کسان چه تادی کوی په کاردونو دَ کفر کښِ دَ هغه کسانو نه چه

قَالُوْۤا اٰمَنَّا بِاَفْوَاهِهِمْ وَلَمْ تُؤْمِنْ

وائي ایمان راوړے دے مونږه، په خلو د دوی سره او ایمان نه دی راوړے

قُلُوْبُهُمْ ۛۚ وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا ۛۚ سَمّٰعُوْنَ

زړونو دَ دوی۔ او دَ یهودیانو نه ، غوږ بردی

لِلْكَذِبِ سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ ۙ

دَ پاره دَ دروغو (جوړولو په تابانده ے) غوږ بردی دَ پاره دَ قوم نور

لَمْ يَاْتُوْكَ ؕ يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ مِنْ بَعْدِ

چه نه وی راغلی تا ته ۔ بدلوی کلمے دَ الله تعالیٰ روستو دَ

معٌ ٣ الوقف علی الاول اجوز ١٢

سنٛ۴ دا خطاب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد تربیته تنبیه ده عام
انسانانو ته چه حدود سابقه به په هر مجرم باندے جاری کیږی ځکه
چه الله تعالیٰ مطلق بادشاه او اختیار مند دے هغه دَ چا دَ یرے
نه یا دَ مینے نه نه مجبوره کیږی او هر کله چه بادشاهی خاص دَ الله تعالیٰ دَه
نو هغه خوخه ده چه په بعض جرم باندے دَ قتل او صلیب سزا ورکوی
او په بعض باندے دَ قطع دَ لاس سزا ورکوی۔

مَوَاضِعِهٖ ۚ يَقُولُونَ إِنْ أُوتِيتُمْ هٰذَا

ځایونو دَ هغې نه. وائي دوی که درکړےشي تاسو ته دا حکم

فَخُذُوهُ وَإِنْ لَّمْ تُؤْتَوْهُ فَاحْذَرُوا ۚ

نو قبلوئ هغې لره او که درنکړےشي دا حکم تو ځان بچ اوساتئ.

وَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ فِتْنَتَهٗ فَلَنْ تَمْلِكَ لَهٗ

او هغه څوک چه اوغواړي الله تعالیٰ گمراهي دَ هغه تو هیچرے اختیار نه لرے ته هغه لره

مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا ۚ أُولٰٓئِكَ الَّذِينَ لَمْ

دَ نیز دَ الله تعالیٰ نه دَ څه څیز. دغه کسان نه ده کړے

يُرِدِ اللّٰهُ أَنْ يُّطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ ۚ لَهُمْ فِي

اراده الله تعالیٰ چه پاک کړي زړونه دَ دوی. دوی لره په

الدُّنْيَا خِزْيٌ ۖ وَّلَهُمْ فِي الْاٰخِرَةِ

دنیا کښ شرمندگی ده او دوی لره په آخرت کښ

عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿٤١﴾ سَمّٰعُونَ لِلْكَذِبِ

عذاب لوئے دے. څه اوری دروغ خبرے

سل۴۱ دَ دے ایت نه دَ سورة دویمه حصّه ده تر سل۶۵ پورے او په دے کښ دوه بابونه دی اول باب دے تر سل۵۰ پورے په دیکښ خطاب دے رسول ته دَ پارهٔ دَ تسلّیٔ او اوصاف دَ یهودیانو لس ذکر کوی دَ پارهٔ دَ زجر په حال دَ هغوی بانده۔ بیا ذکر دَ کتب ثلٰثه دے (توراۃ، انجیل او قرآن) چه په دے ټولو کتابونو کښ عقود دَ الله تعالیٰ دی او دَ هغې ترک سبب دَ کفر او دَ ظلم او دَ فسق دے۔ او ربط دَ دے ایت دَ مخکښ سره دا دے چه کوم حدود بیان شول نو په رسول صلی الله علیه وسلّم بانده دے دَ هغې اجراء لازمه ده بغیر دَ پرواه کولو دَ منافقانو او یهودیانو نه۔

يَآ اَيُّهَا الرَّسُوْلُ خطاب په دے صفت سره دَ پارهٔ دَ ترغیب او تشجیع دے

لَا يَحْزُنْكَ (سوال) انسان شفقت کوؤنکے خو ضرور خفه کيږی په کفر او په معصيت
کولو دَ خلقو باندے ؟ (جواب) مراد دَ دے نه عمل دَ دے کافرانو دے چه
په دے سره تا ته هيځ ضرر او نقصان نه رسيږی . (سوال) حزن خو امر
غير اختياری دے نو دَ دے نهی خو صحيح نه ده ؟ (جواب) مراد دَ دے نه
آثار دَ حزن ښکاره کول دی يعنی کار دَ دعوت پرېږده او په هغے کښې
مداهنت کول دَ وجے دَ حزن نه . يُسَارِعُوْنَ مراد دَ مسارعت نه بے فکره
او بے دليله او په مينه سره کفر او دَ کفر کارونه کول دی . فِي الْكُفْرِ
حرف دَ فی دلالت کوی چه دوی په کفر کښې ښخ پاخه دی . مِنَ الَّذِيْنَ قَالُوْا اٰه
دا بيان دَ مسارعينو دے په ذکر دَ دوه فريقو سره اول فريق منافقان دی .
وَمِنَ الَّذِيْنَ هَادُوْا دا دويم فريق دے . سَمّٰعُوْنَ اٰه دا صفتونه په يهودو
کښې وو او په منافقانو هم کله کله ښکاره کيدل . دلته سمع په معنیٰ دَ قبلولو
سره ده لکه سمع الله لمن حمده کښې . لِلْكَذِبِ هغه چه دَ دوی علماؤ دَ
ځان نه مسئلے جوړے کړے دی او دوی يې بے دليله قبلوی دا خالص تقليد دے .
سَمّٰعُوْنَ لِقَوْمٍ اٰخَرِيْنَ دا وصف دَ جاسوسئ کولو دے چه منافقانو به
جاسوسی دَ يهودو دَ پاره کوله او يهوديانو کشرانو جاسوسی کوله دَ پاره
دَ لويو ملايانو خپلو . لَمْ يَأْتُوْكَ دَ وجے دَ تکبر نه به دَ نبی صلی الله عليه
وسلم مجلس ته نه حاضريدل . يُحَرِّفُوْنَ الْكَلِمَ دا صفت دَ قوم دے ځکه
تحريف کول دَ لويو ملايانو کار وو . او مراد دَ تحريف نه تاويلونه کول دی
په خپل رائے او خواهش سره . مِنْ بَعْدِ مَوَاضِعِهٖ . دلته يې لفظ دَ من بعد
راوړے دے اشاره ده تحريف لفظی او معنوی دواړو ته او په سورة نساء
ع۴٦ او دَ دے سورت په ع١٣ کښې بعد نه وو ذکر کړے هلته اشاره وه
تحريف معنوی ته . او دا رنګ په لفظ دَ بعد کښې اشاره ده چه دَ دوی
تحريف کول سبب وو دَ پاره دَ دا سے مقصد چه دَ کلام دَ الله تعالیٰ نه به
ډير لرے وو لکه هغه واقعه چه سبب دَ نزول دَ دے آيا تونو دَ پاره
مفسرينو ليکلے ده په هغے کښې ذکر دی چه دوی دَ حکم دَ رجم تحريف
کړے وو جلد او مخ تورولو ته نو دا دَ لفظ دَ رجم نه ډير لرے تاويل
کول دی . يَقُوْلُوْنَ اٰه دا وصيت کول دی دَ مشرانو يهوديانو هغه کشرانو
ته چه کله کله به مجلس دَ رسول الله عليه وسلم ته راتلل .

أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ ۚ فَإِن جَآءُوكَ فَٱحْكُم

دیر خوری حرامو لره - پس که راشي دوی تا ته نو فیصله اوکړه

بَيْنَهُمْ أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ ۖ وَإِن تُعْرِضْ

په مینځ د دوی کښې یا مخ واړوه د دوی نه او که مخ واړوے

عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْـًٔا ۖ وَإِنْ حَكَمْتَ

د دوی نه تو هیچرے اوبه نه رسوی تا ته هیڅ ضرر - او که فیصله کوله تا

فَٱحْكُم بَيْنَهُم بِٱلْقِسْطِ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ

نو فیصله کوه په مینځ د دوی کښې په انصاف - یقیناً الله تعالیٰ مینه کوی

ٱلْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾ وَكَيْفَ يُحَكِّمُونَكَ وَعِندَهُمُ

د انصاف کوونکو سره - او څه رنګ به فیصله اوکړی دوی په تا باندے او د دوی سره

إِنْ أُوتِيتُمْ هَٰذَا په هذا سره اشاره ده حکم محرّف ته لکه جلد او مخ تورول په ځائے د حکم د رجم - وَمَن يُرِدِ اللَّهُ فِتْنَتَهُ دا زجر دے د طرف د الله تعالیٰ نه په دغه تحریف کوؤنکو باندے - فتنته په معنیٰ د ګمراه کول او شرمنده کول او عذاب ورکول په دنیا او اخرت کښې - فَلَن تَمْلِكَ لَهُ د تسطیع او تقدر په معنیٰ دے - لَمْ يُرِدِ اللَّهُ أَن يُطَهِّرَ قُلُوبَهُمْ پاکوالے د کفر او منافقت نه دا دواړه جملے دلیل دے چه فتنه (ګمراهي) په مشیت او ارادے د الله تعالیٰ سره ده او ایمان (پاکوالے) هم په ارادے د هغه سره دے.

تنبیه په دے ایت کښې اووه اوصاف د هغوی ذکر شول.

۴۲ په دے ایت کښې د هغه یهودیانو نور حالات ذکر کوی - سَمَّٰعُونَ لِلْكَذِبِ اول سماعون په معنیٰ د قبلوؤنکی د دروغو خبرو - دویم سماعون په معنی د جاسوسیٔ کول او دا (دریم) کرت معنی دا چه دوی که چرے نبی صلی الله علیه وسلّم ته غوږ ږدی نو د دے د پاره چه په هغه دروغ جوړ کړی یا مکرر دے د تاکید د پاره - أَكَّٰلُونَ لِلسُّحْتِ اکالون صیغه د مبالغے د پاره د کثرت او اصرار کوؤلو په دغه ګناه باندے سحت په اصل کښې بیخ کندئ ته وئیلے شی او حرامو ته سحت د دے وجے نه وئیلے شی چه د برکت بیخ

التَّوْرٰىةُ فِيْهَا حُكْمُ اللّٰهِ ثُمَّ يَتَوَلَّوْنَ

تورات دے | په هغے کښ | فیصله | دَ الله تعالیٰ ده | بیا | مخ | اړوی | دوی

کندے کوی او بیا په هلاکت بانندے ئے هم اطلاق کیږی. قرطبی دَ سحت ډیر افراد لیکلے دی رشوت اخستل، یا دِ حاجت څوک پوره کړی او په هغے بانندے هدیه قبلوے دا رنګ چه سړے دَ خپل مرتبے (دَ زور) په وجه سره دَ خلقو نه څه اخلی او نیشاپوری وئیلے دی چه سحت هغه حرام ته وئیلے شی چه دَ هغے په اخستلو کښ شرم محسوس کیږی لکه رشوت او مزدوری دَ زنا کارئ. او دَ عسب الفحل (نر څاروے په ماده بانندے خیژول او په هغے بانندے مزدوری اخستل). او کسب دَ حجام، او قیمت دَ سپی او دَ شرابو او دَ مردارے او اجرت اخستل دَ کاهن نو دا ټول هغه حرام دی چه خلق ئے پټ کوی دَ وجے دَ شرم نه او په دغه مال کښ هیڅ برکت نه وی او اولسی پړے کښ هغه مال هم داخل کړے دے چه دَ دین په وجے سره ئے ګټه کوی یعنی دین پرے بربادوی.

تنبیه دا دواړه اوصاف ئے یو ځائے ذکر کړل ځکه چه کسب دَ دغه حرامو (خصوصًا رشوت) بغیر دَ دروغو نه نه حاصلیږی. فَاِنْ جَآءُوْكَ الخ په دے ایت کښ دَ مفسرینو دوه قولونه دی اول دا چه دا منسوخ دے په ایت "وان احکم بینهم بما انزل الله" سره یعنی دَ کافرانو په مینځ کښ شرعی فیصلے کول په حاکم مسلمان بانندے لازم دی او دویم قول دا دے چه په سورۃ مائده کښ منسوخ نیشته نو ذمیان کافران چه فیصلے راوړی نو دَ حاکم اختیار دے که فیصله کوی او که نه کوی او دا قول اکثر اهلِ علمو غوره کړے دے نور تفصیل قرطبی ذکر کړے دے. بِالْقِسْطِ یعنی دَ کافرانو په مینځ کښ چه هر کله فیصله کیږی نو په انصاف سره به کیږی او هغه قرآن او سنت دے. قسط په اصل کښ حصے ته وئیلے شی او انصاف هم دا دے چه هر انسان ته دَ هغه حصه ورکړے شی.

تنبیه په دے ایت کښ دَ یهودیانو یو وصف ذکر شوے دے.

ع ٩ ١٠

مِنۢ بَعۡدِ ذٰلِكَ ؕ وَمَاۤ اُولٰٓئِكَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ ﴿۴۳﴾ ع

روستو دَ دیته ۔ او نه دی دوی مؤمنان ۔

اِنَّاۤ اَنۡزَلۡنَا التَّوۡرٰىةَ فِيۡهَا هُدًى وَّنُوۡرٌ ۚ

یقیناً نازل کړیدے موږ تورات په هغے کښں هدایت وو (دَعقیدے) او رڼا وه (دَ عمل)

يَحۡكُمُ بِهَا النَّبِيُّوۡنَ الَّذِيۡنَ اَسۡلَمُوۡا

فیصلے کولے په هغے سره پیغمبرانو هغه کسان چه تابع وو دَ حکم دَ الله تعالیٰ

لِلَّذِيۡنَ هَادُوۡا وَالرَّبّٰنِيُّوۡنَ وَالۡاَحۡبَارُ

هغه کسانو لره چه یهودیان وو، او خدائی خلقو او علماؤ

بِمَا اسۡتُحۡفِظُوۡا مِنۡ كِتٰبِ اللّٰهِ وَكَانُوۡا

په سبب دَ دے چه حفاظت غوښتے شوی وو دَ دوینه دَ کتاب دَ الله تعالیٰ او وو دوی

عَلَيۡهِ شُهَدَآءَ ۚ فَلَا تَخۡشَوُا النَّاسَ

په هغے باندے خبردار، (وئیلے شوی وو دوی ته) چه پس مه یریږئ دَ خلقو نه

وَاخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُوۡا بِاٰيٰتِىۡ ثَمَنًا قَلِيۡلًا ؕ

او یرهٔ کوئ ځما نه او مه اخلئ په آیاتو ځما بدله لږه (دُنیا)

۴۳ دا هم یهودو ته زجر دے او دَ هغوی دوه قبیح اوصاف نور ذکر کوی او په دے کښں اشارہ ده چه یهودیانو په فیصله راوړلو کښں او شرع قائم کول مقصد نه وو بلکه اسانه طریقه ئې ځان له طلب کوله۔

فِيۡهَا حُكۡمُ اللّٰهِ مراد دَ دے نه هغه حکم دَ تورات دے چه په قرآن سره منسوخ شوے نه وی لکه رجم شو یا قصاص شو۔

ثُمَّ يَتَوَلَّوۡنَ اه دا عطف دے په یحکمونك باندے یعنی ستا په تحکیم باندے عمل نه کوی۔

وَمَاۤ اُولٰٓئِكَ بِالۡمُؤۡمِنِيۡنَ قرطبی وئیلے دی چه دَ دے نه معلومه شوه چه څوک په حکم شرعی باندے راضی نه وی او بل قانون ته خپله فیصله اړوی نو هغه کافر دے او دا دَ یهودو حالت هم وو۔

وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ

او چاچه فیصله اونکړه په هغه حکم چه نازل کړيږے الله تعالیٰ نو دغه کسان

هُمُ الْكٰفِرُوْنَ ﴿٤٤﴾ وَكَتَبْنَا عَلَيْهِمْ فِيْهَآ

دوی کافران دی۔ او فرض کړیدے مونږه په دوی باندے په دے (تورات) کښې

سـ۴۴ په دے کښې زجر دے یهودو ته چه دوی دَخپل کتاب نه مخ کرځوؤ نو دَ
دوی هیڅ عذر نه وؤ بلکه دا دَ خپلو مشرانو نه هم مخالفت کول دی او ترغیب
دے چه په تورات باندے دَ مشرانو په طریقے سره عمل کوئ او دَدے ایت
نه تر سـ۴۸ پورے ذکر دَ درے کتابونو دَ الله تعالیٰ دے چه دا دَ فیصلو دَپاره
نازل شوے دی صرف دَ تلاوتونو او ختمونو دَپاره نه دی نازل شوے
او هر کله چه زبور کتاب چه داؤد علیه السلام ته رالیږلے شوے وو په هغے
کښې فضائل او اذکار وؤ احکام پکښې نوؤ بلکه هغوی مکلّف وؤ په احکامو
دَ تورات باندے دَ دے وجے نه دَ زبور ذکر ئې دلته نه دے کړے.
فِيْهَا هُدًى وَّنُوْرٌ په دے کښې اول فرق دا دے چه مراد دَ الهدیٰ نه بیان
دَ حق دے دَ عقیدے او دَ اعمالو او مراد دَ نور نه دفع دَ شبهاتو دَه
په ذکر دَ دلیلونو سره دویم دا چه الهدیٰ احکام او شرائع دی۔ او النور
بیان دَ توحید او دَ عقیدے دے۔ يَحْكُمُ بِهَا النَّبِيُّوْنَ اشاره ده چه مقصد
دَ نزول دَ تورات حکمونه او فیصلے کول وؤ په هغے باندے لیکن موافق
دَ شرح دَ انبیاؤ سره۔ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا دا صفت دَپاره دَ مدح دے لیکن
مقصد په دے کښې رد دے په یهودیانو چه انبیاء ټول په دین اسلام
متفق وؤ او تاسو دَ هغے نه خلاف کوئ ۔ لِلَّذِيْنَ هَادُوْا اشاره ده چه
تورات خاص وؤ په هغوی پورے زمونږ دَپاره دَ هغے تشریع عام نیشته
لام په معنیٰ دَ علیٰ دے یا متعلق دے په هدیٰ و نور پورے۔
وَالرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ دَ دے فرق په دوه وجو سره دے اول دا چه
ربانیون هغه علماء دی چه په هغوی باندے وصف دَ عبادت او زُهد
غالب وی په نسبت دَ علم سره او احبار هغه دی چه په هغوی کښې وصف
دَ علم غالب وی په عبادت باندے او دا دواړه جمع کوؤنکی دَ علم او دَ عمل دی

او دَ لفظ دَ ربانیون شرح په سورة العمران ۷۹ کښې دی۔ او دویمه وجه دَ فرق دا ده چه ربانیون هغه دی چه مرتبې دَ اجتهاد ته رسیدلي وي او احبار عام علماء دي۔ خو دواړه په دې صفت سره متصف دي چه فیصلې په کتاب دَ الله تعالیٰ باندې کوي۔ اَحْبَارُ جمع دَ حِبر یا دَ حَبر ده او غوره پکښې زور ده حاء دې او وجه دَ تسمیې دا ده چه حَبر هغه دې چه عالم وي په تحبیر (خائسته کولو) دَ عباراتو باندې سره دَ معانی نه۔

بِمَا اسْتُحْفِظُوا مِنْ كِتٰبِ اللّٰهِ اه په دې سره ذکر دَ دوه سببونو دې دَ پاره دَ ماقبل (یحکم) اول سبب دا دې چه الله تعالیٰ په دوی باندې حفاظت دَ کتاب الله لازم کړې او حفاظت عام دې دَ الفاظو او دَ معانو په درس وتدریس سره دَ تحریف او تغییر نه بچ کول او دَ هغې اجراء دَ قانون په طور سره په خلقو کښې۔ وَكَانُوا عَلَيْهِ شُهَدَآءَ دا دویم سبب دې۔ شهادت په معنیٰ دَ علم دې سره دَ تصدیق دَ حقانیت دَ دغه کتاب نه، خازن وئیلي دي چه دا وعده دَ ټولو علماؤ نه اخستلې شوې ده په باره دَ کتاب الله کښې (چه قرآن دې)۔

تنبیه خصوصیت دَ قرآن کریم دا دې چه الله تعالیٰ دَ هغې دَ حفاظت ذمه پخپله اخستلې ده لکه په سورة حجر ۹ کښې دي او دَ تورات انجیل حفاظت ئې ربانیون او احبار ته سپارلې وو روستو دَ انبیاو نه۔

فَلَا تَخْشَوُا النَّاسَ اه دا ذکر دَ دوه اوصافو دې دَ پاره دَ حق (کتاب الله) دعوت او بیان کولو اول خشیت الٰهی دې او دَ مخلوق دَ وجې کتمان او مداهنت نه ځان بچ کول دي، دویم وَلَا تَشْتَرُوا بِاٰيٰتِيْ ثَمَنًا قَلِيْلًا یعنی دَ حرص دَ دنیا په وجې سره حق پټول یا مداهنت کول یا تحریف کولو نه ځان ساتل۔ ثَمَنًا قَلِيْلًا خازن او نسفي وئیلي دي چه دا شامل دې رشوت او طلب دَ جاه وعزت ته او رضا دَ خلقو، او نور تحقیق دَ دې په سورة بقره ۴۱ کښې دې۔ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ په دې ایت سره دلیل نیولې دې خوارجو هغوي وائي چا چه یو کبیره ګناه اوکړو لکه ترک دَ یو حکم بما انزل الله تو هغه کافر دې دَ اسلام نه بالکل خارج دې او مسلک دَ اهلِ سنت دا دې چه په ارتکاب دَ کبیره سره دَ اسلام نه نه خارجیږي خو پوره چه انکار عمدًا

أَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ ۙ وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ

چه نفس (تن) په قصاص کېږی په بدله د نفس کښې او سترګه په بدله د سترګه کښې

وَالْأَنْفَ بِالْأَنْفِ وَالْأُذُنَ بِالْأُذُنِ وَالسِّنَّ

او پوزه په بدله د پوزه کښې او غوږ په بدله د غوږ کښې او غاښ

بِالسِّنِّ ۙ وَالْجُرُوحَ قِصَاصٌ ۚ فَمَنْ تَصَدَّقَ

په بدله د غاښ کښې او نور زخمونه (هم) دی بدلے والا۔ پس چا چه معافے اوکړو

بِهٖ فَهُوَ كَفَّارَةٌ لَّهٗ ۚ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ

پدے (قصاص) سره نو دا کفاره ده د ګناهونو د ده۔ او چا چه فیصله او نکړه په هغه حکم چه

أَنْزَلَ اللّٰهُ فَأُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٥﴾

نازل کړیدے الله تعالیٰ نو دغه کسان بس دوی ظالمان دی۔

یا توهین د حکم شرعی ئے ته وی کړے۔ نو د دے ایت په باره کښې د ا هل سنت یو قول دا دے چه دا خاص دے په یهودو پورے لیکن دا قول ضعیف دے دویم قول د عکرمه نه نقل دے چه دا په باره د جاحد (منکر) کښې دے او په حکم د انکار کښې استخفاف (یعنی سپک ګنړل) هم داخل دی او دا قید لګول په قرینه د نورو نصوصو سره دی چه د هغے نه ثابت دی چه په ګناهِ کبیره کولو سره کفر ته راځی۔ دویم قول د طاؤس نه نقل دے چه د ایت معنیٰ ظاهری مراد ده یعنی کافر دے لیکن په طریقه د کفر دون کفر سره یعنی د ملّتِ اسلامیه نه نه اوځی او دا قول ابن قیم هم په بدائع التفسیر کښې غوره کړے دے او د ابن عباس او د طاؤس او عطاء نه ئے نقل کړے دے۔ څلورم قول دا دے چه مراد د ما انزل الله نه ټول ما انزل الله دی یعنی چه په ټول ما انزل الله (چه په هغے کښې عقیده د توحید او نبوت هم داخل ده) باندے حکم او عمل پریږدی نو کافر دے۔ ابن قیم رح دے توجیه ته ضعیف وئیلے دی ځکه چه لفظ د ما عام دے په جمیع پورے خاص نه دے۔

۴۵ دا په طریقه د زجر سره دے په یهودیانو باندے یعنی یهودیانو

وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ بِعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ

او را اولیږ و مونږ په نقش قدم د دوی باندې عیسٰی (علیه السّلام) ځوئے د مریم

دَ هغه کتاب (تورات چه مخکښې ئې صفتونه ذکر شول) په حکم دَ قصاص کښې مخالفت کړے دے لکه چه په حکم دَ زنا دَ واده کړی شوی کښې هم خلاف کړے وؤ چه هغه تیر شوے اٰیاتونو کښې ذکر شو دوی مخالفت په حکم دَ قصاص کښې په دوه طریقے سره کړے وؤ یو دا چه دوی بنی نضیر له فضیلت ورکړے دے په بنی قریظه باندے نو چه نضیری به قرظی لره قتل کړو نو دوی به قصاص نه اخستلو او برعکس به ئې اخستلو دا رنګ دَ یو نضیری په بدل کښې به ئې دوه قرظی قصاص کول. دویم دوی حکم دَ دیت هم جاری کړے وو او حال دا چه په دوی کښې حکم دَ دیت نه وؤ. او دَ دے اٰیت حکم په قرآن والو (دے امت باندے) هم جاری دے ځکه چه الله تعالٰی دا شرع موږ ته په قرآن کریم کښې هم ذکر کړه او دَ هغے هیڅ تردید او تخصیص ئې ذکر کړے نه دے۔
اَنَّ النَّفْسَ بِالنَّفْسِ دا لفظ سړی او زنانه دواړو ته شامل دے په دے کښې به دَ مالدار او غریب او شریف نسب او ذلیل نسب فرق نه وی او دارنګ دَ یو په بدل کښې به دوه نه وژلے کیږی (چه قاتل یو وی). وَالْعَيْنَ بِالْعَيْنِ دے نه قصاص دَ اطرافو وئیلے شی په دے کښې دَ څلورو حواسو انسانیو ذکر کړے دے یو قصاص په قوتِ باصره کښې دویم قصاص په قوتِ شامه (بوئول) کښې. دریم په قوتِ سامعه کښې. څلورم په قوتِ ذائقه کښې. وَالْجُرُوْحَ قِصَاصٌ په دے کښې باقی قوتونه او اندامونه دَ بدن پریکول یا زخمی کول داخل دی په دے شرط سره چه په هغے کښې قصاص اخستل امکان لری نو دا تعمیم دے روستو دَ تخصیص نه او دا ټول حکم خاص دے په قصدی او عمداً عمل پورے په خطا کښې قصاص نیشته او دَ دے احکامو تفصیل په احادیثو او په هغه تفسیرونو کښې چه مسمّٰی دی په احکام القرآن سره اوګورئ۔
فَمَنْ تَصَدَّقَ بِهٖ په دے کښې ترغیب دے معافی کولو ته دَ دے وجے نه هغے ته ئې تصدّق اوئیل. كَفَّارَةٌ لَّهٗ دا ضمیر راجع دے مجروح او ولی دَ مقتول ته او دویم احتمال دا دے چه ضمیر راجع دے قاتل او جارح ته دَ هغه ګناه دَ ورځ دَ قیامت پورے ساقط شو۔ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الظّٰلِمُوْنَ اشاره ده

مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

تصدیق کوونکے وو دَ هغه کتاب چه دَ دینه مخکښ وو چه تورات دے

وَاٰتَيْنٰهُ الْاِنْجِيْلَ فِيْهِ هُدًى وَّنُوْرٌ

او ورکړے وو مونږ دهٔ ته انجیل په هغې کښ هدایت وو او رڼا وه

وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرٰىةِ

او تصدیق کوونکے وو دَ هغه کتاب چه مخکښ دَ دهٔ نه وو چه تورات دے

وَهُدًى وَّمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٦﴾

او هدایت او وعظ وو دَ پاره دَ پرهیزګارو۔

وَلْيَحْكُمْ اَهْلُ الْاِنْجِيْلِ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

(او ئیل مونږ) چه فیصلے دے کوی انجیل والا په هغه حکم چه نازل کړے دے الله تعالیٰ

فِيْهِ ۗ وَمَنْ لَّمْ يَحْكُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ

په انجیل کښ۔ او چا چه فیصله اونکړه په هغه حکم چه نازل کړے دے الله تعالیٰ

چا چه دَ قصاص دَ قانون نه اعراض اوکړو یا په هغې کښ ئې څه تغییر او تبدیلی اوکړه پښان دَ یهودیانو نو دا سبب دَ ډیرو ظلمونو دے او لفظ دَ ظلم کفر او ټولو ګناهونو ته شامل دے۔

ف٤٦ په دیکښ ذکر دَ دویم کتاب دَ بنی اسرائیلو دے چه انجیل دے نازل کړے شوے دے په عیسیٰ علیه السلام باندے۔ وَقَفَّيْنَا عَلٰٓى اٰثَارِهِمْ ضمیر راجع دے "النَّبِيُّوْنَ الَّذِيْنَ اَسْلَمُوْا" ته او په لفظ دَ قفینا کښ اشاره ده چه دین دَ عیسیٰ علیه السّلام او دَ مخکښو انبیاؤ بالکل یو شان وؤ۔ مُصَدِّقًا اه یعنی عیسیٰ علیه السّلام مخکښ دَ نزول دَ انجیل نه دَ تورات تابع وؤ دَ هغې بیان ئې کولو۔ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ او مصدق وصف دَ عیسیٰ علیه السلام وؤ او دویم وصف دَ انجیل دے او تصدیق منافی نه دے دَ نسخ دَ بعض احکامو سره۔ وَهُدًى اول هدایت نه مراد احکام وؤ چه هغه بعضے دَ انجیل وو څکه ئې هلته فیه ذکر کړو او دَ دے هدایت نه

فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفٰسِقُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَاَنْزَلْنَآ

نو دغه کسان دوی نافرمان دی. او نازل کړی دے مونږ

اِلَيْكَ الْكِتٰبَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ

تا ته کتاب (قرآن) دَ حق دَپاره تصدیق کوونکے دے دَ هغې چه

مراد رسوؤنکے دے حق ته باطل او غلطه خبره پکښ نیشته دے.
وَمَوْعِظَةً مراد دَ دے نه زجر او منع کوؤنکے دے دَ باطل او دَ ناحق (لارے) نه.
ﷺ مخکښ صرف اوصاف ذکر وؤ اوس مقصد دَ کتاب ذکر کوی چه هغه حکم کول دی.
وَلْيَحْكُمْ دلته قلتاً پتے دے وئیلے وو مونږ دوی ته په هغه وخت کښ، یا دا جمله
مستقله ده او مراد دَ ما انزل الله فیه نه توحید او نبوت دَ آخری نبی
دے نو تخصیص، دَ ما انزل الله دلالت کوی چه مراد تر ینه اصول دی
(یعنی مسائل دَ عقیدے). الْفٰسِقُوْنَ اشاره ده دَ هدایاتو دَ انجیل
ته مخ اړول سبب دَ فسق دے که فسق دَ عقیدے وی چه هغه کفر دے
یا فسق دَ عمل وی. (فائده ۱) په ذکر دَ الکافرون والظالمون والفاسقون
کښ اشاره ده چه پرېخودل دَ حکم الٰهی سبب دے دَ دے درے واړه
صفتونو چه کفر او ظلم او فسق دے. بیان دَ اول آیت سره دَ وصف دَ کفر
مناسبت دے هغه دا دے چه په هغې کښ ایمانیات مراد دی او مقابل
دَ ایمان کفر دے او په دویم آیت کښ قانون دَ عدل (قصاص) ذکر دے
او مقابل دَ عدل ظلم دے او په دریم کښ صفت دَ تقوٰی ذکر وؤ او مقابل
دَ تقوٰی فسق دے. (فائده ۲) دا رنګ معصیت درے قسمه دے اول په
طریقه دَ انکار سره نو هغه کفر دے دویم په طریقه دَ اعتداء کولو سره دَ حد
شرعی ته نو هغه ظلم دے او دریم په طریقه دَ نقصان کولو سره دَ حد شرعی ته
نو هغه فسق دے (فائده ۳) کفر خو په یهود او نصارٰی دواړو کښ موجود
وؤ نو اول ئے دَ هغې ذکر اوکړو بیا په یهو یانو کښ صفت دَ ظلم ډیر دے تر دے
پورے چه هغوی په خپل مخالف باندے هر قسم ظلم جائز ګنړی دَ دے وجے نه
دَ تورات والو سره ئے وصف دَ ظلم ذکر کړو او په نصارٰی کښ عقیده دَ
جواز دَ ظلم نه وه نو دَ انجیل والو سره ئے وصف دَ فسق ذکر کړے
دے.

يَدَيْهِ مِنَ الْكِتٰبِ وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ فَاحْكُمْ

مخکښې د دغه نه دی کتابونه، او څوکئی کوونکے د هغے نو فیصله کوه

بَيْنَهُمْ بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَهُمْ

په مینځ د دوی کښې په هغے چه نازل کړیدے الله تعالیٰ او تابعداری مه کوه د خواهشاتو د دوی

عَمَّا جَآءَكَ مِنَ الْحَقِّ ۭ لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ

(چه واړوی تا ډه) د هغے نه چه راغلے دے تانه حق. د هر یو د پاره مقرر کړیدے مونږ ستاسو نه

شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا ۭ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَعَلَكُمْ

(دا قرآن) شریعت او لویه لاره. او که غوښتے الله تعالیٰ نو گرځولے به ئے وئ تاسو

اُمَّةً وَّاحِدَةً وَّلٰكِنْ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ

یوه اُمت، او لیکن (اختیار ئے درکړے) دے د پاره چه ازمیښت اوکړی ستاسو په هغه څه کښې چه درکړیدی تاسو ته

فَاسْتَبِقُوا الْخَيْرٰتِ ۭ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيْعًا

نو وړاندے والے کوئ د یو بل نه نیکو کارونو ته. خاص الله تعالیٰ ته واگرځیدل ستاسو د ټولو دی

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿٤٨﴾

نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه څه باندے چه تاسو په هغے کښې اختلاف کوئ،

٤٨ روستو د ذکر د تورات او انجیل نه ذکر د قرآن کوی. بِالْحَقِّ مراد د دے نه صدق دے یعنی شک نیشته په نازلیدلو د دے کتاب کښې د طرف د الله تعالیٰ نه نو بآ د پاره د ملابست ده یا بآء سببیه ده په سبب د اثبات او اظهار د حق. مِنَ الْكِتٰبِ مفرد په معنیٰ د جنس دے مراد د دینه ټول کتابونه الٰهیه دی چه نازل شویدی د قرآن نه مخکښې. او مراد د تصدیق نه موافقت دے په مضمون د توحید، رسالت او نورمسائلو د عقیدے او اُصولو کښې دا رنګ مخکنو کتابونو کښې د دے کتاب ذکر او خبر موجود دے چه دے به لیږلے په (اخری پیغمبر) محمد صلی الله علیه وسلم باندے نو چه نازل شو نو د هغه خبر تصدیق اوشو (ابن کثیر) -

وَمُهَيْمِنًا عَلَيْهِ په معنیٰ دَ امین، شاهد او حاکم، مقصد دَ ټولو معانیو یو دے
هغه دا دے چه مخکنو کتابونو کښ چه کوم اصول او عقیدے دی نو کوم
چه دے قرآن سره موافق وی نو هغه حق دی او کوم چه دَ دے نه مخالف
دی نو هغه په اهلِ کتابو دَ ځان نه تحریف کړے وی او باطل به وی او معنیٰ
وئیلے دی چه هر کتاب چه قرآن په هغه باندے شهادت کړے وی نو هغه
به کتاب الله وی نو معلومه شوه چه دَ مجوسو او هندوانو سکهانو چه کوم
کتابونه دی هغے ته کتاب الله نشی وئیلے کیدلے ځکه چه قرآن کریم دَ
هغوی تصدیق نه دے کړے او معلومه شوه چه دا کتاب بیخ کوؤنکے دے
مخکنو کتابونو لره دَ تحریف او تغییر نه او هر کله چه په کتبِ منزله باندے
امین دے نو په کتابونو دَ بندګانو باندے خو په طریقِ اولیٰ سره امین
دے یعنی په نورو کتابونو کښ چه دَ قرآن نه مخالف څه خبره وی نو هغه
به باطل او مردود وی. او په مصدقًا او مهیمنًا کښ اشاره ده دعوت ورکولو
یهود او نصارٰی ته چه دے کتاب باندے ضرور ایمان راوړئ ځکه چه
انکار دَ مصدِّق مستلزم وی انکار دَ مصدَّق لره.

فَاحکم بَيْنَهُمْ بِمَا انزل الله دا تفریع ده په ما قبل صفاتو دَ قرآن
باندے چه هر کله دا منزل او مصدّق او مهیمن دے نو لازمه دا
ده چه فیصلے به په دے کتاب باندے کوئ. بَيْنَهُمْ عام دے یهود
او نصارٰی او دے امت ته شامل دے. وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَاءَهُمْ په
اهواء کښ هغه مسائل او احکام داخل دی چه اهلِ کتابو دَ ځان نه
جوړے کړے دی او په تورات او انجیل کښ داخل کړے دی.
عَمَّا جَاءَكَ مِنَ الْحَقِّ دا متضمن دے معنیٰ دَ اعراض لره ځکه چه
تابعداری دَ خواهشاتو مستلزم ده اعراض عن الحق لره.
لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنْكُمْ شِرْعَةً وَّمِنْهَاجًا په دیکښ دوه تفسیرونه نقل دی
اول دا چه په دے جمله کښ دفع دَ وهم ده هغه دا ده که اهلِ کتاب
او وائی چه زمونږ تورات او انجیل کښ خو دَ قرآن نه خلاف احکام موجود
دی (لکه طریقے دَ مونځ او دَ روژے، زکوٰة وغیره) نو دے څه رنګ
مصدق او مهیمن دے؟ حاصل دَ جواب دا دے چه په اصولو او عقیدو
کښ ټول کتابونه متحد دی او کوم چه مخالف دی نو هغه فروع او جزئیات دی

او هغه دَ هر ملّت والو دَ پاره جدا جدا وی او هغه مخالفت سبب دَ تکذیب نه دَے او تائید دَ دے هغه حدیث صحیح دے چه اَلْاَنْبِیَاءُ اِخْوَةٌ لِعَلَّاتٍ اُمَّهَاتُهُمْ شَتّٰی وَدِیْنُهُمْ وَاحِدٌ (انبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَام علاتی رونړه دی مائندے ئې جدا جدا دی او دین ئې یو دے) یعنی فروع ئې جدا جدا دی او اصول دَ ادیان یو دی. نو بِنا په دے تفسیر مراد دَ شرعة" او منهاج نه احکام فرعیه دی شرعة" ئې ورته پدے لحاظ سره وئیلے دی چه الله تعالیٰ مقرر کړے دی او منهاج ورته پدے لحاظ سره وئیلے شی چه په هغې باندے تلل او عمل کول ضروری دی. دویم دَ مجاهد نه نقل دے چه دَ جعلنا دَ پاره مفعول اول محذوف دے یعنی لکل امة جعلنا القرآن شرعة ومنهاجا (دَ ټولو امتونو دَ پاره قرآن شریعت او منهاج ګرځولے شوے دے) نو پدے هغه وهم دفع شو چه دَ اهل کتابو ځان ځان له کتابونه دی نو آیا هغوی (روستو دَ نزول دَ قرآن نه) پخپل خپل کتاب باندے عمل کولے شی؟ جواب اوشو چه نه بلکه هغه په قرآن سره منسوخ شول بِنا پدے شرعة" اصول او ایمانیاتو ته وئیلے شی او منهاج شرائع او احکامو ته وئیلے شی یعنی قرآن پدے دواړه قسمونو باندے مشتمل دے. (فائده) فرق په مینځ دَ شرعة" او منهاج کښ، په دے کښ ډیر اقوال دی مبرد وئیلے دی چه شرعة" ابتداء دَ لارے ته وئیلے شی او منهاج مستمر (همیشه تللو والا) لارے ته وائی او ابن عباس رض او حسن رض نه نقل دی چه شرعة سنت ته وئیلے شی او منهاج سبیل ته وئیلے شی. بل قول دا دے چه شرعة مطلق لارے ته وئیلے شی او منهاج هغې ته وئیلے شی چه پوره واضحه وی. وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ اه پدے جمله کښ حکمت بیانوی دَ اختلاف دَ شرائعو چه په تورات او انجیل او قرآن کښ جدا جدا دی. وَلٰکِنْ لِّیَبْلُوَکُمْ اه یعنی هر یو امت مکلف او مبتلیٰ دے په هغه شرائعو چه الله تعالیٰ په هغوی باندے مقرر کړے دی (دا تفسیر بِنا دے په اول قول باندے په لکل جعلنا اه کښ. او پدیکښ دویم قول دا دے چه روستو دَ نزول دَ قرآن نه بیا هم خلق مختلف دی څوک ایمان راوړی او څوک کفر کوی دا هم په اراده او مشیت دَ الله تعالیٰ سره دی او په دے کښ هم حکمتِ الٰهیه ابتلاء او امتحان دے. او بِنا په دے قول دا پشان دَ

وَاَنِ احۡكُمۡ بَيۡنَهُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ وَلَا

(او حکم کیدہ یشی تاسو) چه فیصله کوئ په مینځ دَدوی کښ په هغه کتاب چه نازل کړیدے الله تعالیٰ او مه کوه

تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ وَاحۡذَرۡهُمۡ اَنۡ يَّفۡتِنُوۡكَ

تابعداری دَ خواهشاتو دَ دوی او ځان ساته دَدوی نه (هسے نه) چه واړوی تا لره

عَنۡۢ بَعۡضِ مَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ‌ؕ فَاِنۡ تَوَلَّوۡا

دَ بعضے هغه نه چه نازل کړیدے الله تعالیٰ تاته. نو که مخ اوګرځوو دوی

فَاعۡلَمۡ اَنَّمَا يُرِيۡدُ اللّٰهُ اَنۡ يُّصِيۡبَهُمۡ بِبَعۡضِ

نو پوهه شه، یقیناً غواړی الله تعالیٰ چه اورسوی دوی ته (عذاب) په سبب دَ بعضے

ذُنُوۡبِهِمۡ‌ؕ وَاِنَّ كَثِيۡرًا مِّنَ النَّاسِ لَفٰسِقُوۡنَ ﴿۴۹﴾

ګناهونو دَدوی - او یقیناً ډیر دَ خلقو نه خامخا نافرمان دی -

سورۃ بقرہ ۲۵۳ دے. فَاسۡتَبِقُوا الۡخَيۡرٰتِ ابن کثیر وئیلے دی چه مراد دَ دے نه طاعة دَ الله تعالیٰ او اتباع دَ رسول صلی الله علیه وسلّم او تصدیق دَ قرآن دے او نسفی وئیلے دی چه مراد دَ الخیرات نه ټول ما امر الله تعالیٰ به دی. یعنی په وخت دَ اختلاف دَ خلقو کښ په قرآن او دین اسلام پسے تابع شئ.

فَاسۡتَبِقُوۡا استباق په وخت دَ اختلاف او دَ مقابله کښ استعمالیږی.

اِلَى اللّٰهِ مَرۡجِعُكُمۡ دا تخویف اخروی دے او علت دے دَ فاستبقوا دَ پاره.

فَيُنَبِّئُكُمۡ دا هلته به حق او باطل جدا جدا معلوم شی او دا رنګ اخبار نه مراد جزا او سزا ورکول دی.

۴۹ په دے ایت کښ تاکید دے په باره دَ حکم بالقرآن کښ. وَاَنِ احۡكُمۡ دا عطف دے په بِالۡحَقِّ باندے اشاره ده چه دَ انزالِ کتاب مقصد حکم کول دی په هغے سره لکه په سورۃ نساء ۱۰۵ کښ دی نو دا تکرار نه دے ځکه مخکښ ایت کښ صرف امر کول وؤ په حکم بالکتاب او په دے ایت کښ هغه ئے مقصد دَ انزال اوګرځوو. وَلَا تَتَّبِعۡ اَهۡوَآءَهُمۡ مخکښ ایت کښ اهواء دَ عامو خلقو مراد وؤ او دلته اهواء دَ علماءِ سوء مراد دی. او خازن وئیلے دی چه مخکښ ایت کښ منع دَ اتباع هوا نه په حکم دَ رجم

أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ ۚ وَمَنْ أَحْسَنُ

ایا نو فیصلے د جاهلیت (زمانه) غواړی دوی - او څوک زیات ښائسته دے

مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾

د الله تعالیٰ نه په فیصلو کولو کښ د هغه قوم دپاره چه یقین کوی -

ع ٧ / ١١

کښ مراد دہ او دلته په حکم د قتل کښ لیکن د دے تخصیص دپاره وجه نیشته - واحذرهم ان یفتنوك په دے کښ خاص تنبیه ده رسول او امتیانو ته چه په باره د حکم بما انزل الله کښ د یهودو او نصاری او نور علماءِ سوء د مکرونو او تلبیسانو او تدلیسانو نه ځان بچ ساتئ۔

اَنْ يَّفْتِنُوكَ دا بدل اشتمال دے د ضمیر د هُمْ نه - او فتنه په معنیٰ د اړولو دے د صحیح مسلك نه لکه په سورة اسراء ٧٣ کښ دی -

عَنْ بَعْضِ مَا اَنْزَلَ اللّٰه په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه بعض په معنیٰ د کل سره دے لکه په سورة العمران ٥٠ کښ دی دویم قول دا چه بعض په خپله معنیٰ سره دے اشاره ده چه د بعض (یعنی یو) حکم نه اوړیدل گناه دے نو د ټول حکم بما انزل الله نه اوړیدل غټ گناه دے دا روستو قول غوره دے - فَاعْلَمْ اَنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ الخ په دیکښ تصریح ده چه د حکم بما انزل الله نه مخ اړول سبب د عذاب دے په دنیا کښ.

بِبَعْضِ ذُنُوْبِهِمْ په لفظ د بعض کښ اشاره ده چه د دنیا عذاب په ټولو گناهونو سره نه دے هغه به په آخرت کښ وی . لَفَاسِقُوْنَ دلته خاص فسق ته اشاره ده چه هغه د قرآن د تحکیم نه مخ اړول دی لکه چه په ٤٧ کښ ذکر شوے وو.

٥٠ دا متعلق دے د تولوا سره یا د الفاسقون سره په تقدیر د عطف یعنی" اَيَتَوَلَّوْنَ عَنْ حكم الله فحكم الجاهلية يبغون" (ایا د حکم د الله تعالیٰ نه مخ اړوئ نو حکم د جاهلیت غواړئ) په فا سره ئے ځکه ذکر کړو چه مخ اړول د حکم د الله تعالیٰ نه مستلزم دی منلو د حکم د جاهلیت لره. حکم د جاهلیت هر هغه حکم دے چه خلاف وی د حکم د الله تعالیٰ نه لکه چه په یهودو کښ فرق وو په حدودو کښ په مینځ د مالدار او غریب کښ. دا رنګ د قرطبی په تحقیق سره هغه انسان هم داخل دے چه په اولاد کښ فرق کوی بعضو ته

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَّخِذُوا۟ ٱلْيَهُودَ

اے ایمان والوا مه نیسئ یهودیان

وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۚ

او عیسایان دوستان ۔ بعضے دَ دوی یوشان دی (دَ کفر په کاروتوکښ) دَ بعضو سره۔

وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ

او چاچه دوستانه اوکړه دَ دوی سره ستاسو نه نو یقیناً هغه دے دَ دوی نه۔ بیشکه

ٱللَّهَ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥١﴾

الله تعالیٰ توفیق نه ورکوی قوم ظالمانو (عنادیانو) ته۔

څه مال وغیره اوبخی اوبعضے محروم کړی او هغے ته په حدیث کښ جور وئیلے شوے دے حدیث نسائیٔ روایت کړے دے او ابن کثیر دَ دے ایت په تشریح کښ حال دَ تتار ذکر کړے دے چه چنگیز خان خپل قانون جوړ کړے وؤ او هغے ته ئے یساق وئیلو او هغه دَ یهودیت او نصرانیت او دَ اسلام نه مخلوط جوړ کړے وو (لکه چه اوس دَ پاکستان قانون دے) او څه احکام ئے دَ خپل خواهش نه جوړ کړے وؤ او هغه به ئے مقدم کنړل په کتاب الله او سنتِ رسول الله باندے نو ابن کثیر وائی چه چا دا کار کوؤ نو هغه کافر دے دَ هغه سره قتال واجب دے۔ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ ٱللَّهِ حُكْمًا اه دا استفهام انکاری دے او احسن اعدل او احکم ته وئیلے شی۔ لِّقَوْمٍ لام پخپله معنیٰ دے او تخصیص دَ دوی دَ انتفاع دَ وجے نه دے یا لام په معنیٰ دَ علیٰ سره دے۔

س۵۱ دَ دے ایت نه دَ دویم حصے دویم باب دے تر س۶۶ پورے په دیکښ نهی ده دَ موالات دَ یهودو او نصاریٰ نه او دا دَ عقودو دَ مؤمنانو نه اووم عقد دے بیا زجر دے په منافقانو چه دَ دے عقد نه خلاف کوی په س۵۲ س۵۳ کښ بیا ذکر دَ صفاتو دَ صحابه کرامو دے ترغیباً او دے کښ اتمام عقد دے په س۵۴ کښ او وروستو ذکر دَ هغه چا دے چه مستحق دَ موالات دی په س۵۵ س۵۶ کښ۔ بیا ئے لس علتونه ذکر کړے دی دَ پاره دَ ترک الموالات س۵۷/۱ س۵۸/۱ س۵۹/۱ س۶۰/۱ س۶۱/۱ س۶۲/۱ س۶۳/۱ س۶۴/۳ په اخری ایت کښ تهم عقد ذکر دے۔

وقف لازم
وقف منزل عند البعض
وقف غفران ۞

او په آخر کښې بشارتِ اخرويه په ۶۵ کښې او دنيويه په ايفاءِ دَ عقودو سره په ۶۶ کښې.

ربط دَ دے آيت دَ مخکښې سره دا دے چه هر کله نبي ته حکم دَ حذر (حاشيه) دَ يهود او نصارىٰ نه په يره دَ افتنان سره نو عامو مؤمنانو ته ضرور امر دے اجتناب دَ هغوى نه دے دَ پاره چه گمراه نشي. دا رنګ يهود او نصارىٰ هغه خلق دي چه حکم دَ جاهليت غواړي نو دَ هغوى نه دَ براءت حکم کوي. يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا داصفت دَ ايمان دَ دوستانے پريخودلو تقاضا کوي دَ يهودو او نصارىٰ سره. اَوْلِيَاۤءَ او دا سے حکم دَ عامو کافرانو په باره کښې په سورة آلعمران ۲۸ او په سورة نساء ۱۳۹ ۱۴۴ او سورة ممتحنه ۱ کښې هم دے او دَ ولايت درے درجے دي اول داچه دَ هغوى سره موافقت اوکړي په عقيده يا کارونو دَ کفر او شرك کښې دا خو عينِ کفر دے دويم داچه دَ هغوى سره تعاون جاني يا مالي کوي دا هم کبيرة گناه دَے دريم داچه دَ هغوى اکرام او عزت کوي دَ عزت عُهده ورکوي لکه چه ابو موسىٰ اشعري يو نصراني کاتب نيولے وو نو عمر رضي الله عنه منع کړو ورته ئے اوئيل دا خو اکرام دے (سمعاني او ابن کثير) نور تفسير دَ موالات په سورة آلعمران ۲۸ کښې دے.

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَاۤءُ بَعْضٍ دا علت دَ مخکښې دَ پاره دے او دَ هغوى موالات په معني دَ امداد کولو دے دَ يو بل سره په مقابله دَ مسلمانانو کښې او دا رنګ موالات دَ هغوى په معني دَ مشابهت دے دَ يو بل سره په کارونو دَ کفر کښې اګر چه دَ هغوى دَ يو بل سره دشمني هم شته په دليل دَ سورة بقره ۱۱۳ او دَ دے سورت ۶۴ کښې چه تير شويدے. او دَ دے آيت نه دا مسئله اخستلے شويده چه اَلْكُفْرُ مِلَّةٌ وَاحِدَةٌ.

وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ الخ او دَ دے نه ماخوذ دے دا حديث مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ او مراد دَ دے نه تشبّه ده په امورو دَ دين دَ هغوى کښې دَ هغوى په عيد کښې شرکت کول او دَ هغوى پشان په غاړه کښې يا دَ عزت په ځائے کښې دَ هغوى دَ صليب شکل استعمالول او دَ هغوى پشان په قبرونو دَ اولياؤ باندے مساجد جوړول وغيره دا ټول په تولّٰى کښې داخل دي. الظّٰلِمِيْنَ مراد هغه خلق دي چه موالات دَ مؤمنانو په ځائے دَ کافرانو سره کوي.

فَتَرَى الَّذِيْنَ فِي قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ

پس وینې به ته هغه کسان چه په زړونو د هغوی کښ مرض دے

يُّسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يَقُوْلُوْنَ نَخْشٰى

جلتي په کوی په دوستانه د دوی کښ وائي دوی یریږو مونږ

اَنْ تُصِيْبَنَا دَآئِرَةٌ ۚ فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ

چه اوبه رسی مونږ ته څه حادثه - نو نیږدے ده چه الله تعالٰی به راولی

بِالْفَتْحِ اَوْ اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فَيُصْبِحُوْا

فتح یا بل څیز د خپل طرف نه نو شی به دوی

عَلٰى مَاۤ اَسَرُّوْا فِيْۤ اَنْفُسِهِمْ نٰدِمِيْنَ ﴿۵۲﴾

په هغه څه چه دوی پټ ساتلے په زړونو خپلو کښ (دوستانه د کافرانو سره) خپیمانه

۵۲ دا زجر دے منافقانو ته په مخالفت کولو د مخکنی عقد سره او د هغوی بهانه ذکر کوی او بیا د هغے جواب. مَرَضٌ شك او نفاق او محبت د کافرانو سره. يُسَارِعُوْنَ فِيْهِمْ يعنى فِيْ مَوَالَاتِهِمْ (د دوی په دوستانه کولو کښ) مسارعت یئے ورته ځکه اوئیلو چه دوی په ضرر د دے موالات کښ سوچ نه کوی په بے فکرئ سره دا کار کوی. يَقُوْلُوْنَ اه دا د منافقانو بهانه ده. دَآئِرَةٌ هر هغه مصيبت چه په گردش د زمانه کښ پیدا کیږی مراد د دے نه غلبه د کافرانو او کمزوری د مؤمنانو ده او دا رنګ قحط اولوږه ده وائي چه دوی به مونږ له بیا غله او امداد نه راکوی (دا سے حال اوس د دے ملك او د اکثر اسلامی ملکونو دے دوستانه کوی د امریکے والو او یهودیانو سره په دغه بهانه سره وَاِلَى اللّٰهِ الْمُشْتَكٰى) فَعَسَى اللّٰهُ اَنْ يَّاْتِيَ بِالْفَتْحِ ،عسٰی د پاره د قريب امید دے او د فتح نه مراد غلبه د اهلِ اسلام ده په کافرانو باندے. او اَمْرٍ مِّنْ عِنْدِهٖ فراخی د رزق د مؤمنانو یا ښکاره کول د رازونو د منافقانو. فَيُصْبِحُوْا اه تعبير په اصباح سره د دے وجے نه دے چه مخکښ حالت د منافقانو په شان د تیارے دے او په تیارے پسے رنړا په شان د صبا راغله. او په رنړا کښ به

وَيَقُولُ الَّذِينَ آمَنُوا أَهٰؤُلَاءِ الَّذِينَ

او وايه دائي مؤمنان ، آيا دا هغه كسان دي

أَقْسَمُوا بِاللّٰهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ ۙ إِنَّهُمْ

چه قسمونه ئې كړيدي په الله تعالیٰ باندے پاخه قسمونه دَ دوی ، يقيناً دوی

لَمَعَكُمْ ۚ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَأَصْبَحُوا

خامخا ستاسو ملگري دي۔ برباد دي عملونه دَ دوی نو شول دوی

خَاسِرِينَ ﴿٥٣﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا مَنْ يَرْتَدَّ

تاوان والا۔ اے ايمان والو ! څوک چه مرتد شو (واوړيږي)

مِنْكُمْ عَنْ دِينِهِ فَسَوْفَ يَأْتِي اللّٰهُ بِقَوْمٍ

په تاسو كښې دَ دين خپل نه نو زر دے چه راوبه ولی الله تعالیٰ داسے قوم

يُحِبُّهُمْ وَيُحِبُّونَهُ ۙ أَذِلَّةٍ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ

چه مينه به كوی الله تعالیٰ دَ هغوی سره او هغوی به هم مينه كوی دَ الله تعالیٰ، نرم به وی په مؤمنانو باندے

أَعِزَّةٍ عَلَى الْكَافِرِينَ ۫ يُجَاهِدُونَ فِي

سخت به وی په كافرانو جهاد به كوی په

دوی ته خپل نقصان ښكاره شی نو خپيمانه به شی په دوستانه دَ يهود او نصاراٰی باندے۔

٥٣ دا قول دَ مؤمنانو په طريقه دَ تعجب سره دے روستو دَ ښكاره كيدلو دَ حال دَ منافقانو نه۔ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ قسم كول په الله تعالیٰ باندے دَ مشركانو (منافقانو) په نيز پوخ قسم وی او په غير الله باندے قسم دَ دوی عادتاً وی يا پوخ والے دا دے چه دَ الله تعالیٰ نور نومونه صفتونه په قسم كښې ذكر كړی۔ خَاسِرِينَ دا دَ ندامت نه ترقی ده ځكه ندامت خو صرف په فوت كيدلو دَ مطلوب دنيوی سره وی او خسران په نقصان دَ دنيا او دَ آخرت دواړو سره دے چه سره دَ شرم نه په دنيا كښې عملونه ئې هم برباد شول۔

سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ ؕ

لار د الله تعالیٰ کښ، او نه په یرېږی د ملامتیا د ملامت کرُنه۔

ذٰلِكَ فَضْلُ اللّٰهِ يُؤْتِيْهِ مَنْ يَّشَآءُ ؕ وَاللّٰهُ

دا فضل د الله تعالیٰ دے ورکوی ئے چاته چه اوغواړی۔ او الله تعالیٰ

وَاسِعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۴﴾ اِنَّمَا وَلِيُّكُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

فراخ فضل والا دے پوهه دے په هرڅه۔ یقیناً د دوستانے لائق ستاسو الله تعالیٰ دے او رسول د هغه دے

۵۴ په دے ایت کښ تسلی ده مؤمنانو ته په وخت د ښکاره کیدلو د منافقانو کښ او د موالات کولو د هغوی د کافرانو سره او اشاره ده لکه چه په دائره (حادثه) رسیدلو سره مؤمنانو ته او دین اسلام ته هیڅ نقصان نه رسیږی نو دارنګ که یو انسان ښکاره مرتد شی نو هم دین او اهل دین ته هیڅ نقصان نه رسیږی بلکه الله تعالیٰ د دین د حفاظت د پاره نور خلق پیدا کوی۔ مَنْ يَّرْتَدَّ مِنْكُمْ عَنْ دِيْنِهٖ په سبب د ولایت کولو د یهود او نصارٰی سره یا په بله طریقه سره کفر اوکړی روستو د ایمان ښکاره کولو نه۔ مقصد د ایت دا دے چه چا دین اسلام او د هغے نصرت پریخودلو نو دا خیال دے نه کوی چه دین ته به نقصان اورسی بلکه الله تعالیٰ به د دهٔ بدل کښ بل پیدا کړی د دین د پوخ والی د پاره دا سے په سورۃ محمد ۳۸ او سورۃ نساء ۱۳۳ او سورۃ ابراهیم ۱۹ ۲۰ کښ راغلی دی۔ او د مَنْ يَّرْتَدَّ جزاء پټه ده یعنی فَلَا يَضُرُّ اِلَّا نَفْسَهٗ او فسوف کښ فا په معنیٰ د علت ده۔ (سوال) دا چه صحابه کرامو ته خطاب شی نو فسوف یأتی الله اهٔ نه بدیل خوک مراد شی نو ثابت شو فضیلت د روستنو خلقو په صحابو باندے؟ (جواب) دا خطاب دے منافقانو ته په قرینه د مخکښ دوه ایاتونو سره او فسوف یأتی الله بقوم نه صحابه مراد دی په قرینه د ایت سورۃ توبه ۱۰۰ او سورۃ فتح ۲۹ او یأتی مضارع په معنیٰ د ماضی ده او دا حکایت د حال ماضیه دے او د دے د پاره دے چه دا حکم هرے زمانے ته شامل شی۔

(سوال) بعض مفسرینو لیکلی دی چه دا ایت صحیح پیشګوئی د نبی

صلى الله عليه وسلم ده او دَ هغې خلقو ذکر ئې کړے دے کوم چه مرتد شوے وُو ؟ (جواب) کوم درے کسان ئې چه ذکر کړے دی چه دعویٰ دَ نبوت ئې دَ نبي صلی الله عليه وسلم په وخت کښ کړے وه اسود عنسی او دَ هغه قوم بنو مدلج او مسيلمة الکذاب او دَ هغه قوم بنو حنيفه او طليحه بن خويلد او دَ هغه قوم بنو اسد نو دَ دوی ايمان راوړل دَ نبي صلی الله عليه وسلم په وخت کښ ثابت نه دی بلکه دَ ابتداء نه دوی کافر وُو. نو داسے وئيل خطا دی چه دا صحابه وُو او مرتد شول او کوم اووه فرقې چه په زمانه دَ ابوبکر رضی الله عنه او يو فرقه په زمانه دَ عمر رضی الله عنه کښ چه مرتد شويدی نو هغوی صحابه نه وُو. نو دَ دے نه دا استدلال غلط دے چه دا صحابه مرتد شويدی. او دَ حسن بصری نه روايت مفسرينو نقل کړے دے چه هغه به قسم کوُ چه مراد دَ بِقَوۡمٍ اه نه ابوبکر رضی الله عنه او دَ هغه ملګری وُو.

تنبيه: خطابی وئيلے دی چه ارتداد والا دوه قسمونه وُو يو هغه چه دَ دين اسلام نه ئې انکار اوکړو او خالص دَ جاهليت عقيده او عمل ئې شروع کړے وُو دا خو هغه خلق وُو چه په مسيلمة الکذاب او اسود عنسی وغيره بانديے ايمان راوړے وُو. دويم قسم هغه دی چه فرق ئې کړے وُو په مينځ دَ مونځ او زکوٰة کښ او دَ زکوٰة دَ ادا کولو نه امام ته انکار ئې کړے وُو دا بعض خلق وُو په بنو حنيفه کښ نو امام شوکانی په نيل الاوطار کتاب الزکوٰة کښ وئيلے دی چه دوی صرف باغيان وُو او مرتدين دوی ته مجازًا (مشابهة) وئيلے شويدی. يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ مذهب دَ سلف صالحينو دا دے چه محبت الله تعالیٰ لره ثابت دے حقيقةً بغير دَ کيف او دَ تاويل او دَ تمثيل نه. زمخشری او دَ هغه اتباعو چه تاويل کړيدے چه مراد دَ دے نه ثواب ورکول او تعظيم او ثناء ده دا خلاق دے دَ مذهب دَ سلف نه. أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ دا دَ ذلّ مقابل دے او دَ عزت نه ماخوذ نه دے بلکه ذلة په معنیٰ دَ نرمئ او شفقت او رحم سره دے په قرينه دَ دے چه دوی له ئې عزّت په روستو جمله کښ ثابت کړے دے او دا پشان دَ سورة فتح ۲۹ دے. لفظ دَ علیٰ کښ دوه فائدے دی يو تضمين دَ معنیٰ دَ شفقت لره او دويم دا چه دَ دوی درجات اګرچه اوچت

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوا الَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ الصَّلٰوةَ

او هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے، هغه مؤمنان چه پابندی کوی د مانځه

وَيُؤْتُوْنَ الزَّكٰوةَ وَهُمْ رٰكِعُوْنَ ﴿۵۵﴾

او ورکوی زکوٰة او دوی رکوع کوونکی دی (الله تعالیٰ ته).

دی لیکن سرهٔ د دے نه مؤمنانو باندے رحم کوی. اَعِزَّةٍ اه دا د عزت په معنیٰ د شدّت نه ماخوذ دے. وَلَا يَخَافُوْنَ لَوْمَةَ لَآئِمٍ دا حال دے د ضمیر د یجاهدون، واو د پاره د حال دے یعنی په حال د جهاد کښ که قولی وی او که عملی وی نو د چا د ملامتیا پرواه نه کوی. یا واو د عطف دے مستقل صفت دے لیکن واو ئې ورسره راوړے دے اشاره ده چه دا وصف په وخت د مجاهدے کښ ضروری دے. لَوْمَةَ لَآئِمٍ نکره ئې ذکر کړے ده چه د هیځ قسم ملامتیا د هیځ قسم ملامت ګر د طرف نه پرواه نه کوی که والدین وی که استاد وی که مشروی که کشروی، نروی او که ښځه وی وغیره. ذٰلِكَ اه اشاره ده ماقبل صفتونو ته په تاویل د مذکور سره.

۵۵ هر کله چه د موالات د یهودو او نصاریٰ نه منع اوشوه او د براءت کوونکو صفتونه ئې ذکر کړل نو په دے ایت کښ اهل د ولایت ذکر کوی په طریقه د حصر سره په لفظ د اِنَّمَا د پاره د دے چه د دے مذکور نه تعدّی اونکړے شی. وَلِيُّكُمْ مراد ولایت دینی دے. (سوال) پکار وُو چه دلته ئې جمع ذکر کړے وے یعنی اولیاءکم؟ (جواب) اشاره ده چه ولایت په اصل کښ د الله تعالیٰ دے او د نبی او مؤمنانو د پاره تبعًا دے. اَلَّذِيْنَ يُقِيْمُوْنَ اه د ایمان سره درے اوصاف ئې ذکر کړل اشاره ده چه کوم مؤمن کښ دا صفتونه ټول یا بعض موجود نه وی نو د هغه سره ولایت مه کوئ. وَهُمْ رٰكِعُوْنَ دا صفت همیشه او دائم دے د دے وجے نه په جمله اسمیه سره ئې ذکر کړے دے.

تنبیه: بعض مفسرینو وئیلے دی چه دا حال دے د ضمیر د یؤتون نه او د دے په تائید کښ اثار د علی رضی الله عنه نقل کړے دی لیکن ابن کثیر اولاً وئیلے دی چه هیڅ یو د علماؤ نه دا نه دی وئیلی چه زکوٰة ورکول په حال د رکوع کښ افضل دی (او په هغے باندے نور احکام مرتب کول بے فائدے

وَمَنْ يَّتَوَلَّ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَالَّذِيْنَ

او چا چه دوستانه اوکړه د الله تعالیٰ سره او د رسول د هغه سره او هغه کسانو سره چه

اٰمَنُوْا فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ هُمُ الْغٰلِبُوْنَ ﴿۵۶﴾ ع

ایمان والا دی، نو یقیناً ډله د الله تعالیٰ دوی غالب دی۔

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوا الَّذِيْنَ

اے ایمان والو! مه نیسئ هغه کسان

اتَّخَذُوْا دِيْنَكُمْ هُزُوًا وَّلَعِبًا مِّنَ الَّذِيْنَ

چه ګرځی دین ستاسو پوقے او لوبے د هغے کسانو نه

اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَالْكُفَّارَ اَوْلِيَآءَ ۚ

چه ورکړے شوی دے ورته کتاب مخکښ ستاسو نه او (نورو) کافرانو لره دوستان

بحث دے) او ثانیاً ابن کثیر وئیلی دی چه په دے آثارو کښ هیڅ یو صحیح نیشته ځکه چه د دے سندونه ضعیف دی او راویان ئے مجهول دی او په حدیث صحیح سره ثابت دہ چه دا آیاتونه په باره د عبادہ بن الصامت رضی الله عنه کښ نازل شوے دی او امام رازی په تفسیر د دے آیت کښ په شیعه ګانو باندے سخت رد کړے دے۔

۵۶ دا بشارت دے د پاره د اهل د آیت مخکنی۔ يَتَوَلَّ اللّٰهَ مراد د تولّا نه قیام په طاعت د الله تعالیٰ او په نصرت د رسول او د مؤمنانو دے۔

فَاِنَّ حِزْبَ اللّٰهِ الخ حزب په اصل کښ هغه قوم ته وئیلے شی چه راجمع شی په وخت د راتللو د حادثه کښ او هغه جماعت ته وئیلے شی چه کلک وی نو دا د جماعت او د قوم نه خاص دے. او دا سے په سورۃ مجادله ۲۲ کښ هم راغلے دی۔ سوال: دلته غالبون او هلته ئے مفلحون وئیلے دے؟ جواب: دلته مقابله د یهود و نصاریٰ سره په دنیا کښ مراد دہ او په وخت د مقابله کښ غلبه مقصد وی او په سورۃ مجادله کښ د حزب الشیطان په باره کښ خاسرون وئیلے وو نو د هغے په مقابله کښ مفلحون مناسب لفظ دے۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿٥٧﴾ وَإِذَا

او ویریږئ دَ الله تعالیٰ نه که تاسو مؤمنان یئ - او کله چه

نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا

آواز اوکړئ تاسو مانځه ته اونیسی دوی هغې لره ټوقې

وَّلَعِبًا ۭ ذٰلِكَ بِأَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا يَعْقِلُوْنَ ﴿٥٨﴾

او لوبې - دا په دې وجه چه دوی داسې قوم دے چه عقل نه لری -

ـــ۵۷ دَ دے ایت نه شروع کوی په ذکر دَ علتونو دَ منع دَ دوستلنے دَ کافرانو نه. په دے ایت کښ اول علت ذکر کوی یعنی دینِ اسلام پورې استهزاء او هغه لعب گنړل- يَاۤ أَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا دا هم عقد دے دَ پاره دَ حفاظتَ دَ ایمان. هُزُوًا وَّلَعِبًا هزء په اصل کښ خِفت ته وئیلے شی یعنی سپکوالے کوی په طریقه دَ مسخرو او خندا کولو سره اولعب معنی دا چه بے فائدے مشغله ئے گنړی پشان دَ لوبو کولو. نو مراد مجموعه ده چه ټول دین پورے استهزاء اولعب کوی یا دا چه ایمانیات او عقیدو دَ مؤمنانو پورے استهزاء کوی او اعمال ئے لوبے گنړی لکه اوس دهریان او نور کافران مونځ او حج وغیره ته لوبے وائی. مِنَ الَّذِيْنَ دا بیان دے دَ مخکښ الذین په ذکر دَ فریقینو دَ کافرانو سره. وَالْكُفَّارَ دا تعمیم بعد التخصیص دے چه مشرکانو ته شامل دے. اُوْتُوا الْكِتٰبَ دوی دَ دغه نوم سره مشهور دی دَ دے وجے نه دَ الکفار نه ئے جدا ذکر کړے دی. وَاتَّقُوا اللّٰهَ إِنْ كُنْتُمْ ان په معنی دَ اِذْ سره دے یعنی تقاضا دَ ایمان تقوىٰ ده.

ـــ۵۸ دا معطوف دے په مخکښ اتخذوا باندے او دا ذکر دَ دویم علت دے او دا خاص دے دَ مخکښ نه. وَإِذَا نَادَيْتُمْ إِلَى الصَّلٰوةِ نداء الی الصلوة خو مجمل دے لیکن دَ هغے تفصیل په احادیثو کښ په کلماتو دَ اذان سره شوے دے نو دا ایت دلیل دے په مشروعیت دَ اذان سره دَ پاره دَ ټولو پنځه مونځونو. اتَّخَذُوْهَا هُزُوًا وَّلَعِبًا خوک وائی دا چغې دی پشان دَ حیواناتو خوک دَ دے نه تیښته کوی پشان دَ شیطان. خوک په دے دعوت باندے عمل نه کوی یعنی جماعت ته حاضری نه کوی. لَا يَعْقِلُوْنَ "نه پوهیږی

قُلْ يٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ

ته ورته اووایه اے کتاب والو! بد نه گڼئ تاسو زموږ نه

اِلَّآ اَنْ اٰمَنَّا بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا وَمَآ

مگر دا چه ایمان راوړے مونږه په الله تعالیٰ او په هغه کتاب چه نازل شوے دے مونږ ته او په هغه کتابونو

اُنْزِلَ مِنْ قَبْلُ وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿٥٩﴾

چه نازل کړے شوی دی مخکښ د دینه، او د دے وجے چه اکثر ستاسو نه نافرمان دی۔

په مقصد د دے کلماتو۔ او کلمات د اذان مشتمل دی په کبریا د الله تعالیٰ چه هغه توحید د ذات او توحید د خالقیت او توحید د اسماء او صفاتو او توحید د حکم او تشریع ته شامل دے دا څلور اقسام په څلورو تکبیرونو کښې داخل دی بیا شهادت دے د توحید د الوهیت بیا شهادت دے په صدق د رسول باندے او هر کله چه شهادت د پاره دوه کسان پکار دی نو دوه دوه کرته شهادت ادا کیږی۔ او بیا پدے کښې دعوت الی الصلوٰة دے چه اهم عمل دے د پاره د ادا د توحید عملی بیا ترغیب دے صلوٰة ته په وصف د فلاح سره د پاره د اهمیت د هغے۔ بیا ذکر د کبریا د الله تعالیٰ دے دوه کرته د پاره د ترک د هغے شرکیاتو او مشاغلو چه غفلت راولی د توحید نه او په اخر کښې نتیجه د ټولو کلماتو ذکر ده په لا اله الا الله سره۔ نو پدے مقصد باندے چه څوک پوهه نه لری نو دا جهل سبب دے د پاره د استهزاء بالدین. مشهوره ده اَلنَّاسُ اَعْدَاءٌ لِمَا جهلوا۔

۵۹ پدے ایت کښې دریم علت ذکر دے چه ستاسو مونږ سره صرف په ایمان او په دین باندے دشمنی ده نو تاسو سره مونږ هیڅ موالات نه شو کولے۔ او دا رنګ دا ایت علت د ماقبل ایت د پاره دے یعنی استهزاء په اذان پورے په سبب د نفرت سره د توحید نه او اذان خو اعلان د توحید دے۔ هَلْ تَنْقِمُوْنَ مِنَّآ اِلَّآ اَنْ اٰه نقم خفګان کول، بد ګڼړل، نفرت کول، عیب ګڼړل، او سبب د نقمت ئے صرف ایمان ذکر کړے دے اشاره ده چه د کافرانو مشرکانو دشمنی د مؤمنانو

قُلْ هَلْ اُنَبِّئُكُمْ بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ مَثُوْبَةً

ته ورته ووايه! ايا خبر در کړم تاسو ته په ډير ناکاره سره د ديته په اعتبار د بدلے

عِنْدَ اللّٰهِ ؕ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ

په نيز د الله تعالیٰ - هغه څوک چه لعنت کړيے الله تعالیٰ په هغه باندے او غضب ئے کړيدے په هغه باندے

وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ وَعَبَدَ

او جوړ کړيدی د هغوی نه شادوګان او خنزيران، او هغه څوک چه بندګی ئے کړيده

الطَّاغُوْتَ ؕ اُولٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا وَّاَضَلُّ

د طاغوت (ماسوا د الله نه) . دغه کسان ډير ناکاره دی په اعتبار د مرتبے او ډير اوړيدلی دی

عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٦٠﴾ وَاِذَا جَآءُوْكُمْ

د برابر لارے نه . او کله چه راشی دوی تاسو ته

سره صرف په مسئله توحيد ده دا رنګ په سورة اعراف ۱۲۶ او سورة حج ۴۰ او سورة بروج ۸ کښې هم ذکر دی . وَاَنَّ اَكْثَرَكُمْ فٰسِقُوْنَ دا عطف دے په مخکښې اَنْ باندے يعني ايمان زمونږ او بے ايمانی ستاسو سبب د دشمنئ دے او فسق نه مراد فسقِ اعتقادی (کفر او شرک د کتابيانو) دے او فسقِ عملی دے يا دلته لام مقدر دے يعني لان اکثرکم فاسقون .

۶۰ په دے ايت کښې ذکر د ځلورم علت د ترکِ موالات دے (يعني دينِ توحيد ته او موحدينو ته شر والا وئيل سره د دے چه په دے کښې ډير شر نه دی) او مخکښې (نقمت) علتِ باطنی وو او دا (شر وئيل) علت ظاهري دے . او دا جواب دے د قول د کتابيانو کا فرانو هغوی وئيلے وو "لَا نَعْلَمُ دِيْنًا شَرًّا مِّنْ دِيْنِكُمْ" (موږ ته ستاسو د دين نه زيات شر والا دين بل نه دے معلوم) . بِشَرٍّ مِّنْ ذٰلِكَ ذٰلك اشاره ده دينِ توحيد ته چه په اعلان د اذان کښې موجود دے . (سوال) لفظ د مِنْ دلالت کوی چه شر دلته صيغه د تفضيل ده او تفضيل دلالت کوی چه په دينِ توحيد کښې هم څه نه څه شر شته دے ؟ (جواب) دا کلام بِنا دے په اعتقاد د دوی باندے يعني فرض کړئ چه زمونږ دين کښې څه شر شته دے ليکن

قَالُوْٓا اٰمَنَّا وَقَدْ دَّخَلُوْا بِالْكُفْرِ وَهُمْ

وائي دوی ايمان راوړے مونږه او حال دا چه دوی داخل شوي دی په کفر سره او دوی

قَدْ خَرَجُوْا بِهٖ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا

وتلی دی په کفر سره۔ او الله تعالیٰ خه پوهه دے په هغه خه چه دوی ئے

ستاسو دین خو ډیر شر دے نو خیل ته شر نه وائی او زمونږ دین ته شر وائی۔ مَثُوْبَةً (سوال) مثوبه خو په جزا د خیر کښې استعمالیږی نو دلته ئے د شر سره ولے ذکر کړه؟ (جواب) دا په طریقه د تهکم (یعنی استهزاء کول) په کافرانو پورے دے لکه په دے قول د الله تعالیٰ کښې فبشرهم بعذاب الیم۔ مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ دا بدل دے د من ذلك نه په تقدیر د مضاف سره یعنی دین من لعنه الله الخ ځکه چه بحث په باره د دین کښې دے او په دے اضافت کښې اشاره ده سببیت ته یعنی دین د هغه چا چه لعنت شوی دے په هغوی باندے په سبب د دغه دین او په دے کښې مراد هغه کناهونه دی چه سبب د لعنت ګرځولے شوی دے په قرآن کښې لکه کتمان د حق په سورة بقره ۱۵۹ کښې او دا خوئی اول د یهودیانو وو۔ وَغَضِبَ عَلَيْهِ هغه دین چه سبب د غضب الهی دے لکه په بقره ۶۱ ۹۰ کښې دا هم اول خوئی د یهودو وو۔ وَجَعَلَ مِنْهُمُ الْقِرَدَةَ وَالْخَنَازِيْرَ یعنی هغه دین چه سبب د مسخ ګرځولے شوے دے او په دے کښې د مفسرینو دوه قولونه دی اوّل دا چه په اصحاب السبت کښې مسخ د قردة په شکل سره وه او په اصحاب مائده (په زمانه د عیسیٰ علیه السلام کښې) مسخ د خنازیرو په شکل سره وه او دویم قول دا دے چه د اصحاب السبت ځوانان مسخ شول په صورت د قردة او بوډاګان په شکل د خنزیرانو او د دے سبب په سورة بقره ۶۵ کښې ذکر دے۔

وَعَبَدَ الطَّاغُوْتَ په دے قراءت کښې عَبَدَ فعل ماضی دے او طاغوت مفعول دے او لفظ "دین من" مقدر دے یعنی دین من عبد الطاغوت او قرطبی په دے ځائے کښې دولس قراءتونه ذکر کړے دی۔ او طاغوت کښې عبادت د سخی او اطاعت د کاهنانو او هر هغه اطاعت چه په معصیت د الله تعالیٰ کښې دی داخل دے او دا ټول کارونه په بنی اسرائیلو کښې

يَكْتُمُوْنَ ﴿٦١﴾ وَتَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ يُسَارِعُوْنَ

او وينے ته ډيرو لره دَدوی نه چه جلتی کوی پټوی -

فِى الْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ط

په ګناه کولو کښ او ظلم کولو کښ او په خوړلو دَ حرامو کښ .

لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٦٢﴾ لَوْلَا يَنْهٰهُمُ

خامخا بد دی هغه عملونه چه دوی ئے کوی - ولے نه منع کول دوی لره

موجود شوے ووُ - شَرٌّ مَّكَانًا مكان دَدوی په اخرت کښ اور دَجهنّم دے یا مکان په معنیٰ دَ مکانت سره دے حالت دَ دوی که په دنیا کښ وی او که په اخرت کښ - وَاَضَلُّ عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ دا خو په دنیا کښ دے او دلته شر او اضل اسم تفضیل په اعتبار دَ زعم دَ یهودیانو کښ دے یا اسم تفضیل په معنیٰ دَ اصلِ فعل سره دے -

۶۱ په دے ایت کښ پنځم علت ذکر کوی او په دے کښ تفصیل دے دَ دے قول چه شر او اضل او په دے کښ هغه یهود مراد دی چه تلبیس دَ مؤمنانو دَ پاره ئے دا سے کار کووُ او دا سے په سورة العمران ۷۲ کښ ذکر دی - وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا كَانُوْا يَكْتُمُوْنَ اشاره ده چه په زړونو دَ دوی کښ دومره ضلال او شر دے چه ستاسو دَ علم نه هغه بهر دے لکه سورة العمران ۱۱۸ کښ دی -

۶۲ دا هم دلیل دے دَ شر او دَ ضلال دَ دوی او په دے کښ شپږم علت ذکر کوی - وَتَرٰى دا دلیل دے چه دا عمل دَ ګمراهئ دَ دوی هر چا ته ښکاره دے - كَثِيْرًا بعضو خو ایمان راوړے ووُ - الْاِثْمِ مراد دَ دے اقوال دَ ګناه دی لکه قول دَ اتخاذ الولد او حلول او تثلیث -
وَالْعُدْوَانِ عملونه دَ ظلم قتل دَ انبیاؤ او دَ حق پرستو خلقو او تحریف کول -
السُّحْتَ مالونه دَ امیانو خوړل او اشتراء بالدین وغیره -
يُسَارِعُوْنَ مسارعت نه مراد دا دے چه په غیر دَ سوچ او فکر دَ عاقبت نه دا کارونه کوی - او فِى په فِى الْاِثْمِ کښ دلالت کوی په انهماك او استغراق دَ دوی په دے کارونو کښ -

الرَّبّٰنِيُّوْنَ وَالْاَحْبَارُ عَنْ قَوْلِهِمُ الْاِثْمَ
پیرانو او علماؤ دَ وینا دَ دوی دَ گناہ نه

وَاَكْلِهِمُ السُّحْتَ ؕ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا
او دَ خوړلو دَ حرامو نه - خامخا بد دے هغه کار چه دوی یے

يَصْنَعُوْنَ ﴿٦٣﴾ وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ يَدُ اللّٰهِ
کوی - او وائی یهودیان لاس دَ الله تعالیٰ

٦٣ په دے کښ ذکر دَ اووم علت دے او دا جدا قِسم گمراهی ده او صِرف دَ غښتو ملایانو عمل دے نو په غیر دَ عطف نه یے ذکر کړه۔
الرَّبّٰنِيُّوْنَ دلته مراد رهبان دَ نصاراؤ دی یا هغه خلق چه دعویٰ کوی دَ خدا پرستئ که یهود وی او که نصاریٰ وی او اَحْبَارُ غښتو ملایان دی اگرچه دوی په خپله دَ وینا دَ گناه نه او دَ خوراک دَ حرامو نه ځان بچ سا تلو لیکن دے منکراتو نه یے نهی نه کوله۔ (سوال) دلته یے عدوان ذکر نه کړو؟ (جواب ١) داخل دے په الاثم کښ نو دَ اختصار دَ کلام دَ پاره حذف شو (جواب ٢) دغه ربانیون او احبار په خپله په عدوان کښ شریک وو ځکه چه عدوان بد عات کول دی او هغه په ملایانو دَ دوی کښ ډیر وو (جواب ٣) عدوان دَ عوامو دَ دے کسانو نه پټ وو۔ لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَصْنَعُوْنَ قرطبی وئیلے دی دا دلیل دے چه پریخودونکے دَ نهی عن المنکر پشان دَ کوونکی دَ منکر دے۔ دا رنگ اشاره ده چه نهی عن المنکر مستقله فریضه ده په شان دَ امر بالمعروف نو یو دَ بل په ځائے پاندے نه کافی کیږی۔ (سوال) مخکښ ایت کښ یے يعملون اووئیل او په دے کښ يصنعون دے؟ (جواب) صناعت هغه عمل ته وئیلے شی چه همیشه کولے شی او په هغے کښ تجربه حاصل شی او جائز گڼړلے شی نو ملایانو چه نهی عن المنکر نه کوله دا عمل دوی ښه گڼړلو او دا کار یے همیشه کولو۔
ابن جریر دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت ذکر کړے دے چه نیشته په قرآن کښ دَ دے ایت نه زیات خطرناک زما په نیز ځکه چه مونږ هم نهی عن المنکر نه کوؤ۔ (استغفرالله العظیم)۔

مَغْلُوْلَةٌ ؕ غُلَّتْ اَیْدِیْهِمْ وَلُعِنُوْا بِمَا قَالُوْا ۘ

بند کړے شوے۔ (بلکه) بند کړے شویدی لاسونه دَ دوی او لعنت کړے شویدے په دوی باندے په سبب دَ هغے چه دوی وئیلی

بَلْ یَدٰهُ مَبْسُوْطَتٰنِ ۙ یُنْفِقُ كَیْفَ یَشَآءُ ؕ

بلکه لاسونه دَ الله تعالیٰ فراخه دی خرچ کوی څه رنګه چه او غواړی

وَلَیَزِیْدَنَّ كَثِیْرًا مِّنْهُمْ مَّآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ

او خامخا زیاتی کوی ډیرو لره دَ دوی نه هغه کتاب چه نازل کړے شوے دے تاته

مِنْ رَّبِّكَ طُغْیَانًا وَّكُفْرًا ؕ وَاَلْقَیْنَا بَیْنَهُمُ

دَ طرف دَ رب ستا نه، سرکشی او کفر۔ او اچولے دَه مونږ په مینځ دَ دوی کښ

الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ اِلٰى یَوْمِ الْقِیٰمَةِ ؕ كُلَّمَا

دُشمنی او کینه کړی تر ورځ دَ قیامت پورے۔ هر وخت

اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ ۙ وَیَسْعَوْنَ

چه بل کړی دوی اور دَ پاره دَ جنګ، مړ کړی هغے لره الله تعالیٰ او کوشش کوی دوی

فِی الْاَرْضِ فَسَادًا ؕ وَاللّٰهُ لَا یُحِبُّ الْمُفْسِدِیْنَ ﴿۶۴﴾

په زمکه کښ دَ فساد۔ او الله تعالیٰ نه خوخوی فساد کوونکی۔

وقف لازم

سئلہ ۶۴ په دے ایت کښ ذکر دَ اتم او نهم او لسم علتونو دے وقالت الیهود اه کلما اوقدوا نارا اه ویسعون فی الارض اه۔ یَدُ اللّٰهِ مَغْلُوْلَةٌ دا کنایه ده دَ قبض او دَ بخل نه لکه چه په سورة اسراء سئلہ ۲۹ کښ دی او دا قول دَ دوی ډیره بے عزتی او سب او شتم دے الله تعالیٰ ته۔ او دَ دے سبب دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه یهود علماء او عوام ټوله په وسعتِ دنیوی کښ ووُ دَ علماؤ به دَ عوامو دَ طرف نه دَ دین په وجے سره قسم قسم امدنئ وے او عوامو هم دَ حلال او حرام فرق نه کوو هر کله چه نبی صلی الله علیه وسلم مدینے منورے ته هجرت اوکړو او هلته دینِ اسلام خور شو او غالب شو نو دَ دوی امدنئ کمے شوے ځکه چه اکثر

خلق دَ دوی نه جدا شول او مسلمانان شول نو دوی وئیل (دَ خپلے غلطئ اظهار یئ نه کوئ) چه دَ الله تعالیٰ لاس زمونږ نه بند شول او هغه بخل شوږ کړو لکه چه دوی دَ فقر نسبت هم الله تعالیٰ ته کوؤ (سورة آل عمران ۱۸۱).
اوس هم ډیر جاهلان شته چه دَ حرام رزق دروازے پرے بندے شی او روزی یئ تنګه شی نو الله تعالیٰ ته ناکاره نسبتونه کوی. غُلَّتْ أَيْدِيهِمْ دا جمله دعائیه ده په طریقه دَ تعلیم سره دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه نیکانو بندګانو ته په وخت دَ دغه قول دَ یهودیانو کښ. او دا دُعا مستجابه ده په آخرت کښ چه دَ دوی لاسونه به سخونو سره تړلے شوے وی لکه په سورة یٰس ۸ کښ (ربنا) به یو تفسیر باندے او په سورة مؤمن ۷۱ کښ او دا رنګ په دُنیا کښ په اعتبار دَ معنیٰ ظاهری سره اګرچه کله کله په بعض کسانو کښ وی چه په دنیا کښ مسلمانان په دوی باندے غالب شی نو قیدیان یئ کړی او نیشاپوری یو خاص واقعه هم ذکر کړے ده چه یو وزیر دَ یهودیانو چه سعد الدولة سره مشهور وؤ بغداد ته په خپله دوره کښ راغے نو مدرسه مستنصریه ته لاړو او قرآن یئ طلب کړو او تپوس یئ اوکړو چه دا آیت (غلت ایدیهم) پکښ کوم ځائے کښ دے نو هغوی ورته اوخودلو نو هغه یئ محو (وران) کړو دَ قرآن نه. نو لږه موده تیره شوه چه بادشاه دَ ده نه په څه کار باندے ناراض شو نو پولیس یئ ور پسے را اولیږلو نو هغوی ورله لاسونه دَ ستي سره اوتړل او بادشاه امر اوکړو چه قتل یئ کړیٔ. (نو دا اعجاز دَ قرآن کریم دے) او دا رنګ په دنیا کښ په اعتبار دَ معنیٰ کنائی سره وی یعنی دوی دے په بخل کښ اخته شی دَ دے وجے نه دَ یهودیانو زیات بخیلان بل څوک نیشته دے. وَلُعِنُوا بِمَا قَالُوا او آثار دَ لعنت خو په یهودیانو باندے ډیر ښکاره شوے دی او په آئنده کښ به هم آثار ښکاره کیږی.
او دَ قول نه مراد لفظ مقولة دے او چا چه وئیلے دی چه قول نه مراد دا دے چه دوی الله تعالیٰ لره ید (لاس) ثابت کړے دے دا قول باطل دے ځکه چه روستو الله تعالیٰ ځان ته دَ یدان اثبات کوی او سمعانی په تفسیر کښ وئیلے دی چه اهل علمو وئیلے دی چه په دے کښ رد په یهودو باندے په اثبات دَ ید سره نه دے بلکه رد دے په نسبت کولو

دَ بخل الله تعالیٰ ته او هرچه یَدٌ دَکوهغه صفت دے بغیر (دَ علم) دَکیف نه، او دَ الله تعالیٰ دوه لاسونه دی او حدیث (مسلم، نسائی، احمد) کښی ثابت دی چه "کِلتا یدیه یمین" او الله تعالیٰ عالم دے په کیفیت دَ مراد باندے (تفسیر سمعانی ص۵۱/۲ج)۔

بَلْ يَدَاهُ مَبْسُوطَتَانِ يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ، دا رد دے دَ قول دَ هغوی چه مغلولة دے ځکه چه مبسوطتان په مقابل دَ مغلولة کښی دے۔ او اثبات دَ یدانو دَ الله تعالیٰ په سورة ص سے۵ کښی دے او اثبات دَ یَدٌ په ډیرو آیاتونو او احادیثو کښی دے بلکه په صیغه دَ جمع (ایدی) هم په سورة یٰس سے کښی شته ابن عبد البر په شرح دَ موطا کښی وئیلے دی چه دَ اهل السنة اجماع ده چه آیاتونه او احادیث دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ باندے اقرار کول او ایمان راوړل او په حقیقت باندے حمل کول بغیر دَ تکییف او تشبیه نه ضروری دی او دَ دے نه انکار کول او تاویل او تشبیه کول مذهب دَ مبتدعینو (جهمیه-معتزلو) دے۔

امام ابو الحسن الاشعری په کتاب الابانة کښی مذهب دَ سلف صالحینو دغسے لیکلے او غوره کړے دے، او امام ابو حنیفه رحمه الله ته په فقه اکبر او دَ هغے په شرح ص کښی دا مذهب نقل دے چه تاویل دَ دے به په قدرت سره نشی کیدلے۔ او دَ دے آیت په تفسیر کښی مفسر علاؤالدین خازن هم ډیر خائسته تفصیل کړے دے دَ هغے خلاصه دا ده چه مذهب دَ جمهور سلف او اهل سنت او بعض متکلمینو دا دے چه یَدٌ صفت دے دَ صفاتو دَ الله تعالیٰ نه لکه سمع، بصر او وجه نو په موننږ باندے واجب دے په هغے باندے ایمان راوړل او چه څنګه په کتاب او سنت کښی راغلے دی په هغه طریقے سره جاری کول بغیر دَ کیف او تشبیه او تعطیل نه او دویم مذهب دَ جمهور متکلمینو او اهل تاویل دے چه دَ یَدٌ تاویل به کیږی په قدرت او په نعمت سره او په دے کښی ډیر سوال او جواب ئے ذکر کړے دی او په آخر کښی وئیلے دی چه ثابت شوه په دے بیان سره چه یَدٌ صفت دَ الله تعالیٰ دے چه څنګه دَ هغه دَ جلال سره لائق دے او دَ انسان سره تشبیه پشان دَ مجسموٴ نشو کولے. يُنْفِقُ كَيْفَ يَشَاءُ

تائید دے دَ مقصد دَ مبسوطتان او اشاره ده چه اتفاق دَ خپل حکمت موافق
کوی په هغه باندے اعتراض نشی کیدلے۔ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّا
أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَكُفْرًا په دے کښ نسبت قرآن ته نسبت سببیه
دے لکه په سورة توبه ۱۲۵ او سورة اسراء ۸۲ کښ دی یعنی دوی خو دَ
مخکښ نه په طغیان او کفر کښ اخته دی خو مره چه دَ قرآن یو وایت
یا یو سورت نازل شی او دوی ته بیان شی نو دوی دَ هغے نه هم انکار
او سرکشی اوکړی نو طغیان او کفر ئے په دے طریقے سره زیاتیږی
دارنګ چه په کفر باندے کلک وی او ایمان نه راوړی نو دا هم زیادت
دے۔ طُغْيَان دَ حد نه تجاوز کول دی او هغه رسوونکی وی کفر ته دَ دے
وجے نه ورپسے كُفْرًا ذکر کړو یا دا چه دَ دوی په ملایانو کښ طغیان زیات شی او په
عوامو کښ کفر زیات شی۔ او دَ مخکښ جملے په مناسبت سره اشاره ده چه
سرهٔ دَ تورو کارونو دَ کفر نه (چه مخکښ ایاتونو کښ ذکر شول) دَ الله تعالی
بے ادبی کول دا دلیل دے دَ زیادت دَ طغیان او کفر دَ دوی۔
وَأَلْقَيْنَا بَيْنَهُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَاءَ إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ یعنی په مینځ دَ یهودو
او نصارٰی کښ بُغض او دشمنی ده او دارنګ په مینځ دَ فرقو دَ یهودو
کښ او دَ فرقو دَ نصارٰی کښ هم بغض او دشمنی ده په سبب دَ اختلاف
او تفرق دَ دین سره (سوال) په ۵۱ کښ تیر شول چه دَ دوی په مینځ
کښ ولایت (دوستانه) دے؟ (جواب) هلته ولایت په معنیٰ دَ مشابهت
دے په کارونو دَ کفر کښ، او امداد کول دَ یو بل سره په مقابله دَ مؤمنانو
کښ۔ اګرچه کورنئ کښ ئے بغض او عداوت دے۔ (سوال) دا سے ړلے او
دشمنئ په دے امت کښ هم شته دے نو صرف دَ یهود او نصارٰی
ذکر ولے اوکړے شو؟ (جواب ۱) دَ هغوی ذکر دَ پاره دَ عبرت دَ
مؤمنانو دے چه اے مؤمنانو تاسو دَ هغوی پشان مه کیږئ نو کوم
مؤمنانو چه په قرآن او سنت پوره عمل کړے دے نو هغوی دَ دغه
تفرق او دشمنئ نه بچ دی۔ (جواب ۲) خازن وئیلے دی چه دوی خو
دَ کتاب دَ نزول په وخت کښ دا تفرق او دشمنی جوړ کړے وه او هر
چه زمونږ په امت کښ تفرق او دُشمنی ده نو هغه په وخت دَ نبی صلی الله علیه وسلم
او دَ صحابه او تابعینو او تبع تابعینو په وخت کښ نه وه۔

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْكِتٰبِ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَكَفَّرْنَا

او كه چرے كتاب والو ايمان راوړو او ځان يے بچ كړو د ګناهونو نه خامخا لرے به كړو مونږ

عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ وَلَاَدْخَلْنٰهُمْ جَنّٰتِ النَّعِيْمِ ﴿۶۵﴾

د دوی نه بدیٔ د دوی او خامخا داخل به كړو مونږ دوی جنتونو د نعمتونو ته۔

عَدَاوَةً ښكاره دشمنی او بَغْضَآءَ پټه د زړه كينه او حسد دے د يَوْمِ الْقِيٰمَةِ نه مراد قُرْبُ (نزدے وخت) د قيامت مراد دے چه وخت د نزول د عيسٰی عليه السّلام دے۔

كُلَّمَآ اَوْقَدُوْا نَارًا لِّلْحَرْبِ اَطْفَاَهَا اللّٰهُ اشاره ده لكه چه د دوی په كورنیٔ كښ دشمنی ده نو د هغے نه زياته يے د مؤمنانو سره دشمنی ده۔

نَارًا لِّلْحَرْبِ نه مراد اسباب د جنګ او مكرونه او كيدونه د هغے دی۔

اَطْفَاَهَا اللّٰهُ كنايه ده چه الله تعالٰی د دوی شر په څه طريقه ياندے دفع كوی مسلمانانو له غلبه وركوی او د دوی په زړونو باندے رعب اچوی۔اشاره ده چه دوی په اُحد او احزاب او په غزوه بنی نضير او بنی قريظه وغيره واقعاتو كښ د مؤمنانو مخالف هر قسم كيدونه كړے وو ليكن ناكام او ذليل شول۔ وَيَسْعَوْنَ فِی الْاَرْضِ فَسَادًا د دين اسلام او قرآن او سنت نه منع كول د خلقو او د هغے مقابلے كول او د يهوديت او نصرانيت اشاعت كول دا ټول فساد فی الارض دے ځكه چه په دے سره كفر او شرك غالب كيږی او هغه سبب د خرابیٔ د دُنيا دے۔

۶۵ روستو د ذكر د علتونو د ترك موالات نه دعوت دے هغوی ته د حق دين (چه ايمان او تقوٰی ده) په طريقه د بشارتِ اخرويه سره۔

اٰمَنُوْا صحيح ايمان مراد دے په الله تعالٰی او په آخری رسول صلی الله عليه وسلم باندے

وَاتَّقَوْا هغه كفريات او علتونه چه مخكښ آياتونو كښ ذكر شول د هغے نه ځان بچ كول۔ سَيِّاٰتِهِمْ ټول ګناهونه صغيره او كبيره او ناكاره صفات مراد دی ځكه چه په ايمان او اسلام سره ټول ګناهونه معاف كيږی

لَكَفَّرْنَا عَنْهُمْ سَيِّاٰتِهِمْ كښ دفع د عذاب ته اشاره ده او په لَاَدْخَلْنٰهُمْ كښ حصول د ثواب ته اشاره ده۔

وَلَوْ أَنَّهُمْ أَقَامُوا التَّوْرٰىةَ وَالْإِنْجِيلَ

او كه دے خلقو عمل اوكړو په تورات او په انجيل

وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْهِمْ مِّنْ رَّبِّهِمْ لَأَكَلُوا مِنْ

او په هغه كتاب چه نازل كړے شوے دوى ته د طرف د رب د دوى نه خامخا خوراك به كړے وے دوى

فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ ۚ مِنْهُمْ أُمَّةٌ

د پورته د دوى نه او لاندے د خپو د دوى نه۔ بعضے د دوى نه ډله

مُّقْتَصِدَةٌ ۖ وَكَثِيرٌ مِّنْهُمْ سَآءَ مَا يَعْمَلُونَ ﴿٦٦﴾ ع ۱۲/۵

حق پرسته ده. او ډير د دوى نه بد دى هغه عملونه چه دوى ئے كوى۔

سـ٦٦ دا دعوت په طريقه د بشارتِ دنيويه دے او په دے ايت كښ د ايمان او تقوىٰ تعبير ئے په اقامت د كتب الهيو سره ذكر كړو ځكه چه اقامت د كتب الهيه كښ ايمان او تقوىٰ داخل ده او ورسره دعوت او اجراء د قانونِ الهى هم مراد ده او دا روستنے چه د اول سره يو ځائے شى تو دنيوى انعامات هم حاصليږى۔ دا رنګ په سورة اعراف سـ٩٦ كښ هم دے او په سورة هود سـ٥٢ سـ٣ او سورة نوح سـ١١ سـ١٢ او سورة جن سـ١٦ كښ هم دا مضمون دے۔

أَقَامُوا اه مراد د اقامت نه تصديق او عمل كول دى پخپله او دا رنګ د هغے جارى كول په نورو خلقو كښ په طريقه د دعوت او د جهاد او د تحكم سره. (سوال) هر كله چه تورات او انجيل منسوخ دى نو د څه وجے نه په دے كښ د هغوى د اقامت ذكر اوشو؟ (جواب ۱) مراد د هغے اقامت دے په وخت د نزول او د زمانے د هغوى كښ او د هغے نه روستو په زمانه د نزولِ قرآن كښ اقامت صرف د قرآن مراد دے۔ (جواب ۲) مراد د تورات او انجيل نه ايمانيات او اصول د دين دى چه په هغے كښ ايمان په قرآن او په اخرى نبى باندے هم داخل وى او هغه منسوخ نه دى۔

لَأَكَلُوا مِنْ فَوْقِهِمْ وَمِنْ تَحْتِ أَرْجُلِهِمْ مراد د فوق نه وخت په وخت بارانونه د خير او بركت دى او مراد د تحت نه فصلونه ميوه جات وغيره دى دويم قول دا دے چه فوق نه مراد ميوے دى چه د اونو د پاسه وى او د تحت

يٰٓاَيُّهَا الرَّسُوْلُ بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَيْكَ مِنْ

اے رسول (صلی اللہ علیه وسلم) اورسوه ټول هغه چه نازل کړے شوی دی تاته دَ طرف

رَّبِّكَ ؕ وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسٰلَتَهٗ ؕ

دَرب ستا نه. او که تا دا اسے اونکړو نو نه دے رسولے تا هيڅ پيغام دَالله تعالٰی

وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

او الله تعالٰی بچ کوی تا دَ خلقو نه. يقيناً الله تعالٰی

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٦٧﴾ قُلْ

قدرت نه ورکوی (سناپه وژلو) قوم کافرانو ته. ته ورته اووايه

ته هغه ميوے مراد دی چه په زمکه باندے پرتے وی. مِنْهُمْ اُمَّةٌ مُّقْتَصِدَةٌ داسے په سورة اعراف ۱۵۹ کښ او په سورة حديد ۲۷ کښ هم دی. اقتصاد (حق پرستی) په عقيده او په عمل کښ دا دے چه افراط او تفريط نه وی لکه چه يهود په باره دَ عيسٰی کښ تفريط او نصارٰی افراط کړے وو. او غلو پکښ هم نه وی لکه چه دواړو فريقو غلو په عقيدو او په اعمالو کښ کړے دے نو اقتصاد دَ پوره توحيد او دَ پوره اتباع سنت نه عبارت دے.

۶۷ دَ دے ايت نه دريمه حصّه دَ سورة دَ اختتام پورے پيل کيږی دوه بابونه دی اول باب تر ۸۵ پورے دے، په دے کښ اول خطاب دے رسول الله صلی الله عليه وسلّم ته چه په هغے کښ ترغيب او تيزی ورکول دی په دعوت او تبليغ باندے او نصارٰی ته تبليغ دے دَ بارهٔ دَ نصاراؤ چه هغه پنځه مسائل دی اوله مسئله په ۶۸ کښ ده او په ۶۹ کښ خلاصه دَ کتب منزله ده بيا زجر دے بنی اسرائيلو ته په ترک (پرېښودلو) دَ اقامت دَ کتبِ منزله باندے په ۷۰ ۷۱ کښ. بيا دويمه مسئله په ۷۲ او دريمه مسئله په ۷۳ کښ ده چه هغه حکم دَ کفر دے په نصاراؤ باندے. بيا ترغيب دے توبے کولو ته په ۷۴ کښ او استدلال دے په عبديت دَ عيسٰی او مريم عليهما السلام باندے په ۷۵ کښ بيا څلورمه مسئله ده په رد دَ شرک فی العبادة والتصرف په ۷۶ کښ او پنځمه مسئله ده په رد دَ غلو دَ عقيدے او دَ اعمالو کښ

په ۷۷ کښې بیا تخویف دنیوی او اخروی دے سره دَ ذکر دَ اسبابو دَ عذاب ته
په درے ایاتونو کښې بیا بشارت دے په ایمان بالقرآن دَ ۸۲ نه تر ۸۵ پورے.
په دَے ایت کښې خطاب دے رسول ته په تاکید دَ دعوت او تبلیغ سره په
درے طریقو سره اول امر بَلِّغْ مَآ اُنْزِلَ اِلَیْكَ اشاره ده چه نصاب دَ تبلیغ
قرآن او سنت دے. مراد دَ دے نه تبلیغ دَ ټول ماانزل دے په جهر
او په زړه ورتیا سره او په غیر دَ لحاظ دَ هیڅ یو تن نه لکه په سورة حجر
۹۴ کښې هم دا مقصد دے او تبلیغ په نبی باندے فرضِ عین دے او
په امت باندے په مختلف مرتبو او درجاتو سره دے. دویمه طریقه
وَاِنْ لَّمْ تَفْعَلْ نفی دَ دغه قیوداتو مراد ده یعنی که تبلیغ دے اونکړو
دَ ټول ماانزل (بعض دِ پریخودلو) او په جهر سره دے اونکړو (بعض
دِ چاته خاص کړو) او په جراءت سره دِ اونکړو یره دے اوکړله دَ خلقو
نه او لحاظ دِ دے دَ بعض خلقو اوکړو نو فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهٗ یعنی ستا رسالت
قبول نه دے مسئله دے صحیح نه ده رسولے.
سمعانی وائی چه دا دلیل دے چه یوه مسئله بالفرض نبی پریخودے وی
نو دَ هغے دَ پریخودلو جرم او دَ ټول دین پریخودلو جرم یو شان دے
او قرطبی وائی دا تادیب دے نبی صلی الله علیه وسلم ته او نورو علماؤ
ته چه دَ ما انزل (شریعت) نه به هیڅ مسئله نه پټه وی. او حدیث دَ
بخاری او مسلم کښې دَ عائشة رضی الله عنها نه نقل دی که چا اُوئیل چه
نبی صلی الله علیه وسلم دَ ماانزل نه څه خیز پټ کړے دے نو دغه
کس په الله تعالیٰ باندے ډیر دروغ جوړ کړل په دلیل دَ دے ایت
سره. او قرطبی وئیلے دی دا رد دے په روافضو (الله تعالیٰ دِ دوی او
شرموی) دوی وائی چه نبی صلی الله علیه وسلم بعض دَ وحی نه (تقیة)
پټ ساتلے دی کله وائی چه بعض علمو نه ئے علی رضی الله عنه ته خاص
بیان کړے دی کله وائی چه دَ قرآن لس پارے په پاره دَ خلافت دَ علی رضی کښې
وے هغه ئے پټے کړے دی (لعنة الله علی الکاذبین).
نو دا رنګ په دے کښې رد دے په مبتدعینو باندے دَ هغوی خیال
دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلم دین پوره نه دے رارسولے دَ دے
وجے نه هغوی پکښې دَ خپل خواهش مطابق اضافے کوی او بدعات پیدا کوی

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ

اے کتاب والو ! نه يئ تاسو په هيڅ دين باندے تر دے چه عمل اوکړئ

ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن

په تورات او په انجيل او په هغه کتاب چه نازل شوى دے تاسو ته د طرف

رَّبِّكُمۡۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُم مَّآ أُنزِلَ

د رب ستاسو نه۔ او خامخا زياتوى ډيرو لره د دوى نه هغه کتاب چه نازل کړے شوے

(سوال)" وان لم تفعل فما بلغت رسالته " د فعل نه مراد تبليغ دے نو دا شرط او جزا خو يو څيز دے يعنى که چرے تبليغ دے اونکړو نو تبليغ دے نه دے کړے ؟ (جواب) د محشّى نه معلومه شوه په وان لم تفعل نفى د تبليغ مقيّد ده يعنى "ټول او ښکاره او په جراءت سره بے لحاظه"۔ نو په نفى د بعض خاص شرعى سره نفى د عام راتلے شى يعنى دا باقى هم پښتان د نيشت دى۔ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ دا دريمه طريقه ده د تاکيد يعنى په تبليغ کښ هيڅ يره په تا باندے نيشته ځکه چه الله تعالى ستا حفاظت کوى۔

(سوال) نبى صلّى الله عليه وسلّم ته په مکه کښ او په اُحد کښ او په نورو وقتونو کښ خو قِسم قِسم اذيتونه رسيدلے دى نو دا وعده څنګه ده۔

(جواب١) سورة مائده د دغه اذيتونو نه روستو نازل شويده۔

(جواب٢) دلته مراد حفاظت دے د قتل کولو ته اشاره ده چه په تبليغ کښ هر قسم اذيتونه تيرول ضرورى دى هاں د قتل نه ځان بچ کولو د پاره رخصت شته دے۔ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ اشاره ده چه ستا په ذمه باندے بلاغ دے او هدايت خو د الله تعالى په لاس کښ دے او د کافرين نه مراد عناديان او ضديان دى لکه يهود او نصارى يا مراد د هدايت نه طاقت ورکول د قتل کولو د نبى صلى الله عليه وسلّم دے او کافرين نه مراد عام دے يعنى الله تعالى دوى لره طاقت او امداد نه ورکوى په قتل کولو د دے نبى صلّى الله عليه وسلّم باندے۔

اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ طُغْيَانًا وَّكُفْرًا ۚ فَلَا تَاْسَ

تاته ستا دَ رب دَ طرف نه سرکشي او کفر ، پس مه خفه کیږه

عَلَى الْقَوْمِ الْكٰفِرِيْنَ ﴿۶۸﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

په قوم کافرانو باندے ۔ یقیناً هغه کسان چه مؤمنان دي

وَالَّذِيْنَ هَادُوْا وَالصّٰبِئُوْنَ وَالنَّصٰرٰى

او هغه کسان چه یهودیان دي او صابیان دي او نصارٰی دي

مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَعَمِلَ

چا چه ایمان راوړو په الله تعالیٰ او په ورځ دَ اٰخرت او عمل ئے اوکړو

صَالِحًا فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ

په طریقه دَ پیغمبر نو نه به وي هیڅ یره په دوی باندے او نه به دوی

ف۶۸ دا اوله مسئله ده دَ مسائلو تبلیغیو نه او تشریح ده دَ بَلِّغْ۔ لَسْتُمْ عَلٰى شَيْءٍ مراد دَ څیز نه هغه دے چه هغے ته اعتبار ورکیدے شي په دین کښ او فائده منه وي نو دَ ډیرے مبالغے دَ وجے دَ مطلق شیئیت (څیزتوب) نه اوباسي۔ حَتّٰى تُقِيْمُوا التَّوْرٰاةَ اه مخکښ دَ اقامت فائده ذکر شویوه او دلته زورته په عدم اقامت باندے ده او په اقامت دَ ټولو کتابونو کښ توحید او ایمان په اٰخري رسول او په قرآن باندے داخل دے۔ امام بخاري دَ سفیان رض نه نقل کړے دي چه نیشته په قرآن کښ دَ دے اٰیت نه سخت په ما باندے۔ اشاره ده چه په دے خطاب کښ دَ دے امت علماء هم داخل دي۔ وَلَيَزِيْدَنَّ كَثِيْرًا مِّنْهُمْ اه په ف۶۴ کښ دَ کثیر نه صرف یهودیان مراد وو او دلته ټول اهل کتاب مراد دي بله دا چه هلته طغیان او کفر په معنیٰ دَ بے ادبئ دَ الله تعالیٰ وو او دلته طغیان او کفر نه تحریف او کتمان په کتاب دَ الله تعالیٰ کښ مراد دے یعني دوی دَ اقامت په ځائے باندے کتمان، تحریف او تغییر قائموي۔ فَلَا تَاْسَ اه یعني دَ بیان او دعوت نه روستو هم دا خلق نه مني بلکه نور کفر او طغیان هم کوي نو دَ دوی په کفر باندے خفګان مکوه یعني دَ دے کفر دَ وجے نه په دوی باندے عذاب

يَحْزَنُوْنَ ﴿٦٩﴾ لَقَدْ اَخَذْنَا مِيْثَاقَ بَنِيْٓ

غمژن کیږي . یقینًا اخستے دہ مونږہ پخه وعده دَ بني

اِسْرَآءِيْلَ وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا ۭ كُلَّمَا

اسرائیلو نه او لیږلے دي مونږ دوی ته رسولان - هر وخت

او هلاکت راځي په هغې باندې خفګان مه ښکاره کوه -
٦٩ ربط دَ آیت دا دے چه مخکښې دَ اقامة الکتب عظمة شان ذکر شو اوس دَ هغې تفسیر کوی په ایمان صحیح او عمل صالح سره او وائي چه دا سبب دَ نجات دے - حاصل دَ آیت دا دے چه اقامة دَ کتبِ الٰهیه صِرف دَ نومونو او نسبتونو نه عبارت نه دے چه څوک وائي زه منسوب یم موسٰی علیه السلام ته او څوک وائي زه منسوب یم یحیٰی علیه السّلام ته او څوک وائي زه منسوب یم عیسٰی علیه السّلام ته او څوک وائي زه منسوب یم آخری نبي ته دا نسبتونه په هله فائده ورکوی چه ایمان او عمل صالح ورسره ملګرے شي -
(سوال) یکار دا ده چه الصابئین یې ویلے وے ځکه چه عطف دے په الذین اٰمنوا او هغه اسم دے او اسم دَ اِنَّ په محل دَ نصب کښې دے ؟
(جواب ۱) دا عطف دے په محل (بعیده) دَ اسم باندې او هغه رفع ده ځکه چه په مینځ کښې فاصله راغلې ده په والذین هادوا سره او دا قول دَ کسائيُ او دَ کوفیانو دے - (جواب ۲) دا دے چه دا خبر دَ مبتدامحذوف دے په مینځ دَ اوله جمله کښې یعني والصابئون کذالك او په عبارت کښې په اصل کښې تقدیم او تاخیر دے یعني دَ خبر دَ اِنَّ نه روستو دا جمله ده - (سوال) په تغییر دَ دے لفظ (په رفع سره راوړل) کښې څه حکمت دے ؟ (جواب) هر کله چه صابئون په کفر کښې دَ دے ټولونه سخت وو ځکه چه دوی ټول آسماني دینونه یې پریخودلے وو او هغوی ته بخنه کوی په شرط دَ ایمان او عمل صالح سره نو یهود او نصاریٰ ته خو په طریقې اولیٰ سره بخنه کوی - (سوال) په سورة بقرة ٦٢ کښې دا لفظ یې روستو ذکر کړے دے او دلته په مینځ کښې دے؟
(جواب) هر کله چه صابئون دَ یهود او نصاریٰ په مینځ کښې پیدا شوي دي او خپل نسبت زبور ته کوی نو په سورة بقرة کښې اول ذکر دَ طرفینو او شو

جَآءَهُمْ رَسُوْلٌۢ بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ ۙ

چه راغئ دوی ته رسول په هغه خبره چه نه خوخوله نفسونو دَ دوی

فَرِيْقًا كَذَّبُوْا وَفَرِيْقًا يَّقْتُلُوْنَ ﴿۷۰﴾

یو ډله دَ هغوی (پیغمبرانو) ئې دروغژن کړه او بله ډله ئې او وژله -

نو روستو ئې اوسط ذکر کړو او دلته ئې په اصل ترتیب سره ذکر کړل.

سوال. په سورة حج ۱۷ کښې خو ورسره المجوس او الذین اشرکوا هم ذکر دی او په سورة بقره او په دے سورت کښې نه دی ذکر کړی ؟

جواب. په دے دواړه سورتونو کښې صرف دَ هغه ډلو ذکر مقصد دے چه هغوی خپل نسبت یو اسمانی کتاب ته کوی نو دَ هغوی دَ نجات طریقه ئې خودلے ده او په سورة حج کښې صرف دَ فرقو ذکر کول مقصد دی او پوره اقسام دَ کافرانو ئې (په مقابله دَ مؤمنانو کښې) ذکر کړے دی او تفصیل دَ صابئون په تفسیر سورة بقره کښې ذکر دے. مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ اه په دے ایت کښې دَ اعراب په لحاظ سره دوه قولونه دی اول دا چه دَ اِنَّ دَ پاره الذین اٰمنوا اسم دے او والذین هادوا عطف دے او من اٰمن اه خبر دے او ضمیر راجع (په منهم) سره پټ دے. دویم قول دا دے چه من اٰمن اه بدل دے دَ الذین هادوا نه او فلا خوف اه خبر دے بنا په اول قول مراد دَ الذین اٰمنوا نه صرف دعوی دار دَ ایمان دی لکه منافقان او بنا په دویم قول سره مطلق مؤمنان مراد دی. فَلَا خَوْفٌ اه دا په جنت کښې مراد دے یعنی دَ عذاب نه به خوف نه وی او نه به په دنیا پسے غم او افسوس کوی یا مراد دا چه خوف به نه وی دَ گناهونو سابقو نه او نه به افسوس نه کوی په فوت کیدلو دَ نیک عملونو په حال دَ کفر کښې ځکه چه دَ دوی سیئات په حسناتو سره بدل کړے شول دا قول مهائمی په تبصیر الرحمان کښې لیکلے دے.

۷۰ دا جواب دَ یو سوال دے یعنی اهل کتاب دعوی کوی چه مونږ اقامة الکتب کړے دے ځکه چه ایمان او عمل صالح لرو نو په دے ایت کښې دَ هغے جواب ته اشاره ده چه تاسو اقامة الکتب او ایمان او عمل صالح نه دے کړے بلکه تاسو دَ میثاق الٰهی مخالفت او تکذیب او قتل دَ

وَحَسِبُوْٓا اَلَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ فَعَمُوْا وَصَمُّوْا

اوگمان اوکړو دوی چه نېشته (په موږ باندې) څه عذاب (په دې عمل زموږ سره) نو ړانده شول او کاڼه شول دوی

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُوْا وَصَمُّوْا

بیا مهربانی اوکړه الله تعالیٰ په دوی باندې بیا ړانده شول او کاڼه شول

كَثِيْرٌ مِّنْهُمْ ؕ وَاللّٰهُ بَصِيْرٌۢ بِمَا يَعْمَلُوْنَ ﴿٧١﴾

ډیر د دوی نه . نو الله تعالیٰ لیدونکے دے هغه عملونو لره چه دوی ئې کوی.

رسولانو کړے دے نو څه رنګه دعوٰی د ایمان او عمل صالح کوی ځکه چه تکذیب او قتل د نبی خو یقیناً کفر دے. مِيْثَاقَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ اه د هغې ذکر په سورة بقره ﷺ ٦٣ ﷺ ٨٣ ﷺ ٨٤ کښ تیر شوید ے. وَاَرْسَلْنَآ اِلَيْهِمْ رُسُلًا. رسولان ئې د دے د پاره لیګلے دی چه دوی ته میثاق وریاد کړی كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُوْلٌ دا زجر دے د بنی اسرائیلو په نقضِ میثاق سره. بِمَا لَا تَهْوٰٓى اَنْفُسُهُمْ احکام شرعیه خو همیشه د خواهشاتو نفسانیو نه خلاف وی او مشتمل وی په توحید او سنت باندے. يَقْتُلُوْنَ دا صریح دے چه بنی اسرائیلو ډیر انبیاء علیهم السّلام قتل کړے دی او فعل مضارع ئې د دے وجے نه ذکر کړیدے چه اوس هم ارادے لری چه قتل کړی آخری نبی لره. فَرِيْقًا په دواړه ځایونو کښ مفعول مقدم دے د پاره د فعل. دا سے ایت په سورة بقره ﷺ ٨٧ کښ هم دے په سورة بقره کښ مقصد ذکر کول د خبائثو د یهودیانو وو نو د تاکید د پاره فَفَرِيْقًا ذکر کړو او دلته ارسلنا دے. او د تفصیل د خبائث د هغوی د پاره د عیسٰی علیه السلام ذکر هم شوے وو او دلته تاکید مقصد نه دے صرف اخبار د بے لوظئ د هغوی مقصد دے.

ﷺ ربط دا دے چه دغه مرض د تکذیب په دوی کښ همیشه د پاره باقی پاتے شو او سبب د هغے ګمان عدم نزول د عذاب وو. وَحَسِبُوْٓا په عطف کښ په ماقبل کذبوا باندے اشاره ده استمرار د دے مرض ته په دوی کښ یعنی دوی چه تکذیب او قتل د انبیاؤ کوؤ نو دوی دا کار جائز ګنړلو او وئیل ئې چه دا سبب د عذاب نه دے. اَنْ لَّا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ په معنیٰ د عذاب او بلاء او تکون د کان وجودی په معنیٰ دے صرف

لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوٓا إِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيحُ

یقیناً کفر کړیدے هغه کسانو چه وائی چه یقیناً الله تعالیٰ هغه خو مسیح

ابْنُ مَرْيَمَ ۖ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ

ځویځ دَ مریم دے. او وئیلے دی مسیح اے بنی اسرائیلو !

اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّى وَرَبَّكُمْ ۖ إِنَّهُۥ مَن يُشْرِكْ

بندګی کوئ دَ الله تعالیٰ چه رب ځما او رب ستاسو دے۔ یقیناً چاچه شرک اوکړو

بِاللّٰهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللّٰهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَىٰهُ

دَ الله تعالیٰ سره نو یقیناً بند کړیدے الله تعالیٰ په هغه باندے جنت او ځائے دَ دهٔ

فاعل غواړی او اسباب دَ دے ګمان ډیر وؤ اول داچه دوی وئیل نَحْنُ أَبْنَاءُ اللّٰهِ وَأَحِبَّاءُهُ لکه چه په دے سورت کښ تیر شویدی. دویم دَ دوی عقیده وه چه هر رسول دَ دوی دَ شرع نه لرې خلاف بل حکم راوړی نو هغه دَ دوی په نیز واجب القتل وؤ. دریم دوی عقیده لرله چه زمونږ اباؤ اجداد به زمونږ نه عذابونه دفع کوی (خازن). فَعَمُوا وَصَمُّوا ړوند والے او کوڼروالے دَ حق نه مراد دے یعنی حق نه کتل او فکر کول او حق اوریدل دوی پرېښودل ځکه څوک چه ځان ګلے شوے ګڼړی نو هغه دَ الله تعالیٰ کتاب ته غوږ نه ږدی.

ثُمَّ تَابَ اللّٰهُ عَلَيْهِمْ ، ابو السعود په تفسیر کښ وئیلے دی چه دَ دے توبے نسبت ئے دوی ته نه دے کړے اشاره ده چه دوی توبه نه وه کړے بلکه الله تعالیٰ دَ تجدید دَ دین دَ پاره نور رسولان راواستول یا داچه دَ دوی توبه پښان دَ عدم توبه وه. ثُمَّ عَمُوا وَصَمُّوا كَثِيرٌ مِّنْهُمْ كثير ئے ځکه اوئیلو چه بعضو دَ دوی نه ایمان راوړے دے په آخری نبی صلی الله علیه وسلم باندے او کثیر لفظ بدل دے دَ ضمیر دَ عموا وَصموا نه یا خبر دے دَ مبتدا محذوف یعنی هُمْ كَثِيرٌ او دا ترکیب پښان دَ أَسَرُّوا النَّجْوَى الَّذِينَ ظَلَمُوا انبیاء ۳ د ے. بعض مفسرینو دَ اول عموا وصموا سره عبادة دَ عجل لیکلے دے او دَ دویم سره سوال دَ رویت دَ الله تعالیٰ لیکن دا قول صحیح نه دے بلکه دا هغه تاریخ دَ بنی اسرائیلو ته اشاره ده چه روستو

النَّارُ ؕ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ ﴿٧٢﴾ لَقَدْ

اور دے۔ او نیشته ظالمانو لره هیڅ مددګار۔ یقیناً

كَفَرَ الَّذِيْنَ قَالُوْٓا اِنَّ اللّٰهَ ثَالِثُ ثَلٰثَةٍ ۘ

کفر کړیدے هغه کسانو چه وائي چه بیشکه الله تعالیٰ دریم دے د دریو نه

وقف لازم

دَ موسیٰ علیه السلام نه وُو چه دوی ته ډیر رسولان رالیږلے شویوؤ لکه چه مخکښ ایت کښ تیرشول او دوی په قتل کول او انکار به ئې کوؤ او بیا به یل رسول الله تعالیٰ رالیږلو او دوی به قتل یا انکار کوؤ۔

او قفال وئیلے دی چه دَ دے ایت تفسیر په سورة بنی اسرائیل کښ دَ سکـ نه ترسکـ پورے موجود دے۔

سـ۷۲ دا دویمه مسئله تبلیغیه ده په بارة دَ کفر دَ نصاراؤ کښ او مقصد پکښ هغوی ته دعوت دَ توحید دے په قول دَ عیسیٰ علیه السلام سره۔ او په دے کښ ذکر دَ عمیٰ او دَ صمم دَ دوی دے مخکښ دَ بعثت دَ اخری رسول نه۔ اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ دا سے په سـ۱۷ کښ هم ذکرشول هلته رد کول وو په عقیده دَ شرك فی التصرف باندے او دلته رد دے په عقیده دَ شرک فی العبادة باندے ځکه وروسته قول دَ عیسیٰ علیه السلام په رد دَ شرك فی العبادة کښ ذکر کوی۔ او دا قول دَ یعقوبیه او ملکانیه وو (دا ډلے وے دَ نصاراؤ) په دے وجه سره چه دوی وئیل چه الله تعالیٰ حلول کړے دے په بدن دَ عیسیٰ کښ نو عبادت دَ عیسیٰ عبادت دَ الله تعالیٰ دے او هر کله چه دوی دا نه دی وئیلے چه عیسیٰ مستقل اِله دے دَ دے وجے نه ئې دا سے او نه وئیل چه "اِنَّ الْمَسِيْحَ بْنَ مريم هو الله"۔ وَقَالَ الْمَسِيْحُ الخ دا دلیل نقلی دے دَ عیسیٰ علیه السلام نه په رد دَ شرك فی العبادة باندے۔ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ په دے عطف کښ اشارة ده رد دَ عقیدے دَ حلول ته۔ اِنَّهٗ مَنْ يُّشْرِكْ داهم داخل دے په قول دَ عیسیٰ علیه السلام کښ مقصد ئې دا دے چه شرك مطلقاً که هر قسم وی نو سبب دَ حرمان دَ جنت او دَ خول ابدی دَ جهنم دے او نصاری په دے شرک کښ اخته دی۔ وَمَا لِلظّٰلِمِيْنَ مِنْ اَنْصَارٍ رد دے په عقیده دَ شفاعتِ قهریه (شرکیه) باندے او مراد دَ ظالمین نه مشرکان دی۔

وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ؕ وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا

او نیشته حقدار د بندګئ سیوا د یو ذات (الله) نه. او که منع نه شول دوی

عَمَّا يَقُوْلُوْنَ لَيَمَسَّنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

د هغه خبرو نه چه دوی ئې کوی، خامخا جوخت به شی په کافرانو پورے

مِنْهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ اَفَلَا يَتُوْبُوْنَ

د دوی نه عذاب دردناک. ایا نو توبه نه او باسئ (رجوع نه کوی)

سـ۷۳ دا دریمه مسئله تبلیغیه ده رد دے په بله عقیده د نصارٰی باندے او دا عقیده د نسطوریه وه او ابن جریر وئیلی دی چه ټولے ډلے "ملکیه، یعقوبیه او نسطوریه" په دے باندے قول کوی او جمال الدین په تفسیر قاسمی کښ وئیلی دی چه دا ډله (کولی ری دینس) وه هغوی وائی الٰهـ درے دی الله، عیسٰی او مریم. او بله ډله ده چه هغوی ته مریمیّن وئیلے شی او دا رنګ بله ډله بربرانیون دی او نصارٰی د نجران هم د دے تثلیث قائل وو. د عقیدے د تثلیث په باره کښ د تعبیراتو اختلاف دے، یو تعبیر دا دے چه دوی وائی چه اب (پلار) الله دے او ابن الله دے او روح الله دے او مجموعه یو الله دے لکه شمس (نمر) کښ درے اوصاف دی شعاع، حرارت او قرص (ټکورے د نمر). دویم تعبیر دا دے چه اِلٰه جوهر واحد دے او په هغے کښ درے اقانیم دی "یو اقنوم د اب دویم اقنوم د ابن او بل اقنوم د هغه کلمے چه د اب نه ابن ته منتقل شوه". دریم تعبیر "اب، ابن او روح القدس". څلورم تعبیر "الله، عیسٰی او مریم". او ابن کثیر وئیلی دی چه دا قول ظاهر د قرآن سره برابر دے په دلیل د دے سورة سـ۱۱۶ سره. او قرطبی وئیلی دی چه دوی دا سے تعبیر نه کوی چه آلهه درے دی لیکن دا معنٰی د قول او د مذهب د هغوی ده او هغوی ئې التزام کوی. ثالث ثلثة (سوال) اهل نحو اتفاق کړیدے چه دا لفظ خو دلالت کوی چه د دریو عدد وی نو یو ته یکښ ثالث ثلثة وئیلے شی و صفیت د ثالث او رابع پکښ مقصد نه دے او جامی په شرح د کافیه کښ اعتبار د معنی د وصفیت ذکر کړے دے نو هغه علامه عبدالحکیم رد کړے دے نو

إِلَى اللّٰهِ وَيَسْتَغْفِرُوْنَهٗ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

الله تعالیٰ ته او چه بخنه او غواړئ د هغه نه (په ژبه سره) او الله تعالیٰ . بخنه کوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿۷۴﴾ مَا الْمَسِيْحُ ابْنُ مَرْيَمَ اِلَّا رَسُوْلٌ ۚ

رحم کوونکے دے. نه دے مسیح ځویئے د مریم مګر رسول دے

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ ؕ وَ اُمُّهٗ

یقینًا تیر شویدی مخکښ د دهٔ نه ډیر رسولان . او مور د دهٔ

صِدِّيْقَةٌ ؕ كَانَا يَاْكُلٰنِ الطَّعَامَ ؕ اُنْظُرْ

ډیره رشتینے وه - دوه دواړه چه خوړلو ئے خوراک . اوګوره

کله چه دوه کسان وی او الله تعالیٰ خو ورسره دے نو دا سے وئیل خو جائز دی چه ثالث ثلثه لکه په حدیث کښ دی ما ظنّك باثنين الله ثالثهما.

نو دلته ولے دے نه کلمه د کفر او ئیلے شوه ؟ (جواب) نیشاپوری او خازن وغیره وئیلے دی چه مراد د دے قول نه ثالث اٰلِهة ثلثة دے ځکه چه د دوی عقیده په دے شاهد ده چه دوی به هر یو د دے دریو ته اِلٰه وئیلو هسے شمار ئے نه کوؤ.

وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ دا صریح رد دے په قول د هغوی باندے ځکه هغوی اګر چه الله واحد وئیلو لیکن نور ئے هم موصوف کول په وصف د اِلٰه سره. وَاِنْ لَّمْ يَنْتَهُوْا الخ دا تخویف اخروی دے.

لَيَمَسَّنَّ مس په معنیٰ د اصابت دے او په معنیٰ د الصاق (جوخت) کیدلو دے.

په مِنْهُمْ کښ هغه مراد دی چه د دے عقیدے نه ئے توبه نه وی کړے ځکه چه د الله تعالیٰ په علم کښ ده چه بعض د دوی به توبه کوی.

ت۷۴ دا ترغیب دے توبه کولو ته د دواړه عقیدو نه او ترغیب په لفظ د زورنے سره دے - او خازن وئیلے دی استفهام په معنیٰ د امر سره دے توبه په معنیٰ د رجوع الے التوحید ده او استغفار په معنیٰ د پریخودلو د شرک او کفر دے یا توبه په زړه سره ده او استغفار په ژبه باندے دے.

كَيْفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ انْظُرْ

څه رنګه بیانوو دوی ته دلیلونه (دَ توحید) بیا او ګوره

اَنّٰى يُؤْفَكُوْنَ ﴿۷۵﴾ قُلْ اَتَعْبُدُوْنَ مِنْ

څه رنګ اوړېدلے شي دوی (دَ توحید نه). - نه ورته اووایه، آیا بندګي کوئ تاسو

۷۵ دا دلیل دے دَ پاره دَ نفي دَ الوهیت دَ عیسٰی علیه السّلام او دَ مور دَ هغه نه او دا علت دے دَ پاره دَ توبه کولو او دا مشتمل دے په دېرو دلیلونو باندے اول دا چه ابن مریم دے نو ابنیة او مور کیدل خو منافي دي دَ الوهیت سره دویم دا چه رسول دے او رسالت منافي دے دَ الوهیة سره او دا حصر اضافي دے یعني پدے کښ وصف دَ رسالت دے صرف، وصف دَ الوهیت په کښ نیشته. قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ دا دریم دلیل دے په دوه توجیهو سره اول دا چه مخکښ دَ دهٔ نه رسولان تیر شویدي او دَ هغوی نه هم عجائبات او معجزات دَ عیسٰی علیه السلام پشان ښکاره شویدي نو که دغه عجائبات او معجزات سبب وي دَ الوهیت نو بیا خو به ټول رسولان الٰهه وي. دویمه توجیه دا چه مخکښ رسولان تیر شویدي یعني مړه شویدي نو دا عیسٰی علیه السلام به هم دَ هغوی پشان مړ کیږي نو اِلٰه نشي کیدلے.

وَ اُمُّهٗ صِدِّيْقَةٌ دا دلیل دے دَ نفي دَ الوهیت دَ مریم نه یعني صدیقیت خو منافي دے دَ الوهیت سره ځکه چه صدیقین خو ډېر خلق شته دے پکار ده چه ټول دِ الٰهه شي. - او دَ دے وجے نه صادقة ئې نه دے وئیلے ځکه چه صدق خو صفت دَ اِلٰه کیدیشي او صدیقیت صفت دَ عبدیت دے. تنبیه صِدِّيْقَةٌ، دَ دے تفسیر په سورة تحریم ۱۲ کښ دے دا مبالغه ده په تصدیق کښ یعني تصدیق دَ رسولانو او دَ کلماتِ الٰهیو ئې علماً، عملاً، قولاً او فعلاً ئې کړے دے او دَ مقام دَ صدیقیت نه بره صرف مقام دَ نبوت دے په انسانانو کښ.

دَ دے وجے نه اهلِ علمو استدلال کړے دے چه مریم پیغمبره نه وه (لکه چه ابن حزم وئیلے دي چه ښځه پیغمبره کیدیشي) نو ابو الحسن اشعري پدے باندے اجماع ذکر کړے ده چه ښځه پیغمبره نشي کیدلے طریقه دَ استدلال دا ده چه په دے آیت کښ الله تعالٰی اعلٰی

دُوۡنِ اللّٰهِ مَا لَا يَمۡلِكُ لَكُمۡ ضَرًّا

سیوا دَ الله تعالیٰ نه دَ هغه څه چه اختیار نه لری تاسو لره دَ ضرر

مرتبه دَ انسان ذکر کوی دَ پاره دَ نفی دَ الوهیت نو دَ عیسیٰ علیه السلام مرتبه ئې خود دَ رسالت ذکر کړه نو که مریم رسالت لرلے نو دَ هغې به ئې هم دغه صفت ذکر کړے وے او چه پیغمبر دَ پاره صدیقیت صفت کوم ځائے ذکر دے هلته ورسره نبیًا هم ذکر دے لکه ذکر دَ ابراهیم او ادریس علیهما السلام په سورة مریم کښ۔ او که اوئیلے شی چه الله تعالیٰ دَ مریم سره خطاب کړے دے نو دا دلیل دَ نبوت دے نو جواب دا دے چه معنیٰ شرعی دَ نبوت صرف خطاب الٰهی نه دے بلکه دعوت او تبلیغ کول دی او هغه دَ زنانه دَ شان نه لرے خبره ده۔ كَانَا يَاۡكُلٰنِ الطَّعَامَ دا پنځم دلیل مشترک دے دَ عیسیٰ او دَ مریم په باره کښ دَ پاره دَ رد دَ الوهیت دَ هغوی۔ او دا واضح دلیل دے چه څوک محتاج وی خوراک ته نو هغه بیا هر څیز ته محتاج دے الله نشی کیدے او دا دلیل شامل دے ټولو انسانانو ته که پیغمبران وی او که اولیاء او که پیران وغیره وی ټول محتاج دی خوراک ته نو په هغوی کښ صفت دَ الوهیت نشی کیدے۔

تنبیه په استدلال کښ ئې دَ رسالت او صدیقیت نه انتقال اوکړو اکل الطعام ته دا انتقال دے دَ واضح دلیل نه اوضح ته لکه چه دا طریقه ده په ذکر دَ دلائلو کښ۔ او دا هم کیدے شی چه اول دَ دوی عظمتِ شان ئې ذکر کړو نو روستو ئې صفت دَ بشریت ذکر کړو اشاره ده چه بشریت منافی دَ رسالت او صدیقیت سره نه دے۔

اُنۡظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ الۡاٰيٰتِ اشاره ده چه پس دے ایت کښ ډیر دلیلونه ذکر دی دَ پاره دَ توحید او روستنے دلیل مشتمل دے په ډیرو دلیلونو باندے۔ ثُمَّ انۡظُرۡ كَيۡفَ اعاده امر دَ انظر دوه کرته دَ پاره دَ مبالغې دے په تعجیب کښ او لفظ دَ ثُمَّ دَ پاره دَ دے دے چه په دواړه تعجیبونو کښ ډیر فرق دے یو طرف ته بیکاره عجیبه دلیلونه دَ عبدیت دَ عیسیٰ او مریم علیهما السلام دی او بل طرف ته اوړیدل دَ حق نه په دعوٰو او شبهاتو سره دا دَ عقل نه ډیره لرے طریقه ده۔

وَّلَا نَفْعًا ؕ وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿٧٦﴾

او نه دَ نفعې - او الله تعالیٰ خاص هغه هرڅه اوري او په هرڅه پوهه دے.

قُلْ يٰۤاَهْلَ الْكِتٰبِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ

ته ورته اووایه اے اهل کتابو ! زیاتے مه کوئ په دین ستاسو کښې

غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْۤا اَهْوَآءَ قَوْمٍ

بغیر دَ حق نه او تابعداری مه کوئ دَ خواهشاتو دَ هغه قوم

قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا

چه ګمراه شوی دی مخکښې ستاسو نه او بے لارے کړیدی دوی ډیرو خلقو لره

سلے دا څلورمه مسئله تبلیغیه ده په رد دَ شرک فی العبادة سره او دا تفریع ده په رد دَ الوهیت بانديے دَ عیسیٰ او دَ مریم علیهما السّلام نه۔ او دا خطاب اګرچه عام دے ټولو مشرکینو ته لیکن مقصد پکښې رد دے په نصاریٰ باندے۔ مَا لَا يَمْلِكُ لَكُمْ ضَرًّا ضرر ئے مخکښې ذکر کړو ځکه دفع دَ ضرر اول وی دَ نفع حاصلولو نه۔ ضَرًّا وَّلَا نَفْعًا دواړه نکرے په سیاق دَ نفی کښې په ډیر عموم باندے دلالت کوی او دا دلیل دے په رد دَ شرک فی التصرف باندے۔ مَا نه مراد عیسیٰ او مریم علیهما السّلام دی۔

سوال۔ دوی خو ذوی العقول دی او مَا لفظ خو دَ پاره دَ غیر ذوی العقول دے حقیقتًا ؟

جواب[1]۔ شعرانی دَ سیبویه نه نقل کړے دے چه لفظ دَ مَا حقیقت مشترکه دے په صیغه دَ ذوی العقول او غیر ذوی العقول کښې۔

جواب[2]۔ په لفظ مَا سره اشاره ده چه ذوی العقول هم په نفی دَ ضرر او نفع کښې پشان دَ غیر ذوی العقول دی۔

وَاللّٰهُ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ قرطبی وئیلی دی چه اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام باندے دا سے احوال راغلی دی چه نه اوری او نه وینی او نه پوهه لری او نه نفع او ضرر ورکولے شی نو څه رنګ اِله کیدے شی او دغه صفتونه خو صرف دَ الله تعالیٰ دی۔

وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ ﴿٧٧﴾ لُعِنَ

او بې لارې پاتې شویدی دَ برابر لارې نه (پس دَ علم نه). لعنت کړې شویدې

۷۷ په دې کښې پنځمه مسئله تبلیغیه ده دَ پاره دَ رد دَ غلو دَ نصاراؤ په شرک او بدعت کولو سره. قُلْ یٰٓاَهْلَ الْكِتٰبِ، اګرچه دا وصف عام دې لیکن ظاهر دا ده چه دا خطاب دې نصارٰی ته. لَا تَغْلُوْا فِیْ دِیْنِكُمْ دا سې په سورة نساء ۱۷۱ کښې هم تیر شوې دې فرق دا دې چه هغه خطاب یهود او نصارٰی دواړو ته دې او په دې ایت کښې خطاب صرف نصارٰی ته دې او غلو په اصل کښې تجاوز کول دی دَ حد نه او دَ هغې دوه استعمالونه دی یو عام بل خاص، عام دا دې چه تجاوز دَ حد نه که په زیاتې کولو سره وی یا په کمی کولو سره وی یعنی افراط کول یا تفریط کول په دې معنی سره په سورة نساء ۱۷۱ کښې مراد دې دَ دې وجې نه هلته ئې روستو شان دَ عیسٰی علیه السلام ذکر کړې دې. او خاص دا چه تجاوز کول په طریقه دَ زیاتی کولو سره نو دلته دا معنٰی مراد ده او خطاب دې نصارٰی ته. دَ دې وجې نه دلته مفسرینو معنٰی کړې ده "چه بدعت مه کوئ" (فتح البیان دَ قتادة نه).

او نصاراؤ غلو په باره دَ عیسٰی علیه السلام کښې کړې ده چه دَ بشریت نه ئې اوچت ګنړلې دې په الوهیت او ابنیت دَ الله تعالٰی سره او دا رنګ دِ نصاراؤ په دینِ عیسٰی کښې ډیر تحلیل تحریم دَ ځان نه جوړ کړې دی. فِیْ دِیْنِكُمْ په دې کښې اشاره ده چه غلو دوه قسمه ده یو غلو ده لِلدین او بل فی الدین کشاف او نیشاپوری دَ دې نه تعبیر کړې دې په غلو حق او غلو باطل سره. دا رنګ دَ دینه تعبیر کیدې شی په بدعت للدین او بدعت فی الدین یا بدعت فی الوسائل او بدعت فی المقاصد سره نو اول قِسم هغه دې چه دَ دین دَ ترقی دَ پاره وسائل جوړ کړی هغه وسائلو ته دین نه وائی لکه علم دَ نحو او صرف وغیره او طریقه دَ مدارسو او تصنیف و تألیف او دا رنګ محراب دَ مسجد او تسبیح دَ پاره دَ ذکر مشروع نو په دې قِسم کښې منع نیشته په دې شرط چه سنت ته نقصان نه ورکوی او التزام ئې نه کوی.

لُعِنَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ

په هغه کسانو چه کفر ئې کړیدے د بني اسرائیلو نه

عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُدَ وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ ط

په ژبه د داؤد (علیه السّلام) او د عیسیٰ (علیه السّلام) ځوئي د مریم۔

او دویم قسم ته بدعتِ شرعیه هم وئیلے شی هغه دا چه یو څیز په دین کښې داخل کړی که عقیده کښې وی یا په عمل کښې او که نفسِ څیز وی یا کیفیت او مقدار او وقت وی او دے ته دین اووائي نو دا بدعتِ ضلالت دے پدے ایت کښې دا مراد دے په قرینه دَ فِيْ دِيْنِكُمْ سره۔ غَيْرَ الْحَقِّ دا صفت دَ دَ موصوف محذوف او مفعول مطلق دے دَ پاره دَ تقیید (غلوا غیرالحق یعنی الباطل) او په دے سره دَ غلو حق نه احتراز کوی چه هغه جائز ده لکه چه مخکښې تیر شول۔ یا حال دَ فاعل دَ ضمیر ته یعنی مُتَجَاوِزِيْنَ وَمُغَايِرِيْنَ عَنِ الْحَقِّ" او دَ دے هم دغه مخکښې مقصد دے. وَلَا تَتَّبِعُوٓا أَهْوَآءَ قَوْمٍ دلته مراد دَ اتباع نه تقلید دے (مهائمی تبصیر الرحمان) ځکه چه بے دلیله اتباع تقلید وی۔ أَهْوَآءَ جمع دَ هویٰ ده او دا هغه ده چه نفس هغې طرف ته دعوت کوی (خلاف دَ شرع نه) امام شعبی نه نقل دے چه په قرآن کښې هوا دَ ذم په ځائے کښې ذکر ده (سیوا دَ ذکر دَ جنت نه). قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ زاد المسیر او خازن کښې معنیٰ لیکلے ده اِبْتَدَعُوْا " په طریقه دَ بدعت سره گمراه شویدی"۔ وجه دَ هغې دلیل نیول دَ هغوی دی دَ معجزاتو دَ عیسیٰ علیه السلام او کراماتو دَ مریم نه۔ لفظ دَ ضَلُّوْا اشاره ده چه سبقیت او مشری دَ هغوی فائده نه ورکوی۔ وَأَضَلُّوْا كَثِيْرًا اشاره ده چه ډیروالی دَ تابعدارانو ته ئې اعتبار نیشته او دا اضلال په سبب دَ دعوت دَ هغوی دے گمراهئ طرف ته۔

وَضَلُّوْا عَنْ سَوَآءِ السَّبِيْلِ دا په سبب دَ تمسك کولو په متشابهاتو سره او امام رازی تفسیر کښې وئیلے دی اول ضلال خو دَ هغوی شرک او بدعات وُ او دویم ضلال دعوت کول شرك او بدعت ته او دریم ضلال همیشه پاتے کیدل پدغه گمراهئ باندے بغیر دَ توبه کولو نه۔ یا دویم ضلال په دے وجه سره چه دوی مخکښې ضلال او اضلال ته دین وئیلے دے یعنی بدعت ته حسنه وائي۔

ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ۞۷۸

دا په دے سبب چه دوی نافرمانی کوله او تیریدل د حد نه۔

كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ فَعَلُوْهُ ط

دوی چه منع به یٔ نه کوله د بدکار نه چه کوو به یٔ۔

لَبِئْسَ مَا كَانُوْا يَفْعَلُوْنَ ۞۷۹ تَرٰى كَثِيْرًا

خامخا بد دے هغه کار چه دوی به کوو۔ وینے ته ډیرو لره

۷۸ په دے کښ تخویف دنیوی دے په ذکر دَ لعنت مستمره سره په بنی اسرائیلو باندے په سبب دَ هغه ګناهونو چه مخکښ ذکر شول او په دے کښ رد دے دَ هغوی دَ وهم۔ وهم دا وُو چه هغوی وئیل چه مونږ اولاد دَ انبیاؤ یو مونږ ته ګناهونه نقصان نه راکوی۔ جواب اوشو لُعِنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا الخ قرطبی وائی په دے سره معلومه شوه چه کافران اګرچه دَ پیغمبرانو اولاد دوی او یا په نسب کښ شریف وی لیکن په هغوی باندے لعنت جائز دے۔ عَلٰى لِسَانِ دَاوٗدَ وَعِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ مراد دَ دینه کتاب دَ داؤد علیه السلام (زبور) او کتاب دَ عیسی علیه السلام (انجیل) دے په هغه دواړه کتابونو کښ په کفر کوونکو باندے لعنت موجود دے یا مراد دے نه دعاءِ شر دَ هغه دواړو ده دَ اول دعا په اصحاب السبت باندے او دَ دویم دعا په کفر کوؤنکو روستو دَ نزول دَ مائده نه۔ او دَ دے لعنت دوه اسباب ذکردی پدے قول کښ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ عصیان عام ګناهونه او اعتداء بدعات یا ظلم په انسانانو باندے دے۔ یا تعبیر دَ اعتداء كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ دے دَ دے وجے حرف عطف نه دے ذکر کړے۔

۷۹ په دے کښ دریم سبب دَ لعنت ذکر دے۔ كَانُوْا لَا يَتَنَاهَوْنَ عَنْ مُّنْكَرٍ یعنی په یو بل کښ به یٔ منکر لیدلو خو دَ هغے منع به یٔ نه کوله تو منکر کولو او په نهی نه کولو کښ شریک وُو نو دوه ګناهونه شول قرطبی وئیلے دی په دے کښ اشاره ده اول دا چه نهی عن المنکر فرض ده که په لاس سره وی یا خُلے سره یا په زړه سره وی په اعتبار

مِّنْهُمْ يَتَوَلَّوْنَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ؕ لَبِئْسَ

دَ دوی نه چه دوستانه کوی دَ کافرانو سره۔ خامخا بد دے

مَا قَدَّمَتْ لَهُمْ اَنْفُسُهُمْ اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ

هغه عمل چه مخکښ لیږلے دے دوی لره ځانونو دَ دوی حُکه چه غضب رالیږلے دے الله تعالیٰ

عَلَيْهِمْ وَفِي الْعَذَابِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۸۰﴾

په دوی باندے او په عذاب کښ به دوی همیشه وی۔

دَ استطاعت۔ دویم که یو تن بخپله معصیت کوی نو په دهٔ باندے هم نهی عن المنکر لازم دی۔ دریم دا چه ترک دَ نهی عن المنکر سبب دَ سخت عذاب دے۔ او دَ دے ایت په تفسیر کښ حدیث دَ ترمذی ابوداوُد احمد ابن ماجه وغیره مفسرینو ذکر کړے دے مضمون دا دے چه په بنی اسرائیلو کښ به چا منکر کولو نو عالمانو به منع کړل هر کله چه به هغوی منع نه شول نو دغه عالمانو به دَ هغوی سره مجلسونه او خوراک څښاک یو ځائے کول او چُپ به وو دَ نهی عن المنکر نه نو دا سبب دَ لعنت اوګرځیدلو۔

لَبِئْسَ مَا كَانُوْا کښ اشاره ده چه منکر که یو شخص نه کوی خو چه نهی عن المنکر پریږدی نو هم ګناهګار دے۔

تنبیه۔ امر بالمعروف پریخودل هم ګناه ده لیکن معلومه شوه چه نهی عن المنکر پریخودل دَ هغې نه سخت ګناه ده نو افسوس دے په حال دَ هغه کسانو چه صرف امر بالمعروف کوی او وائی چه نهی عن المنکر ته حاجت نیشته حُکه چه تور او انتشار پیدا کیږی هغوی دِ په دے ایت باندے فکر اوکړی۔

۸۰ دا ذکر دَ خباثت دَ کشرانو دے روستو دَ ذکر دَ مشرانو نه دَ پاره دَ استمرار دَ لعنت په دوی کښ نو دا ځلورم سبب دے او هر کله چه دا دَ کشرانو ذکر وو نو دَ دے وجے نه مستقل ئے ذکر کړو په غیر دَ حرف عطف نه۔ تَرٰى كَثِيْرًا مِّنْهُمْ یعنی مخکښ خباثت خو صرف ترک دَ نهی عن المنکر وو او دا خباثت دَ هغې نه زیات دے حُکه چه دوی خو نهی کول درکنار بلکه دَ هغوی سره دوستانے کوی۔ که مراد دَ کَثِيْرًا نه منافقان وی نو دا کثرت فی نفسه دے

وَلَوْ كَانُوْا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالنَّبِيِّ وَمَآ

او که دوی ایمان لرلے په الله تعالی او پر پیغمبر باندے او په هغه کتاب

اُنْزِلَ اِلَيْهِ مَا اتَّخَذُوْهُمْ اَوْلِيَآءَ وَلٰكِنَّ

چه نازل کړے شوے دۀ ته، نو دوی به نه وو نیولی دوی لره دوستان او لیکن

كَثِيْرًا مِّنْهُمْ فٰسِقُوْنَ ﴿۸۱﴾ لَتَجِدَنَّ اَشَدَّ

ډیر د دوی نه نافرمان دی۔ خامخا او به مومے ته ډیر سخت

او اَلَّذِیْنَ کَفَرُوْا نه مراد د دوی (اهلِ کتابو) غټ کافران دی۔ یا مراد د کثیرًا نه کافران د اهلِ کتابو دی او الذین کفروا نه مراد مشرکان عوام دی۔

اَنْ سَخِطَ اللّٰهُ عَلَیْهِمْ دا محل د رفع (پیښ) کښ دے خبر دے د مبتدا محذوف د پاره یا بدل دے د حرف د ما نه یا په محل د نصب کښ دے په تقدیر د لام سره یعنی لِاَنْ سَخِطَ۔

او سَخِطَ زیات دے د غضب نه په دے وجه چه په دیکښ معنیٰ د خفګان ده سره د غصّے نه۔ او د دے آیت نه معلومه شوه چه په موالات (دوستانه) د کافرانو سره دوه عذابونه راځی یو سخط د الله تعالیٰ دویم خلود په عذاب کښ۔

سا۸۱ په دے کښ رد دے په موالات د کافرانو۔ او په دے کښ د مخکښ آیت پشان دوه توجیه دی ع۱ منافقان مراد دی او النبی نه مراد آخری رسول دے او ما انزل الیه نه مراد قرآن دے ع۲ او که کافران کتابیان مراد وی نو د النبی او ما انزل نه مراد موسیٰ علیه السلام او تورات دے او مقصد د آیت دا دے چه موالات د کافرانو سره منافی د ایمانِ بالله او نبی او کتاب الله سره دے۔

سوال۔ سمعانی وئیلی دی چه دوی خو کافران دی نو فاسقون ئے ورته ولے اُوئیلو؟

جواب ع۱۔ مراد د دے نه خارج د طاعت د الله تعالیٰ بالکلیه دے او هغه کافر دے۔ جواب ع۲۔ مراد دے نه متمردین (سرکشان) دی۔

النَّاسِ عَدَاوَةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الْيَهُودَ

دَ خلقو نه په دشمنۍ کښې دَ مؤمنانو سره یهودیان

وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا ۖ وَلَتَجِدَنَّ

او مشرکان (امیان)، او خامخا او به مومې ته

أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ

زیات نیزدے دَ دوی نه په دوستانه کښې دَ مؤمنانو سره هغه کسان

قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ ۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنْهُمْ

چه وائي بیشکه موږ نصارٰی یو۔ دا په سبب دَ دے چه بعضے دَ دوی نه

قِسِّيسِينَ وَرُهْبَانًا وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ ﴿٨٢﴾

طلبګار دَ حق دی او یره کوونکے دی (دَ الله تعالٰی نه) او یقیناً دوی لوئي نه کوی (دَ حق نه)۔

سـ٨٢ـ دا تفریع ده په ماقبل بیان باندے په ذکر دَ فرق سره په مینځ دَ یهودو
اونصاراؤ کښې نو اشاره ده چه ماقبل ذکر شوی عیبونه په یهودیانو او دَ
هغوی ملګرو مشرکانو کښې زیات دی په نسبت دَ نصارٰی۔ لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ النَّاسِ
دا عبارت دلالت کوی په ښکاره والی دَ دشمنۍ دَ هغوی باندے۔ الْيَهُودَ، یهودیان ځکه
چه مؤمنان ایمان لري په عیسٰی علیه السلام او محمد صلی الله علیه وسلّم
باندے او یهودیانو دَ دے دواړو ته منکر دی۔ وَالَّذِينَ أَشْرَكُوا، او مشرکان ځکه چه
مؤمنان خو په توحید باندے پوره کلک دی او دَ هر قسم شرک نه نفرت کوی۔
وَلَتَجِدَنَّ أَقْرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ آمَنُوا الَّذِينَ قَالُوا إِنَّا نَصَارَىٰ په دے
کښې دَ مفسرینو دوه قولونه دی اول دا چه مراد دَ دے نه هغه نصارٰی دی
چه په حبش کښې یا په مدینه کښې ئے ایمان راوړے وو او قرآن ئے اوریدلے
وو او ژړا ئے کړے وه او دلیل دَ دے قول دا دے چه دوی دَ یاره ئے دوستانه
دَ مؤمنانو ثابت کړے ده۔ او دا رنګ ورپسے دَ دوی صفات دَ مدحے ئے ذکر
کړے دی او دا قول سمعانی او خازن غوره کړے دے۔ دویم قول دا دَ
چه مراد دَ دے نه عام نصارٰی دی اګرچه کافران وی او وجه دَ فرق

مفسرینو دا لیکلی دہ چہ مذہب دَ یهودو دا دے چہ شر او اذیت رسول
مخالف ته واجب دی که په قتل سره وی که په مال لوټ کولو سره وی او که
نور مکرونه او حیلې وی او په مذهب دَ نصارای کښی ایذاء ورکول مخالف ته
جائز نه دی او دا رنګ په یهودو کښی حرص دَ دُنیا او مشری طلب کول او تکبر
کول عادت دے او نصاراؤ کښی دا صفتونه لږ دی۔ او شربینی لیکلی دی چه
دا وجه دہ چه کله دَ نبی صلی الله علیه وسلم خطونه نصاراؤ ته رسیدلے دی
نو یا یې ایمان راوړے دے یا نرم شوی دی لکه هرقل بادشاه او مقوقس او هوده بن
علی او غیر دَ نصارای نه هغوی خو دَ خط دَ نبی صلی الله علیه وسلم ډیره بے عزتی
کړے ده لکه کسرای دَ فارس چه خط یې ذرے ذرے کړو او بقاعی وئیلی دی
په دے کښی راز دا دے چه عیسٰی علیه السلام او دَ هغه امت په زمانه کښی
روستو امت ته نزدے دی نو په دوستانه کښی هم نزدے دی۔
او ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ الخ سره تخصیص یې اوکړو روستو دَ تعمیم نه په ذکر دَ خاص
مؤمنانو سره دَ هغوی نه۔
سوال۔ نصارای کافر په دے وخت کښی هم دَ یهودو پشان دی بلکه دَ هغوی نه
زیاته دشمنی کوی دَ مسلمانانو سره نو څه رنګ دا فرق صحیح کیږی؟
جواب ۱۔ دلته مراد بعض نصارای دی لکه چه مخکښی ذکر شول۔
جواب ۲۔ مراد دَ اقرب مودةً نه انابت کول دی حق طرف ته یعنی په یهودو
کښی ضد وعناد او حسد ډیر دے او په نصارای کښی انابت ډیر دے۔
ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ الخ وجه دَ سببیت دا ده چه په قوم یا کلی کښی داسے حق موجود
وی او داعیان دَ حق وی نو هغه قوم کښی انابت الی الحق پیدا کیږی ځکه
چه عملی کار په خپل قوم کښی وینی۔
سوال۔ " انا نصارای " یې اوئیل " هم نصارای " یې نه دے وئیلی؟
جواب۔ اول خو په دے سورة ۱۴ کښی داسے لفظ ذکر وو دا رنګ سورة
العمران ۵۲ کښی هم وعده دَ نصرت ذکر ده نو دَ هغې سره موافقت دے
دویم دا چه دلته ذکر دَ عام نصارای مقصد وو (ربنا په دویم قول) نو قالوا
انا نصارای یې اوئیل چه حقیقی نصاراؤ (یعنی متبع دَ عیسٰی علیه السلام) او صرف دعوی
کوونکو دواړو ته شامل شی نو روستو یې دَ هغوی نه تخصیص اوکړو دَ
صحیح نصارای چه هغوی ایمان راوړے دے دریم دا چه اوسنی نصارای

وَإِذَا سَمِعُوا مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ

او كله چه واورى دوى هغه كتاب چه نازل كړے شويدے رسول ته

تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا

وينے به ته سترگے دَدوى چه ډكيږى (بهيږى) دَ اوښكو نه دَوجے دَ دينه

عَرَفُوا مِنَ الْحَقِّ ۖ يَقُولُونَ رَبَّنَا آمَنَّا

چه اوپيژندلو دوى حق لره. وائى دوى اے ربه زمونږه! ايمان راوړے دَ مونږه

فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨٣﴾ وَمَا لَنَا لَا

نو اوليكه مونږه دَ شهادت كوونكو سره. او څه عذر دے زمونږ چه نه راوړو

ځان مسمّٰى كوى په صليبين مسيحيين او مريميين عيسائين سره او ځان ته نصارىٰ نه وائى (الا ماشاء الله) او دغه وجه هم ده چه په دوى كښں اوس دَ مؤمنانو سره دَ دوستانے بوئ هم نيشته. قِسِّيسِينَ جمع دَ قسيس ده په اصل كښں دَ قسّ نه دے په معنىٰ دَ تتبع او دَ طلب دَ يو څيز كښں، مطلق عالم ته وئيلے شى او دارنگ تابعدار دَ علماؤ ته هم وائى. او نيشاپورى، قرطبى دَ عروه بن زبير نه روايت ذكر كړے دے چه هركله نصاراؤ خپل كتاب انجيل ضائع كړو او تبديلى پكښں اوكړه نو يو عالم دَ هغوى نه پاتے شو په حق او په استقامت باندے او دَ هغه نوم قسيس وو نو څوك چه دَ هغه په دين باندے وو نو هغوى ته ئے قسيسين وئيل يعنى دَ قسيس تابعداران په حق دين كښں. وَرُهْبَانًا هغه عبادت كوونكى چه دَ الله تعالىٰ نه پره كوى او مال وجاه ئے مطلب نه وى. وَأَنَّهُمْ لَا يَسْتَكْبِرُونَ اشاره ده چه علم دَ حق او عبادت په دوى كښں داسے اثر كړے دے چه دوى دَ حق خبرے نه هيڅ لوئى نه كوى بلكه تواضع كوى.

٨٣ دا هم عطف دے په ماقبل صفتونو باندے او هغه صفتونه په دوى كښں دَ قرآن دَ اوريدلو نه مخكښں موجود وو او دا صفت دَ قرآن په وخت كښں دے او په دے كښں اشاره ده چه تكميل دَ مخكښں دريے صفتونو په دے څلورم صفت سره دے. تَرَىٰ أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ سوال پيدا كيږى

نُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ وَمَا جَآءَنَا مِنَ الۡحَقِّ ۙ

ایمان په الله تعالیٰ او په هغه څه چه راغلے دے مونږ ته دَ حق نه

وَنَطۡمَعُ اَنۡ یُّدۡخِلَنَا رَبُّنَا مَعَ الۡقَوۡمِ

او طمع لرو چه داخل به کړی مونږ رب زمونږ دَ قوم

الصّٰلِحِیۡنَ ﴿۸۴﴾ فَاَثَابَهُمُ اللّٰهُ بِمَا قَالُوۡا

نیکانو سره ـ پس بدله ورکړه دوی ته الله تعالیٰ په بدله دَ وینا دَ دوی

خو دَ بهیدلو صفت دَ سترګو دَ پاره ذکر کړے دے او حال داچه دا صفت دَ اوښکو دے ؟

جواب. په دیکښ مبالغه ده په اصل کښې داسے وو چه سترګے دَ دوی دَ کے شی دَ اوښکو نه بیا رابهیږی یا مِنۡ په معنیٰ دَ بَا سره دے.

مِمَّا عَرَفُوۡا مِنَ الۡحَقِّ اول مِن اجلیه دے او دویم دَ تبعیض دَ پاره دے یعنی په بعض حق پیژندلو سره ئے زړا اوکړه او کله چه ټول واوری نو بیا خو به دَ دے نه زیاته ژړا وی یَقُوۡلُوۡنَ دا دلیل دَ عدم استکبار دے.

فَاکۡتُبۡنَا مَعَ الشّٰهِدِیۡنَ مراد دَ دے نه امت دَ محمد صلی الله علیه وسلم دے په دلیل دَ صفت دَ دوی په سورة بقرة ۱۴۳ او سورة حج ۷۸ کښی او داسے دُعا دَ نصاراؤ مشرانو هم غوختلے وه لکه په سورة آل عمران ۵۳ کښی ده ـ تنبیه: قرطبی وئیلے دی چه دا صفات دَ علماء حق پرستو دی چه قرآن اوری نو ژړا کوی خو بیهوشی ورباندے نه راځی او دَ الله تعالیٰ نه دُعاګانے غواړی خو چغے نه وهی او اظهار دَ غم کوی لیکن دَ مړک حالت نه ښکاره کوی لکه خنک دا نور کارونه (صعق، چغے، رقص وغیره) په متصوفو باندے کیږی.

۸۴ دا جواب دَ هغوی وو په ردَ هغه چاکښی چه دوی له ئے ملامتیا ورکوله چه تاسو ولے پل دین غوره کړو نو هغوی اوئیل وَمَا لَنَا لَا نُؤۡمِنُ بِاللّٰهِ دا استفهام انکاری دے یعنی هیڅ عذر نیشته په ترک دَ ایمان کښی.

وَمَا جَآءَنَا مِنَ الۡحَقِّ مراد دَ دے نه قرآن دے او دا عطف دے په بِاللّٰهِ باندے یا دا جمله حالیه ده ـ وَنَطۡمَعُ عطف دے په نؤمن باندے

جَنّٰتٍ تَجْرِیْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ

جنتونه چه بهیږی لاندے دَ هغے نه نهرونه همیشه به وی دوی

فِیْهَا ؕ وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْمُحْسِنِیْنَ ﴿۸۵﴾

په هغے کښ. او دا جزاء (بدله) ده دَ خائسته عمل کوونکو.

وَالَّذِیْنَ كَفَرُوْا وَكَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَآ اُولٰٓئِكَ

او هغه کسان چه کفر ئے کړے دے او دروغژن ګڼړی ایاتونه زمونږ دغه کسان

اَصْحٰبُ الْجَحِیْمِ ﴿۸۶﴾ یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا ع ١١

دوزخ والا دی. اے ایمان والو!

یا حال دے په تقدیر دَ نحن نطمع سره. حاصل دا دے چه سبب دَ ایمان
موجود دے چه طمع دَ جنت ده او مانع دَ ایمان نه نیشته او په وخت دَ
وجود دَ سبب او دَ عدم مانع کښ وجوب راځی. مَعَ الْقَوْمِ الصّٰلِحِیْنَ دَ دے
نه مراد امت دَ محمد صلی الله علیه وسلم دے په قرینه دَ سورة انبیاء ش١٠٥
سره او مع په معنیٰ دَ فی سره دے یا عبارت پټ دے یعنی فی الجنة مع
القوم الصالحین.

ف٨٥ دا بشارت اخرویه دے بِمَا قَالُوْا سوال: دَ دے نه معلومه شوه
چه صرف په اقرار سره جنت حاصلیږی او دا مذهب دَ کرامیه ډلے دے
چه صرف اقرار ته ایمان وائی؟ جواب: خازن او رازی وئیلی دی چه مخکښ
دَ دوی اخلاص ذکر شو په دوه صفاتو سره اول ژړا او دویم معرفت دَ حق
چه دا دلالت کوی په پوره تصدیق دَ قلب باندے نو روستو ورپسے قول
ذکر کړو او موصوف ئے کړل په محسنین سره. بل دا چه نیشاپوری وئیلی
دی چه دلته قول په معنیٰ دَ اعتقاد دے او ډیرو ځایونو کښ قول نه مراد
عقیده وی.

ف٨٦ دا تخویف اخروی دے هغه کسانو ته چه دَ مخکښ صفتونو خلاف
صفات لری. كَفَرُوْا دا په مقابل دَ لا یستکبرون او عرفوا من الحق کښ
دے. او كَذَّبُوْا په مقابله دَ اذا سمعوا الخ او یقولون الخ کښ دے

لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ

مه گنړئ حرام مزیدار (پاک) هغه خیزونه چه حلال کړیدی الله تعالٰی تاسو لره

وَلَا تَعْتَدُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۸۷﴾

او زیاتے مه کوئ د حد نه - یقیناً الله تعالٰی مینه نه کوی د زیاتی کوونکو سره -

نو کفر وصف د زړه دے او تکذیب صفت د ژبے او د ظاهر دے -

ت ۸۷ خلاصه: د دے ځائے نه دویم باب دے د دے حصے تر اخر د سورت پورے په دیکښ رد دے په شرك فی التحلیل والتحریم باندے او بیا ذکر د مسئلے د حلف (قسم) دے په طریقه د تحریم د حلال سره او بیا ذکر د تحریماتو الٰهیو دے چه په هغے کښ رد د نذر د غیر الله هم دے بیا جواب د وهم دے - بیا ذکر دے د تحریم الٰهی خاص او د هغے حکم تفصیلی، بیا تحلیل بیا دفع د وهمونو تر ت ۹۹ پورے بیا تادیب دے په ت ۱۰۱ کښ او رد دے په تحریم او نذر لغیر الله باندے تفصیلاً او رد دے په دلیل د هغوی باندے په ت ۱۰۴ کښ بیا بل ادب ذکر کوی په ت ۱۰۵ کښ بیا رد دے په حلف کاذب باندے چه د هغے په سبب سره حرام حلالوی تر ت ۱۰۸ پورے په اخر کښ دلیل نقلی د ټولو انبیاؤ نه اجمالی او د عیسٰی علیه السلام نه تفصیلاً او مقصد ئے دا دے چه دوی غیب دان نه دی او په اخر کښ دعوٰی د توحید ده - او په دے باب کښ اووه عقود الٰهیه ذکر دی په عنوان د یا ایها الذین اٰمنوا سره -

تفسیر: ربط هر کله چه مخکښ مدح د قسیسین او رهبان ذکر شوه نو اعتراض راغے چه په هغوی کښ د رهبانیت د وجے نه تحریم د طیباتو هم دے حاصل جواب دا دے چه د هغے نه ځان ساتئ لَا تُحَرِّمُوْا طَيِّبٰتِ مَآ اَحَلَّ اللّٰهُ لَكُمْ تحریم د غیر الله کښ څلور قسمونه دی اول دا چه د انکار د وجے نه حرام د الله تعالٰی حلال اوګڼړی او حلال ئے حرام اوګڼړی - دویم د وجے د اعتقاد او د خوف شرکی نه یعنی چه یو حلال خیز (چه نسبت ئے یو معبود ته کړے شوے وی) نو په ځان باندے حرام اوګڼړی په دے عقیده چه دا حلال کړم نو دا معبود به ما ته ضرر او رسوی لکه بحیره سائبه وغیره - دریم په نصوصو شرعیو کښ څه خیز حلال وی لیکن علماء سوء په تقلید

وَكُلُوا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللَّهُ حَلَالًا طَيِّبًا ص

او خورئ دَ هغې نه چه درکړيدي تاسو ته الله تعالیٰ حلال پاک (مزې والا)،

وَاتَّقُوا اللَّهَ الَّذِي أَنتُم بِهِ مُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او يره کوئ دَ الله تعالیٰ نه هغه الله چه تاسو په هغه باندے ايمان لرئ۔

لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللَّهُ بِاللَّغْوِ فِي أَيْمَانِكُمْ

نه نيسى الله تعالیٰ تاسو لره په بے ارادے دَ قسمونو ستاسو لره

سره (بے دليله) هغه حرام کړځولے وى خلورم دَ رهبانيت دَ وجے نه بعضِ
حلال څيزونه په ځان باندے حرام ګنړى لکه بعضِ جائز لباس او غوښه
خوړل او نکاح کول او ميوے او غوړى وغيره لکه چه بعضِ ملنګان په ځان
باندے حرام اوګرځوى۔ نو دا ټولې دَ لا تحرموا دے ټولو قسمونو ته شامل
ده او بالخصوص رو سئتے قسم باندے رد اول مقصد دے دَ دے وجے نه
قرطبى ليکلے دى چه په دے کښ رد دے په غاليانو زاهدانو او باطل
پرست صوفياؤ باندے نيشاپورى وئيلے دى چه مراد دَ لَا تُحَرِّمُوا
دا دے چه عقيده دَ هغې دَ حرمت مه لرئ او په ژبه باندے دَ هغې
دَ حرمت بيان مه کوئ او په عملى طور باندے دَ هغې نه د اسے ځان مه
ساتئ لکه چه حرامو نه ځان ساتل پکار دى۔ وَلَا تَعْتَدُوا دَ حدودو
شرعيو دَ حرام او دَ حلال نه تجاوز کول اعتداء ده په طريقه دَ تحريم
دَ حلال سره يا په طريقه دَ تحليل دَ حرامو سره۔
ف ٨٨ په دے کښ تاکيد دے دَ لا تحرموا او ذکر دَ شرطونو دَ خوراک
دے چه حلال او طيب به وى او مراد دَ کُلُوا نه فائده اخستل دَ حلالونه
په خوراک څښناک، لباس او سورلئ کولو وغيره کښ دى۔ او خوراک چونکه لوئے
مقصد دے دَ دے وجے نه هغه ئې خاص کړو په ذکر سره۔ په
مِمَّا کښ اشاره ده چه بعضِ دَ هغې نه صدقه کښ ورکوئ۔ او دا رنګ
دَ رزق لفظ اطلاق په حرام باندے هم کيږى نو بعضِ ئې ځکه خاص
کړل۔ حَلٰلًا طَيِّبًا حلال خو هغه دے چه دليل شرعى دَ حرمت دَ هغې
دَ پاره نه وى او طيبا هغه دے چه دَ شبهے نه هم پاک وى۔ ابن مبارکؒ

وَلٰكِنْ يُّؤَاخِذُكُمْ بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ ۚ

او لیکن نیسي تاسو لره په هغې سره چه ټړلې وی تاسو قسمونه

فَكَفَّارَتُهٗٓ اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰكِيْنَ مِنْ

پس کفاره دَ هغې خوراک ورکول دی لس مسکینانو ته دَ

اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اَهْلِيْكُمْ اَوْ كِسْوَتُهُمْ

درمیانه هغه خوراک نه چه خوروئ یئې پخپل کور والا بانډے یا جامے دَ هغوی

اَوْ تَحْرِيْرُ رَقَبَةٍ ۭ فَمَنْ لَّمْ يَجِدْ فَصِيَامُ

یا ازادول دَ مرئي دی۔ پس څوک چه نه مومی نو په ده بانډے روژے دی

ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ ۭ ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ

درے ورځے (پوره پسے)۔ دا کفاره دَ قسمونو ستاسو ده

اِذَا حَلَفْتُمْ ۭ وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ ۭ كَذٰلِكَ

کله چه قسمونه اوکړئ تاسو۔ او بچ ساتئ قسمونه خپل۔ دغسے

يُبَيِّنُ اللّٰهُ لَكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۸۹﴾

بیانوی الله تعالیٰ تاسو ته احکام خپل دے دپاره چه شکر اوکړئ۔

نه نقل دے چه حلال هغه دے چه په طریقه شرعی سره حاصل شی
اوطیب هغه دے چه په هغې کښ غذائیت او ترقی دَ بدن وی او مُضِر
دَ صحت نه وی نو اشاره شوه چه کوم څیز سره غذائیت نه راځی بلکه مُضِر
وی لکه خاوره کانړی سکاره وغیره نو دا مکروه دی۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِیْٓ الخ
په دے کښ اشاره ده دوه خبرو ته اول دا چه ایمان بالله سبب دے
دَپاره دَ تقوٰی کولو دویم دا چه دَ حراموته بچ کیدل او دَ حلالو ته فائده
اخستل دا تقوٰی ده۔
۸۹ ربط دَ ایت دا دے چه قرطبی او سمعانی روایت کړے دے چه کوم
صحابه کرامو دَ رهبانیت اراده کړے وه نو هغوی ورسره قسم کړے وو

نو هر کله چه نازل شو مخکښې ایت چه لا تحرموا طیبات ما احل الله لکم (۱ ه
نو هغوی تپوس اوکړو چه موږ چه قسم کړے دے نو دَ هغے په څه حکم وی
نو دا آیت نازل شو. دا رنګ هر کله چه او فرمائیل چه تحریم دَ طیبا تو اعتداء
(ګناه) ده نو سوال راغے چه کله خو یو صالح انسان یو حلال څیز په ځان
باندے حرام کړی لکه چه سورة تحریم په اول کښې ذکر دی نو جواب اوشو
چه په دے کښې تحریم شرعی مقصد نه وی صرف دَ هغے څیز نه ځان ساتل
دَ بل مقصد دَ پاره دی او هغے ته تحریم لغوی وئیلے شی.
لَا يُؤَاخِذُكُمُ اللّٰهُ دا سے په سورة بقره ۲۲۵ کښې تیر شو یدای او
مؤاخذه دوه قسمه ده اول دنیوی یعنی کفاره دَ قسم دویم اخروی یعنی
عذاب الٰهی دلته نفی دَ دواړه قسمو نو مراد ده. بِاللَّغْوِ فِيْٓ اَيْمَانِكُمْ
لغو په اصل کښې هغه څیز دے چه په بے پرواهئ سره او غور څولے
شی او لغو دوه قسمه ده اول دا چه الفاظ دَ قسم دَ خُلے نه بغیر دَ ارادے
نه دَ عادت دَ وجے نه اوځی لکه بعض خلق دَ عادت دَ وجے نه وائی قسم م
دے، والله، بالله. دویم قسم چه په تیر شوی کار کولو یا نه کولو باندے
په طور دَ انکار سره قسم اوکړی دَ هغے کول یا نه کول دَ دهٔ نه هیر وی
اول قول دَ امام شافعیؒ دے او دویم قول دَ امام ابو حنیفهؒ او امام احمدؒ
دے راجح دا ده چه دا دواړه په یمین لغو کښې داخل دی اول خو دَ دے
وجے نه چه نیت ئے نیشته او ”انما الاعمال بالنیات“، او دویم دَ دے
وجے نه چه په ګمان کښې دے ریښتنے دے او ”وَرُفِعَ عَنْ اُمَّتِى الْخَطَاءَ
وَالنِّسْيَانِ“. اِيْمَانَ جمع دَ یمین ده او یمن دلالت کوی په قوت باندے
نو په قسم سره خبره قوی کیږی دَ دے وجے نه هغے ته یمین وئیلے شی.
بِمَا عَقَّدْتُّمُ الْاَيْمَانَ عقد په اصل کښې تړلو ته وئیلے شی نو پدے
سره هغه قسم مراد دے چه کول یا نه کول دَ راتلونکے وخت سره
او تړلے شی او دیته یمین منعقد وئیلے شی په دے کښې په وخت
دَ حانث کیدلو (قسم ماتولو) کښې کفاره واجب ده بالاتفاق.
سوال. دَ دے الفاظو دَ ایت نه خو معلومه شوه چه په صرف عقد کولو
(یمین منعقد) سره کفاره واجبیږی؟
جواب. دلته په عبارت کښې پټ لفظ مراد دے ”رِبِنَكْثِ مَا عَقَّدْتُّمْ

یا اِذَا حَلَفْتُمْ) یعنی په ماتولو دَ دے قِسم سره کفاره واجبیږی".
فَکَفَّارَتُهٗ دا تفصیل دَ یوٓاخذ کمر دے او دے ته کفاره وئیلے شی ځکه
چه په دے سره ګناه دَ ماتولو پټ شی او معاف شی۔
اِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسٰکِیْنَ۔ دَ اطعام په تحدید کښ اختلاف دَ اهلِ علمو
دے دَ علیؓ روایت دے چه دوه وخته په خوراک ورکوی (غرمه او ماښام)
دَ حسن بصری نه نقل دے چه یو وخت خوراک چه ډوډئ او غوښه
وی پوره دے۔ دَ اکثر اهل علمو نه نقل دے چه دَ غنمو نه نیم صاع
رچه هغه تقریبًا دوه کلو وی یا دَ هغې قیمت دے ورکړی که په هر یو
باندے عمل اوکړی نو جائز دے۔ مِنْ اَوْسَطِ مَا تُطْعِمُوْنَ اهـ یعنی ډیر
اعلیٰ قِسم طعام او ډیر ادنیٰ دے نه ورکوی بلکه درمیانه چه عام اوقاتو
کښ دا انسان یخپله خوری او خپل اهل وعیال ته ئے ورکوی۔
اَوْ کِسْوَتُهُمْ په آیت کښ دَ دے حد هم نه دے ذکر شوے نو امام
شافعی فرمائی چه کوم ته جامه وئیلے شی قمیص او ږد او پرتوګ یا
لنګ یا پګړئ دے ورکړی۔ او امام مالک او احمد وائی. هغه جامه چه
په هغې کښ مونځ کول صحیح وی دَ سړی یا دَ ښځې مناسب. مذهبِ حنفی
کښ دی چه جوړه جامه چه په عرف کښ څنګه استعمالیږی، او دا به په
ملکیت کښ ورکوی۔ اَوْ تَحْرِیْرُ رَقَبَةٍ دَ ستې نه مراد ټول ذات دَ انسان
دے که مرئے وی او که وینځه وی او دَ احنافو په نیز عام دے که مؤمن
وی او که کافر وی او دَ نورو ائمو په نیز مؤمن کیدل شرط دی او امام
شعرانی وئیلے دی چه کافر آزادول په کفاره کښ دا مشکله خبره ده ځکه
شرعی مقصد دَ آزادولو نه دا دے چه دَ الله تعالیٰ دَ بندګئ دَ پاره
آزاد شی نو صحیح دا ده چه ایمان پکښ شرط دے۔ او امام رازی
وئیلے دی چه په عرب کښ دا قاعده وه چه دَ قیدی شخص لاس به
ئے دَ ستې سره تړلے وو په رسئ باندے نو کله چه به ئے آزادولو نو
رسئ به ئے پرانستله نو دَ مرئی آزادولو دَ پاره هم فك رقبة استعمالیږی
هم دَ دے مناسبت دَ وجے نه۔
تنبیه: ټولو اهلِ علمو وئیلے دی چه حرف دَ اَوْ په دے کفاره کښ دَ پاره
دَ تخییر (اختیار) دے یعنی دَ کفاره ورکوونکی خوښه ده چه په دے

درے وارہ کښې هر يو خوښ کړي نوادادکړي - او په دے درے وارو کښې يوحکمت دا دے چه اطعام کښې اشاره ده چه دا انسان لس ورځے ځان اوبے اوساتي دَ عادت خپل نه دَ پاره دَ دے چه شهوت دَ نفسِ امارة مات شي ، اوکسوة دَ دے دَ پاره چه ګناه ئے پټه شي ، اوتحرير رقبه دَ دے دَ پاره دے چه دَ ده غاړه دَ ګناه نه آزاده شي . فَصِيَامُ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ په اطعام کښې صرف اشاره ده چه په ځان باندے لس ورځے خوراک کم کړي او په دے کښې تصريح ده چه درے ورځے دِے ځان بالکل اوږے کړي نو په اول کښې لس انتهاء دَ جمع قلت او ابتدا دَ جمع کثرت ذکر شوه او په روژه کښې ادنیٰ دَ جمع قلت ذکر کړه يعني دا جمع قلت دَ عدد دَ جمع کثرت دَ اطعام سره برابر ده او په دے درے ورځو کښې تتابع (پرلپسے والے) شرط دے په نيز دَ احناف باندے په سبب دَ قراءة دَ ابي بن کعب رض او ابن مسعود رض سره او دَ نورو ائمو په نيز تتابع شرط نه دے صرف سنت دے . ذٰلِكَ كَفَّارَةُ اَيْمَانِكُمْ اِذَا حَلَفْتُمْ او دَ دے سره حنث مراد دے ليکن حلف اصل سبب دے دَ کفارے دَ دے وجے نه دَ هغے ذکر ئے اوکړو نو دا دليل دے چه مخکښې کول دَ کفارے په قسم کولو باندے جائز نه ده او په حنث باندے مخکښې کولو کښې اختلاف دے ظاهر دَ حديث دلالت کوي په جواز باندے ليکن په کارونو دَ خير کښې فقط .
وَاحْفَظُوْٓا اَيْمَانَكُمْ دَ دے درے توجيه دي اول دا چه ځان بچ کړئ دَ ډيرو قسمونو کولو نه (خازن) ، دويم دا چه روستو دَ حنث نه تا دي اوکړئ په کفارة ورکولو کښې (قرطبي) دريم دا چه قسمونه بچ اوساتئ دَ حانث کيدلو نه ليکن دا خاص دے په هغه حال پورے چه قسم ئے نه وي کړے په پريښودلو دَ امر شرعي يا په کولو دَ مکروه کار باندے .
لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ اشاره ده چه تفصيل دَ ديني احکامو لوئے نعمت دے دَ هغے شکر کول لازم دي دا رنګ شکر کول په معنیٰ دَ عمل کولو سره دے .

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ

اے ایمان والو ! یقینًا شراب

وَٱلْمَيْسِرُ وَٱلْأَنصَابُ وَٱلْأَزْلَٰمُ رِجْسٌ

او جواری او بندگی دَ درگاهونو او قسمت معلومول په غشو سره پلیتي ده

مِّنْ عَمَلِ ٱلشَّيْطَٰنِ فَٱجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ

دا دَ عمل دَ شیطان نه دی نو ډډه اوکړئ دَ دیته دے دَپاره چه تاسو

تُفْلِحُونَ ﴿٩٠﴾ إِنَّمَا يُرِيدُ ٱلشَّيْطَٰنُ

کامیاب شئ . یقینًا اراده لری (غواړی) شیطان

سنہ ربط دَ مخکښ سره دا دے چه هر کله ئے اوفرمائیل "لا تحرموا طیبات ما احل الله لکم" نو خمر او میسر هم دَ بعضو خلقو په تیز طیبات وؤ نو رد کوی په هغوی باندے چه دا طیبات نه دی. يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓا۟ قرطبی وئیلے دی چه دَ جاهلیت په خلقو کښ دا عادت وؤ نو روستو دَ ایمان نه هم بعضِ اثار دَ دے په بعضِ مؤمنانو کښ پاتے وؤ دَ دے وجے نه خطاب ئے په صفت دَ ایمان سره اوکړو یعنی صفت دَ ایمان دَ دے عاداتو سره منافی دے. ابن عطیه وئیلے دی چه دا سے عادات په جاهلیت والو کښ وو چه فالونه به ئے راویستل دَ کتابونو او دَ مارغانو په ذریعه سره او بعض خلق پکښ اوس هم گرفتار دی. إِنَّمَا ٱلْخَمْرُ سورة بقره ۲۱۹ کښ دَ دے تفسیر تیر شوے دے. او په مسند احمد کښ ذکر دی چه تحریم دَ خمر (شرابو) په تدریج سره درے مرحلو کښ راغلے دے اول په سورة بقره ۲۱۹ کښ نو بعضو صحابو پریخودل او بعضو به استعمال کوؤ نو بیا په سورة نساء ۴۳ کښ اوئیلے شول چه په وخت دَ مونځ کولو کښ منع دی نو بیا به په غیر دَ وخت دَ مونځ نه بعضِ کسانو څښکل نو بیا دا ایت نازل شو نو ټول صحابه منع شول او ټول هغه شراب ئے په زمکه باندے وارول کوم چه چا سره وؤ او لوخی دَ شرابو ئے مات کړل. نو دا ایت صریح دے په تحریم دَ خمر کښ په درے الفاظو سره رجس، من عمل الشیطن او فاجتنبوا و حدیث دَ بخاری

او مسلم کښې را غلي دي چه هر کله دا ایت نازل شو په هغه وخت پنځه قسمونه دَ شرابو موجود وو دَ انګورو، کجورو، ګبین، غنمو او وریشو۔ او خمر هر هغه څیز دے چه عقل پټوی (یعنی دَ شرابو په څښکلو سره انسان دومره نشه شی چه په ځان نهٔ پوهیږی)۔ او حدیث دَ مسند احمد کښې دی چه دَ دې خرڅول او دَ دې قیمت اخستل هم حرام دی.
او ابن کثیر په دے مقام کښې ډیر احادیث په دے مسئله کښې راجمع کړی دی هغه او ګورئ۔ وَالْمَيْسِرُ "هر قسم جواری کول" هر کله چه په جواری سره مال په اسانه طریقه حاصلیږی دَ دے وجے نه دَ هغے نوم میسر کیخودے شوے دے او قرطبی وئیلی دی چه واړه هلکان چه په اکوړو (بلورو) وغیره سره لوبے کوی او دَ یو بل نه ئې ګټه کوی دا هم په میسر کښې داخل دی۔ وَالْاَنْصَابُ جمع دَ نُصُب یا دَ نَصْبٌ ده په اصل کښې په معنیٰ دَ مفعول سره دے یعنی منصوب (او درولے شوے مقرر کړے شوے) او په اصطلاح شرعی کښې هر هغه څیز چه خلق ئې مقرر کړی او بندګی (سجدے، طوافونه، ذبح او نذرونه وغیره) دَ هغے کوی۔ په مجالس الابرار ص۱۲۱ مجلس ع۱۸ کښې لیکلی دی چه دا لفظ او نے، ګټے او قبرونو وغیره ته هم شامل دے او دَ دے ټولو نړول واجب دی (دَ استطاعت موافق) نو مراد دلته انصاب جوړول یا دَ هغے عبادت کول دی۔ وَالْاَزْلَامُ دَ دې سورت په ابتداء کښې تفصیل دَ استسقام بالازلام ذکر کړے شوے دے.
فائده - مهائمی په تبصیر الرحمٰن کښې وئیلی دی چه په خمر څښکلو کښې بربادی دَ عقل ده او په میسر کښې بربادی دَ مال ده (ګټه پکښې کله وی) او په انصاب کښې بربادی دَ عزت دَ انسان ده په تذلل او عبادت کولو دَ مخلوق سره او ازلام کښې بربادی دَ علم ده او کثرت دَ جهل دے.
رِجْسٌ په لغت کښې هر خبیث ته وئیلی شی چه هغه بد ګڼړلے کیږی په عقل او په شرع کښې او دَ دے څیزونو وجه دَ رجس کیدلو مخکښې دَ مهائمی په حواله سره ذکر شوه۔ او اطلاق دَ دے لفظ اکثر په هغه ځائے کښې کیږی چه پلیتی پکښې پټه وی عام خلق وریاندے نهٔ پوهیږی دَ دے وجے نه منافقانو ته رجس په سورة توبه ۹۵ کښې وئیلی شوی دی او نجس هغه څیز ته وئیلی شی چه ظاهرًا باطنًا پلیت وی لکه مشرکان په سورة توبه ۲۸ کښې۔ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطٰنِ یعنی شیطان انسی او جنی

أَنْ يُّوْقِعَ بَيْنَكُمُ الْعَدَاوَةَ وَالْبَغْضَآءَ

چه واچوی په مینځ ستاسو کښې دشمنی او کینه کری

فِى الْخَمْرِ وَالْمَيْسِرِ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ

په څښکلو دَ شرابو سره او کولو دَ جوارئ سره او منع کړی تاسو دَ ذکر دَ الله تعالیٰ نه

وَعَنِ الصَّلٰوةِ فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ ﴿۹۱﴾

او دَ مانځه نه ، نو ایا تاسو منع کیدونکی یئ ؟

دا کاروته کوی یا ئے خلقو ته خالصته کوی په وسوسو سره۔ فَاجْتَنِبُوْهُ ضمیر
ټولو ته راجع دے په تاویل دَ مذکور سره یا رجس ته راجع دے۔
او دا لفظ دَ ډیر تاکید دے په باره دَ تحریم کښې په نسبت دَ لفظ دَ حرّم
سره۔ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ اشاره ده چه دَ دے نه خلاف کول سبب دَ
خسران اوفساد دے۔
۹۱ په دے کښې هم تاکید دَ حرمت دَ خمر او میسر ذکر کوی چه دا سبب
دَ فساد دنیوی او دینی دے هر کله چه قباحت دَ انصاب او ازلام خو
ښکاره وؤ او دَ دے سورت په ابتداء کښې ذکر وؤ نو دلته دَ هغے
ذکر کولو ته حاجت رانغے صرف دَ خمر او میسر قباحت ذکر شو۔
الْعَدَاوَةَ (کنځل او وهل او قتال کول) هر کله چه خمرو کښې په نشه کیدلو
سره فحش خبرے کیږی نو هغه سبب شی دَ دشمنئ او په میسر کښې
په مال بیللو سره بلکه بعض خلق په جوارئ کښې خپل اهل او اولاد
هم کانړه کوی دَ بل چا سره او دَ بل چا په لاس کښې چه هغه گوری
نو سبب دَ دشمنئ اوگرځی۔ وَالْبَغْضَآءَ بُغض پټے کینے او حسد ته
وئیلے شی او بُغض سبب جوړیږی دَ قطع تعلق او دا سبب دَ فساد
دَ ژوند دے۔ وَيَصُدَّكُمْ عَنْ ذِكْرِ اللّٰهِ په دے جملے سره فسادِ
دینی دَ خمر او میسر ذکر کوی ځکه چه په خمر سره سرور دَ نفس
او استغراق په لذّتِ جسمانی کښې حاصل شی نو دَ ذکر الٰهی نه غافل
شی او په میسر کښې که گټه اوکړی نو زړهٔ کښې ئے غرور پیدا شی
او که مغلوب شی نو بیا حیلے جوړوی دَ گټے دَ مال دَ پاره او په دوباره

وَاَطِيعُوا اللّٰهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُولَ وَاحْذَرُوا ۚ

او تابعداری کوئ دَ الله تعالیٰ او تابعداری کوئ دَ پیغمبر او بچ شئ دَ خلاف دَ دِے دواړو نه

فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا عَلٰى رَسُوْلِنَا

پس که تاسو مخ اوګرځوو نو پوهه شئ چه یقینًا په رسول زموږ باندے

الْبَلٰغُ الْمُبِيْنُ ﴿۹۲﴾ لَيْسَ عَلَى الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

رسول دی ښکاره ۔ نیشته په هغه کسانو چه ایمان ئے راوړے دے

حال توکیس دَ الله تعالیٰ دَ ذکر نه غفلت راځی ۔ وَعَنِ الصَّلٰوةِ دا تخصیص بعد التعمیم دے دَ وجے دَ ډیر اهتمام دَ صلوٰة نه او صلوٰة دا سے عمل دے په هغے کښ په ټولو اعضاؤ سره ذکرِ الٰهی کیږی.

فَهَلْ اَنْتُمْ مُّنْتَهُوْنَ مراد دَ دے نه امر کول دی په منع سره په طریقه دَ مبالغے سره دَ دے وجه نه دَ عمر رض نه نقل دی په روایت دَ ابوداؤد سره چه هغه دَ دے جملے سره اُوئیل اِنْتَهَيْنَا (منع شوموږ).

امام رازی وئیلے دی چه هرکله سبب دَ حرمت دَ خمر دا مفاسد دنیویه او اخرویه اوګرځولے شو او سبب دَ مفاسد و سکر (نشه) دے نو معلومه شوه چه هر مسکر (عام دَ نشے څیز) په حکم دَ خمر وکښ دے او حرام دے.

۹۲ دا هم متعلق دے دَ حکم دَ خمر او میسر سره او تاکید دے په درے طریقو سره اول امر په اطاعت سره دویم امر په حذر سره دریم اشاره ده په استحقاق دَ عذاب او دفع دَ عذر سره ۔ اَطِيعُوا اللّٰهَ وَاَطِيعُوا الرَّسُولَ مراد دَ دے نه عام دے په جمیع او امرو او نواهی کښ او مسئله دَ خمر او میسر هم دیکښ داخل ده ۔ واطیعو الرسول کښ اشاره ده چه تفصیل او تفسیر دَ خمر او میسر دَ پاره احادیث دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه رجوع کول ضروری دی ۔ وَاحْذَرُوا بچ شئ دَ مخالفت دَ الله او دَ رسول نه حذر کښ معنیٰ دَ ترک ده دَ یو څیز دَ ویرے دَ وجے نه ۔

فَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ الخ دَ دے جزاء په اصل کښ پټه ده یعنی تاسو مستحق دَ عذاب یئ او عذر ستاسو ختم دے نو په رسول باندے هیڅ ملامتیا نیشته او فَاعْلَمُوْٓا دلیل دے دَ دغه جزا پټے دَ پاره.

وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوْٓا

او عمل ئے کړیدے په طریقه دَ پیغمبر څه ګناه په هغے کښ چه دوی خوړلے دی

اِذَا مَا اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ

کله چه ځان بچ کوی دَ شرک نه او پوره ایمان لری او عمل کوی په طریقه دَ پیغمبر (نیک)

ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاٰمَنُوْا ثُمَّ اتَّقَوْا وَّاَحْسَنُوْا ؕ

بیا ځان بچ ساتی دَ حراموته او ایمان همیشه لری بیا ځان بچ ساتی دَ شبهاتو نه او خائسته عمل کوی۔

۳ع ۲/۷ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۹۳﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او الله تعالٰی مینه کوی دَ خائسته عمل کوونکو سره۔ اے ایمان والو!

۹۳ په دے ایت کښ جواب دَ یو سوال دے چه امام بخاری امام ترمذی ذکر کړے دے یعنی روستو دَ تحریم دَ خمر او میسر نه بعض صحابو سوال اوکړو چه څه حال دے دَ هغه صحابو چه شهیدان شول په اُحد کښ او دَ هغوی خیټو کښ شراب او مال دَ میسر پروت وؤ نو په دے ایت کښ جواب اوشو.
په دے ایت کښ دوه اشکالونه دی اول دا چه په داسے حال کښ خو په کافر باندے هم ګناه نیشته چه په حال دَ کفر کښ مباح څیزونه بلکه حرام ئے خوړلے وی نو روستو دَ توبے او دَ ایمان راوړلو نه خو په هغه باندے جناح نیشته نو دَ مؤمنانو تخصیص ئے ولے اوکړو؟ (جواب) کافر نه موصوف کیږی په داسے صفت سره چه دهٔ باندے ګناه نیشته په فلانی کار کښ ځکه چه کفر دَ هغه دَ ګناهونو مجموعه ده او هر چه مؤمن دے نو دَ هغه په باره کښ خوف کیدے شی په هغه څیزونو چه روستو حرام شویدی کیدے شی چه مخکښ دَ تحریم نه هغه ګناه وی.
سوال۔ دَ مباح څیز په باره کښ عدم جناح خو په شرط سره مشروط نه وی په باره دَ مؤمن کښ نو دَ دے احوالو (درے کرته ایمان درے کرته تقوٰی او دوه کرته عمل صالح او یو کرت احسان) ذکر ته څه ضرورت دے؟
جواب ۱۔ دا په طریقه دَ مدح او دَ ثناء سره دی یعنی دغه صحابه کرام په وخت دَ مباح (خمر او میسر) کولو کښ په دے نورو صفتونو

اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ

خامخا ازميښت کوی الله تعالیٰ په تاسو په څه څيز سره د ښکار نه

تَنَالُهٗۤ اَيْدِيْكُمْ وَرِمَاحُكُمْ لِيَعْلَمَ اللّٰهُ

چه رسی هغې ته لاسونه ستاسو او نېزې ستاسو، دې د پاره چه ښکاره کړی الله تعالیٰ

سره متصف وؤ او بیا هم په هغې سره متصف دی. **جواب ۲**. په دې کښ نفی د هغه امورو ته اشاره ده چه محبط (برباد ووُنکی) د ایمان یا د اعمالو دی لکه شرک او کفر ته تقوی (بچکیدل) د بدعاتو ته تقوی، د ریا او سمعت نه تقوی ځکه چه دا درجې د تقوی موجود نه وی نو ښته اعمال برباد شی نو نفی د جناح په مباح کښ فائده نه ورکوی.

تنبيه. په تکرار د تقوی کښ ډیر اقوال دی اول قول، اوله تقوی د هغه څیزونو نه چه حرام وی په وخت د اباحت د خمر او میسر کښ. دویمه تقوی د ریا او سمعت نه. دریمه تقوی د نسبت د عملونو نه خپل ځان ته په طور د عجب او تکبر سره. **دویم قول**. اوله تقوی د کفر او شرک نه، دویمه د کبائرو ګناهونو نه، دریمه د صغائرو او شبهاتو نه. **دریم قول** اول تقوی په مینځ د ده او د نفس د ده کښ، او دویمه په مینځ د ده او د خلقو کښ، او دریمه په مینځ د ده او د الله تعالیٰ کښ او د دې وجې نه د دریمې سره ئې احسان ذکر کړو چه د هغې معنیٰ اَنْ تَعْبُدُ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهٗ يَرَاكَ (حدیث) دې. **څلورم قول** هغه دې چه په دویم جواب کښ ذکر شویدې. په تکرار د ایمان کښ هم اقوال دی. اول قول، په اول ایمان کښ اصول د ایمان مراد دی او په دویم کښ زیادت د ایمان او په دریم کښ دوام د ایمان تر مرګه پورې. دویم قول، اول ایمان توحید دې دویم ایمان په تحریم د خمر او میسر باندې دې دریم ایمان ثبات او استقامت دې په هغې باندې. دریم قول د هر قسم تقوی سره د ایمان ضرورت دې نو څه رنګه چه تقوی درې قسمونه دی دا رنګ ایمان هم. او تکرار د عمل صالح کښ دوه قسمونو ته اشاره ده اول فرائض واجبات او دویم سنن او مستحبات. او هر چه احسان دې نو هغه خو اخلاص دې او هغه پلار دې ټولو مراتبو د ایمان او د تقوی او د عمل صالح کښ رکن اصلی دی او هغه ...

مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ ۚ فَمَنِ اعْتَدٰى بَعْدَ

هغه څوک چه يريږي د هغه نه په حال د نه ليدلو د هغه کښي، نو چا چه زياتے اوکړو پس

ذٰلِكَ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٤﴾

د دينه نو هغه لره عذاب دردناک دے.

ف ٩٤ هر کله چه په ف ٨٧ کښې هغه څيزونه ذکر کړل چه هميشه حلال وي او په ف ٩٠ کښې هغه ذکر کړل چه روستو د تحريم نه هميشه حرام وي نو اوس هغه څيزونه ذکر کوي چه د خاص مکان يا حالت د وجے نه حرام وي او بل ځائے او وخت کښې حلال وي او د هغے نه تعبير کيږي په تحريمات الٰهيه سره.

يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَيَبْلُوَنَّكُمُ اللّٰهُ، نو ول احکام الٰهيه چه انسانان په هغے سره مکلف وي نو هغے ته ابتلاء وئيلے شي بيا چه د عصيان سبب قريب موجود شي او د هغے طاعت کولو کښې مشقت وي نو دا ابتلاء سخته ده. نو دلته هم روستو لفظ د تَنَالُهٗ کښې چه ښکار کول اسان دي ليکن الله تعالٰى حرام کړے دے او دا ابتلاء د ښکار پشان د ابتلاء د بني اسرائيلو ده ليکن هغوي په ابتلاء کښې ناکام شول او دا امت په دے ابتلاء کښې کامياب دے اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰه. او دلته خطاب دے هغه مؤمنانو ته چه په حرم کښې وي يا په احرام کښې وي. بِشَيْءٍ مِّنَ الصَّيْدِ، مِنْ د پاره د تبعيض دے يعني د اوچے. بِشَيْءٍ خازن او زمخشري وئيلے دي چه په دے کښې اشاره ده چه دا ابتلاء لږه او اسانه ده په نسبت د نورو عظيم فتنو چه په هغے کښې اکثر خپے خوئيږي. او دا رنګ لفظ د بِشَيْءٍ په سورة بقره ف ١٥٥ کښې هم دلالت کوي چه دغه ابتلاګانے لږے دي په نسبت د نورو فتنو.

تَنَالُهٗۤ اَيْدِيْكُمْ يعني واړه بچي، او اګئ او هغه چه رفتار ئے کمزورے وي نو انسان ئے په لاسونو سره نيولے شي او اَيْدِيْكُمْ کښې داخل دے جالونه اچول او دا مونه ختول. وَرِمَاحُكُمْ يعني لوئے ښکاروي د ښکار چه تيښته کولے شي او بدن ئے غټ وي نو بغير د نيزے نه نه راګيريږي.

لِيَعْلَمَ اللّٰهُ دا علت غائي د ابتلاء دے او مراد د يَعْلَمَ نه اظهار او تميز دے په علم د خلقو کښې اګرچه الله تعالٰى ته د مخکښې نه معلوم دي او دينه علم بعد الوجود وئيلے شي روستو د علم قبل الوجود نه.

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقْتُلُوا الصَّيْدَ

اے ایمان والو! مه وژنئ (مه کوئ) ښکار

وَاَنْتُمْ حُرُمٌ ؕ وَمَنْ قَتَلَهٗ مِنْكُمْ مُّتَعَمِّدًا

او حال دا چه تاسو احرام کښ یئ۔ او چا چه اووژلو ښکار ستاسو نه په قصد سره

فَجَزَآءٌ مِّثْلُ مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ

نو په ده باندے بدله ده پشان د هغے چه ده قتل کړیوی د څاروو نه

يَحْكُمُ بِهٖ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ هَدْيًا

فیصله به کوی په هغے سره دوه تنه انصاف والا ستاسو نه هدیه به وی

بٰلِغَ الْكَعْبَةِ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ

رسیدونکے کعبے ته یا به کفاره وی خوراک د مسکینانو

اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا لِّيَذُوْقَ

یا برابر د دے روژے نیول دی دا د دے د پاره چه اوڅکی

وَبَالَ اَمْرِهٖ ؕ عَفَا اللّٰهُ عَمَّا سَلَفَ ؕ

سزا د کار خپل۔ معافی کړیده الله تعالیٰ د هغے نه چه مخکښ څه شویدی۔

وَمَنْ عَادَ فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ ؕ وَاللّٰهُ

او څوک چه را اوګرځیدو حلال ګڼلو ته ښکار ته۔ نو بدله به واخلی الله تعالیٰ د هغه نه۔ او الله تعالیٰ

مَنْ يَّخَافُهٗ بِالْغَيْبِ دا خوف ایمانی دے چه د وجے د یرے د غضب او عذاب د الله تعالیٰ نه د حرام صید نه ځان ساتی۔ بِالْغَيْبِ دا په محل د حال کښ دے یعنی په غیر د لیدلو د ده نه الله تعالیٰ لره او دا غوره ایمان دے په نسبت د هغه چاچه الله تعالیٰ (لره که بالفرض) اووینی او بیا یره کوی دا سے په سورة انبیاء ۴۹ کښ دی بالغیب نه مراد زړه او اخلاص د زړه دے۔ فَمَنِ اعْتَدٰى مراد د دے نه ښکار کول دی په حالت د احرام یا حرم کښ۔ فَلَهٗ عَذَابٌ اَلِيْمٌ مراد په دنیا کښ سزا ده چه وړیسے

عَزِيزٌ ذُو انتِقَامٍ ﴿٩٥﴾ أُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ

زور اور دے بدله اخستونکے دے. حلال کړے شو بیئے تاسو لره ښکار دَ اوبو

ایت کښ ذکر ده یا عذاب اخروی په شرط دَ توبه نه کولو دے.
۹۵ په دیکښ تفصیل دَ حکم دَ ښکار کولو دے په حالت دَ احرام کښ او دا
دنیوی عذاب (سزا) دے. او لَا تَقْتُلُوا اه دا بیان دَ ابتلاء دے په طریقه
دَ نهی سره. او قتل عام دے که په ذبح کولو سره وی که په مرئ خفه
کولو سره وی او که په گټه ویشتلو سره وی او دا عام دے هر یو دَ ښکار
او ژوندی خیر ته که خوراک ئے شرعاً حرام وی او که حلال وی او دَ دے
نه په حدیث دَ صحیحین کښ پنځه خیزونه مستثنیٰ دی کارغه، تپوس، لړم،
منږک (مږه) او حمله کوونکے سپے او مار هم په یو روایت کښ دَ لړم په
ځائے ذکر دے. وَ اَنْتُمْ حُرُمٌ دا عام دے نارینه او زنانو ته او که په حرم
کښ وی او که بهر وی. مُتَعَمِّدًا یعنی احرام ئے یاد وی چه زهٔ په احرام کښ
یم او قتل کولو کښ هم اراده لری نو دا قصداً شو. امام زهری وئیلے دی چه
په سنت سره دَ خاطی او ناسی (هیروونکی) هم دا حکم معلوم شوے دے
نو دا دَ جمهور اهلِ علمو مذهب دے. فَجَزَاءٌ عبارت پټ دے یعنی
فعلیه جزاء. مِثْلُ دا بدل دے دَ جزاء نه، خبر دے دَ مبتدا پټ یعنی
هُوَ مِثْلُ. مَا قَتَلَ مِنَ النَّعَمِ مِنْ بیان دَ مَا دے یعنی مقتول دَ نعم (خاروی)
نه وی یا بیان دے دَ مِثْل، او مماثلت دوه قسمونه دے یو مماثلت په
شکل او خلقت کښ دے او دویم مماثلت په قیمت کښ، قول دَ جمهور
اهلِ علم دا دے چه دَ کومو خیزونو مماثل صوری شته نو هغه به په
جزاء کښ لازم وی او چه مماثل صوری ئے نه وی نو بیا به په بدل کښ
قیمت ادا کیږی او قول دَ امام ابو حنیفه دا دے چه مماثل دَ قیمت په
هر حالت کښ مراد دے اول قول غوره دے ځکه چه دَ صحابه کرامو نه
روایات نقل دی په باره دَ مماثلتِ صوری کښ. او نَعَم لفظ عام دے
شامل دے خاروؤ او مارغانو دواړو ته. یَحْكُمُ بِهٖ ضمیر مثل ته یا
جزاء ته راجع دے یعنی مماثلت صوری او قیمت به په فیصله دَ دوه
عادلانو سره ثابتیږی په دے شرط چه دَ هغوی په دے باب کښ

وَطَعَامُهٗ مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ ۚ وَحُرِّمَ

او خوراک دَ هغې فائده ده تاسو لره او قافلې والو لره او حرام کړے شويدے

عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ مَا دُمْتُمْ حُرُمًا ؕ

په تاسو بانده ے ښکار کول دَ اوچے خوړورے چه احرام کښں يئ .

تجربه وی۔ هَدْيًا یعنی عادلان چه په کوم مثل ځاروی فیصله اوکړی نو دَ هغې حکم به دَ هدی وی په اشعار او په قلاده اچولو کښں۔ بٰلِغَ الْكَعْبَةِ مراد دَ کعبة نه حرم دے او بلوغ نه مراد ذبح کول دی په حرم کښں. دا اګرچه هدی ده لیکن تقسیم به یئ په مساکینو پورے خاص وی ځکه چه دادم دَ جنایت دے۔ اَوْ كَفَّارَةٌ طَعَامُ مَسٰكِيْنَ دا عطف دے په جزاء باندے او عَلَيْهِ لفظ پټ دے او دا کفاره ده دَ صید نه دَ هدی دَ عدم وجود نه ده۔ یعنی قیمت دَ صید (قتل کړے شوی) باندے به طعام واخلی نو هغه به مسکینانو ته ورکړی هر مسکین ته به نیم صاع دَ غنمو ته ورکوی۔
اَوْ عَدْلُ ذٰلِكَ صِيَامًا یعنی دَ هر نصف صاع په ځائے دِیوه روژه اونیسی۔
تنبیه۔ دَ اکثر اهل علم مسلك دا دے چه اَوْ دَ پاره دَ تخییر (اختیار) دے یعنی دَ دے جنایت کوونکی خوښه ده که دَ مثل دَ صید نه هدی جوړه کړی حرم کښں یئ ذبح کړی یا په هغے باندے غنم واخلی او نصف صاع هر مسکین ته ورکړی یا دَ هر نصف صاع په بدل کښں یوه روژه اونیسی. او دَ بعض سلفو په نیز باندے اَوْ دَ پاره دَ ترتیب دے۔
لِيَذُوْقَ وَبَالَ اَمْرِهٖ دا علت دَ دغه جزاء دے یا لفظ دَ شَرَعَ ذٰلِكَ پټ دے۔ وَبَالَ په اصل کښں دروند والی او بوج ته وئیلے شی مراد ترینه سزا دَ جرم ده۔ اَمْرِهٖ دَ دے نه مراد بے عزتی کول دَ حرم او دَ حکم دَ الله تعالیٰ دی۔ عَمَّا سَلَفَ مراد قتل دَ صید مخکښں دَ نزول دَ دے ایت نه دے یا په جاهلیت کښں چه کوم تیر شویدی نو هغه الله تعالیٰ معاف کړے دی۔
فَيَنْتَقِمُ اللّٰهُ مِنْهُ اشاره ده عذاب دَ دُنیا او دَ اٰخرت ته لیکن سرهٔ دَ دے نه په نیز دَ اکثر اهل علم جزاء به هم ورکوی په مخکښں طریقے سره۔ اشاره ده چه اصرار په ګناه باندے سبب دَ غضب دَ الله تعالیٰ دے۔

وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۹۶﴾

او یریږئ دَ الله تعالیٰ نه هغه ذات دے چه هغه ته به جمع کیدے شئ۔

جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ الْبَيْتَ الْحَرَامَ قِيٰمًا

مقرر کړیدہ الله تعالیٰ کعبه (شریفه) کور عزت والا سبب دَ ژوند

۹۶ مخکښې حکم ذکر شو ابتلاء په حالت دَ احرام کښې او دَ هغې سزا او س دلته ذکر کوی ابتلاء په حرم کښې په تقسیم دَ صید سره۔ اُحِلَّ لَكُمْ خطاب دے مسلمانانو ته په عامو حالاتو کښې سره دَ حالت دَ احرام نه۔
صَيْدُ الْبَحْرِ دَ لوندے ښکار هغه دے چه دَ هغې ژوند په غیر دَ اُوبو نه نشی کیدے۔
وَطَعَامُهٗ فرق دا دے چه صید هغه دے چه تازه وی او طعام هغه دے چه مالګه ورباندے واچوی او ډیر وخت پورے ساتلے کیږی۔
دویم فرق دا دے چه صید هغه دے چه انسان یې دَ دریاب نه په څه طریقے سره یا په څه آلے سره ژوندے راوباسی، او طعام هغه دے چه دریاب یې مړ راوغورځوی او دلیل په هغې باندے حدیث دَ بخاری او مسلم دے چه صحابه کرامو ته دریاب یو مهے (کب) راغورځولے وو او هغوی تر ینه اتلس ورځے خوراک کړیوو او رسول الله صلی الله علیه وسلّم ته یې دَ هغې نه څه حصه (غوښه) اوړلے وه۔ او کوم حدیث چه په باره دَ منع دَ سَمَكٍ طافی کښې راغلے دے هغه محدثینو ضعیف کړے دے او قرطبی په هغې باندے تفصیلی بحث کړے دے۔
مَتَاعًا لَّكُمْ وَلِلسَّيَّارَةِ اول قسم په حال دَ حضر کښې او دویم قسم په حالت دَ سفر کښې پکار راځی۔
وَحُرِّمَ عَلَيْكُمْ صَيْدُ الْبَرِّ ښکار کول او ښکار ذبح کول او ښکار خوړل (په دے شرط چه دَ هغه دَ پاره ښکار شوے وی یا هغه امر کړے وی) نودا ټول حرام دی۔ او دا تحریم په دے سورت کښې درے کرته ذکر شوے دے په ۱ او ۹۵ او په دے آیت کښې دا دَ ډیر تاکید دَ پاره۔ او وَاتَّقُوا اللّٰهَ الَّذِيْٓ الخ دا هم دَ تاکید دَ حرمت دَ پاره دے۔

لِّلنَّاسِ وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ وَالْهَدْیَ

دَ پاره دَ خلقو او میاشت عزت والا او هدیے

وَالْقَلَآئِدَ ؕ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

او امیلونو والا څاروی ـ دا دے دَ پاره چه تاسو پوهه شئ (یقین اوکړی) چه بیشکه الله تعالیٰ

یَعْلَمُ مَا فِی السَّمٰوٰتِ وَمَا فِی الْاَرْضِ

عالم دے په هغه څه چه په اسمانونو کښ دی او په هغه څه چه په زمکه کښ دی

وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۹۷﴾

او یقیناً الله تعالیٰ په هر څه باندے پوهه دے۔

ف۹۷ دا په منزله دَ علت دے دَ ماقبل دَ پاره یعنی تحریم دَ صید دَ برّ (اوچ)
دَ پاره دَ احترام دَ کعبے دے. جَعَلَ اللّٰهُ الْكَعْبَةَ دا جعلِ تشریعی او تکوینی دے
الْكَعْبَةَ کعب اوچت ځائے ته وئیلے شی کعبه هم په اوچت ځائے باندے ده
په وادئ دَ مکه کښ او دا رنګ اوچتے مرتبے والا ده۔ الْبَیْتَ الْحَرَامَ دا عطف
بیان دے دَ الکعبة دَ پاره دَ مدح، نه دَ پاره دَ توضیح (وضاحت) ځکه چه لفظ کعبه
دَ هغے نه ډیر واضح دے. قِیٰمًا لِّلنَّاسِ یعنی نظام زندګی او دین پدے
سره قائمیږی اول دا چه په هغے کښ امن دے او هر قسم میوے او غلے
راوړل دی حرم ته نو حصول دَ امن او دَ لوګے ته ـ یچ کیدل سبب دَ حیاة
طیبه دے او دویم (قیام دینی) دَ دے وجے نه دے چه په حج او عمرے
سره اقامت دَ دین راځی او په دے لفظ کښ اشاره ده چه ترڅو پورے کعبه
په مخ دَ زمکے باندے موجود وی نو دنیا به نه فنا کیږی په حدیث دَ بخاری
کښ راغلی دی چه دَ قیامت نه وړاندے به یو پنډوګر حبشی کیجا تلو نکے پدے
دے باندے حمله اوکړی او دا یه اونړوی نو بیا به قیامت قائم شی۔
وَالشَّهْرَ الْحَرَامَ دا اسم جنس دے مراد دَ دے نه څلور میاشتے دی محرم
ذوالحجه، ذوالقعده او رجب چه مشهور وو په رجب مضر سره دا هم
قیام دے په سبب دَ حرمت دَ قتال سره په هغے کښ او یو بل له امن
ورکول۔ وَالْهَدْیَ هغه څاروی چه حرم ته لیږلے کیږی او دَ غنمو څارو

اِعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ وَاَنَّ

پوهه شئ چه یقینًا الله تعالٰی سخت عذاب ورکوونکے دے (نه منونکوته) او یقینًا

اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٩٨﴾ مَا عَلَى الرَّسُوْلِ

الله تعالٰی بخونکے دے رحم کوونکے دے (منونکوته) نیشته په رسول باندے

په اړخ باندے به اشعار وی دلالت به کوی چه دے ته رکاوټ (لارنیول) اچول حرام دی او په دے سره به امن حاصلیږی د پاره د سفر کوونکو حرم ته۔ وَالْقَلَآئِدَ هغه هدایا چه حرم ته اوړلے شی او د هغے په غاړه څه امیل اویزان کړی او دائے جدا ذکر کړو ځکه چه په دے کښ د عام هدایا نه ثواب ډیر دے او دا هم سبب د امن دے د دغه هدایو او د هغه محرم شخص چه سفر کوی حرم ته او بعض کسانو به ځان ته هم دا سے قلاده اچوله په وخت د سفر کولو کښ حرم ته خو دا د جاهلیت رواج وؤ اسلام کښ دا خاص دے په څاروؤ پورے۔ او د دے درے الفاظو ته روستو قِيٰمًا مراد دے حاصل دا دے چه د کعبے احترام چه په دغه درے څیزونو سره جاری وی سره د حج او عمرے نه تو دنیا به اباده وی دا د عامو انسانانو قیام دے او امن قیام دے د پاره د مکے والو۔
سوال۔ په سورة نساء ۵ کښ اموالو ته قیام وئیلے دے نو ایا دا دواړه یو شان دی؟
جواب۔ هلته ئے لکم قیامًا وئیلے دے یعنی مال د هر شخص د ژوند د پاره ذریعه ده او کعبه وغیره سبب دے د ژوند د ټولے دنیا نو د مالونو فائده انفرادی ده او د کعبے فائده اجتماعی ده۔ ذٰلِكَ لِتَعْلَمُوْٓا اه دا فائده ده د ماقبل او مراد د دے اثبات د توحید فی العلم دے او رد دے د شرک فی العلم او اشاره ده چه حج او عمره کوونکی لره بالخصوص دا عقیده ساتل او دا عبرت اخستل ضروری دی۔ وَاَنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ دا تعمیم دے روستو د تخصیص نه۔ په اوله جمله کښ عموم د علم وو او په دے جمله کښ احاطه د علم ذکر ده۔
۹۸ په دے کښ تاکید دے د پاره د عمل کولو په ماقبل احکامو باندے چه په مخالفت کولو سره تخویف او په موافقت کولو سره بشارت دے

إِلَّا الْبَلٰغُ ۗ وَاللّٰهُ يَعْلَمُ مَا تُبْدُوْنَ وَمَا تَكْتُمُوْنَ ﴿٩٩﴾

مګر رسول دی. او الله تعالیٰ پوهه دے په هغه څه چه ښکاره کوئ تاسو او په هغه څه چه پټوئ تاسو.

قُلْ لَّا يَسْتَوِى الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ وَلَوْ اَعْجَبَكَ

نه ورته او وایه نه دی برابر پلیت او پاک اګرچه تعجب کښې اچوی تا لره

كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ يٰٓاُولِى الْاَلْبَابِ

ډیر والے د پلیت ، پس او ویریږئ د الله تعالیٰ نه اے خالص عقل والو

لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿١٠٠﴾ ع يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

دے د پاره چه کامیاب شئ . اے ایمان والو !

او اشاره ده چه ایمان په مینځ د خوف او رجا کښې دے.

۹۹ په دیکښې هم تاکید دے د پاره د عمل کولو په ما قبل باندے په دوه طریقو سره اوله مَا عَلَى الرَّسُوْلِ اِلَّا الْبَلَاغُ یعنی ستاسو عذر په کوتاهئ کولو سره قبول نه دے بلکه د رسول په بلاغ سره په تاسو باندے حجت قائم شو، او اِلَّا الْبَلٰغُ حصرِ اضافی دے یعنی توفیق د هدایت او ثواب وعذاب د رسول په ذمه باندے نیشته. دویمه طریقه وَاللّٰهُ يَعْلَمُ اه یعنی احوالِ ظاهری او باطنی او موافقت ستاسو الله تعالیٰ پیژنی او په دیکښې اشاره ده چه جزا او سزا په اختیار د الله تعالیٰ کښې دی.

۱۰۰ روستو د تاکیداتو نه ترغیب دے صالح عقائدو او اعمالو او اخلاقو ته او تحذیر دے د خبیث نه او په دیکښې جواب د وهم دے هغه دا دے چه خلق په عامو حالاتو او کارونو کښې صرف کثرت ته اعتبار ورکوی لکه جمهوریت په دے زمانه کښې؟ حاصل د جواب دا دے چه د پاک او پلیت فرق ضروری دے کثرت ته اعتبار نیشته لکه په سوره انعام ۱۷ کښې دی. لَا يَسْتَوِى مراد د دے عدم استواء ده په نیز د الله تعالیٰ او په احکامِ شرعیه کښې. الْخَبِيْثُ وَالطَّيِّبُ خبیث ئے مقدم کړو د کثرت د وجے نه دویم دا چه وهم کوؤنکی خبیث د طیب سره برابر ګڼړی د هغوی تردید مقصد دے. او قرطبی وئیلے دی چه دا دواړه لفظونه عام او شامل دی کسبونو، عملونو،

لَا تَسْـَٔلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ

تپوس مه کوئ د داسې څیزونو که ښکاره شي تاسو ته (جواب د هغې)

تَسُؤْكُمْ ۚ وَاِنْ تَسْـَٔلُوْا عَنْهَا حِيْنَ

خفه به کړی تاسو او که تپوس کوئ د دغه څیزونو په وخت د

يُنَزَّلُ الْقُرْاٰنُ تُبْدَ لَكُمْ ؕ عَفَا اللّٰهُ

نازلیدلو د قرآن کښ نو ښکاره به شي تاسو ته (جواب د هغې). معافی کړیدی الله تعالیٰ

عَنْهَا ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ حَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾ قَدْ سَاَلَهَا

د هغه (تپوسونو نه). او الله تعالیٰ بخونکے صبر کوونکے دے. یقیناً تپوس کړے ؤ د داسې څیزونو

انسانانو او عقیدو او علمونو ټولو ته. او حلال مال او حرام، مسلم او کافر، مخلص او منافق او صالح او فاسق وغیره ټول مراد دی او داسې مضمون په سورة اعراف ۵۸ سورة ص ۲۸ سورة جاثیه ۲۱ قلم ۳۵ کښ هم دے.

وَلَوْ اَعْجَبَكَ كَثْرَةُ الْخَبِيْثِ دا اعجاب طبعی غیر اختیاری دے نو نبی صلی الله علیه وسلم ته خطاب دے یا مراد د دے نه خوشحالی او تکبر کول دی نو خطاب هر هغه مخاطب ته دے چه خبیث او طیب کښ فرق نه کوی.

فَاتَّقُوا اللّٰهَ تقوی داده چه د خبیث نه ځان بچ کړے اګرچه ډیر وی او طیب قبول کړے اګرچه لږ وی. يَآ اُولِي الْاَلْبَابِ اشاره ده چه د دے فرق د پاره هغه خالص عقل پکار دے چه په حقائقو د څیزونو پانړے فکر کوی نو هغوی خبیث د طیب سره نه مساوی کوی. لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ دلته فلاح نه مراد حصول د هغه درجاتو د قربِ الٰهی دے چه د طیبین د پاره خاص کړے شوے دی.

۱۰۱ ربط دا دے هر کله چه د خبیث او طیب په فرق ایزده کولو باندے تیزی ورکړے شوه نو او ریدونکو د هغې وجے نه ډیر تپوسونه شورو کړل نو اوس د تپوس کولو ادب ذکر کوی او ربط په اعتبار د مضمون سره دا دے چه هر کله خبیث عقائد او اعمال او خوراکونه (لکه نذر د غیر الله) وغیره په معاشره کښ ډیر وی نو په دغه وخت کښ

بے ضرورته او بے حاجته او اختلافی مسائلو کښ بحث کول او دَ هغے دعوت کول جائز نه دی ځکه چه عاقبت په داشی چه شرک او کفر او بدعات په ډیر شی او عام به شی ځکه دَ هغے مخ نیوے به نه کیږی او دَ هغے په وجه سره به مؤحدین خفه وی۔

تنبیه۔ افسوس دے په هغه کسانو باندے چه په یو علاقه او کلی وغیره کښ دَ کفر او شرک فتنه په ترقئ سره موجود وی او دغه کسان په اختلافی عملی مسائلو کښ بحثونه او دعوت او مناظرے کوی او دَ شرک او کفر مقابلے نه کوی۔ يَآ اَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا اشاره ده چه مقتضیٰ دَ ایمان داده چه فرق اوکړے شی په مینځ دَ ضروری او غیر ضروری مسائلو کښ۔ لَا تَسْئَلُوْا عَنْ اَشْيَآءَ اِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ په دے کښ سوال دَ عبدالله بن حذافه داخل دے چه سوال ئے دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه په باره دَ پلار خپل کښ کړے وو چه مَنْ اَبِىْ "بخاری او مسلم داروایت کړے دے دارنګ دَ بل سړی سوال چه (اَيْنَ اَنَا قَالَ فِى النَّارِ) زه به کوم ځائے یم جواب اوشو ته به په اور کښ ئے او په بل روایت کښ دی (اَيْنَ اَبِىْ قَالَ فِى النَّارِ) داروایت ابن جریر ذکر کړے دے ابن کثیر وئیلی دی چه سند ئے کره دے دارنګ سوال دَ سړی چه اَيْنَ نَاقَتِىْ (زما اوښه کوم ځائے ده) دا هم دَ بخاری روایت کښ دی۔ دارنګ هغه سوال چه په حدیث دَ مسند احمد کښ دی چه نبی صلی الله علیه وسلم ایت دَ فرضیت دَ حج او لوستلو نو یو سړی تپوس اوکړو اَفِىْ كُلِّ عَامٍ (آیا هر کال فرض دے) داخو په وخت دَ نزول دَ وحی کښ واقع شوی دی نو په دے ایت کښ صراحةً داخل دی او دَ دے نه علاوه نور سوالات (چه روستو ذکر کیږی) هغه هم داخل دی په اعتبار دَ عموم دَ ایت سره لکه ابن حجر فتح الباری کښ وئیلی دی چه په دے کښ هغه سوالونه چه په طریقه دَ استهزاء وی یا په طریقه دَ امتحان وی یا په طریقه دَ تعنت (ضد) وی هم داخل دی او ابن قیم اعلام الموقعین کښ وئیلی دی چه حکم دَ دے ایت اوس هم منقطع نه دے لکه چه دَ عمر رضی الله عنه ملګری دَ صاحب الحوض نه تپوس کړے وو چه ستا حوض ته سباع (درندګان) راځی نو عمر رض او فرمائیل دَ دے خبر مونږ ته مه راکوه۔

إِنْ تُبْدَ لَكُمْ تَسُؤْكُمْ یعنی چه جواب اوشی نو بیا تپوس کوئ نکے خفه وی او دا جمله صفت مقیده دے دَ اشیاء دَپاره او دا قید احترازی دے نو معلوم شوه چه ضروری تپوس کول خو پکار دی لکه په دے قول دَ الله تعالیٰ کښ فاسئلوا اهل الذکر الایة سورة الانبیاء ۷ او نحل ۴۳ نو دَ دواړه ایاتو تو تعارض نیشته۔ دارنګ هغه قید لګولو ته حاجت نیشته کوم چه بعض مفسرینو لګولے دے (بما لا تدعوالیه حاجة) ځکه دا فائده په دغه جمله (ان تبد لکم تسوءکم) سره معلوم شوه۔

وَإِنْ تَسْأَلُوا عَنْهَا حِينَ يُنَزَّلُ الْقُرْآنُ تُبْدَ لَكُمْ په دے کښ دَ مفسرینو دری اقوال دی اول دا چه زجر دے او تاکید دَ لا تسألوا دے یعنی دَ قرآن نزول شورو دے او تاسو دغه بے ضرورته تپوسونه کوئ نو ضرور به په قرآن کښ جواب راځی او تاسو به بیا خفه یئ نو ولے داسے تپوسونه کوئ۔

دویم دا چه مخکښ جمله کښ ابداء ئے سبب دَ مساءت اوګرځوو نو په دے جمله کښ طریقه دَ ابداء ذکر کوی چه هغه نزول دَ وحی دے په باره دَ هغه سوال کښ۔

دریم قول دَ خازن دے یعنی که چرے تاسو صبر اوکړو تر دے چه په قرآن کښ یو حکم نازل شی او دَ هغے شرحے ته محتاج یئ نو تپوس اوکړئ نو جواب به درکړے شی نو بیا په دے تفسیر ترغیب دے سوال کولو ته په وخت دَ ضرورت کښ۔

عَفَا اللَّهُ عَنْهَا په دے کښ دوه توجیه دی اول دا چه دا جمله مستانفه ده او اشاره ده چه دغه قسم تپوسونه ګناه ده لیکن الله تعالیٰ (دَ نهی دَ نزول نه وړاندے) هغه تاسو ته معاف کړی دی۔

دویمه توجیه دا ده چه دا بل صفت دے دَ اشیاء دَ پاره یعنی داسے اشیاء چه الله تعالیٰ دَ هغے په باره کښ قرآن نه دے نازل کړے او په تاسو ئے لازم کړے نه دی دَ وجے دَ وسعت نه په تاسو باندے یا دا چه پرېخودلے دے الله تعالیٰ دَ هغے بیان دَ پاره دَ دے چه تاسو خفه نه شئ (دا توجیه دَ ترکیب په لحاظ ډیره بعیده ده)۔

وَاللَّهُ غَفُورٌ یعنی ګناهونه بخی حَلِيمٌ او مستحق دَ عذاب ته عذاب روستو کړی او هغه ته تادیب ورکړی۔

قَوْمٌ مِّنْ قَبْلِكُمْ ثُمَّ أَصْبَحُوا بِهَا كٰفِرِيْنَ (١٠٢)

يو قوم	مخکښ ستاسو نه	بيا شول دوى په وجه دَ هغے	کافران .

١٠٢ په دے کښ اشاره ده دويمے وجے دَ نهى دَ سوال ته يعنى دَ داسے
سوالونو جوابونه چه اوشى نو دَ کراهيت او بد ګڼړلو په وجه سره مخالفت
اوشى نو سبب دَ کفر او ګرځى او قَوْمٌ نه مراد بنى اسرائيل او نور مکذبين
دى لکه قوم صالح ع معجزه دَ ناقے (اوښے) طلب کړے وه او قوم موسىٰ ع
رويت دَ الله تعالىٰ طلب کړے وو او قوم دَ عيسىٰ ع مائده طلب کړے وؤ.
قَدْ سَأَلَهَا قَوْمٌ مراد دَ دے نه سَأَلَ مِثْلَهَا دے او مماثلت په دے کښ دے
چه بے ضرورته وؤ او سبب دَ خفګان او وبال وؤ.

فائده: تفسير قاسمى کښ ليکلى دى چه په دے کښ داخل دى تفريعات
کول په داسے مسئله باندے چه په هغے باندے کتاب او سنت او اجماع
کښ دليل نيشته او وجود دَ هغے هم نادر وى په هغے باندے بے ضرورته
وخت ضائع کوى. دا رنګ په دے کښ داخل دے بحث کول دَ هغه امورو
غيبيه نه چه شرع کښ حکم دے دَ هغے په ايمان باندے اجمالاً په
غير دَ تفصيل دَ کيفيت نه لکه مسئله دَ صفاتِ الٰهيه يا مسئله دَ عذابِ
قبر شوه چه دَ هغے دَ کيفياتو نه بحث کيدے يشى او دليل منصوص ورسره
نه وى. او امام شاطبى په موافقات کښ لس صورتونه ذکر کړے دى دَ بارهٔ
دَ کراهيت دَ سوال. ع١ سوال دَ هغه څيز چه فائده په دين کښ نه ورکوى.
ع٢ سوال دَ هغه څيز چه کافى بيان دَ هغے اوشى. ع٣ سوال دَ هغه څيز چه
هغه وخت کښ ئے ضرورت نه وى. ع٤ سوال دَ اغلوطاتو (غلطيانو) چه جواب ئے نه وى.
ع٥ سوال دَ علتونو دَ احکام شرعيؤ چه په شرع کښ هغه ذکر نه وى.
ع٦ سوال دَ هغه امورو چه تکلف پيدا کوى ع٧ سوال په معارضه دَ کتاب او
سنت کښ بخپله رائے سره. ع٨ سوال دَ متشابهاتو نه ع٩ سوال دَ مشاجراتو
دَ صحابه کرامو نه. ع١٠ سوال په طريقه دَ تعنت (ضد) سره دَ بارهٔ دَ چپ
کولو دَ عالم.

مثالونه ئے په ترتيب سره دادى مثال داول په حديث دَ حذيفه رض مَنْ أَبِي.
يا دَ هلال په بارهٔ کښ تپوس چه څه سبب دے چه هلال نرے وى او

مَا جَعَلَ اللّٰهُ مِنْ بَحِيْرَةٍ وَّلَا سَآئِبَةٍ

نه ده جائز کړي الله تعالیٰ څه غوږ شليدلے او نه ازاده پرېخودلے شوے

وَّلَا وَصِيْلَةٍ وَّلَا حَامٍ ۙ وَّلٰكِنَّ الَّذِيْنَ

او نه پيوست کړے شوے او نه ـ بچ شا (ملا) والا، ليکن هغه کسان چه

كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ ؕ

کافران دي جوړوي په الله تعالیٰ باندے دروغ.

وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۱۰۳﴾ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ

او ډير د دوی نه عقل نه لري. او کله چه اوئيلے شي دوی ته

بيا لوئيږي. دَ دويم سوال مثال په باره دَ حج کښې اَفِي كُلِّ عَامٍ دَ پنځم سوال مثال لکه سوال چه په حائضه باندے قضاء دَ صلوٰة ولے نيشته دَ شپږم مثال صاحب دَ حوض ته تپوس کول چه ستا حوض ته درندګان راځي نو عمرؓ اوئيل داخبر مونږ ته مه راکوه او دَ نورو مثالونه ډير موجود دي نو معلومه شوه چه دا ټول په لا تسئلوا کښې داخل دي.

۱۰۳ ربط دا دے چه مخکښې ذکر شوه چه دا سے سوالونه مکوئ چه سبب دَ تحريم دَ څيزونو اوګرځي نو اوس منع کوي دَ باطل تحريم کولو نه په مستقل طور سره. او اشاره ده چه بے ضرورته بحثونه مه کوئ هاں رد کوئ په رسمونو شرکيو باندے چه دا ضروري خبره ده. نو په دے ايت کښې رد دے دَ تحريم لغير الله. مَا جَعَلَ اللّٰهُ دا دَ مخکښې جَعَلَ ۹۷ مقابل دے دلته هم دَ جعل نه مراد حکم او شرع جوړول دي (مَا شَرَعَ. مَا حَكَمَ. مَا اَمَرَ). مِنْ بَحِيْرَةٍ مِن دَ پاره دَ استغراق او دَ تاکيد دے. قرطبي دَ سعيد بن المسيب نه نقل کړے دے چه بحيره هغه مؤنث څاروے دے راوښه غوا، بيزه) چه دَ هغے پئ دَ پاره دَ آلِهَهٔ ياطله بند کړے يعني څوک يئ ځان دَ پاره لوشلے نه شي او دَ هغے غوږ يئ سيرے کړے وي دَ نښے په طور باندے او دَ امام شافعي او ابن عزيز نه روايت کړے شوے دے چه دا هغه اوښه وه چه پنځه کرته به لنګه شوه نو که پنځم به تربچے وو

نو دوی به وئیل چه دا نارینو او زنانه دواړو دَ پاره حلال دے او که مؤنث
بچے به ووُ نو دوی به دَ هغے غوږ سیرے کړو نو دَ هغے پئ اوغوښه به ئے
په زنانو حرام کنړله. او عکرمه وئیلے دی چه دَ هغے ټول منافع به ئے یعنی
پئ، وړئ وغیره به ئے په زنانو باندے حرام کنړل اوچه مړه به شوه نو بیا به
دَ زنانو دَ پاره حلاله وه. او بخاری دَ سعید بن مسیب په روایت سره وئیلے
دی چه دَ دے پئ ئے دَ طواغیت دَ پاره خاص کول. وَلَا سَآئِبَةٍ، قرطبی او
خازن وغیره ذکر کړے دی چه جاهلیت کښ به څوک بیمار شو یا به ئے
څوک قریب (خپلوان) ورک شو نو دوی به دَ الله تعالیٰ په نوم دَ یو اوښے
نذر اوکړو نو هغه به ئے آزاده پرېخودله چه په هغے باندے به ئے بار
اوړل، سورلی کول منع کنړل او هر چا لره دَ اوبو دَ فصل نه دَ هغے منع
کول ئے سبب دَ ضرر کنړلو. او دَ سعید په روایت کښ امام بخاری نقل
کړے دی. چه دا به ئے دَ الهو په نوم باندے آزادوله او دا رنګ امام
رازی هم ذکر کړے دی چه دا دَ اصنامو په نوم وه او اختیار دَ دے به
ئے دَ اصنامو منجورانو ته ورکوؤ.
وَلَا وَصِيلَةٍ، خازن وئیلے دی چه دا بیزه (چیلئ) وه چه اووه کرته به
لنګه شوه نو که اوم به نر ووُ نو ذبح به ئے کړو او دوی به نارینه
او زنانه دَ پاره حلال کنړلو او که مؤنث به ووُ نو په بیزو کښ
به ئے پرېخودلو او که جوړه به پیدا شوه نو دوی به وئیل وَصَلَتْ
أَخَاهَا (دا مؤنث دَ خپل ورور په حکم کښ شوه) نو دواړه به ئے نه ذبح
کول. او ابن اسحاق نه روایت دے چه دا هغه بیزه وه چه لس مؤنث
بچی به ئے پرله پسے راوړل نو دوی به وئیل وَصَلَتْ، نو دَ دینه روستو
به ئے چه بچی راوړل نو هغه به ئے دَ نارینه دَ پاره حلال او زنانه دَ پاره
حرام کنړل. او دَ دے باره کښ هم بخاری وئیلے دی چه دا به ئے دَ
طواغیت په نوم کرځوله. وَلَا حَامٍ، قرطبی وئیلے دی دا هغه اوښ مذکر
ووُ چه لس اوښے به دَ هغه نه بلاربے (ماں) شوے نو دوی به دَ هغه
په ملا باندے دَ طاؤس وزر اولګوؤ او په هغه باندے به ئے سورلی
کول او بار اوړل منع کړل او دَ اوبو او ګیاه نه به نه شو منع کیدلے
آزاد به پرېخودلے شو او امام بخاری وئیلے دی چه دا به ئے هم دَ

طواغیتو په نوم بانده پریخودلو۔
تنبیه۔ ابن کثیر وئیلی دی چه عمرو بن لحی بن قمعه دَ خزاعه قبیلې مشر وُو دَ خزاعه قبیلې او بنی جرهم نه روستو دَ بیت الله متولی گرځیدلے وُو او اول شخص وُو چه دین ابراهیم ئې بدل کړو او بت پرستی ئې دَشام نه عربو ته راوړله او دا رسوم بحیره، سائبه وغیره ئې په دوی کښې رائج کړل او حدیث دَ بخاری کښې راغلے دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه ما عمرو بن عامر خزاعی په اور دَ جهنم کښې اولیدلو چه خپلې کولمې ئې په اور کښې ځان پسې راښکلې۔
وَلٰكِنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا يَفْتَرُوْنَ عَلَى اللّٰهِ الْكَذِبَ دا جواب دَ وهم دے چه هر کله الله تعالیٰ دا حکم نه دے کړے نو دغه خلقو دا کار ولې کول؟
حاصل جواب دا دے چه دوی الله تعالیٰ ته په دروغه نسبت کوؤ چه موږ ته الله تعالیٰ داسې حکم کړے دے او دا دین ابراهیمی دے لکه چه سورة اعراف ۲۸ کښې دی۔ یعنی دعوی ئې کوله چه موږ په دے کښې دَ الله تعالیٰ حکم منو او حال دا دے چه الله تعالیٰ داسې حکم نه دے کړے۔
وَاَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُوْنَ (سوال) کافران خو ټول بے عقله دی لکه په نورو آیاتو کښې دی نو دلته ئې اکثر ولې اوئیل؟
جواب۔ ابن جوزی دَ امام شعبی نه نقل کړے دے چه دلته دَ اکثر نه مراد اتباع او عوام دی هغوی په دے نه پوهیږی چه زموږ مشرانو او پوهه خلقو په الله تعالیٰ باندے افتراء کړے ده نو دوی دَ هغوی تقلید کوی۔
فائده:- په حکم شرعی دَ بحیره، سائبه، وصیله او حام کښې اختلاف دے دَ اهل علمو. اکثرو وئیلی دی چه دا شرعًا حلال دی او په تحریم دَ خلقو سره دا نه حرامیږی لکه چه دَ نورو تحریمات لغیر الله حکم دے او بعضو وئیلی دی چه دا ټول حرام دی هغوی وائی ما جعل په معنیٰ دَ ما احل دے لیکن صحیح دا ده چه په دے کښې تفصیل دے که په دے څیزونو کښې دَ تحریم سره دغه مشرکانو دَ خپلو طواغیتو په نوم باندے څه کړځولے وی لکه چه موږ دَ بخاری روایت په باره دَ بحیره دَ سائبه او وصیله او حام څلورو وارو کښې ذکر کړے دے نو بیا خو دا حرام دی ځکه چه تذر دَ

تَعَالَوْا اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ

راشئ هغے ته چه نازل کړیدے الله تعالیٰ او (راشئ) رسول ته

قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا ط

دوی وائی پوره ده موږ لره هغه لار چه موندلے دی موږ په هغے مشران خپل.

اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ لَا يَعْلَمُوْنَ

اګر چه وو مشران د دوی نه پوهیدل په

شَيْئًا وَّلَا يَهْتَدُوْنَ ﴿١٠٤﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

هیڅ خیز د دین باندے او نه ئے صحیح لار موندلے ده۔ اے ایمان والو!

غیرالله د تحریم سره خلط شوید ے او حکم د نذر د غیرالله دا دے
چه حرام دے لکه په "ما اهل لغیرالله به" کښ دا تفسیر دے او که چرے
په دے خیزونو کښ صرف تحریم وی او نذر پکښ نه وی خلط شوے لکه
په بعض تفسیرونو کښ داسے راغلی دی نو بیا حلال دی پشان د نورو
تحریماتو لغیرالله او د دے وجے نه الله تعالیٰ لفظ د ما جعل ذکر کړے
چه عام دے یعنی الله تعالیٰ د دے خیزونو امر نه دے کړے نو که
حلال وی او که حرام وی دلته ئے داسے نه دی ویلے چه لا تحرموا
یا احل الله لکم لکه چه په نورو تحریماتو د غیرالله کښ داسے ذکر کړے دی.
۱۰۴ په دیکښ زجر دے په تقلید کولو د جاهلانو او ابطال دے د دلیل
د باطل پرستانو چه اتباع د اباؤ ده یعنی دوی په شرکیاتو او په جوړولو
د بحیره سائبه وغیره کښ دلیل شرعی نه لری بلکه دلیل ئے طریقه
د مشرانو ده۔ وَاِذَا قِيْلَ لَهُمْ مجهول صیغه د پاره د تعمیم د قائلانو ده
یعنی چه "هر خوک او هر وخت چه هغوی ته دا دعوت ورکړے شی".
تَعَالَوْا دا لفظ د خپلے مادے (علو) په وجے سره په هغه آواز کښ
ذکر کیدے شی چه ترقئ طرف ته بلنه وی۔ اِلٰى مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ وَاِلَى الرَّسُوْلِ
اشاره ده چه قرآن او حدیث دواړه مستقل شرعی دلیلونه دی او د دے
وجے نه لفظ د اِلٰى ئے مکرر ذکر کړے دے او داسے په سورة النساء ۵۹

کښې هم ذکر دي. معلومه شوه چه حجت په دین کښې قرآن او حدیث دے او اجماع او قیاس خو په دغې دواړو بانده بنا دي که د دے نه مستند وي نو هغه اجماع او قیاس مقبول دے او که د دے نه مستند نه وي نو مردود دي. قَالُوْا حَسْبُنَا مَا وَجَدْنَا عَلَيْهِ اٰبَآءَنَا په لفظ د حسبنا کښې ډیر تاکید د جهل د دعوی دے یعنې قرآن او سنت ته حاجت نه ګڼړي ځکه چه طریقه د مشرانو پوره ګڼړي او دا مستلزم دے اعراض لره د قرآن او سنت نه. اٰبَآءَنَا مراد د دے نه د دوی د مسلک علماء او مشران دي لکه چه امام راغب په مفردات کښې لیکلے دي صرف د عمر په لحاظ سره مشران مراد نه دي. اَوَلَوْ كَانَ اٰبَآؤُهُمْ همزه د استفهام انکاري دے او واو د پاره د عطف دے ماقبل معطوف علیه پټ دے یعنې اَحَسْبُهُمْ یا یَقُوْلُوْنَ هذا، یا یتبعونهم او لَوْ وَصلیه دے شرطیه نه دے نو ما قبل کښې تقدیر دا علیٰ حال د ابآؤ مراد دے حاصل دا چه تابعداری (د هغه ابآؤ چې عالمان او هدایت والا وي) په کارونو د شرک کښې او په بے دلیله خبرو کښې جائز نه ده نو چه بے علمه او بے هدایته وي نو په طریقه اولیٰ سره جائز نه ده او دارد دے د قول د دعوی چه حسبنا الخ دے.

لَا يَعْلَمُوْنَ شَيْئًا مراد د شئ نه دلیل او حق دے لیکن نفي د علم د حق او د دلیل پشان د نفي د علم مطلق ده مبالغةً. وَلَا يَهْتَدُوْنَ مراد د اهتداء نه عمل کول دي په دلیل شرعي بانده یعنې نه عالمان دي او نه هدایت والا دي بلکه جاهلان او ګمراهان دي. او خازن، رازي او نسفي وغیره دلته لیکلے دي چه معلومه شوه چه اقتداء د عالم مهتدي صحیح ده په دے شرط چه قول د هغه په حجت او برهان او دلیل بانده بنا وي. نو که عالم مهتدي وي لیکن یو قول ئے بے دلیله وي نو د هغه تقلید هم جائز نه دے. نو دا ایت دلیل دے په رد د تقلید بانده په شرعیاتو کښې ځکه چه تقلید په معنیٰ د قبلولو د قول د غیر دے په شرعیاتو بغیر د دلیل یا د معرفت د دلیل نه رد د دے تفصیل په سورة بقره ۱۷۰ کښې تیر شوے دے).

سوال - په دے ایت کښې تردید دے د تقلید د مشرکانو په ابآؤ ګمراهانو پسے نو تقلید د امامانو متقیانو په دے بانده څه رنګ

قیاس کیه شی ؟

جواب - ابنِ قیم په اعلام الموقعین کښ او ابن ابی العز حنفی په رساله الاتباع کښ دَ دے جواب ذکر کړے دے حاصل دَ هغے جواب دا دے چه په قیاس او تشبیه کښ دا ضروری نه ده چه دَ مقیس علیه یا مشبه به ټول صفات دِ په مقیس یا مشبه کښ موجود وی بلکه یو علت مشترکه او وجه شبه مشهوره کافی ده دَ پاره دَ اثبات دَ قیاس او تشبیه کولو نو هغه دلته قبلول دَ قول دَ مشرانو دی بغیر دَ دلیل نه برابره خبره ده که مشران علماء وی او که جاهلان وی - هاں تقلید په شرک کښ عینِ شرک دے او په بدعت کښ عینِ بدعت دے او تقلید په نورو احکام شرعیه کښ تفصیل ته محتاج دے او دا مقام دَ تفسیر دَ هغے ګنجائش نه لری۔

فائده :- پدے مضمون کښ ایاتونه په سورۃ بقره ۱۷۰ او سورۃ لقمان ۲۱ او سورۃ زخرف ۲۲ ، ۲۳ کښ شته دے لیکن په بعضِ تعبیراتو کښ فرق دے یو فرق په وجدنا او الفینا کښ دے دَ هغے وجه دا ده چه اِلفاء اکثر استعمالیږی په امور معقوله علمیه کښ او وجدان عام دے امور محسوسه او معقوله دواړو کښ استعمالیږی نو په سورۃ بقره کښ ذکر دے دَ محبت دَ غیرالله او دَ هغے سره اتباع دَ خطوات الشیطان ده او دا امور معقوله علمیه (پټ) دی نو هلته ئے الفینا ذکر کړو او په سورۃ مائده کښ ئے بحیره سائبه وغیره امور محسوسه ذکر کړو او په سورۃ لقمان او زخرف کښ ئے امور عقلیه او محسوسه دواړه مراد دی نو په هغه سورتونو کښ عام لفظ (وجدنا) ذکر کړے شو۔

دویم فرق په حسبنا او بل نتبع کښ دے وجه دا ده چه په سورۃ مائده کښ رد دے په عاداتو او رسوماتو شرکیو باندے او په هغے کښ جاهلان ډیر کلک وی نو لفظ دَ حسبنا ذکر شو او په نورو سورتونو کښ په عقیدو دَ شرک باندے رد وو چه دَ هغے پریخودل دَ عاداتو نه اسان دی په ایمان راوړلو یا په منافقت کولو نو په هغے کښ صرف لفظ نتبع ذکر کړے دے۔

دریم فرق په سورۃ بقره کښ لا یعقلون ذکر دے او په سورۃ مائده کښ لا یعلمون دے وجه دا ده چه عقل په امور عقلیه کښ ذکر کیږی او سورۃ بقره کښ دَ محبت وغیره ذکر وو چه هغه امور عقلیه باطنیه دی

عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ

لازم دہ په تاسو باندے ذمه واری د ځانونو ستاسو، ضرر نه درکوی تاسو ته هغه څوک چه ګمراه وی

اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ اِلَى اللّٰهِ مَرْجِعُكُمْ

کله چه تاسو هدایت اوموندلو۔ خاص الله تعالیٰ ته ورګرځیدل دی ستاسو

جَمِيْعًا فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿۱۰۵﴾

د ټولو، نو خبر به درکړی تاسو ته په هغه عملونو چه کوئ یئے تاسو .

او علم په امور عقلیه او محسوسه دواړو کښ استعمالیږی نو په سورة مائدة کښ ذکر وو د امور محسوسه نو هغے سره لفظ د علم ډیر مناسب دے او په سورة لقمان کښ ذکر د مجادلے وو سره د نفی د علم نه نو دوباره نفی د علم او عقل ته ضرورت نه وو او مجادله په سبب د وسوسے د شیطان سره وی نو دا هلته د شیطان وسوسه (دعوت) یئے ذکر کړه (او الله تعالیٰ په خپلو رازونو باندے ښه پوهیږی) ۔

۱۰۵ ربط د دے ایت د مخکښ سره قرطبی د جابر بن زید نه نقل کړے دے هغه دا دے چه هر کله به یو کس اسلام راوړو نو کافرانو به ورته وئیل چه تا خپل مشران کم عقل اوګڼړل او ګمراه دِ اوګڼړل نوکه زمونږ مشران بے علمه بے هدایته وو نو ستا مشران هم داسے وو نو په دے ایت کښ د هغے جواب ذکر کوی۔

بل ربط دا دے چه هر کله مشرکانو ته دعوت ورکړئ د کتاب الله او سنتِ رسول الله صلی الله علیه وسلم طرف ته او هغوی یئے تردید اوکړی نو خفګان او غم مه کوئ ځکه چه روستو د دعوت نه د هغوی ګمراهی تاسو ته ضرر نه درکوی۔

عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ، علیکم اسم فعل دے په معنیٰ د الزموا سره یعنی لازم اونیسئ اصلاح د خپلو ځانونو په تابعداری د کتاب او سنت سره (کله چه مخالفین یئے نه منی).

لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ یعنی د هغوی د ګناه په تاسو باندے اثر نه پریوځی که هغوی حسبنا ما وجدنا او وائی یا عناد کوی په قول

او په عمل. دارنګ ستاسو هغه مشران چه ګمراه تیر شویدی د هغوی د ګمراهۍ په تاسو باندے بد اثر او عیب او ګناه نیشته۔

إِذَا اهْتَدَيْتُمْ ، اهتداء دا ده چه تاسو اتباع د قرآن او سنت کوئ او امر بالمعروف او نهي عن المنکر د خپل طاقت موافق کوئ ۔

إِلَى اللَّهِ مَرْجِعُكُمْ جَمِيعًا عام خطاب دے ګمراهانو او هدایت والاته او په دے کښ تخویف او بشارت دواړو ته اشاره ده۔

فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ مراد د نباء نه جزا او سزا ورکول دی او شر بیني وئیلے دی چه اشاره ده چه هیڅوک د بل چا په ګناه باندے نشي نیولے کیدے۔

سوال۔ د دے ایت نه معلومیږی چه امر بالمعروف او نهي عن المنکر (دعوت وتبلیغ) ته حاجت نیشته ځکه چه هر انسان د خپل ځان ذمه وار دے او حال دا دے چه ډیر ایاتونه او احادیث په فرضیت د دعوت او تبلیغ باندے دلالت کوی؟

جواب۱۔ په ایت کښ مقصد تسلی ورکول دی مؤمنانو ته که ستاسو پلاران ګمراهان تیر شویوی او نور کافران په کفر او ګمراهۍ کښ پراته وی نو ستاسو نه د هغوی په باره کښ هیڅ تپوس نیشته او نه په تاسو باندے څه ضرر شته لکه چه رسول صلی الله علیه وسلم ته خطاب دے "فلا تذهب نفسك عليهم حسرات" سورة فاطر ۸ او زمخشری وئیلے دی چه دا سے هغه مؤمن دے چه افسوس نه کوی په حال د فاسقانو فاجرانو باندے د هغوی د ګناهونو د وجے نه او د هغوی منکرات او عیبونه ذکر کوی نو په دے ایت کښ هغه ته تسلی ده۔ نو حاصل د ایت دا دے چه ګمراهی د بل چا مطیع ته ضرر نه ورکوی او ایت د ترک د دعوت یا فرضیت د هغے نه ساکت دے دا جواب زمخشری، قرطبی، او قاسمی اول ذکر کړے دے۔

جواب۲۔ دا ایت صریح دے په وجوب د امر بالمعروف او نهي عن المنکر کښ د ډیرو وجوهو نه، اول دا چه د عَلَيْكُمْ أَنْفُسَكُمْ مهائمی معنی لیکلے ده چه په تاسو باندے اصلاح د خپلو نفسونو لازم ده په اتباع د کتاب او سنت او په دعوت کولو او امر بالمعروف او نهي عن المنکر کولو سره په هغے کښ کوتاهی مه کوئ نو د هغے نه روستو چه څوک

ګمراهي کوي نو په تاسو هيڅ وبال نيشته - دويمه وجه مخکښې په ربط کښې ذکر
شوه چه دا آيت د وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ تَعَالَوْا إِلَىٰ مَا أَنزَلَ اللَّهُ الخ نه روستو دے
يعني اول خو دعوت کتاب او سنت ته ورکړئ نو هر کله چه دوی او وائي
حسبنا ما وجدنا عليه آباءنا او ستاسو دعوت رد کړي نو بيا تاسو ذمه وار
نه يئ - دريمه وجه چه ابن کثير، قرطبي او رازي وغيره د عبد الله بن مبارک
نه روايت ذکر کړے دے چه دا اوګد (پوخ) آيت دے په وجوب د امر بالمعروف
او نهي عن المنکر کښې ځکه چه انفسکم نه مراد اهل دينکم او اهل جنس
ستاسو دی لکه فاقتلوا انفسکم (بقره ۵۴) کښې دا معنیٰ ده او دا رنګ
حديث د ابوداؤد، ترمذي او احمد وغيره د قيس په روايت سره د ابوبکر
رضي الله عنه نه نقل دے حاصل ئے دا دے چه ابوبکر رضي الله عنه
دا آيت اولوستلو او فرمائيل ئے چه تاسو دا لولئ او بے ځايه تاويل ئے
کوئ او نه پوهيږئ چه د دے مطلب څه دے بيا ئے ورپسے حديث
مرفوع د نبي صلی الله عليه وسلم په باره د تاکيد د دعوت کښې ذکر کړے
دے او دا رنګ ترمذي حديث د ابو ثعلبه خشني ذکر کړے دے چه د
دے آيت په باره کښې د نبي صلی الله عليه وسلم نه تپوس کړے شوے وو
نو هغه او فرمائيل امر بالمعروف او نهي عن المنکر کوئ هاں چه حالات
بدل شي (چه روستو ذکر کيږي) نو بيا صرف د ځان غم او فکر کوئ
او هغے ته ايام صبر وئيلے شي - دا حديث هم قرطبي شربيني او ابن کثير
وغيره ذکر کړے دے -

جواب ۳ - د ابن مسعود رضي الله عنه نه نقل دے حاصل ئے دا دے
چه د هغه نه د دے آيت تپوس کړے شوے وو نو هغه او فرمائيل
چه د قرآن کريم مختلف آيا تونه دی يو قسم هغه دی چه تاويل ئے تير
شوے دے - دويم هغه دی چه تاويل ئے په زمانه د نبي صلی الله عليه
وسلم کښې واقع شوے دے دريم قسم هغه وی چه تاويل ئے د نبي
صلی الله عليه وسلم د زمانے نه لږ روستو واقع دے څلورم هغه
دی چه تاويل ئے په ورځ د حساب واقع کيږي - نو هر کله چه د زړونو
او خواهشاتو اختلاق راشي او ډلے په تاسو کښې ډيرے شي نو بيا
د خپل ځان ذمه وار ئے او د عامو کار (دعوت) پريږدئ د غسے

يَآاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا شَهَادَةُ بَيْنِكُمْ

اے ایمان والو ! وصی جوړول دَ مینځ ستاسو

اِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْمَوْتُ حِيْنَ الْوَصِيَّةِ

کله چه نیزدے شی یوتن ستاسو ته مرګ ته په وخت دَ وصیت کولو کښ

اثْنٰنِ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْكُمْ اَوْ اٰخَرٰنِ مِنْ

دوه تنه دِ وی انصاف والا ستاسو نه یا نور دوه تنه سیوا

غَيْرِكُمْ اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ

ستاسو نه که تاسو سفر کوئ په زمکه کښ

فَاَصَابَتْكُمْ مُّصِيْبَةُ الْمَوْتِ تَحْبِسُوْنَهُمَا

پس اورسی تاسو ته مصیبت دَ مرګ۔ ایصاروئ به دے دواړو لره

مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ فَيُقْسِمٰنِ بِاللّٰهِ

روستو دَ مانځه (دَ مازیګر) نه نو قسم به کوی دواړه په الله تعالیٰ

اِنِ ارْتَبْتُمْ لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا

که شک کوئ تاسو، (وائی به دوی) نه اخلو موبږه په دے سره عوض

روایت دَ ابن عمر رضی الله عنهما نه هم نقل دے (دا دواړه روایات ابن جریر په سند سره راوړے دی) حاصل دا دے چه دَ دے ایت محمل او مصداق اخره زمانه ده (چه په حدیث دَ خشنی کښ ذکر دی چه هر کله دَ حرص اطاعت او دَ خواهش تابعداری او دَ دنیا غوره والے او لوئی کول دَ هر ذی رائے په خپله رائے باندے او وینے نو بیا دَ عوامو کار (دعوت) پریږدئ۔ حاصل دا شوه چه اوس خو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ دَ دے ایت دَ وجے نه دغه کار مه پریږدئ۔

وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ

اګر چه وی خپلوان او نه پټوؤ مونږه شهادت دَ

اللّٰهِ إِنَّآ إِذًا لَّمِنَ الْاٰثِمِينَ ﴿١٠٦﴾ فَإِنْ عُثِرَ

الله تعالیٰ، یقیناً دغه وخت به مونږ خامخا دَ ګنهګارو نه یو ۔ پس که خبر اوکړے شو

١٠٦ ربط دا دے چه مخکښ ایت کښ ئے حفاظت دَ نفوسو ذکر کړو نو په دے ایت کښ حفاظت دَ مالونو ذکر کوی په طریقه دَ وصیت او دَ قسم سره ۔ او بعض مفسرینو وئیلے دی چه دا ایت ډیر ګران ایت دے په اعتبار دَ اعراب او نظم او حکم سره، واحدی په بسیط کښ دَ عمر رضی الله عنه نه دا سے نقل ذکر کړے دے او ابن عطیه وئیلے دی چه دا قول دَ هغه چا دے چه زړه دَ هغه دَ دے ایت په تفسیر سره یخ شوے نه وی ۔ یَآیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا اشاره ده چه معاملاتِ مالیه په شرعی طریقے سره حل کول دَ ایمان تقاضا ده ۔ شَهَادَةُ بَیْنِکُمْ مراد دَ شهادت نه اشهاد (حاضرول) دی په وخت دَ وصیت کښ او بعضو وئیلے دی چه مراد دَ دینه قسم دے ځکه چه دَ شهادت ډیرے معنے دی قرطبی دلته بعض ذکر کړے دی ۔ بَیْنِکُمْ په اصل کښ مابینکم وؤ نو ما دَ اختصار دَپاره حذف شو ۔ إِذَا حَضَرَ أَحَدَکُمُ الْمَوْتُ إِذَا ظرفیه دے او حَضَرَ په معنیٰ دَ قَرُبَ (نزدے شی) دے یا مراد دَ دے نه دا دے چه اسباب دَ مرګ حاضر شی او دا تاویل دَ دے وجے نه کیږی چه هرکله مرګ حاضر شی نو بیا خو خبرے نشی کولے ۔ حِیْنَ الْوَصِیَّةِ دا بدل دے دَ لفظ دَ إِذَا نه او په دے کښ تنبیه ده په اهتمام دَ وصیت باندے ۔ او دلته مراد وصیت کول په مال سره نه دی بلکه وصی ګرځول په باره دَ مال کښ دی ۔ اثْنَانِ دا خبر دَ شهادت دے په تقدیر دَ لفظ دَ شهادت سره ۔ ذَوَا عَدْلٍ مِّنْکُمْ یعنی اسلام او عدالت دواړه پکار دی عدل په مقابل دَ فسق کښ دے ۔ أَوْ اٰخَرَانِ مِنْ غَیْرِکُمْ په دے کښ دَ اهل علمو اختلاف دے اکثرو وئیلے دی چه مراد دَ دے نه غیر مسلم دی او بعضو وئیلے دی چه مراد دَ منکم نه ستاسو اقرباء او غیرکم نه مراد اجانب (پردی) دی او بیا په اول قول باندے شهادت دَ کافر په مسلمان باندے ثابت شو نو په دے کښ

اختلاف دے بعضو وئیلی دی چه دا ایت منسوخ دے په ایت "لَنْ يَجْعَلَ اللّٰهُ لِلْكَافِرِيْنَ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ سَبِيْلًا" سره - او اکثرو وئیلی دی چه دا منسوخ نه دے او په سورۃ مائدہ کښ منسوخ ایت نیشته نو شریح او اوزاعی رح نه نقل دے چه شهادت د کافرانو خاص دے په سفر پورے او په وصیت پورے فقط - او ابن قیم په اعلام الموقعین او امام رازی په تفسیر کبیر کښ په قول د نسخ باندے یا معنیٰ د غَيْرِكُمْ په اجانب سره سخت تفصیلی رد کړے دے۔

اِنْ اَنْتُمْ ضَرَبْتُمْ فِي الْاَرْضِ اشاره ده چه دا سے ضرورت په وخت د سفر کولو کښ پیش راځی۔

تَحْبِسُوْنَهُمَا اشاره ده چه دوی مدعا علیهما اوګرځی نو دوی د تحقید لو کوشش کوی د د دے وجے نه لفظ د حبس ئے ذکر کړو۔

مِنْ بَعْدِ الصَّلٰوةِ مونځ د مازیګر مراد دے یا مطلق مونځ دے او دا تقیید د قسم دے په وخت حاضر پورے د پاره د تاکید د قسم او دا صحیح دے په اتفاق د علماؤ سره او بل دا چه په وخت د صلوٰة کښ په معلومه شی چه دا وصیان مسلمانان دی او که کافران اهل ذمه دی)۔

فَيُقْسِمَانِ بِاللّٰهِ یعنی په دوی باندے دعوی چه اوکړے شی په باره د خیانت کولو سره په وصیت ادا کولو کښ او دوی تر ینه انکار اوکړی او نور ګواهان د مدعی د پاره نیشته نو منکر باندے قسم وی د د دے وجے نه دوی په قسم کوی - بِاللّٰهِ دا دلیل دے چه قسم په الله تعالیٰ پورے خاص دے اګر چه اهل ذمه کافر دی نو هم به قسم ورکیږی په الله تعالیٰ سره ځکه چه هغوی الله تعالیٰ او قسم بالله لره منی - اِنِ ارْتَبْتُمْ ارتیاب نه مراد په هغوی باندے دعوی کول دی په سبب د شک کولو سره په وصیت ادا کولو کښ اشاره ده چه بغیر د دعوے نه مدعا علیه ته قسم نه شی ورکیدے۔

لَا نَشْتَرِيْ بِهٖ ثَمَنًا دا جواب قسم دے، اشتراء په معنیٰ د حصول د عوض ده بِهٖ ضمیر اسم د الله تعالیٰ ته یا قسم ته راجع دے او ثَمَنًا په معنیٰ د عوض دنیوی دے یعنی مونږ د الله تعالیٰ نوم د دے د پاره

عَلَىٰٓ اَنَّهُمَا اسْتَحَقَّآ اِثْمًا فَاٰخَرٰنِ

پدے خبرہ چه یقینًا دے دواړو کړیدي دے گناه (په دروغ قسم کولو سره) نو نور دوه کسان

يَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا مِنَ الَّذِيْنَ

او دریږي به په ځائے دَ دے دواړو دَ هغه کسانو نه چه

اسْتَحَقَّ عَلَيْهِمُ الْاَوْلَيٰنِ فَيُقْسِمٰنِ

دعوی دَ حق شوی دی په هغوی باندے چه نیزدے دی دا دواړه مړی ته، نو قسم به کوی

بِاللّٰهِ لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا

په الله تعالیٰ چه خامخا زمونږ بیان رشتینے دے دَ بیان دَ دغه دواړو نه

وَمَا اعْتَدَيْنَآ ۖ اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۰۷﴾

او زیاتے نه دے کړے مونږه، یقینًا مونږ به دغه وخت دَ ظالمانو نه یو۔

نه دے ذکر کړے چه دنیوی غرض پرے حاصلوو بلکه زمونږ مقصد دَ حق اقامت دے۔ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبٰى، کان ضمیر راجع دے هغه چاته چه دَ هغه دَ پاره قسم کوی (مقسم له) یا په هغه باندے شهادت ورکوی او دا جمله تاکید دے چه حلف (قسم) زمونږ دَ دروغو نه پاک دے۔

وَلَا نَكْتُمُ شَهَادَةَ اللّٰهِ هغه شهادت چه الله تعالیٰ مونږ ته دَ هغے علم راکړے دے او دا هم تاکید دَ ما قبل دے۔

۱۰۷ دا تتمه دَ ما قبل ده یعنی حکم دے روستو دَ ښکاره کیدلو دَ دروغو نه په قسم کښ۔ فَاِنْ عُثِرَ عثرة په اصل کښ غورځیدلو ته وئیلے شی په یو څیز باندے۔ او په معنیٰ دَ اطلاع راځی لکه په سورة کهف کښ "اَعْثَرْنَا عَلَيْهِمْ" او دَ دے فعل (عثر) نائب فاعل ماده دَ دے فعل ده یعنی حَصَلَتِ الْعُثْرَةُ۔

عَلٰٓى اَنَّهُمَا دا ضمیر اثنان (وصیانو) ته راجع دے۔ اسْتَحَقَّآ اِثْمًا استحقاق په معنیٰ دَ کولو دَ هغه فعل دے چه موجب او سبب وی دَ یو کار دَ پاره۔

اِثْمًا نه مراد گناه دَ خیانت دے په حصول دَ مالِ حرام سره یا په دروغه قسم کول دی۔ یعنی روستو دَ فیصلے نه په قسم دَ منکرینو سره معلومه

شي چه دا قسم دوی په دروغه کړے دے نو هغه فیصله به مانه کړے شي.
وَّاٰخَرٰنِ دا صفت دے او موصوف پټ دے یعني رجلانِ اٰخران.
یَقُوْمٰنِ مَقَامَهُمَا هُمَا ضمیر راجع دے اثنان ته (یعني چه اول قسم ئې په دروغه کړے دی) او دا قیام په کولو دَ قسم کښ دے او دا په هغه وخت کښ ده چه روستو دَ ښکاره کیدلو دَ خیانت نه مخکښ دوارہ کسان دعوی دَ ملکیت دَ هغه څیز اوکړی او ورثه دَ هغې نه انکار کوی نو حق دَ قسم ثابت شو په ورثو باندے دَ انکار دَ وجے نه. مِنَ الَّذِیْنَ اسْتَحَقَّ عَلَیْهِمْ مِنْ بَیَان دَ اٰخران دے اِسْتَحَقَّ دا په معنیٰ دَ ثبت الحق علیهم دے نو مادہ دَ فعل فاعل دے یا فاعل حذف دے (چه حذف دَ هغې نه جائز وائي نو مفعول فیه دے) او دَ حق نه مراد دعوی دَ ملکیت ده او هغه سبب دَ قسم کولو دے یعني په سبب دَ دعوے دَ اول دوارہ کسانو دَ ملکیت حق ثابت شو په ورثو باندے دَ قسم کولو. اَلْاَوْلَیٰنِ دا تثنیه دَ اولیٰ ده او اولیٰ په معنیٰ دَ اقرب دے یعني هغه وارثان چه مړی ته زیات نزدے وی په نسب کښ او دا فاعل دَ استحق نشی کیدے نو دا خبر دَ مبتدا محذوف دے یعني هُمَا اَلْاَوْلَیٰنِ یا بدل دے دَ اٰخران نه یا دَ ضمیر دَ یقومان نه.
لَشَهَادَتُنَآ اَحَقُّ مِنْ شَهَادَتِهِمَا دا مضمون دَ قسم دَ دوی دے او شهادت په معنیٰ دَ قسم دے اَحَقُّ په معنیٰ دَ صدق او حق دار دَ قبولو دے او احق کښ تفضیلی معنیٰ مراد نه ده نفس صدق او استحقاق دَ قبولیت مراد دے.
اِنَّآ اِذًا لَّمِنَ الظّٰلِمِیْنَ هرکله چه په دوېم قسم کښ زیات تاکید پکار دے دَ وجے دَ رد کولو دَ اول نه دَ دے وجے نه دلته ئې ظالمین او ویل او مخکښ ئې اٰثمین ویلے وو. حاصل دَ معنیٰ دَ دوارو ایاتونو دا دے چه په حال دَ سفر کښ په یو شخص باندے مرګ راشي او دَ ده سره مال وی نو دوه کسانو ملګرو ته ئې وصیت اوکړی هغوی په صفت دَ ګواهانو هم دی او وصیان هم دی او وصیت کښ ئې دا اووائي چه زما دا مال زما ورثو ته اورسوئ. هغوی هغه مال چه ورثو ته اورسوی او ورثه ورباندے دَ خیانت دعوی اوکړی او دوی انکار کوی دَ خیانت نه نو دوی باندے قسم کول لازم شو. هرکله چه څه

وخت روستو په څه وجے سره معلومه شی چه دوی واقعی خیانت کړے دے او قسم ئے په دروغه سره کړے وؤ نو دوی دَ خیانت نه .بچ کیدلو دَ پاره دعوٰی اوکړی دَ ملکیت دَ هغه څیز او ورثه دَ هغوی دَ ملکیت نه انکار اوکړی نو بیا به ورثوٴ ته قسم ورکړے شی که هغوی قسم اوکړو نو محکمئ فیصله به ماته کړے شی او هغه وصیان به دَ خیانت ذمه وار شی او که ورثوٴ دَ قسم کولو نه انکار اوکړو نو محکمئ فیصله به په خپل ځائے باندے پاتے شی۔

تنبیه۔ دَ دے ایت دَ فهم دَ پاره ذکر دَ سبب نزول ضروری دے او هغه امام بخاری په کتاب الوصایا او ترمذی په کتاب التفسیر کښ ذکر کړے دے حاصل ئے دا دے چه بدیل بن ورقاء السهمی په سفر دَ تجارت کښ شام ته ملګرے شو دَ تمیم داری او دَ عدی بن بدا سره او دا دواړه په هغه وخت کښ نصاری وؤ په واپسئ کښ په بدیل باندے دَ مرګ حال راغے نو هغه دَ خپل سامان فهرست اولیکلو او په خپل سامان کښ ئے پټ کیخودلو او دے دواړو ته ئے وصیت اوکړو چه دا سامان زما به زما ورثوٴ ته اورسوئ نو هغوی دَ هغه سامان نه یو جام چه دَ سپینو زرو وؤ او میخونه پرے دَ سرو زرو وهلے شوے وؤ پټ کړو او مکه کښ ئے خرخ کړو او باقی سامان ئے دَ هغه ورثوٴ ته ورکړو (او دَ تمیم په روایت کښ دی چه دا جام مونږ په زر روپئ باندے خرخ کړے وؤ او هغه روپئ ما او عدی تقسیم کړے وے) ورثوٴ چه هرکله فهرست دَ سامان اوکتلو نو په هغے کښ دَ جام ذکر وؤ او په سامان کښ موجود نه وؤ نو هغوی په دغه دواړو باندے دَ خیانت دعوٰی اوکړله او هغوی انکار اوکړو نو هغوی ته ئے قسم په الله تعالیٰ باندے ورکړو نو هغوی په دروغه باندے قسم اوکړو۔ بیا څه وخت روستو معلومه شوه چه هغه جام دوی په مکه کښ په یو شخص باندے خرخ کړے وؤ نو ورثوٴ بیا دعوٰی اوکړه په هغه دواړو باندے چه جام دوی پټ کړے وؤ او بیا ئے خرخ کړے دے نو هغوی اوئیل چه هغه جام مونږ دَ بدیل صاحب نه پیرزوند وني اخستلے وؤ لیکن مونږ سره ګواهان نه وؤ نو مونږ دَ دے

ذٰلِكَ اَدْنٰٓى اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ عَلٰى

پہ طریقہ دَ شہادت سرہ راتلل بہ کوی دوی چہ دیتہ دہ نیزدے خہ طریقہ دا

وَجْهِهَآ اَوْ يَخَافُوْٓا اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌۢ بَعْدَ

پس دَ دوی دَ قسمونہ شی بہ واپس چہ اوبریږی یا بہ (دَ الله نہ دَ بیرےدَ وجے ھغے

اَيْمَانِهِمْ ؕ وَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاسْمَعُوْا ؕ وَاللّٰهُ

او الله تعالیٰ - واوریٔ او نہ الله تعالیٰ دَ اوبریږیٔ او - نہ دوی دَ قسمونو

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۟ (۱۰۸) يَوْمَ

پہ کومہ ورځ چہ - نہ نافرمان قوم ورکوی نہ توفیق

وجے نہ مخکښں دَ ھغے ذکر نہ وؤ کړے نو دا دوی دعوای دَ ملکیت اوکړلہ
او ورثؤ تربنہ انکار اوکړو نو قسم ورکړے شو ورثؤ تہ (او دَ ورثؤ پہ
حق کښں فیصلہ اوشوہ) او دا ایت دَ ھغہ واقعے پہ بارہ کښں نازل شوے دے۔
۱۰۸ پہ دے کښں دَ ماقبل طریقے فائدہ ذکر کوی یعنی پہ شہادت او پہ
قسم کښں دَ دروغو نہ دَ بچ کیدلو دَ پارہ دا طریقہ دہ - ذٰلِكَ ماقبل
طریقے دَ فیصلے تہ اشارہ دہ اَنْ يَّاْتُوْا بِالشَّهَادَةِ ضمیر دَ يَاْتُوْا راجع دے
موصٰی لھما تہ چہ پہ اثنان کښں ذکر وؤ یا راجع دے ھغہ ټولو خلقو
تہ چہ پہ یو معاملہ کښں شہادت ورکوی یا قسم کوی - عَلٰى وَجْهِهَآ وجہ
پہ معنیٰ دَ حقیقت او دَ طریقہ اصلی دہ - اَوْ يَخَافُوْٓا (سوال) اَوْ خو دَ پارہ
دَ تردید او دَ تنویع او تخییر راځی دلتہ خو دَ ماقبل سرہ دَ دے ھیڅ
معنیٰ صحیح نہ دہ ؟ (جواب) اَوْ دَ پارہ دَ تنویع دے او معطوف علیہ
پټ دے یعنی یاتوا بالشہادۃ علٰی وجھا لِخَوفِ الله او یخافوا الخ
یعنی صحیح او حقیقی شہادت بہ کوی دَ یرے دَ الله تعالیٰ نہ او دَ وجے
دَ یرے دَ ھغہ دَ عذاب نہ (او دا دَ متقیانو حال دے) او یا بہ یریږی دَ دے نہ چہ
مخکښں قسمونہ بہ یٔے دروغژن ثابت شی نو واپس بہ کړے شی نو بہ
خلقو کښں بہ اوشرمیږی (او دا دَ عامو خلقو حال دے)۔
اَنْ تُرَدَّ اَيْمَانٌ رد مقابل دے دَ قبول نو دَ ایمان نہ مراد قسمونہ

يَجۡمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ فَيَقُوۡلُ مَاذَاۤ اُجِبۡتُمۡ ؕ

جمع به کړی الله تعالی رسولان پس او به وائی څنګه قبول شو یوئ تاسو۔

قَالُوۡا لَا عِلۡمَ لَنَا ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُيُوۡبِ ﴿۱۰۹﴾

دوی به وائی هیڅ علم نیشته مونږ ته - بیشکه ته خه پوهه ئے په پټو خیزونو۔

دَ موصٰی الیهم دی چه خیانت ئے کړے وی یا رد په معنیٰ دَ پیش کولو دے نو ایمان اول نه مراد قسمونه دَ ورثوٴ دی او دویم ایمانهم نه مراد قسمونه دَ موصٰی الیهم دی۔ وَاتَّقُوا اللّٰهَ په دے کښې تقوٰی دَ خیانت کولو نه په مالونو او قسمونو کښې داخل ده۔ وَاسۡمَعُوۡا سماع دَ قبولیت مراد ده او په عمل کولو کښې په احکامو الٰهیو باندے دَ سماع او قبولیت ډیر دخل دے دَ دے وجے نه امر دَ سماع ئے ذکر کړو۔

وَاللّٰهُ لَا يَهۡدِى الۡقَوۡمَ الۡفٰسِقِيۡنَ اشاره ده چه فسق کول سبب دَ حرمان دے دَ هدایت دَ الله تعالیٰ نه او دلته دَ فسق نه مراد تقوٰی او سمع پریخودل دی او دَ هدایت نه مراد هدایت دَ جنت دے یا هدایت دے دَ فائدو دَ آخرت چه جنت دے او دَ هغے لاره ده۔

۱۰۹ ربط اول دا دے چه مخکښې چه کوم احکام او شرائع ذکر کړل نو اوس تخویف اخروی ذکر کوی دَ پاره دَ تاکید دَ هغه احکامو منلو۔

دویم دا چه مخکښې ئے بعض احکام ذکر کړل نو اوس مسئله دَ عقیدے ذکر کوی چه دَ دے احکامو سره دا عقیده ساتل ضروری دی چه علم غیب خاص دے په الله تعالیٰ پورے انبیاء علیهم السلام هم علم غیب نه لری او دیته دلیل نقلی اجمالی وئیلے شی دَ پاره دَ رد دَ شرک فی العلم۔ دریم قرطبی ذکر کړے دے چه په وصیت او شهادت وغیره کښې بعض خلق اظهار دَ هغه خیز کوی چه دَ باطن دَ هغوی نه خلاف وی نو په دے ایت کښې تخویف ذکر کوی چه دَ الله تعالیٰ نه هیڅ خیز پټ نه دے۔

يَوۡمَ يَجۡمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ جمع خو دَ ټولو امتونو سره دَ رسولانو نه ده لیکن سوال دَ انبیاوٴ جدا دے دَ سوال دَ امتیانو نه نو دَ وجے دَ شرافت دَ رسولانو نه دَ هغوی سوال او جواب ئے جدا ذکر کړے دے

او مراد دَ دے نه ټول رسولان دی سره دَ آخری رسول نه۔
فَيَقُوْلُ مَاذَآ اُجِبْتُمْ اشاره ده دَ دوی نه دَ تبلیغ تپوس نه کوی بلکه دَ حال دَ امت تپوس کوی اجابت مستلزم دے دعوت لره یعنی تاسو دعوت دَ توحید او دَ دین کړے دے امتیانو ته لیکن هغوی تاسو ته څنګه جواب درکړے دے یا څنګه اجابت (قبولیت) ستاسو کړے شوے دے نو اُجِبْتُمْ عام دے اجابتِ قولی او عملی دواړو ته شامل دے۔
قَالُوْا لَا عِلْمَ لَنَا سوال۔ دَ سوال دَ انبیاؤ نه څه فائده ده؟
جواب۔ فائده ئے اثبات دَ عقیدے دَ نفی دَ علم غیب دَ هغوی نه دے په دنیا کښ او توبیخ او زجر دے مخالفت کوونکو ته۔
سوال۔ انبیاؤ ته علم وؤ چه چا موافقت دَ هغوی کړے دے او چا نه دے کړے نو دَ دے قول څه مقصد دے؟
جواب ۱۔ په ظاهری اقوالو سره چه کومه پوهه حاصلیږی هغه په اصل کښ علم نه دے بلکه ظن دے یعنی دَ اجابت کوونکو په حال باندے علم یقینی زمونږ نه وؤ بلکه صرف ظن وؤ۔ دا جواب امام رازی ذکر کړے دے
جواب ۲۔ دَ قیامت دَ هیبت او دَ فزع دَ وجے نه به انبیاء داسے اووائی لیکن قرطبی، خازن او رازی په دے جواب باندے رد کړے دے ځکه چه انبیاء علیهم السلام په دغه ورځ دَ داسے حالت نه په امن دی لکه چه الله تعالیٰ فرمائی (وَهُمْ مِّنْ فَزَعٍ يَّوْمَئِذٍ اٰمِنُوْنَ، وَلَا يَحْزُنُهُمُ الْفَزَعُ الْاَكْبَرُ)۔
جواب ۳۔ دا قول دَ دوی دَ پاره دَ اظهار دَ انکسار او دَ تواضع دے لیکن مراد دَ دے نه انکسار او تواضع ده په نفس الامر کښ نه په طور دَ دروغو ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ دروغو نه پاک او معصوم دی۔
په دے دواړو جوابونو باندے بریلیانو خپل استدلال کړے دے یعنی دوی وائی چه انبیاء خو په غیب باندے علم لری لیکن دَ هیبت یا دَ تواضع دَ وجے نه ئے وئیلی دی چه لَا عِلْمَ لَنَا لیکن دَ دواړو جوابونه مونږ ذکر کړل چه صحیح نه دی۔
جواب ۴۔ دَ ابن جریج نه ابن جریر او ابن کثیر او قرطبی روایت کړے دے چه دا سوال په باره دَ اجابت کښ دے روستو دَ وفات دَ رسولانو نه نو معنیٰ دَ مَاذَآ اُجِبْتُمْ مَاذَا عَمِلُوْا بَعْدَكُمْ دے دَ امتیانو

ستاسو نه روستو څه عملونه کړي دي) نو جواب به اوکړي لَا عِلْمَ لَنَا بِمَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ (علم نیشته مونږ ته په هغه کارونو (او بدعاتو) چه دے خلقو روستو د مرګ زمونږ نه پیدا کړیدي). او تائید د دے حدیث د حوض کوثر دے چه بخاري او مسلم ذکر کړے دے چه په هغے کښې جواب د ملائکو اخري نبي صلی الله علیه وسلم ته دا سے دے اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ (یقینًا ته نه پوهیږے چه دے خلقو ستا نه روستو کوم بدعات پیدا کړي دي).

جواب ۶: ابن جوزي په زاد المسیر کښې د ابن الانباري نه روایت کړے دے چه معنیٰ دا ده چه لَا عِلْمَ لَنَا بِجَمِيْعِ اَفْعَالِهِمْ (علم نیشته مونږ ته د دوي په ټولو کارونو باندے) اِذْ كُنَّا نَعْلَمُ بَعْضَهَا فِيْ حَيَاتِنَا (ځکه چه مونږ په بعض کارونو د دوي علم لرو چه زمونږ په ژوند کښې وو) وَلَا نَعْلَمُ مَا كَانَ بَعْدَ وَفَاتِنَا (او نه یو پوهه په هغه کارونو چه روستو د مرګ زمونږ نه وو) او دا قول قریب دے قول د ابن جریج ته. او دلیل د صحت د دے دواړو قولونو دا جمله ده اِنَّكَ اَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ دا دلیل دے چه مصدر دے په لفظ د اِنَّ سره یعني علم د ټولو خیرو او د هغه کارونو چه مرګ نه روستو شویدي دا خو علم غیب دے او خاوند د علم غیب صرف ته یې شریک ستا نیشته په علم غیب کښې.

فائده. دا ایت صریح دلیل دے چه انبیاء علیهم السّلام تر مرګ پورے عالم الغیب نه وو او کوم کارونه چه امتیان کوي د هغه اعمالو نه هم انبیاء علیهم السلام خبر نه دي او په کوم حدیث کښې چه عرض (پیش کول) د اعمالو په نبي باندے ذکر دے روستو د وفات د هغه نو هغه حدیث د روافضو دے او حدیث ضعیف دے نو هرکله چه نبي روستو د وفات نه په اعمالو د امت باندے علم نه لري نو اولیاء او بزرګان به څه رنګ علم د غیب اولري د دے وجے نه فتاوی بزازیه (حنفیه) لیکلي دي چه مَنْ قَالَ اِنَّ اَرْوَاحَ الْمَشَائِخِ حَاضِرَةٌ تَعْلَمُ يَكْفُرُ (څوک چه وائي چه د بزرګانو ارواح عالم دي او حاضر دي نو دا شخص کافر دے).

إِذْ قَالَ اللّٰهُ يٰعِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ اذْكُرْ

کله چه اوبه وائي الله تعالی اے عیسٰی ځویه دَ مریم (علیهما السلام) یاد کړه

نِعْمَتِي عَلَيْكَ وَعَلٰى وَالِدَتِكَ

نعمت ځما په تا باندے او په مور ستا باندے

وقف لازم

إِذْ أَيَّدْتُّكَ بِرُوحِ الْقُدُسِ قف تُكَلِّمُ

کله چه کلک کړے ما ته په روح پاک سره خبرے دِ کولے

النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلًا ج وَإِذْ عَلَّمْتُكَ

خلقو سره په غیږه دَ مور کښ او په پوخ عمر کښ او کله چه او خودلو ما تا ته

الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرٰىةَ وَالْإِنْجِيلَ ج

کتاب او سنت او تورات او انجیل

وَإِذْ تَخْلُقُ مِنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ

او کله چه جوړولے تا دَ خټو نه پشان دَ شکل دَ مرغۍ

۱۱۰ دا دلیل نقلی تفصیلی (خاص) دے دَ عیسٰی علیه السلام په نفی دَ علم غیب سره دَ هغه نه، روستو دَ دلیل نقلی اجمالی نه او إِذْ قَالَ بدل دے دَ یوم یجمع الله نه۔ او هر کله چه په دے سورت کښ رد کړے شوے دے په یهود او نصارٰی دواړو باندے او دَ عیسٰی علیه السلام په باره کښ دواړو کفر کړے وُو دَ دے وجے نه خاص دَ هغه ذکر ئے کړے دے۔

تنبیه. حالات دَ عیسٰی علیه السّلام په دوه رکوع کښ دی حاصل دا دے چه په اوله رکوع کښ احتیاج دَ عیسٰی علیه السلام ذکر کوی الله تعالی ته خصوصًا په پنځه خیزونو کښ اول احتیاج په نعمتونو کښ دوئم احتیاج په تصرفاتو (معجزاتو) کښ دریم حاجت په حفاظت کښ دَ شر دَ بنی اسرائیلو نه څلورم حاجت په ملګرو (حواریینو) پیدا کولو کښ۔ پنځم احتیاج په معجزه دَ مائده کښ او په ذکر دَ دے حاجاتو کښ رد دے په نصارٰی باندے چه هغوی عیسٰی علیه السّلام الٰه یا ابن الله

بِاِذْنِیْ فَتَنْفُخُ فِیْهَا فَتَكُوْنُ طَیْرًاۢ

په حکم ځما پس پو کے به کوو تا په هغے کښ نو شوه به هغه مرغئ

بِاِذْنِیْ وَتُبْرِئُ الْاَكْمَهَ وَالْاَبْرَصَ

په حکم ځما او جوړوو تا پیدائشي ړوند او برګی والا

بِاِذْنِیْ ج وَاِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتٰی بِاِذْنِیْ ج

په حکم ځما، او کله چه راویستل تا مړی (د زمکے نه) په حکم ځما

کنړلو او روستو د ذکر د حاجاتو د هغه نه ذکر دے د سوال د هغه نه په ورځ د حشر کښ چه أَأَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اه، یعنی سره د دے نه چه ته محتاج وے نو ایا خلقو ته د خپل عبادت دعوت تا ورکړے وؤ؟ او په دے کښ اختلاف د مفسرینو دے اول قول دا چه دا مکالمه د عیسیٰ علیه السّلام روستو د رفعے د هغه نه ده اسمان ته او قال په خپله معنیٰ سره دے او لَمَّا تَوَفَّیْتَنِیْ په معنیٰ د پوره قبضه کولو او پورته کولو اسمان ته دے او دویم قول دا دے چه دا مکالمه به په اخرت کښ وی او قال په معنیٰ د یقول سره دے خو فعل ماضی ئے د یقین د پاره ذکر کړے ده او دا روستو قول اکثر مفسرینو غوره کړے دے او د یوم یجمع نه روستو راوړل هم په دے باندے دلالت کوی چه دا به په قیامت کښ وی او په دے قول سره توفیتنی په معنیٰ عامے سره دے یعنی د رفع او وفات نه روستو په ورځ د قیامت کښ هغه به بیان ورکوی چه کنت انت الرقیب علیهم اه۔

اذْكُرْ نِعْمَتِیْ عَلَیْكَ قرطبی وئیلی دی چه مراد د ذکر نه دا دے چه امت ته ئے بیان کړه د پاره د اظهار د عزت د مور او ځوئی او د پاره د تاکید د حجت د هغه۔ نِعْمَتِیْ مفرد په معنیٰ د جنس دے چه په هغے کښ نبوت او رسالت د هغه داخل دے۔ وَعَلٰی وَالِدَتِكَ چه هغه د مس د ناریته نه بچ ساتلے شوے ده او پاکه ساتلے شوے ده او په نورو زنانو باندے غوره والے ورکړے وؤ۔ اِذْ اَیَّدْتُّكَ دا بدل دے د نعمتی بدل بعض یعنی نعمتونه بے شماره دی لیکن دا مذکور (روستو) خاص نعمتونه دی۔

وَاِذْ كَفَفْتُ بَنِىْٓ اِسْرَآءِيْلَ عَنْكَ اِذْ جِئْتَهُمْ

او كله چه بند كړل ما بنى اسرائيل ستا (د وژلو) نه كله چه راوړل تا دوئ ته

بِالْبَيِّنٰتِ فَقَالَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ

ښكاره معجزات نو اوئيل كافرانو د دوى نه

اِنْ هٰذَآ اِلَّا سِحْرٌ مُّبِيْنٌ ﴿۱۱۰﴾ وَاِذْ اَوْحَيْتُ

نه دے دا مگر جادو دے ښكاره - او كله چه واچوو ما

سوال - دا روستو نعمتونه خو صرف په عيسٰى عليه السلام وو نو د هغه د مور ذكر ئې ولې اوكړو ؟

جواب - نعمتونه په اولاد باندے نعمتونه وى په مور د هغوى ځكه چه هغه پرے خوشحاليږى او د هغے تائيد پرے هم كيږى - او دا رنګ عيسٰى عليه السلام پاك امتى د مور بيان كړيده نو دا نعمت دے په مور د هغه باندے. بِرُوْحِ الْقُدُسِ په دے اضافت كښ دوه قولونه دى او د دے په مصداق كښ هم دوه قولونه مشهور دى - اول قول، دا اضافت د موصوف دے صفت ته يعنى دا سے روح چه مقدّس (پاك) دے.

دوېم قول، دا اضافت په معنىٰ د مِنْ سره دے يعنى رُوْحٌ مِّنَ الْقُدُسِ او قدس اسم د الله تعالىٰ دے دا قول خازن ذكر كړے دے او مصداق د دے جبرئيل عليه السلام دے چه د عيسٰى عليه السلام سره به هر وخت ګرځيدلو - يا مراد د دے نه روح او نفس د عيسٰى عليه السلام دے چه پاك وو د خيرو د ګناهونو نه - تُكَلِّمُ النَّاسَ دا بيان د تائيد د هغه دے په ذكر د خاص حال سره چه هغه تقويت د قوة ناطقه دے په ټولو حالاتو كښ او دا د تائيد يو مثال دے - فِى الْمَهْدِ وَكَهْلًا دا سے په سورة آل عمران ۴۶ كښ تير شويدى او مراد د كلام نه دعوت الى الله دے او كلام د مهد په سورة مريم ۳۰ كښ ذكر دے.

سوال - په كهولت كښ خو هر څوك خبرے كولے شى نو د دے حالت ذكر ئې ولې اوكړو ؟

جواب - په دے كښ ډيرے فائدے دى اول دا چه د كلام د مهد او

دَ کهولت فرق نیشته دویمه دا چه په عیسیٰ علیه السلام باندے هغه
حالات راځی کوم چه په عام البشر باندے راځی (وړوکوالے زوړوالے
وغیره) دریمه فائده بعض مفسرینو وئیلی دی چه دَ دهٔ نبوت او بیا
اسمان ته پورته کول دَ زمانے دَ کهولت نه وړاندے وؤ نو په کهولت
کښ دَ کلام کول مقصد دا دے چه دے به دَ اسمان نه راکوزیږی او عمر
به ئے دَ کهولت وی او کلام به کوی۔ وَإِذْ عَلَّمْتُكَ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ دا عطف دے په
إِذْ أَيَّدْتُكَ باندے نو اول نعمت تائید دے په باره دَ دعوت او تبلیغ کښ
او دا نعمت په باره دَ علم کښ دے چه شرط دَ دعوت دے۔
په الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ کښ دوه قولونه دی اول دا چه کتاب نه مراد ظاهری علم
دے کوم چه لیکلے کیږی او حکمت نه مراد هغه اسرار او باطنی علم دے چه
بغیر دَ کتابت نه وی۔ دویم قول دا دے چه دا نعمت دَ نزول دَ عیسیٰ علیه السلام
نه روستو دے او مراد دَ دے نه قران او سنت دَ نبی صلی الله علیه السلام
دے۔ او وَالتَّوْرَاةَ وَالْإِنْجِيلَ ورته مخکښ دَ رفع الی السماء نه خودلے
شوے وؤ اول مکلف وؤ په تورات باندے بیا وروستو ورته انجیل ورکړے
شو لکه په دے سورت ۴۶ کښ تیر شوی دی۔ وَإِذْ تَخْلُقُ اه دا هم تفصیل
دے دَ نورو نعمتونو او په دیکښ دویم قسم احتیاج دَ هغه ذکر کوی یعنی
په تصرفاتو معجزانه کښ الله تعالیٰ ته محتاج وؤ په دلیل دَ لفظ دَ بِإِذْنِي سره۔
كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ کاف په معنیٰ دَ مماثلة دے او ضمیر په فَتَنْفُخُ فِيهَا او تکون
کښ کاف ته راجع دے ځکه چه په هغه کښ معنیٰ دَ تانیث ده۔ بِإِذْنِي
دلته ئے مکرر ذکر کړو اشاره ده چه تصویر جوړول په اذن دَ الله تعالیٰ
سره دی او مرغۍ جوړیدل هم په اذن دَ هغه سره وؤ اول اذن شرعی
وؤ او دویم إِذْنِ تکوینی دے او په سورة آل عمران ۴۹ کښ اذن یو کرت
ذکر کړے دے او دلته دوه کرته، وجه دا ده چه په دے سورت کښ
مقصد تفصیل دَ حاجاتو دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر کول دی۔
وَتُبْرِئُ الْأَكْمَهَ هغه انسان چه روند پیدا شی او سترګے ئے بالکل بندے
وی دَ هغه دَ علاج نه طبیبان او ډاکتران عاجز وی۔
وَإِذْ تُخْرِجُ الْمَوْتَىٰ بِإِذْنِي دا هم معجزه دَ عیسیٰ علیه السلام ده او صیغه
دَ فعل دلالت نه کوی په استمرار او په همیش والی باندے یعنی بعض مړی ئے

إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي ج

په زړونو د حواريانو كښې چه ايمان راوړئ په ما او په رسول زما،

قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾

او وئيل دوى ايمان راوړے دے مونږه، او ته گواه شه چه يقيناً مونږه منونكے يو.

راوبيستل - او دا معجزات د پاره د نفعے وركولو وو انسانانو ته.
وَإِذْ كَفَفْتُ اه په دے سره هغه نعمت ذكر كوى چه په هغے كښې دفع د ضرر ده او په دے كښې دريم حاجت (په حفاظت د هغه كښې) ذكر كړے دے يعنى هر كله چه بنى اسرائيلو ته دغه معجزات ئے راوړل نو بعض كسانو كفر اوكړو او معجزاتو ته ئے سحر اوئيل نو بيا ئے د عيسىٰ عليه السلام د قتل كولو تدبيرونه جوړ كړل لكه چه په سورة آل عمران ٥٤ كښې دى نو الله تعالىٰ د هغوى د شر نه بچ كړو په رفع سره لكه په آل عمران ٥٥ كښې دى - إِنْ هٰذَا دا اشاره ده ټولو معجزاتو ته په تاويل د ماجاء سره.
سوال - دا مقام خو د شمار د نعمتونو دے نو طعن د كافرانو (ان هذا الا سحر مبين) ئے ولے ذكر كړو؟
جواب ١ - په دے كښې نعمت كففت دے او إِنْ هٰذَا اه ئے په طريقه د دشمنئ د هغوى سره ذكر كړے دے.
جواب ٢ - نيشاپورى وئيلے دى چه طعن كول د دشمنانو په غير د دليل نه دلالت كوى په اوچت والى د شان بانده لكه چه شاعر وئيلے دى
وَإِذَا أَتَتْكَ مَذَمَّتِي مِنْ نَاقِصٍ ۞ فَهِيَ الشَّهَادَةُ لِي بِأَنِّي كَامِلُ
معنى د شعر:- كله چه راشى تا ته بدى وئيل زما د كم اصل سړى نه نو دا گواهى ده زما چه زه كامل يم". او دا رنګ مشهور متل دے "كُلُّ ذِي نِعْمَةٍ مَحْسُودٌ" معنى، هر خاوند د نعمت سره حسد كيږى.
تنبيه:- مرزا غلام احمد قاديانى مدعى د نبوت كذاب او دجال د ډيرو وجو نه كافر دے يو وجه دا ده چه هغه خپل كتاب "ضميمه انجام آتهم" ص ٤-٥ كښې د عيسىٰ عليه السلام معجزاتو ته عمل د ترب او جادو وئيلے دے او په دے آيت كښې تصريح ده چه چا د عيسىٰ عليه السلام معجزاتو ته سحر وئيلے دے نو هغه كافر دے.
١١١ روستو د ذكر د نعمتونو لازمه نه ذكر د معتقداتو نعمتونو كوى. او په دے كښې د عيسىٰ عليه السلام تخلو رم احتياج الى الله ذكر كوى يعنى

إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّوْنَ يٰعِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ

کله چه اوئیل حوارئینو اے عیسٰی ځویه دَ مریم (علیها السّلام)

هَلْ يَسْتَطِيْعُ رَبُّكَ اَنْ يُّنَزِّلَ عَلَيْنَا

آیا اویه منی ستا رب چه رانازل کړی په مونږ باندے

مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ ۗ قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ

یو دسترخوان دَ اسمان نه ۔ اوئیل هغه اویرېږئ دَ الله تعالیٰ نه

اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ﴿١١٢﴾ قَالُوْا نُرِيْدُ

که تاسو مؤمنان یئ ۔ اوئیل دوی غواړو مونږ

حوارئین ملګری کول دَ عیسٰی علیه السّلام سره۔ لکه چه زمونږ دَ نبی صلّی الله علیه وسلّم صحابه هم الله تعالیٰ پیدا کړی وُو دَ هغه دَ ملګرتیا او تائید دَ پاره لکه چه په سورة انفال ۶۲ کښ دی۔ وَاِذْ اَوْحَيْتُ اِلَى الْحَوَارِيّٖنَ، وحی په لغت کښ پټے اشارے ته وئیلے شی نو کله ئے په وسوسه باندے اطلاق کیږی لکه په سورة انعام ۱۱۳ کښ نو کله الهام ته وئیلے شی لکه په سورة قصص ۷ کښ او کله فطری تعلیم ته وئیلے شی لکه په سورة نحل ۶۸ کښ۔ نو دلته معنیٰ دَ الهام ده یا په معنیٰ دَ امر سره ده۔ الْحَوَارِيّٖنَ جمع دَ حواری ده او ماخوذ دے دَ حَور نه په معنیٰ دَ سپین والی نو حَوارِیْ دا سے دوست او ملګری ته وئیلے شی چه مخلص او رازدار وی زړه ئے سپین وی (خالی وی دَ منافقت نه)۔

قَالُوْا اٰمَنَّا وَاشْهَدْ بِاَنَّنَا مُسْلِمُوْنَ قاعده دا ده چه ایمان او اسلام یو ځائے ذکر شی نو په هغے کښ فرق مقصد وی نو ایمان صفت دَ زړه دے او اسلام نوم دَ ظاهری اعمالو دے نو دَ دے وجے نه ایمان ئے مخکښ کړو په اسلام باندے۔

۱۱۲ په دے ایت او ور پسے ایت کښ تمهید دے دَ پاره دَ دُعا دَ مائدے او دَ نزول دَ هغے دا نعمت نه دے دَ دے وجے نه په ماقبل باندے نه دے عطف کړے۔ او په دے واقعه کښ ذکر دَ پنځم احتیاج دَ

أَنۡ نَّأۡكُلَ مِنۡهَا وَتَطۡمَئِنَّ قُلُوۡبُنَا وَنَعۡلَمَ

چه خوراک اوکړو | د هغې نه | او چه کلک شي | زړونه زمونږ | او خه پوهه شو

عیسیٰ علیه السلام دے الله تعالیٰ ته په باره د معجزے د مائده کښ.
یَا عِیۡسَی ابۡنَ مَرۡیَمَ. مهایمی وئیلی دی چه دے خطاب کښ اشاره ده چه مونږ
تا عیسیٰ د الله تعالیٰ کنړو مونږ تا ته اله یا ابن الله نه وایو د دے وجے ستانه
دُعا غواړو او انزال د مائدے ستا په اختیار کښ نیشته. هَلۡ یَسۡتَطِیۡعُ رَبُّكَ
سوال. حواریین خو کامل مؤمنان دی او هغوی الله تعالیٰ او د هغه صفتونه
پیژنی نو د هغوی د الله تعالیٰ په قدرت کښ شک نیشته نو هل یستطیع
ئې ولے اوئیلو؟
جواب. دا استفهام تقریری دے هل په معنیٰ د قد سره دے یا یستطیع په
معنیٰ د اجابت د دُعا دے او دا تاویلونه پدے سبب سره دی چه خازن
وئیلی دی چه نه دی جائز هیڅ لره چه وهم اوکړی په حواریین کښ چه هغوی
شک کوئ په قدرت د الله تعالیٰ. او بعضو وئیلی دی چه دا په ظاهر باندے حمل
دے چه هرکله د هغوی په زړونو کښ ایمان محکم شوے نه وؤ نو غلط
شول او دا سے لفظ ئې اوئیلو لیکن اول قول اصح دے. مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَآءِ
په مائده کښ دوه قولونه دی اول دا چه تفسیر تیار طعام ته وئیلے شي (لسان
العرب د اخفش نه نقل کړے دے) دویم دا چه هغه دسترخوان چه په هغے
باندے طعام پروت وی دا سے بعض اهل لغت وئیلی دی. او قرطبی وئیلی
دی چه خُوان میز (ټیبل) ته وئیلے شي او حدیث کښ راځی چه نبی صلی الله
علیه وسلم په میز باندے چرے خوراک نه دے کړے او دا د بادشاهانو
کار دے او په رومال (زمکه) باندے خوړل د عربو طریقه ده او مائده کله سفره
ته وئیلے شي.
قَالَ اتَّقُوا اللّٰهَ اِنۡ كُنۡتُمۡ مُّؤۡمِنِیۡنَ پنا په اوله توجیه مراد د دے نه تقویٰ ده د
معاصی نه او د کثرت د سوالونو او طلب د معجزاتو نه، اِن په معنیٰ د اِذ دے
او پنا په دویمه توجیه باندے تقویٰ ده د شک کولو نه په قدرت د الله تعالیٰ
کښ او اِن په خپله معنیٰ سره دے.

أَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ

چه یقینًا تا رښتیا ویلي دي او شو به مونږ په هغې باندې د

الشّٰهِدِيْنَ ﴿١١٣﴾ قَالَ عِيْسَى ابْنُ مَرْيَمَ

ګواهي کوونکو نه (غائبانو ته) . اوویل عیسی ځوئي د مریم (علیهما السّلام)

اللّٰهُمَّ رَبَّنَا أَنْزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً

اے الله ! ربه زمونږه نازل کړے په مونږ باندې دسترخوان

مِّنَ السَّمَآءِ تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا لِّأَوَّلِنَا

د آسمان نه چه وی مونږ له اختر مخکنو زمونږ لره

١١٣ دا ذکر د عذر او د سبب د طلب د مائده دے او دا دلیل دے چه دویمه توجیه (شک کول) صحیح نه ده. نُرِيْدُ أَنْ نَّأْكُلَ مِنْهَا، څلور مقاصد یئے ذکر کړے دی اول خوراک کول قرطبی د ماوردی نه نقل کړے دی چه دلته مراد خوراک کول د پاره د حصول د برکت دے یعنی د نَأْكُلَ مِنْهَا نه روستو معطوف علیه پټ دے لِنَنَالَ بَرَكَتَهَا (د پاره د دے چه برکت حاصل کړو) او روستو جملے په دے باندې عطف دی لیکن وَتَطْمَئِنَّ یئے په نأکل باندې عطف کړے دے اشاره ده چه دا روستو ذکر شوے فائدے په اکل پورے خاص نه دی صرف په لیدلو د مائدے سره دا درے فائدے حاصلیږی. وَتَطْمَئِنَّ قُلُوْبُنَا مراد د اطمینان نه زیادت د یقین دے په قدرت د الله تعالیٰ باندې ځکه چه علم استدلالی سره علم مشاهده یو ځائے شی نو یقین زیاتیږی. یا اطمینان په دے خبره چه الله تعالیٰ مونږ د دعوت د دین د پاره منتخب کړے یو. وَنَعْلَمَ أَنْ قَدْ صَدَقْتَنَا مراد د علم نه زیادت د علم دے په صدق د رسالت د هغه باندې. وَنَكُوْنَ عَلَيْهَا مِنَ الشّٰهِدِيْنَ مراد د دے نه شهادت د توحید د الله د پاره او د رسالت د رسول د پاره یا شهادت په معنی د خبر ورکوونکی دے غائبینو ته په صدق د توحید او رسالت او د دے معجزے. یعنی توحید او سنت به غائبینو خلقو ته بیانوو.

وَاٰخِرِنَا وَاٰيَةً مِّنْكَ ۚ وَارْزُقْنَا وَاَنْتَ

او روستنو زموږ لره او نخښه به وی ستا دَ طرف نه، او رزق راکړے موږ ته او ته ئے

خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ ﴿۱۱۴﴾ قَالَ اللّٰهُ اِنِّىْ مُنَزِّلُهَا

غوره دَ رزق ورکوونکو ته - او فرمائیل الله تعالیٰ یقیناً زه نازلوونکے دَ هغے یم

۱۱٤ هر کله چه عیسیٰ علیه السلام پوهه شو چه دَ دوی مقصد صحیح دے نو دُعا ئے اُوغوختله، اشاره ده احتیاج دَ هغه ته په دے واقعه کښ. او دا رنګ دَ دے نه معلومه شوه چه انبیاء علیهم السلام په معجزاتو کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی. اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا صفت دَ الوهیت او ربوبیت ئے دواړه په وسیله کښ ذکر کړے دی دَ ډیر تضرع دَ پاره مَآئِدَةً کوفیان وائی چه په دے کښ معنیٰ دَ فاعلیت ده یعنی لاسونه دَ خوراک والو ځان ته مائل کوی او بصریان وائی دا په معنی دَ مفعول ده یعنی لاسونه دَ خوراک والو هغے ته مائل کیږی. مِّنَ السَّمَآءِ تصریح ده په تعیین دَ مقصد باندے. تَكُوْنُ لَنَا عِيْدًا ضمیر دَ تکون مائدة ته راجع دے نو نزول دَ مائده مراد دے یا یوم دَ نزول دَ هغے. عِيْد دَ عود نه ماخوذ دے ځکه چه هغه په هر کال کښ واپس (دوه کرته) راځی په خوشحالو لو سره نو دلته معنی عرفی مراد ده یا معنی لغوی مراد ده (خوشحالی باربار) او دا معنی غوره ده او وئیلے شویدی چه مائدة په ورځ دَ اتوار نازل شوے وه دَ دے وجے نه دوی په ورځ دَ اتوار باندے عید مناؤ کړو لیکن دا قول خلاف دے دَ حدیث صحیح نه (مضمون ئے دا دے چه یهودو دَ ځان دَ پاره دَ خالی ورځ او نصاراؤ دَ اتوار ورځ مقرر کړه. او الله تعالیٰ موږ ته هدایت اوکړو دَ پاره دَ ورځ دَ جمعے) نو معلومه شوه چه ورځ دَ اتوار عید جوړول خلاف ده دَ هدایت دَ الله تعالیٰ نه. لِّاَوَّلِنَا وَاٰخِرِنَا په هغه زمانه کښ حاضرین او روستو راتلونکی، دَ روستنو دَ پاره دَ عید کیدلو وجه دا ده چه هغوی به دَ دے مائدے نه خوری او دا به باقی وی یعنی یا الله دا مائده جاری اوساتے. یا روستنی به دا خبر اوری نو په دین کښ به ئے قوت پیدا کیږی. وَاٰيَةً مِّنْكَ دلیل دَ توحید او دَ صدق رسول به وی. وَارْزُقْنَا یعنی دا مائده زمونږ

عَلَيْكُمْ ج فَمَنْ يَّكْفُرْ بَعْدُ مِنْكُمْ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ

په تاسو باندے، نو چا چه کفر اوکړو روستو د دینه پتا سو کښ نو یقیناً ځه به عذاب ورکړم هغه ته

عَذَابًا لَّآ اُعَذِّبُهٗٓ اَحَدًا مِّنَ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۱۱۵﴾ ع

داسے عذاب چه نه به وی ورکړے ما داسے عذاب هیچا ته د خلقو نه ۔

یا توفیق د شکر کولو راکړه۔ وَاَنْتَ خَيْرُ الرّٰزِقِيْنَ د رزق اسباب جوړوونکی او کسب کوونکی ته هم رازق وئیلے شی په طریقه د مجاز سره د دے وجے نه جمع ئے ذکر کړو او خیر خو الله تعالیٰ دے ځکه چه هغه رزق پیدا کوی او د هغے تقسیم هم د هغه په اختیار کښ دے۔

۱۱۵ په دے ایت کښ ذکر د اجابت د دُعا د عیسیٰ علیه السلام دے سره د ذکر د ادب نه په طریقه د تخویف سره۔ فَاِنِّيْٓ اُعَذِّبُهٗ عَذَابًا اه په دے کښ اشاره ده چه یو قوم معجزه طلب کړی او هغوی ته نصیحت هم اوکړے شی او د هغے باوجود د هغے معجزے انکار یا بے ادبی کوی نو هغه د سخت عذاب مستحق وی فائده:- په نزول د مائده کښ اختلاف دے حسن بصری او مجاهد نه ابن جریر او ابن کثیر په صحیح سند سره نقل کړے دی چه هر کله دوی دا سخت تخویف واوریدلو نو دوی مطالبه پریخودله او مائده نازل نه شوه او د دے قول تقویت په دے وجه سره کیدے شی چه د نزولِ مائده خبر په نصاریٰ کښ مشهور نه دے او نه د هغوی په کتاب کښ شته دے۔

دویم قول د جمهور اهل علمو دے چه مائده نازل شویده او ابن جریر دا قول غوره کړے دے په دے دلیل چه الله تعالیٰ وعده کړیده چه اِنِّيْ مُنَزِّلُهَا او الله تعالیٰ خپله وعده پوره کوی۔ او په دے باندے ډیر اثار د سلفو نه دلالت کوی چه یو د هغے نه ترمذی مرفوع سند سره نقل کړیدے (په کتاب التفسیر کښ) چه نازل شوے وه مائده د اسمان نه ډوډئ او غوښه او دوی ته امر کړے شوے وو چه خیانت به نه کوئ او د صبا د پاره به ذخیره نه کوئ نو دوی خیانت اوکړو او ذخیره ئے اوکړله او د صبا د پاره ئے کیخودل شروع کړل نو د دوی شکلونه د شادوګانو او خنزیرانو پشان اوګرځیدل۔ ترمذی وئیلے دی چه دا د عمار رضی الله عنه نه موقوف هم نقل دے او موقوف اصح دے د مرفوع نه بلکه په دے باب کښ ډیر اثار مفسرینو ذکر کړے دی په هغے کښ یو هم

وَاِذْ قَالَ اللّٰهُ یٰعِیْسَی ابْنَ مَرْیَمَ

او کله چه اوبه وائي الله تعالیٰ اے عیسیٰ ځویه دَ مریم (علیهما السلام)

ءَاَنْتَ قُلْتَ لِلنَّاسِ اتَّخِذُوْنِیْ وَ اُمِّیَ

آیا تا وئیلي دي خلقو ته چه اونیسئ ما او مور زما

اِلٰهَیْنِ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ قَالَ سُبْحٰنَكَ

حقدار دَ بندګئ دواړه سیوا دَ الله تعالیٰ نه، اوبه وائي هغه پاکی ده تا لره (دَ شرک نه)

مَا یَكُوْنُ لِیْۤ اَنْ اَقُوْلَ مَا لَیْسَ لِیْ ق

نه دی جائز ما لره چه او وایم هغه وینا چه نه ده ما لره

بِحَقٍّ ؕ اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ ؕ

لائق (نیشته ماله حق دَ هغې)۔ که چرے ما وئیلي وی دا نو یقینًا ته عالم یې په هغې۔

مرفوع نیشته او په هغوی کښ نکارت دے۔ او قرطبی وئیلي دی چه حدیث دَ ترمذی اګرچه موقوف دے لیکن هغه دلته غوره دے نو فیصله داده چه مائده نازل شوے ده او طعام به دَ هغې نه خوړلے کیدلو لیکن دَ هغې پوره تفصیل بانیں الله تعالیٰ به پوهیږی۔ او اول قول والا چه وئیلي دی چه دَ نصاریٰ په کتاب کښ نیشته دَ هغې جواب داد ے چه په دے واقعه کښ دَ هغوی دَ مشرانو مسخ ذکر شویده دَ دے وجے نه دوی دا واقعه پټه ساتله او خپلو کتابونو کښ لیکلے نه ده لکه چه یهودیانو واقعه دَ سبت (دَ خالی دَ ورځے) هم پټه ساتله۔

او امام احمد په مسند کښ او حاکم په مستدرك کښ روایت نقل کړیدے چه مشرکین مکه نبی صلی الله علیه وسلم ته اُوئیل چه ته دَ خپل رب نه دُعا اوغواړه چه دَ صفا (غر) نه سره زر جوړکړی نو مونږ په تا باندے ایمان راوړو نو هغه دُعا اُوغوښتله نو جبرئیل علیه السلام اُوئیل چه ستا رب په تا باندے سلام وائي او وائي که ته غواړے نو دَ صفا نه به سره زر جوړ کړم خو که بیا چا کفر اوکړو نو داسے عذاب به ورکړم چه په عالم کښ به م هیچاله نه وی ورکړے او که ستا خوښه وی نو دوی له به

دِقَقِ النبی صلی الله علیه وسلم

تَعۡلَمُ مَا فِیۡ نَفۡسِیۡ وَلَاۤ اَعۡلَمُ مَا فِیۡ

ته پوهیږې په هغې چه څما په زړه کښ دی او نه پوهیږم څه په هغې څه چه په

نَفۡسِكَ ؕ اِنَّكَ اَنۡتَ عَلَّامُ الۡغُیُوۡبِ ﴿۱۱۶﴾

نفس ستا کښ دی - یقیناً ته څه پوهیږې په پټو څیزونو -

دَ دغې په ځائے دَ توبے او رحمت دروازه کولاؤ کړم نو نبی صلی الله علیه وسلم اوئیل چه دروازه دَ توبے او دَ رحمت پرانستلے شوے ده۔

ﺳ۱۱۶ دا اعاده دَ هغه اِذْ قَالَ ده چه په بلا کښ ذکر وُو او دینه اعاده بعد عهد وئیلے شی یعنی دا ماقبل مضمون او دَ دے مضمون وخت یو دے۔ دَ دے مقالے په وخت کښ اختلاف دے سلف او قطرب وئیلے دی چه دا روستو دَ رفع دَ عیسیٰ علیه السلام ته آسمان ته په دنیا کښ ده او دا قول ابن جریر دَ دوؤ وجونه غوره کړے دے اول داچه صیغه دَ ماضی ده دویم داچه سره دَ اذ نه دَ او دا قول چه اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ" په دے کښ طلب دَ مغفرت دَ گناهونو دے چه دَ هغې ځائے دنیا ده۔ دویم قول اکثر مفسرینو وئیلے دی چه دا مخاطبه به په ورځ دَ قیامت کښ وی او ابن کثیر هم په دلیلونو دَ ابن جریر اعتراض دفع کړیږے اول داچه په قرآن کښ صیغه دَ ماضی ډیر کرته دَ قیامت دَ پاره استعمال شویده دَ پاره دَ تیقن لکه نَادٰی اَصۡحٰبُ النَّارِ اَصۡحٰبَ الۡجَنَّةِ (اعراف) او اذ په معنی دَ اذا سره هم استعمالیږی۔ دَ اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ دا شفاعت نه دے بلکه تفویض (سپارل) دے حکم دَ الله تعالیٰ ته لکه روستو ذکر کیږی۔ او دلیل دا دے چه دا دَ یَوۡمَ یَجۡمَعُ اللّٰهُ الرُّسُلَ سره تعلق لری او دا رنګ روستو یَوۡمَ یَنۡفَعُ الصّٰدِقِیۡنَ صِدۡقُهُمۡ هم په دے باندې دلالت کوی۔

سوال: الله تعالیٰ ته خو علم دے په حال دَ عیسیٰ علیه السلام نو دَ دے سوال دَ جواب څه فائده ده؟

جواب: دَ دے یو فائده الزام دَ دلیل دے په نصارٰی باندے ځکه چه هغوی په عیسیٰ علیه السلام دروغ جوړ کړے وُو او وائی چه هغه مونږ ته حکم راکړے دے چه ما ته اله جوړ کړئ او زما دَ مور نه لکه چه دَ دے یو جواب په سورة آلعمران ﺳ۷۹ کښ ذکر دے نو دلته هم جواب دَ عیسیٰ علیه السلام ذکر کوی په تکذیب دَ نصاراؤ کښ۔ دویمه فائده دا ده چه

عیسیٰ علیه السلام ته معلومه شي چه نصارٰو د هغه دین بدل کړے دے دریمه فائده داده چه دا ښکاره دلیل شي په دے خبره باندے چه عیسیٰ علیه السلام د اُمت د حال نه روستو د رفع او د موت نه خبر نه لري نو غیبدان نه دے لکه چه د ټولو رسولانو حال ئے په ۱۰۹ کښ ذکر کړے وو.

وَاُمِّیَ دا لفظ په ځائے د مریم کښ د دے د پاره ذکر کړو چه دلیل شي په نفي د الوهیت د عیسیٰ او د مریم باندے ځکه نسبت د تولد منافي دے د الوهیت سره- مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ دون په معنیٰ د غیر دے دلالت په دے نکوي چه د الله تعالیٰ الوهیت ئے پریخودلے دے بلکه د شرکت د پاره استعمالیږي.

قَالَ سُبْحٰنَكَ حدیث د ترمذي کښ راغلے دي چه دا حجت الله تعالیٰ عیسیٰ علیه السلام ته تلقین کړے دے ترمذي وئیلے دي چه دا حدیث حسن صحیح دے- سُبْحٰنَكَ دا تحقیقي جواب دے او اظهار د عقیدے د عیسیٰ علیه السلام دے چه پاکي د هر عیب او د شریك او ولد نه الله تعالیٰ د پاره ثابته ده نو د هغه شریك امکان نه لري- مَا یَكُوْنُ لِیْٓ الخ دا تفریع ده په سبحنك باندے او دویم جواب دے ما یکون په معنیٰ د مایتصور، ومایَنْبَغِي او مَایُمْكِنُ سره دے- مَا لَیْسَ لِیْ بِحَقٍّ دا په معنیٰ د استحقاق دے یعني دعوت کول خپل الوهیت ته زما په هیڅ طریقے سره حق نه دے- اِنْ كُنْتُ قُلْتُهٗ فَقَدْ عَلِمْتَهٗ هر کله چه احتمال وو چه کیدے شي چه عیسیٰ علیه السلا دا سے چرے وئیلے وي لیکن اوس انکار کوي نو رد د دے احتمال کوي په طریق د دلیل برهاني- یعني صدور د دے قول مستلزم دے علم د الله تعالیٰ لره نو انتفاء د علم د الله تعالیٰ په صدور د دے قول د عیسیٰ علیه السلام نه مستلزم ده انتفاء د صدور د دے قول لره ځکه چه انتفاء د لازم مستلزم ده انتفاء د ملزوم لره (ابوالسعود)- تَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِیْ دا دلیل د ماقبل ملازمے دے چه الله تعالیٰ په هر څیز عالم دے نو په نفس د عیسیٰ علیه السلام هم عالم دے او په دے جمله کښ د بل احتمال رد دے هغه دا دے چه احتمال نشته چه دا خیال په نفس د عیسیٰ علیه السلام کښ تیر شوے وي حاصل د رد دا دے چه زما په نفس کښ دا خیال نه دے تیر شوے نو په ژبه ښکاره کول خو ډیره بعیده خبره ده- وَلَآ اَعْلَمُ مَا فِیْ نَفْسِكَ دا بیان د واقعے او اظهار د خپل قصور علم دے او نفس ذات ته وئیلے شي او د

مَا قُلْتُ لَهُمْ اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ بِهٖٓ

نه دي ويئيلي ما دوی ته مګر هغه چه تا حکم کړيدے ما ته (د بيان دهغې)

اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ رَبِّيْ وَرَبَّكُمْ وَكُنْتُ

چه بندګي خاص کړئ الله تعالی لره چه رب زما او رب ستاسو دے او زه ووم

عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ ج فَلَمَّا

په دوی باندے خبر خبرورے چه موجود ووم په دوی کښې پس هر کله چه

تَوَفَّيْتَنِيْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ ط

تا زه واخستم ، نو ته خاص ته ساتونکے ئې په دوی باندے (په هر حال کښې)

وَاَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ ﴿١١٧﴾

او ته په هر خيز باندے حاضر او ناظر ئې۔

الله تعالی په صفت کښې نفس لفظ ثابت دے د دے تاویل ته حاجت نیشته او تمثیل او تشبیه ئې د مخلوق سره جائز نه دے چا چه په علم او غیب او سِر وغیره سره تاویل کړے دے دا خلاف دے د مذاهب د سلفِ صالحینو نه إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوْبِ دا هم دلیل د ملازمے دے چه په دے قول کښې ده "ان کنت قلته فقد علمته"۔

---

۱۱۷ دا هم جواب د هغه سوال دے أَأَنْتَ قُلْتَ الخ په طريقه د ادب سره دے۔
سوال:۔ "اِلَّا مَآ اَمَرْتَنِيْ" دا استثناء خو جنس د ماقبل نه نه ده چه ما قلت دے نو متصل نه صحیح کیږی؟۔
جواب:۔ ما قلت په معنی د مَآ اَمَرْتُ سره دے لیکن د ادب د وجے نه او د مناسبت د قلت للناس د وجے نه تعبیر ئې اوکړو په قُلْتُ سره۔
اَنِ اعْبُدُوا اللّٰهَ، اَنْ تفسیر دے د مامور به او په دے کښې توحید د الوهیت او د ربوبیت دواړه ذکر دی او دا قول د عیسیٰ علیه السلام نه الله تعالی نقل راوړے دے په سورة آلعمران ۵۱ او مریم ۳۶ او زخرف ۶۴ کښې نو معلومه شوه چه دا اخبار د عیسیٰ علیه السلام نه بالکل رشتیا دے د دروغو هیڅ احتمال پکښې نیشته دے۔ وَكُنْتُ عَلَيْهِمْ شَهِيْدًا مَّا دُمْتُ فِيْهِمْ په دے کښې

ذکر دَ براءت دے دَ عیسیٰ علیه السلام دَ هغه اعمالو نه چه نصاراؤ دَ هغه نه روستو پیدا کړیدی. یعنی چه زه موجود ووم نو ما دَ دوی دَ حالاتو رعایت کوؤ په دعوت او تبلیغ سره نو اوس هم صرف دَ هغه عملونو شهادت ورکولے شم. مَا دُمْتُ فِیْهِمْ عام دے دَ مَادمت حیًا نه اشاره ده چه بعض حصه دَ ژوندُ په اسمان کښ تیره کړے ده نو دَ هغه وخت دَ عملونو دَ نصاراؤ علم هم ورسره نیشته اګرچه ژوندے وو خولږے وؤ او هیڅ اسباب ئے نه وؤ.

فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِي كُنْتَ أَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ دلته توفی په عامه معنی سره دے یعنی اخستل دَ څیز پوره، برابره خبره ده که روح او بدن ئے په جمع اخستلے وؤ په وخت دَ رفعے دَ عیسیٰ علیه السلام اسمان ته او که په روح اخستلو سره وؤ چه مرګ دے روستو دَ نزول دَ هغه نه زمکے ته په اخره زمانه کښ ځکه چه دَ هغه نزول په اخره زمانه کښ په متواتراحادیثو سره ثابت دے لکه چه دا په سورة العمران ۵۵ کښ ذکر دے. الرَّقِيْبَ ساتنه کوونکے، عالم دَ هغوی دَ اعمالو او احوالو. وَ أَنْتَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ شَهِيْدٌ، كُلِّ شَيْءٍ کښ اقوال اعمال دَ عیسیٰ علیه السلام او دَ هغه قوم او هر مطیع او هر عاصی او هر څیز داخل دے. په دے کښ اشاره ده فرق دَ صفت دَ الله او دَ بنده ته په شهید سره یعنی الله تعالیٰ مشاهده کوونکے (لیدونکے) او علم لرونکے دَ هر څیز دے او دا معنی دَ بنده په صفت دَ (شهید) کښ نیشته نو بنده ته لیدونکے او علم لرونکے دَ هر څیز نشی وئیلے کیدلے.

تنبیه:- دَ شهید نه تعبیر په حاضر ناظر سره کیدے نشی ځکه دا دَ مشاهدے نه او دَ شهادت په معنی دَ علم سره ماخوذ دے نو ناظر او عالم صفت ثابت شو او الله تعالیٰ ته حاضر په اعتبار دَ علم سره وئیلے شی.

فائده:- امام بخاری په تفسیر دَ سورة مائده او په کتاب الانبیاء کښ او دارنګ مسلم په باب فناء الدنیا وبیان الحشر کښ حدیث مرفوع په روایت دَ ابن عباس رضی الله عنهما سره راوړے دے چه په هغے کښ دا ذکره ده چه دَ قیامت په میدان کښ به څه کسان زما دَ اُمت نه راوستلے شی او کس طرف (جهنم) ته به روان کړے شی زه به اووایم یاربه دوی خو زما سره لږه مرګ تیا کړے وه نو ورته به اُوئیلے شی اِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا اَحْدَثُوْا بَعْدَكَ (یقیناً تاته پته نیشته چه دوی ستا نه روستو څه (بدعات) پیدا کړیدی)

اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ فَاِنَّهُمۡ عِبَادُكَ ۚ وَاِنۡ تَغۡفِرۡ

که ته عذاب ورکوے دوی ته تو یقیناً دوی بندګان ستا دی، او که ته بخنه کوے

لَهُمۡ فَاِنَّكَ اَنۡتَ الۡعَزِيۡزُ الۡحَكِيۡمُ ﴿۱۱۸﴾

دوی ته نو یقیناً ته زور اور یې حکمتونو والا یې.

نوزه به او وایم لکه چه بل صالح بنده وئیلی دی کنت" علیهم شهیدا ما دمت فیهم" الایة: نو دا حدیث صریح دلیل دے چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم هم د اعمالو او احوالو نه روستو د وفات نه علم نه لری او احادیث د عرض (پیشئ) د اعمالو صحیح ثابت نه دی۔

سوال:- د دے حدیث نه مرزائی قادیانی ملعون استدلال کړے دے چه عیسیٰ علیه السلام وفات شوید ے او په دے ایت کښ فَلَمَّا تَوَفَّيۡتَنِىۡ په معنی د مرګ سره دے وجه د استدلال دا ده چه زمونږ نبی هم دا ایت په خپل مثال کښ پیش کوی نو زمونږ نبی خو وفات شوید ے د وفات نه روستو علم د امت نه لری نو معلومه شوه چه توفیتنی کښ معنی د مرګ مراد ده؟

جواب ؏ موږ مخکښ ذکر کړه چه دلته توفی په عامه معنی سره مراد ده نو معنی د مرګ په کښ هم داخل ده نو تشبیه په اعتبار د یوے معنی سره ده۔

جواب ؏۲ که دلته توفیتنی په معنی د مرګ سره شی نو هم اشکال نه راځی ځکه چه دا کلام د عیسیٰ علیه السلام په قیامت کښ دے او قیامت نه مخکښ خو په هغه باندے مرګ به راځی روستو د نزول نه نو په دے سره نفی د رفعے د هغه نه لازمیږی۔

جواب ؏۳ عامو مفسرینو چه معنی د توفیتنی په رفعے سره کړے ده نو هم جائز ده ځکه چه کیدے شی چه په حدیث کښ تشبیه صرف په دے جمله کښ وی" کنت علیهم شهیدا ما دمت فیهم"

۱۱۸ دا هم قول د عیسیٰ علیه السلام دے نو بنا په قول د سدی او د قطرب باندے دا قول په دنیا کښ وؤ نو معنی دا ده اِنۡ تُعَذِّبۡهُمۡ که ته دوی په کفر باندے باقی پاتے کړے او بیا آخرت کښ عذاب ورکړے

قَالَ اللّٰهُ هٰذَا يَوْمُ يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ

اوبه وائی الله تعالیٰ دا ورځ ده فائده به ورکوی رشتیا ویونکو ته

صِدْقُهُمْ ط لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِیْ مِنْ

رشتیا وئیل (په دنیا کښ) دَهغوی۔ دوی لره جنتونه دی چه بهیږی لاندے

تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِیْنَ فِیْهَاۤ اَبَدًا ط

دَ هغے نه ویالے همیشه به وی دوی په هغے کښ همیشه۔

نو په تا اعتراض نیشته ځکه چه فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ. او اِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ یعنی که توفیق دَ توبے ورکړے نو بخنه ورته دَ توبے په وجه سره اوکړے نو ته دَدے نه عاجز نه یئے ځکه چه فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ. لیکن هر کله چه مخکښ ثابت شوه چه قول دَ سدی ضعیف دے نو بنا په قول دَ جمهورو مفسرینو دا به په آخرت کښ وی۔

سوال :۔ هر کله چه دَ دغه نصاراؤ کفر او شرك او دروغ ثابت شول نو دَ هغوی دَ پاره څه رنګ سفارش کوی؟

جواب :۔ ابن کثیر او خازن وغیره وئیلے دی چه دا سفارش کول نه دی بلکه تفویض (سپارل) دے مشیت او ارادے دَ الله تعالیٰ ته او براءت دے دَ عیسیٰ علیه السلام دَ نصاراؤ نه او دلیل دا دے چه دَ ان تغفر نه روستو غفور رحیم نه دے وئیلے ځکه چه مقصد طلب دَ مغفرت نه دے۔

سوال :۔ په مینځ دَ شرط او جزا دَ دواړو جملو کښ مناسبت څه دے؟

جواب :۔ په عبارت کښ تقدیر دے یعنی اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَلَیْسَ عَلَیْكَ اِعْتِرَاضٌ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَاَنْتَ الْمَالِكُ الْمُطْلَقُ یا عِبَادُكَ وَهُمْ عَبَدُوْا غَیْرَكَ (که ته دوی له عذاب ورکوے نو په تا باندے اعتراض نیشته ځکه چه دوی ستا مریان دی او ته مالک مطلق یئے یا دوی بندګان ستا دی او حال دا چه بندګی یئے کړیده سیوا ستا نه دبل چا) وَاِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ لَا یَلْحَقُكَ عِجْزٌ بِذٰلِكَ فَاِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِیْزُ الْحَكِیْمُ (که ته دوی ته بخنه کوے (سره دَ شرك او کفر دَ دوی) نو ته عاجز نه یئے ځکه چه په هر څیز زورلرونکے او حکمت والا یئے لیکن قانون دَ الله تعالیٰ دا دے چه اِنَّ اللّٰهَ لَا یَغْفِرُ اَنْ یُّشْرَكَ بِهٖ (یقیناً الله تعالیٰ هیڅ قسم شرك نه بخی)

رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ ۚ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

رضا دے اللہ تعالیٰ د دوی نه او رضا دی دوی د هغه نه۔ دا کامیابی

الْعَظِيمُ ﴿١١٩﴾ لِلَّهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ

لویه ده۔ خاص اللہ تعالیٰ لره بادشاهی د اسمانونو او د زمکے ده

وَمَا فِيهِنَّ ۚ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٢٠﴾

او د هغه څه چه په دیکښ دی۔ او هغه په هر څیز قدرت لرونکے دے۔

ف ۱۱۹ دا بشارت دے متعلق دے د حال د عیسیٰ علیه السلام سره۔ هٰذَا يَوْمُ مراد د دے نه ورځ د قیامت ده د دے تخصیص ئے د دے وجے نه اوکړو چه په دغه ورځ به پوره جزا ملاویږی. يَنْفَعُ الصّٰدِقِيْنَ صِدْقُهُمْ مراد د صدق د دوی نه رشتیا وئیل او کول دی په دنیا کښ ځکه چه دنیا د عمل کولو ځائے دے نو الصّٰدِقِيْنَ نه مراد هغه څوک دی چه همیشه ئے رشتیا وئیلے وی نو اول په هغے کښ توحید داخل دے د دے وجے نه ابن کثیر وئیلے دی چه الصادقین نه مراد الموحدین دی او دعوت کوونکی د حق دی چه اول په هغے کښ انبیاء علیهم السلام داخل دی لکه په سورة احزاب ف ۸ کښ دی او د نفعے نه مراد ثوابونه اخروی دی۔ یا د صدق نه مراد صدق دے په اخرت کښ لکه چه د عیسیٰ علیه السلام بیان کول (په اخرت کښ) ذکر شو. لیکن دا صدق د دنیا د صدق سره موافق دے نو مراد د نفعے نه دا دے چه د مؤاخذے او د خلقو د ملامتیا نه به بچ شی او ثوابونه به حاصل کړی او هر چه صدق د ابلیس دے په ورځ د قیامت لکه په سورة ابراهیم ف ۲۲ کښ دے نو هغه صدق د دنیا د عمل د هغه سره موافق نه وو ځکه ورته فائده نه ورکوی۔
دا رنګ نور کافران هم چه اقرار اوکړی چه ځانونو باندے د کفر او شرك او انکار وغیره نو دغه رشتیا هم نفع نه ورکوی ځکه چه اقرار د دوی په دنیا کښ نه وو۔
لَهُمْ جَنّٰتٌ الخ دا بیان د نفعے دے د دے وجے نه عطف ئے نه دے ذکر کړے۔ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ په سبب د طاعت او د رشتیا وئیلو سره د دوی

په دنیا کښ وَرَضُوْا عَنْهُ دوی په دنیا کښ رضا په قضا د الله تعالیٰ کړے وه نو په آخرت کښ سبب د رضا کثرت نعمتونه دی د الله تعالیٰ د طرف نه.
ت۱۲ دا اختتام د سورت دے په دعوی د توحید سره د پاره د رد د نصارائو نو اشاره ده چه عیسیٰ علیه السلام او مور د هغه لره اختیار او قدرت د هر څیز نیشته نو هغوی الِٰهه نه شی کیدلے (دا مضمون خازن او قرطبی لیکلے دے) دارنګ دا جواب د وهم دے چه مخکښ اُوئیلے شول ینفع. لَهُمْ جَنّٰتٌ الخ نو دا جنتونه په څوک ورکوی حاصل د جواب دادے چه دا کار او قدرت د الله تعالیٰ دے. وَمَا فِيْهِنَّ هغه مخلوق چه په آسمانونو کښ دی او که په زمکه کښ دی ملائك انسانان، پیریان، حیوانات، نباتات او جمادات وغیره.

تفسیر د سورة مائده په فضل د الله تعالیٰ او کرم د هغه سره ختم شو

(اللهم انفعنا بفضله وکرمك فی الدنیا والآخرة)

سورة الانعام مكية	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	اٰياتها ۱۶۵ رکوعاتها ۲۰

خاص په نوم دَ الله تعالیٰ امداد غواړو په شورو کولو کښې چه رحمٰن او رحیم دے

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

ټول صفتونه دَ ښائیتوب خاص الله لره دی هغه ذات دے چه پیدا کړی یې اسمانونه او زمکه

ربط دَ سورة انعام دَ مخکښې سورت سره په ډیرو وجوسره دے اوله وجه دا ده چه مخکښې سورت کښې ترغیب وؤ په لوظونو پوره کولو چه هغه په باره دَ حلال او حرام کښې وؤ اوردوو په شرک دَ نصارٰی باندے نو دے سورت کښې اصل مقصد چه توحید دے دَ هغے تفصیل کوی په دلیلونو سره. دویمه وجه دا ده چه په هغه سورت کښې دعوٰی دَ توحید اورد وؤ په شرک باندے نو په دے سورت کښې عقلی او نقلی دلیلونه ذکر کوی سره دَ ذکر دَ طریقے او تکالیفو دَ دعوت نه۔

دعوٰی دَ دے سورت: توحید ثابت کول دی په دلیلونو عقلی او نقلی سره، او رد دے په ټولو اقسامو دَ شرک او په مشرکانو باندے سره دَ طریقو دَ تعلیم نه۔ دلیلونه په څلور قسمه دی (۱) استدلال په تصرف سره په اعیانو باندے (۲) استدلال په احوالو دَ اعیانو باندے سره دَ علم محیط نه (۳) استدلال په انقلاب دَ احوالو سره۔ (۴) استدلال په څیزونو دَ خوراک سره۔ او طریقے دَ تعلیم هم څلور قسمه دی ع۱ پوخ والے په توحید باندے ع۲ فرق دَ دواړو طریقو (طریقه دَ اهل حق او طریقه دَ اهل باطل) ع۳ نفی دَ صفاتو ما فوق البشریة ع۴ تفصیل دَ صحیح عقیدے او شپږ عقبات دَ توحید دی په ع۵۳ ع۵۵ ع۱۰۵ ع۱۱۳ ع۱۲۳ ع۱۲۹ کښې۔

خلاصه: په سورت کښې دوه حصے دی، اوله حصه تر ع۱۱۷ پورے ده په هغے کښې رد دے په شرک اعتقادی باندے، او په دے کښې شپږ بابونه دی۔ اول باب تر ع۱۱ پورے دے۔ په دے کښې دعوٰی دَ توحید او په هغے باندے درے عقلی دلیلونه دی، او په هر یو کښې درے درے امور دی، بیا زجر دے په دری طریقو سره، بیا تخویف دنیوی دے په درے طریقو سره، بیا جوابونه دَ درے سوالونو، او آخر کښې تسلی ده په درے طریقو سره۔

وَجَعَلَ الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ ۬ ثُمَّ الَّذِيْنَ

او جوړے کړیدی تیارے او رنړا . بیا هم دا

كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ۝١ هُوَ الَّذِيْ

کافران دَ رب خپل سره برابر کنړی نور خلق - خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے

خَلَقَكُمْ مِّنْ طِيْنٍ ثُمَّ قَضٰٓى اَجَلًا ؕ وَاَجَلٌ

چه پیدا کړے یئ تاسو دَ خټے نه بیا یئے فیصله کړیده دَ نیټے دَ مرګ - او نیټه چه

مُّسَمًّى عِنْدَهٗ ثُمَّ اَنْتُمْ تَمْتَرُوْنَ ۝٢

مقرر ده (ټول مخلوق له) په علم دَ الله کښ ده بیا هم تاسو شک کوئ -

سلہ په دے کښ دعوٰی دَ توحید ده اول دلیل عقلی دے چه هغه درے قسمه دے علوی سفلی او وسطی. الظُّلُمٰتِ وَالنُّوْرَ مراد دَ دے نه عام دے که محسوسی وی لکه شپه او ورځ یا معنوی وی لکه شرک او توحید جهل او علم. ثُمَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِرَبِّهِمْ اٰه دا زجر دے منکرینو ته او ثم دَ تعقیب ذکری دَ پاره دے یا دَ استبعاد دَ پاره دے. يَعْدِلُوْنَ دَ عدل نه دے برابری ته وئیلے شی او بِرَبِّهِمْ متعلق دے په یعدلون پورے یعنی دَ خپل رب سره نور مخلوق برابروی یعنی شرک کوی. یا دَ عدول نه دے او بربهم متعلق دے په کفروا پورے یعنی عدول (مخ اړوی) دَ حق نه. ظُلُمٰت جمع ذکر کړے ده ځکه چه دَ هغے اقسام او اسباب او افراد ډیر دی او نُور یو دے.

سلہ دا دویم دلیل عقلی دے، او اَجَل نه مراد مرګ دے او دویم اَجَل نه مراد نیټه دَ قیامت ده او په دے کښ هم درے اموره دی. مِنْ طِيْنٍ دَ ټولو انسانانو اصل ماده او اوله ماده دا ده. یا مراد دا دے چه "خَلَقَ اٰبَاكُمْ" یعنی ستاسو پلار یئے دَ خټے نه پیدا کړیدے په لفظ دَ طِيْن کښ اشاره ده چه په انسان کښ استعداد دَ علم او کمال شته په محنت سره لکه چه دَ خټے نه بنه خیزونه جوړیږی په محنت سره. قَضٰٓى اَجَلًا دا دَ ولادت نه تر مرګه پورے ده. وَاَجَلٌ مُّسَمًّى دا دَ مرګ نه تر بعث پورے ده دا یو قول دے دویم دا چه اول اجل نفس نیټه دَ مرګ او دویم اجل ورځ دَ قیامت ده او دا غوره قول دے. تَمْتَرُوْنَ دَ مریة نه ... معنی

وَهُوَ اللّٰهُ فِي السَّمٰوٰتِ وَفِي الْاَرْضِ ؕ يَعْلَمُ

او خاص هغه الله تعالیٰ تصرف کوونکے دے په اسمانونو او په زمکه کښ - پوهه لري

سِرَّكُمْ وَجَهْرَكُمْ وَيَعْلَمُ مَا تَكْسِبُوْنَ ③

په پټو ستاسو او په ښکاره ستاسو - او پوهه لري په هغه څه چه کوئ ئے تاسو -

وَمَا تَاْتِيْهِمْ مِّنْ اٰيَةٍ مِّنْ اٰيٰتِ رَبِّهِمْ

او نه راځي دوی ته څه نخه د نخو د رب د دوی ته

اِلَّا كَانُوْا عَنْهَا مُعْرِضِيْنَ ④ فَقَدْ كَذَّبُوْا

مګر وي دوی د هغې نه مخ اړوونکي - پس یقینا دوی دروغژن کړو

بِالْحَقِّ لَمَّا جَآءَهُمْ ؕ فَسَوْفَ يَاْتِيْهِمْ

حق لره هر کله چه راغئ دوی ته - نو زر دے چه رابه شي دوی ته

اَنْبٰٓؤُا مَا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ⑤ اَلَمْ

خبرونه (عذاب) د هغه څه چه دوی په هغې پورے پوقے کولے - ایا نه

يَرَوْا كَمْ اَهْلَكْنَا مِنْ قَبْلِهِمْ مِّنْ قَرْنٍ

ګوري دوی چه څومره هلاک کړي دي موږ مخکښ د دوی نه قومونه (پیړئ)

د شک سره یا د مِراء نه دے په معنی د جګړه کولو سره او ثم د استبعاد د پاره دے۔
۳ دا دریم دلیل دے اول درے دلیلونه د کارسازئ د الله تعالیٰ دی۔ او دا درے امور د علم ئے ذکر کړل پټ قول، ښکاره قول او عملونه -
۴ ۵ دا زورنه ده او په دے کښ درے خیزونه ذکر کړیدی۔ اعراض، تکذیب استهزاء۔ مِنْ اٰيَةٍ په معنی د دلیل یا معجزه یا اٰیت قرانیه دے۔ مِنْ اول د پاره د استغراق او دویم د پاره د تبعیض دے۔ فَقَدْ، فاء د پاره د تعقیب ده یعنی روستو د اعراض نه تکذیب او استهزاء ئے اوکړله۔ اَنْبٰٓؤُا په معنی د عواقب ده (عاقبتونه سزاګانے)۔ يَسْتَهْزِءُوْنَ یعنی دوی د تکذیب سره استهزاء هم مرکړے کړیده۔

مَّكَّنّٰهُمْ فِى الْاَرْضِ مَالَمْ نُمَكِّنْ لَّكُمْ

تا سو ته چه نه دے درکړے مونږ
ځائ ورکړے وو مونږ هغوی ته په زمکه کښ (دومره)

وَاَرْسَلْنَا السَّمَآءَ عَلَيْهِمْ مِّدْرَارًا ۠ وَّجَعَلْنَا

(دَ ضرورت مطابق) او ګرځولے وو مونږ
او رالیږلے وو مونږ باران (دَ بره ته) په هغوی باندے پرله پسے

الْاَنْهٰرَ تَجْرِىْ مِنْ تَحْتِهِمْ فَاَهْلَكْنٰهُمْ

دَ لاندے (دَ بنګلو) دَ دوی نه. تو هلاک کړل مونږ دوی
وَلے (نهرونه) چه بهیدلے به

بِذُنُوْبِهِمْ وَاَنْشَاْنَا مِنْۢ بَعْدِهِمْ

روستو دَ دوی نه
په سبب دَ ګناهونو دَ دوی. او پیدا کړل مونږ

قَرْنًا اٰخَرِيْنَ ۝ وَلَوْ نَزَّلْنَا عَلَيْكَ كِتٰبًا

قوم نور. او که نازل کړے وے مونږ په تا باندے کتاب (په پوځائ)

سلے دایره دنیوی ده په دے کښ درے انعامات ذکر کړے دی، تمکین او بارانونه او نهرونه. او درے احوال ئے ذکر کړل چه هغه دوه کرته ذکر دَ اهلاک دے او دریم پیدا کول دَ نورو قومونو روستو دَ دوی نه.

قَرْنٍ هغه ډله دَ خلقو چه په یو زمانه کښ وی او دا رنګ یوه موده دَ زمانے چه تقریبًا سل کاله وی.

مَكَّنّٰهُمْ تمکین نه مراد مکانات بنګلے او بادشاهی او مالداری ده.

وَاَرْسَلْنَا اشاره ده لکه چه دوی سرمایه داروؤنو دا رنګ جاګیر دار هم وؤ نو اوچے زمکے په بارانونو سره اٰباد ے شوے. مِدْرَارًا پرله پسے خو دَ حاجت موافق.

تَحْتِهِمْ دَ دوی دَ بنګلو دَ لاندے او دَ دوی په انتظام او په اختیار کښ دی دَ دے وجے نه تحتهم ئے ذکر کړو. فَاَهْلَكْنَا اول اَهلکنا په معنی دَ ارادے دَ اهلاک دے او دا فعل دَ هغے دے یا اول اهلاک په سبب دَ شرک سره دے او دویم اهلاک په سبب دَ نورو ګناهونو سره.

فِي قِرْطَاسٍ فَلَمَسُوهُ بِأَيْدِيهِمْ لَقَالَ

(انغښتې) په کاغذ ونو کښې نو لګولے به وے په هغے بانده دوی لاسونه خپل، خامخا اوبه وائی

الَّذِينَ كَفَرُوا إِنْ هَٰذَا إِلَّا سِحْرٌ مُبِينٌ ۝٧

کافران نه دے دا مګر جادو دے ښکاره.

وَقَالُوا لَوْلَا أُنْزِلَ عَلَيْهِ مَلَكٌ ۖ وَلَوْ أَنْزَلْنَا

او دوی وائی ولے نه شی نازیلیده پر دهٔ بانده ملک (فرښته)؟ او که نازل کړے وے مونږ

مَلَكًا لَقُضِيَ الْأَمْرُ ثُمَّ لَا يُنْظَرُونَ ۝٨

ملک خامخا فیصله به شوے وے د کار د دوی بیا به دوی له مهلت نشی ورکیدے.

وَلَوْ جَعَلْنَاهُ مَلَكًا لَجَعَلْنَاهُ رَجُلًا وَلَلَبَسْنَا

او که جوړ کړے وے مونږ رسول فرښته، نو خامخا جوړ کړے به وُ مونږ هغه سړے (په شکل کښې) او خامخا شک به راوستے وُ مونږ

ٚ دا د دریے سوالونو جوابونه دی، اول سوال چه یو ځل کتاب راوړهٔ د هغے جواب دے په ٚ کښې. فِي قِرْطَاسٍ لیکلے شوے کاغذ ته قرطاس وئیلے شی. کِتٰبًا په معنی د مکتوب سره دے یا مراد کتاب دے او تقدیر داد ے ملفوفاً (انغښتے شوے).

سوال: فرؤه باعینهم یئے ولے ذکر نه کړو؟.

جواب: سمعانی وئیلے دی چه لمس ډیر ابلغ دے په حصول د علم کښې ځکه چه په مرئ (هغه چه په سترګو لیدے کیدے شی) سحر راځی او په ملموس (هغه چه په لاس سره مسح کیدیشی) سحر نه راځی او بله وجه داده چه لمس خوراندوته هم شامل دے.

ٛ دادویم سوال دے چه ملك په دهٔ بانده ولے نه راځی چه د دهٔ سره یره ورکونکے شی لکه په سورة فرقان ٚ کښې دی. نو د هغے جواب اوشو. لَقُضِيَ الْأَمْرُ مراد د دے نه نزول د عذاب دے لکه چه سورة فرقان ۲۲ او سورة حجر ٛ کښې دی.

عَلَيْهِمْ مَّا يَلْبِسُوْنَ ﴿٩﴾ وَلَقَدِ اسْتُهْزِئَ

په دوی باندے هغه چه اوس دوی کوم شک کوی - او یقینًا ټوقے کړے شویدی

بِرُسُلٍ مِّنْ قَبْلِكَ فَحَاقَ بِالَّذِيْنَ

په ډیرو رسولانو پورے ستا نه مخکښ نو را ګیر کړل هغه کسانو لره

سَخِرُوْا مِنْهُمْ مَّا كَانُوْا بِهٖ يَسْتَهْزِءُوْنَ ﴿١٠﴾

چه ټوقے (مسخرے) ئے کولے د دوی نه (عذاب) د هغه څه نه چه دوی ورپورے ټوقے کولے.

قُلْ سِيْرُوْا فِي الْاَرْضِ ثُمَّ انْظُرُوْا كَيْفَ

ته اووایه! اوګرځئ په زمکه کښ بیا اوګورئ چه څنګه

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُكَذِّبِيْنَ ﴿١١﴾ قُلْ لِّمَنْ مَّا

وو انجام د تکذیب کوونکو (حق لره). ته اووایه چا لره دے اختیار د هغه څه

ف۹ دا د دریم سوال جواب دے سوال دا چه د رسول (بشر) په ځائے ملك ولے نه راځی؟ جواب اوشو چه هغه به ضرور په شکل د بشر کښ راځی، نو بیا به په تاسو اشتباه راځی. وجه دا ده چه د الله تعالیٰ احسان دے چه هرے نوعے د مخلوق نه د هغوی رسول رالیږی دے د پاره چه د هغه نه پوره فائده حاصله کړی.
لَلَبَسْنَا یعنی اوس په اشتباه کښ دی د رسول نه چه دا بشر دے نو بیا به هم دا سے شبه کښ وی.

ف۱۰ دا تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته او مراد د دے استهزاء نه دغه سوالونه دی چه بیان شول او د هغے په مثل نور- او د استهزاء سره مسخره لازمه ده ځکه سَخِرُوْا وروسے ذکر کړو ځکه چه په استهزاء کښ معنیٰ د سپکوالی پرته ده. فَحَاقَ په معنیٰ د نزل، حَلَّ او احاط سره راغلے دے.

ف۱۱ دا تعلق لری د مخکښ آیت سره- سِيْرُوْا، سیر د قدمونو مراد دے او سیر د مطالعے پکښ داخلیږی. ثُمَّ انْظُرُوْا نظر نه مراد عام دے علکتل په سترګو
ع۲ فکر او سوچ کول.

فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ قُلْ لِّلّٰهِ ۭ كَتَبَ عَلٰى

چې په اسمانونو کښې دی او زمکه کښې دی ؟ - او وایه الله لره دے - لازم کړے دے په

نَفْسِهِ الرَّحْمَةَ ۭ لَيَجْمَعَنَّكُمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

خپل ځان باندے رحم کول - خامخا جمع به کړی تاسو په ورځ د قیامت کښې

لَا رَيْبَ فِيْهِ ۭ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ فَهُمْ

چه نشته هیڅ شک په هغے کښې - هغه کسان چه تاوان کښې ئے اچولے دی ځانونه خپل، پس دوی

لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿١٢﴾ وَلَهٗ مَا سَكَنَ فِي الَّيْلِ وَالنَّهَارِ ۭ

ایمان نه راوړی - او خاص د الله اختیار کښې دی هغه څه چه ارام کوی په شپه کښې (او خوزیږی) د ورځے.

وَهُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿١٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ

او هغه هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے - نه ورته او وایه ایا سیوا د الله تعالیٰ نه

ﺳ۱۲ د دے ځائے نه دویم باب دے تر ﺳ۳۷ پورے په دے کښې شلور عقلی دلیلونه دی او شلور طریقے د تعلیم دی په لفظ د قُل سره او شلور زجرونه دی او شلور تسلئ دی او شلور تخویف اخروی او یو تزهید فی الدنیا او د یو سوال جواب دے - دا آیت دلیل عقلی اعترافی سکوتی دے چه اختیار د بره او ښکته د یو الله تعالیٰ دے او هغه په ځان باندے رحم لازم کړے دے د پاره د ایمان والو دا سے د دے سورت په ﺳ۵۵ او اعراف ﺳ۱۵۶ کښې هم دی او رحم په کافرانو باندے دا دے چه عذاب ئے د هغوی نه تر ورځ د قیامت پورے روسته کړے دے لیکن کوم خلق چه ځان ئے په نقصان کښې اچولے دے او د توحید نه منکر دی نو هغوی پس د دلیل نه هم ایمان نه راوړی.

سوال: عدم ایمان سبب دے د پاره د خسران او د دے ځائے نه برعکس معلومیږی؟
جواب: دلته خسران نه مراد دا دے چه کار د عقل او د علم ئے پریښودلے دے دلیلونو د قران ته غور نه ږدی او په تقلید کښې اخته شویدی نو دا سبب دے د پاره د عدم ایمان. نو په دے آیت کښې اول دلیل عقلی اعترافی دے بیا ترغیب دے ایمان ته بیا تخویف دے بیا زجر دے.

ﺳ۱۳ دا بل دلیل دے. سَكَنَ ارام کوی د شپے او خوزیږی وَالنَّهَارِ په ورځ کښې.

أَتَّخِذُ وَلِيًّا فَاطِرِ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ وَ

ځه اونيسم مددګار، پيدا کوونکے دے دَ اسمانونو او دَ زمکے او

هُوَ يُطْعِمُ وَلَا يُطْعَمُ ۗ قُلْ إِنِّي أُمِرْتُ

هغه خوراک ورکوی او نشی ورکيدے خوراک هغه ته - ته اووايه يقيناً حکم کړے شويدے ماته

أَنْ أَكُونَ أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ وَلَا تَكُونَنَّ

چه يم به ځه اول (رومبے) دَ هغه چا نه چه توحيد منی، او مه کيږه ته دَ

مِنَ الْمُشْرِكِينَ ⑭ قُلْ إِنِّي أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ

دَ مشرکانو دَ ډلے نه - ته ورته اووايه يقيناً ځه يريږم که نافرمانی اوکړم ځه

نشر (خوريدل) لفظ دلته پټ دے په دليل دَ سورة فرقان ٤٧ سره او تخصيص دَ سکون ئے دَ دے وجے نه اوکړو چه رحمت او نعمت په سکون کښ زيات دے دَ حرکت او دَ نشر نه مخکښ دليل دَ مکانياتو پورے متعلق وو او دا دليل دَ زمانياتو سره تعلق لری - او که سکن په معنی دَ اوسيدلو سره وی نو بيا نشر ته ضرورت نيشته -

١٤ دا طريقے دَ تعليم دی او جوابونه دَ سوالونو او دا اول قسم دے مقصد پکښ پښيدل دی په عقيده دَ توحيد باندے - اول سوال زمونږ معبودانو ته مددګار اووايه - جواب اوشو په اول قُلْ سره - دويم سوال داچه توحيد منل څه ضروری خبره نه ده - جواب اوشو په دويم قُل سره چه دا خو ماموربه مسئله ده تردے پورے چه دَ دے مسئلے دَ وجے نه براءت کول لازم دی دَ مشرکانو نه (ولا تکونن من المشرکين) - وَلِيًّا رب، معبود او مددګار - فَاطِرَ په دے کښ اشاره ده چه دا دواړه ئے دَ جدا جدا مادونه راويستل په اول را ويستلو سره - وَهُوَ يُطْعِمُ روزی ورکول دَ هغه په اختيار کښ دی - وَلَا يُطْعَمُ په دے سره هغه وهم ردکوی چه والدين هم اولاد ته طعام ورکوی بعضِ پيران لنګرے ورکوی؟ جواب دا دے چه الله تعالیٰ طعام ته حاجت نه لری او نور مخلوقات خو طعام ته محتاج دی سورة مائده ٧٥ سورة ذاريات ٥٧ ٥٨ - أَوَّلَ مَنْ أَسْلَمَ ځکه چه نبی په امت کښ اول مسلمان وی لکه دَ سورت په ١٦٣ کښ رائی -

رَبِّيْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيْمٍ ﴿١٥﴾ مَنْ يُّصْرَفْ

دَ حکم دَ رب خپل، دَ عذاب دَ ورځې لوئې نه۔ هغه څوک چه لرې کړې شو

عَنْهُ يَوْمَئِذٍ فَقَدْ رَحِمَهٗ ۭ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ

دَ هغه نه عذاب په دغه ورځ، نو یقینًا رحم او کړو الله تعالیٰ په هغه باندې۔ او دا کامیابي ده

الْمُبِيْنُ ﴿١٦﴾ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ اللّٰهُ بِضُرٍّ فَلَا

ښکاره۔ او که اورسوی تا ته الله تعالیٰ څه تکلیف نو نیشته

كَاشِفَ لَهٗٓ اِلَّا هُوَ ۭ وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ

هیڅ لرې کوونکې دَ هغې سیوا دَ الله تعالیٰ نه۔ او که اورسوی تا ته څه خیر

فَهُوَ عَلٰي كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٧﴾ وَهُوَ الْقَاهِرُ

نو هغه په هر څه باندې قدرت لرونکې دې۔ او هغه زور اور دې

۱۵ دې کښې دَ دریم سوال جواب دې سوال دا دې چه په نه منلو څه نقصان راځي؟ جواب په دریم قُلْ سره دې چه دَ لوئې عذاب یره ده۔

عَصَيْتُ رَبِّيْ دلته مراد عصیان دې په شرک کولو سره او خوف دَ عذاب عظیم دلالت کوی په گناهِ کبیره کیدلو باندې۔ يَوْمٍ عَظِيْمٍ نوم دې دَ نوموتو دَ ورځې دَ قیامت نه

۱٦ په دې کښې عظمت دَ عذاب ته اشاره ده او په دې کښې او فرمائیل چه دَ هغه عذاب نه بچ کیدل رحم دَ الله دې لکه سورۃ آل عمران ۱۸۵ او سورۃ مؤمن ۹ کښې دی۔

۱۷ دا بل دلیل عقلی دې چه ضرر (مرض، فقر وغیره) لرې کوونکې دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک نیشته او خیر ورکوونکې (صحت مال نور حاجتونه پوره کوونکې) دَ الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک نیشته او دا ښکاره رد دې په هغه چا باندې چه اولیاء که مړه وی یا ژوندی وته په امید دَ نفع او ضرر سره دَ رامدد شه چغې وهي او دا یقینًا شرک او کفر دې۔ په دې آیت کښې رد دَ شرک فی التصرف دې لکه په سورۃ یونس ۱۰۷ کښې او سورۃ فاطر ۲ کښې دی۔ يَمْسَسْكَ، مس او ضر نکره دلالت کوی چه اگر چه که ضرر قلیل وی یا کثیر وی او دَ مس اسناد ئې الله تعالیٰ ته کړیدې ځکه چه عام مشرکان مصیبت دَ طرف دَ

فَوْقَ عِبَادِهٖ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿۱۸﴾

پورته دے دَ بندګانو خپلو نه. او هغه حکمتونو والا خبردار دے.

قُلْ اَيُّ شَيْءٍ اَكْبَرُ شَهَادَةً ؕ قُلِ اللّٰهُ ۟

ته اووایه څه شے ډیر لوئے دے په ګواهئ کښ ؟ ته ورته اووایه الله تعالیٰ.

شَهِيْدٌۢ بَيْنِيْ وَبَيْنَكُمْ ۟ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ

ګواه دے په مینځ ځما او ستاسو کښ. او وحی کړے شویده ما ته

هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ؕ

دَ دے قرآن دے دَپاره چه یره درکړم تاسو ته په دے سره او هغه چا ته چه رسیږی ورته دا قرآن

اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ اَنَّ مَعَ اللّٰهِ اٰلِهَةً اُخْرٰى ؕ

ایا تاسو دا منئ چه بیشکه دَ الله تعالیٰ سره نور دَ بندګئ لائق شته ؟

الله تعالیٰ نه ګنړی وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ اه په عبارت کښ تقدیر دے یعنی "وَاِنْ يَّمْسَسْكَ بِخَيْرٍ فیقدر علی اتمامه وان اراد الغير قطعه فهو علی كل شیٔ قدير فیقدر علی منعه." په سورة یونس کښ وان يردك بخير وئیلے دے ځکه چه فعل دَ مس نه مخکښ اراده دَ الله تعالیٰ وی نو په دے سورت کښ مقصد دلیل دے په رد دَ شرک فی التصرف نو لفظ دَ مس دَ تصرف سره مناسب دے او سورة یونس کښ مقصد اصلاح او پوخوالے دَ عقیدے دے او دَ عقیدے سره دَ ارادے مناسبت دے

ف۱۸ دا بل دلیل عقلی دے. اَلْقَاهِرُ هغه غالب چه چرے نه مغلوب کیږی او یوائے نظام چلوونکے، دا معنی سمعانی ذکر کړے ده او دا سے دَ دے سورت په ۶۱ کښ شته. فَوْقَ لفظ دَ متشابهات نه دے، په دے کښ عقیده دَ سلف صالحینو دا ده چه په ظاهر معنی حقیقی باندے به ایمان لرو او علم دَ حقیقت به الله تعالیٰ ته سپارو او تشبیه دَ مخلوق سره به نه کوو او نه به دَ دے صفت نه انکار کوؤ. نو مراد به دا وی چه دا سے فوقیت او اوچتوالے چه دَ الله تعالیٰ دَ شان سره ښائیږی. او هغه فوقیت دَ عرش دَ پاسه دے په سبب دَ صریح نصوصو سره او فوقیت دَ الله تعالیٰ پ۱۸ سورت ۵۰ او نحل ۵۰ کښ ذکر دے.

قُلْ لَّآ اَشْهَدُ ۚ قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ

نه ورته اووايه چه ځه خو نه منم. نه اووايه چه يقيناً هغه حقدار د بندګئ يو دے

وَّاِنَّنِيْ بَرِيْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ⑲ اَلَّذِيْنَ

وقف لازم

او يقيناً ځه ځان پاک (لرے) ساتم د هغے نه چه ځه شرک کوئ تاسو. هغه کسان

اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَعْرِفُوْنَهٗ كَمَا يَعْرِفُوْنَ

چه ورکړے مونږ هغوی ته کتاب پيژنی دے نبی لره (په صداقت د توحيد کښ) لکه چه پيژنی

اَبْنَآءَهُمْ ۘ اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

وقف لازم

ځامن خپل. هغه کسان دی چه تاوانی کړے يې دی ځانونه خپل

۱۹ داهم طريقه د تعليم ده جواب د سوال دے چه تاسو مونږ ته په توحيد باندے او په خپل صداقت باندے هيڅ ګواه پيش نه کړو نو جواب اوشو چه لوئے ګواه په دے خبره الله تعالیٰ دے اوقرآن يې د دے د پاره راليږلے دے. قُلِ اللّٰهُ د دے نه استدلال شوے چه د شیٔ اطلاق په الله تعالیٰ باندے کيږی ليکن حقه خبره داده چه په نقل (قرآن او حديث) کښ دا اطلاق په الله تعالیٰ باندے صراحةً نه دے ثابت صرف منطقی قانون د دے مسئلے د پاره کافی نشی کيدلے. شَهِيْدٌ بَيْنِيْ اه شهادت د الله تعالیٰ په اثبات د توحيد او په براءت سره د انداد او اضدادو نه دے (نيشاپوری). وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ اشاره ده چه شهادت د الله تعالیٰ په قرآن کښ ذکر دے. لِاُنْذِرَكُمْ فائده د وحی د قرآن د منکرينو د پاره انذار دے د دے وجے نه يې بشارت ذکر نه کړو.
وَمَنْۢ بَلَغَ د دے نه معلومه شوه چه محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم ترقيامته پورے رسول دے ځکه چه چا ته قرآن اورسی نو د هغه نذير د غه نبی صلی الله عليه وسلم دے اودا دليل دے چه په احکامو د قرآن سره په وخت د نزول کښ او روستو موجود يدونکی ټول مخاطب دی اودا دليل دے په ختم د نبوت سره په محمد صلی الله عليه وسلم باندے.
اَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُوْنَ استفهام د زجر د پاره دے. قُلْ اِنَّمَا هُوَ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ اوله کلمه کښ توحيد دے او په دويمه کښ براءت د شرک نه. او په دے ايت کښ

ع ۸ فَهُمْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿۲۰﴾ ع وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ

پس دوی ایمان نه لری - او څوک ډیر لوئے ظالم دے د هغه چانه

افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ ؕ

چه جوړوی په الله تعالیٰ بانده دروغ یا دروغژن کنړی ایاتونه د هغه.

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿۲۱﴾ وَيَوْمَ نَحْشُرُهُمْ

یقینًا نشي بچ کیدے ظالمان - او په هغه ورځ چه جمع به کړی دے ټولو له

جَمِيْعًا ثُمَّ نَقُوْلُ لِلَّذِيْنَ أَشْرَكُوْٓا

په یو ځائے بیا به او وایو هغه کسانو ته چه شرک ئے کړیدے

نتیجه ده په توحید سره د مخکښ دلیلونو۔

سنہ روستو د شهادت د الله تعالیٰ نه شهادت د علماؤ ذکر کوی نو دا دلیل نقلی دے د مخکښ کتاب منونکو نه۔ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ دا لفظ د صالحینو کتابیانو د پاره استعمالیږی يَعْرِفُوْنَهٗ ضمیر راجع دے محمد صلی الله علیه وسلم ته سره د صفاتو د هغه نه یا راجع دے قراٰن ته (سمعانی)۔ یا راجع دے هغه خبر ته چه نبی صلی الله علیه وسلم راوړے دے (ابن کثیر) اَلَّذِيْنَ خَسِرُوْٓا په سلا کښ منکرین د قیامت مراد وو او دلته منکرین د رسول او د قراٰن مراد دی۔ -

سلا دا زورنه ده شرک کوونکو ته او ذکر د سبب د خسران دے۔ افْتَرٰى په الله تعالیٰ دروغ جوړوی یعنی نسبت د شرک د جواز الله تعالیٰ ته کوی یا دعوٰی د نبوت کوی په دروغه سره۔ اَوْ كَذَّبَ یعنی ایاتونه د توحید نه منی دروغژن ئے کنړی یا ایاتونه د قراٰن نه منی او دا دواړه ډلے ظالمان دی او دا سے په دے سورت سلا او سلا او سورة اعراف سلا او سورة یونس سلا او سورة هود سلا او سورة کهف سلا او سورة عنکبوت سلا او سورة صف سلا کښ هم دی۔

أَيْنَ شُرَكَآؤُكُمُ الَّذِينَ كُنتُمْ تَزْعُمُونَ ﴿۲۲﴾

چه څه شول مددګاران ستاسو هغه چه تاسو پرے ګمان کوؤ (چه دوی سفارشیان دی).

ثُمَّ لَمْ تَكُن فِتْنَتُهُمْ إِلَّآ أَن قَالُوا وَاللَّهِ

بیا به نه وی بهانه دَ دوی مګر دا چه وائي به قسم دے په الله

رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ ﴿۲۳﴾ أُنظُرْ كَيْفَ كَذَبُوا

چه رب زمونږ دے، نه وو مونږ به شرک کوونکي. اوګوره څه رنګه دروغ اوئیل دوی

عَلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ وَضَلَّ عَنْهُم مَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ ﴿۲۴﴾

په ځانونو خپلو باندے. او ورک به شي دَ دوی نه هغه چه دوی څه دروغ جوړول.

۲۲ دا یره اُخروی ده هغه مشرکانو ته چه نیکان بندګان ئے دَ الله تعالیٰ سره شریک کړے دی په ورځ دَ قیامت به هغوی دَ دوی نه غائب وی او دوی به دَ شرک نه انکار اوکړی. لِلَّذِينَ أَشْرَكُوا شربیني وئیلے دی دا عام دے هغه چا ته چه بندګي ئے دَ بتانو کړے ده یا دَ عزیر او مسیح یا دَ تیارے او رنړا وغیره.
شُرَكَآؤُكُمْ اضافت دَ دے وجے نه دے چه تاسو دوی مسمّیٰ کړے وُو په شرکاء سره. تَزْعُمُونَ، زعم اکثر قول او عقیدے باطلے ته وئیلے شي.
۲۳ وَاللَّهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِينَ اوله معنیٰ دا ده چه قسم په الله تعالیٰ چه مونږ شرک نه دے کړے (دوی به انکار اوکړی بیا به الله تعالیٰ خله دَ دوی بنده کړی او اندامونه به ئے ګواهي ورکړی نو بیا به اقرار کوی)- دویمه معنیٰ دا ده چه قسم دے مونږ چه څه کړے دی هغه شرک نه وُو هغه خو وسیله وه او دَ بزرګانو سره محبت وُو. دَ اولے معنی تاکید په سورة مؤمن ۷۴ کښې دے او دَ دویمے معنی په سورة نحل ۲۸ کښې. فِتْنَتُهُمْ په معنی دَ قول او دَ عذر او دلیل دے او سمعاني وئیلے دی چه یو انسان مفتون شي په یو محبوب څیز باندے بیا ورته پدیکښې مصیبت اورسی نو دے دَ هغه محبوب نه براءت اوکړی نو اوئیلے شي چه نه وه دَ دهٔ فتنه مګر دا وه.
۲۴ دروغ قصے دَ شرک چه دوی دَ ځان نه جوړے کړے وے هغه به دَ دوی نه هیرے شي یا هغه معبودان چه دوی دَ هغوی عبادت کوؤ سیوا دَ الله تعالیٰ نه

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّسْتَمِعُ اِلَيْكَ ۚ وَجَعَلْنَا عَلٰى

اوبعض د دوی نه هغه څوک دی چه غوږ کیږدی تاته (خو نه پوهیږی) ځکه چه پیدا کړیدی مونږه په

قُلُوْبِهِمْ اَكِنَّةً اَنْ يَّفْقَهُوْهُ وَفِيْٓ اٰذَانِهِمْ

زړونو د دوی باندے پردے د پوهے د دے قرآن نه او په غوږونو د دوی کښ

وَقْرًا ؕ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوْا بِهَا ؕ

درون والے دے۔ اوکه اووینی دوی هر قسم نخه نو ایمان نه راوړی په هغے

حَتّٰٓى اِذَا جَآءُوْكَ يُجَادِلُوْنَكَ يَقُوْلُ الَّذِيْنَ

تر دے پورے چه راشی تاته (نزدے)، جګړه کوی تا سره وائی دا

كَفَرُوْٓا اِنْ هٰذَآ اِلَّآ اَسَاطِيْرُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۲۵﴾

کافران نه دے دا قرآن مګر قیصے دی د زړو خلقو۔

هغه به د دوی نه غائب شی۔

ف۲۵ دا ایت زورنه ده چه قرآن ته غوږ کلای په اراده د تکذیب او استهزاء سره نو په مقصد د هغے (چه توحید دے) نه پوهیږی ځکه چه د ضد د وجے نه زړونه او غوږونه اوسترګے یے د حق نه بند اوی۔ او قرآن بیان کوونکی سره جګړه کوی او قرآن ته زړے دروغ قصے وائي۔ وَجَعَلْنَا اشاره ده چه دا بند اول د حواسو د دوی الله تعالیٰ کړے دی نو څوک یے بدلولے نه شی او دیته جعل تکوینی (تقدیری) وئیلے شی۔ وَاِنْ يَّرَوْا كُلَّ اٰيَةٍ اه دا اشاره ده روند والی ته د حق نه چه د سترګو آفت دے دا سے په سورة کهف ۵۷ کښ هم دی۔

حَتّٰٓى اِذَا اه یعنی اول خو د لرے نه غوږ کیدای بیا د عناد د وجے نزدے کیږی د پاره د جنګ کولو۔ يُجَادِلُوْنَكَ مجادله د خلے بحث کول او مناظرے کولو ته وئیلے شی۔ اَسَاطِيْرُ جمع د اسطورة ده لیکلے شوے ته وئیلے شی اوس هم د قرآن په باره کښ د منکرینو خیال دے چه دا د قصو کتاب دے دا رنګ بعض وائي چه د دے د نزول د پاره جدا جدا قصے دی نو دا په هغه قصو پورے خاص دے په بل څیز باندے چسپان نشی کیدلے۔

وَهُمْ يَنْهَوْنَ عَنْهُ وَيَنْـَٔوْنَ عَنْهُ ۚ

او دوی منع کول کوی دَ هغه نه او لرے کیږی دَ هغه نه ،

وَإِنْ يُهْلِكُونَ إِلَّآ أَنفُسَهُمْ وَمَا يَشْعُرُونَ ﴿٢٦﴾

او نه هلاکوی دوی مګر ځانونه خپل او دوی نه پوهیږی۔

وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذْ وُقِفُوا۟ عَلَى ٱلنَّارِ فَقَالُوا۟

او که او وینے تہ هغه وخت چه اوبه درولے شی دوی دَ اُور په خواکښ پس وائی به

يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِـَٔايَٰتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ

هائے افسوس دے زمونږ چه واپس کړے شوے مونږه (دُنیا ته) او نه وے دروغژن کړے مونږ دا ایتونه دَ رب خپل او وے مونږ

مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿٢٧﴾ بَلْ بَدَا لَهُم مَّا كَانُوا۟

دَ مؤمنانو نه۔ بلکه ښکاره شو دوی ته هغه څه چه

سـ۲۶ داهم زورنه ده عطف دے په ماقبل باندے ذدے یو معنیٰ دا ده چه دَ قرآن نه نور خلق منع کوی او پخپله هم لرے ګرځی بله معنیٰ دا ده چه دَ دے پیغمبر دَ تکلیف ورکولو نه خلق منع کوی لیکن پخپله ئے نه منی لکه ابو طالب چه وؤ او دَ هغه اشعار شربینی او سمعانی وغیره نقل کړے دی۔

سـ۲۷ دا یره اُخروی ده او ذکر دَ افسوس دے په قرآن او په توحید پسے۔

وَلَوْ تَرَىٰٓ جزا پټه ده یعنی (ضرور او به وینے ناکاره حال دَ دوی)۔ عَلَى ٱلنَّارِ په لفظ دَ علیٰ کښ اشاره ده چه اودرول دَ دوی ډیر قریب دی اُور ته۔ او وَقِفُوا۟ هغه پیش کیدل دی چه ورسره معنیٰ دَ خبریدلو وی په حقیقت باندے۔

يَٰلَيْتَنَا نُرَدُّ په دے کښ تمنّا دَ واپس کیدلو ده دنیا ته او دا په ډیرو ایاتونو کښ ذکر ده. لکه سورة الم سجده سـ۱۲ فاطر سـ۳۷ سورة مؤمنون سـ۹۹۔ وَلَا نُكَذِّبَ په زور دَ باء سره په تقدیر دَ ان سره جواب دَ تمنا دے او دا سے لفظ دَ نکون هم دے یعنی اذا نرد فلا نکذب (کله چه واپس شو بیا به تکذیب نه کوو)۔

يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَوْ رُدُّوْا لَعَادُوْا

پټوو دوی مخکښې دَ دے نه ۔ او که واپس شول دوی دنیا ته خامخا او به کرځي

لِمَا نُهُوْا عَنْهُ وَاِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿۲۸﴾ وَقَالُوْٓا

هغه کارونو ته چه منع شوی دی دوی دَهغے نه او یقینًا دوی خامخا دروغژن دی۔ او وائي دوی

اِنْ هِيَ اِلَّا حَيَاتُنَا الدُّنْيَا وَمَا نَحْنُ بِمَبْعُوْثِيْنَ ﴿۲۹﴾

نه دے دا مګر ژوند دے زمونږه دنیا دے او نه یو مونږه دوباره پورته کړے شوي۔

وَلَوْ تَرٰٓى اِذْ وُقِفُوْا عَلٰى رَبِّهِمْ ؕ قَالَ اَلَيْسَ

او که او وینے ته هغه وخت چه پیش به شي دوی رب خپل ته ۔ او به وائي آیا نه دے

هٰذَا بِالْحَقِّ ؕ قَالُوْا بَلٰى وَرَبِّنَا ؕ قَالَ

دا (ژوند) حق ۔ دوی به او وائي هاؤ ولے نه قسم دے په رب زمونږ۔ او به وائي الله تعالٰی

فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ تَكْفُرُوْنَ ﴿۳۰﴾ ع

پس اوڅکئ عذاب په سبب دَ هغے چه تاسو کفر کوؤ۔

قَدْ خَسِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِلِقَآءِ اللّٰهِ ؕ

یقینًا تاوان کښې پریوتل هغه کسان چه دروغژن کړی پیښی دَ الله تعالٰی۔

ع ۱۰ / ۹

نشــ۲۸ دا تعلق لری دَ مخکښی ایت سره چه افسوس دَ دوی دَ زړه دَ یقین په وجه نه دے۔ بَلْ بَدَا لَهُمْ مَّا كَانُوْا يُخْفُوْنَ مِنْ قَبْلُ معنٰی دا ده ښکاره شو دوی ته هغه شرک چه پټوو دوی مخکښی دَ دے نه په دے قول وَاللّٰهِ رَبِّنَا مَا كُنَّا مُشْرِكِيْنَ یعنی ښکاره شو په ګواهئ دَ اندامونو سره. بله معنٰی دا ده ښکاره شو تعبدا روته هغه (حق) چه پټوؤ مشرانو باغیانو دَ دے نه مخکښی، دا قول دَ زجاج دے. دریمه معنٰی دا ده چه ښکاره شو دوی ته هغه عذاب چه پټ وؤ دَ دوی نه مخکښی، دا قول دَ مبرد دے۔

نشــ۲۹ دا زورنه په انکار دَ بعثت سره ده او دا علت دے دَ پاره دَ کاذبون. هِيَ ضمیر راجع دے حیاة معروفه ته۔

نشــ۳۰ روستو دوه ایاتونه دَ دے سره متعلق دی او دَ پاره دَ اثبات دَ بعثت دی سره دَ تخویف نه

حَتّٰٓى اِذَا جَآءَتْهُمُ السَّاعَةُ بَغْتَةً قَالُوْا

ترهغې پورې چه راشي دوی ته قيامت ناساپه دوی به او وائي

يٰحَسْرَتَنَا عَلٰى مَا فَرَّطْنَا فِيْهَا ۙ وَهُمْ

هائې افسوس دې زمونږ په کوتاهئ په باره دَ قيامت کښې او دوی به

يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ عَلٰى ظُهُوْرِهِمْ ۗ

پورته کوی بيټې دَ گناهونو خپلو په شاګانو خپلو باندې.

اَلَا سَآءَ مَا يَزِرُوْنَ ﴿٣١﴾ وَمَا الْحَيٰوةُ الدُّنْيَآ

خبردار بد دې هغه بوج چه دوی يې پورته کوی. او نه دې ژوند دنيوی

اِلَّا لَعِبٌ وَّلَهْوٌ ۗ وَلَلدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

مګر لوبې او مشغله ده. او خامخا کور روستنې (جنت) غوره دې

لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ۗ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿٣٢﴾ قَدْ نَعْلَمُ

هغه چا له چه ځان بچ کوی (دَ شرک نه) ايا نو عقل نه لرئ تاسو. يقيناً پوهيږو مونږ

٣١ سَاعَةُ قيامت ته ځکه وائي چه حساب به په هغې کښې زر کيږي. دا هم اثبات دَ قيامت دې سرۀ دَ زجر او تخويف اخروی نه.

بَغْتَةً هغه دې چه وخت مقرر يې معلوم نه دې اګرچه علامات يې معلوم وی

يٰحَسْرَتَنَا حسرت افسوس کول په فوت شوې څيز پسې او سخت دردمند کيدل او يا حَسْرَتَا کښې ډيره مبالغه ده په نسبت دَ انا متحسرٌ.

فَرَّطْنَا فِيْهَا ضمير دنيا ته راجع دې نو فِيْ ظرفيه دې يا راجع دې ساعة ته او فِيْ شانيه دې.

وَهُمْ يَحْمِلُوْنَ اَوْزَارَهُمْ اه هر کله چه دَ تفريط نسبت دوی ګمراهانو مشرانو ته کوؤ او وئيل يې چه ګناه زمونږ دَ هغوی په غاړه دې نو الله تعالیٰ دا وهم دَ دوی رد کړو او دا کنايه ده دَ لزوم دَ ګناهونو نه په دوی پورې.

٣٢ دا تزهيد في الدنيا دې دَ بې رغبتئ دَ دُنيا نه او ترغيب دې اٰخرت ته. په دې جمله کښې درې توجيه دی، اول دا چه لکه څنګه چه دَ لوبو موده لږه وی

إِنَّهُ لَيَحْزُنُكَ الَّذِي يَقُولُونَ فَإِنَّهُمْ

چه خامخا خفه کوی تا لره هغه خبرے چه دوی یې وائی پس یقیناً دوی

لَا يُكَذِّبُونَكَ وَلَٰكِنَّ الظَّالِمِينَ بِآيَاتِ اللَّهِ

دروغژن نه گڼری تا. او لیکن دا ظالمان د ایاتونو د الله تعالیٰ نه

يَجْحَدُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَقَدْ كُذِّبَتْ رُسُلٌ

انکار کوی. او یقیناً دروغژن وګڼلے شویدی ډیرو رسولانو ته

مِّن قَبْلِكَ فَصَبَرُوا عَلَىٰ مَا كُذِّبُوا

مخکښ ستا نه نو صبر کړیوو دوی (رسولانو) په هغې چه دوی ته دروغژن وئیلے کیدل

وَأُوذُوا حَتَّىٰ أَتَاهُمْ نَصْرُنَا وَلَا مُبَدِّلَ

او دوی ته به وئیلے کیدل تر دے چه راغئ دوی ته مدد زمونږ او نیشته هیڅ بدلوونکے

دارنګ ژوند د دنیا لره دے دویم داچه سامان د ژوند هغه چه اخرت پرے نه طلب کیږی په شان د لهو لعب دے چه هیڅ انجام او فائده یې نیشته دریم دالهو ولعب باطل او دهوکے ته وائي یعنی دنیا انسان لره د اخرت نه غافل کوی. لعب هغه څیز ته وائي چه هیڅ فائده په کښ نه وی. لهو هغې ته وائي چه زړه پرے مشغوله کیږی. دویم فرق دا دے چه لعب هغه بے فائدے څیز دے چه مقصد په کښ زړ خوشحالی حاصلول وی، او لهو کښ خوشحالی مقصد نه وی بلکه زړه مشغولول وی. خَيْرٌ غوره ځکه دے چه باقی او همیشه دے.

۳۳ داتسلی ده نبی ته اوله خبره داده چه دوی ستا تکذیب نه کوی بلکه دوی د الله تعالیٰ د ایاتونو (یعنی توحید) انکار کوی. قَدْ نَعْلَمُ دا عنوان د محبت او د تسلئ دے. الَّذِي يَقُولُونَ مراد د دے هغه اقوال د منکرینو دی چه مخکښ د هغونه نقل شول په ۲۹ ۲۵ ۸ کښ او دارنګ سب وشتم نبی صلی الله علیه وسلم ته. فَإِنَّهُمْ لَا يُكَذِّبُونَكَ د دے یو توجیه داده چه دوی ستا تکذیب په زړه کښ نه کوی صرف په ژبه باندے د ضد د وجے نه انکار کوی. دویم دوی تا ته کاذب نه وائي بلکه صادق او امین وائي لیکن د قرآن نه انکار کوی لکه چه د ابو جهل نه نقل دے چه هغه وئیل چه والله مونږ ستا تکذیب نه کوؤ

بِكَلِمٰتِ اللّٰهِ وَلَقَدْ جَآءَكَ مِنْ نَّبَاِی

د کلمو (وعدو د امداد) د الله تعالیٰ او یقیناً راغلی دی تا ته بعض خبرونه

الْمُرْسَلِيْنَ ۝۳۴ وَاِنْ كَانَ كَبُرَ عَلَيْكَ

د پیغمبرانو . او که گران وی په تا باندے

اِعْرَاضُهُمْ فَاِنِ اسْتَطَعْتَ اَنْ تَبْتَغِيَ

مخ اړول د دوی نو که ته طاقت لرے د دے چه طلب کړے

نَفَقًا فِي الْاَرْضِ اَوْ سُلَّمًا فِي السَّمَآءِ

یو سورئ په زمکه کښ یا اندرپایه اسمان ته

فَتَاْتِيَهُمْ بِاٰيَةٍ ۭ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ لَجَمَعَهُمْ

پس چه راوړے ته دوی ته څه نخه. او که غوختے الله تعالیٰ خامخا جمع کړے به یے دوی لره

النصف

عَلَى الْهُدٰى فَلَا تَكُوْنَنَّ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ۝۳۵

په هدایت باندے، پس مه کیږه ته د نا پوهو نه .

بلکه تکذیب د هغه څیز کووچه تا راوړے دے. بِاٰيٰتِ اللّٰهِ د دے نه مراد ایاتونه د توحید دی لکه چه سورة یونس ۱۵ نه معلومیږی.

۳۴ دا دویمه تسلی ده یعنی دویمه خبره داده که دوی ستا تکذیب کوی نو مه خفه کیږه الله تعالیٰ به درسره امداد اوکړی لکه چه تیر شوے رسولانو سره مدد کړے شوے دے. عَلٰى مَا كُذِّبُوْا علی په معنی خپله سره دے یا په معنی د مع دے ما مصدریه دے. اُوْذُوْا ایذاء عامه ده د تکذیب نه او ایذاء قولی عملی ټولو ته شامل ده. لِكَلِمٰتِ اللّٰهِ لکه په سورة یونس ۱۰۳ او صافات ۱۷۲ کښ ذکر دی. وَلَقَدْ جَآءَكَ یعنی تفصیل د نصرت په واقعاتو د مرسلینو کښ اوګوره.

۳۵ دا دریمه تسلی ده او دا ایت دلیل دے چه په معجزه کښ د نبی صلی الله علیه وسلم اختیار او قدرت نیشته. حاصل دا دے چه نبی صلی الله علیه وسلم ډیر حرص کوونکے وو په هدایت د ګمراهانو باندے که چرے قادر وے

وقف منزل

إِنَّمَا يَسْتَجِيبُ الَّذِينَ يَسْمَعُونَ ۘ وَالْمَوْتَىٰ

يقيناً قبلوي (حق لره) هغه کسان چه اوري او کافران (چه پشان د مړو دي)

وقف غفران

يَبْعَثُهُمُ اللَّهُ ثُمَّ إِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٣٦﴾ وَقَالُوا

پورته به کړي الله تعالیٰ دوي لره بیا به هغه ته او ګرځولے شي ۔ او وائي دوي

لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ آيَةٌ مِّن رَّبِّهِ ۚ قُلْ إِنَّ اللَّهَ

ولے نشي نازلیدلے په ده باندے نخه د طرف د رب د ده نه ۔ ته او وایه یقیناً الله تعالیٰ

قَادِرٌ عَلَىٰ أَن يُنَزِّلَ آيَةً وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ

قدرت لري په دے چه نازل کړي نخه او لیکن زیات خلق د دوي

چه د سورنګ د زمکے یا آسمان ته د ختلو په ذریعه معجزه حاصلیدلے شوے نو دے نبی به دا کار کړے وولیکن د هغه په قدرت کښ نیشته. نَفَقًا فِي الْأَرْضِ أَوْ سُلَّمًا الخ مطلب دا دے چه منکرینو چه معجزات طلب کول نو هغه د زمکے او د آسمان سره تعلق لري لکه په سورة اسراء نمبر ۹۰ سے ۹۲ کښ. فَتَأْتِيَهُم بِآيَةٍ نه روستو فا فعل پټ دے. وَلَوْ شَاءَ اللَّهُ الخ دا هم په تسلئ د رسول کښ داخل ده چه اے نبی هدایت په مشیت د الله تعالیٰ سره دے ستا په اختیار کښ نه دے نو په دے خفګان مه کوه. لَجَمَعَهُمْ عَلَى الْهُدَىٰ یعنی دوي ټولو له به یئے توفیق د هدایت ورکړے وے. مِنَ الْجَاهِلِينَ هغه خلق چه ملازمه د مشیت او د هدایت نه مني دا رنګ هغه څوک چه تکذیب او د انکار د خلقو په وجه سره بے صبري اوکړي دا کار د جاهلانو دے. فَلَا تَكُونَنَّ کښ مقصد بچ ساتل د نبی دي د حال د جاهلانو نه.

۳۶ دا هم تسلي ده رسول الله صلی الله علیه وسلم ته۔ په دے آیت کښ علت د عدم هدایت د منکرینو ذکر دے چه هغه د ضد او عناد د وجے نه نه اوریدل د حق دي. وَالْمَوْتَىٰ مراد د دینه هغه کافران عنادیان دي چه نه اوریدلو کښ پشان د مړو دي. د دے تشبیه نه معلومه شوه چه مړي نه اوري دا سے په تفسیر خازن او نیشاپوری او سراج المنیر وغیره کښ لیکلے دي. يَسْتَجِيبُ مفعول پټ دے یعنی دعوة الایمان. يَسْمَعُونَ سماع د انابت او د فهم حاصلولو مراد ده.

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۷﴾ وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ

نه پوهیږي - او نیشته هیڅ ژوندی سر په زمکه کښې

وَلَا طٰٓئِرٍ يَّطِيْرُ بِجَنَاحَيْهِ اِلَّآ اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ ط

او نه مرغۍ چه الوځي په وزرو خپلو مګر ډلې دي ستاسو پشان

مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتٰبِ مِنْ شَيْءٍ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمْ

نه دے پرېخې موږ په دے کتاب کښې د هیڅ ضروري مسئلے (د دین) نه بیا به رب خپل ته

يُحْشَرُوْنَ ﴿۳۸﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

جمع کړے شي - او هغه کسان چه دروغژن کړي ایاتونه زموږ

ف۳۷ دا زورنه ده او سوال او جواب دے. اٰيَةً د دینه هغه معجزات مراد دي چه کافرانو طلب کول، دا عطف دے په ماقبل باندے یعنی موتیٰ (کافران) نه اوري بلکه طلب د معجزے کوي. لَا يَعْلَمُوْنَ عاقبت د انکار د معجزاتِ مطلوبه چه هلاکت دے. دارنګ لَا يَعْلَمُوْنَ یعنی نه پیژني اختیار مَن د معجزاتو.

ف۳۸ د دے ایت نه تر ف۴۳ پورے دریم باب دے په دے کښې لس عقلی دلیلونه دی او لس اداب دی چه په هغے کښې بعضِ طریقے د تعلیم دی. ف۵۰ ف۵۱ ف۵۲ ف۵۴ ف۵۶/۲ ف۵۷ ف۵۸ ف۶۸ او تخویف دنیوی ف۴۲ او دوه عقبات د تبلیغ ف۵۲ ف۵۵ کښې او څلور تخویف اخروی او نتیجه د دلیلونو. په ف۳۸ دے ایت کښې دلیل عقلی دے دا دلیل د قدرت د الله تعالیٰ دے تعلق لري د ان الله قادر سره یا اشاره ده چه نورو معجزاتو ته حاجت نیشته بلکه حالات د دواب او مرغانو پوره دلیل دے په قدرت او علم د الله تعالیٰ باندے لفظ د فی الارض او بجناحیه د تاکید د پاره او د دفع د وهم د مجاز د پاره دے چه دابّة کله صرف انسان ته وئیلے شي دارنګ طٰٓئِرٍ کله قاصد ته وئیلے شي نو معلومه شوه چه دغه معاني مراد نه دی. اُمَمٌ اَمْثَالُكُمْ مماثلت په ډیرو حالاتو کښې دے یعنی خلق، رزق، موت، معرفت د الله تعالیٰ او تسبیح توحید، حاجات، علم په نفع او ضرر، ځان بچ کول د ځایونو د هلاکت نه او دشمن پیژندل، توالد، تناسل. فِي الْكِتٰبِ اه مراد د دینه لوح محفوظ (کتاب التقدیر) دے نو اشاره شوه تقدیر د هر څیز ته. یا مراد د دے نه قران دے.

صُمٌّ وَّبُكۡمٌ فِی الظُّلُمٰتِؕ مَنۡ یَّشَاِ اللّٰهُ

دوی کانړه دی او چاړ ا ګنګان دی په تیارو کښې دی - هغه څوک چه اوغواړی الله تعالیٰ

یُضۡلِلۡهُ ؕ وَمَنۡ یَّشَاۡ یَجۡعَلۡهُ عَلٰی صِرَاطٍ

بے لارے کړی هغه لره - او هغه څوک چه اوغواړی الله تعالیٰ نو بوخ کړی هغه لره په لار

مُّسۡتَقِیۡمٍ ﴿۳۹﴾ قُلۡ اَرَءَیۡتَکُمۡ اِنۡ اَتٰىکُمۡ

نیغه باندے - ته ورته اووایه خبر راکړئ ماته که راشی تاسو ته

عَذَابُ اللّٰهِ اَوۡ اَتَتۡکُمُ السَّاعَةُ اَغَیۡرَ اللّٰهِ

عذاب د الله تعالیٰ یا راشی تاسو ته قیامت ایا سیوا د الله تعالیٰ نه

سوال: په قرآن کښې خو هر څه نیشته ؟

جواب: نیشا پوری وائي نیشته هیڅ علم مګر په قرآن کښې د هغے اصل شته. یا مراد د دے نه هغه څیزونه دی چه هغے ته په دین کښې احتیاج دے او سنت د نبي هم راجع دے قرآن ته یا مراد د دے نه د ایمانیاتو ذکر دے.

اِلَّآ اُمَمٌ اَمۡثَالُکُمۡ پشان ستاسو دی په مخلوقیت په حاجت د رزق کښې او په ټولو حاجتونو کښې الله تعالیٰ ته عاجزی کوونکی. مَا فَرَّطۡنَا یعنی قرآن کریم کښې ایمانیات په تفصیل سره بیان شوے دی. ثُمَّ اِلٰی رَبِّهِمۡ یُحۡشَرُوۡنَ د دے یو مطلب دا دے چه دا انسانان به پورته کړے شی په ورځ د قیامت کښې. دویم مطلب دا دے چه دا ځاروی او مرغان وغیره به پورته کړے شی په ورځ د قیامت، او د دوی کوزنے قصاص به واغستے شی او بیا به فنا شی په دے باره کښې ډیر احادیث ابن کثیر ذکر کړے دی. دریم مطلب دا دے چه دا ځاروی مرغان وغیره به مړه شی. او حشر نه مراد د دوی فناده.

س۳۹ دا زورنه ده چه دواب او مرغان خپلو مصالحو ته هدایت موهی لیکن کافران هدایت نه موهی. او مخکښې ایت کښې عموم د علم د الله تعالیٰ ذکر شو نو په دے ایت کښې عموم د مشیت د الله تعالیٰ ذکر کوی. فِی الظُّلُمٰتِ عطف نه دے کړے اشاره ده چه صرف صُمٌّ او بُکۡمٌ مانع د هدایت نه نه دے بلکه ورسره دخول په ډیرو ظلماتو کښې سبب د ګمراهئ دے.

تَدۡعُوۡنَ اِنۡ كُنۡتُمۡ صٰدِقِيۡنَ ﴿٤٠﴾ بَلۡ اِيَّاهُ

بلئ تاسو که تاسو رشتینی یئ (چه دوی لائق د بللے دی) - بلکه خاص الله تعالیٰ لره

تَدۡعُوۡنَ فَيَكۡشِفُ مَا تَدۡعُوۡنَ اِلَيۡهِ اِنۡ شَآءَ

بلئ تاسو نو لرے به کړی هغه تکلیف چه بلنه کړیوی تاسو هغے ته که او غواړی الله تعالیٰ

وَتَنۡسَوۡنَ مَا تُشۡرِكُوۡنَ ﴿٤١﴾ وَلَقَدۡ اَرۡسَلۡنَاۤ ع ۴ ۱۱ ۱۰

او هیرتنی ستاسو نه هغه چه تاسو یئ الله تعالیٰ سره شریک کنړئ - او یقیناً لیږلے دی موږ رسولان

اِلٰۤى اُمَمٍ مِّنۡ قَبۡلِكَ فَاَخَذۡنٰهُمۡ بِالۡبَاۡسَآءِ

ډیرو امتونو ته مخکښ ستا نه پس اونیول موږ هغوی په سختو د مال

وَالضَّرَّآءِ لَعَلَّهُمۡ يَتَضَرَّعُوۡنَ ﴿٤٢﴾ فَلَوۡلَاۤ

او مرضونو سره دے دپاره چه دوی عاجزی اوکړی الله تعالیٰ ته - پس ولے نه وه

۴۰ په دے ایت کښ بل دلیل عقلی دے او په دے کښ رد د شرک فی الدعاء دے او ذکر د جهالت د مشرکانو دے چه دوی سرهٔ د دے نه چه الله تعالیٰ لره خاص بلی په مصیبتونو کښ او بیا هم ورسره شرک کوی لکه سورۃ یونس ۲۲ او اسراء ۶۷ کښ دی. اَرَءَيۡتَكُمۡ همزه د استفهام تعجبی دے او رَاَيۡتَ په معنی د ابصرت او عرفت دے او مفعول ئے پټ دے او تا ضمیر فاعل دے او كُمۡ حرفِ خطاب دے او اعراب نه غواړی صرف بیان د حال کوی حاصل معنیٰ دا ده ابصرت او عرفت الحالة العجيبة فاخبرنی عنها (که تاسو خبریئ د عجیبه حال نه نو ما لره خبر راکړئ). صٰدِقِيۡنَ چه دا اصنام اٰلِهَ دی.

۴۱ د دینه معلومه شوه چه مشرکان هم بعضِ حالاتو کښ د الله تعالیٰ نه دعاء غواړی او امداد شه وائی. اِيَّاهُ تَدۡعُوۡنَ خاص کوئ تاسو هغه لره په دعا سره لکه چه نورو ځایونو کښ لفظ د مخلصین راغلے دے لکه په سورۃ یونس ۲۲ کښ. فَيَكۡشِفُ اشاره ده چه الله تعالیٰ د مشرک دعا د هغه د عجز او تضرع د وجے نه کله کله قبلوی او دا په هغه باندے امتحان دے.

۴۲ دا تخویف د دنیوی عذاب دے او ذکر د ابتلاء دے په نعمتونو او عذابونو سره. او ربط د دے ایت د مخکښ سره دا دے چه څوک الله تعالیٰ صرف په مشکلاتو کښ

إِذْ جَآءَهُم بَأْسُنَا تَضَرَّعُوا وَلَٰكِن قَسَتْ

کله چه راغئ دوی ته عذاب زموږ چه عاجزي یې کړې وے، لیکن سخت شول

قُلُوبُهُمْ وَزَيَّنَ لَهُمُ الشَّيْطَٰنُ مَا كَانُوا

زړونه د دوی او ښکلی کړیوؤ دوی ته شیطان هغه عملونه چه دوی

يَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ فَلَمَّا نَسُوا مَا ذُكِّرُوا بِهِ فَتَحْنَا

به کول۔ پس هر کله چه هیر کړه دوی هغه خبره (توحید) چه بیا شو یادونه دوی ته پرانستلے موږ

عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّىٰ إِذَا فَرِحُوا

په دوی باندے دروازے د هر څۀ ترد ے چه دوی لویئ اوکړه

بِمَا أُوتُوا أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم

په هغه څه چه ورکړے شوے وو دوی ته اونیول موږه دوی ناساپه پس دغه وخت دوی

رابلی او بیا هم شرک کوی نو دے برابر دے په گناه کښ او عذاب کښ د هغه
چا سره چه په هیڅ حال کښ الله تعالیٰ نه یادوی۔ أَرْسَلْنَآ دلته رُسُلًا پټ دے
مِنْ قَبْلِكَ د دے نه روستو فکذبوا پټ دے۔ بِالْبَأْسَآءِ وَالضَّرَّآءِ فرق دادے
چه مالی سختئ فقر، قحط، لوږه وغیره ته باساء وئیلے شی او مرضونو د بدن ته
ضرّاء وئیلے شی کله کله د یو بل په معنی باندے استعمالیږی (قرطبی)۔
يَتَضَرَّعُونَ تضرع یعنی سوال کوی په تذلل او عاجزئ سره چه د هغے سره توبه
د شرک او د گناهونو نه هم وی۔

۴۳ په دے کښ د هغوی بد حال ذکر دے چه سختئ په هغوی باندے څه اثر
اونکړو او د هغے دوه موانع یې ذکر کړے دی۔ فَلَوْلَآ د زورنے د پاره دے په
معنیٰ د نفی سره محل د هغے تضرعوا دے او په لفظ د لولا کښ اشاره ده چه د دوی
هیڅ عذر نه وو سیوا د عناد نه (نیشاپوری)۔
قَسَتْ قُلُوبُهُمْ قسوة د قلب دادے چه تذکیر د قرآن او د دلیلونو په هغے باندے
هیڅ اثر نه کوی۔ وَزَيَّنَ اه یعنی شرک ورته په صورت د توحید او بدعت ورته
په صورت د سنت ښکاره کړی۔

مُبۡلِسُوۡنَ ﴿٤٤﴾ فَقُطِعَ دَابِرُ الۡقَوۡمِ الَّذِيۡنَ

نا امیده وو د هر خیر نه. نو پرے کړے شو ے جرړے د هغه قوم چه

ظَلَمُوۡا ؕ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿٤٥﴾

ظلم ئے کړیوو او ټول صفتونه د خدائیګوب خاص الله لره دی چه پالونکے د خلقو دے.

قُلۡ اَرَءَيۡتُمۡ اِنۡ اَخَذَ اللّٰهُ سَمۡعَكُمۡ وَاَبۡصَارَكُمۡ

ته ورته او وایه! ایا پوهیږئ تاسو که واخلی الله تعالی غوږونه ستاسو او سترګے ستاسو

وَخَتَمَ عَلٰى قُلُوۡبِكُمۡ مَّنۡ اِلٰهٌ غَيۡرُ اللّٰهِ

او بند کړی زړونه (عقلونه) ستاسو. څوک دے ذمه وار سیوا د الله تعالی نه

٤٤ داایت دلیل دے په دے خبره باندے چه د شرک او بدعت او فسق سره چه د دُنیا مزے ډیرے شی امدنئ ډیرے وی نو دا استدراج او مهلت دے دا کرامت نه دے. نَسُوۡا مراد د دینه پریښودل قصداً ادی په داسے طریقه چه په شان د هیر شوے وی. مَاذُكِّرُوۡا توحید او ایمان مراد دے. فَتَحۡنَا عَلَيۡهِمۡ اه لفظ د فتح کښ اشاره ده چه مخکښ "بأساء وضراء" کښ په دوی دروازے د خیر بندے شوے وے هغه ئے ورته پرانستلے او په دے کښ برکت او اطمینان نه وی او مؤمنانو ته چه د وجے د ایمان او تقوٰی نه دروازے پرانستلے شی نو په هغے کښ برکات وی لکه په سورة اعراف ۹۶ کښ دی. اِذَا فَرِحُوۡا د دے نه مراد فرح بطر دے یعنی تکبر کول د حق منلو نه لکه چه قارون کړے وو سورة قصص ٧٦ او دیته ابتلاء بالنعم وئیلے شی. مُبۡلِسُوۡنَ د ابلاس د معانی دی افسوس، حزن او نا اُمیدی (امام راغب). دلته یو معنٰی دا ده چه نا اُمیدی کوی د هر خیر نه، دویمه معنٰی دا ده چه خپیمانه او غمژن وی.

٤٥ داایت دلیل دے چه په هلاکت د ظالمانو باندے د الله تعالی حمد لوستل پکار دی. دَابِرُ نه مراد اخر او نسل دے یعنی د ظالمانو نسل الله تعالی ختموی وَالۡحَمۡدُ لِلّٰهِ اهلاک د داسے کافرانو د ایمان والا د پاره لوئے نعمت او رحمت دے د دے وجے نه الحمد لله وئیل پکار دی.

يَاْتِيْكُمْ بِهٖ ط اُنْظُرْ كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ ثُمَّ

چه راوړی تاسو ته (دا طاقتونه) - اوګوره څنګه قسم قسم بیانوو ایاتونه بیا هم

هُمْ يَصْدِفُوْنَ ﴿٤٦﴾ قُلْ اَرَءَيْتَكُمْ اِنْ اَتٰىكُمْ

دوی مخ اړوی د هغې نه - ته ورته اووایه خبر راکړئ تاسو که راشی تاسو ته

عَذَابُ اللّٰهِ بَغْتَةً اَوْ جَهْرَةً هَلْ يُهْلَكُ

عذاب د الله تعالی د شپې یا د ورځې نه هلاکیږی (په دے عذاب)

اِلَّا الْقَوْمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٤٧﴾ وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِيْنَ

مګر قوم ظالمان (مشرکان) - او نه لیږو موږ رسولان

٤٦ دا بل دلیل عقلی دے مخکښې عام تکالیف ذکر کړے وو او دلته یې خاص مصیبتونه ذکر کړل - مطلب دا دے چه د غوږونو او د سترګو او د لیونو ذمه وار د جوړولو یو الله تعالی دے بل څوک دا تکلیفونه نشی لرے کولے - دا ایت دلیل دے په دے خبره باندے چه اِلٰهٌ په معنی د کار جوړوونکی او حاجت پوره کوونکی راځی - قُلُوْبِ نه مراد دلته عقلونه دی بندولو د عقل نه مراد لیونے کول دی - اَرَءَيْتُمْ دا لفظ د لږ تعجب او اَرَءَيْتَكُمْ د ډیر تعجب په ځائے کښې استعمالیږی نو اَرَءَيْتَكُم سره عام عذاب ذکر وو او دلته خاص مصیبتونه ذکر دی - يَاْتِيْكُمْ بِهٖ دا جمله بیان او تعریف د اِلٰه دے او دا سے په سورة نمل کښې د ٦٠ نه تر ٦٤ پورے او قصص ٧١ ٧٣ کښې هم شته - بِهٖ ضمیر په تاویل د ماخوذ او مختوم سره یا په تاویل د هر واحد سره راجع دے - نُصَرِّفُ تصریف "په مختلف قسمونو عباراتو سره مضمون ذکر کول" نو قرآن کښې ذکر د توحید او رسالت وغیره په عقلی دلیلونو او نقلی او زجر او تخویف وغیره سره دے.
٤٧ دا بل دلیل عقلی دے چه د عذاب اختیار مند الله تعالی دے - په ٤٠ کښې دوه قسمونه د عذاب ذکر وو دنیوی او اخروی او دلته نور دوه قسمونه ذکر کوی "ناڅاپه او سرۀ د نخونه" یا "د شپے او د ورځے" او دلته تقدیر د عبارت دا سے دے فَمَنْ يُهْلِكُ بِهٖ - او جواب د هغې هَلْ يُهْلَكُ الخ یعنی اهلاک په مشرکانو پورے خاص دے او چا چه مشرکانو نه براءت نه وی کړے نو په هغوی باندے تبعًا اهلاک راځی.

إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ فَمَنْ آمَنَ وَأَصْلَحَ

مګر زیری ورکوونکی او بیره ورکوونکی نو چاچه ایمان راوړو او تابعداری اوکړه

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٤٨﴾

نو نه به وی هیڅ بیره په هغوی باندے او نه به دوی خفه کیږی -

وَالَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا يَمَسُّهُمُ الْعَذَابُ

او هغه کسان چه دروغژن کنړی آیاتونه زمونږ، جوخت به شی په دوی پورے عذاب

بِمَا كَانُوا يَفْسُقُونَ ﴿٤٩﴾ قُل لَّا أَقُولُ لَكُمْ

په سبب د دے چه دوی نافرمانی کوله - ته ورته اووایه! نه وایم ځه تاسو ته چه

عِندِي خَزَائِنُ اللَّهِ وَلَا أَعْلَمُ الْغَيْبَ

ځما په اختیار کښ دی خزانے د الله تعالیٰ او نه پوهیږم ځه په غیب (پټو څیزونو) باندے

وَلَا أَقُولُ لَكُمْ إِنِّي مَلَكٌ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا

او نه وایم تاسو ته چه ځه ملک (فرښته) یم، تابعداری نه کوم مګر

۴۸ دا جواب د سوال دا دے چه دوی پیغمبر علیه السلام ته وئیل چه مونږ ستا خبره نه منو نو په مونږ باندے عذاب راوله یا معجزات راوړه -

د جواب حاصل دا دے چه عذاب او معجزات راوستل د پیغمبرانو په اختیار کښ نه دی د هغوی کار ثواب او عذاب بیانول دی - بیا دا آیت زیرے دے مؤمنانو د پاره -

۴۹ دا آیت یره د عذاب اخروی ده - او کَذَّبُوا په مقابله د امن او اصلح کښ دے يَمَسُّهُمُ دلته مس په معنیٰ د الحاق او اصابت سره دے یعنی او به رسیږی او جوخت به شی عذاب په دوی پورے -

مَا يُوحٰٓى اِلَىَّ ط قُلْ هَلْ يَسْتَوِى الْاَعْمٰى

دَ هغه څه چه وحی کیدیشی ماته. ته ووایه اوو ایا برابر دے ړوند

وَالْبَصِيْرُ ط اَفَلَا تَتَفَكَّرُوْنَ ۵۰ ۞ وَاَنْذِرْ بِهِ

او لیدونکے. ایا پس فکر نه کوئ تاسو. او یره ورکړه پدے وحی سره

الَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ اَنْ يُّحْشَرُوْٓا اِلٰى رَبِّهِمْ

هغه کسانو ته چه یریږی دَ دینه چه جمع به کړیشی رب خپل ته

لَيْسَ لَهُمْ مِّنْ دُوْنِهٖ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ

نیشته دوی لره سیوا دَ الله تعالیٰ نه دوست (بچوونکے) او نه سفارشی

ع ۵ =

نـ۵ مخکښې ایت کښې دَ رسولانو صفات ثبوتیه ذکر شول یعنی مبشرین او منذرین نو اوس صفاتِ سلبیه ذکر کوی. په دے کښې اداب او طریقے دَ تعلیم دی او دَ سوالونو جوابونه دی. اول سوال دا دے چه ته نبی یئے نو خپل ملګری مالدار کړه. دویم سوال دا دے چه ته پیغمبر یئے نو مونږ ته دَ خزانو ځایونه اوښایه او دَ پټو خبرونه خبردار کړه. دریم سوال دا دے چه ته نبی یئے نو خوراک څښکاک ولے کوے. څلورم سوال که ته داسے نښے کولے نو بیا خو مونږ او تاسو برابریو جوابات په ترتیب سره اوشو داسے په سورۃ هود ۳۱ کښې هم دی. حاصل دَ جواب دا دے چه زه نه دعویٰ دَ الوهیت کووم او نه دَ ملکیت بلکه هغه دعویٰ کووم چه دَ بشریت سره مناسب ده چه وحی او رسالت دے.

فائده: دَ الوهیت دوه جامع صفتونه دی یو تصرف او اختیار او قدرت دَ خزانو دَ اسمانونو او دَ زمکو او دویم علم الغیب یعنی علم بے دَ اسبابو نه او دا دواړه دَ نبی نه منتفی دی اول په اوله جملے سره او دویم په دویمه جملے سره.

وَلَآ اَعْلَمُ الْغَيْبَ عطف دے په محل دَ عندی باندے او لا مکرر دے دَ پاره دَ تاکید دَ لَآ اَقُوْلُ لَكُمْ. اَعْلَمُ الْغَيْبَ. یا عطف دے په لا اقول باندے.

سوال: دَ اول او دریم سره اقول ذکر کړے دے او دَ علم سره یئے نه دے ذکر کړے؟

جواب: اول وصف او دریم خو بالکل ممتنع دی دَ شان دَ بشر سره نو هغه صرف په ادّعا سره کیږی او دویم وصف یعنی وجه امکان کیدے شی چه علم

لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٥١﴾ وَلَا تَطْرُدِ الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ

دے د پاره چه همیشه بچ شي (د عذاب نه). او مه شړه هغه کسانو لره چه بلي دوی

رَبَّهُمْ بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ

رب خپل صباڼي او بیګاڼي غواړي دوی مخ د الله تعالیٰ۔

مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ

نیشته په تا باندے د حساب د دوی نه هیڅ ذمه واري

وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِمْ مِّنْ شَيْءٍ

او نیشته دے ستا د حساب نه په دوی باندے هیڅ ذمه واري

د بعض مغیباتو دے۔

سوال: لا اقول اني ملك نه دلیل نیولے شي په فضیلت د ملائیکو په انبیاؤ باندے؟

جواب: دا نفي د ملکیت د بعض صفتونو ده چه د هغوی پشان قدرت نه لرم او د خوراک څښکاک او نکاح نه د هغوی پشان مستغني نه یم او دینه فضیلت جزئیه وئیلے شي د دے نه کلي فضیلت نه معلومیږي۔ اِنْ اَتَّبِعُ اه سوال: دا حصه دلالت کوي چه د نبي صلی الله علیه وسلم مجتهدات وؤ۔

جواب: اجتهاد ئے کوؤ په وخت د ضرورت کښ لیکن اتباع د هغے ئے بغیر د وحي نه کوله۔ اَلْاَعْمٰى وَالْبَصِيْرُ متبع د وحي بصیر دے او مخالف د هغے اعمیٰ دے دا رنګ جاهل او عالم او ګمراه او هدایت والا۔

٥١ دا هم بیان د ادب دے چه د قرآن بیان کولو کښ ضرور فائده شته نو د دوی د سوالونو او د ضد د وجے نه بیان مه پریږده۔ اَلَّذِيْنَ يَخَافُوْنَ خوف د اعتقاد مراد دے نو مراد د دے نه اهل کتاب او هغه مشرکان دي چه قیامت مني او اشاره ده چه ایمان په آخرت ذریعه ده د پاره د فائدے اخستلو د قرآن نه لَيْسَ لَهُمْ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ اشاره ده چه سرۀ د خوف د حشر نه مشرک او کافر وي د دے وجے نه د هغوی د پاره شفاعت نیشته۔ لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ په دیکښ اشاره ده فائدے د انذار کولو ته په قرآن سره۔ بِهٖ دلیل دے چه انذار خاص دے په وحي بیانولو پورے۔

فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۲﴾

پس که ته دوی اوشړے نو شے به دَ ظلم کوونکو نه.

وَكَذٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُمْ بِبَعْضٍ لِّيَقُوْلُوْٓا

او دغسے همیشه مونږ ازمایو بعض دَ دوی په بعضو سره عاقبت دا چه اووائی دوی (منکرین)

۵۲ داهم ادب دے او جواب دَ سوال دے، چه مونږ به هله ستا ملګرتیا کوُو چه داغریبان خلق دَ ځان نه اوشړے جواب اوشومهٔ شړه دا ظلم دے. ربط دَ ایت دادے چه مخکښې دَ تقوٰی دَ پیدا کولو دَ پاره طریقه ذکر کړه نو اوس دَ متقیانو اِکرام ذکر کوی. يَدْعُوْنَ رَبَّهُمْ دعا ذکر ده او مراد ترینه ټول عبادات دی او دعا په هغے کښې اهم عبادت دے اشاره ده چه هرکله یو انسان کښې توحید فی الدعاء والاستعانت موجود وی نو ټول ایمان یئے مضبوط وی یا مراد دَ دعاء نه ذکر دَ الله تعالیٰ دے. بِالْغَدٰوةِ وَالْعَشِيِّ مراد دَ دے نه ورځ او شپه ده ذکر دَ جزء او مراد ترینه کل دے. يُرِيْدُوْنَ وَجْهَهٗ سمعانی لیکلی دی چه وجه صفت دَ الله تعالیٰ دے بغیر دَ کیف نه (او په غیر دَ تاویل او تمثیل نه) او محاوره هم داسے شته خلق یو بل ته وائی چه ما ستا دَ مخ لحاظ اوکړو ستا مخ م اوکړو ستا مخ ته م اوکتل. مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِمْ الخ دا جواب دَ قول دَ مشرکانو دے هغوی وئیل چه دے غریبانو په تابانده ایمان حقیقی نه دے راوړے منافقت کوی حاصل جواب دادے چه ظاهری علامات دَ دوی دَ اخلاص دی او دَ باطن حساب کول په تابانده نیشته هغه الله تعالیٰ ته سپارلے شوید ے. او دویمه جمله وَمَا مِنْ حِسَابِكَ الخ صِرف دَ تاکید دَ پاره راوړلے ده یا مراد دَ حساب نه مواخذه ده او هرکله چه مواخذه دَ دواړه طرف نه نیشته دَ دے وجے نه دواړه جملے یئے ذکر کړے. فَتَكُوْنَ مِنَ الظّٰلِمِيْنَ سوال: دَ دے نه معلومه شوه چه نبی صلی الله علیه وسلم ظلم کړے دے؟

جواب[۱]: نبی صلی الله علیه وسلم نه شړل کړے دی او نه یئے دَ هغے اراده کړیده او معنی خو په طریقه دَ تعلیق سره ده یعنی که چرے ته دوی اوشړے نو دَ ظالمانو نه به شے.

جواب[۲]: بعضِ مفسرینو لیکلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم هم دَ طرد (شړل) دَ هغوی کړے وُو په دے اراده سره چه نور کافران په اسلام کښې

أَهٰٓؤُلَآءِ مَنَّ اللّٰهُ عَلَيۡهِمۡ مِّنۡۢ بَيۡنِنَا ؕ أَلَيۡسَ

آیا دا هغه کسان دي چه احسان کړيدے الله تعالیٰ پر دوی باندے دَ مینځ زمونږ نه. نو آیا نه دے

اللّٰهُ بِأَعۡلَمَ بِالشّٰكِرِيۡنَ ﴿۵۳﴾ وَإِذَا جَآءَكَ

الله تعالیٰ خه پوهه په شکر کوونکو باندے. او کله چه راشي تا ته

الَّذِيۡنَ يُؤۡمِنُوۡنَ بِأٰيٰتِنَا فَقُلۡ سَلٰمٌ

هغه کسان چه ایمان لري په آیاتونو زمونږ نو ورته اووایه سلامتیا دے دې

عَلَيۡكُمۡ كَتَبَ رَبُّكُمۡ عَلٰى نَفۡسِهِ الرَّحۡمَةَ ۙ

په تاسو باندے، لازم کړيدے رب ستاسو په ځپل ځان باندے رحم کول،

أَنَّهٗ مَنۡ عَمِلَ مِنۡكُمۡ سُوٓءًۢا بِجَهَالَةٍ ثُمَّ

(هغه دا دے) چا چه عمل کړے وي ستاسو نه بد عمل په ناپوهئ سره بیا

داخل شي نو دا هم گناه نه دے او بل دا چه دا اجتهادي خطائي شویده. او رازي وئيلي دي چه کوم ځائ دَ انبیاؤ علیهم السلام په باره کښې ظلم استعمال شوے دے نو هغه په معنی دَ خطاءِ اجتهادي یا خلاف اولیٰ سره دے هیڅ قسم گناه نه دے.

۵۳ دا دَ تبلیغ دَ عقبا تو نه اوله عقبه ده. یعني مشرکین او مؤحدین په یو بل باندے امتحان دے په مؤحدینو باندے اول امتحان دا دے چه مشرکان پرے اعتراض کوي چه دَ حق پرستئ احسان صرف په تاسو باندے او شو بل څوک نیشته. جواب دا دے چه الله تعالیٰ خپل بندګان ښه پیژني.

شَاکِرِیۡنَ نه مراد بیان کوونکي دَ مسئلے دي. وَکَذٰلِكَ کاف دَ پاره دَ تشبیه دے یعني هرکله چه مالدارو کافرانو غریبان مسلمانان سپک اوګڼړل په مکه کښې نو داسے په هره زمانه کښې کیږي لکه په زمانه دَ نوح علیه السلام کښې (سورة هود ۲۹) او سورة فرقان ۲۰ او دا لفظ دَ کذٰلك دلالت کوي په همیش والی دَ دے عادت باندے چه او س زمانه کښې هم مؤحدینو ته داسے امتحان پیش کیږي. لِيَقُوۡلُوۡٓا لام دَ عاقبت دے. أَهٰٓؤُلَآءِ اه مراد دَ دوي استفهام انکاري دے چه ایمان راوړل څه احسان نه دے کنه مونږ دَ دے احسان ډیر حقدار یو لکه سورة احقاف ۱۱ کښې دي. الشّٰكِرِيۡنَ یعني هغه څوک چه په

تَابَ مِنْۢ بَعْدِهٖ وَاَصْلَحَ فَاَنَّهٗ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۵۴﴾

توبه اوباسی روستو دَ دینه او نیک عمل اوکړی نو یقیناً الله تعالیٰ بخونکے دے رحم کوونکے دے.

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلِتَسْتَبِيْنَ

او دغسے تفصیلی بیانوو مونږ ایاتونه (دَ توحید) او دے دَپاره چه څه ښکاره شی

سَبِيْلُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۵۵﴾ قُلْ اِنِّيْ نُهِيْتُ ع ۶ ۱۲

لار دَ مجرمانو . ته اووایه یقیناً څه منع کړے شوے یم

هغوی کښ اهلیت دَ اسلام شته نو الله تعالیٰ هغوی ته توفیق دَ ایمان ورکوی.

ت ۵۴ دا بیان دَ ادب دے چه کله دا بیان کوونکی دَ حق سترے ستومانه راشی نو ته هغوی ته دَ خوشحالئ خبرے اوکړه او هرکله چه مخالفینو په دوی باندے طعن کړے وؤ چه تاسو تر اوسه پورے په شرک او کفر وغیره کښ وئے نو اوس مونږ ته مسئلے کوئ ؟ نو دَ هغے جواب دے په دے لفظ دَ کَتَبَ رَبُّکُمُ الایة کښ دے سَلٰمٌ عَلَیْکُمْ دَ دے سلام نه مراد سلام تحیه نه دے بلکه بخیر راغلے او دعا ده دَ سلامتیا دَ دین او دَ دنیا. اَنَّهٗ دا تفسیر دَ رحمت دے یعنی روستو دَ توبے نه بخنه کول رحمت دے.

سوال: سنت دَ سلام خو دا دے چه راتلونکے به سلام کوی په حاضر باندے او دلته حکم برعکس دے.

جواب: دلته امر دے په رسولو دَ سلام دَ الله تعالیٰ دوی ته یا په معنی دَ دعا دے (الله تعالیٰ دِ تاسو ته سلامتیا درکړی) یا دا خصوصیت دَ دغه صحابو دے یا په معنی دَ مرحبا وئیلو سره دے او سلام په قرآن کښ په ډیرو معانو سره دے.

ع ۱ په معنی دَ تحیه معروف لکه سورة نور ت ۶۱. ع ۲ سلام دَ استیذان سورة نور ت ۲۷

ع ۳ سلام دَ الله تعالیٰ په انبیاؤ او په صالحینو لکه سورة نمل ت ۵۹ او سورة صافات ت ۷۹

ع ۴ سلام دَ اعراف والو دَ سورة اعراف ت ۴۶ ع ۵ سلام دَ اهل جنت په معنی دَ مبارکئ دَ سلامتیا لکه سورة یونس ت ۱۰ ع ۶ سلام دَ مقاطعے لکه سورة مریم ت ۴۷. ع ۷ سلام په کافرانو باندے سورة طٰهٰ ت ۴۷ ع ۸ په معنی دَ سالم سورة انبیاء ت ۶۹ ع ۹ کلمه دَ سلامتیا سورة فرقان ت ۶۳ ع ۱۰ صفت دَ الله تعالیٰ سورة حشر ت ۲۳.

ت ۵۵ دا دویمه عقبه دَ تبلیغ ده یعنی دوی اعتراض کوی چه بله مسئله تا له نه درځی

أَنْ أَعْبُدَ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

دَ دینه چه بندګي اوکړم دَ هغه کسانو چه رابلئ تاسو هغوی سیوا دَ الله تعالیٰ نه

قُلْ لَّآ أَتَّبِعُ أَهْوَآءَكُمْ قَدْ ضَلَلْتُ إِذًا وَّمَآ

ته اووایه! تابعداري نه کوم ځه دَ خواهشاتو ستاسو ، یقینًا ګمراه به شم دغه وخت او نه به یم

أَنَا مِنَ الْمُهْتَدِيْنَ ﴿٥٦﴾ قُلْ إِنِّيْ عَلٰى بَيِّنَةٍ

ځه دَ هدایت والو نه . ته ورته اووایه! یقینًا ځه په ښکاره دلیل باندې یم

مِّنْ رَّبِّيْ وَكَذَّبْتُمْ بِهٖ ۭ مَا عِنْدِيْ مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ

دَ طرف دَ رب خپل نه او تاسو دروغژن ګڼړئ هغې لره. نیشته ځما سره هغه څیز چه په تلوار سره غواړئ تاسو

بِهٖ ۭ إِنِ الْحُكْمُ إِلَّا لِلّٰهِ ۭ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ

هغې لره. نه دے اختیار مګر الله تعالیٰ لره دے بیانوی حق لره او هغه

خَيْرُ الْفٰصِلِيْنَ ﴿٥٧﴾ قُلْ لَّوْ أَنَّ عِنْدِيْ

غوره دے دَ فیصله کوونکو نه . ته اووایه که چرې وې ځما په اختیار کښې

همیشه دا یوه مسئله دَ توحید کوے یعنی ته جاهل یې ؟ جواب دا دے چه دا مسئله باربار ځکه بیانوؤ چه دَ توحید او دَ شرک لارے جدا جدا معلوم شي.

وَلِتَسْتَبِيْنَ دَ دے نه مخکښې معطوف علیه پټ دے لیظهر لك الحق ولتستبين

٥٦ دا هم اَدب او طریقے دَ تعلیم دی او دَ سوالاتو جوابونه دی.

اول سوال: بندګی دَ غیر الله جائز ده ولے نه کوئ .

جواب اوشو: چه زه منعه کړے شوے یم.

دویم سوال: زمونږ دَ دین تعبداری ولے نه کوئ ؟

جواب اوشو: دا خواهشات دی او سبب دَ ضلال او دَ ترک هدایت دے په دے ایت کښې ذکر دے دَ سبیل المجرمین چه عبادت دَ غیر الله دے.

نُهِيْتُ نهی په قران کښې په صریحې نهی سره او په عقلی نقلی دلیلونو سره ذکر ده او دا سے په سورة مؤمن ٦٦ کښې هم دی.

٥٧ دا دَ دریم سوال جواب دے چه ستا په خبره باندے څه دلیل شته ؟

مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ بِهٖ لَقُضِيَ الْاَمْرُ بَيْنِيْ

هغه څيز چه تاسو په تلوار سره غواړئ هغه لره، خامخا فيصله به کړې شوې وې په مينځ زما

وَبَيْنَكُمْ ؕ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالظّٰلِمِيْنَ ﴿۵۸﴾

او په مينځ ستاسو کښې. او الله تعالیٰ خه پوهه دے په ظالمانو پانده.

وَعِنْدَهٗ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لَا يَعْلَمُهَآ اِلَّا هُوَ ؕ

او خاص دَ هغه سره دی کونجيانے دَ غيب (پټو څيزونو) نه پوهيږی په هغے مګر هغه (الله تعالیٰ)

وَيَعْلَمُ مَا فِى الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ؕ وَمَا تَسْقُطُ

او پوهيږی (علم لري) په هغه څه چه اوچه کښې دی او په لونده کښې دی. او نه پريوځي

جواب داچه دليل شته ليکن تاسوئے نه منئ دابيان دَ نهيت دے چه نهي په بينه سره شوے ده او مراد دَ بينة نه قرآن دے. مَا تَسْتَعْجِلُوْنَ مراد دَ دينه عذاب دَ دنيا دے لکه په سورة انفال ۳۲ کښې دی يا قيامت دے لکه سورة شوریٰ ۱۸ کښې دی. اِنِ الْحُكْمُ الخ حکم تکويني او تشريعي دواړه مراد دی دا سے په سورة يوسف ۴۰، ۶۷ کښې هم دی. يَقُصُّ الْحَقَّ، قص تفصيلي بيان ته وئيلے شی يا يقص په معنیٰ دَ يقضیٰ دے لکه چه بل قراءت کښې راغلے دی هر کله چه حکم او قضا مستلزم ده فيصلے لره دَ دے وجے نه الفاصلين ئے اوئيلو.

۵۸ دا دَ څلورم سوال جواب دے چه هر کله مونږ په باطله يو نو په مونږ عذاب ولے نه راولے کيدے شی چه تا ته ئے اختيار دَ عذاب درکړے وی. جواب اوشوکه ما سره اختيار وے نو ما به زر فيصلے کړے وے.

سوال: په حديث دَ مسلم کښې ذکر دی چه دَ طائف نه په واپسئ کښې ملك الجبال نبی صلی الله عليه وسلم ته ښکاره شوکه ته غواړے چه ستا دا مخالفين دَ غرونو ترمينځ اوچقووم. نو معلومه شوه چه دَ نبی صلی الله عليه وسلم په اختيار کښې عذاب وؤ؟.

جواب: په وخت دَ طلب کولو دَ منکرينو کښې عذاب لره دَ نبی صلی الله عليه وسلم په اختيار کښې نه وؤ. او حديث کښې دا نيشته چه هغوی عذاب طلب کړے وؤ دا خو صِرف ملك الجبال عرض کړے دے (ابن کثير).

مِنْ وَّرَقَةٍ اِلَّا يَعْلَمُهَا وَلَا حَبَّةٍ فِىْ ظُلُمٰتِ

هیڅ یو پاڼه مګر هغه په علم د الله تعالی کښې ده او نه یو هم یو دانه په تیارو

الْاَرْضِ وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِىْ كِتٰبٍ

د زمکه کښې او نه لونده او نه وچه مګر په کتاب

مُّبِيْنٍ ﴿۵۹﴾ وَهُوَ الَّذِىْ يَتَوَفّٰىكُمْ بِالَّيْلِ

ښکاره کښې دی . او خاص الله تعالی هغه ذات دے چه اوده کوی تاسو د شپې

وَيَعْلَمُ مَا جَرَحْتُمْ بِالنَّهَارِ ثُمَّ يَبْعَثُكُمْ

او پوهیږی په هغه کارونو چه کوئ یې تاسو د ورځې بیا را پورته (راویښوی) کوی تاسو

۵۹ هرکله چه اوئیلې شو چه د نبی صلی الله علیه وسلم سره اختیار د عذاب نیشته نو سوال راغې چه اختیار خو ورسره نیشته لیکن علم د وخت د عذاب به ورسره وی نو په دے ایت کښې د هغې خبرے جواب دے په ایت کښې په اوله جمله کښې علم کلی محیط په جمیع مغیباتو باندے اجمالی ذکر شو بیا یې تفصیل ذکر کړو چه موجودات دوه قسمه دی اعیان او اعراض نو اعیان دوه قسمه دی برّی او بحری او اعراض هم دوه قسمه دی اوصاف او حرکات اوصاف دوه قسمه دی رطب او یابس او حرکات هم دوه قسمه دی حرکت د اوچت نه زمکے ته او حرکت د سطح د زمکے نه داخل د زمکے ته نو په دے کښې ټول موجودات داخل شول. مَفَاتِحُ جمع د مَفْتَح ده خزانے ته وئیلې شی یا جمع د مِفتَح ده نو چابیانو ته وئیلې شی او حدیث د بخاری کښې چه فرمائیلې دی مفاتح الغیب خمس نو دا د حصر د پاره نه دی بلکه تپوس کوونکو صرف د اپنځه تپوس نه کړے وو نو دا د هغې جواب دے. الْبَرِّ د بر (اوچه) نه د انسان فائدے ډیرے دی او د انسان علم د اوچے سره ډیر متعلق دے ځکه یې هغه مخکښې ذکر کړو. مَا تَسْقُطُ مِنْ وَّرَقَةٍ په دے کښې ډیر عموم دے چه صِرف علم د ورقے نه بلکه د هغې د حرکت علم هم د الله تعالی سره دے. رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ هر ژوندے او مړ انسان او جن بلکه ټول څیزونو ته شامل دے. كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ په دے کښې دوه قولونه دی اول علم الله دویم لوح محفوظ. دے ایت کښې بل دلیل عقلی دے او په دے کښې نفی د علم غیب ده د غیر الله نه،

فِيهِ لِيُقْضَىٰٓ أَجَلٌ مُّسَمًّى ۖ ثُمَّ إِلَيْهِ مَرْجِعُكُمْ

په بله ورځ کښې د دې د پاره چه پوره کړېشي تیښه مقرره ، بیا خاص هغه ته پیښې ستاسو ده

ثُمَّ يُنَبِّئُكُم بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٦٠﴾ ع

بیا به خبر درکړي تاسو له په هغه عملونو چه تاسو یې کوئ۔

وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهِ ۖ وَيُرْسِلُ

او هغه (الله تعالیٰ) زور اور دے پورته دے د بندګانو خپلو نه او رالیږي

عَلَيْكُمْ حَفَظَةً حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَحَدَكُمُ

په تاسو باندې ساتونکي ملائیک (څوکیداران). تر دې چه کله راشي یو تن ستاسو ته

الْمَوْتُ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا وَهُمْ لَا يُفَرِّطُونَ ﴿٦١﴾

مرګ ساه اخلي د هغه نه ملائیک زمونږ او دا ملائیک هیڅ کوتاهي نه کوي (په حکم د الله تعالیٰ کښې)

ثُمَّ رُدُّوٓا إِلَى اللَّهِ مَوْلَىٰهُمُ الْحَقِّ ۚ

بیا به پېښ کړېشي الله تعالیٰ ته چه مولا د دوی حق دے۔

۵۹ دے ایت کښې دلالت دے چه د ټولو کلیا تو او جزئیا تو علم صرف د الله تعالیٰ سره دے

۶۰ دا بل دلیل عقلي دے چه ستاسو اوده کیدل او بیدا ریدل په اختیار د الله تعالیٰ کښې دي نو مخکښې عموم د علم ذکر کړو او س عموم د قدرت ذکر کوي۔

يَتَوَفَّىٰكُم توفی د یو څیز پوره اخستل دي او اطلاق یې په خوب او په مرګ دواړو باندې کیږي لکه په سورة زمر ۴۲ کښې سمعاني وئیلي دي چه دلته مراد قبض د نفس متمیزه متصرفه دے. بِالنَّهَارِ د دے نه تیره شوے ورځ مراد دے او فیه ضمیر نه مراد راتلونکے ورځ ده أَجَلٌ مُّسَمًّى مراد د دے نه د هر انسان نیټه د مرګ ده۔

۶۱ دا هم دلیل عقلي دے چه زوراور الله تعالیٰ دے، او مرګ هغه راولي تاسو د مرګ نه نشئ بچ کیدے او د دے ایت نه معلومه شوه چه ملائیک د مرګ ډیر دي، ملك الموت علیه السلام بعض کسانو له ځي د ساه اخستلو د پاره هغه هر ځائے حاضر ناظر نه دے. مخکښې ایت کښې توفی د خوب ذکر شوه۔

په دے[۶۱] ایت کښې توفی دَ موت ذکر کوی۔ وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ اه قهر په څیز باندے غلبے ته وئیلے شی او غلبه په یو څیز باندے اوچتوالی لره مستلزم ده ځکه دَ قهر سره فوق ذکر کوی او قهر دَ الله تعالیٰ په مختلف طریقو سره دے قهر دَ معدوم په ایجاد سره دے او قهر په موجود باندے په فناء کولو سره دے قهر دَ نُور په ظلمت سره دے او په عکس سره او قهر دَ شپے په ورځ سره او بر عکس یعنی ټولو قسمونو دَ انقلابی تصرف ته قهر وئیلے شی داسے په ۱۸ کښې هم تیر شو فرق دا دے چه هلته تصرف دَ نفع او ضرر ذکر کړو نو وریسے ذکر کړو چه دا یو قسم اثر دَ قهر دَ الله تعالیٰ دے او دلته مخکښې تصرف دَ اوده کولو او راویخولو ذکر کړو نو وریسے او فرمائیل چه دا بل اثر دَ قهر دَ الله تعالیٰ دے۔ وَيُرْسِلُ عَلَيْكُمْ حَفَظَةً دا هم یو صورت دَ قهر دَ الله تعالیٰ دے یعنی غلبه په حفاظت کولو سره او مراد دَ دے نه هغه ملائیک دی چه ذکر دی په سورة رعد ۱۱ کښې او داسے په سورة انفطار ۱۰ کښې هم دی۔ تَوَفَّتْهُ رُسُلُنَا داسے په سورة اعراف ۳۷ او سورة نساء ۹۷ کښې هم ذکر دی۔

سوال: په دے ایاتونو کښې نسبت دَ توفی ډیرو ملائیکو ته کړے شوے دے او په سورة الم سجده ۱۱ کښې ملک الموت ته نسبت دے او په سورة زمر ۴۲ کښې الله تعالیٰ ته نسبت دے؟

جواب: نسبت خو الله تعالیٰ ته په اعتبار دَ امر او اذن او اختیار دَ الله تعالیٰ سره دے او هر چه نسبت دے ډیر ملائیکو ته دَ دے یو توجیه دا ده چه دوی اعوان (مرګری) دَ ملک الموت دی چه ملک الموت روح قبض کړی نو دوی ئے ترینه واخلی او پورته ئے اوړی یا دَ ملک الموت امر سره دا ملائیک په خلقو باندے تقسیمیږی۔ بله توجیه دا ده چه رسل جمع په معنی دَ مفرد سره ده۔ او په نسبت دَ ملک الموت کښې هم توجیهات دی اوله توجیه دا ده چه ملک الموت یو خاص مقرر شوے دے (په خلقو کښې په عزرائیل سره مشهور دے اګرچه دا نوم په نصوصو صحیحه کښې معلوم شوے نه دے) او دَ هغه په امر سره نور ملائیک کار کوی۔ دویمه توجیه دا ده چه مراد دَ ملک الموت نه جنس ملک الموت دے نو دَ جمع سره ئے تعارض نه راځی۔

أَلَا لَهُ الْحُكْمُ ۠ قف وَهُوَ أَسْرَعُ الْحٰسِبِيْنَ ﴿٦٢﴾

خبردار خاص هغه لره اختیار دے او هغه زر حساب کوونکے دے.

قُلْ مَنْ يُّنَجِّيْكُمْ مِّنْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ

ته ورته اووایه! څوک بچ کوی تاسو د تیارو د وچے او د دریابونو نه

تَدْعُوْنَهٗ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ج لَئِنْ أَنْجٰنَا

چه بلئ تاسو هغه په عاجزئ سره او په پټه سره، که بچ یے کړو مونږ

مِنْ هٰذِهٖ لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿٦٣﴾ قُلِ

د دے (مصیبت) نه خامخا شو به مونږ د شکر کندارو نه - ته ورته اووایه

۶۲ دے ایت کښ اثبات د قیامت دے او د الله تعالیٰ درے صفات دی. مَوْلٰهُمُ دلته په معنیٰ د مالك او متصرف دے نو کافرانو ته یٔے هم نسبت کیدے شی او په سورة محمد ۱۱ کښ مَوْلَا په معنیٰ د ناصر دے په دغه معنیٰ سره نفی دے د کافرانو نه - الْحَقِّ د هغه ولایت یقینی دے او دارنګ همیشه دے - اَلَا لَهُ الْحُكْمُ یعنی روستو د رد نه فرمائي چه اختیار د فیصلے کولو صرف الله تعالیٰ لره دے بل چا ته یٔے دا اختیار نه دے سپارلے په ۵۷ کښ احکام دنیویه مراد دی او دلته حکم اخروی مراد دے او د فیصلے سره حساب هم شامل دے د دے وجے نه یٔے په عطف سره ذکر کړو- اَسْرَعُ الخ په حدیث سره ثابت ده چه الله تعالیٰ به د ټول مخلوق په دومره وخت کښ حساب اوکړی چه د دنیا د ورځو نه به سحر نه ترغرے پورے وخت وی.

۶۳ دا بل دلیل عقلی دے چه په ډیرے سختئ کښ تاسو هم الله تعالیٰ ته رامداد شه وایئ نو دارنګ په هر تکلیف کښ د هغه نه مدد غواړئ او د هغه بندګی خاص کړئ. ربط د دے ایت دا دے چه دا دلیل دے په دے خبره چه کافران هم الله تعالیٰ مولا حق ګنړی حکم د هغه د پاره منی په دلیل د دے چه دوی په سختو کښ صرف الله تعالیٰ ته رامداد شه وائي - ظُلُمٰتِ مراد حقیقی تیارے دی چه په صحرا یا ځنګل کښ تیارے د شپے او د وریځے کښ راګیرشی او په دریاب کښ په تیارو د شپے او د وریځو او په تیارو د سیلئ او په چپو کښ راګیرشی.

اللّٰهُ يُنَجِّيكُم مِّنْهَا وَمِن كُلِّ كَرْبٍ ثُمَّ

اللہ تعالیٰ بہ بچاؤ درکوی تاسو نہ دَ هغہ مصیبت نہ او دَ هر غم نہ بیا هم

أَنتُمْ تُشْرِكُونَ ﴿٦٤﴾ قُلْ هُوَ الْقَادِرُ

تاسو شرک کوئ۔ تہ اووایہ اللہ تعالیٰ قادر دے

عَلَىٰ أَن يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عَذَابًا مِّن فَوْقِكُمْ

پہ دے چہ راولیږی پہ تاسو باندے عذاب دَ برہ طرف ستاسو نہ

أَوْ مِن تَحْتِ أَرْجُلِكُمْ أَوْ يَلْبِسَكُمْ شِيَعًا

یا لاندے دَ خپو ستاسو نہ یا یہ ګډ (ږوځای) کړی تاسو سرہ مختلف خیال والا ډلے

یامراد دَ ظلمات نہ سختئ او تکلیفونہ دی پہ اوچہ یا پہ دریاب کښ چہ پہ انسان باندے داسے هیبت راولی چہ بیایئ نظر هم نہ لری پشان دَ تیارو۔

تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً مراد دَ تضرع نہ معنی مشهورہ دہ یا پہ معنی دَ علانیہ دے او جهر پہ ژبہ او خفیة پہ زړہ کښ نو مراد ترینہ دوارہ طریقے دی ښکارہ او پټ یا مطلب دا دے چہ پہ یو وخت کښ تضرع پہ ژبہ او پټ والے (اخلاص) پہ زړہ کښ وی۔

الشَّاكِرِينَ سمعانی او شربینی وئیلے دی چہ شکر پیژندل دَ نعمت دی سرہ دَ ادا کولو دَ حق دَ منعم نہ۔ یا نسبت دَ نعمت دے منعم حقیقی تہ سرہ دَ خرچ کولو دَ نعمت نہ پہ رضا دَ منعم کښ۔

۶۴ دا جواب دے دَ مخکښ سوال او دلیل دے چہ اللہ تعالیٰ دَ هر مصیبت نہ نجات ورکوونکے دے نو تاسو ولے هغہ سرہ شریک جوړوئ۔

كَرْبٍ هغہ غم دے چہ ساہ ورسرہ ډوبہ شی یعنی نهایت غم۔ او دَ دے ایتونو پہ شان پہ سورۃ یونس ۲۲ او بنی اسرائیل ۶۷ او عنکبوت ۶۵ او روم ۳۳ او نحل ۵۴ کښ دی۔

وَّيُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ ؕ اُنْظُرْ

او او به څکوي بعضِ ستاسو ته جنګ دَ بعضو ۔ اوګوره

كَيْفَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ ﴿۶۵﴾

څه رنګه قسما قسم بیانوو موږ دلیلونه دَ دے دَ پاره چه دوی پوهه شی۔

۶۵ دا بل دلیل عقلی دے دَ عذاب اختیار دَ یو الله تعالیٰ سره دے او دا رنګ دا یره دنیوی ده۔ ربط دا دے چه هر کله دَ یو تکلیف نه الله تعالیٰ تاسو ته نجات درکړی او بیا تاسو شرک کوئ نو الله تعالیٰ قادر دے چه په بله طریقه په تاسو عذاب را اولیږی۔ اَنْ يَّبْعَثَ عَلَيْكُمْ خطاب مشرکانو کافرانو ته دے: دا دَ حسن بصری نه نقل دے۔ یا امت دَ محمد صلی الله علیه وسلم دَ پاره خطاب دے لکه چه دَ مجاهد نه روایت دے لیکن بنا په روستنی قول با ندے اول دواړه عذابونه الله تعالیٰ دے امت ته معاف کړیدی په سبب دَ دُعا دَ نبی صلی الله علیه وسلم ابن کثیر دَ دے ایت په تفسیر کښ اولس احادیث په دغه یو مضمون سره ذکر کړے دی۔ دَ یو حدیث مضمون دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ دے ایت دَ نزول په وخت کښ دَ اسمانی عذاب نه او دَ زمکے (دَ خسف) دَ عذاب نه دَ ټول امت دَ پاره پناهی اوغوختله او ئیل ئے اعوذ بوجهك او هغه قبوله شوه بیا دَ اختلاف دَ عذاب نه پناهی اوغوختله نو هغه قبوله نه شوه نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل هٰذَا اَيْسَرَ او اَهْوَنُ (دا اسان دے)۔

مِّنْ فَوْقِكُمْ سیلئ، صیحه، کاڼړی ورول، طوفان لکه په قوم نوح، عاد، ثمود، قوم لوط او اصحاب فیل باندے وو۔ اَرْجُلِكُمْ غرق او خسف لکه فرعون او قارون باندے او ابن عباس او مجاهد نه مفسرینو نقل کړیدے چه مراد دَ اول نه امراءِ سوء دی او دَ دویم نه نافرمانه خدمتګاران او اولاد دی۔ او زمخشری وئیلے دی چه برے نه باران بندول او دَ زمکے نه بوټی بندول دا فوق او تحت عذاب دے۔ شِيَعًا هغه مختلف ډلے چه دَ خواهشاتو تابع وی لکه چه حدیث کښ ثابت دی چه په دے امت کښ به درے اویا ډلے پیدا کیږی دَ یو نه علاوه به ټول دَ خواهشاتو تابع وی او دا هم مستقل عذاب دے۔ او دا سبب دَ بل عذاب دے چه يُذِيْقَ بَعْضَكُمْ بَاْسَ بَعْضٍ مراد ترینه قتل وقتال دے په کورنئ کښ۔ لَعَلَّهُمْ يَفْقَهُوْنَ معلومه شوه چه قسما قسم ایاتونو دَ قران او دلیلونو سره فقاهت حاصلیږی۔

وَكَذَّبَ بِهٖ قَوْمُكَ وَهُوَ الْحَقُّ ؕ قُلْ لَّسْتُ
او دروغژن گڼړی دے له قوم ستا او حال دا چه دا حق دے. ته او وایه نه یم زه
عَلَيْكُمْ بِوَكِيْلٍ ﴿٦٦﴾ لِكُلِّ نَبَاٍ مُّسْتَقَرٌّ ؗ وَّ
په تاسو باندے ذمه وار. دپاره د هر خبر وخت مقرر دے او
سَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَاِذَا رَاَيْتَ الَّذِيْنَ
زر ده چه تاسو به پوهه شئ. او کله چه ته اووینے هغه کسان چه
يَخُوْضُوْنَ فِيْۤ اٰيٰتِنَا فَاَعْرِضْ عَنْهُمْ
(ناروا) بحث کوی په ایاتونو زمونږ کښ نو مخ اړوه د دوی نه
حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ؕ وَاِمَّا
تر دے چه مشغول شی دوی په نورو خبرو کښ او که چرے
يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ فَلَا تَقْعُدْ بَعْدَ
هیر کړی ستا نه شیطان نو مه کینه روستو د
الذِّكْرٰى مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿٦٨﴾
یاداشت نه د قوم ظالمانو سره.

۶۶ دا زورنه ده نه منونکوته او ضمیر د بِهٖ قرآن یا عذاب یا تصدیق الایات ته راجع دے. بِوَكِيْلٍ هغه څوک چه کار او اختیار ورته سپارلے شوے وی نو تکذیب نه منع کول کولے شی.

۶۷ دا جواب د سوال دے چه دوی انکار کوی نو عذاب ورباندے ولے نه راځی؟ جواب دادے چه د هغے مقرر نیټه ده. نَبَاٍ هغه خبر چه په قرآن کښ موجود وی د دنیا عذاب یا د اخرت عذاب یا د قرآن عام کول.

۶۸ دا ادب دے چه کله په یو مجلس کښ د شرک او بدعت او فسق خبرے کیږی نو دغه مجلس کښ شریک کیدل منع دی، صرف د هغوی د نصیحت دپاره تلل جائز دی. ربط دادے چه مخکښ ذکر کړل مستحقین د عذاب په سبب د تکذیب

وَمَا عَلَى الَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ مِنْ حِسَابِهِمْ

او نیشته په هغه کسانو چه ځان ساتي (د شرک نه) د حساب د هغوی نه

سره او چه ورسره استهزاء او طعن مرګ کړے کړی نو د هغوی حال اوس ذکر کوی.
دارنګ تکذیب کوونکی یو خوطعن او استهزاء کوونکے دی دویم دین لره لهو لهب ګنړونکی دی
نو د اول قسم ذکر په دے آیت کښی کوی او د دویم قسم ذکر به په ننګ کښی کوی.
وَإِذَا رَأَيْتَ رویة (لیدل) د سترګو او علم دواړو ته عام دے. الَّذِيْنَ يَخُوْضُوْنَ
خوض په لغت کښی په اوبو کښی ننوتلو (غوپه کیدلو) ته وئیلے شی او بیا استعمال شی
په مشغوله کیدلو په لغو او عبث خبرو یا کارونو کښی. بل قول دا دے چه خوض
خلط (ګډ وډ کولو) ته وئیلے شی. قرطبی د مجاهد نه نقل کړے دے چه مراد د دینه
هغه خوک دی چه استهزاء کوی په قرآن پورے. ابن عربی وئیلے دی چه په دیکښی
اهل کبائر داخل دی. سمعانی وئیلے دی چه داخل دے په دے کښی هر بحث چه په
آیاتونو الهیو کښی وی او د کتاب وسنت سره موافق نه وی. او ابن کثیر وئیلے
دی چه مراد په دے خطاب سره هر فرد د افرادو د دے امت دے چه نه به
کینی د هغه چا سره چه تحریف کوی په آیاتونو د الله تعالیٰ کښی او د هغے غلط تفسیر
کوی. او قرطبی د دے د لاندے تول بدعتیان داخل کړے دی او د هغوی په
بدئ کښی ئے ډیر روایات ذکر کړے دی. فِيْ اٰيٰتِنَا مراد د دے نه قرآن دے او ټولو
احکامو او دینی مسئلو ته شامل دے. حَتّٰى يَخُوْضُوْا فِيْ حَدِيْثٍ غَيْرِهٖ ضمیر
مذکر آیاتونو ته په اعتبار د قرآن سره راجع دے یعنی دا سے بحث کوی چه په
هغے کښی استهزاء او طعن د قرآن او د دین نه نه وی او تحریف او غلط تاویلات نه وی
نو بیا ورسره کیني او تفسیر د خوض او د اعراض په سورة نساء ننګ کښی ذکر دے.
وَإِمَّا يُنْسِيَنَّكَ الشَّيْطٰنُ یعنی هیر کړی عمل په دے قول باندے چه "فَأَعْرِضْ"
او لا تَقْعُدْ" او دا دلیل دے په دے خبره باندے چه په نبی صلی الله علیه وسلم
باندے نسیان راتلے شی او دا مسئله سره د اختلاف نه قرطبی لیکلے ده.
بَعْدَ الذِّكْرٰى ذکری په معنی د یاد داشت دے د حکم د الله تعالیٰ په اعراض سره
یا په معنی د نصیحت کولو او منع کولو د خوض فی الایات نه دے.

مِّنْ شَيْءٍ وَّلٰكِنْ ذِكْرٰى لَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿٦٩﴾

څه شے۔ او لیکن نصیحت کول دی (په دوی باندے) د دے دپاره چه دوی۔ بچ شی۔

وَذَرِ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا

او پرېږده هغه کسان چه جوړ کړی دے دین خپل لوبے او مشغله

وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا وَذَكِّرْ بِهٖٓ

او دهوکه کښې اچولی دی دوی لره ژوند دنیوی او بیان کړه قرآن

اَنْ تُبْسَلَ نَفْسٌۢ بِمَا كَسَبَتْ ۖ لَيْسَ لَهَا

چه راګیر نشی یو نفس په سبب د عمل خپل نه به وی دهٔ لره

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلِيٌّ وَّلَا شَفِيْعٌ ۚ وَاِنْ تَعْدِلْ

سیوا د الله تعالیٰ نه دوست بچ کوونکے او نه سفارشی، او که جرمانه ورکوی

كُلَّ عَدْلٍ لَّا يُؤْخَذْ مِنْهَا ۗ اُولٰٓئِكَ الَّذِيْنَ

هره جرمانه نه به شی اخستے کیدے د هغه نه۔ دغه کسان هغه دی

ف ٦٩ دا هم متعلق دے د مخکښې آیت سره چه د مؤمنانو په ذمه باندے تبلیغ او نصیحت کول دی د دے خلقوته هرکله چه د هغوی مجلس کښې شریک شی په مجبورئ سره۔ په دے آیت کښې دوه توجیه دی اول دا چه مشرکان ستاسو مجلس ته راشی او خوض کوی نو په تاسو باندے ګناه نیشته۔

دویم دا چه یتقون معنی دا ده چه ځان بچ کوی د شرکت د مجلس د هغوی نه نو په هغوی باندے د مشرکانو د کارونو هیڅ حساب نیشته لیکن صرف په هغوی باندے تذکیر او نصیحت کول دی۔

أُبْسِلُوا بِمَا كَسَبُوا ۖ لَهُمْ شَرَابٌ مِّنْ حَمِيمٍ

چه گیر به شي په سبب د عملونو خپلو، دوی د پاره څښکل دي د گرمو اوبو نه

وَعَذَابٌ أَلِيمٌ بِمَا كَانُوا يَكْفُرُونَ ﴿٧٠﴾

او عذاب دردناک دے په سبب د هغې چه دوی کفر کوی.

قُلْ أَنَدْعُوا مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُنَا

ته ورته اووایه! آیا راوبلو سیوا د الله تعالیٰ نه هغه څوک چه نه فائده راکولے شي

ن ک دا بل ادب دے په باره د دویم قسم خلقو کښ چه دین یئے لهو ولعب گنړلے دے او دا آیت هم مخکښ ادب سره متعلق دے چه د دغه خلقو سره قطع تعلق اوکړه او بیا یره اخروی ده. اِتَّخَذُوا دِيْنَهُمْ لَعِبًا وَّلَهْوًا یو معنیٰ دا ده چه دین توحید او سنت پورے ټوقے کوی او عبث یئے گڼړی پشان د لوبو کولو یا ځان مشغولو لکه کمیونسټ وائي چه دا دین صرف د افیون پشان دے. دویمه معنی دا ده چه کوم شے چه لوبے دی د هغې نه یئے دین جوړ کړے دے، لکه عرسونه په قبرونو د اولیاؤ یا قوالی او ګډا کول وغیره چه بعض متصوفو او ملنګانو دینه دین وئیلے دے.
دریمه معنی دا ده چه لعب او لهو دنیا ده، یعني دین یئے د دنیا د پاره ذریعه ګرځولے ده د دُنیا جاه یا مال پرے ګټي لکه بعضِ سیاسیان د دے زمانے چه د قرآن او د اسلام په نوم ځان کرسئ ته اورسوی او بیا د دین تپوس نه کوی. دا رنګ اجرتیان چه قرآن لوستل او د دین کار د دنیا حاصلولو په نیت سره کوی. څلورمه معنی دا ده چه دین اختر ته وائي یعني اختر په لهو ولعب او خواهش پرستۍ کښ تیر کړی او سنت طریقه پکښ نه کوی دا رنګ په سورة اعراف ۵۱ کښ دے او دا معانی نیشاپوری په خپل تفسیر کښ لیکلے دی. لفظ د لعب په لهو باندے په څلور آیاتونو کښ مخکښ راوړے دے لکه په دے سورت کښ ۳۲ سورة محمد ۳۶ سورة حدید ۲۰ او دا آیت، او په دوه آیاتو کښ لهو مخکښ ذکر کړے شوے دے لکه سورة عنکبوت ۶۴ اعراف ۵۱ فرق د لهو او لعب په ۳۲ کښ ذکر شویدے او هر کله چه په دے سورت ۳۲ کښ لعب مخکښ ذکر کړے دے نو د هغې د موافقت د وجے نه په دے آیت کښ هم مخکښ ذکر کړو او اشاره ده چه دلته دریمه معنی غوره ده او سورة اعراف کښ اولاً رد وؤ په هغه چا باندے چه لهو (بربنډ طواف) یئے دین ګڼړلو نو د هغې

وَلَا يَضُرُّنَا وَنُرَدُّ عَلٰٓى اَعْقَابِنَا بَعْدَ

او نه ضرر راکولے شی مونږ ته، او واپس شو مونږه په پوندو خپلو روستو دَ

اِذْ هَدٰىنَا اللّٰهُ كَالَّذِى اسْتَهْوَتْهُ الشَّيٰطِيْنُ

هغې نه چه هدایت کړے دے مونږ ته الله تعالیٰ (او شو به) پشان دَ هغه چا چه بے لاره کړے وی هغه لره شیطانانو

فِى الْاَرْضِ حَيْرَانَ ۖ لَهٗٓ اَصْحٰبٌ يَّدْعُوْنَهٗٓ

په زمکه کښ چه حیران وی، دهٔ لره به ملګری وی بلی به دهٔ لره

اِلَى الْهُدَى ائْتِنَا ؕ قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ

هدایت ته چه راشه مونږ ته (تو ته به راځې). ته ورته او وایه چه یقیناً هدایت دَ الله تعالیٰ هغه

الْهُدٰى ؕ وَاُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿۷۱﴾

صحیح دین دے. او حکم کړے شوے دے مونږ ته چه اخلاص دِ کوو صرف رب العالمین ته -

دَ مناسبت دَ وجے نه اعراف ۵۱ کښ لهو مخکښ ذکر کړیده. او هر کله چه دلته دریمه توجیه غوره وه (چه دین یئے دَ دنیا دَ پاره ذریعه جوړه کړیده) دَ دے وجے نه وروستو غَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ذکر کړے دے وَذَكِّرْ بِهٖٓ ضمیر قرآن ته راجع دے او په دے کښ اشاره ده چه ذَرِ (پریږدوه) کښ ترک دَ دعوت مراد نه دے بلکه بے پرواه کیدل او انتظار دَ عذاب دَ هغوی مراد دے. اَنْ تُبْسَلَ دَ دے په معنی کښ مختلف تعبیرات دی. ۱ حبس یعنی بندیدل، راګیرول، کانړه کیدل. ۲ فضیحت (شرمیدل) ۳ محروم کیدل دَ ثواب نه ۴ سوزدل او کلام په اصل کښ کراهِيَةً یا لِئَلَّا تُبْسَلَ دے. شَفِيْعٌ داخاص دے په مشرک کافر پورے یا مراد دا چه بغیر دَ اذن دَ الله تعالیٰ نه سفارشی به نه وی نو عام دے. وَاِنْ تَعْدِلْ دا سے په سورة بقره ۴۸ ۱۲۳ کښ هم دی او دا سے په سورة العمران ۹۱ او مائده ۳۶ کښ دی.

۷۱ دا نتیجه دَ تیر شوؤ دلیلونو ده او رد دَ شرک فی الدعا دے او په دے سره نور اداب او طریقے دَ تعلیم ذکر کوی او جواب دَ سوال دے که دنیا پرست مشرکان او وائي چه دنیا پرستی هغه چا ته نقصان ورکوی چه دَ هغوی ولی او شفیع دَ الله تعالیٰ نه سیوا نه وی (موحد اوی) نو راشئ دَ الله تعالیٰ نه سیوا ولی او شفیع

وَاَنْ اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ وَاتَّقُوْهُ ۭ وَهُوَ الَّذِيْٓ

او دا حکم شوے مونږ ته چه پابندی کوئ د مانځه او یره کوئ د هغه نه - او الله تعالیٰ هغه ذات

اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ ﴿۷۲﴾ وَهُوَ الَّذِيْ خَلَقَ

الثلثة

چه هغه ته به جمع کړے شئ تاسو - او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړے یې دی

او نیسئ او هغه ته رامددشه وایئ نو کامیاب به شئ نو د هغے جواب دے په دے ایت کښ د ما نه ولی او سفارشی مراد دے.

وَنُرَدُّ عَلٰٓی اه دا عطف د مسبب دے په سبب باندے یعنی دعا د غیر الله سبب د ارتداد دے - كَالَّذِي اسْتَهْوَتْهُ اه دا حال دے چه شو به په دا سے حال کښ مونږ مشابه د هغه چا سره. اسْتَهْوَتْهُ د هوية نه ماخوذ دے په معنی د کندے سره یعنی چه غورځولے وی شیطانانو په کنده کښ یا د هوی نه ماخوذ دے په معنی د خواهش دے یعنی ګرځولے وی شیطانانو تابع د خواهشاتو او بخاری وائي یعنی ګمراه کړے وی هغه لره شیطانانو. حَيْرَانَ حال دے یعنی دا سے حیران وی چه صحیح لار نه پیژنی - لَهٗٓ اَصْحٰبٌ یعنی د مرکرو خبره هم نه منی حاصل د مثال دا دے چه یو سړے د مرکرو سره بهر و تلے وی نو پیریان او شیطانان ترینه لار روکه کړی نو مرګری یې صحیح لارے ته رابلی او شیطانان یې ګمراه کوی د لارے نه نو صحیح لارے ته نشی راتلے نو دارنګ هغه څوک چه غیر الله ولی او شفیع ګنړی او حاجتو کښ ورته رامددشه وائي نو موحدین یې توحید ته رابلی لیکن ګمراهانو پیرانو ملیانو د هغه په دماغو قبضه کړیده نو هغه د توحید خبرے ته غوږ هم نږدی قُلْ جواب سوال دے - سوال دا چه هغه مشرک وائي چه زما لار د هدایت ده زه بله لار نه منم؟ - جواب دا دے قُلْ اِنَّ هُدَى اه - وَ اُمِرْنَا دا هم جواب دے د هغوی د دعوے هغوی وائي زمونږ پیرانو مونږ ته دا لار خودلے ده مونږ د هغوی تابع یو جواب اوشو وَاُمِرْنَا اه - او دے ایت نه معلومه شوه چه بلنه د غیر الله په حاجتونو کښ مرتد کیدل دی. مشرک په وخت د حاجت کښ پریشان وی چه کوم درګاه ته لاړ شم کله یوله ځی او کله بل له ځی. او د موحد د پاره یو در د الله تعالیٰ دے په هر حالت کښ.

۷۲ دا ذکر د حق د الله دے په توحید سره، دا عطف دے په لنسلم باندے په تاویل سره یعنی ولنقيم الصلوٰة یا امرنا ان اسلموا وان اقيموا الصلوٰة دا هم عملی

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ بِالْحَقِّ ؕ وَيَوْمَ يَقُوْلُ

اسمانونه او زمکه د حق ښکاره کولو دپاره - او(اختیار لري) د هغه ورځې چه اوبه وائي

كُنْ فَيَكُوْنُ ۬ؕ قَوْلُهُ الْحَقُّ ؕ وَلَهُ الْمُلْكُ

اوشه نو اوبه شي - ويينا د هغه حقه (رشتيا) ده - او خاص هغه لره بادشاهي ده د

يَوْمَ يُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ ؕ عٰلِمُ الْغَيْبِ

هغه ورځې چه پوکے به اوکړے شي په شپيلۍ کښ - هغه عالم دے په هر پټ

وَالشَّهَادَةِ ؕ وَهُوَ الْحَكِيْمُ الْخَبِيْرُ ﴿٧٣﴾

او ښکاره باندے - او هغه حکمتونو والا دے خبردار دے.

فرق دے په مينځ د فريقينو کښ يعنى اصحاب د توحيد امر کوی او دارنګ ماموړ
دی په اقامة الصلوة او په تقوی سره او په عقيده د حشر سره او دعا کوونکی د
غير الله دا حقوق الٰهيه نه اداکوی.
٧٣ دا بل دليل عقلی د توحيد دے چه پيدا کول د دنيا او ورانول د دُنيا دواړه
د الله تعالیٰ په اختيار کښ دی کارساز هم دے او غيب دان هم دے.
وَهُوَ الَّذِىٓ عطف دے وَهُوَ الَّذِىٓ اِلَيْهِ تُحْشَرُوْنَ باندے. بِالْحَقِّ سمعانی وئيلی
دی چه په معنى د اظهار حق دے (يعنى دليل د توحيد) يا په معنى د کلام حق دے
(شربينی). او دا دليل دے چه کلام د الله تعالیٰ مخلوق نه دے بلکه سبب د
خلق دے. وَيَوْمَ عطف دے په السموات اه باندے (يعنى تقدير ئے کړيدے
د ورځ د قيامت) يا لفظ د اذکر پټ مراد دے. كُنْ فَيَكُوْنُ مراد ترينه مړه کول
او بيا ژوندی کول د خلقو دی په کلمه د کن سره.
فائده: په دے ايت کښ د قراؤ اختلاف دے د بعضو په نيز وقف د ايت دے
په فيکون باندے او د بعضو په نيز ايت نيشته.
قَوْلُهُ الْحَقُّ فاعل دے د فيکون دپاره. يا مبتدا او خبر دی. ابن کثير وئيلی دی
چه دا جمله او ورپسے صفتونه دپاره د لرب العالمين دی په ماسبق کښ. او مراد
د قول نه کلمه د کن ده يا ټول کلام د الله تعالیٰ دے. وَلَهُ الْمُلْكُ يو توجيه
دا ده چه دا مستقل کلام (جمله) دے عطف دے په قوله الحق باندے

وَاِذْ قَالَ اِبْرٰهِيْمُ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ اَتَتَّخِذُ

او کله چه اُوئیل ابراهیم (علیه السلام) پلار خپل ته چه (نوم یې) آزر وو، ایا گرځوې ته

اَصْنَامًا اٰلِهَةً ۚ اِنِّيْٓ اَرٰىكَ وَقَوْمَكَ

بُتان حاجت پوره کوونکي (حقدار د بندگئ) یقینًا زه وینم تا لره او قوم ستا

فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ ﴿۷۴﴾ وَكَذٰلِكَ نُرِيْٓ

په گمراهئ ښکاره کښې. او د غسې او خودل مونږه

او یَوْمَ یُنْفَخُ بدل دے د یوم یقول نه. یا ظرف متعلق دے په الملك پورے او تخصیص د ملك په هغه ورځ پورے په طریقه د سورة مؤمن ۱۶ سره دے. یُنْفَخُ فِي الصُّوْرِ، نفخ فی الصور په قرآن کښ لس کرته ذکر ده او دا یې اول آیت دے هر کله چه دا سورت د تفصیل د عقیدے د پاره دے نو د دے وجے نه په دے کښ اول محل بانـدے دا مسئله ذکر کړه او نفخ فی الصور د اهل تحقیق په نیز بانـدے دوه کرته ده اول د فنا د پاره او دویم د بعث بعد الموت د پاره او په دے آیت کښ نفخ دواړو ته عام ده. صُوْر په اصل کښ قرن (ښکر) ته وئیلے شي او مراد د دے نه هغه قرن (شپیلئ) ده چه اسرافیل علیه السلام به په هغے کښ په حکم د الله تعالیٰ سره پو کے کوی د پاره د فنا د مخلوق بیا د پاره د دوباره ژوند او په دے باره کښ ډیر صحیح احادیث ابن کثیر په تفسیر کښ لیکلے دی او چا چه وئیلے دی چه صور جمع د صورت ده او معنی دا ده چه ارواح به په صورتونو د ابدانو کښ او پوکلے شي او ژوندی به کړے شي په دے بانـدے ابن کثیر قرطبی او شربینی وغیرهم رد کړے دے چه دا د قرآن او حدیث او اجماع الامت نه خلاف تفسیر دے.

ﺳﮑﮯ د دے آیت نه شلورم باب دے ترنمبر ۹۰ پورے په دے کښ دلیل نقلی دے د ابراهیم علیه السلام نه تفصیلاً او د اولس انبیاؤ علیهم السلام نه اجمالاً یعنی د الله تعالیٰ د یو والی مسئله لکه څنګه چه په عقلی دلیلونو سره ثابته ده نو دارنګ په ژبه د ابراهیم علیه السلام او د نورو انبیاؤ نه ثابته ده او مشرکین مکه دعوی کوله چه مونږه د ابراهیم علیه السلام په دین بانـدے یو نو د ابراهیم علیه السلام دین بیان شو. اَصْنَامًا د ستورو شکلونه او د نیکانو

اِبْرٰهِيْمَ مَلَكُوْتَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ

ابراهیم (علیه السلام) ته (دلیلونه) دَ بادشاهئ دَ اسمانونو او دَ زمکې (چه دلیل پرې اونیسی)

بندګانو شکلونه یې جوړکړے وُو اودَ هغوی ارواح یې مددګار ګڼړل۔ اصنام جمع دَ صنم ده ابن جریر وئیلي دی هرهغه شکل چه دَ لرګی یا ګټې وغیره نه جوړ کړے شی چه په شکل دَ انسان یا بل څه څیز سره وی اوهغه شکل ته هم وئیلے شی چه په دیوال وغیره باندے په شکل دَ انسان وغیره سره جوړ شی اوهر معبود من دون الله ته هم وئیلے شی۔ قوم دَ ابراهیم علیه السلام ستوری معبود ګڼړل او دَ هغوی بتان یې جوړکړے وُو او وئیل یې چه مونږ هرکله دَ دے بت عبادت کوُونو په دے سره روح دَ هغه ستوری خوشحالیږی او زمونږ حاجتونه پوره کوی نو دَ ورځې دَ هغه بتانو او دَ شپې یې دَ ستوری عبادت کوُو۔ لِاَبِيْهِ اٰزَرَ ظاهر دَ قرآن دلیل دے چه اٰزر نوم دَ پلار دَ ابراهیم علیه السلام دے او تاریخ والو لیکلے دی چه دَ هغه نوم تارخ وُو نو دَ قرآن په مقابله کښې تاریخ ته هیڅ اعتبار نیشته هان کیدے شی چه اٰزر یې نوم وی او تارخ یې لقب وی او څوک چه وائی چه دا نوم دَ معبود دے اوعبادت کښې لفظ دَ عابد اٰزر پټ دے او دا رنګ څوک وائی چه اٰزر یې دَ تره نوم وُو او تره ته پلار هم وئیلے شی نو دا قولونه دَ قرآن دَ ظاهر نه خلاف دی۔

اَتَتَّخِذُ اٰه دا دلیل دے چه صنم (بت او فوټو) جوړول ناجائز دی اوهرکله چه دَ هغې عبادت کوی او دَ هغې دا سے تعظیم کوی لکه دَ الله تعالیٰ نو دا خو عین شرک دے۔ فِيْ ضَلٰلٍ مُّبِيْنٍ سوال: دا خو سخت الفاظ دی په دعوت کښې خو نرم کلمات وئیل پکار دی؟

جواب: نیشاپوری وئیلے دی چه اول بیان دَ هغه په سورة مریم کښې ذکر دے چه ډیر نرم دے او هرکله چه په هغې سره هدایت ته رانغی نو روستو یې ورته دا الفاظ وئیلے دی او دلیلونه یې ورته پیش کړے دی او پلار یې په دعوت کښې مخکښې کړے دے ځکه دا حق شرعی دے او دَ پلار حق مخکښې اداکول پکار دی بل دا چه اٰزر دَ هغه مشرکانو مشر وُو او هغه خلق به یې شرک ته رابلل دَ دے وجې نه دهٔ ته مخکښې دعوت اوکړے شو۔

وَلِيَكُوْنَ مِنَ الْمُوْقِنِيْنَ ﴿٧٥﴾ فَلَمَّا جَنَّ

او دے دپارہ چه شی دے دَ یقین کوونکو نه۔ نو هرکله چه اوغوړیدله

عَلَيْهِ الَّيْلُ رَاٰ كَوْكَبًا ۚ قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ

پدهٔ باندے شپه اوئیلیدلو یو ستورے، دهٔ اوئیل آیا دا زما رب دے،

فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَآ اُحِبُّ الْاٰفِلِيْنَ ﴿٧٦﴾

نو هرکله چه پټ شو هغه، نو اُوئیل دهٔ خُهٔ نه خوخوم (خدائیتوب دپارہ) پټیدونکی۔

۷۵ دا آیت دلالت کوی په دے باندے چه ابراهیم علیه السلام دَ شرک رد په دلیلونو سره کړے وو۔ وَكَذٰلِكَ کاف دَ پارہ دَ تشبیه دے یعنی لکه چه خودلے وؤ مونږ هغه ته ضلال دَ شرک یا په معنی دَ علت دے یعنی دَ دغه شرک دَ رد دَ وجے نه خودلے وؤ مونږ دهٔ ته دلیلونه۔ نُرِيْٓ مراد دَ دے رویتِ علمی دے لکه په سورۃ سبا ۹ او سورۃ یونس ۱۰۱ کښ دی او سورۃ اعراف ۱۸۵ کښ۔ مَلَكُوْتَ الخ دا مبالغه دَ مِلْك ده او دَ مجاهد او سعید بن جبیر نه شربینی نقل را وړے دے چه مراد دَ دے نه آیات (دلیلونه) دَ آسمانونو او دَ زمکے دی یعنی عقلی آفاقی دلیلونه دَ توحید۔ وَلِيَكُوْنَ الخ دَ دے نه مخکښ معطوف علیه پټ مراد دے لیستدل دَ پارہ دَ دے چه دلیل اونیسی دَ پارہ دَ رد دَ مشرکانو په هغے سره۔ الْمُوْقِنِيْنَ یقین عبارت دے دَ هغه علم نه چه حاصل شی په دلیل سره او هیڅ شبه پاتے نه شی۔

۷۶ دَ کوم ستوری عبادت چه دوی کوو هغه ښکاره شو۔ هٰذَا رَبِّيْ په طریقه دَ تپوس انکاری سره دے یعنی آیا دا رب کیدے شی؟ نه، دا قول دَ قطرب دے لکه سورۃ انبیاء ۳۴ کښ۔ یا دا معنیٰ ده چه دا رب دے په عقیده ستاسو کښ لکه په سورۃ حم سجده ۴۷ کښ او دا چه وئیلے شوید ی چه ابراهیم علیه السلام په عقیده سره وئیلے وو چه دا رب دے او بیا روستوئے توحید اوپیژندو یا دائے په طریقه دَ شک سره وئیلے دی دا دواړه خبرے باطلے دی ځکه چه انبیاء علیهم السلام دَ شرک نه یقیناً پاک دی او دَ هغوی عقیده دَ توحید نه چرے نه خالی کیږی۔ او دا خبره قرطبی او شربینی او ابن کثیر په تفصیل سره لیکلے ده او دوی وئیلے دی چه جائز نه ده چه په نبی باندے دا سے وخت راشی چه هغه دَ توحید نه خالی وی۔ نو معلومه شوه چه دا بیان ابراهیم علیه السلامؑ په طریقه

فَلَمَّا رَاَ الْقَمَرَ بَازِغًا قَالَ هٰذَا رَبِّيْ ۚ

پس هر کله چه اولیده لـ دهٔ سپوږمئ ځلیدونکې دهٔ وئیل ایا دا ځما رب دے

فَلَمَّآ اَفَلَ قَالَ لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ رَبِّيْ

نو هر کله چه پټه شوه، دهٔ وُئیل که نه وے کړے خودنه ما ته رب ځما (د توحید)

لَاَكُوْنَنَّ مِنَ الْقَوْمِ الضَّآلِّيْنَ ﴿۷۷﴾ فَلَمَّا

خامخا وے به ځه د قوم ګمراهانو نه۔ پس هر کله چه

د دلیل سره قوم ته پیش کړے وو او په دے باندے لفظ د فا په فلما کښ دلالت کوی چه روستو د رد د شرک او د دلیلونو خودلونه دا استدلال ئے کړے دے دا رنګ دلیل په دے باندے وحاجه قومه او تلك حجتنا اٰتینها ابراهیم او دا رنګ سورة انبیاء ۵۱ کښ ئے او کوے قصے چه دلته بعض مفسرینو د ابراهیم علیه السلام په باره کښ لیکلے دی هغه اسرائیلیات دی۔ اَفَلَ پټیدل او ښکاره کیدل عوارض دی او په چاچه عوارض راځی نو هغه اِله نشی کیدے دا رنګ په چاچه ژوند پسے مرګ راځی او قبر کښ پټیدلے شی نو هغه هم حاجت روا نه شی کیدے۔ دلیل نیول په افول سره فائده ورکوی خواصو، اوساطو او عوامو لره خواص خلق د دے نه معلوموی امکان لره او هر ممکن محتاج وی او محتاج معبود نه شی کیدے۔ اوساط خلق معلوموی د دے نه حرکت او هر متحرک حادث وی او حادث اِله نشی کیدے او عوام فهم کوی د دے نه پټیدل او په پټیدلو سره تورلا رشی او تبدیلی راشی او دا سے حالت د اِله د پاره نشی کیدلے او دا استدلال تمام ممکنا تو حوادثو ته شامل دے که انسانان دی که جنات او که ملائیک دی، ژوندی دی او که مړهٔ دی او بتان وغیره۔ د دے وجے نه افلین ئے جمع د ذوی العقولو ذکر کړے دهٔ۔

۷۷ دا دلیل نیول دی په احوالو د قمر سره او دا دا سے شپه وه چه په هغے کښ د کوکب (ستورے د ماښام) نه روستو سپوږمئ ښکاره شوه۔ بَازِغًا بزغ په اصل کښ شق ته وئیلے شی نو سپوږمئ او نمر کله چه را ښکاره کیږی نو تیارو لره او چوی په خپلے رنړا سره نو مراد ترینه شروع کیدل د طلوع د هغے دی لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِيْ دلیل د افول خو مخکښ ذکر شوے دے او س پدے جمله کښ

رَاَ الشَّمْسَ بَازِغَةً قَالَ هٰذَا رَبِّیْ

اولیدلو دهٔ نمر ځلیدونکې ، دهٔ اُوئیل آیا دا ځما رب دے ؟

هٰذَآ اَكْبَرُ ۚ فَلَمَّآ اَفَلَتْ قَالَ يٰقَوْمِ

دا لوئے دے (ستاسو په ګمان) نو هر کله چه پټ شو هغه ، دهٔ اُوئیل اے قومه ځما !

اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ مِّمَّا تُشْرِكُوْنَ ﴿٧٨﴾ اِنِّیْ وَجَّهْتُ

یقینًا ځهٔ جدا یم د هغې نه چه تاسو ئې شرک کوئ . یقینًا ما برابر کړیدے

حکم دَ عبادت دَ ستوری او سپوږمئ ذکر کوی چه هغه ضلال او ګمراهی ده او دا دلیل دے چه ابراهیم علیه السلام دَ دے نه مخکښ په هدایت باندے وؤ مشرک او شک کوونکے نه وؤ او اشاره ده چه انبیاء علیهم السلام هم په هدایت کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی.

۷۸ بَازِغَةً مؤنث ئې ذکر کړو ځکه چه شمس مؤنث دے.

سوال: هر کله چه شمس مؤنث وؤ نو هٰذَا ئې مذکر ولے ذکر کړو؟

جواب ۱: دا مؤنث سماعی دے علامت دَ تانیث پکښ نیشته نو په دے کښ تانیث او تذکیر دواړه جائز دی.

جواب ۲: کسائی وئیلے دی چه دا په تاویل دَ هذا الطالع سره دے.

جواب ۳: دا په تاویل دَ هذا الضوء سره دے.

جواب ۴: په رعایت دَ خبر سره دے.

هٰذَآ اَكْبَرُ اکبر غټ دے په اعتبار دَ رڼا سره او په اعتبار دَ جسم سره ځکه چه علماؤ ئې هیئت په عقلی دلیلونو سره ثابت کړے دے چه نمر دَ زمکے نه یوسل شپیته چنده غټ دے. او دا رنګ دا لوئے وؤ په الوهیت کښ په نیز دَ مشرکانو باندے.

یٰقَوْمِ اِنِّیْ بَرِیْٓءٌ دا دلته هم دلیل افول دے چه مخکښ ذکر شویدے او براءت دَ شرک او دَ مشرکانو نه په هغه دلیل باندے بنا او تفریع ده.

فائده ۱: دَ ستوری او دَ سپوږمئ عبادت کول دَ شپې وؤ په هغې کښ شرک کول ښکاره نه وؤ نو هلته ئې اکتفاء اوکړه په لَآ اُحِبُّ او په لَئِنْ لَّمْ يَهْدِنِیْ باندے او دَ نمر عبادت کول دَ ورځے وؤ چه په هغې کښ شرک کول ښکاره وؤ نو دَ هغې سره ئې براءت دَ شرک نه ښکاره ذکر کړے دے.

وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

مخ (ځان) خپل هغه ذات ته چه پیدا کړیدی آسمانونه او زمکه

حَنِيْفًا وَّمَآ اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۷۹﴾ وَحَآجَّهٗ

کلک یم په توحید بانديے او نه یم څه د مشرکانو د ډلے نه. او جګړه اوکړه د هٔ سره

قَوْمُهٗ ؕ قَالَ اَتُحَآجُّوْٓنِّيْ فِي اللّٰهِ وَقَدْ

قوم د دهٔ. دهٔ اوئیل ایا تاسو جګړه کوئ ما سره په باره د الله تعالیٰ کښ او یقینًا

هَدٰىنِ ؕ وَلَآ اَخَافُ مَا تُشْرِكُوْنَ بِهٖٓ

خودنه ئے کړیده ماته (په دلیلونو سره). او نه یریږم څه د هغے نه چه شریکان جوړوئ تاسو د هغه سره

اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ رَبِّيْ شَيْـًٔا ؕ وَسِعَ رَبِّيْ

مګر که اوغواړي رب زما څه شے. راګیر کړیدے رب زما

فائده ۲ نیشاپوری وئیلے دی چه کوکب اشاره ده عالم الاجسام ته اوقمر اشاره ده عالم النفوس ته اوشمس اشاره ده عالم د عقولو مجرّدو ته چه دا ټول حق دار د الوهیت نشی کیدلے۔

۷۹ روستو د براءت د شرک نه ذکر د توحید دے لکه لا اله الا الله کښ او په دے کښ اظهار د عقیدے د توحید دے او علت دے د براءت عن الشرک د پاره۔ اِنِّيْ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ قرطبی وئیلی دی چه مراد د دے نه "قصدت بعبادتی وتوحیدی" دے (قصدام کړے دے په خپل عبادت او توحید سره) او ذکر د وجه مراد ترینه ټول بدن او روح دے۔ فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ او دا شامل دے ستورو او نمر او سپوږمئ ته چه هغه ټول مخلوق دی۔
حَنِيْفًا حنف په اصل کښ میلان او استقامت دواړو ته وئیلے شی یعنی اعراض کوونکے د هر باطل دین نه او پوخ په دینِ توحید باندے دا سے شربینی ذکر کړے دی۔ مِنَ الْمُشْرِكِيْنَ دا براءت دے د جماعت د مشرکانو نه روستو د براءت د شرک نه۔

كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا اَفَلَا تَتَذَكَّرُوْنَ ۝٨٠

هر څيز په علم چپل کښې ايا تو نصيحت نه قبلوئ تاسو۔

وَكَيْفَ اَخَافُ مَآ اَشْرَكْتُمْ وَلَا تَخَافُوْنَ

او څه رنګه اوويريږم ځه د هغه چا نه چه تاسو ئې شريکوئ د الله سره او نه يريږئ تاسو د الله نه

اَنَّكُمْ اَشْرَكْتُمْ بِاللّٰهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ

او يقيناً تاسو شريکان جوړ کړي دي د الله تعالىٰ سره هغه څوک چه نه ئې دے نازل کړے

بِهٖ عَلَيْكُمْ سُلْطٰنًا ؕ فَاَيُّ الْفَرِيْقَيْنِ

په هغے سره په تاسو باندے هيڅ دليل۔ نو کوم يو د دواړو ډلو نه

اَحَقُّ بِالْاَمْنِ ۚ اِنْ كُنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ۝٨١

زيات حقدار دے د بچ کيدلو د عذاب نه، که چرے تاسو پوهيږئ۔

وقف لازم

ف۸۰ معلومه شوه چه ابراهيم عليه السلام د دے قوم سره د شرک په رد کښې مناظره کړے وه دا سے مناظرے کول جهاد دے۔ وَحَآجَّهٗ قَوْمُهٗ د هغوی د طرف نه صرف مجادله وه حجت ورسره نه وُو محاجه ئې ورته په اعتبار د ظاهر سره وئيلے دی د هغوی جګړه په توحيد کښې وه۔ وَقَدْ هَدٰىنِ مراد د دينه هغه دليلونه دی چه مخکښې په ملکوت السمٰوٰت اه کښې هغے ته اشاره وه۔ وَلَآ اَخَافُ اه دا جواب د قول د هغوی دے چه هغوی وئيلے وُو چه زمونږ د دے معبودانو نه يره اوکړه هسے نه چه په ليونتوب او مرضونو کښې دے اخته کړی لکه چه په سورة زمر ۳۶ او سورة هود ۵۴ کښې دی۔ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ دا استثناء منقطع ده يعنی رب زما چه څه مصيبت اوغواړی نو هغه قادر دے او دا جمله ئې د دے د پاره ذکر کړه چه انسان ته د هغه په ژوندا کښې د الله تعالىٰ د طرف نه څه مرض او مصيبت ضرور رسيږی نو مشرک خلق د هغے نسبت خپلو معبودانو ته کوی چه دا مصيبت ورته زمونږ معبودانو رسولے دے نو د وهم د دفع کولو د پاره ئې دا استثناء اوئيل لکه په سورة اعراف ۸۹ کښې۔ وَسِعَ رَبِّيْ كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا په دے کښې اشاره ده هغه حکمتونو ته چه د الله تعالىٰ په کارونو کښې پټ پراته دی۔

ف۸۱ دوی ورته اوئيل چه د دے معبودانو زمونږ ته غلے کينه کنی نو دوی به درله

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يَلْبِسُوْٓا اِيْمَانَهُمْ

هغه کسان چه ایمان ئې راوړے دے او نه ئې دے ګډ کړے د ایمان خپل سره

بِظُلْمٍ اُولٰٓئِكَ لَهُمُ الْاَمْنُ وَهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۸۲﴾ ع

هیڅ شرک دغه کسان دوی ډپاره امن دے (بچکیدل دی د عذاب نه) او دوی هدایت والا دی۔

وَتِلْكَ حُجَّتُنَآ اٰتَيْنٰهَآ اِبْرٰهِيْمَ عَلٰى

او دغه دلیل د توحید زمونږ دے ورکړے وو مونږ دا ابراهیم (علیه السلام) ته په مقابله

قَوْمِهٖ ۭ نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَاۗءُ ۭ

د قوم د هغه کښې۔ پورته کوو مونږ درجے د هغه چا چه او غواړو مونږه

تکره درکړی نوهغه ورته جواب اوکړو۔ او دا په طریقه د محاکمے سره دے یعنی تاسو د قادر ذات نه یره نه کوئ نو زهٔ ستاسو د عاجز معبودا نو نه ولے یره اوکړم۔ اَشْرَكْتُمْ سمعانی وئیلے دی چه اشراک دیته وئیلے شی چه غیر الله لره جمع کړی د الله تعالیٰ سره په هغه ځیز کښې چه نه وی جائز مګر صرف الله تعالیٰ لره۔

مَا لَمْ يُنَزِّلْ اه دا قید د مزید تقبیح د پاره دے یعنی په دے باندے حجت نیشته نو څه رنګ به نازل کړی او دا دلیل دے چه د اثبات د داسے مسئلے د پاره دلیل منزله ضروری دے قیاسونه په دے کښې هیڅ حجت نه دے او دا سے قید په سورة العمران ۱۵۱ او سورة یوسف ۴۰ او سورة نجم ۲۳ سورة اعراف ۳۳ سورة حج ۷۱ او سورة روم ۳۵ کښې هم دے۔ اَلْفَرِيْقَيْنِ مراد د دینه مؤحدین او مشرکان دی۔ اَلْاَمْنِ مراد د دے نه امن مطلق دے د عذاب د الله تعالیٰ نه په دنیا او آخرت کښې۔ امن دلته بے فکرئ ته نشی وئیلے لکه چه په سورة اعراف ۹۹ کښې دے۔

۸۲ دا د محکښې آیت جواب دے یا د ابراهیم علیه السلام د طرف نه یا د الله تعالیٰ د طرف نه۔ ظُلْمٍ نه مراد په دے آیت کښې شرک دے لکه حدیث د بخاری کښې راغلے دی او په سورة لقمان ۱۳ کښې دی۔ د دے آیت نه معلومه شوه چه د بعض خلقو د ایمان سره شرک ګډ وی مثلاً الله تعالیٰ منی، رسول منی، کتاب منی لیکن ورسره د الله تعالیٰ نه سیوا بل څوک لکه نبی، ولی وغیره هم حاجت روا

إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿٨٣﴾ وَوَهَبْنَا لَهُ

یقیناً رب ستا حکمتونو والا دے پوهه دے په هر څه. او او بخلو مونږه ده ته

إِسْحَاقَ وَيَعْقُوبَ ۚ كُلًّا هَدَيْنَا ۚ وَنُوحًا

اسحاق او یعقوب (علیهما السلام). هر یو ته خودنه کړې وه مونږه (د توحید) او نوح (علیه السلام) ته

هَدَيْنَا مِن قَبْلُ ۖ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ

خودنه کړې وه مونږه مخکښ د دینه او د اولاد د نوح (علیه السلام) نه (توحید خودلے وو مونږه) داؤد (علیه السلام) ته

وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَىٰ

او سلیمان (علیه السلام) ته او ایوب او یوسف او موسیٰ

وَهَارُونَ ۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ﴿٨٤﴾

او هارون (علیهم السلام) ته. او دغسے بدله ورکوو موږه خائسته عمل کوونکو ته.

مشکل کشا اختیارمند او غیب دان پشان د الله تعالیٰ گنړی نو د دهٔ ایمان ته
اعتبار نیشته بلکه دے مشرک دے لکه په سورة یوسف ۱۰۶ کښ دی.
۸۳ دا آیت دلیل دے په دے خبره باندے چه دا تیر شوے کلام د ابراهیم
علیه السلام (د قال هذا ربی نه تر مهتدون پورے) دا په طریقه د حجت
سره په قوم باندے پیش کړے وو. آتیناها په طریقه د وحی سره دے.
عَلىٰ قَوْمِهِ یعنی د پوهے د ابراهیم علیه السلام د پاره نه دے بلکه استدلال د
په مقابله د قوم کښ. نَرْفَعُ دَرَجٰتٍ مَّنْ نَّشَآءُ دا سے په سورة یوسف ۷۶ کښ
هم دی. فرق دا دے چه په سورة یوسف کښ علم د تدبیر او سیاست او دفع
کول د مضرتِ دنیویه سبب د رفع د درجاتو دے او په دے سورت کښ علم
د حجت او استدلال او دفع د مضرتِ اخرویه سبب د رفع گرځولے شویدے
۸۴ دا د اوولس انبیاؤ علیهم السلام ذکر دے په دے وجه چه توحید
د دے ټولو عقیده وه او دوی د دے د تبلیغ د پاره غوره کړے شوے وؤ
نو دا اجماعی او اتفاقی مسئله ده نو دا دلیل نقلی دے. بیا د دے انبیاؤ علیهم
السلام جدا جدا صفات وؤ ابراهیم او اسحاق او یعقوب او نوح علیهم السلام
د پیغمبرانو پلاران وؤ. داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام باد شاهان وؤ

وَزَكَرِيَّا وَيَحْيٰى وَعِيْسٰى وَاِلْيَاسَ ؕ كُلٌّ

او زکریا او یحییٰ او عیسیٰ او الیاس (علیهم السلام) ته. دا ټول وو

مِّنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۸۵﴾ وَاِسْمٰعِيْلَ وَالْيَسَعَ

دَ کاملو نیکانو نه. او اسماعیل او الیسع

وَيُوْنُسَ وَلُوْطًا ؕ وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى

او یونس او لوط (علیهم السلام) ته. او دے ټولو ته غوره والے ورکړے وو موږه په

الْعٰلَمِيْنَ ﴿۸۶﴾ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ

خلقو باندے. او بعضِ دَ پلارانو دَ دوی نه او دَ اولاد دَ دوی نه

ایوب علیه السلام او یوسف علیه السلام دواړو باندے ډیر تکلیفونه راغلے وُو، موسیٰ علیه السلام او هارون علیه السلام معجزات ډیر پیش کړے دی، ذکریا علیه السلام او یحییٰ علیه السلام او عیسیٰ علیه السلام او الیاس علیه السلام دوی ډیر عابدان زاهدان وُو. اسماعیل علیه السلام او الیسع علیه السلام او یونس علیه السلام او لوط علیه السلام دَ دوی ملګری مؤمنان ډیر کم وُو په یونس علیه السلام باندے روستو ډیرو خلقو ایمان راوړو نو دَ دے آیت حاصل دا دے چه دے پیغمبرانو په حال دَ مشرئ کښ او په حال دَ بادشاهئ کښ او په حال دَ مصائبو کښ او په حال دَ سختے کښ او په حال دَ زهد او په حال دَ کموالی دَ مرګرو کښ احسان (کلکوالے) په توحید باندے کړے وُو. هَدَيْنَا مراد دَ دینه وحی دَ توحید او کلکوالے دے په توحید باندے. ذُرِّيَّتِهٖ دا ضمیر راجع دے نوح علیه السلام ته نه ابراهیم علیه السلام ته ځکه چه یونس او لوط علیهم السلام دَ اولاد دَ ابراهیم علیه السلام نه نه وُو. وَاَيُّوْبَ په دۀ باندے صرف ابتلاء وه يُوْسُفَ باندے نعمت او بلاء دواړه جمع شوے وُو. وَكَذٰلِكَ لکه چه ابراهیم علیه السلام ته رفع دَ درجاتو مِلاؤ شوه دارنګ دغه جزا هغه چا ته ورکیږی چه احسان (پوخ والے په توحید باندے) کوی. دَ نَجْزِی نه مراد نبوت نه دے ځکه چه نبوت په کسب سره نه مِلاویږی.

۸۵ داخلور انبیاء دَ کمال زهد او دَ عبادت دَ وجے نه دَ صالحینو نه شمار شول یعنی کمال صلاح کول دَ ما ینبغی او اجتناب کول دَ ما لا ینبغی نه (شربینی).

۸۶ دا څلور انبیاء غیر مشهور وُو نو خلقو دَ دوی فضیلت نه پیژندلو نو ځکه

وَاِخْوَانِهِمْ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ

او دَ رونړو دَ دوی نه او غوره کړیوو مونږ ه دوی او رسولے وو مونږ دوی

اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ﴿٨٧﴾ ذٰلِكَ هُدَى

لارے ته . دا حقه لار دَ

اللّٰهِ يَهْدِىْ بِهٖ مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ

الله تعالیٰ ده هدایت کوی پدے سره چا ته چه او غواړی دَ بندګانو خپلو نه

وَلَوْ اَشْرَكُوْا لَحَبِطَ عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿٨٨﴾

او که چرے شرک کړیوے دوی خامخا برباد شوے به وے دَ دوی نه هغه عملونه چه دوی کول۔

دَ دوی فضیلت ئے ذکر کړلو دَ دے نه دلیل نیولے شویدے په تفضیل دَ انبیاؤ سره په ملائیکو باندے۔ فائده ۱ عیسیٰ علیه السلام په ذریت دَ نوح ؑ یا ابراهیم ؑ کښ شمار شو او حال دا چه دَ هغه پلار نه وؤ نو معلومه شوه چه اولاد دَ لونړو هم په اقاربو کښ داخل دی او تفصیل دَ اختلاف قرطبی ذکر کړے دے۔

فائده ۲ الْيَسَع صاحب دَ الیاس علیه السلام وؤ او دَ زکریا علیه السلام نه مخکښ وؤ او هغه ته ابن اخطوب بن العجوز وئیلے شی او نور تفصیلی احوال ئے معلوم نه دی

۸۷ دَ دے دا مطلب نه دے چه دَ دے ټولو پیغمبرانو پلاران او ځامن او رونړه وو بلکه چه دَ چا وؤ نو په هغوی کښ بعضِ کسانو لره دا مقام ورکړے شو ځکه چه مَنْ دَ پاره دَ تبعیض دے۔ او دا عطف دے په کلا فضلنا یا په نوحًا باندے او پدیکښ دَ قرابت دَ انسان درے شعبے ذکر دی او دوی ته عصبات وئیلے شی۔ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ جبی په اصل کښ جمع کولو ته وئیلے شی او مراد ترینه خوښول او غوره کول دی او غوره څیز انسان دَ ځان سره راجمع کوی۔ نو اجتباء کښ اشاره ده دَ هغوی صفاتو ذاتیو لازمو ته۔ او هَدَيْنٰهُمْ کښ اشاره ده علومو دَ نبوت او صفاتو متعدیو ته۔ او معلومه شوه چه صراط مستقیم دَ انبیاؤ لار ته وئیلے شی۔

۸۸ دے ایت نه معلومه شوه چه په شرک سره دَ نبی عمل بربادیدیشی نو دَ بل چا دَ عمل څه حیثیت دے۔ ذٰلِكَ کښ اشاره ده هغه هدایت ته چه په

أُولَٰٓئِكَ الَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحُكْمَ

دا هغه كسان دي چه وركړي وو موني دوى ته كتابونه او پوهه د دين

وَالنُّبُوَّةَ ۚ فَإِنْ يَّكْفُرْ بِهَا هٰٓؤُلَآءِ فَقَدْ

او پيغمبري - پس انكار كوى د دے مسئلے نه دا كسان نو يقينًا

وَكَّلْنَا بِهَا قَوْمًا لَّيْسُوْا بِهَا بِكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

توفيق وركړيدے موني د دے هغه قوم ته چه نه دى د دے نه انكار كوونكى -

أُولَٰٓئِكَ الَّذِيْنَ هَدَى اللّٰهُ فَبِهُدٰىهُمُ

دا هغه كسان دي چه خودنه كړيده الله تعالىٰ دوى ته نو د لارے د دوى

اقْتَدِهْ ۗ قُلْ لَّآ اَسْئَلُكُمْ عَلَيْهِ اَجْرًا ۗ

تابعدارى كوه - ته اووايه نه غوارم ستاسو نه په دے باندے څه بدله -

هدينا او وهدينا هم كښ ذكر دے او اشاره ده چه انبياء هم په هدايت كښ الله تعالىٰ ته محتاج دى. وَلَوْ اَشْرَكُوْا په دے كښ ذكر كوى قباحت د شان د شرك او معلومه شوه چه مخكښ ذكر شوے هدايت په معنىٰ د پوخوالى دے په توحيد باندے او دارنګ بنياد د هدايت توحيد دے. وَلَوْ دا شرط دے او وقوع د شرط ضرورى نه وى او دا سے په سورة زمر ۶۵ كښ هم ذكر دے.

۸۹ په دے كښ تفصيل د هدى الله دے. د الْكِتٰبَ نه مراد جنس كتب دى او دا مستلزم د دے نه دے چه ټولو ته كتابونه وركړے شوے وى بلكه روستنى ته چه د مخكنى كتاب په ميراث كښ وركړى ديته هم اٰتينا هم شامل دے. وَالْحُكْمَ الله تعالىٰ هر نبى ته د كتاب نه علاوه زياتى وحى هم وركوى چه هغے ته حكمة او سنت وئيلے شي. فَإِنْ يَّكْفُرْ بِهَا الخ اشاره ده چه كوم دين الله تعالىٰ رالېږلے دے نو د هغے په حفاظت كښ څه خاص خلقو ته محتاج نه دے هٰٓؤُلَآءِ د دينه مراد موجوده كافران دى او قَوْمًا نه مراد مخكنى انبياء او ملائيك او انصار او مهاجرين او د هرے زمانے مؤحدين دى او دا اقوال قرطبى وغيره ذكر كړے دى.

ع ۱۲

إِنْ هُوَ إِلَّا ذِكْرَىٰ لِلْعَالَمِينَ ﴿۹۰﴾

نه دے دا مګر نصیحت دے د پاره د خلقو۔

ف ۹۰ دا آیت دلیل دے چه د ټولو پیغمبرانو دین یو دے صرف بعض فروعو کښ فرق وی۔ دا رنګ اجرت نه اخستل په دین باندے د ټولو انبیاؤ طریقه ده۔ اُولٰٓئِكَ الخ دا دلیل دے په عصمت د انبیاء علیهم السلام د ضلال نه او اشاره ده چه هدایت په طریقه د انبیاء علیهم السلام کښ حصر دے۔ فَبِهُدٰهُمُ مراد د دے تمام اصول عقائد او اخلاق او طریقے د دعوت د انبیاء علیهم السلام دی او فروعو کښ هغه مراد دی چه د هغوی په دین پورے خاص نه دی۔ او په دے کښ اشاره ده چه د مخکنو انبیاؤ فضائیل او اخلاق زمونږ په نبی صلی الله علیه وسلم کښ راجمع دی ځکه په هُدٰهُمُ کښ د نوح علیه السلام صبر او په دعوت کښ د ابراهیم علیه السلام طریقه د استدلال او د حجت۔ او د اسحاق او د یعقوب علیهما السلام صبر په مصائبو او د داؤد و سلیمان علیهما السلام شکر د نعمتونو او د ایوب علیه السلام صبر په مرضونو او د یوسف علیه السلام صبر په حسد د بد خواهانو او د موسیٰ او د هارون علیهم السلام کثرتِ معجزات او د لوے طاغی سره مقابله کول او د زکریا و یحییٰ، عیسیٰ او الیاس علیهم السلام زهد فی الدنیا او د اسماعیل علیه السلام صدق او د یونس علیه السلام تضرع په سختئ کښ دے ټولو امورو ته په هُدٰهم کښ اشاره ده او دا ټول فضائیل الله تعالیٰ په آخری نبی کښ راجمع کړے دی نو دلیل شو چه آخری نبی د ټولو انبیاؤ نه افضل دے۔ اِقْتَدِهْ۔ اقتداء موافقت د روستنی شخص ده د مخکنی سره په قول او عمل کښ سره د دلیل مستقله نه او اتباع موافقت دے په عمل کښ فقط د وجے د دلیل د مخکنی نه او تقلید خو بے دلیله په چا پسے تلل دی۔

سوال: امر په اقتداء سره دلالت کوی چه زمونږ نبی افضل نه دے؟

جواب: د اقتداء چه کومه معنیٰ ذکر شوه هغه صرف په روستو والی دلالت کوی هغه په افضلیت د سابق باندے دلالت نه کوی لکه اقتداء د نبی صلی الله علیه وسلم په ابوبکر رضی الله عنه پسے په مونځ کولو کښ یا اقتداء د صحابه کرامو په تابعینو پسے په مونځونو کښ۔ فائده: دا دلیل دے چه شرع د

وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ حَقَّ قَدْرِهٖٓ اِذْ قَالُوْا

او قدر نه دے کړے دوی د الله تعالیٰ لائق قدر د هغه کله چه اوئیل دوی

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى بَشَرٍ مِّنْ شَیْءٍ ؕ

نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په هیڅ بنده باندے هیڅ خیز۔

قُلْ مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ الَّذِیْ جَآءَ

ته ورته اووایه چا نازل کړے دے کتاب هغه (کتاب) چه راوړے دے

بِهٖ مُوْسٰى نُوْرًا وَّ هُدًى لِّلنَّاسِ

هغے له موسیٰ (علیه السّلام) رڼا او هدایت د پاره د خلقو (بنی اسرائیلو)

تَجْعَلُوْنَهٗ قَرَاطِیْسَ تُبْدُوْنَهَا

او ګرځوئ تاسو هغه ټکړے ټکړے ښکاره کوئ تاسو بعض د هغے نه

مخکنو انبیاؤ زمونږ د پاره شرع ده کله چه نسخ د هغے یا تخصیص ثابت نه وی د دے وجے نه په حدیث د بخاری سره ثابت ده چه ابن عباس رضی الله عنهما د اثبات د سجدے د سورۃ ص د پاره په دے ایت سره دلیل نیولے دے۔

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ هر کله چه په هُدٰاهُم کښې لویئے مقصد طریقه د دعوت ده نو په دے دوه جملو کښې دوه ارکان د دعوت ذکر کوی اول اخلاص او دویم امانت لکه د انبیاؤ په صفت کښې ناصح امین ذکر دے۔

قُلْ لَّآ اَسْـَٔلُكُمْ چه په انبیاء علیهم السلام باندے تبلیغ فرض عین دے نو د دے وجے نه په هغوی باندے اجرت اخستل په هغے باندے حرام دی او چه فرض عین نه وی نو په هغے باندے په اجرت اخستلو کښې اختلاف دے او دا کلمه د ټولو انبیاؤ په هدایت کښې ذکر ده سورۃ شعراء ۱۰۹ ،۱۲۷ ،۱۴۵ ،۱۶۳ ،۱۸۰۔

ذِكْرٰى لِلْعٰلَمِیْنَ مراد د دے نه انس او جن دی ترقیامته پورے نو معلومه شوه چه قران او رسالت زمونږ د نبی صلی الله علیه وسلم ترقیامته پورے دے۔

وَتُخْفُوْنَ كَثِيْرًا ۚ وَعُلِّمْتُمْ مَّا لَمْ تَعْلَمُوْٓا

او پټوئ ډیر ے او خودلے شویدے تاسو ته هغه شے چه نه پیژندلو

اَنْتُمْ وَلَآ اٰبَآؤُكُمْ ؕ قُلِ اللّٰهُ ۙ ثُمَّ

تاسو او نه پلارانو ستاسو. ته ووایه الله تعالیٰ ! بیا

ذَرْهُمْ فِيْ خَوْضِهِمْ يَلْعَبُوْنَ ﴿۹۱﴾

پریږده دوی په مشغولا د دوی کښ چه لوبے کوی.

سلا د دے آیت نه تر ۱۱۰ پورے پنځم باب دے په دے کښ درے زجرونه دی سلا ۹۳ نه ۱۱۰ کښ او ترغیب دے قرآن ته ۹۲ کښ، او تخویف اخروی دے ۹۴ کښ، او پنځه عقلی دلیلونه دی او تفریع د بیان د توحید ده په څوارلس جملو سره: وَمَا قَدَرُوا اللّٰهَ، ربط دا دے چه دوی (منکرینو) وئیل چه ته د انبیاؤ اقتداء کوے نو د مشرانو (مشرکانو) او کتابیانو اقتداء ولے نه کوے؟ حاصل جواب دا دے چه دوی د الله تعالیٰ قدر نه کوی نو دوی لائق د اقتداء نه دی او دا آیت زورنه ده په انکار د کتاب د الله تعالیٰ او دا د الله تعالیٰ بے قدری او بے عزتی ده او انکار دے د رحمت د الله تعالیٰ نه چه هغه انزال د کتاب او د بعثت د رسول دے او دا سے په سورة حج ۷۴ کښ هم دی هلته د بے قدرئ نه مراد شریک کول د کمزورے مخلوق دی د الله تعالیٰ سره چه قدیر دے په هر څیز باندے او په سورة زمر ۶۷ کښ هلته مراد انکار دے د عظیم قدرت د الله تعالیٰ نه.

مَا قَدَرُوا په معنی د معرفت او په تعظیم او صفت کولو دے حَقَّ قَدْرِهٖٓ اضافت د حق مصدر دے فعل سابقه ته د پاره د معنی د کمال دے. اِذْ قَالُوْا دا تفصیل د بے قدرئ دے دا سے په سورة یٰسٓ ۱۵ کښ هم دے. مَنْ اَنْزَلَ الْكِتٰبَ اه دوی سلب کلی کړے وه نو د هغے جواب په ایجاب جزئی سره کافی دے او دا الزامی جواب دے او نقض دے د قول د دوی. نُوْرًا دلیلونه دی، هُدًى حکمتونه دی تُبْدُوْنَهَا کوم چه د دوی د طبیعت برابروی نو هغه به ئے ښکاره کول او کوم چه د دوی د خواهش نه خلاف وُو نو هغه به ئے پټول. او دے آیت نه معلومه شوه چه کتاب د الله تعالیٰ بے ضرورته ټکړے ټکړے کول منع دی دا سے قرطبی لیکلے دی وَعُلِّمْتُمْ اشاره ده چه په کتاب د الله تعالیٰ سره هغه

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنْزَلْنٰهُ مُبٰرَكٌ مُّصَدِّقُ

او دا کتاب نازل کړے مونږه برکت والا ، تصدیق کوونکے دے

الَّذِىْ بَيْنَ يَدَيْهِ وَلِتُنْذِرَ اُمَّ الْقُرٰى

دَهغه کتابونو چه مخکښ دَ ده نه دی او دے دپاره چه اویروے ته اصل دَ کلو (مکے معظمے) والا

وَمَنْ حَوْلَهَا ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْمِنُوْنَ

او هغه خوک چه چاپیره دَ دینه دی ۔ او هغه کسان چه ایمان لری

بِالْاٰخِرَةِ يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ

په آخرت باندے ایمان لری په دے کتاب باندے او دوی په خپلو مونځونو باندے

يُحَافِظُوْنَ ﴿٩٢﴾ وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى

ساتنه کوی ۔ او څوک ډیر لوئے ظالم دے دَ هغه چانه چه جوړوی

علمونه حاصلیږی چه مخلوق دَ هغے علم نه لری او دا عطف دے په نُوْرًا باندے اللّٰه، دا مفرد مراد نه دے بلکه فعل پټ ورسره دے یعنی انزل الله ابن کثیر دلته رد کړیدے په ذکر مفرد والو باندے. ثُمَّ ذَرْهُمْ دا عطف دے په قل باندے زجر دے منکرینو ته روستو دَ الزام نه په هغوی باندے. يَلْعَبُوْنَ دا جواب امر نه دے بلکه حال دے یا استیناف دے مراد دَ دینه استهزاء او مسخرے کول دی. سوال: دَ دے ایت په تفسیر کښ مفسرینو واقعه دَ مالک بن صیف ذکر کړیده او هغه دَ یهودیانو امام او عالم وؤ او حال دا دے چه سورة مکیه دے؟ جواب: بعضو وئیلی دی چه دا ایت پکښ مدنی دے یا مالک بن صیف مکے ته تلے وؤ نو هلته دا واقعه پیش راغلے وه او دا سمعانی ذکر کړیده او دا بنا ده په قراءت دَ خطاب سره په تجعلونه کښ یا جواب دا دے چه ما قدروا الله کښ مشرکین مکه مراد دی او هر کله چه هغوی تقلید کوؤ دَ علماؤ دَ یهودو نو دوی ته او وئیلی شو قل فاسئلوا اهل الکتاب او دا بنا دے په قراءت دَ غائب باندے.

۹۲ دا ترغیب دے قرآن ته په بیان دَ پنځه صفاتو سره روستو دَ ذکر دَ تورات نه یعنی چه هغه کتاب منزله تاسو منئ نو دا قرآن هم منزل او منئ.
مُبٰرَكٌ نیشا پوری وئیلی دی چه خیر ئے ډیر دے او نفع ئے ډیره ده او سبب دے

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ قَالَ اُوْحِيَ اِلَيَّ وَلَمْ

په الله تعالیٰ باندے دروغ ، یا وائی وحی کړے شویده ماته او نه وی کړے شوے

يُوْحَ اِلَيْهِ شَيْءٌ وَّمَنْ قَالَ سَاُنْزِلُ مِثْلَ

وحی هغه ته هیڅ - او هغه څوک چه وائی چه زه به را اولیږم پشان

مَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ تَرٰٓى اِذِ الظّٰلِمُوْنَ

د هغه چه رالیږلے دے الله تعالیٰ - او که او وینے ته هغه وخت چه ظالمان به

فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا

په سختو د مرګ کښې وی او ملائک به او بد دونکے وی

اَيْدِيْهِمْ ۚ اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ ؕ اَلْيَوْمَ

لاسونه خپل (وائی به) راوباسئ ساه ګانے خپلے ، نن ورځ

د ښه کارونو او منع کوونکے دے د منکراتو نه او طریقه د الله تعالیٰ جاری ده چه څوک د قرآن د علم تفتیش کوی او په هغې باندے تمسک کوی عزت به حاصل کړی په دنیا کښې او سعادت به حاصل کړی په آخرت کښې او د دے تجربه شویده او صحیح ثابت شویده۔

مُصَدِّقُ اه ځکه چه مشتمل دے په توحید او پاکی د الله تعالیٰ د شرک نه او بشارت او انذار باندے او دغه مضمون دے د مخکنو کُتبِ الٰهیو۔

وَلِتُنْذِرَ دا عطف دے په معنیٰ د مبارک باندے۔

اُمَّ الْقُرٰى شربینی وئیلے دی چه دا قبله د ټولو کلو ده او مجمع د هغوی ده او اعظم شان والا ده یا دا چه ټوله زمکه د دے نه غوړیدلے ده یا اول بیت دے د خلقو د عبادت د پاره۔

وَالَّذِيْنَ اه د دے وجه دا ده چه څوک ایمان په آخرت باندے لری نو د عاقبت فکر کوی د هغې وجے نه ایمان په نبی او په قرآن لری۔

وَهُمْ عَلٰى صَلَاتِهِمْ دائے خاص ذکر کړو ځکه چه دا علامت د ایمان دے۔

تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُوْنِ بِمَا كُنْتُمْ

بدله درکیدېشی تاسوته په عذاب د ذلت سره په سبب د هغې چه تاسو

تَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ

جوړولې په الله تعالیٰ باندې ناحق (د شرک بدعت) خبرې او وئ تاسو

عَنْ اٰيٰتِهٖ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿٩٣﴾ وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا

چه د ایاتونو د هغه نه مو لوئي کوله. او یقیناً راغلئ تاسو مونږ ته

فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ

یواځې لکه چه پیدا کړي وو مونږ تاسو اول ځل

۹۳ روستو د صداقت د قرآن نه زورنه په درې قسمه ظلمونو سره ده چه
هغه د مخالفت د قرآن سره تعلق لری اول افتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا په تحریف کولو
سره لفظاً او معناً او په نسبت کولو د شرک الله تعالیٰ ته. دویم سره د افتراء
نه دعوٰی د نبوتِ کاذبه کوی. دریم دعوٰی کوونکے د مقابلې د قرآن او دا مستلزم
دے دعوے د قدرت د الوهیت سره او دا سے سورة انفال ۳۱ کښ دی.
اَلظّٰلِمُوْنَ دا شامل دے دغه درے قسمه ظالمانو ته او قرطبی وئیلے دی چه
داخل دی په دے کښ هغه څوک (صوفیاء) چه اعراض کوی د قرآن او سنت
او د طریقے د سلف صالحین نه او دعوٰی کوی د علم د احکامو په صفائی د زړه
خپل سره او دلیل نیسی په علم د خضر علیه السلام سره نو دا زندقه او کفر
دے. غَمَرٰتِ الْمَوْتِ حال د زنکدان دے مخکښ د حال د برزخ او قیامت نه
بَاسِطُوْۤا اَيْدِيْهِمْ لاسونه به ئے اوږد کړے وی د هغې د ارواحو قبض کولو د پاره
او اَخْرِجُوْۤا په طریقه د زورنے سره دے چه شا بئ خپل ارواح را او باسئ او
را وېستلے به ئے نه شی. بله معنٰی دا ده چه اوږد کړے به وی لاسونه د پاره د وهلو
د هغوی، اَخْرِجُوْۤا چه بچ کړئ ځانونه خپل د عذاب نه. اَلْيَوْمَ د دینه مراد
عذاب برزخی دے یا عذاب د محشر دے. غَيْرَ الْحَقِّ اول دواړه قسمونو ته راجع
دے. وَكُنْتُمْ عَنْ اٰيٰتِهٖ دا دریم قسم ته راجع دے. الْهُوْنِ هر کله چه دغه درے واړه
دعوے د تکبر د وجے نه دی نو سزا ئے په سخت اهانت سره ده.

وَتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ۚ

او پریخودو تاسو هغه (نعمتونه) چه درکړي وو مونږ تاسو ته روستو د شاګانو ستاسو نه،

وَمَا نَرٰى مَعَكُمْ شُفَعَآءَكُمُ الَّذِيْنَ

او نه وینو مونږ تاسو سره سفارشیان ستاسو هغه چه

زَعَمْتُمْ اَنَّهُمْ فِيْكُمْ شُرَكٰٓؤُا ۭ لَقَدْ

تاسو خیال کوو چه دوی ستاسو په مال اولاد کښې برخې والا دي . یقینًا

تَّقَطَّعَ بَيْنَكُمْ وَضَلَّ عَنْكُمْ مَّا كُنْتُمْ

پریکړې شو تعلق ستاسو او روک شو ستاسو نه هغه چه تاسو

۹۴ تَزْعُمُوْنَ ۝ اِنَّ اللّٰهَ فَالِقُ الْحَبِّ ع ۱۱

ګمان کوو . یقینًا الله تعالیٰ څیرے کوونکے دے د دانو

۹۴ په دے کښې ذکر دے زوال د اسبابو د استکبار چه هغه درے دی اول ډلے تابعداران مریدان وغیره . دویم مالونه جائیداد صفتونه وغیره . دریم پیران متبوعین مددګاران . وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا دا عطف دے په اَخْرِجُوْٓا اَنْفُسَكُمْ باندے یا کلام مستقل د الله تعالیٰ دے او دا په وخت د برزخ کښې وئیلے شي یا دا ئې اخروي ده په بیان د پنځه حالاتو . فُرَادٰى بغیر د مال او اولاد او نوکرانو تابعدارانو مریدانو شاګردانو وغیره نه . مَا خَوَّلْنٰكُمْ خول هغه نعمتونه چه الله تعالیٰ انسان ته ورکړے دی په دنیا کښې مریان او مالونه جائیداد، بادشاهي، سلطنت او کارخانے وغیره وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ یعنی پشان د هغه څیز چه شا ته پاتے شي نو د هغے نه انتفاع نشي اخستلے کیدلے بلکه چه شا ته ګوري نو ستړے کوړ شي . شُفَعَآءَكُمْ ا هغه معبودان بزرګان پیران وغیره چه دوی د هغوی نه حاجتونه غوختل په دے عقیده چه دوی د الله تعالیٰ سره برخه لري په صفتونو او عبادتونو کښې . فِيْكُمْ یعني ستاسو په مالونو او اولاد کښې د هغوی نذر ونیاز ووُ . او دے ایت کښې رد دے په شفاعت شرکیه باندے د نیکانو په باره کښې . بَيْنَكُمْ مراد د دے نه تعلق د محبت د بزرګانو دے په محبت شرکیه سره یعني تعلق د پیرئ مریدئ به ختم شي او دا خلاف دے د زعم د مشرکانو نه . بَيْنَكُمْ بین د اضدادونه دے فصل او وصل دواړو ته

وَالنَّوٰىؕ يُخْرِجُ الْحَيَّ مِنَ الْمَيِّتِ

او د اړوکو۔ راوباسي ژوندے د مړ نه

وَمُخْرِجُ الْمَيِّتِ مِنَ الْحَيِّؕ ذٰلِكُمُ اللّٰهُ

او راویستونکے دے مړ د ژوندي نه۔ دا(صفتونو والا) الله دے ستاسو

فَاَنّٰى تُؤْفَكُوْنَ ﴿۹۵﴾ فَالِقُ الْاِصْبَاحِۚ

نو چرته اوړیږے شئ تاسو۔ څیرے کوونکے د صبا دے۔

وَجَعَلَ الَّيْلَ سَكَنًا وَّالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ

او جوړه کړیده شپه د ارام د پاره او نمر او سپوږمۍ

وئیلے شي او دا په نصب (زور) سره دے یعني مراد کما بینکم من الوصل لکه په سورة
بقره ۱۶۶ کښ او په رفع (پیښ) سره فاعل د تقطع دے۔ وَضَلَّ دا ترقی ده د ما قبل
نه یعني که بالفرض تقطع اونشي نو هم مقصد د دوی برباد دے۔ ضَلَّ په معنی
د روکیدلو او برباد کیدلو دے او ماکنتم تزعمون نه مراد عقیده د شرک
او د شفاعت ده یا په معنی د غائب کیدلو دے او ماکنتم تَزْعُمُوْنَ نه مراد
شرکاء دی۔

۹۵ دا دلیل عقلی دے په توحید او په اثبات د بعث باندے۔ حَبِّ دانے د غلے
او نوٰی د میوو د پاره وی حَب جمع د حبة ده او نوٰی جمع د نواة ده هرے
دانے او اړوکو ته شامل دے او فَالِقُ نه مراد دا چه هغه په زمکه کښ سیرے
کړي (اوچوي) نو تیغ ترینه راوباسي یا روستو د پیدائیش د دانے او اړوکی نه
د هغے په مینځ کښ چود جوړوونکے دے۔ یُخْرِجُ دا تفسیر د ما قبل دے د دے وجے نه
عطف ئے نه دے کړے ځکه چه مراد د حی او میت نه تازه او شنه بوټي د اُوچو
دانونه پیدا کول دی او په عکس سره۔ عالم د جاهل نه او په عکس سره۔
مؤحد د مشرک نه او په عکس سره۔ اوژوندے انسان او حیوان د نطفے نه یا
د اګئ نه او په عکس سره دا ټول په دے کښ داخل دی۔ وَمُخْرِجُ ۱ه دا عطف
دے فالق باندے ځکه چه یخرج الحي ۱ه تفسیر وؤ د فالق او مخرج المیت تفسیر
د فالق نه دے د دے وجے نه په اسم فاعل سره ذکر کړو او دا هم جائز دے
چه عطف شي په یخرج باندے ځکه چه دا اسم مشابه دے د فعل سره

حُسْبَانًا ۭ ذٰلِكَ تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ الْعَلِيْمِ ﴿٩٦﴾

دَ پاره دَ حساب . دا اندازه دَ زور اور ذات ده چه پوهه دے .

وَهُوَ الَّذِيْ جَعَلَ لَكُمُ النُّجُوْمَ

او خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے چه پيدا كړيدى تاسو لره ستورى

لِتَهْتَدُوْا بِهَا فِيْ ظُلُمٰتِ الْبَرِّ وَالْبَحْرِ ۭ

چه لار معلوموئ په هغے سره په تيارو دَ وچه او دَ درياب كښى .

قَدْ فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿٩٧﴾

يقينًا په تفصيل سره بيان كړيدى مونږه دليلونه هغه قوم لره چه پوهيږى .

وَهُوَ الَّذِيْٓ اَنْشَاَكُمْ مِّنْ نَّفْسٍ

او خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے چه پيدا كړى يئ تاسو دَ نفس

وَّاحِدَةٍ فَمُسْتَقَرٌّ وَّمُسْتَوْدَعٌ ۭ قَدْ فَصَّلْنَا

يو نه نو تاسو له ځائے دَ آرام دے او ځائے دَ سپارنے دے . يقينًا تفصيلًا بيان كړيدى مونږه

بيا هر كله چه حى اشرف دے دَ ميت نه نو هغه يئے په لفظ دَ فعل سره ذكر كړو چه دلالت كوى په اعتناء دَ فاعل دَ فعل باندے . ذٰلِكُمُ اللّٰهُ دا نتيجه دَ دليل ده يعنى دا تصرف كوونكے طبيعت او دهر (زمانه) او ماده او ولى او بزرگ نه دے بلكه الله تعالىٰ دے .

٩٦ مخكښ دليل او احوال دَ زمكے وؤ او س دليل په احوال سماويه سره ذكر كوى . فَالِقُ الْاِصْبَاحِ څيرے كوونكے دَ شپے دے په صبا ښكاره كولو سره . يعنى "فالق ظلمة الليل بالاصباح" او اصباح مصدر دے يا اصباح په معنى دَ صباح دے او خالق په معنى دَ مظهر دے (نيشا پورى) . وَجَعَلَ اَه هر كله چه مخكښ اسم فاعل كښى معنى فعلى مراد وه نو صحيح دے په هغه باندے عطف دَ فعل . سَكَنًا وقت السكون . حُسْبَانًا يعنى گرځى دوى په حساب مقرر سره يا دَ پاره دَ حساب دَ ورځوا و مياشتو او كلونو . يا په معنى دَ ويشتونكو دے . تَقْدِيْرُ الْعَزِيْزِ اَه اشاره ده چه دا تقدير هيڅوك نشى بدلولے .

٩٧ دا بل عقلى دليل دے او دَ شمس وقمر نه يئے جدا ذكر كړو ځكه دَ هغے او دَ دے په فائده وكښى ډير فرق دے او لِتَهْتَدُوْا دا يئے يوه فائده ذكر كړيده او نور ے

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّفْقَهُوْنَ ﴿۹۸﴾ وَهُوَ الَّذِيْٓ

دليلونه هغه قوم لره چه خه پوهيږي. اوخاص الله تعالی هغه ذات دے

اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً ۚ فَاَخْرَجْنَا بِهٖ

چه راوروله ئې دی دَ بره طرف نه اوبه ، نو راوويستلے دی موږ په هغے سره

نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَاَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا

بوټي دَ هر قسم ، پس راوويستلے دی موږ دَ دينه شينکے

نُّخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُّتَرَاكِبًا ۚ وَمِنَ النَّخْلِ

راوباسو دَ هغے نه دانے لاندے باندے او دَ کجوروته

مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَّجَنّٰتٍ

دَ کسورو دَ هغے نه غنچکونه نيژدے او باغونه

مِّنْ اَعْنَابٍ وَّالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ

دَ انګورو او خونه او انار

دوه فائدے هم شته لکه په سورة ملك ښکښې زينت دَ اسمان او رجم دَ شيطانانو.

فَصَّلْنَا په دے کښې معنی دَ تفصيل او دَ وضاحت او دَ جلا جلا بيان کولو دے.

يَعْلَمُوْنَ يعنی چه علم لري دَ طريقے دَ استدلال نيولو او دا دَ مستقل علم سره تعلق لري ځکه يَعْلَمُوْنَ ئې اُوفرمائيل.

۹۸ دا بل دليل عقلی انفسی دے فلکم مُسْتَقَرٌّ صلب دَ پلار يا دَ ورځ گرځيدل، يا دنيوی ژوند، مُسْتَوْدَعٌ دَ مور رحم يا دَ شپے دَ ارام ځائے يا محل دَ دفن په برزخ کښې او دا الفاظ دے ټولو معانو ته شامل دی. او دا دو نکے علم غواړی ځکه يَفْقَهُوْنَ ئې اوفرمائيل ځکه چه انشاء دَ ټولو انسانانو دَ يو پلار نه ده چه ادم دے او احوال دَ استقرار او استيداع معلومول علم دقيق غواړی چه هغے ته فقه وئيلے شی.

مُشْتَبِهًا وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ۗ اُنْظُرُوْٓا اِلٰى

چه یو شان دی (په پانړه کښ) او نه دی یو شان په میوه کښ - او ګورئ

ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ وَيَنْعِهٖ ۗ اِنَّ فِيْ ذٰلِكُمْ

میوې د هغې ته کله چه میوه اونیسی او پخیدو د هغې ته. یقینًا په دې کښ

لَاٰيٰتٍ لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿٩٩﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ

ډیر دلیلونه دی هغه قوم لره چه ایمان لری . او ګرځوی دوی الله تعالیٰ لره

ف ۹۹ دا بل دلیل عقلی دے دیته دلیل وسطی وئیلے شی په دے کښ پنځه څیزونه د تربیت د انسان د پاره ذکر دی حَبّ (دانے) د پاره د غِذا دی نخل د پاره د غِذا او تفکه دواړو دی اعناب د پاره ده تفکه او د مشروباتو حلالو، زیتون د پاره د تیلو، انار د پاره د دوایئ، دا د تربیت اُصول دی. مِنَ السَّمَاءِ مراد د سماء نه وریځ ده او من ابتدائیه دے یا سماء پخپله معنی دے او من په معنی د جانب دے. بِهٖ باء سببیه ده او دا عالِم اسباب دے او یو سبب دے او مسببات بوټی متفرق دی او دا دلیل د قدرت او د توحید د الله تعالیٰ دے. كُلِّ شَيْءٍ هر قسم د اقسامو د راټوکیدونکو. مِنْهُ ضمیر راجع دے نبات ته یا ماء ته یا کل شی ته. خَضِرًا ټول شنه بوټی مراد دی. مُتَرَاكِبًا اوډ دے نه وږی د غنمو وربشو جوارو وغیره مراد دی. وَمِنَ النَّخْلِ خبر مقدم دے او مِنْ طَلْعِهَا بدل دے د هغې نه. قِنْوَانٌ مبتداء مؤخر ده. طَلْع اول هغه څیز د میوے د کهجورے نه راښکاره شی هغې ته کفرۍ هم وئیلے شی. قِنْوَان جمع د قِنْو ده په شکل د تثنیه سره. دَانِيَةٌ یو بل ته نزدے دی یا راغستونکو ته نزدے دی او بعض لرے دی د هغې ذکر یئے مقایستًا پریخودلو یعنی دانیة او غیر دانیة. وَجَنّٰتٍ دا عطف دے په نبات باندے، په اعناب کښ ډیر قسمونه دی د دے وجے نه جمع یئے ذکر کړو. مُشْتَبِهًا اه زیتون او رمان په پانړو کښ یو شان دی چه په نظر کوونکی باندے اشتباه راولی او په میوه کښ مشابه نه دی دا سے د دے سورت په ۱۴۱ کښ هم تیر شوے وو او هلته یئے تشابه ذکر کړیده اشاره ده اشتراک ته په زمکه او اوبو کښ. اُنْظُرُوْٓا مراد د دے نه نظر د عبرت او د استدلال دے. ثَمَرِهٖ ثمر جمع ده د ثمرة ه ضمیر راجع دے هر یو ته ثمر نه مراد د هغې ابتدائي احوال دی. وَيَنْعِهٖ دا مصدر دے یا جمع د یانع ده.

شُرَكَآءَ الْجِنَّ وَخَلَقَهُمْ وَخَرَقُوْا لَهٗ

شریکان پیریان او پیدا کړي يې الله تعالی دوی، او جوړوي (په دروغه) الله لره

بَنِيْنَ وَبَنٰتٍۭ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ سُبْحٰنَهٗ

ځامن او لونړه بغیر د پوهې نه. پاک دے الله تعالی

وَتَعٰلٰى عَمَّا يَصِفُوْنَ ﴿۱۰۰﴾ بَدِيْعُ

او اوچت دے د هغے نه چه دوی يې بیانوی. نا اشنا پیدا کوونکے

لَاٰيٰتٍ دلیلونه د توحید او د بعث بعد الموت دی. يُؤْمِنُوْنَ مراد د دے نه انابت کوونکی دی یا ایمان لرونکی په خالقیت د الله تعالی باندے.

ت: دا زورنه ده هغه چا ته چه پیران او اولیاء او ملائیک د الله تعالی سره شریک جوړوی. دا عطف دے په پټ فعل باندے یعنی "اقروا الله بما تقدم ذکره و جعلوا له" (اقرار کوی په مخکښ کارونو د الله تعالی د پاره لیکن شرک ورسره کوی. او په دے کښ رد دے په مشرکین بالجن او بالانس او بالملائکه باندے.
شُرَكَآءَ مفعول ثانی الجن مفعول اول دے مخکښ والے د مفعول ثانی د وجے د تقبیح نه دے یا شرکاء مفعول دے مبدل منه او الجن نه بدل دے او دا شرک د پیریانو په ډیرو طریقو سره دے قول د زنادقو دا دے چه شیطان خالق د شر دے او د الله تعالی رورد دے. او قول د حائطیه معتزله دا دے چه الله تعالی اول ابلیس پیدا کړونو بیا يې هغه ته تدبیر د عالم او سپارلو او قول د جن په سورة جن کښ دلیل دے په شرک بالجن باندے.
وَخَرَقُوْا په معنی د دروغو وئیلو دے او دا تعبیر د دے د پاره ذکر دے چه پیدائش د ځامنو او لونړو سیرے کیدل او تجزی غواړی.
وَخَلَقَهُمْ ضمیر راجع دے جن ته یا مشرکانو ته. سُبْحٰنَهٗ راجع دے اشراک ته او تَعٰلٰى راجع دے بنین او بنات ته.

السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ اَنّٰى يَكُوْنُ لَهٗ وَلَدٌ

دَ آسمانونو او دَ زمکے دے. څه رنګ کیدیشی هغه لره اولاد

وَّلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ ؕ وَخَلَقَ كُلَّ

او نیشته هغه لره ښځه او پیدا کړی دے هر

شَیْءٍ ۚ وَهُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۱۰۱﴾

څیز، او هغه په هر څیز باندے پوهه دے

ذٰلِكُمُ اللّٰهُ رَبُّكُمْ ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

دا صفتونو والا الله دے، رب دے ستاسو. نیشته دَ عبادت لائق سیوا دَ هغه نه

خَالِقُ كُلِّ شَیْءٍ فَاعْبُدُوْهُ ۚ وَهُوَ

پیدا کوونکے دَ هر څیز دے نو بندګی خاص کړئ هغه لره او هغه

۱۰۱ داعلت دے دَ سبحانه دَ پاره په بیان دَ کلماتو دَ توحید سره په دے کښ پنځه کلمات دَ توحید دی. بَدِیْعُ اشاره ده چه په پیدا ایښ دَ آسمانونو او زمکو کښ الله تعالیٰ مخکښ مثال ته محتاج نه دے نو شریک او ولد ته حاجت نه لری او په دے آیت کښ پنځه واړه جملے دَ پاره دَ رد دَ عقیدے دَ ولدیت دی. وَلَمْ تَكُنْ لَّهٗ صَاحِبَةٌ په دے کښ اشاره ده چه کومو خلقو الله تعالیٰ ته دَ ولد نسبت کړے دے هغوی الله تعالیٰ دَ پاره دَ زوجیت عقیده نه لرله.
كُلَّ شَیْءٍ او ولد دَ خالق خو مخلوق نشی کیدے بلکه دواړو کښ مجانست (هم جنس) شرط دے او مراد دَ کل شیء نه هغه دی چه دَ شان دَ هغے نه مخلوقیت وی نو ذات او صفات او کلام دَ الله تعالیٰ په دے کښ داخل نه دے.
وَهُوَ بِكُلِّ شَیْءٍ عَلِيْمٌ یعنی علم بکل شیء صفتِ خاصه دَ الله تعالیٰ دے او که ولد ئے وے نو لازم ده چه هغه به ورسره په دے صفت کښ شریک وے دَ وجے دَ مجانست (هم جنستوب) نه.

عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِیْلٌ ﴿١٠٢﴾ لَا تُدْرِكُهُ

په هر خیز باندے ذمه وار دے. نشی راګیرولے هغه لره

الْاَبْصَارُ وَهُوَ یُدْرِكُ الْاَبْصَارَ وَهُوَ

نظرونه او هغه راګیروی نظرونو لره او هغه

اللَّطِیْفُ الْخَبِیْرُ ﴿١٠٣﴾ قَدْ جَآءَكُمْ بَصَآئِرُ

باریک خیزونو لره لیدونکے خبردار دے. یقینًا راغلی دی تاسوته دلیلونه ډیوے

۱۰۲ په دے ایت کښ هم پنځه کلمات د توحید دی او دا نتیجه ده د مخکښ دلیلونو او د کلماتو د توحید او په دے ایت کښ اثبات د توحید د ربوبیت او الوهیت او د خالقیت او د تصرف دے. خَالِقُ اه مخکښ ایت کښ مقصد علت ذکر کول وو او هغه په صفتِ فعلیه (خلق) سره مناسب دے او په دے ایت کښ مقصد تفریع او نتیجه ذکر کول دی او هغه په طریقه د اسمیت سره مناسب ده (چه خالق) دے. فَاعْبُدُوْهُ هر کله چه ماقبل سبب دے د پاره د مابعد د دے وجے نه فا سره یئے ذکر کړو. وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَیْءٍ وَّكِیْلٌ متولّی د حفظ او د تدبیر دے نو توکل کول په هغه باندے ضروری دی او هر کله چه عبادت کښ انسان مدد او توکل د الله تعالٰی ته محتاج وی لکه ایاك نستعین روستو د ایاك نعبد نه نو دلته یئے جمله د توکل د عبادت نه روستو ذکر کړله.

۱۰۳ دے ایت کښ هم څلور صفات د الله تعالٰی دی د پاره د توحید- ادراک، د رویت نه غیر دے یعنی ادراک خاص دے او رویت عام دے او په نفی د خاص سره نفی د عام نه راځی نو دے ایت نه دا نه ده معلومه چه لیدل د الله تعالٰی امکان نه لری لکه چه دا د معتزلؤ مسلک دے. او تفصیل د دے دا دے چه رویت (دیدن) د الله تعالٰی یو په دنیا کښ دے دویم په اخرت کښ دے په دنیا کښ د دے په باره کښ اختلاف دے په مینځ د اهل حق کښ چه ممکن دے او که نه دے؟ د اکثر اهلِ علمو په نیز باندے ممکن دے په دلیل د قصے د موسٰی علیه السلام چه طلب یئے د رویت د الله تعالٰی کړے وو او هغه په تفسیر د سورة اعراف ۱۴۳ کښ ذکر دے او څوک چه ممکن وائی نو بیا اختلاف دے چه ایا واقع دے د پاره د نبی صلی الله علیه وسلم په شپه د معراج کښ او که واقع

نه دے نو دَ عائشه او ابن مسعود او ابو هریره رضی الله عنهم مسلک دادے
چه دغه رویت واقع نه دے او کوم چه په سورة نجم کښ ذکر دے هغه رویت
دَ نبی صلی الله علیه وسلم دے جبرائیل لره او دلیل دَ هغوی په دے ایت سره
دَ عائشه رضی الله عنها نه روایت کړے شویدے او دَ ابن عباس او انس او
عکرمه، ربیع الحسن بصری رضی الله عنهم وغیره نه نقل دے چه نبی صلی الله
علیه وسلم په شپه دَ معراج الله تعالیٰ لره په خپلو سترګو باندے لیدلے دے
او دَ دے ایت جواب روستو ذکر کیږی. او هرچه مسئله دَ رویت دَ الله تعالیٰ
ده په اخرت کښ مؤمنانو دَ پاره نو دَ هغے څه ذکر مونږ په تفسیر دَ سورة قیامه
او سورة مطففین کښ کړے دے چه په قرآن او حدیث او تواتر او اجماع سره
ثابت دے او معتزله مرجئه، جهمیه او نور باطلے ډلے وائی چه دغه رویت
هم ممکن او واقع نه دے. هغوی دَ دے ایت نه دلیل نیولے او طریقه دَ استدلال
ئے ابوبکر جصاص او زمخشری په کشاف کښ ذکر کړے ده ځکه دا دواړه معتزلی
دی په عقیده کښ. دَ هغے دَ اهلِ سنت دَ طرف نه جوابات دادی:

جواب اول: چه ادراك په معنیٰ دَ علم دَ حقیقت دَ څیز سره وی نو حقیقت
تفصیلیه دَ الله تعالیٰ په ابصارو او په بصیرت سره نه حاصلیږی او دا منافی
دَ رویت (دیدن) سره نه دے دا جواب سمعانی او شربینی ذکر کړے دے
او دلیل ئے پیش کړے دے په دے قول دَ الله تعالیٰ لره "فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعَانِ
قَالَ اَصْحَابُ مُوسٰی اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ ۝ قَالَ كَلَّا (سورة شعراء ۶۱) په دے کښ
رویت ئے ثابت کړے دے او ادراک ئے نفی کړے دے.

جواب دویم: چه ادراک په معنیٰ دَ احاطه کولو سره دے لکه په سورة یونس
۹۰ کښ دی او نفی دَ احاطے سره نفی دَ رویت نه راځی ځکه چه په نفی دَ خاص
سره نفی دَ عام نه راځی دا هم ابن کثیر او ډیرو مفسرینو اهل سنت والو
ذکر کړے دے.

جواب دریم: چه په دے سره نفی دَ رویت په دنیا کښ دے او دا مراد دے دَ
استدلال دَ عائشه رضی الله عنها په دے ایت سره او دَ رویت دَ الله تعالیٰ
دَ پاره په اخرت کښ نور نصوص وارد دی.

جواب څلورم: الابصار نه مراد ټول نظرونه دی یعنی دَ ټولو خلقو نظرونو
سره الله تعالیٰ نه لیدلے کیږی او دَ دے نه تخصیص دَ مؤمنانو کړے شویدے

مِنْ رَّبِّكُمْ ۚ فَمَنْ اَبْصَرَ فَلِنَفْسِهٖ ۚ وَمَنْ

د طرف د رب ستاسو نه، نو چا چه پوهه حاصل کړه نو فائده ئے د ځان د پاره ده، او څوک چه

عَمِيَ فَعَلَيْهَا ؕ وَمَآ اَنَا عَلَيْكُمْ بِحَفِيْظٍ ﴿۱۰۴﴾

ړوند شو (د دليلونو نه) نو وبال به په هغه باندے وى او څه نه يم زه تاسو باندے ساتنه کوونکے.

وَكَذٰلِكَ نُصَرِّفُ الْاٰيٰتِ وَلِيَقُوْلُوْا دَرَسْتَ

او دغسے قسما قسم بيانونو سره آياتونه (د توحيد) د پاره د دے چه پوهه شى دوى) او دوى وائى تا لوستلے دے (د فلانى نه)

وَلِنُبَيِّنَهٗ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۰۵﴾ اِتَّبِعْ

او د پاره د دے چه بيان کړو دا هغه قوم ته چه نه پوهيږى. تابع اوسه

مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ مِنْ رَّبِّكَ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ۚ

د هغه څه چه وحى شوے ده تا ته د طرف د رب ستا نه نيشته حقدار د بندګئ مګر هغه دے

په صحيح نصوصو سره.

وَهُوَ يُدْرِكُ الْاَبْصَارَ د ابصار و ذکر د وجے د تجانس د کلام نه شويدے ځکه چه الله تعالىٰ د هر څيز ادراک کوى. اللَّطِيْفُ نرمى کوونکے دے د بندګانو سره. رالېږونکے دے د نرى څيزونو او د هغے حقيقتونه ښکاره کوونکے.

۱۰۴ دا ترغيب دے قرآن ته او ذکر د شان د نبى صلى الله عليه وسلم دے چه دا بيان په دليلونو او په ذکر د نتيجے د هغئ په زړونو کښ بصيرت او رڼا پيدا کوى او دا آيت دليل دے چه پيغمبر د اُمت ساتونکے او بچ کوونکے د مصيبتونو نه دے ځکه چه بِحَفِيْظٍ يو معنىٰ ده بچ کوونکے د هلاکت او عذاب نه. بله معنىٰ راګيروونکے د عملونو په علم او په قدرت کښ (ابن کثير).

۱۰۵ د دے آيت نه تر ۱۱۱ پورے شپږم باب دے په دے کښ دوه طريقے د عقباتو د تبليغ دى ۱۰۵ ۱۱۲ کښ، او آداب د تبليغ درے دى ۱۰۶ ۱۰۸ کښ، او زورنے دى په درے آياتونو کښ ۱۰۹ ۱۱۰ ۱۱۱، او ترغيب دے فيصلے کولو ته په قرآن باندے اورد دے په دليل د جاهلانو باندے. په دے آيت ۱۰۵ کښ دريمه عقبه د تبليغ داسے ده چه بيان د توحيد هر وخت کيږى نو مخالف خلق بدنامى لګول شروع کړى کله وائى دے د فلانى وهابى شاګرد دے يا دهٔ کښ د مرزائيت،

وَاَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِيْنَ ﴿۱۰۶﴾ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ

او مخ اړوه د مشرکانو د ډلے نه. او که غوختے الله تعالیٰ

مَآ اَشْرَكُوْا ؕ وَمَا جَعَلْنٰكَ عَلَيْهِمْ حَفِيْظًا ۚ

نو دوی به شرک نه وے کړے. او نه یئے مقرر کړے مونږ ته په دوی باندے خوکیدار

وَمَآ اَنْتَ عَلَيْهِمْ بِوَكِيْلٍ ﴿۱۰۷﴾ وَلَا تَسُبُّوا

او نه یئے ته په دوی باندے ذمه وار. او کنځل مه کوئ

الَّذِيْنَ يَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ

هغه کسانو ته چه دوی یئے بلی سیوا د الله تعالیٰ نه

پرویزئیت او اعتزال وغیره اثر شوے دے. نو د دے اعتراضونو مقابله کښ
بیان د توحید پکار دے او د دے مشرکانو د بد نامولو پرواه نه ده پکار او د
دوی معبودانو ته کنځل نه دی پکار. وَكَذٰلِكَ لکه چه مخکښ مونږ تصریف د
ایاتونو کړے نو داسے ائینده به هم کوؤ. نُصَرِّفُ یو مضمون چه په قسم قسم
تعبیرونو سره ذکر شی نو هغے ته تصریف وئیلے شی نو قرآن کریم مسئله د توحید
په مختلف عنواناتو او دلیلونو او زجرونو وغیره سره ذکر کوی وَلِيَقُوْلُوْا د دے
معطوف علیه پټ دے "لتقوم الحجة علیهم" (د پاره د دے چه حجت په دوی
باندے قائم شی). ولنصرف دا لام د عاقبت او د صیرورت (گرځیدلو) دے. دَرَسْتَ په دے
کښ قرطبی اوه قراءتونه ذکر کړے دی په دے قراءت باندے په معنی
د تعلّمت دے لکه چه سورة نحل ۱۰۳ او حج ۵۲ کښ دی یعنی دوی د دے د نقل
کولو نسبت یو بد نام سړی ته کوی یا درست په معنی د محوه کولو د زوړ دین دے
وَلِنُبَيِّنَهٗ ضمیر راجع دے ایات ته په تاویل د قرآن یا د قول سره.

۱۰۶ دا بیان د دوئم دابود دے او د مَآ اُوْحِيَ اِلَيْكَ خلاصه دا ده چه لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ. اِتَّبِعْ مر
د دینه بیان کول همیشه او عمل کول په وحی باندے دی. لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ دا علت د
د اتبع یا حال موکده دے د من ربك یا بدل دے د ما اوحی د پاره. وَاَعْرِضْ مراد د اعراض
نه د هغوی د وسوسو نه او مجلسونو او دوستانے نه بچ کیدل او د هغوی د مخالفت پرواه
نه کول دی.

۱۰۷ دا علتونه دی د اَعْرِضْ د پاره په درے طریقو سره او تسلی ده نبی ﷺ او

فَيَسُبُّوا اللّٰهَ عَدۡوًاۢ بِغَيۡرِ عِلۡمٍؕ كَذٰلِكَ

پس کنځل به اوکړي دوی الله تعالیٰ ته د وجې د دشمنئ نه په ناپوهئ سره. دغسې

زَيَّنَّا لِكُلِّ اُمَّةٍ عَمَلَهُمۡ ثُمَّ اِلٰى رَبِّهِمۡ

ډولی کړي دي مونږه هر امت ته عملونه د دوی بیا به رب د دوی ته

مَّرۡجِعُهُمۡ فَيُنَبِّئُهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۰۸﴾

ورګرځیدل د دوی وي، نو خبر به ورکړي دوی لره په هغه عملونو سره چه دوی به کوي.

بیان کوونکو د توحید ته چه ستاسو په ذمه باندې صرف بیان کول دي هدایت کول او نه کول د الله تعالیٰ په اختیار کښې دي نو ته پس د بیان نه نوره پرواه مکوه. نه ته الله تعالیٰ د دوی څوکیدار جوړ کړې یې او نه ته پخپله د دوی ذمه وارې په ایت ۱۰۷ کښې نفي د حفیظ وه د طرف د نبي نه او په دې جمله کښې نفي ده د طرف د الله تعالیٰ نه او وَكِيۡلٍ هغه څوک دې چه تاوان او ذمه واري هغه ته راجع وي او هغه له اختیار ورکړې شوې وي د طرف د مؤکل نه او د حفیظ وکیل فرق دلته دا دې چه حفیظ هغه دې چه د تکالیفو او مصیبتونو نه بچ کول کوي او وکیل هغه دې چه نفع او فائدې ورکوي. نو د دې وجې نه ستاسو نه د دوی تپوس نه کیږي.

۱۰۸ دا بل ادب د دعوت دې. سبّ په معنیٰ د نقصان بیانولو دې چه په هغې کښې د هغه څیز د شان کوتاهي او سپکوالې راځي نو دا نه دې جائز په باره د معبودانِ باطله کښې. او دا وئیل چه دوی لائق د بندګئ نه دي او اختیارمند او ذمه وار د نفعې او ضرر نه دي او حاجت روا او مشکل کشا نه دي دا کنځل او سبّ نه دي بلکه دا بیانول خو ضروري دي. وَلَا تَسُبُّوا نبي صلی الله علیه وسلم سبّ د اِلٰهَ د دوی چرې نه دې کړې لیکن مقصد په دې کښې ادب خودل دي. سبّ دوه قسمه دې یو هغه دې چه په هغې کښې توهین او دروغ وي هغه خو فی نفسه هم منع دې او بل مباح دې چه په هغوی کښې کوم عیوب موجود وي او هغه بیان کړې شي نو دا خو فی نفسه جائز دي لیکن هر کله چه دا ذریعه ګرزي د پاره د حرام چه سبّ د الله تعالیٰ دې نو ذریعه د حرام هم حرام وي نو په دې ایت کښې مسئله د سدّ الذرائع ده نو کله چه د یو مباح نه

وَأَقْسَمُوا بِاللَّهِ جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ لَئِن

او قسمونه کړیدی دوی په الله تعالیٰ کلک قسمونه خپل که چیرې

جَاءَتْهُمْ آيَةٌ لَّيُؤْمِنُنَّ بِهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا

راغله دوی ته معجزه نو خامخا ایمان به راوړی په هغې - ته ورته اووایه یقیناً

الْآيَاتُ عِندَ اللَّهِ ۖ وَمَا يُشْعِرُكُمْ أَنَّهَا

اختیار د معجزاتو د الله تعالیٰ سره دے او څه پوهېږئ تاسو ، کیدیشی چه دا معجزې

إِذَا جَاءَتْ لَا يُؤْمِنُونَ ﴿١٠٩﴾ وَنُقَلِّبُ

که راشی دوی ته نو دوی ایمان نه راوړی - او (ځکه) چه اړوو را اړوو

فتنه وغیره پیدا کیږی نو د هغه مباح نه که قول وی او که عمل وی ځان بچ کول پکار دی. فَيَسُبُّوا اللَّهَ اه سوال: مشرکانو خو الله تعالیٰ منلو او د عظمت عقیدې لرله نو څنګه هغوی الله تعالیٰ ته سب کوی؟

جواب ۱: د غصې او د ضد د وجې نه داسې کوی لکه لفظ د عدوًا په دې باندې دلیل دے. ۲: راغب وئیلی دی چه مراد د دے نه جګړه کول دی په توحید کښې په باطله طریقه سره. ۳: مراد د دے نه رسول د الله تعالیٰ دے چه هغه ته کنځلې اوکړی.

بِغَيْرِ عِلْمٍ دا سبب دے د عدوًا یا علت دے د یسبوا الله د پاره. كَذَٰلِكَ دا هم علت دے د مخکښې ملازمې یعنی سب د اصنامو ولې مستلزم دے سب د الله تعالیٰ لره یعنی وجه د دے زینت د بد عمل دے چه دا ورته ثواب یا غیرت ښکاری.

لِكُلِّ أُمَّةٍ عام دے که امت د ایمان والو وی او که د کفر شرک بدعت والا وی.

ف ۱۰۹ دا جواب د سوال دے یعنی که څوک ګمان اوکړی چه سب د دوی الله تعالیٰ لره په وجه د ناکاره استعداد سره نه دے بلکه د دے وجې نه چه دوی ته آیات مقترحه (چه دوی طلب کوی) نه راځی نو جواب اوشو. وَأَقْسَمُوا اه دلیل دے چه مشرکان کله کله په الله تعالیٰ باندې د هغه د عظمت د وجې نه قسم کوی.

جَهْدَ أَيْمَانِهِمْ قرطبی وئیلی دی چه مشرکانو به په غیر الله باندې قسمونه کول او په الله تعالیٰ باندې هم قسم کول لیکن قسم په الله تعالیٰ باندې دوی پوخ قسم ګڼړلو او د دے زمانې جاهلان په غیر الله باندې قسم کول ډیر خطرناک (اوغټ)

أَفْئِدَتَهُمْ وَأَبْصَارَهُمْ كَمَا لَمْ يُؤْمِنُوا بِهِ أَوَّلَ

زړونه د دوی او سترګې د دوی (د حق نه) څرګه چې ایمان نه دے راوړے دوی پدے (حق) باندے اول

مَرَّةٍ وَنَذَرُهُمْ فِي طُغْيَانِهِمْ يَعْمَهُونَ ﴿۱۱۰﴾

ځل او پریږدو مونږ دوی په سرکشئ د دوی کښې سرګردانه.

ګنړی او په الله تعالیٰ باندے د قسم کولو نه څه پرواه نه کوی (نو دوی په دے جهت سره د زړو مشرکانو نه زیات ګمراه دی). اٰيَةٌ مراد د دے نه هغه معجزات دی چه دوی طلب کول د دُنیا پرستئ او د جهل د وجے نه لکه په سورة اسراء ۹۰ ۹۱ کښې دی او دا سے په سورة فاطر ۴۲ کښې دی. قُلْ اِنَّمَا الْاٰيٰتُ عِنْدَ اللّٰهِ دا دلیل دے چه معجزات راوړل د انبیاء علیهم السلام په اختیار او قدرت کښې نه دی دا سے په سورة رعد ۳۸ او سورة ابراهیم ۱۱ او سورة عنکبوت ۵۰ او سورة اسراء ۹۳ کښې دی. وَمَا يُشْعِرُكُمْ اشعار او شعور په معنی د پوهه دے او ما استفهامیه انکاریه دے او خطاب مؤمنانو ته دے یعنی مومنانو دا ایت د مشرکانو د پاره طلب کول په دے ګمان چه دوی به ایمان راوړی.

سوال: په دے معنی سره خو یؤمنون پکار دے؟

جواب ۱: دلته لا مقحم دے د پاره د تاکید د معنی د انکار (په استفهام کښې).

جواب ۲: مفعول دویم محذوف دے اصل عبارت دا دے "وَمَا يشعركم مافی الواقع وفی علم الله انها اذا" (تاسو ته د واقع څه څیز پوهه درکړی او د الله تعالیٰ په علم کښې دا ده چه دوی خو ایمان نه راوړی).

جواب ۳: مفعول ثانی پټ دے او انها په معنی د لَعَلَّ دے او دا د خلیل او کسائي نه نقل دے اصل عبارت دا دے "وما يشعركم حالهم لعلها اذا" او بعضو علماؤ ویلے دی چه دا خطاب کافرانو ته دے نو په کلام کښې تقدیر دے "وما يشعركم انكم آمنتم عند مجی الآيات" او د انها نه نوے کلام دے په تقدیر د لِاَنها سره یا دا چه په بل قراءت کښې اِنها په زیر د الف او تؤمنون په خطاب سره دے.

او دا زورنه ده په طلب د معجزاتو د پیغمبر نه چه هغه لره د دے اختیار منلی ګنړی او دا ایت دلیل دے چه د پیغمبر په معجزه کښې هیڅ اختیار نه وی.

۱۱۰ دا علت او وجه ده د لا يُؤْمِنُوْنَ د پاره واؤ په معنی د علت دے او کما کښې کاف هم په معنی د علت دے ترتیب دا دے چه اول دوی ایمان نه دے راوړے

وَلَوْ اَنَّنَا نَزَّلْنَآ اِلَيْهِمُ الْمَلٰٓئِكَةَ وَكَلَّمَهُمُ

او كه مونږه نازل كړو دوى ته ملائكې، او خبرې اوكړې دَ دوى سره

الْمَوْتٰى وَحَشَرْنَا عَلَيْهِمْ كُلَّ شَيْءٍ

مړي او راجمع كړو مونږ په دوى باندې هر څيز

قُبُلًا مَّا كَانُوْا لِيُؤْمِنُوْٓا اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ

مخامخ، نه دى دوى چه ايمان راوړى مګر هغه وخت چه اوغواړى الله تعالىٰ

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ يَجْهَلُوْنَ ﴿١١١﴾ وَكَذٰلِكَ

او ليكن اكثر دَ دوى نه ناپوهه دي. او دغسې

جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيٰطِيْنَ الْاِنْسِ

ګرځولې دي مونږ هر پيغمبر لره دُشمنان شيطانان دَ انسانانو

دَ هغې وجې نه دَ دوى زړونه او سترګې دَ حق نه واوړيدل نو دَ دغه وجې نه سره دَ معجزاتو نه دوى دَ ايمان نه محروم شول نو په طغيان كښې هميشه دَ پاره پاتې شول.

سوال: دلته ئې اسماع نه دے وئيلے؟

جواب: دلته بحث دَ معجزات محسوسه دے چه دوى دَ هغې مطالبه كوله. او دا سې معجزاتو له دَ عبرت دَ پاره سترګې او زړونه پكار دي او په دے كښې غوږونه استعماليږى.

١١١ دا آيت بل جواب دے دَ دے قول دَ دوى چه "لئن جاءتهم اٰية". يعنى كه دا معجزات دوى ته راشى نو هم ايمان نه راوړى دَ ضد او دَ عناد دَ وجې نه. دا معجزات دوى غوختلے وُو لكه په سورة اسراء ٩٢ او سورة فرقان ٢١ او سورة انعام ١٢٤ كښې په دے كښې دوى دَ ملائيكو په راتللو او دَ الله تعالىٰ دَ ليدلو طلب كړے دے او په سورة دخان ٣٦ او جاثيه ٢٥ كښې طلب دَ اٰباؤ دے چه مړه دي. قُبُلًا جمع دَ قبيل ده يعنى ډلے ډلے يا په معنى دَ مقابلةً ده (مخامخ). اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ اشاره ده چه ايمان هم په مشيت دَ الله تعالىٰ سره دے لكه په سورة يونس ١٠٠ كښې دى. يَجْهَلُوْنَ عام دے جهل عنادى او غير عنادى ته.

وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ زُخْرُفَ

او پیریانو نه وسوسے اچوی بعض دَ دوی بعضو ته (دروغ) ډولی کړیشوے

الْقَوْلِ غُرُورًا ۚ وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ

خبرے دَ پاره دَ دهوکه کولو - اوکه غوختے رب ستا (ایمان دَ دوی) نو دوی به دا کار نه وو کړے

فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ ﴿١١٢﴾ وَلِتَصْغَىٰ إِلَيْهِ

نو پریږده دوی سرهٔ دَ هغے چه دوی ئے دروغ جوړوی - او دے دَ پاره چه مائل شی دے (دروغو) ته

أَفْئِدَةُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ

زړونه دَ هغه کسانو چه ایمان نه لری په آخرت باندے

۱۱۲ داخلورمه عقبه دَ تبلیغ ده چه کله بیان دَ مسئلے دَ توحید خورشی نوشیطانان انسی (علماء سوء) وغیره راپورته شی او عوامو خلقو ته دَ شرک او بدعت خبرے خائسته کوی (دا زخرف القول دے) او دَ حق پرستو سرهٔ دَ مناظرے کوشش کوی او شور شغب پیدا کوی. او ربط دَ آیت دا دے چه مخکښ بیان شول عدم ایمان دَ منکرینو سرهٔ دَ معجزاتو راتللو نه اوس ظاهری مانع دَ هغے ذکر کوی چه هغه وسوسے دَ شیطانانو دی او په آیت کښ تسلی ده نبی صلی الله علیه وسلم ته. دَ مالک بن دینار نه قرطبی او سمعانی نقل کړے دے چه زما خوف دَ شیطانان انسی نه ډیر دے په نسبت دَ جنی ځکه چه دَ جنی شیطان نه په تعوذ سره بچ کیدے شم او انسی شیطانان خو ښکاره ګناهونو ته ما راکاږی او دا ئے په سورة فرقان ۳۱ کښ دی. یُوْحِیْ اه وحی پتے القاء ته وئیلے شی نو په وسوسه هم اطلاق کیږی او په دے اطلاق کښ نکته داده چه په دا سے حال کښ هغه وسوسے والا دعوی کوی چه ما ته وحی شوید ه یا پشان دَ وحی ګڼړی. زُخْرُفَ الْقَوْلِ دا په طریقه دَ تشبیه سره دے لکه چه او سپنه یا تانبه وی او دَ سرو زرو اوبه ورله ورکړیشی نو خلقو له دهوکه ورکوی نو دارنګ باطل قول (دَ کفر او شرك او بدعت کلمے) له خائیست ورکړی او وائی چه دا خائیسته کلمه ده او حسنه بدعت دے نو دے ته زخرف القول وئیلے شی. غُرُوْرًا دا مفعول لهٗ دے یعنی دَ پاره دَ دهوکه کولو دَ خلقو فَذَرْهُمْ [illegible] تر عذاب الٰهي پورے.

وَلِيَرْضَوْهُ وَلِيَقْتَرِفُوا مَا هُمْ مُّقْتَرِفُونَ ﴿۱۱۳﴾

او دے د پاره چه خوښ کړی دوی دا (دروغ) او چه کوی دوی هغه څه چه کوی یے دوی همیشه۔

أَفَغَيْرَ اللَّهِ أَبْتَغِي حَكَمًا وَهُوَ الَّذِي

ایا نو سیوا د اللّٰه تعالیٰ نه طلب کړم فیصله کوونکے او اللّٰه تعالیٰ هغه ذات دے

أَنْزَلَ إِلَيْكُمُ الْكِتَابَ مُفَصَّلًا ۚ وَالَّذِينَ

چه نازل کړی یے تاسو ته کتاب په تفصیل سره۔ او هغه کسان چه

آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَعْلَمُونَ أَنَّهُ مُنَزَّلٌ

ورکړی یے موږ هغوی ته کتاب یقین کوی چه بیشکه دا قرآن نازل کړے شوے دے

مِنْ رَبِّكَ بِالْحَقِّ ۖ فَلَا تَكُونَنَّ

د طرف د رب ستا نه د پاره د حق ښکاره کولو نو مه کیږه ته

مِنَ الْمُمْتَرِينَ ﴿۱۱۴﴾ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ

د شک کوونکو نه۔ او پوره ده کلمه د رب ستا

ف۱۱۳ دا عطف دے په غرورًا باندے او دا د درے وسوسو مقصدونه دی۔ وَلِتَصْغَىٰ، اصغاء قوی میلان ته وئیلے شی۔ اَلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ايمان بالاخرة په حقیقت کښ منع کوونکے دے د هر باطل پرستئ نه۔ حاصل د دے دا دے چه انسان جاهل اول په زخرف القول سره دهوکه شی نو بیا ورته غوږ کیږدی او میلان اوکړی او بیا ورباندے خوشحاله شی نو بیا هغه عملونه باطلو باندے همیشگیری شروع کړی۔ مُقْتَرِفُوْنَ مراد د دے نه اعمال (شرکیه) او بدعات دی

ف۱۱۴ د ایت مطلب دا دے چه په وخت د مناظرے کښ فیصله به په اللّٰه تعالیٰ وی یعنی د هغه کتاب او نیکان علماء هم د دے تائید کوی۔ د ایت په اول کښ لفظ د قل پټ مراد دے او استفهام انکاری دے یعنی په وخت د مناظرے او فیصله کښ د اللّٰه تعالیٰ نه سیوا بل حکم نشی منلے کیدلے او دا سے په سورة شوریٰ ۱۰ کښ دی۔ وَهُوَ الَّذِيْٓ اه دا بیان د حکمیت د اللّٰه تعالیٰ دے یعنی د اللّٰه تعالیٰ قرآن حکم دے او تفسیر سمعانی کښ وئیلے دی چه مشرکینو د نبی صلی اللّٰه علیه وسلم نه مطالبه

صِدۡقًا وَّعَدۡلًا ؕ لَا مُبَدِّلَ لِكَلِمٰتِهٖ ۚ وَهُوَ

په رشتینوالی او په انصاف سره - نیشته څوک بدلوونکے دَ کلمو دَ هغه او هغه

السَّمِيۡعُ الۡعَلِيۡمُ ﴿۱۱۵﴾ وَاِنۡ تُطِعۡ اَكۡثَرَ مَنۡ

هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے. او که ته تابعداری کوے دَ ډیرو دَ هغه چاچه

فِى الۡاَرۡضِ يُضِلُّوۡكَ عَنۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ ؕ

په زمکه کښی دی نو وابه یوی تا لره دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه.

اِنۡ يَّتَّبِعُوۡنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنۡ هُمۡ اِلَّا يَخۡرُصُوۡنَ ﴿۱۱۶﴾

دوی نه کوی تابعداری مگر دَ گمان او نه دی دوی مگر په اټکل (ټوک) کاروونه کوی.

اوکړه "اجعل بيننا وبينك حكماً" (زمونږ او ستا مینځ کښی حکم مقرر کړه) نو جواب
اوشو اَفَغَيۡرَ اللّٰهِ اه سره - مُفَصَّلًا تفصیل په اعتبار دَ ایمانیا تو او دَ عقیدے
سره پوره موجود دے په قرآن کښی - وَالَّذِيۡنَ اٰتَيۡنٰهُمُ مراد دَ دے نه نیکان
کتابیان دی او په دے سره دلیل نقلی او شهادت دَ هغوی پیش کوی دَ تاکید
دَ حاکمیت دَ کتاب الله دَ پاره دَ دے سورت ۳۲ کښی او سورة بقره ۱۴۶ کښی هم
دا سے شته - فَلَا تَكُوۡنَنَّ اه خطاب نبی ته دے او مراد ترینه اُمت دے.
۱۱۵ دا په کتاب الله باندے دَ فیصلے کولو وجه ده چه صدق او عدل دَ دے کتاب
پوره دے او په دے کښی څوک تبدیل کوونکے هم نیشته او دا سے بل کتاب
نیشته دَ دے وجے نه حکم به دا کتاب وی - صِدۡقًا په اخبارا تو کښی او عَدۡلًا په
اوامرو او نواهی کښی - كَلِمَتُ رَبِّكَ دا نوم دَ قرآن دے مفرد په اعتبار دَ جنس او
مجموعه سره یعنی ټول کتاب الله په صدق او عدل کښی یو شان دے - لَا مُبَدِّلَ
لِكَلِمٰتِهٖ دلته ئے جمع اوئیله اشاره ده چه په یو یو کلمه کښی هم تبدیل نشی کیدلے
او دا سے په سورة کهف ۲۷ کښی او سورة یونس ۶۴ کښی دی.
۱۱۶ دلیل دَ اهل حق ذکر شو نو اوس دلیل دَ مخالفینو ذکر کوی دا رد دے په دلیل
دَ اهل باطل باندے چه اکثریت دے او اتباع دَ گمان ده او په ټوک (بے دلیله)
خبرو پسے تلل دی. تابعداری دَ ظن په عقیدو کښی کوی او خرص (اټکل) په عملونو
کښی دے دا رنګ اتباع دَ ظن، دَ گمراهو عالمانو کار دے. او خرص (بے دلیله)

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ مَنْ يَضِلُّ عَنْ

يقيناً ستا رب هغه څه پوهه دے په هغه چاچه اوړی دَ

سَبِيلِهِ ۚ وَهُوَ أَعْلَمُ بِالْمُهْتَدِينَ ﴿١١٧﴾

لارې دَ الله تعالیٰ نه، او هغه څه پوهه دے په هدایت والو.

فَكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ

پس خورئ دَ هغے نه چه یاد شو یوی نوم خاص دَ الله تعالیٰ په هغے باندے

إِنْ كُنْتُمْ بِآيَاتِهِ مُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾ وَمَا لَكُمْ

که یئ تاسو په احکامو دَ الله تعالیٰ ایمان لرونکی. او څه عذر دے ستاسو

عملونه کول دَ مقلدینو طریقه ده.

فائده: په دے وخت کښ اقتدار حاصلول او ووټونه کول ټول بنادی په اکثریت دَ افرادو باندے اګرچه جاهلان وی او دا باطله طریقه ده او دا دَ دے وخت دَ سیاسیانو طریقه ده.

ف۱۱۷ مخکښ تقابل دَ ګمراهانو او نیکانو ذکر شو په طریقه دَ استدلال کښ او س دَ هغوی امتیاز او فرق ذکر کوی په علم دَ الله تعالیٰ کښ او علم دَ الله تعالیٰ په فریقینو مستلزم دے جزاء او سزا ورکولو دَ پاره.

ف۱۱۸ دَ دے ځائے نه تر آخره پورے دویمه حصه دَ سورت ده او په دیکښ درے بابونه دی اول باب تر ف۱۳۵ پورے دے په دے کښ اول رد دے په تحریم دَ غیر الله او بیا په نذر دَ غیر الله باندے او دوه عقبے دَ تبلیغ ذکر دی او تقابل دے دَ دوو ډلو ف۱۲۲ ف۱۲۵ کښ او تخویف اخروی دے. ربط دَ دے دَ ماقبل سره دادے چه هر کله دَ جاهلانو باطل دلیلونو باندے رد اوکړونو او س دَ هغوی په باطل تحریم او تحلیل (چه شرک فعلی دے) رد کوی. فَكُلُوا نو مراد دَ كُلُوا نه واجب کول دَ خوراک نه دی بلکه عقیده لرل دَ تحلیل دَ هغے دی چه مشرکانو بے دلیله په ځان باندے حرام کړے دی. فَكُلُوا یعنی حلال یئے ګڼړئ او مه حراموئ هغه حلال څیزونه چه نوم دَ الله تعالیٰ پرے یاد شوے وی په وخت دَ نذر کولو او په وخت دَ ذبح کولو کښ. په دے ایت کښ رد دے په تحریم لِغیر الله باندے

أَلَّا تَأْكُلُوا مِمَّا ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ

چه نه خورئ د هغه څیز نه چه یاد کړیشی خاص نوم د الله تعالیٰ په هغې باندے

وَقَدْ فَصَّلَ لَكُم مَّا حَرَّمَ عَلَيْكُمْ

او یقینًا تفصیلی بیان کوی تاسو ته د هغه څیزونو چه حرام کړے ئے دی په تاسو باندے

إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ إِلَيْهِ ۗ وَإِنَّ كَثِيرًا

مګر هغه څه چه مجبوره شئ هغې ته۔ او یقینًا ډیر خلق

لَّيُضِلُّونَ بِأَهْوَائِهِم بِغَيْرِ عِلْمٍ ۗ

خامخا ګمراه کول کوی په خواهشاتو خپلو سره بے د علم (دلیل) نه۔

إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعْلَمُ بِالْمُعْتَدِينَ ﴿١١٩﴾

یقینًا رب ستا هغه څه پوهه دے په تیرو تونکو د حد نه۔

ذُكِرَ اسْمُ اللَّهِ دَ دے نه معلومه شوه چه نوم دَ غیرالله ورباندے ذکر شی نو هغه حرام دے لکه شربینی دالیکلی دی مُؤْمِنِيْنَ یعنی ایمان بالآیات تقاضا کوی چه حرام کول او حلال کول به بغیر دَ الله تعالیٰ نه دَ بل هیچا نه منئ۔

١١٩ دا هم رد دے په تحریم دَ غیرالله باندے او تاکید دے دَ حکم دَ ما قبل چه فکلوا ده دے۔ وَقَدْ فَصَّلَ سوال: دَ دینه مخکښ تفصیل نه دے شوے ځکه دَ دے نه وړاندے مکی سورتونو کښ تفصیل دَ حلال او حرام نیشته او سورة بقره او مائده کښ تفصیل شته لیکن هغه دَ دے سورت نه روستو نازل شوے دی نو فصل فعل ماضی څه معنیٰ لری؟۔

جواب: بلکه مراد دَ فَصَّلَ نه يُفَصِّلُ دے یعنی تفصیل به اوکړی۔

إِلَّا مَا اضْطُرِرْتُمْ اه استثناء کښ اشاره ده چه مُرداره وینه خنزیر ما اهل په وخت دَ اضطرار کښ حرام نه دی نو په وخت دَ اضطرار کښ حکم دا دے چه ځان دَ مرګ نه دَ بچ کولو دَپاره دَ هغې نه به خامخا خوراک کوی۔ وَإِنَّ كَثِيرًا په دے کښ عمرو بن لحی او دَ هغه مقلدینو ته اشاره ده او دوی ته معتدین وئیلے شویدی۔

وَذَرُوْا ظَاهِرَ الْاِثْمِ وَبَاطِنَهٗ ۭ اِنَّ الَّذِيْنَ

او پریږدئ ښکاره گناه او پټه گناه۔ یقیناً هغه کسان چه

يَكْسِبُوْنَ الْاِثْمَ سَيُجْزَوْنَ بِمَا كَانُوْا

کوی گناهونه زر دے سزا به ورکړیشی دوی ته په سبب د هغه کارونو

يَقْتَرِفُوْنَ ﴿١٢٠﴾ وَلَا تَاْكُلُوْا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ

چه دوی کول. او مه خورئ د هغې نه چه نه وی یاد کړے شوے

اسْمُ اللّٰهِ عَلَيْهِ وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ۭ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ

نوم د الله تعالیٰ په هغې باندے او یقیناً دا وتل دی د حکم د الله نه۔ او یقیناً شیطانان

لَيُوْحُوْنَ اِلٰٓى اَوْلِيٰۗـــِٕــهِمْ لِيُجَادِلُوْكُمْ ۚ وَاِنْ

خامخا وسوسے اچوی دوستانو خپلو ته دے دپاره چه جګړه اوکړی ستاسو سره، او که

اَطَعْتُمُوْهُمْ اِنَّكُمْ لَمُشْرِكُوْنَ ﴿١٢١﴾ ع اَوَمَنْ كَانَ ۱۴ ع ۱۱

خبره اومنئ د دوی نو یقیناً تاسو به خامخا مشرکان یئ۔ آیا هغه څوک چه وی

ن۱۲۰ ظَاهِرَ الْاِثْمِ نه مراد هغه گناهونه دی چه د ښکاره بدن سره تعلق لری یا ښکاره کیږی او په دے کښ شرک فعلی داخل دے۔ وَبَاطِنَهٗ هغه گناهونه چه د عقیدے او زړه سره تعلق لری یا پټ کیږی او په دے کښ شرک اعتقادی داخل دے۔ سَيُجْزَوْنَ الخ په ایت کښ تخصیص دے په سبب د ایاتونو د توبے او د مغفرت سره یعنی چه الله تعالیٰ نه وی بخلے او انسان توبه نه وی کړے نو سزا ورکول لازم دی. او دا رنګ لفظ د سَيُجْزَوْنَ وعید دے مستلزم وجوب لره نه دے نو د دے وجونه معتزله په دے ایت سره دلیل نیولے نشی۔

ن۱۲۱ دا رد دے په نذر د غیر الله باندے دا قول د عطاء نه نقل دے او دا رنګ مردارے پکښ داخل دی او ذبح د مسلمان چه ذکر د اسم الله قصداً ترک کړے وی نو په هغې کښ اختلاف دے. وَاِنَّهٗ لَفِسْقٌ ضمیر راجع دے ذبح د غیر الله ته دا فسق اعتقادی دے لکه د دے سورت په ن۱۴۵ کښ یا راجع دے اکل ته او دا فسق عملی دے۔ وَاِنَّ الشَّيٰطِيْنَ لَيُوْحُوْنَ مراد د شیاطین نه علماء سوء دی

مَيْتًا فَأَحْيَيْنٰهُ وَجَعَلْنَا لَهٗ نُوْرًا يَّمْشِيْ

مړ پس ژوندے کړو مونږ هغه او ورکړو هغه ته رڼړا ګرځي

بِهٖ فِي النَّاسِ كَمَنْ مَّثَلُهٗ فِي الظُّلُمٰتِ

په هغې سره په خلقو کښې پشان د هغه چا کيده پشي چه په تيارو کښې وي

لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ؕ كَذٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكٰفِرِيْنَ

او نه وي وتونکے د هغې نه ؟ . دغسے ډولی کړے شويدي کافرانو ته

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۲۲﴾ وَكَذٰلِكَ جَعَلْنَا فِيْ

هغه عملونه چه کوی ئے . او دغسے ګرځولے دی مونږه په

كُلِّ قَرْيَةٍ اَكٰبِرَ مُجْرِمِيْهَا لِيَمْكُرُوْا

هر کلی کښې غټان خلق مجرمان د هغې (کلی) دے د پاره چه چل ول کوی

فِيْهَا ؕ وَمَا يَمْكُرُوْنَ اِلَّا بِاَنْفُسِهِمْ

په هغه کلی کښې (په خلاف د حق کښې) . او نه کوی چل ول مکر په ځانونو خپلو

وسوسے اچوی عوامو ته اوزجاج وئیلے دی چه دا دلیل دے چه څوک حرام لره حلال ګڼړی یا حلال لره حرام ګڼړی دارنګ نذر د غیر الله چه حلال ګڼړی نو دا مشرک دے. دارنګ دا دلیل دے چه د دے امت نه چه څوک شرک اوکړی اګرچه شرك في الحكم والتشريع وی نو هغه ته مشرک وئیلے شی.
۱۲۲ دا تقابل دے د دوو ډلو او ترغیب دے توحید او قرآن ته. مَيْتًا نه مراد مشرک دے په هغه شرکونو سره چه مخکښې ایا تونو کښې بیان شول. او حیات نه مراد توحید دے او دارنګ د میت نه مراد جاهل دے او احیاء نه مراد علم ورکول دی. فَاَحْيَيْنٰهُ دا حیات په روح د معرفتِ الٰهی او توحید سره دے ځکه حیات د روح په دے سره حاصلیږی نو په یو جانب کښې حیات او نُور دے او بل جانب کښې موت (شرک او جهل) او ظلمت دے. په دے ایت کښې رد دے په سیکولرازم باندے چه د کفر او اسلام فرق نه کوی او رد دے په هغه جاهلانو باندے چه [illegible] او جهل نه توحید سنت او

وَمَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۱۲۳﴾ وَإِذَا جَآءَتْهُمْ اٰيَةٌ

او دوی نه پوهیږی. او کله چه راشی دوی ته څه نښه

قَالُوْا لَنْ نُّؤْمِنَ حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ

دوی وائی چرے ایمان نه راوړو موږ تر دے پورے چه راکړیشی موږ ته پشان

مَآ اُوْتِيَ رُسُلُ اللّٰهِ ۘؕ اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ

دَ هغے چه ورکړے شویدی رسولانو دَ الله تعالیٰ ته. الله تعالیٰ خه پیږنی هغه ځائ چه مقرر وی دا به هغه ځائ کښ)

رِسَالَتَهٗ ؕ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ

پیغام خپل. زر دے او به رسی هغه کسانو ته چه جرم یئے کړیدے سپکوالے

عِنْدَ اللّٰهِ وَعَذَابٌ شَدِيْدٌ بِمَا كَانُوْا

په تیز دَ الله تعالیٰ او عذاب سخت په سبب دَ هغے چه دوی

وقف لازم
وقف منزل

علم ته نقل شی نو دوی ورپسے مسخرے کوی. او نُوْرًا نه مراد قران دے یَمْشِیْ نه مراد دَ دعوت دَ توحید دَ پاره ګرځیدل دی یا په قران باندے عمل کول مراد دی. کَذٰلِكَ لکه چه مؤمن ته ایمان خائسته کړے شوے دے نو دارنګ کافر ته کفر خائسته کړے شوے دے.

۱۲۳ دا پنځمه عقبه دَ تبلیغ ده چه کله دَ علماؤ دَ مقابلے انتها اوشی نو دوی غټانو او اقتدار والو ته رپورټونه دَ مؤحد په خلاف کوی نو هغوی دَ مؤحد په مخالفت کښ سخت مکرونه اوکړی قید یئے کړی یا ئے وطن نه اُوشړی وغیره نو الله تعالیٰ فرمائی چه دَ دوی دَ مکرونو بد اثر به په دوی باندے پریوځی. وَكَذٰلِكَ دا تشبیه راجع ده هغے ته چه تیر شویدی په ۵۳ ۵۵ ۱۰۵ ۱۱۲ کښ. اَكٰبِرَ دا یئے دَ دے وجے نه مخکښ کړو چه اشاره اوشی چه کبر دَ دغه خلقو سبب دَ جرمونو اوګرځیدلو لِيَمْكُرُوْا لام دَ عاقبت دے او دا سے په سورة اسراء ۱۶ او سورة نوح ۲۲ کښ دی او مقابله دَ دے کښ دَ قران او حدیث هرقل نه معلوم ده چه تابعداران دَ رسولانو کمزورے خلق دی او مراد دَ مکر نه (ابن کثیر وئیلے دی) دعوت دَ ګمراهئ دے. سفیان نه نقل دے هر مکر په قران کښ عمل دے او ایذاء ورکول مؤحدینو ته هم په مکر کښ داخل دی او دا سے په سورة فاطر ۴۳ کښ ذکر دی

يَمْكُرُوْنَ ﴿۱۲۴﴾ فَمَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ

چل ول جوړوی ۔ پس هغه څوک چه اوغواړی الله تعالیٰ چه هدایت اوکړی هغه ته

يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِ ۚ وَمَنْ يُّرِدْ

نو پرانځی سینه دَ هغه اسلام (قبلولو) ته او هغه څوک چه اوغواړی

اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا

چه بے لارے ئے کړی نو اوګرځوی سینه دَ هغه تنګیدونکے غصه کیدونکے

كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِى السَّمَآءِ ؕ كَذٰلِكَ يَجْعَلُ

ګویا که په زور خیژی په بره طرف کښ ۔ دغسے مقرروی

اللّٰهُ الرِّجْسَ عَلَى الَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

الله تعالیٰ بے خیری (پلیتی) په هغه کسانو چه ایمان نه راوړی ۔

۱۲۴ داذکر دَ مکر دَ اکابرو دے او تکبر دَ هغوی دے دا زورنه ده چه غټان دَ تکبر دَ وجے نه دَ رسول سره ځان برابروی او نزول دَ ملائیکو او رسالت غواړی دَ هغے جواب اوشو په دے قول سره اَللّٰهُ اَعْلَمُ اه یعنی دا نبی په خاندان او قوم اودَ اخلاقو او کردار دَ وجے نه الله تعالیٰ پیژندلو چه دے اهل دَ رسالت دے دَ دهٔ مثل نیشته ۔ عِنْدَ اللّٰهِ مراد دَ دے نه ورځ دَ قیامت ده یا په معنی مِن عندالله دے نو دنیا ته هم شامل دے دا قول دَ فراء دے ۔ او دا آیت صریح دلیل دے چه دَ تکبر اودَ مکرونو بدله ذلت او عذاب دے ۔ سزا دَ هغے متکبرینو غټانو داده چه سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ اَجْرَمُوْا صَغَارٌ یعنی دَ غټوالی په مقابله کښ وړوکوالے اوسپکوالے به دوی ته اورسی ۔ او حَتّٰى نُؤْتٰى مِثْلَ اه کښ دا مطلب هم کیدیشی چه زمونږ مُلایان دِ مونږ ته هغه مسئلے اوکړی کومے چه دا رسولان (او حق پرست) ئے کوی ۔

۱۲۵ دا فائده دَ رسالت حقه ده او دا تقابل دے دَ دوو ډلو په اکابرو کښ یعنی الله تعالیٰ چه چا ته هدایت کول غواړی "او په حدیث کښ دَ دے درے علامات ذکر کړے دی انابت کول جنت ته ۔ پرهیز کول دَ دنیا نه ۔ اودَ مرګ دَ پاره تیاری کول مخکښ دَ راتللو دَ مرګ نه" نو هغه په توحید او سنت پوهه کړی اودَ هغه دَ زړهٔ نه

وَهٰذَا صِرَاطُ رَبِّكَ مُسْتَقِيْمًا ؕ قَدْ

او دا (قرآن) لار دَ رب ستا ده نیغ - یقینًا

فَصَّلْنَا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾

په تفصیل سره بیان کړیدی موږ آیاتونه هغه قوم لره چه نصیحت قبلوی -

لَهُمْ دَارُ السَّلٰمِ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَهُوَ

دوی لره کور دَ سلامتیا دے په نیز دَ رب دَ دوی او هغه

شکونه لرے کړی او تکالیف دَ دین ورته آسان کړی دے درے وارہ صفاتو ته شَرَح صَدَر وائي او څوک چه گمراه کول غواړی نو توحید او سنت اوریدلو باندے ډیر تنگیږی او بیا سخت غُصه شي او دا منل ورته دومره سخت ښکاری لکه بره ډیریځ یا غرته ختل یا ضَیق په طور دَ تشبیه سره دے یعنی ایمان پکښ نه داخلیږی او حَرَجًا په زور دَ راء سره په معنی دَ ذا حرج او په کسره دَ راء سره په معنی دَ سخت تنگ دے ـ کَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ ابن جریر وئیلے دی چه دا هم یو مثال دے لکه چه یو انسان اسمان ته نشي ختلے نو دا رنگ دَ دے گمراه په زړه کښ ایمان نشي داخلیدلے ـ کَذٰلِكَ يَجْعَلُ اللّٰهُ الرِّجْسَ لکه چه سینه دَ هغه ئے تنگه کړځولے ده دغه شان رجس هم په دوی باندے اچوی زجاج وئیلے دی چه رجس په دنیا کښ لعنت دے او په آخرت کښ عذاب دے یا رجس په معنی دَ شیطان دے چه مسلط کوی ئے په بے ایمانو خلقو باندے او مجاهد وئیلے دی چه رجس هر هغه څیز دے چه په هغے کښ خیر نه وی۔

ف ۱۲۶ دا ترغیب دے قرآن ته روستو دَ ذکر دَ طریقے دَ گمراهانو نه او دا رنگ چه مخکښ یشرح صدره ذکر کړو نو اوس سبب دَ شرح صدر ذکر کوی او هٰذَا کښ اشاره ده بیان او مضمون دَ قرآن ته ـ مُسْتَقِيْمًا په طریقه دَ حال سره دَ پاره دَ تاکید دے ـ الْاٰيٰتِ مراد ترینه قرآنی آیاتونه دی چه دَ یو بل نه جدا جدا دی دَ هر مسئلے او مضمون دَ پاره مستقل آیاتونه دی۔

وَهُوَ وَلِيُّهُمْ بِمَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿۱۲۷﴾ وَيَوْمَ

مددگار دَ دوی دے پہ سبب دَ هغه عمل چه دوی کوو. او په کومه ورځ

يَحْشُرُهُمْ جَمِيعًا ۚ يَٰمَعْشَرَ الْجِنِّ

چه جمع به کړی دے ټولو لره (او به وائی) اے ډلے دَ پیریانو

قَدِ اسْتَكْثَرْتُمْ مِّنَ الْإِنسِ ۖ وَقَالَ

یقینًا ډیر کسان تابع کړیدی تاسو په ځان پسے دَ انسانانو نه، او وائی به

أَوْلِيَاؤُهُم مِّنَ الْإِنسِ رَبَّنَا اسْتَمْتَعَ

دوستان دَ دوی دَ انسانانو نه اے ربه زمونږه! فائده اخستے دی

بَعْضُنَا بِبَعْضٍ وَبَلَغْنَا أَجَلَنَا الَّذِي

بعضو زمونږ په بعضو سره او رسیدلی یو موږ نیټے خپلے ته هغه چه

أَجَّلْتَ لَنَا ۚ قَالَ النَّارُ مَثْوَاكُمْ

تا مقرر کړیده مونږ لره. او به وائی الله تعالٰی اور ستاسو دَ اوسیدو ځائے دے

خَالِدِينَ فِيهَا إِلَّا مَا شَاءَ اللَّهُ ۗ إِنَّ رَبَّكَ

همیشه به یئ پدیکښں مگر هغه چه اوغواړی الله تعالٰی. یقینًا رب ستا

---

۱۲۷ دا زیرے اخروی دے دَ پاره دَ منونکو. دَارُ السَّلَامِ حسن وئیلے دی چه سلام نوم دَ الله تعالٰی دے او زجاج وئیلے دی چه سلام مصدر دے په معنٰی دَ سلامتیا دَ ټولو آفتونو نه یا سلام نه مراد تحیه ده یعنی کور دَ ډیرو سلامونو دے دَ هر طرف نه به سلام وی. عِندَ رَبِّهِمْ کښں اشاره ده چه دَ هغے دَ نعمتونو تفصیلی علم صِرف الله تعالٰی سره دے. وَلِيُّهُمْ ولی په معنٰی دَ حافظ ناصر مؤید (ابن کثیر) او ذمه دار دَ کارونو دَ دوی بل چاته ئے نه سپاری (شربینی).

حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٢٨﴾ وَكَذَٰلِكَ نُوَلِّي بَعْضَ

حکمتونو والا دے پوهه دے په هرڅه . او دغسے ملګرے کوو مونږ بعض

الظَّالِمِينَ بَعْضًا بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿١٢٩﴾

ظالمان د بعض سره په سبب د هغه عملونو چه دوئ ئے کوی .

١٢٨ دا یره اخروی ده د پاره د نه منونکو. اسْتَمْتَعَ بَعْضُنَا بِبَعْضٍ دا اعتراف د جرم دے لویو پیریانو به انسانانو لره په ځنګلا تو کښ د وړو پیریانو نه ساتنه کوله دارنګ د پیریانو په ذریعه بعضِ عاملان د جناتو څخه بعضِ کارونه کوی دارنګ په چاچه جن راشی نو هغوی په دهوکو او دروغو سره د خلقو نه روپئ اوساما نونه حاصلوی دا فائده دے د انسانانو دی په ذریعه د جناتو سره او انسانانو به د پیریانو په نوم بانده نذرانے کولے او د هغوی تعبداری کوی او د پیریانو نه یره کوی هغوی غالب او زوراور ګنړی شیخ الاسلام په تفسیر کښ د دے استمتاع ډیر صورتونه ذکر کړے دی تر دے چه جنات زنا کوی د انسانانو سره نو دا د جن فائده دی د انسانانو نه. اِلَّا مَا شَاءَ اللّٰهُ د دے نه مراد د اور نه علاوه نور عذابونه دی لکه زمهریر او مکان د خوراک څښکاک یا مؤمنان ګنهګارترینه مراد دی او ابن قیم لیکلے دی چه په دے ایت کښ ذکر دے د هغه کسانو چه په هغوی احوال شیطانیه او کشفونه شیطانی رائحی او د بعضِ مغیباتونه په ذریعه د مدد د پیریانو سره خلقو ته خبرونه ورکوی او خلق ګمان کوی چه دا اولیاء الرحمان دی او حال دا چه هغوی اولیاء الشیطان دی او دا ایت دلیل دے چه انسانان او پیریان دواړه مکلف دی په احکامو شرعیو سره.

١٢٩ دا شپږمه عقبه د تبلیغ ده چه اخری مرحله ده یعنی حق پرست دے ته اوړسی چه ظلم یعنی شرک او بدعت والا ټول د دهٔ په مقابله کښ متفق شی او د دهٔ سره تعلقات پرېږدی. د دے ایت بله معنی دا ده چه په ظالمانو باندے نورو ظالمانو لره حاکمان او کرځوی او دا عذاب دُنیوی دے بِنا په اول باندے نُوَلِّي د ولایت نه په معنی د دوستانے دے یعنی باطل پرست ظالمان د یو بل سره مرکز تیا کوی په مقابله د صالحینو کښ. او بِنا په دویمه معنی باندے نولی د ولایت نه په معنیٰ د حکومت دے په اوله معنی سره دا اخری عقبه ده په دویمه معنی صرف تخویف دنیوی دے.

يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ اَلَمْ يَاْتِكُمْ رُسُلٌ

(او به وائي) اے ډلے د پيريانو او انسانانو ايا نه دي راغلي تاسو ته رسولان

مِّنْكُمْ يَقُصُّوْنَ عَلَيْكُمْ اٰيٰتِيْ وَيُنْذِرُوْنَكُمْ

ستاسو نه چه بيانول ئے په تاسو باندے ايا تونه ځما او يره ئے دركوله تاسو ته

لِقَآءَ يَوْمِكُمْ هٰذَا ؕ قَالُوْا شَهِدْنَا عَلٰٓى

د ملاقات د دے ورځے نه. او به وائي دوی اقرار كوو مونږ په

اَنْفُسِنَا وَغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا

ځانونو خپلو (چه تبليغ كړے شوے وو مونږ ته) او دهوكه كړے وو دوی لره ژوند دنيوی

وَشَهِدُوْا عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۱۳۰﴾

او اقرار به اوكړی په ځانونو خپلو باندے چه يقيناً دوی كافران وو.

ت۱۳۰ داهم يره اخروی ده او پيريانو كښ د آدم عليه السلام نه بعد او د محمد صلى الله عليه وسلم نه مخكښ د رسولانو په راتلو كښ د علماؤ اختلاف دے ليكن د حق داعيان پكښ ډير راغلي دی. د اكثر علماؤ قول دا دے چه د آدم عليه السلام نه روستو جناتو كښ پيغمبر نه دے راغلے او د حق داعيان (نذيران) پكښ راغلي دی دا قول ابن جرير او ابن كثير غوره كړيدے په دليل د سورة نساء ت۱۶۳ او سورة يوسف ت۱۰۹ او سورة فرقان ت۲ سره. نو مِنْكُمْ خطاب كښ ډير اقوال دی اول دا چه خطاب په اعتبار د مجموعه سره دے تغليب ئے وركړے دے انس لره په جن باندے دويم دا چه رسل په معنیٰ د نذير سره دے دريم دا چه مخكښ د آدم عليه السلام نه جناتو ته رسولان ليږلے شوی دی نو په خطاب د جناتو كښ هغوی مراد دی. يَقُصُّوْنَ لوئے مقصد د رسولانو ايا تونه د توحيد او تذكير د قيامت دے. شَهِدْنَا عَلٰٓى اَنْفُسِنَا دا روستو د گواهئ د اندامونو نه ده وَغَرَّتْهُمُ دا علت د تكذيب دے او دا د جانب د الله تعالىٰ نه جمله معترضه ده. اَنَّهُمْ كَافِرِيْنَ اول شهادت د اقرار د رسولانو دے او دويم د كفر كولو دے.

ذٰلِكَ اَنۡ لَّمۡ يَكُنۡ رَّبُّكَ مُهۡلِكَ الۡقُرٰى

دا دَ دے وجے نه چه نه دے ستا رب هلاک کوونکے دَ کلو

بِظُلۡمٍ وَّاَهۡلُهَا غٰفِلُوۡنَ ﴿۱۳۱﴾ وَلِكُلٍّ دَرَجٰتٌ

په سبب دَ ظلم (شرک) کولو دَ هغوی او اوسیدونکی دَ هغے بے خبره وی۔ او دَ هر یو دَ پاره مختلفے درجے دی

مِّمَّا عَمِلُوۡا ؕ وَمَا رَبُّكَ بِغَافِلٍ عَمَّا

دَ وجے دَ عملونو دَ هغوی نه۔ او نه دے رب ستا بے خبره (غافل) دَ هغے نه چه دوی

يَعۡمَلُوۡنَ ﴿۱۳۲﴾ وَرَبُّكَ الۡغَنِىُّ ذُو الرَّحۡمَةِ ؕ

څه عملونه کول۔ او رب ستا بے حاجته دے خاوند دَ رحمت دے۔

اِنۡ يَّشَاۡ يُذۡهِبۡكُمۡ وَيَسۡتَخۡلِفۡ مِنۡۢ بَعۡدِكُمۡ

که اوغواړی نو بو به ځی تاسو او نائبان به کړی روستو ستاسو نه

مَّا يَشَآءُ كَمَاۤ اَنۡشَاَكُمۡ مِّنۡ ذُرِّيَّةِ قَوۡمٍ

هغه څوک چه اوغواړی لکه چه پیدا کړی یئ تاسو دَ اولاد دَ قوم

۱۳۱ دا دَ رسول دَ رالیږلو وجه ذکر کوی کوم چه مخکښ آیت کښ ذکر دَ ارسال الرسول
وُه چه کله خلق په شرک کښ اخته وی لیکن رسول ورته نهٔ وی راغلے او بیان
دَ توحید او دَ حق ورته نه وی شوے نو دوی له په دُنیا کښ عذاب نه ورکوی۔
بِظُلۡمٍ نه مراد ظلم دَ خلقو دے په کفر و شرک او بد عملونو سره لیکن مخکښ دَ ارسال
رسول نه عذاب نه ورکوی لکه سورۃ اسراء ۱۵ کښ دی دویم قول دا دے چه
دَ ارسال رسول نه مخکښ عذاب ورکول ظلم دے لیکن اول قول غوره دے
ځکه الله تعالیٰ باندے رسول رالیږل واجب نه دی۔ غٰفِلُوۡنَ نه مراد هغه څوک
دی چه دعوت دَ رسولانو ورته نه وی رسیدلے۔

۱۳۲ یعنی هر یو دَ پیریانو او انسانانو نه که جنت والا دی او که جهنم والا دی دوی
دَ پاره مختلفے مرتبے دی او د هر چا مرتبه دَ هغه دَ عمل مناسب ده که په دنیا کښ وی
او که په آخرت کښ وی۔ او اشاره ده چه مدار دَ جزا او سزا په عمل باندے دے۔

اٰخَرِيْنَ ﴿١٣٣﴾ اِنَّ مَا تُوْعَدُوْنَ لَاٰتٍ ۙ وَّمَآ

يقيناً هغه چه وعده ئې كيدېشي تاسو سره خامخا راتلونكې دې، او ته يئ نور نه.

اَنْتُمْ بِمُعْجِزِيْنَ ﴿١٣٤﴾ قُلْ يٰقَوْمِ اعْمَلُوْا

تاسو عاجز كيدونكي. ته ورته اووايه اے قومه عمل كوئ

عَلٰى مَكَانَتِكُمْ اِنِّيْ عَامِلٌ ۚ فَسَوْفَ

پخپله طريقه باندې، يقيناً زه عمل كوونكے يم (پخپله طريقه) نو زر دے چه

تَعْلَمُوْنَ ۙ مَنْ تَكُوْنُ لَهٗ عَاقِبَةُ الدَّارِ ؕ

تاسو ته به معلوم شي، چه څوک دے چه وي به هغه لره خه انجام دَ كور دَ اٰخرت.

اِنَّهٗ لَا يُفْلِحُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿١٣٥﴾ وَجَعَلُوْا لِلّٰهِ

يقيناً نشي بچكيدے (كامياب يدے) ظالمان. او مقرروي دوي الله تعالىٰ لره

مِمَّا ذَرَاَ مِنَ الْحَرْثِ وَالْاَنْعَامِ نَصِيْبًا

دَ هغه نه چه پيدا كړيدي دَ فصلونو او څاروو نه برخه

فَقَالُوْا هٰذَا لِلّٰهِ بِزَعْمِهِمْ وَهٰذَا لِشُرَكَآئِنَا ۚ

نو وائي دوي دا برخه دَ الله تعالىٰ ده په گمان دَ دوي (بغير دَ مقدار شرعي نه) او دا برخه دَ مددگارو زمونږ ده

١٣٣ دا يره وركول دي نه منونكوته يعني الله تعالىٰ بے حاجته رحم والا دے ليكن غضب والا هم دے كه اوغواړي نو نه منونكي به فنا كړي او نور خلق به دَ دوي په ځائے راولي. اِنْ يَّشَاْ اه دا ذكر دَ ضد دَ څيز دے پس دَ هغه نه يعني دَ رحمت ضد غضب او عذاب دے چه په اِنْ يَّشَاْ اه سره ئې ذكر كوي.

١٣٤ دا هم يره دَ عذاب ده نه منونكوته. مَا تُوْعَدُوْنَ عام دے عذاب دَ دنيا او بعث بعد الموت دواړوته شامل دے.

١٣٥ دا اعلان براءت دے نه منونكوته او سخته زورنه ده. مَكَانَتِكُمْ مراد دَ دينه تمكن او طاقت دے يا مراد ترينه حال او طريقه ده او دا سے په سورة هود ١٢١ كښ دي. مَنْ موصوله مفعول دَ تعلمون دے. عَاقِبَةُ الدَّارِ عاقبتِ محموده

فَمَا كَانَ لِشُرَكَآئِهِمْ فَلَا يَصِلُ اِلَى اللّٰهِ ۚ

نو هغه برخه چه وی د دوی د مددګارانو د پاره ، پس نه رسی الله تعالیٰ ته

وَمَا كَانَ لِلّٰهِ فَهُوَ يَصِلُ اِلٰى شُرَكَآئِهِمْ ؕ

او هغه برخه چه وی الله تعالیٰ لره نو هغه رسی مددګارانو د دوی ته -

سَآءَ مَا يَحْكُمُوْنَ ﴿١٣٦﴾ وَكَذٰلِكَ زَيَّنَ

بده ده هغه فیصله چه دوی ئے کوی - او دغسے ښائسته کړیدی

دَ دار اٰخرت - اِنَّهٗ دا ذکر دَ فیصلے دَ فریقینو دے اجمالاً -

ف١٣٦ دَ دے اٰیت نه تر ١٥١ پورے دویم باب دے په دے کښ رد دے په رسمونو دَ جاهلیت بانده په تحلیل او تحریم کښ اول رد دے په نذر دَ غیرالله بانده بیا رد دے په تحریماتو دَ غیرالله بانده بیا عقلی دلیلونه دی درے دَ پاره دَ رد دَ شرک فعلی بیا رد دے په دلیل دَ مشرکانو بانده دا زجر او رد دے په طریقه دَ مشرکانو بانده چه په فصلونو او څارووکښ دَ الله برخه هم ورکوی او دَ غیرالله په نوم برخه هم ورکوی چه هغے ته اوګے یا دړې دَ بابا وائي په دے زمانه کښ بخاری دَ ابن عباس رضی الله عنهما په روایت سره وئیلے دی چه که ته غواړے چه جهل دَ عربو او پیژنے نو سورة انعام دَ یو سل دیرش اٰیت نه په اخوا اولوله - لِلّٰهِ معلومه شوه چه دوی دَ الله تعالیٰ په نوم صدقه خیرات زکوٰة ورکوؤ - بِزَعْمِهِمْ په دے کښ اشاره ده چه حصه دَ الله تعالیٰ کښ دوی دَ قدر شرعی لحاظ نه کوؤ پخپل خیال سره به ئے حصه جوړوله - او حصّه دَ شرکاؤ الله تعالیٰ ته نه رسی دَ دے یو مطلب دا دے چه نذر دَ غیرالله عامو مسکینانو ته نه ورکوی دویم مطلب دا دے چه نذر دَ غیرالله څه دانے وغیره به دَ هغے مال سره شریک شی کوم چه دَ الله په نوم وی نو زړیے ترینه جدا کړی دریم دا چه کوم خیز دَ غیرالله نذروی نو په هغے دَ الله تعالیٰ نوم نه یادوی څلورم دا چه په کوم مصرف کښ زکوٰة یا صدقه خرچ کوی او هغه به کمه شوه نو دَ نذر دَ غیرالله نه ئے نه پوره کوی او بله طریقه دا ده چه کوم څاروے چه ذبح به ئے دَ الله تعالیٰ په نوم کوله نو دَ غیرالله نوم به ئے ورسره ضرور ذکر کوؤ او کوم چه دَ غیرالله په نوم وؤ نو دَ الله تعالیٰ نوم به ئے په هغے بانده

لِكَثِيْرٍ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ

ډیرو مشرکانو ته وژل د بچو خپلو

شُرَكَآؤُهُمْ لِيُرْدُوْهُمْ وَلِيَلْبِسُوْا عَلَيْهِمْ

(محبت) د شریکانو د دوی دے د پاره چه هلاک کړی دوی او ګډ وډ کړی په دوی باندے

دِيْنَهُمْ ؕ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَا فَعَلُوْهُ فَذَرْهُمْ

دین د دوی۔ او که غوختے الله تعالیٰ نه به وے کړے دوی دا کار، نو پریږده دوی

وَمَا يَفْتَرُوْنَ ﴿١٣٧﴾ وَقَالُوْا هٰذِهٖٓ اَنْعَامٌ

سره د هغے چه څه دروغ جوړوی۔ او دوی وائی دا څاروی

وَّحَرْثٌ حِجْرٌ ۖ لَّا يَطْعَمُهَآ اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ

او فصل منع دے نه به خوری دا مګر هغه څوک چه مونږه غواړو

بِزَعْمِهِمْ وَاَنْعَامٌ حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا وَاَنْعَامٌ

په ګمان د دوی کښ او څاروی چه حرام شوی دی شا ګانے د هغوی (د پاره د سورلئ) او څاروی دی

نه ذکر کوؤ دلته ابن کثیر ذکر کړیدی۔ او حصه د الله تعالیٰ شرکاؤ ته رسی
د دے هم دغه څلور مقصدونه دی خو په عکس سره۔

١٣٧ دا هم رد دے په نذر د غیر الله باندے چه اولاد د غیر الله په نوم منخته
کوی او منجورانو او ملنګانو ته ئے بخی (دا قتل حکمی دے) او کله د غیر الله په
نوم اولاد هم ذبحه کوی دا په شیعه ګانو او هندوانو کښ شته۔ او د باباګانو
په نوم خپلے لونړه د هغوی منجورانو او نوسوته بخی او په نکاح ئے ورکوی
دا شرک دے او دا نکاح فاسد دے۔ شُرَكَآءُ مراد د دے نه محبت د معبودانو
باطلو دے یا مراد د دے نه منجوران او پیران وی۔ په قَتْلَ اَوْلَادِهِمْ کښ لونړه
یا ځامن ژوندی ښخول هم داخل دی۔ لِيُرْدُوْهُمْ اشاره ده چه نذر د غیر الله
سبب د اُور د جهنم دے۔ دِيْنَهُمْ مراد د دین نه دین اسلام دے چه خلق
پیدا شوے دی په هغے باندے یا مراد د دے نه دین د ابراهیم او اسماعیل
علیهما السلام دے چه مشرکین عرب د هغے دعویٰ کوله۔ وَلَوْ شَآءَ اللّٰهُ مفعول پټ دے یعنی
(لا یجبر کول د خلقو د شرک کولو نه)

لَّا يَذْكُرُوْنَ اسْمَ اللّٰهِ عَلَيْهَا افْتِرَآءً عَلَيْهِ ؕ

چه نه یادوی نوم دَ الله تعالیٰ دوی په هغې باندې (یواځې)، دروغ جوړوي په الله تعالیٰ باندې

سَيَجْزِيْهِمْ بِمَا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿۱۳۸﴾ وَقَالُوْا

زر دے سزا به ورکړي دوی ته په سبب دَ هغې چه دوی به دروغ جوړوي۔ او دوی وائي

مَا فِيْ بُطُوْنِ هٰذِهِ الْاَنْعَامِ خَالِصَةٌ

هغه څه چه په ګیډو دَ دے څارووکښې دي (بچی او بچی) خالص دي

لِّذُكُوْرِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلٰۤى اَزْوَاجِنَا ۚ وَاِنْ يَّكُنْ

نارینو زموږ لره او حرام دي په ښځو زموږ باندې۔ او که وي

مَّيْتَةً فَهُمْ فِيْهِ شُرَكَآءُ ؕ سَيَجْزِيْهِمْ

مردار بچي نو دوی په هغې کښې برابر شریک دي۔ زر دے سزا به ورکړي دوی ته

۱۳۸ دارد دے په تحریما تو دَ غیرالله باندے او دَ هغې درے قسمه یئې ذکر کړه۔

اِلَّا مَنْ نَّشَآءُ مراد دَ دے نه منجوران دي۔ هٰذِهٖ مراد هغه دي کوم چه په ۱۳۶ کښې ذکر شول "هذا لشرکائنا"۔ یا نور هغه څاروی او فصلونه چه دوی یئې تعیین اوکړي۔

حِجْرٌ په دے لفظ کښې مذکر او مؤنث مفرد او جمع یو شان دي۔

حُرِّمَتْ ظُهُوْرُهَا سورلی کول او بار راوړل ځې په هغې باندے منع کړے دي هغه بحیرے سائبے او حام دي۔

لَا يَذْكُرُوْنَ اه بلکه نوم دَ غیرالله په وخت دَ ذبح کښې ذکر کوي یا مراد دَ ذکرالله نه دَ دین دَ کارونو دَ پاره استعمالول دي۔

اِفْتِرَآءً دا دَ درے واړه قسمونو سره متعلق دے یعنی الله تعالیٰ ته په دروغه سره نسبت کوي۔

وَصْفَهُمْ ۚ إِنَّهُ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ﴿١٣٩﴾ قَدْ خَسِرَ

دَ غلط بیان دَ دوی۔ یقینًا هغه حکمتونو والا دے پوهه دَ ے په هر څه۔ یقینًا تاوانیان دی

الَّذِينَ قَتَلُوا أَوْلَادَهُمْ سَفَهًا بِغَيْرِ

هغه کسان چه وژلے دی بچی خپل په کم عقلتیا بغیر دَ (پوهے)

عِلْمٍ وَحَرَّمُوا مَا رَزَقَهُمُ اللَّهُ افْتِرَاءً

دلیل نه او حرام کړی دی هغه څه چه ورکړی دی (حلال کړی دی) الله تعالیٰ دوی ته، دَ وجے دَ دروغ جوړولو نه

عَلَى اللَّهِ ۚ قَدْ ضَلُّوا وَمَا كَانُوا مُهْتَدِينَ ﴿١٤٠﴾

په الله تعالیٰ باندے۔ یقینًا دوی گمراه دی او نه دی دوی هدایت والا۔

ف۱۳۹ دا هم رد دے په تحریم دَ غیر الله باندے یعنی دَ بعضِ څاروؤ بچی به ژوندی پیدا شول نوهغه به یئے په زنانو حرام گنړل چه په دے سره زنانو ته ضرر رسی اوکه مړه به پیدا شو نو بیا به پکښ هغوی له برخه ورکوله۔ مَا فِي بُطُوْنِ عام دے بچو او پیؤ نه په دے شرط سره چه ژوندے به پیدا شو۔ خَالِصَةٌ وَمُحَرَّمٌ تا دَ تانیث دَ پاره نه ده دَ مبالغے دَ پاره ده دَ دے وجے نه محرم مذکر ذکر کړے دے بنا په اصل باندے نو خَالِصَةٌ په معنیٰ دَ حلال دے سره دَ خصوصیت نه۔ وَصْفَهُمْ وصف په معنی دَ بیان کولو دے او جزاء لفظ پټ مراد دے او دَ وصفهم تفصیل په سورة نحل ف۱۱۶ کښ شته۔ هر کله چه په دے ایت کښ ذکر دَ فروعو دَ څاروؤ دے نو دَ هغے سره لفظ دَ وصف مناسب دے او په تیر شوی ایت کښ ذکر دَ ذوا تو دَ انعامو دے نو دَ هغے سره لفظ دَ افتراء ذکر کړے دے۔

ف۱۴۰ دا ایت دَ ننګ دَ غیر الله او تحریم دَ غیر الله دواړو سره متعلق دے او دَ هغے درے وجوه یئے ذکر کړے دی۔ سفه، غیر علم او افتراء او په هغے یئے درے حکمونه مرتب کړیدی۔ خسران، ضلال او عدم اهتداء خسران خو ځکه دے چه اولاد نعمتِ عظیمه دے او په قتل دَ هغے سره لوئے نقصان حاصلیږی هم دَ دنیا او هم دَ اخرت او ضلال ځکه دے چه بے دلیله او بے علمه کار یئے کړیدے۔ او عدم اهتداء ځکه ده چه افتراء ده په الله تعالیٰ باندے۔

وَهُوَ الَّذِيٓ اَنْشَاَ جَنّٰتٍ مَّعْرُوْشٰتٍ وَّغَيْرَ

او الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړي دي باغونه سفرونو والا او بے دَ

مَعْرُوْشٰتٍ وَّالنَّخْلَ وَالزَّرْعَ مُخْتَلِفًا

سفرونو نه او کجورے او فصل چه مختلف دي

اُكُلُهٗ وَالزَّيْتُوْنَ وَالرُّمَّانَ مُتَشَابِهًا

میوے دَ هغے او خونه او انار چه یوشان دي (په پانړه کښې)

وَّغَيْرَ مُتَشَابِهٍ ؕ كُلُوْا مِنْ ثَمَرِهٖٓ اِذَآ اَثْمَرَ

او نه دي یوشان (په میوه کښې) خورئ دَ میوو دَ هغے نه کله چه میوه اوکړي

وَاٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ۖ وَلَا تُسْرِفُوْا ؕ

او درکوئ حق دَ الله تعالیٰ په ورځ دَ شوکولو دَ هغے کښې او اسراف (زیاتے) مه کوئ۔

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِيْنَ ﴿١٤١﴾ وَمِنَ الْاَنْعَامِ

یقیناً الله تعالیٰ نه خوخوی زیاتے کوونکی (مشرکان)۔ راو پیدا کړي دَ څاروو نه

ف ١٤١ دا دلیل عقلی دے دَ پاره دَ رد دَ شرک فعلی او دا شرک په فصلونو او څاروؤ کښې اکثر وی نو دلیلونه هم دَ دے دواړو قسمونو سره متعلق ذکر کوی مَعْرُوْشَاتٍ هغه چه غوړیدلے دي په مخ دَ زمکه لکه خټکے خربوزه وغیره یا دَ انګور بعضِ قسمونه وغیره۔ غَيْرَ مَعْرُوْشٰتٍ چه پخپله پنړائ باندے ولاړ وی دا خو ډیر قسمونه دی۔ مُخْتَلِفًا اُكُلُهٗ ضمیر راجع دے صرف زرع ته یا راجع دے نخل او زرع ته په تاویل دَ كُلَّ واحدٍ منهما سره۔ وَالزَّيْتُوْنَ دَ دینه تیل راوځی۔ وَالرُّمَّانَ دا دَ دوایئ دَ پاره اکثر استعمالیږی۔ مُتَشَابِهًا اه حال دے دَ زیتون او رمان نه یا حال دے دَ ټولونه او مراد دا چه دَ یو جنس او نه او بوټي وی لکه کجوره او په میوؤ کښې اختلاف وی همدا اسے په فصل وغیره کښې۔ كُلُوْا مراد دَ دے نه اباحت دَ اکل دے یعنی حرام ئے مه ګنړئ۔
ثَمَرِهٖ ضمیر په تاویل دَ مذکور او کل واحد سره راجع دے۔
اٰتُوْا حَقَّهٗ يَوْمَ حَصَادِهٖ ورکوئ حق دَ الله خاص په ورځ دَ لوکولو کښې او دَ

حَمُوْلَةً وَّفَرْشًا ؕ كُلُوْا مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ

بار اوړونکي اوچیت (پست) قدوالا۔ خورئ د هغې نه چه حلال کړیدي تاسو لره الله تعالیٰ

وَلَا تَتَّبِعُوْا خُطُوٰتِ الشَّيْطٰنِ ؕ اِنَّهٗ لَكُمْ

او تابعداري مه کوئ د قدمونو د شیطان۔ یقینًا دے تاسو لره

عَدُوٌّ مُّبِيْنٌ ﴿۱۴۲﴾ ثَمٰنِيَةَ اَزْوَاجٍ ۚ مِنَ الضَّاْنِ

دشمن ښکاره دے۔ (پیدا کړیدي) اته جوړئ، د ګډو نه

اثْنَيْنِ وَمِنَ الْمَعْزِ اثْنَيْنِ ؕ قُلْ

دوه او د بېزو (چیلو) نه دوه۔ ته اووایه

ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ

آیا دا دوه نران (ګډي او پیس) حرام کړیدي الله تعالیٰ یا دوه مادے (ګډه او بېزه)

اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ؕ

اوکه هغه شے چه مشتمل دي پرې هغې باندے رحمونه (بچي داني) د مائندو۔

لوکولو قیدکښ اشاره ده چه هغه فصل اومیوه چه په لاس حاصل شي او مخکښ هلاک شوے نه وي نو په هغې کښ حق د الله تعالیٰ واجب کیږي۔

وَلَا تُسْرِفُوْا اسراف نه مراد شرک دے یعني دا فصلونه او میوے په نذار د غیرالله سره مه ورکوئ او تحریم پکښ د ځان نه مکوئے ابن جریر د ایاس نه نقل کړیدے "هر هغه چه مخالف وي د امر د الله تعالیٰ نه نو هغه مسرف دے"

۱۴۲ دا بل دلیل عقلي دے د پاره د رد د شرک فعلي او انشاء لفظ پټ دے حَمُوْلَةً هغه څاروي چه بار ورباندے اچولے کیږي او د زمکے نه اوچت وي اوښان اسونه خچر او خره وغیره۔ او فَرْشًا ګډے بېزے چه بار نشي اوړلے او زمکے ته نزدے وي یا د هغې د څرمنو نه فراشونه جوړیږي۔ كُلُوْا دا مطلب دے چه د ځان نه تحریم مکوئ۔ وَلَا تَتَّبِعُوْا دا مطلب دے چه د غیر الله په نوم یې مه نذار کوئ۔

نَبِّـُٔونِيْ بِعِلْمٍ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿١٤٣﴾

خبر کړئ ما په دلیل سره که تاسو رښتینې یئ۔

وَمِنَ الْاِبِلِ اثْنَيْنِ وَمِنَ الْبَقَرِ اثْنَيْنِ ط

او د اوښانو نه دوه او د غوایانو نه دوه۔

قُلْ ءٰٓالذَّكَرَيْنِ حَرَّمَ اَمِ الْاُنْثَيَيْنِ

ته ورته اووایه ! ایا دوه نران (اوښ او غویے) حرام کړی دی الله تعالیٰ یا دوه مادے (اوښه غوا)

اَمَّا اشْتَمَلَتْ عَلَيْهِ اَرْحَامُ الْاُنْثَيَيْنِ ط

یا هغه شے چه مشتمل دی په هغے باندے بچی دانئ د مائینډو۔

اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ اِذْ وَصّٰكُمُ اللّٰهُ بِهٰذَا ج

یا وئ تاسو حاضر کله چه حکم درکوو تاسو ته الله تعالیٰ په دے سره

١٤٣ دا اول دلیل عقلی دے ثَمٰنِيَةَ بدل دے د حمولة وفرشًا نه او تفصیل په طریقه د لف نشر غیر مرتب سره دے۔ اَزْوَاجٍ جمع د زوج ده هر هغه څیز چه د هغه سره د هغه د جنس نه مرکب وی نو زوج یو ته هم وئیلے شی دلته دا معنی مراد ده۔ او د دے سره طلب د دلیل دے د مشرکانو نه حاصل یئ دا دے چه تاسو چه دا بعض څاروی په ځان باندے حرام کنړئ ایا د دے حرمت سبب د ذکورت (نارینه والے) دے او که انوثت (زنانه والے) دے او که په رحم د مورکښ زیګیدل دی۔ نو که اول سبب وی نو بیا ټول نارینه څاروی حرام شول او که دویم سبب وی نو بیا ټول مؤنث څاروی حرام شول او که دریم سبب وی نو بیا خو ټول څاروی نر او ماده حرام شول نو تاسو پکښ فرق ولے کوئ چه بعض حرام کنړئ او بعض حلال۔ دا طلب د دلیل عقلی وو لیکن هغه د دوی سره نیشته۔ نَبِّـُٔونِيْ بِعِلْمٍ دا طلب د دلیل نقلی دے ځکه مراد د علم نه هغه حکم دے چه معلوم وی په وحی سره د طرف د الله تعالیٰ نه دا معنی د علم ده په شرع کښ۔

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا

نو څوک ډیر لوئے ظالم دے د هغه چانه چه جوړوی په الله تعالیٰ باندے دروغ

لِّيُضِلَّ النَّاسَ بِغَيْرِ عِلْمٍ ؕ اِنَّ اللّٰهَ

دے دپاره چه گمراه کړی خلقو لره بے د علم نه ۔ یقینًا الله تعالیٰ

لَا يَهْدِى الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ ع قُلْ لَّاۤ ۱۷ ع ۲

توفیق نه ورکوی قوم ظالمانو (عنادیانو) ته ۔ ته اووایه نه

اَجِدُ فِىْ مَاۤ اُوْحِىَ اِلَىَّ مُحَرَّمًا عَلٰى طَاعِمٍ

مومم څۀ په هغه وحی کښں چه شوی ده ما ته حرام کړے شوے د هغے نه چه تاسو ئے حرام کړی) په یو خوړونکی

يَّطْعَمُهٗۤ اِلَّاۤ اَنْ يَّكُوْنَ مَيْتَةً اَوْ دَمًا

چه خوری هغے لره مگر چه وی مرداره یا وینه

مَّسْفُوْحًا اَوْ لَحْمَ خِنْزِيْرٍ فَاِنَّهٗ رِجْسٌ

بهیدونکے شوے یا غوښه د خنزیر نو یقینًا دا پلیت دی

اَوْ فِسْقًا اُهِلَّ لِغَيْرِ اللّٰهِ بِهٖ ۚ فَمَنِ اضْطُرَّ

یا وی (یو څیز) وتونکے د ایمان نه چه آواز شوے وی د دنه د غیرالله په هغے باندے، پس څوک چه ناچاره شو

۱۴۴ دا ایت هم د مخکښں ایت پشان دے اول طلب د دلیل عقلی بیا په دے لفظ اَمْ كُنْتُمْ شُهَدَآءَ سره طلب د دلیل نقلی دے یعنی که الله تعالیٰ تاسو ته حکم کړے وی او تاسو حاضر وئ اوریدلے وی تاسو؟۔

فَمَنْ اَظْلَمُ سره زورنه ده هغه مشرک ته چه نور خلق هم شرک ته رابلی لکه عمرو بن لحی بن قمعه خزاعی چه عربو ته اول دۀ شرک راوړے وو او شربیني وئیلے دی په دے وعید کښں هر هغه څوک داخل دے چه په دین د الله تعالیٰ کښں هغه څیز داخل کړی کوم چه د هغے نه نه وی او الظّٰلِمِيْنَ نه همدا غه کسان مراد دی۔

غَيْرَ بَاغٍ وَّلَا عَادٍ فَاِنَّ رَبَّكَ غَفُوْرٌ

نه وو زیاتے کوونکے په حلال باندے او نه وو ډیره خوړونکے، نو یقیناً رب ستا بخنه کوونکے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۴۵﴾ وَعَلَى الَّذِيْنَ هَادُوْا حَرَّمْنَا

رحم کوونکے دے۔ او په هغه کسانو چه یهودیان دی حرام کړی دی مونږه

كُلَّ ذِيْ ظُفُرٍ ۚ وَمِنَ الْبَقَرِ وَالْغَنَمِ

هر یو نوکو والا ځناور (اوښ، شترمرغ او بطخ) او د غوایانو نه او د ګډو بیزو نه

حَرَّمْنَا عَلَيْهِمْ شُحُوْمَهُمَآ اِلَّا مَا حَمَلَتْ

حرام کړی دی مونږ په دوی باندے وازدے د هغوی مګر هغه چه پورته کړی وی

ظُهُوْرُهُمَآ اَوِ الْحَوَايَآ اَوْ مَا اخْتَلَطَ بِعَظْمٍ ۚ

شاګانو د هغوی یا کولمو یا هغه چه یوځائ وی د هډوکی سره.

۱۴۵ دا هم رد دے په تحریمات د غیرالله باندے په دلیل د وحی سره روستو د دلیل عقلی نه چه مخکښ معلومه شوه چه د مشرکانو د تحریم دلیل عقلی او نقلی نیشته نو اوس فرمائي چه د الله تعالیٰ په وحی کښ هم نیشته. مُحَرَّمًا ابن کثیر وئیلے دی چه مراد هغه دی چه مشرکانو په ځان باندے حرام کړے وی. اِلَّآ اَنْ يَّكُوْنَ په دے کښ مقصد حصرِ اضافی دے حقیقی نه دے ځکه چه حرام مطعومات د دے نه علاوه نور هم شته نو مطلب دا شو چه ستاسو د غه حرام کړے شوی د حرام بلکه حرام خو دا اشیاء دی نو دا ولے په ځان حلال کنړئ. د دے څلورو ذکر د دے وجے نه شوے دے چه دا محرّمات دی په ټولو سماوی دینونو کښ د خوراک د څیزونو نه او د دے تفصیل او ذکر په سورة بقره ۱۷۳ مائده ۳ نحل ۱۱۵ کښ هم دے. مَسْفُوْحًا په دے سره د منجمد وینے نه احتراز او شو لکه ینه او طحال (اینه، توره، سږے وغیره) او دا رنګ هغه وینه چه روستو د بهیدلو نه په غوښه پورے انختلے وی دا ابن کثیر ذکر کړیده. فَاِنَّهٗ رِجْسٌ دا ضمیر خنزیر ته راجع دے نو معلومه شوه چه ذات د خنزیر پلیت دے اګرچه ژوندے وی او دا نکته شربینی او بقاعی لیکلے ده. اَوْ فِسْقًا په تقدیر د شیًا ذا فسق او مراد د فسق نه فسقِ اعتقادی دے او د فسق ذکر په سورة مائده ۳ کښ هم کړیدے یا فِسْقًا مفعول له دے د پاره د اهل.

ذٰلِكَ جَزَيْنٰهُمْ بِبَغْيِهِمْ وَاِنَّا لَصٰدِقُوْنَ ﴿۱۴۶﴾

دا بدله (سزا) ورکړه موږ دوی ته په سبب د ظلم د دوی او یقیناً موږ خامخا رښتیني یو.

فَاِنْ كَذَّبُوْكَ فَقُلْ رَّبُّكُمْ ذُوْ رَحْمَةٍ

پس که دوی دروغژن وایي تا نو ووایه چه رب ستاسو خاوند د رحمت دے

وَّاسِعَةٍ وَلَا يُرَدُّ بَاْسُهٗ عَنِ الْقَوْمِ

فراخ او نه شي واپس کیدے عذاب د هغه د قوم

الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۱۴۷﴾ سَيَقُوْلُ الَّذِيْنَ اَشْرَكُوْا

مجرمانو نه - خامخا وائي مشرکان

۱۴۶ دا جواب دے د یو سوال چه اوښ او وازدے هم الله تعالیٰ حرام کړي دي نو تاسو ئې ولے حلال ګڼړئ جواب دا دے چه دا خو صرف په یهودیانو باندے د هغوی د ظلم د وجے نه الله تعالیٰ حرام کړیدي په بل چا باندے نه دي حرام شوي. د یهودیانو نور هم مظالم په سورة نساء ۱۶۰ کښ ذکر کړے شوے وو بیا هم د هغوی ظلم دا وو چه د وازدونه به ئې ډل (غوړي) جوړول او هغه به ئې خرڅول او هغه قیمت د هغې به ئې حلال ګڼړلو رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه د دوی پشان حیلے مکوئ چه د الله تعالیٰ حرام په ځان باندے په حیلو سره حلالوئ او دا مرض په دے اُمت کښ ډیر شوے دے"اللهم واعف عنا واغفرلنا وارحمنا". لَصٰدِقُوْنَ په دے کښ اشاره ده چه یهودو وئیل چه د اوښ غوخه په دین ابراهیم کښ حرام وه نو دا دروغ وائي.

۱۴۷ په دے ایت کښ تسلي ده نبي صلی الله علیه وسلم ته چه که دوی ستا تکذیب کوي نو صبر کوه اګرچه الله تعالیٰ فراخ رحمت والا دے چه عذاب روستو کوي په مهلت ورکولو سره یا په مؤمنانو باندے لیکن قهر و غضب والا هم دے په مجرمانو باندے. وَلَا يُرَدُّ الخ دا عطف د ضد دے په بل ضد باندے.

لَوْ شَآءَ اللّٰهُ مَآ اَشْرَكْنَا وَلَآ اٰبَآؤُنَا وَلَا حَرَّمْنَا

که غوښتے الله تعالیٰ نو شرک به نه وے کړے مونږه او نه پلارانو زمونږ او نه به حرام کړی وے مونږه

مِنْ شَیْءٍ ؕ كَذٰلِكَ كَذَّبَ الَّذِیْنَ مِنْ

هیڅ څیز ۔ دغسے نسبت دَ دروغو کړیوو (توحیدته) هغه کسانو چه

قَبْلِهِمْ حَتّٰی ذَاقُوْا بَاْسَنَا ؕ قُلْ هَلْ

مخکښ دَ دوی نه وو تر دے چه اوڅکو دوی عذاب زمونږ. نه ورته اووایه آیا

عِنْدَكُمْ مِّنْ عِلْمٍ فَتُخْرِجُوْهُ لَنَا ؕ

تاسو سره څه دلیل (علم) شته! نو راښکاره یے کړئ مونږ ته ۔

اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اِلَّا الظَّنَّ وَاِنْ اَنْتُمْ اِلَّا

نه کوئ تابعداری تاسو مګر دَ ګمان او نه یئ تاسو مګر

تَخْرُصُوْنَ ﴿۱۴۸﴾ قُلْ فَلِلّٰهِ الْحُجَّةُ الْبَالِغَةُ ۚ

په توک (اټکل) کارونه کوئ ۔ نه اووایه! پس خاص الله تعالیٰ لره دلیل پوره دے،

ن۱۴۸ دارد دے په دلیل دَ مشرکانو باندے. هغوی وئیل چه مونږ شرک اعتقادی یا شرک عملی چه کوو نو په دے الله تعالیٰ خوښ (رضا) دے ځکه چه هر څه دَ هغه په خوښے سره دی دا دَ دوی عقیده وه چه کل شیءٍ بمشیة الله" یا یے دا الزامًا وئیل مؤمنانو ته چه تاسو وایئ چه هر څه دَ الله تعالیٰ په مشیت سره دی. اول جواب دا دے كَذٰلِكَ كَذَّبَ، الایة یعنی که په دے الله تعالیٰ رضا وے نو مخکښ تکذیب کوونکو ته یے عذاب ولے ورکړے دے.
دویم جواب په قُلْ هَلْ عِنْدَكُمْ اه چه دلیل یقینی په دے باندے پیش کړئ او هغه نیشته دوی سره. دریم جواب په دے قول سره اِنْ تَتَّبِعُوْنَ اه چه دا دَ دوی دَ ګمان او دَ توک خبرے دی او هغه خوڅه دلیل نه دے دا سے ایت په سورة نحل ۳۵ او سورة زخرف ن۲۰ کښ هم دے. سَیَقُوْلُ دا پیشنګوئی ده او سین دَ پاره دَ استقبال دے او وقوع دَ هغے په سورة نحل او زخرف کښ ذکر ده یا سین دَ پاره دَ تاکید دے كَذَّبَ اه نسبت دَ تکذیب په نورو احکامو شرعیو کښ مراد دے یا دا چه لَوْ شَآءَ اه مشرکانو په طریقه دَ تکذیب سره وئیلے دی.

فَلَوْ شَآءَ لَهَدٰىكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿١٤٩﴾ قُلْ هَلُمَّ

پس که غوښتے الله تعالیٰ خامخا هدایت به یې کړے وے تاسو ټولو ته . ته ورته اووایه ! راولئ

شُهَدَآءَكُمُ الَّذِيْنَ يَشْهَدُوْنَ اَنَّ اللّٰهَ

علماء خپل هغه کسان چه بیان کړی چه بیشکه الله تعالیٰ

حَرَّمَ هٰذَا ۚ فَاِنْ شَهِدُوْا فَلَا تَشْهَدْ

حرام کړیدی دا نو که دوی بیان اوکړو (بے دلیله) نو ته ملګرتیا مه کوه

مَعَهُمْ ۚ وَلَا تَتَّبِعْ اَهْوَآءَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

د دوی سره ، او مه تابع کیږه د خواهشاتو د هغه کسانو چه دروغژن ګڼړی

بِاٰيٰتِنَا وَالَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ بِالْاٰخِرَةِ

ایاتونه زمونږه او هغه کسان چه ایمان نه لری په اخرت باندے

ع ١٨ / ٥ وَهُمْ بِرَبِّهِمْ يَعْدِلُوْنَ ﴿١٥٠﴾ قُلْ تَعَالَوْا

او دوی د خپل رب سره نور خلق برابر ګنړی . ته ورته اووایه ! راشئ

ن١٤٩ دا بیان د دلیل یقینی دے په توحید باندے چه هغه کتابونه نازلول اورسولان رالیګل دی اَلْبَالِغَةُ چه د صدق او عربئ اوفصاحت بلاغت انتهاء ته رسیدلے وی - د ربیع بن انس نه روایت دے چه هغه چا سره (چه نافرمانی د الله تعالیٰ اوشرک کوی) هیڅ حجت نیشته په الله تعالیٰ باندے بلکه الله تعالیٰ له حجتِ بالغه دے په بندګانو باندے - لیکن هدایت په اختیار د الله تعالیٰ کښ دے .

ن١٥٠ دا طلب د دلیل دے د دوی د علماؤ نه - هٰذَا په دیکښ اشاره ده هغه ته چه ذکر دی په ن١٣٨ ن١٣٩ کښ - اَلَّذِيْنَ كَذَّبُوْا دا درے اصول د کفر دی تکذیب د ایاتونو انکار د قیامت او شرک کول او د دوی دین په خواهشاتو باندے بناوی - فَاِنْ شَهِدُوْا نه مراد دا دے که دوی بیان د دے د ځانه بے دلیله اوکړی نو ته ورسره مرګرتیا مکوه ځکه چه د خواهشاتو تعبداری کول منع دی .

أَتْلُ مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ عَلَيْكُمْ أَلَّا تُشْرِكُوا

چې بیان کړم هغه شے چې حرام کړیدي رب ستاسو په تاسو باندے چې شریک مه کړئ

بِهٖ شَيْـًٔا وَّبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا ۚ وَلَا

د هغه سره هیڅ شے او د مور او پلار سره نیکي کوئ او مه

تَقْتُلُوٓا أَوْلَادَكُم مِّنْ إِمْلَاقٍ ۖ نَّحْنُ

وژنئ بچي خپل د وجې د لوږے نه. مونږ

نَرْزُقُكُمْ وَإِيَّاهُمْ ۖ وَلَا تَقْرَبُوا الْفَوَاحِشَ

رزق درکوو تاسو ته او دوی ته او مه تیزدے کیږئ بدو کارونو ته

مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ ۖ وَلَا تَقْتُلُوا النَّفْسَ

هغه چې ښکاره وی د دینه او هغه چې پټ وی، او مه وژنئ نفس

الَّتِي حَرَّمَ اللّٰهُ إِلَّا بِالْحَقِّ ۚ ذٰلِكُمْ وَصّٰىكُم

هغه چې حرام کړیدے الله تعالی مګر په حق (جرم شرعی) سره. دا یو حکم درکوی تاسو ته

بِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُونَ ﴿۱۵۱﴾ وَلَا تَقْرَبُوا

په دے سره دے د پاره چې د عقل نه کار واخلئ. او مه تیزدے کیږئ

ف۱۵۱ د دے ایت نه تر اخره پورے دریم باب دے د دے حصے نه په دے کښ ذکر د شپږ حرامو او نهه حکمونه دے (چه د هغے نه خلاف کول حرام دی). بیا دلیل نقلی د کتاب د موسیٰ علیه السلام نه بیا ترغیب قرآن ته د پاره د دفع کولو د عذرونو بیا تخویف دنیوی دے او زورنه مخالف ته او اخر کښ بیان د پیغمبر دے په رد د شرک کښ او اختتام په ترغیب سره دے قُلْ تَعَالَوْا یعنی دے خلقو ته اووایه چه تاسو کوم څیزونه په ځان حرام کړے دی هغه حرام نه دی بلکه دوی ته د الله تعالیٰ محرمات بیان کړئ او قرطبی وئیلے دی چه په ټولو علماؤ باندے د دے محرماتو بیان کول لازم دی او تَعَالَوْا کښ اشاره ده چه دا منل سبب د علو او د رفع دے او ابن ابی حاتم مرفوع روایت ذکر کړیدے

مَالَ الْيَتِيْمِ اِلَّا بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ حَتّٰى ۱۵۲

مال د یتیم ته مګر په هغه طریقه چه هغه خائسته وی (اوساتنه کوئ د یتیم د مال) تر هغې پورې

يَبْلُغَ اَشُدَّهٗ ۚ وَاَوْفُوا الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ

چه اورسی دوی ځوانئ خپلې ته او پوره کوئ پیمانه او تله (تول کول) کوئ

چه رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے درے ایاتونو باندے د صحابونه بیعت اخستلو. مَا حَرَّمَ رَبُّكُمْ په دے کښ کوم پنځه چه اوامر ذکر شویدی نو د هغے نه خلاف کول حرام دی د حَرَّمَ د لاندے هغه ئے ذکر کړی بیا دا کارونه کوم چه په دے ایت کښ ذکر شوے دی په دے باندے ټول عقل والا پوهیږی چه دا قبیح دی لیکن مخالفت کوونکو د عقل نه خلاف کړے دے او دیته به کارونه وائي نوځکه الله تعالیٰ اوفرمائیل لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ. وَلَا تَقْتُلُوْا دا قتل درے قسمه دے اول قتل حقیقی لکه چه مشرکانو د جاهلیت کښ طریقه ده دویم قتل په طریقه د اسقاط حمل او ضبط تولید او منصوبه بندی. دریم قتل حکمی یعنی د دین د علم نه محرومه کول او د دنیا په علمونو او کارونو کښ مشغوله کول د پاره د رزق ګټلو او په دے ایت کښ منع ده د غریبانو خلقو چه د خپلے روزئ د غم د وجے نه ئے بچی قتل کول او سورة بنی اسرائیل ۳۱ کښ منع ده د مالدارو خلقو چه بچی ئے د دے وجے نه وژل چه دوی به روزی د کوم ځائے نه خوری د دے وجے نه دلته مِنْ اِمْلَاقٍ وئیلے دے چه فقر فی الحال موجود وی او سورة اسراء کښ خشیت املاق وئیلے دے چه مالدار وی خو د فقیرئ د راتللو نه یره کوی او هرکله چه د فقیرئ په وخت انسان اول د ځان فکر کوی نو اول ئے د پلارانو ذکر اوکړو په نَرْزُقُكُمْ سره او د مالدارئ په وخت کښ د اولاد ذکر کوی نو هلته ئے هُمْ مخکښ راوړے دے. حَرَّمَ سوال: د دے نه روستو څه منهیات او څه مامورات ذکر دی نو مامورات د حَرَّمَ د لاندے څنګه داخلیږی او منهیات د نهی د لاندے داخل دی او نهی خو مفعول د حرم د پاره نشی کیدلے؟. جواب اول: اَلَّا تُشْرِكُوا الخ نه مخکښ هو پټ دے راجع دے مَا حَرَّمَ ته لیکن د مامورات د حَرَّمَ د لاندے داخلیدلو کښ اشکال باقی دے. جواب دویم: علیکم اسم فعل دے یعنی لازم دی په تاسو باندے اَلَّا تُشْرِكُوْا شرک نه کول. او مامورات خو هم لازم دی او د حرم سره بل فعل (اوجب) پټ مراد دے. جواب دریم: دا دے چه حرم

بِالْقِسْطِ ۚ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۖ

پہ انصاف سره ، تکلیف نہ ورکوو موږ هیڅ یو تن ته مگر په قدر دوس د هغه

وَإِذَا قُلْتُمْ فَاعْدِلُوا وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَىٰ ۖ

او کله چه وینا کوئ نو انصاف کوئ اگر که وی (وینا کریشوے) خپلوان سناسو

وَبِعَهْدِ اللَّهِ أَوْفُوا ۚ ذَٰلِكُمْ وَصَّاكُمْ بِهِ

او لوظ د الله تعالیٰ پوره کوئ ۔ دا حکم درکوی تاسو ته پیں سے سره

لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ ﴿١٥٢﴾ وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي

دے د پاره چه یاد اوساتئ ۔ او (پوه شئ) چه دا قرآن لار زما ده

مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ ۖ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ

برابر نو تابعداری کوئ د دهٔ او مه تابع کیږئ د نورو لارو

په معنی دَ فرض او واجب سره دے او مفعول پټ دے عمل کول په دے ماموراتو او منهیاتو باندے۔ جواب څلورم؛ حَرَّمَ په خپله معنی دے مفعول پټ دے (مخالفته) او الا تشرکوا نه مخکښ هو پټ دے۔ وَبِالْوَالِدَيْنِ دلته نهی (لا تسبوا) ذکر نه کړه اشاره ده چه حق دَ والدینو صرف ترک اساءت نه دے بلکه احسان ورسره لازم دے۔ الْفَوَاحِشَ هغه گناهونه چه دَ بے حیائۍ سره تعلق لری او عقل ئے بد گنړی۔ بِالْحَقِّ مرتد کیدل او قصاص او زنا روستو د واده نه په دے سره قتل جائز کیږی۔ وَصّٰكُمْ وصیت دَ الله تعالیٰ تاکیدی حکم وی چه نه منسوخ کیږی۔

۱۵۲ دا کارونه مشرکانو هم منل چه دا ښه اخلاق دی لیکن بیا به ئے دَ هغې خلاف کوؤ نو ځکه ورته او فرمائیل لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ یعنی دَ دے کارونو خایست مه هیروئ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا دا جمله معترضه ده چه په دے احکامو باندے عمل کول ستاسو دَ طاقت نه بهر نه دی نو مخالفت ئے مهٔ کوئ یا په دے کښې تسلی ده یعنی خپل وسع صرف کوئ او دَ وسع نه چه بهر شی نو هغه الله تعالیٰ معاف کوی۔ إِذَا قُلْتُمْ قول عام دے که په فیصله کولو کښې وی یا شهادت یا دعوت او تبلیغ وی۔ فَاعْدِلُوا عدل په معنی دَ حق او رشتیا وئیلو دے۔

فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَنْ سَبِيلِهِۦ ذَٰلِكُمْ وَصَّٰكُم

پس گډوډ به کړی تاسو د لارے د هغه نه - دا حکم درکوی تاسو ته

بِهِۦ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٥٣﴾ ثُمَّ ءَاتَيْنَا مُوسَى

په دے سره د دے د پاره چه متقیان شئ - بیا (دا هم واورئ) چه ورکړے وو مونږ موسیٰ (علیه السلام) ته

ٱلْكِتَٰبَ تَمَامًا عَلَى ٱلَّذِىٓ أَحْسَنَ

کتاب (مخکښ د قرآن نه) د پاره د پوره کولو د نعمت په هغه چا چه نیک عمل دے

وَتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَىْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً

او تفصیل د هر ضروری خبرے (د دین) او هدایت دے او رحمت دے

لَّعَلَّهُم بِلِقَآءِ رَبِّهِمْ يُؤْمِنُونَ ﴿١٥٤﴾ ع ۱۹ ۶

د دے د پاره چه دوی په ملاقات د رب خپل ایمان لری -

۱۵۳ دے ایت کښ یو امر او یو نهی ده۔ صِرَاطِ مُسْتَقِیم نه مراد قرآن (او سنت دے) اَلسُّبُلَ نه مراد هغه ټولے طریقے او نظریئے او مذهبونه دی چه د قرآن او سنت نه خلاف دی یهودیت، نصرانیت، مرزائیت، رافضیت او تمام بدعات رواجونه په دے کښ داخل دی او د قرآن او سنت اتباع سره تقوٰی حاصلیږی ځکه ئے تَتَّقُونَ او فرمائیل- او هٰذَا اشاره ده هغه مضمون ته چه ذکر شوے پدے سورت کښ یا په قرآن کښ۔

۱۵۴ دا دلیل نقلی د کتاب د موسیٰ علیه السلام نه دے چه په هغے کښ هم دا اوامر او نواهی ذکر دی .ثُمَّ د پاره د ترتیب د اخبار دے یعنی ثم اخبرکم۔ اَلَّذِیٓ اَحۡسَنَ نه مراد په بنی اسرائیلو کښ محسنین کسان دی یا موسیٰ علیه السلام مراد دے او دا کتاب تورات د هغوی د پاره پوره حجت وو او په دوی باندے پوره احسان وو د الله تعالیٰ د طرف نه یا مراد د اَلَّذِیٓ اَحۡسَنَ نه هغه طریقه ده چه خائسته وی.تَمَامًا په معنی د تامًا کاملًا دے پوره کتاب په هغه وجه او طریقه سره چه خائسته وی.لَعَلَّهُمۡ بِلِقَآءِ رَبِّهِمۡ اشاره ده چه کتاب د الله تعالیٰ سره تعلق ساتل سبب د پوخوالی د ایمان دے په قیامت باندے۔

وَهٰذَا كِتٰبٌ اَنۡزَلۡنٰهُ مُبٰرَكٌ فَاتَّبِعُوۡهُ

او دا كتاب نازل كړي دے مونږ بركت والا دے نو تابعداري كوئ د دهٔ

وَاتَّقُوۡا لَعَلَّكُمۡ تُرۡحَمُوۡنَ ﴿١٥٥﴾ اَنۡ تَقُوۡلُوۡۤا

او او يريږئ د دے د پاره چه په تاسو رحم اوكړيشي - (او دے د پاره) چه او نه وايئ

اِنَّمَاۤ اُنۡزِلَ الۡكِتٰبُ عَلٰى طَآئِفَتَيۡنِ مِنۡ

چه يقينا نازل كړے شوے ؤ كتاب نه په دوو ډلو باندے زمونږ نه

قَبۡلِنَا ۖ وَاِنۡ كُنَّا عَنۡ دِرَاسَتِهِمۡ لَغٰفِلِيۡنَ ﴿١٥٦﴾

مخكښ او يقينا وو مونږ د لوستلو د دينه بے خبره -

اَوۡ تَقُوۡلُوۡا لَوۡ اَنَّاۤ اُنۡزِلَ عَلَيۡنَا الۡكِتٰبُ

يا دا او نه وايئ چه كه نازل كړے شوے وے په مونږ باندے كتاب

لَكُنَّاۤ اَهۡدٰى مِنۡهُمۡ ۚ فَقَدۡ جَآءَكُمۡ

خامخا وے به مونږ خه لار موندونكى د دوى نه نو يقينا راغلى دے تاسو ته

بَيِّنَةٌ مِّنۡ رَّبِّكُمۡ وَهُدًى وَّرَحۡمَةٌ ۚ

واضح بيان د طرف د رب ستاسو نه او هدايت او رحمت

١٥٥ دا ترغيب دے قرآن ته په ذكر د دوه صفاتو د كتاب او دوه اوامر او يو حكمت. مُبٰرَكٌ د دے سورت ٩٢ كښ د هغے تشريح ده. وَاتَّقُوۡا ځان بچ كړئ د مخالفت د كتاب الله نه.

١٥٦ دا دفع د اول عذر ده. دوه ډلے يهوديان او نصارى دى چه هغوى ته تورات او انجيل نازل شوے وؤ او مونږ د هغوى د لوستلو نه غافل وؤ يو دا چه هغه عجمى ژبه وه سريانى يا عبرانى او عرب په هغے باندے نه پوهيدل دويم دا چه هغوى به هغه پټول او بيان به ئے عامو خلقو ته نه كوؤ.

فَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

پس څوک ډیر لوئے ظالم دے د هغه چانه چه دروغجن گنړی ایاتونه د الله تعالیٰ

وَصَدَفَ عَنْهَا ؕ سَنَجْزِي الَّذِيْنَ يَصْدِفُوْنَ

او مخ گرځوی د هغې نه - زر دے سزا به ورکړو هغه کسانو ته چه مخ گرځوی

عَنْ اٰيٰتِنَا سُوْٓءَ الْعَذَابِ بِمَا كَانُوْا

د ایاتونو زمونږ نه بد عذاب په سبب د دے چه

يَصْدِفُوْنَ ﴿١٥٧﴾ هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّآ اَنْ

دوی مخ گرځوی - نه کوی انتظار دوی مگر د دے چه

تَاْتِيَهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ اَوْ يَاْتِيَ رَبُّكَ

راشی دوی ته ملائک (د مرگی یا د عذاب) یا راشی رب ستا (د خپل شان مطابق)

اَوْ يَاْتِيَ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ

یا راشی بعض نښے (د عذاب) د رب ستا - په کومه ورځ چه راشی

بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا

بعض نښے د عذاب د رب ستا نفع به نه ورکوی هیڅ نفس ته ایمان راوړل د هغه

١٥٧ دا دفع د دویم عذر ده دا سے د سورة فاطر ٤٢ کښ هم دی او تَقُوْلُوْا نه مخکښ كراهية لفظ په نیز د بصریانو او لِئَلَّا په نیز د کوفیانو پټ دے. لَكُنَّآ اَهْدٰى مِنْهُمْ دا دعوٰی د عربو په دے وجے سره ده چه هغوی ځان کښ ډیر عقل او تیز ذهن او پوره فکر اوانا بت گنړی - وَرَحْمَةٌ نه روستو کنا بتمر جمله پټه ده - وَصَدَفَ عَنْهَا لازمی او متعدی دواړه راتلے شی لیکن ابن کثیر دلته متعدی معنی غوره کړے ده یعنی (نور خلق منع کوی) - او بیا زور نه ده اعراض کوونکو ته د قرآن نه او دا سبب د عذاب دے د دے وجے نه په دے باندے بیا بیا تصریح کړے ده -

لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ

چه نه ئې وي راوړې ایمان مخکښ د دینه یا ئې نه وي کړې په حال

اِيْمَانِهَا خَيْرًا ۗ قُلِ انْتَظِرُوْٓا اِنَّا مُنْتَظِرُوْنَ ﴿۱۵۸﴾

د ایمان کښ نیکی - ته ورته اووایه! انتظار کوئ موږ هم انتظار کوونکی یو۔

شـ۱۵۸ دایره د عذاب دنیوی ده تکذیب او اعراض کوونکو د قرآن ته یعنی دوی ته دلیلونه بیان شول او قرآن هم دوی ته راغے لیکن دوی نه منی بلکه انتظار کوی د عذاب او د مرگ چه کله راشی بیا به ایمان راوړی لیکن هغه وخت ایمان نه قبلیږی۔ يَأْتِيَ رَبُّكَ دا د متشابهاتو نه دے په ظاهر باندے موږ ایمان دے بغیر د تاویل او تحریف او بغیر د تمثیل او تشبیه نه او په حقیقت د کیفیت ئے الله تعالیٰ پوهیږی۔ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ د دے نه مراد وخت د غرغرے د زنکدن دے او نمر ختل د مغرب طرف نه او په دے دواړه وختونو کښ توبه نه قبلیږی او ایمان راوړل هم نه قبلیږی۔ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا یو معنیٰ دا ده چه فائده به نه ورکوی یو نفس ته عمل د خیر (یعنی توبه کول) چه نه ئې وی کړی په حال د ایمان کښ خیر یعنی توبه۔ تقدیر د عبارت به دا سے وی" اَوْ نَفْسًا لا ینفعها کسب عمل الخیر لم تکن کسبت فی ایمانها خیرًا"۔ دا ابن کثیر وئیلے دی۔ دویمه معنیٰ دا ده چه فائده نه ورکوی ایمان بالکل کله چه ایمان ئے نه وی راوړے مخکښ د دے نه یا ایمان به فائده کامله نه ورکوی کله چه نه وی کړے په حال د ایمان کښ نیک عمل۔ کامله فائده دا ده چه بغیر د عذاب نه جنت ته داخل شی۔ نو په دے توجیه سره په آیت کښ عموم د نفی دے چه عدم د نفعے د پاره مجموعه عدم د امرینو شرط کړے دے او د مفهوم مخالف نه معلومه شوه چه د نفعے د پاره یو د امرینو نه شرط دے په طریقه د منع د خلو۔ او دا دواړه توجیه د پاره د تردید د قول د معتزلو دی هغوی وائی چه دویمے جملے نه معلومه شوه چه چا په حال د ایمان کښ عمل د خیر نه وی کړے نو دغه ایمان ورته فائده نه ورکوی یعنی په اورکښ به همیشه وی نو دا دلیل دے چه مرتکب د کبیره گناه به په اورکښ همیشه وی او دا قول د دوی په نورو دلیلونو شرعیو سره مردود او باطل دے نو د دے آیت چه مخکښ دوه توجیهاتو کښ یوه او کړے شی نو اعتراض د معتزلو نه واردیږی۔

إِنَّ الَّذِينَ فَرَّقُوا دِينَهُمْ وَكَانُوا شِيَعًا لَّسْتَ
يقيناً هغه كسان چه ټكړې كړيدې دين خپل او دوى ډلې ډلې مختلف، نه يې ته

مِنْهُمْ فِي شَيْءٍ ۚ إِنَّمَا أَمْرُهُمْ إِلَى اللَّهِ
د دوى سره په هيڅ تعلق لرلو كښې. يقيناً معامله د دوى الله تعالىٰ ته سپارلے شوېده

ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ ﴿١٥٩﴾
بيا به خبر وركړى دوى لره په هغه كاروتو چه دوى يې كوى.

مَن جَاءَ بِالْحَسَنَةِ فَلَهُ عَشْرُ أَمْثَالِهَا ۖ
چا چه راتلل اوكړه په نيك عمل سره نو ده لره لس چنده ثواب د هغے دے

وَمَن جَاءَ بِالسَّيِّئَةِ فَلَا يُجْزَىٰ
او چا چه راتلل اوكړه په بد عمل سره نو سزا به نه وركيږى

۱۵۹ دا آيت كښې زورنه د هغه چانه چه قرآن او سنت يې پريښودو او مختلفې ډلې شوے
او په حديث د عائشه رضى الله عنها كښې دى چه دا د دے اُمت بدعتيان دى
خو د دے حديث رفع ثابت نه ده (ابن كثير). فَرَّقُوا پخپله معنى دے يعنى دين يې
ټوټے كړے دے او هر يو ټوټې ته يې پوره دين وئيلے دے يا فَرَّقُوا په معنى
د فارقوا سره دے لكه چه بل قراءت كښې دا سے وارد دى يعنى د دين اسلام
نه جدا شوے دى او دا وصف د تفرق او د تفريق په يهودو او نصارىٰ كښې
موجود دے لكه چه سورة بينة ۳ او سورة نساء ۱۵۱ كښې دى ليكن حكم د
آيت عام دے. او تفرق د عقيدے او د اعمالو اول وى بيا روستو مختلفې ډلے او
جماعتونه جوړشى چه د يو بل سره عداوت او دشمنى او تعصب كوى كه د دے
وجے نه فرقوا پسے وكانوا شيعًا ذكر كړے دے او دا سے په سورة روم ۳۲ كښې
دى. لَسْتَ مِنْهُمْ يعنى ته د دوى سره په هيڅ حال كښې تعلق نه لرے او ستا نه
د دوى په باره كښې هيڅ تپوس نشى كيدلے.

إِلَّا مِثْلَهَا وَهُمْ لَا يُظْلَمُونَ ﴿١٦٠﴾ قُلْ إِنَّنِي

مگر د هغې په شان او په دوی به هیڅ ظلم نه کیږي. ته اووایه! یقینًا زه

هَدَانِي رَبِّي إِلَى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيمٍ دِينًا

رسولے یم رب خپل لارے نیغې ته، چه دین

قِيَمًا مِّلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۚ وَمَا كَانَ

پوخ دے، ملت د ابراهیم (علیه السلام) دے چه کلک وو په توحید باندے او نه وو دے

مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٦١﴾ قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي

د مشرکانو نه. ته اووایه یقینًا مونځ زما او قربانی (مالی عبادت) زما

نمبر ۱۶۰ دا تفصیل د جزا اخروی دے یعنی دلوته اعتبار نیشته بلکه اعتبار حسنه اوسیئه ته دے. عَشْرُ أَمْثَالِهَا دا ذکر د ادنیٰ ثواب دے او د دے نه په بره مقدار معلوم نه دے.

سوال: امثالها جمع د مذکرده نو پکار داوؤ چه عشره په تانیث سره ذکر وے؟

جواب: په یکښ لفظ حَسَنَاتٍ پټ مراد دے یعنی "عشر حسنات امثالها" یعنی یوه نیکی دا سے ده لکه چه لس نیکئ اوکړی او د هرے نیکئ یو ثواب دے نو لس ثوابونه شول.

حَسَنَةِ هغه عمل دے چه په عقیده د توحید او په طریقه د سنت باندے بناوی او سیئهٔ د دے خلاف دے.

نمبر ۱۶۱ دا بیان تفصیلی د نبی صلی الله علیه وسلم دے دا دلیل وحی دے او څلورم قسم دے د طریقو د تعلیم چه بیان د دین حقه دے. په دے سورت کښ چه بیان اوشونو دا صِرَاط[۱] مستقیم دے. دِین[۲] قیم دے مِلَّتِ[۳] ابراهیمیه دے. هَدَانِي په دے کښ دلیلونو نقلیو، وحییو او طُرقِ تعلیم ته اشاره ده چه په دے سورت کښ تیر شویدی. دِينًا قِيَمًا په دے کښ عقلی دلیلونو ته اشاره ده. دِينًا بدل دے د محل د صراط مستقیم نه یا اتّبعت فعل پټ دے. مِلَّةَ دا بدل دے د دِينًا نه او دا بیانات د نبی صلی الله علیه وسلم د پاره د اظهار د فرق دی په مینځ د مؤحدینو او مشرکینو کښ.

وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِيْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٦٢﴾

او ژوند ځما او مرګ ځما خاص الله تعالىٰ لره دي چه رب د ټول عالم دے.

لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ

نيشته هيڅ برخے والا د هغه او په دے سره حکم کړے شوے يم او زه اول

الْمُسْلِمِيْنَ ﴿١٦٣﴾ قُلْ اَغَيْرَ اللّٰهِ اَبْغِيْ رَبًّا وَّ

يم د توحيد والو نه. ته ورته ووايه ! ايا سبوا د الله تعالىٰ نه زه اولټوم بل رب او

هُوَ رَبُّ كُلِّ شَيْءٍ ۭ وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ

هغه رب د هر څيز دے. او عمل نه کوي هر يو نفس (بد عمل)

اِلَّا عَلَيْهَا ۚ وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى ۚ ثُمَّ

مګر ضرر به ئے په هغه باندے وي او نشي پورته کولے يو ګنهګار بيټے د بل چا بيا

اِلٰى رَبِّكُمْ مَّرْجِعُكُمْ فَيُنَبِّئُكُمْ بِمَا

ستاسو رب ته ورګرځيدل ستاسو دي نو خبر به درکړي تاسو ته په هغه څه

١٦٢ دا خلاصه د ملتِ ابراهيميه ده چه عبادات بدنيه او ماليه او ژوند تيرول او مره کيدل صرف د الله تعالىٰ د پاره دي. صَلَاتِيْ عام دے فرض، نفل ته. نُسُكِيْ ټولو کارونو د تقرب الٰهى او طاعت ته وئيلے شي (قرطبى). يا صرف ذبح کول (قربانى) او يا صرف طريقے د اداکولو د حج مراد دي. وَمَحْيَايَ صرف ژوند تيرول او هغه کارونه چه زه ئے په ژوند کښ کووم. مَمَاتِيْ صرف مړکيدل، او هغه حالت چه زه په هغے باندے مړکيږم لکه ايمان او طاعت يا وصيت کول په وخت د مرګ کښ.

---

١٦٣ نفى د شرک اعتقادى او عملى دواړو مراد ده. وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ هر يو نبى په خپل امت کښ اول مسلم وى او دا لفظ وئيل خصوصيت د رسول الله صلى الله عليه وسلم دے او د امتى د پاره بغير د قرآن لوستلو نه دا کلمه وئيل نيشته بلکه وانا من المسلمين به وائي لکه چه بعضِ روايا تو کښ راغلے دي.

كُنْتُمْ فِيْهِ تَخْتَلِفُوْنَ ﴿۱۶۴﴾ وَهُوَ الَّذِىْ

چه تاسو په هغې کښې اختلاف کوو۔ او خاص الله تعالىٰ هغه ذات دے

جَعَلَكُمْ خَلٰٓئِفَ الْاَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ

چه اوګرځولې يې تاسو اباد (يو بل پسې) په زمکه کښې او پورته کړې يې بعض ستاسو

فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجٰتٍ لِّيَبْلُوَكُمْ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ ط

د پاسه د بعضو په درجو (د علم او مال) کښې دے د پاره د چه ازميښت اوکړي په تاسو باندے په هغه څه کښې چه درکړې يې تاسو ته

۱۶۴ دا بله طريقه د تعليم ده او جوابونه د درے سوالونو۔ اول سوال: سيوا د الله تعالىٰ نه بل هم مدبر د عالَم کيدے شي نو مثل يې پکار دے لکه قطب؟

جواب دا دے چه الله تعالىٰ رب مدبر د هر څيز دے نو بل مدبر ته ضرورت نيشته۔ دويم سوال: که اوئيلے شي چه په دے عقيدے سره په انسان باندے ګناه نه راځي؟۔

جواب: وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ مراد د کسب نه کول د ګناه دى لکه شرک کول د الله تعالىٰ سره چه هغه نه معاف کيږي بلکه ګناه د شرک به په مشرک باندے ضرور راځي۔

دريم سوال: که څوک اووائي چه د دے کار ګناه به زه اوچت کړم ليکن ته دا کار اوکړه؟۔

جواب: وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰى۔

سوال: پيتے د ګناه په بل هيڅ چا باندے نشي راتلے بغير د ګناه کوونکي نه نو د وَازِرَةٌ تخصيص يې ولے اوکړو؟

جواب: دا سے وسوسه اچوونکے هميشه وَازِرَةٌ (ګناهګار) وى د دے وجے نه تخصيص يې اوکړو اګرچه حکم عام دے او دا سے سوال جواب په سورة عنکبوت ۱۲ کښې ذکر شوے دى۔

ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ دا تخويف اخروى دے۔ فَيُنَبِّئُكُمْ انباء د خبر ورکولو نه مراد فيصله کول دى په مينځ د حق پرست او باطل پرست کښې په جزا او سزا ورکولو سره۔

ع ۲۰ | ۱۱ | ۸ النصف

إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٥﴾

یقیناً ستا رب زر عذاب ورکوونکے دے (نہ منونکو تہ) او یقیناً هغه دے بخنه کوونکے رحم کوونکے۔

۱۶۵ دا ترغیب دے عمل کولو ته په احکامو دَ دے سورت باندے او اثبات دَ ربوبیت دَ الله تعالیٰ دے کوم چه په مخکښ آیت کښ ذکر شوے دے۔ خَلٰٓئِفَ سجستانی وئیلی دی چه معنیٰ دَ دے او سیدونکی چه په یو بل پسے نائبان وی او شربینی وئیلی دی چه دا صفت دَ دے آخری امت دے ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین دے نو امت دَ هغه هم خلیفه دے دَ مخکښ ټولو امتیانو یا مراد دَ دے خلفاء په زمکه کښ دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه چه په هغے کښ دَ ژوندِ دَ تیرولو دَ پاره مناسب تصرفات کوی۔ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ دا جواب دَ سوال دے چه هر کله په هر یو کښ وصف دَ خلیفه دے نو بکار ده چه په ټولو کښ مساوات وے؟
جواب او شو حاصل دَ جواب دا دے چه دوی ئے په تفاوت سره کړی ځولے شی څوک عاقل څوک جاهل څوک مالدار څوک غریب څوک مالک څوک مملوک دَ پاره دَ ابتلاء ستا سو او مقصد په ابتلاء کښ معرفت دَ توحید دَ الله تعالیٰ دے او فرق کول دی په مینځ دَ شکر کوونکے دَ دے نعمت او کفران کوونکی کښ۔ فِيْ مَآ اٰتٰىكُمْ مراد دَ دے هر هغه صفت او حالت دے چه انسان په هغے سره متصف وی په مالدار باندے ابتلاء ده په مالدارئ کښ او په غریب باندے په غریبئ کښ او خائسته شکل والا باندے په دغه صفت کښ او په بد شکل والا دَ هغه په حال کښ او په عاقل عالم باندے په علم کښ او په جاهل باندے په جهل کښ۔ اِنَّ رَبَّكَ سَرِيْعُ الْعِقَابِ دا تخویف دے شکر نه کوونکی دَ دے نعمت او دا رنګ عمل نه کوونکی ته په دے سورت باندے۔
وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ دا بشارت دے شکر ګذار دَ نعمتونو ته او عمل کوونکی ته په دے سورت باندے هر کله چه مغفرت او رحمت دَ الله تعالیٰ غالب دے په غضب دَ هغه باندے دَ دے وجے نه ئے دَ لَغَفُوْرٌ سره لام دَ تاکید ذکر کړے دے۔

الحمد لله په ختم کولو دَ تفسیر دَ سورة انعام

ع ۲۰ ۱۱ النصف

إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٦٥﴾ ع

یقینًا ستا رب زر عذاب ورکوونکے دے (نه منونکو ته) او یقینًا هغه دے بخښنه کوونکے رحم کوونکے.

۱۶۵ دا ترغیب دے عمل کولو ته په احکامو د دے سورت باندے او اثبات د ربوبیت
د الله تعالیٰ دے کوم چه په مخکښ آیت کښ ذکر شوے دے. خلٰٓئِف سجستانی وئیلے
دی چه معنیٰ د دے او سیدونکی دی چه په یو بل پسے نائبان وی او شربینی وئیلے دی
چه دا صفت د دے آخری امت دے ځکه چه نبی صلی الله علیه وسلم خاتم النبیین
دے نو امت د هغه هم خلیفه دے د مخکښ ټولو امتیانو یا مراد د دے خلفاء په
زمکه کښ د طرف د الله تعالیٰ نه چه په هغې کښ د ژوندد تیرولو د پاره مناسب
تصرفات کوی. وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ دا جواب د سوال دے چه هر کله په هر یو
کښ وصف د خلیفه دے نو پکار ده چه په ټولو کښ مساوات وے؟
جواب او شو حاصل د جواب دا دے چه دوی ئے په تفاوت سره گرځولے شی
څوک عاقل څوک جاهل څوک مالدار څوک غریب څوک مالک څوک
مملوک د پاره د ابتلاء ستاسو او مقصد په ابتلاء کښ معرفت د توحید د
الله تعالیٰ دے او فرق کول دی په مینځ د شکر کوونکے د دے نعمت او کفران
کوونکی کښ. فِي مَا آتَاكُمْ مراد د دے هر هغه صفت او حالت دے چه انسان په
هغې سره متصف وی په مالدار باندے ابتلاء ده په مالدارئ کښ او په غریب
باندے په غریبئ کښ او خائسته شکل والا باندے په دغه صفت کښ او په
بد شکل والا د هغه په حال کښ او په عاقل عالم باندے په علم کښ او په جاهل
باندے په جهل کښ. إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ دا تخویف دے شکر نه کوونکی
د دے نعمت او دا رنگ عمل نه کوونکی ته په دے سورت باندے.
وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ دا بشارت دے شکر گذارو د نعمتونو ته او عمل کوونکی
ته په دے سورت باندے هر کله چه مغفرت او رحمت د الله تعالیٰ غالب
دے په غضب د هغه باندے د دے وجے نه ئے د لَغَفُورٌ سره لام د تاکید ذکر
کړے دے.

الحمد لله په ختم کولو د تفسیر د سورة انعام

آیاتها ۲۰۶ رکوعاتها ۲۴	بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ	سورة الاعراف مكيّة

خاص په نوم دَ الله تعالیٰ امداد غواړو په شورو کولو کښې چه رحمان او رحیم دے

الٓمّٓصٓ ﴿۱﴾ كِتٰبٌ اُنْزِلَ اِلَيْكَ فَلَا يَكُنْ

الله تعالیٰ پوهه دے په مراد دَ دے حرفونو. دا کتاب دے نازل کړے شوے تا ته نو نه دِے وی

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الاعـــراف

ربط دَ دے سورت دَ مخکښې سره دا دے چه په سورة انعام کښې دلیلونه عقلی بیان شول په مسئله دَ توحید باندے نو په دے سورت کښې دلیلونه نقلی دی په دے مسئله او بهادری دَ پیغمبرانو ذکرکوی دَ پاره دَ بیان دَ توحید دارنګ مخکښې سورت کښې اثبات دَ توحید او شو په تفصیل سره نو په دے سورت کښې احوال دَ منکرینو ذکر کوی په دولس نمونو دَ عذاب سره چه هغه اووه تیر شوی قومونه دی او ابلیس او هغه قوم چه منجوران وُو په خپلو اصنامو باندے او عبادت کوونکی دَ عجل او بدلوونکی دَ قول شرعی او سبت والا او الذی آتیناه آیاتنا په دوی ټولو باندے مختلف عذابونه راغلے دی.

دعوے دَ دے سورت درے دی: اوله بهادری اوکړئ دَ پاره دَ بیان دَ مسئلے دَ توحید او دَ قرآن په ۲ کښې دویمه تابعداری دَ کتاب او سنت کوئ دَ دے نه خلاف دَ هیچا اتباع مه کوئ خصوصًا په تحلیل او تحریم کښې په ۳ کښې دریمه شرک مه کوئ دَ الله تعالیٰ سره په بندګئ او په بلنه کښې په ۵۵ کښې ټول سورت به دَ دے درے دعوؤ سره تعلق لری او مرجع او اهمه دعوه په دے کښې اثبات دَ توحید دے په شپږ طریقو سره چه هغه په توجیه الناظرین کتاب کښې ذکر دی.

خلاصه: دَ دے سورت کښې دوه حصے دی اوله حصه تر ۵۸ پورے ده په دے کښې درے بابونه دی اول باب تر ۱۰ پورے دے په دے کښې اوله دعویٰ او دویمه دعویٰ ذکر ده بیا تخویف دنیوی کښې ذکر کولو دَ درے حالاتو دَ منکرینو په ۴ ۵ کښې. او بیا تخویف اخروی دے په ذکر دَ درے حالاتو سره په ۶ ۷ ۸ کښې او بیا ترغیب دے په ۱۰ کښې

تفسیر:-

۱ دَ مقطعاتو باره کښې تفصیل مخکښې تیر شوے دے او دلته ورسره حرف ص کښې لطیفه اشاره ده ډیرو قصو کَ دے سورت ده او صفت دَ صمدیت دَ الله تعالیٰ ته.

فِیْ صَدْرِكَ حَرَجٌ مِّنْهُ لِتُنْذِرَ بِهٖ

په سینه ستا کښې تنګسیا د رسولو د دهٔ نه دے د پاره چه ویره ورکړے په دے سره

وَذِكْرٰى لِلْمُؤْمِنِیْنَ ﴿۲﴾ اِتَّبِعُوْا مَآ اُنْزِلَ

او یاداشت د پاره د ایمان والو. تابعداری کوئ د هغے چه نازل کړے شوے دے

اِلَیْكُمْ مِّنْ رَّبِّكُمْ وَلَا تَتَّبِعُوْا مِنْ دُوْنِهٖۤ

تاسو ته د طرف د رب ستاسو نه او تابعداری مه کوئ خلاف د الله تعالیٰ نه

اَوْلِیَآءَ ؕ قَلِیْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ ﴿۳﴾

د نورو دوستانو. ډیر کم نصیحت اخلئ تاسو.

وَكَمْ مِّنْ قَرْیَةٍ اَهْلَكْنٰهَا فَجَآءَهَا

او ډیرو کلو والا چه هلاک کړیدی مونږ هغه نو راغے هغوی ته

۲۔ مطلب دادے چه داکتاب نازل کړے شویدے د پاره د بیان نو د دے په تبلیغ کښې چه څه تکلیفونه راځی نو صبر کوه او ځان مه تنګوه۔ دے آیت کښې اوله دعویٰ ده په دیکښې تعریف د کتاب او دوه فائدے د کتاب او یو ادب د هغے ذکر دے۔ لِتُنْذِرَ عام دے مشرکانو کافرانو ته سره د مؤمنانو نه او ذِكْرٰى خاص دے مؤمنانو پورے نو عامه فائده ئے مقدم کړیده په خاصه باندے او دا دواړه فائدے په قیصو د انبیاء علیهم السلام کښې واضح دی۔

۳۔ دا دویمه دعویٰ ده دا کیفیت د انذار او ذکریٰ دے۔ مَآ اُنْزِلَ، قرآن او سنت دے مدارک، خازن، قرطبی ټولو وئیلے دی نو کوم کتاب یا پیر مُلا وغیره چه د دینه خلاف وی نو د هغه تابعداری مه کوئ۔ مِنْ دُوْنِهٖۤ ضمیر راجع دے ما انزل ته یا رب ته۔ اَوْلِیَآءَ، مراد د ولایت نه تابعداری کول دی سرهٔ د محبت نه قرطبی وئیلے دی څوک چه راضی شو په یو مذهب نو اهل د هغه مذهب د دهٔ اولیاء شول۔ او وئیلے ئے دی په دے آیت کښې رد دے په هغه تقلید او مقلد باندے چه د کتاب وسنت په مقابله کښې د بل چا قول او مذهب غوره کوی۔ قَلِیْلًا مَّا تَذَكَّرُوْنَ، په دے کښې اشاره ده چه دا صفت والا خلق په دنیا کښې ډیر کم دی۔

بَأْسُنَا بَيَاتًا اَوْ هُمْ قَآئِلُوْنَ ﴿۴﴾ فَمَا كَانَ

عذاب زموږ په وخت د شپې کښې یا په دوی آرام کوؤ په وخت د غرمه کښې. نو نه وو

دَعْوٰىهُمْ اِذْ جَآءَهُمْ بَأْسُنَآ اِلَّآ اَنْ قَالُوْٓا

فریاد د دوی کوم وخت چه راغے دوی ته عذاب زموږ مګر دا چه وئیل دوی

اِنَّا كُنَّا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵﴾ فَلَنَسْـَٔلَنَّ الَّذِيْنَ

یقینًا موږ وو ظالمان. نو خامخا تپوس به کوو موږ د هغه کسانو (امتونو)

اُرْسِلَ اِلَيْهِمْ وَلَنَسْـَٔلَنَّ الْمُرْسَلِيْنَ ﴿۶﴾

چه لیږلے شوے دی هغوی ته رسولان او خامخا تپوس به کوؤ موږ د لیږلے شوؤ نه.

فَلَنَقُصَّنَّ عَلَيْهِمْ بِعِلْمٍ وَّمَا كُنَّا غَآئِبِيْنَ ﴿۷﴾

پس خامخا بیان به اوکړو موږ په دوی باندے په علم خپل سره او نه یو موږ غائب (د دوی د عملونو)

ف۵ دایره دنیوی ده یعنی عذاب د الله تعالیٰ په وخت د غفلت د خلقو کښې راځی نو بیا توبے ته اوزګار نه وی مګر توبه کوی په وخت د راتللو د عذاب کښې لیکن هغه نه قبلیږی پدیکښې درے احوال د منکرینو ذکر کړیږی اهلاک، غفلت، اقرار په ظلم. اَهْلَكْنَا مراد کدے نه اراده د اهلاک ده یا اجمال دے او وروستو فا تفصیلیه ده. قَآئِلُوْنَ د قیلوله نه دے آرام کول په وخت د غرمه کښې که خوب ورسره وی اوکه نه وی او په قوم شعیب باندے عذاب په دا سے وخت کښې راغلے وؤ. ظٰلِمِيْنَ مراد د ظلم نه تابعداری نه کول د ما انزل دی او تابعداری د غیر ده.

ف۶ دایره اخروی ده په ذکر د درے احوالو سره دلته اول حال ذکر دے یعنی سوال، د هر چا نه د هغه مناسب تپوس کیږی نو د رسولانو نه به د هغوی د دعوت کولو په باره کښې تپوس کیږی لکه احزاب ف۸ کښې، او تپوس د امت د حال به کیږی لکه مائده ف۱۰۹ کښې. او د عامو خلقو نه به تپوس صرف د عمل نه کیږی بلکه د لِمَ یعنی ولے دِ کوؤ څه باعث وو چا د پاره دِ دا عمل کړے وؤ او کَیْفَ چه د چا په طریقه دِ کړے وؤ او دا رنګ ذکر دے په سورة حجر ف۹۲ کښې او عدم سوال چه ذکر دے په سورة قصص ف۷۸ او سورة رحمٰن ف۳۹ کښې نو هلته تطبیق ذکر کړے شوے دے.

ف۷ یعنی که څوک پټوی یا انکار کوی نو الله تعالیٰ به پخپله بیان اوکړی په دے آیت کښې دوېم حالت ذکر شو.

وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذِ الْحَقُّ ۚ فَمَنْ ثَقُلَتْ

او تول په دغه ورځ يقيني دے پس هغه څوک چه دروند وي

مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ ۝٨

وزن دَ عملونو دَ هغوی نو دغه کسان دوی کامیاب دی (بچ کیدونکی دَ عذابه)

وَمَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَٰئِكَ الَّذِينَ

او هغه څوک چه سپک وی عملونه دَ هغوی نو دا هغه کسان دی

خَسِرُوا أَنْفُسَهُمْ بِمَا كَانُوا بِآيَاتِنَا

چه تاوانی کړیدی ځانونه خپل په سبب دَ دے چه دوی په آیاتونو زمونږ

يَظْلِمُونَ ۝٩ وَلَقَدْ مَكَّنَّاكُمْ فِي الْأَرْضِ

ظلم کوؤ۔ او یقینًا ځائ درکړے دے موږ تاسو ته په زمکه کښ

ف ۸ په دے کښ دریم حال ذکر کوی چه وزن دے یعنی دَ قیامت دَ احوالونه وزن دَ
عملونو هم حق دے او درونوالے او سپکوالے دَ عملونو دَ توحید او سنت په شته والی او
نیشت والی سره دے ډیر والے او کم والے نه دے مراد۔ او دَ وزن نه مراد وزن دَ صحیفے
دَ اعمالو دے لکه چه صحیح احادیثو کښ راغلے دی هاں وزن دَ نفس عملونو هم کیدائے شی
بغیر دَ دے نه چه څه جسم ورله ورکړی لکه چه اوس هوا کانے او یخنی او گرمی تللے کیږی
او وزن دَ بعضِ انسانانو هم په حدیث کښ راغلے دے۔ لیکن معتزله او منکرین حدیث
چه تاویل دَ وزن کوی په نفس عدل او قضا سره او دَ وزن او میزان حقیقی نه انکار کوی
نو هغه دَ ظاهری او صریح آیاتونو نه انکار دے لکه چه قرطبی ذکر کړے دی او مقصد پیدا کے
وزن کولو سره اظهار دَ عدل دے۔ مَوَازِينُهُ جمع دَ میزان ده نو ظاهر دا ده چه میزانونه
به ډیروی په اعتبار دَ انسانانو یا دَ اعمالو سره یا جمع دَ موزون ده مراد ترینه اعمال
دی۔ او ظاهر دا ده چه درونوالے سپکوالے په ډیر والی سره نه دے لکه حدیث دَ بطاقے
دَ توحید په مقابله دَ نورو اعمالو ډیرو کښ پیدا کیږے خبره باندے دلالت کوی بلکه ثقل او خفت
په اعتبار دَ عقیدے دَ توحید او دَ سنت سره دے او دا سے په سورة مومنون ۱۰۲ ۱۰۳
او په سورة قارعه ۶ ۸ کښ هم دی او لفظ دَ خَسِرُوا او يَظْلِمُونَ دلالت کوی چه وزن
دَ عملونو دَ کافرانو هم حق دے۔

وَجَعَلْنَا لَكُمْ فِيهَا مَعَايِشَ ۗ قَلِيلًا مَّا

او جوړ کړی دی مونږ تاسو لره په دے زمکه کښې اسباب دَ ژوند ډیر کم

تَشْكُرُونَ ﴿۱۰﴾ وَلَقَدْ خَلَقْنَاكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنَاكُمْ ع ۱ / ۸

شکر کوئ تاسو. او یقینًا پیدا کړی یئ مونږ تاسو بیا مونږ شکلونه درکړیدی تاسو ته

ثُمَّ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ ق صلے

بیا (داهم واورئ) چه وئیلے وو مونږ ملائکو ته سر خکته کړئ په اکرام سره آدم ؑ ته

فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ لَمْ يَكُن مِّنَ السَّاجِدِينَ ﴿۱۱﴾

نو سجده او کړه دوی (په هغه طریقه) مگر ابلیس، نهٔ وو دے دَ سجده کوونکو نه.

۱۰ دا ترغیب دے تعمیل دَ احکامو دَ الله تعالیٰ ته او په آخری جمله کښې زجر دے او دا آیت دلیل دے چه بغیر دَ زمکے نه دَ انسان بل ځائ او سیدل نه شی کیدے.

۱۱ دَ دے ځائ نه دویم باب دے تر ۳۶ پورے په دے کښې واقعه دَ آدم علیه السلام او دَ ابلیس ده دَ پاره دَ رد دَ شرک فعلی (چه دوی په طواف کښې په ځان جامے حرام کړے دی) او څلور کرته خطاب دے په یَا بَنِیۤ آدَمَ سره اول ځل دَ پاره دَ تذکیر دَ نعمت دَ لباس دویم ځل دَ پاره دَ بچ کیدلو دَ وسوسے دَ شیطان نه او رد دے په دلیل دَ مشرکانو باندے دریم ځل دَ پاره دَ رد دَ شرک فعلی او ذکر دَ تحریماتِ الٰهیه څلورم ځل دَ پاره دَ نعمت دَ رسالت. بیا په دے آیت کښې تفصیل دے دَ ابتداء دَ مکناکم چه تمکین کښې معنی دَ عزت او دَ اکرام ده او هغه په واقعه دَ سجود سره بشکاره ده. خَلَقْنٰكُمْ ثُمَّ صَوَّرْنٰكُمْ په دے کښې اول قول دا دے چه خلق دَ مادے دَ آدم علیه السلام او بیا صورت جوړول دَ هغه دی نو مراد دَ دے نه آبَاءَكُمْ دے. دویم قول دا چه خلق په شا دَ پلار کښې او تصویر په رحم دَ مور کښې او خطاب عام دے دریم قول دا چه خَلق دَ مادے دَ انسان په مختلفو اطوارو سره او بیا تصویر ورکول لکه په سورة حج ۵ او مؤمنون ۱۴ کښې دی. ثُمَّ قُلْنَا الخ سوال: په آخری دوه توجیهاتو باندے ثُمَّ مشکل دے ځکه چه واقعه دَ سجود دَ آدم خو دَ نورو انسانانو دَ خلق نه وړاندے ده.

جواب ۱ ثم دَ پاره دَ تراخی نه دے بلکه دَ پاره دَ تعقیب ذکری دے چه صرف په بیان کښې روستو دے. جواب ۲ ثم په معنی دَ واو دے او دا قول دَ اخفش دے (قرطبی)

قَالَ مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اِذْ اَمَرْتُكَ ؕ

او فرمائیل الله تعالیٰ څه شی او بللے ته سجدے نه کولو ته کوم وخت چه ما حکم اوکړو تا ته

قَالَ اَنَا خَيْرٌ مِّنْهُ ۚ خَلَقْتَنِيْ مِنْ نَّارٍ

دهٔ اوئیل زهٔ غوره یم دَدهٔ نه (ځکه چه) تا زهٔ پیدا کړے یم دَ اور نه

وَّخَلَقْتَهٗ مِنْ طِيْنٍ ﴿۱۲﴾ قَالَ فَاهْبِطْ مِنْهَا

او دے دِ پیدا کړیدے دَ خټې نه ۔ او فرمائیل الله تعالیٰ پس کوز شه دَ دے ځائ نه

فَمَا يَكُوْنُ لَكَ اَنْ تَتَكَبَّرَ فِيْهَا فَاخْرُجْ

پس نه دی مناسب تا لره چه لوئی اوکړے ته په دے ځائ کښ پس. اُوزه

اُسْجُدُوْا مراد دَ سجدے نه سجده دَ تحیه ده دَ پاره دَ اکرام آدم علیه السلام ته په سر ښکته کولو سره لیکن زمونږ امت کښ دا هم منع ده نور تفصیل سورة بقره کښ تیر شوے دے۔

سلا دَ دے آیت نه معلومه شوه چه دَ نَص یعنی ښکاره حکم دَ الله تعالیٰ او دَ رسول په مقابله کښ خپل قیاس پیش کول دا کار اول ابلیس کړے وؤ دا رنګ هر مشرک او مبتدع دَ نَص مقابله کښ قیاسونه پیش کوی دا قرطبی ذکر کړیدی او دا دلیل ئے په دے سورت کښ ذکر کړو اشاره ده چه شرک فعلی کوؤنکی دا سے دلیلونه پیش کوی۔ او دِ دے آیت نه معلومه شوه چه تکبر او حسد دَ دین نه منع کوونکی دی او په دے کښ معلومه شوه چه ابلیس هم مستقل مامور وؤ په سجده کولو سره۔ اَنَا خَيْرٌ دا تزکیه ده خپله او تکبر دے او په ضمن کښ اعتراض ذے په امر دَ الله تعالیٰ باندے. خَلَقْتَنِيْ دا علت دَ دَ انا خیر لیکن دلیل ئے غلط دے ځکه چه خاوره او خټه کښ دَ اور نه زیاتے فائدے دی.
مَا مَنَعَكَ اَلَّا تَسْجُدَ اه په دے کښ یو قول دا دے چه لَا زائد دے لکه په سورة ص کښ بغیر دَ لا نه دے دویم قول دا دے چه مَنَعَكَ په معنی دَ دعاك دے او الیٰ پټ دے یا په معنی دَ اَجْبَرَكَ دے او علیٰ پټ دے۔
سوال: دلته کښ لَا راوړو او په سورة ص کښ لَا نه دے راوړے؟
جواب: دلته اَمَرْتُكَ سره په مخالفت کښ ترك دَ سجدے پوره مناسب دے او هلته ذکر دَ امرتك نه وؤ۔

إِنَّكَ مِنَ الصَّاغِرِينَ ﴿١٣﴾ قَالَ أَنظِرْنِي

يقينًا ته دَ ذليلانو نه يې. دهٔ اوئيل مهلت راکړه ماله

إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ ﴿١٤﴾ قَالَ إِنَّكَ مِنَ

دَ ورځ دَ دوباره ژوند پورې. او فرمائيل الله تعالىٰ يقينًا ته دَ مهلت

الْمُنظَرِينَ ﴿١٥﴾ قَالَ فَبِمَا أَغْوَيْتَنِي لَأَقْعُدَنَّ

درکړې شوو نه يې. دهٔ اوئيل پس پدې وجه چه تا زهٔ محرومه کړم (دَ رحم خپل نه) خامخا کينم به

لَهُمْ صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ ﴿١٦﴾ ثُمَّ لَآتِيَنَّهُم

دوی ته په نيغه لاره ستا کښې (دَ پاره دَ منع کولو). بيا خامخا راځم به دوی ته

ف ۱۳ دا آيت دليل دے چه تکبر سبب دَ ذلت دے او په دے کښې دَ هغه تذليل په درے طريقو سره ذکر کړو اول فَاهْبِطْ دا هبوط په طريقه دَ تذليل سره دے په قرينه دَ مايکون لك اه سره او په هبوط آدم کښې دا قيد نيشته نو هغه دَ پاره دَ تذليل نه دے دويم اخْرُجْ دا لفظ روستو دَ اهباط نه دَ پاره دَ تاکيد دَ ذلت دے دريم الصَّاغِرِينَ اشاره ده چه په مقابله دَ تکبر کښې صغار راځي.

ف ۱۴ ف ۱۵ مهلت غوختنل دَ ورځ دَ بعث پورے دَ دے دَ پاره وو چه دَ مرګ نه بچ شي. ليکن الله تعالىٰ دهٔ له مهلت ورکړو دَ ورځ دَ فنا پورے فقط لکه په سورة حجر ۳۸ کښې او سورة ص ۸۱ کښې دي او هغه وخت کښې به نور خلق هم موجود وي ځکه ئې ورته مُنظَرِينَ او فرمائيل.

ف ۱۶ دا دليل دے چه دَ صراط مستقيم لوئے دشمن ابليس دے فَبِمَا باء سببيه يا قسميه ده او مَا استفهاميه دے او لَأَقْعُدَنَّ نه مستقل کلام شروع کيږي. يا مَا مصدريه دے. أَغْوَيْتَنِي اغواء په معنىٰ دَ اچولو دَ غَيٍّ (سرکشي) دے په زړه کښې او په معنىٰ دَ اهلاک سره هم راځي. لَأَقْعُدَنَّ کيناستل کنايه ده دَ لزوم نه لَهُمْ په معنىٰ لِإِضْلَالِهِمْ وَإِغْوَائِهِمْ دے. صِرَاطَكَ الْمُسْتَقِيمَ چه دَ هغے ابتداء دَ توحيد نه ده لکه ابن کثير ذکر کړے دي.

مِّنْ بَيْنِ اَيْدِيْهِمْ وَمِنْ خَلْفِهِمْ وَعَنْ

دَ مخې دَ دوی نه او دَ شا طرف دَ دوی نه او دَ

اَيْمَانِهِمْ وَعَنْ شَمَآئِلِهِمْ ؕ وَلَا تَجِدُ

ښې طرفونو دَ دوی نه او دَ کس طرفونو دَ دوی نه او نه به مومې

اَكْثَرَهُمْ شٰكِرِيْنَ ﴿۱۷﴾ قَالَ اخْرُجْ مِنْهَا

ډیر دَ دوی نه شکر کوونکی (توحید والا)۔ او فرمائیل الله تعالیٰ اووځه دَ دے ځائے نه

مَذْءُوْمًا مَّدْحُوْرًا ؕ لَمَنْ تَبِعَكَ مِنْهُمْ

بد وئیلے شوے رټلے شوے خامخا چا چه تابعداری اوکړه ستا دَ دوی نه

لَاَمْلَئَنَّ جَهَنَّمَ مِنْكُمْ اَجْمَعِيْنَ ﴿۱۸﴾

خامخا ډک به کړم جهنّم ستاسو نه په یو ځائ۔

۱۷ دَ دے نه مراد دا دے چه په هره طریقه به دوی ګمراه کوم یا دا مطلب دے چه دَ اٰخرت نه به یې منکر یا غافل کوم او دَ نیک کارونو نه به یې منع کوم او دَ بدو کارونو رغبت به ورکوم. مِنْ فَوْقِهِمْ یې نه دے وئیلے اشاره ده چه رحمت دَ الله تعالیٰ نشی منع کولے او مِنْ تَحْتِهِمْ یې هم نه دے وئیلے چه دَ لاندے نه راتلل نه کیږی.

فائده: په اول دواړو کښې مِن ذکر کړے دے او مِن راځی دَ پاره دَ ابتداء اشاره ده چه توجه دَ ابلیس دَ دے دوه طرفونو نه شروع کیږی او په روستنو دوو کښې عَنْ ذکر کړے دے چه دَ تجاوز دَ پاره راځی یعنی ابلیس سره دَ تجاوز او انحراف نه دَ دے دواړو طرفونو نه راځی۔ شَاكِرِيْنَ قرطبی او خازن او ابن کثیر وئیلے دی چه مراد دَ دے نه مؤحدین دی ځکه چه ابلیس او له دشمنی دَ توحید سره کوی او دا قول دَ ابلیس په طریقه دَ ظن غالب سره دے۔

۱۸ په دے اٰیت کښې دَ ابلیس دَ دُعا اجابت دے سره دَ تخویف نه په تابعداری ئې کولو دَ هغه سره۔ اُخْرُجْ دا اعاده بعد دَ عهد ده یعنی اول اخرج په طریقه دَ فیصله الهی وُو او دویم نافذ کول دَ امر دی یا اول اخراج دَ جنت نه او دویم دَ اٰسمان نه مَذْءُوْمًا ذأم زیات دے دَ ذم نه په معنی دَ عیب کښې یعنی ډیر عیب ژن.
مَدْحُوْرًا په لعنت سره رټلے شوے او صیغې دَ مفعول دلالت کوی چه دا بد وئیل او رټل به

وَيٰٓاٰدَمُ اسْكُنْ اَنْتَ وَزَوْجُكَ الْجَنَّةَ فَكُلَا

او اے آدم (علیہ السلام) اوسیږه ته او بی بی ستا په جنت کښ پس خورئ

مِنْ حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هٰذِهِ الشَّجَرَةَ

دَ هغے ځائے نه چه خوخه وئ ستاسو او مه نزدے کیږئ دے اونے ته (قصدًا)

فَتَكُوْنَا مِنَ الظّٰلِمِيْنَ ⑲ فَوَسْوَسَ لَهُمَا

پس شئ به تاسو دَ ګنهګارو نه ۔ نو وسوسه اوکړه دے دواړو ته

الشَّيْطٰنُ لِيُبْدِيَ لَهُمَا مَا وٗرِيَ عَنْهُمَا

شیطان (عاقبت دادے) چه ښکاره کړی دوی ته هغه چه پټ شویوو دَ دوی نه

مِنْ سَوْاٰتِهِمَا وَقَالَ مَا نَهٰىكُمَا رَبُّكُمَا

دَ وجودونو دَ دوی نه اووے وئیل نه ئے منع کړی تاسو رب ستاسو

عَنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ اِلَّآ اَنْ تَكُوْنَا

دَ دے اونے نه مګر دَ دے وجے نه چه شئ به (اوګډ عمروالا)

دَ هرطرف نه وی. لَاَمْلَئَنَّ اشاره ده چه په جهنم کښ به دَ تعذیب دَپاره صرف تابعدار دَ ابلیس وی که په کفر او شرک سره وی اوکه په نوروګناهونو سره وی اول قسم به همیشه وی جهنم کښ اودویم قسم به همیشه نه وی۔

ف ۱۹ دا اظهار دَ انعام الٰهی دے په هغه آدم علیه السلام چه ابلیس هغه ته سپک کتل دا معطوف دے په اخرج باندے په ف ۱۸ کښ. فَكُلَا په سورة بقره کښ تفصیل دَ انعاماتو مقصد دے نو كُلَا ئے په واو سره ذکر کړے دے هلته اشاره ده مستقل نعمت ته او په دے سورت کښ تفصیل دَ انعاماتو مقصد نه دے نو فَكُلَا ئے په فا سره ذکر کړو اشاره ده اصل ته چه هغه ترتب دَ خوراک دے په سکنٰی باندے او دَ دے وجے نه سورة بقره کښ رغدًا ذکر وؤ او دلته هغه ذکر نه دے (والله اعلم). وَلَا تَقْرَبَا اه مراد دَ نهی دَ قربان نه قصد او عمد دے چه هغه سبب دَ ظلم دے نو په سهوه او نسیان دَ آدم سره ظلم دَ هغه نه ثابتیږی او نور تفصیل په سورة بقره کښ تیر شوے دے۔

مَلَكَيْنِ اَوْ تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ ﴿۲۰﴾

دوه ملائک	یا شیٔ به تاسو	دَ	همیشه پاتې کیدونکو نه .	

۲۰ په دے ایت کښ تفصیل دَ وسوسے دَ ابلیس دے او عاقبت دَ عمل کولو دے په وسوسه باندے. فَوَسْوَسَ سوال: هرکله چه ابلیس دَ جنت او اسمانونو نه کوز کړے شوے وؤ نو بیا یٔ څرنګ وسوسه اوکړه آدم علیه السلام ته؟
جواب: هرکله چه ابلیس ته یٔ اوئیل اخرج او آدم ته یٔ اوئیل اسکن نو ابلیس دَ راوتلو په وخت کښ آدم علیه السلام ته دا خبره اوکړله او دلالت کوی په دے باندے فا په فوسوس کښ چه دَ اتصال دَ پاره راځی او څوک چه وائي چه ابلیس په دروازه دَ جنت کښ اولاړ وؤ او آدم ته یٔ آواز ورکړو نو دا بے دلیله خبره ده او څوک چه وائي دَ مار په خُله کښ جنت ته داخل شو نو دا خو بے دلیله او اسرائیلی قصه ده.
لَهُمَا او سورة طٰهٰ ۱۲۰ کښ الیه ذکر دے وجه دا ده چه دلته دَ مخکښ نه تثنیه الفاظ ذکر دی نو دا یٔ تثنیه ذکر کړه او سورة طٰهٰ کښ دَ مخکښ نه صرف دَ آدم ذکر دے نو روستو یٔ هم ضمیر دَ مفرد ذکر کړو نو وسوسه یٔ دواړو ته کړے ده لیکن ښځه تابع دَ خاوند ده نو کله دَ هغے ذکر اونشی. لِيُبْدِيَ اکثر مفسرینو وئیلے دی چه لام دَ پاره دَ عاقبت دے ځکه چه ابلیس ته دا علم نه وؤ چه په دے سره به دَ دوی عورتونه ښکاره کیږی او دا هم جائز ده چه لام دَ علت وی او کیدے شی چه ابلیس ته دَ دے علم دَ مخکښ نه حاصل وؤ. سَوْاٰتِهِمَا سوءة دَ بدن هغه حصے ته وئیلے شی چه دَ هغے په ښکاره کیدلو سره انسان فطرتًا خفه کیږی نو هغه عورت دے. مَاوٗرِيَ اشاره ده چه عورت دَ انسان طبعًا پټ وی او طبعًا دَ هغے ښکاره کول بدا ګڼړی ځکه یٔ صیغه دَ مجهول ذکر کړله اَنْ تَكُوْنَا مَلَكَيْنِ دا په طریقه دَ تشبیه سره مراد دے یا په طریقه دَ قلبِ حقیقت سره هم احتمال لری او تشبیه دَ ملائکو سره په ډیر صفتونو کښ ده چه خوراک ته به محتاج نه یٔ او هر قسم شکلونه به اختیارولے شیٔ او په الوتلو باندے به قدرت لری او عمرونه به موهم اوګدده شی دا هم مرغوب صفتونه دی چه انسان یٔ غواړی. او تَكُوْنَا مِنَ الْخٰلِدِيْنَ دا ترقی ده دَ ماقبل نه او په معنی دَ بَل سره دے یعنی بلکه دَ فنا او دَ مرګ نه به بچ شیٔ دا هم دَ انسان ډیر مرغوب څیز دے او سورة طٰهٰ کښ صرف روستنۍ خبره ذکر کړیده ځکه سورة اعراف تفصیلی سورت دے نو په دے کښ یٔ تفصیل ذکر کړیدے او سورة طٰهٰ کښ اختصار مقصد دے دَ دے وجے نه آخری مرغوب یٔ ذکر کړے دے.

وَقَاسَمَهُمَآ اِنِّیْ لَكُمَا لَمِنَ النّٰصِحِیْنَ ﴿۲۱﴾

او قسم یې اوکړو دے دواړو ته چه یقیناً زهٔ ستاسو دَ خیرخواهو نه یم.

فَدَلّٰىهُمَا بِغُرُوْرٍ ۚ فَلَمَّا ذَاقَا الشَّجَرَةَ

نو راکوزیې کړل په دهوکه سره پس هر کله چه اوڅکله دوی اونه

بَدَتْ لَهُمَا سَوْاٰتُهُمَا وَطَفِقَا یَخْصِفٰنِ

ښکاره شو دواړو ته وجودونه دَ دوی او شورو شو دواړه چه لګولے یې

عَلَیْهِمَا مِنْ وَّرَقِ الْجَنَّةِ ؕ وَنَادٰىهُمَا

په ځان باندے دَ پاڼړو دَ جنت نه۔ او آواز ورکړو دے دواړو ته

رَبُّهُمَآ اَلَمْ اَنْهَكُمَا عَنْ تِلْكُمَا الشَّجَرَةِ

رب دَ دوی آیا ما نه وو منع کړی تاسو دَ دے اونے نه

وَاَقُلْ لَّكُمَآ اِنَّ الشَّیْطٰنَ لَكُمَا عَدُوٌّ مُّبِیْنٌ ﴿۲۲﴾

او نه وو وئیلے ما تاسو ته یقیناً شیطان تاسو لره دُښمن ښکاره دے۔

ـ۲۱ـ قَاسَمَهُمَآ دا صیغه دلته دَ پاره دَ مبالغے ده یعنی کلک قسم یې اوکړو۔ قسم دَ پاره دَ تاکید دَ وسوسے دے او دایې مطلق ذکر کړو لیکن مراد دَ دے نه قسم بالله دے او ابلیس اول هغه شخص دے چه په الله تعالیٰ باندے په دروغه قسم کړیدے او دَ آدم علیه السلام ګمان هم داوُو چه هیڅوک به په الله تعالیٰ باندے په دروغه قسم نه کوی نو ځکه یې دَ هغه خبره اومنله۔

ـ۲۲ـ فَدَلّٰىهُمَا، فَاَدَلَّ لالت کوی چه دوی په وسوسه باندے سمدستی عمل کړے دے۔ دَلّٰىهُمَا مراد دَ دے نه راکوزول دی دَ طاعت نه معصیت ته یادَ اوچتے درجے نه کوزے درجے ته یا دا په معنیٰ دَ ازلهما سره دے۔ غُرُوْرٍ ښکاره کول دَ نصیحت او پټ ساتل دَ نقصان ته غرور وائي۔ سَوْاٰتُهُمَا دلته معنیٰ ظاهری مراد ده دلیل په هغے روستو جمله ده چه پاڼړے لګول دی په ځان باندے او بحرالمحیط کښ ذکر دی چه څوک وائي چه مراد دَ دے نه دَ دوی عیبونه او سخت ژوند ښکاره کیدل دی او بربنډ شوے نه دی نو دا قول دَ قرآن کریم

قَالَا رَبَّنَا ظَلَمْنَآ اَنْفُسَنَا سکتۃ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا

اوئیل دواړو اے ربه زموږ نقصان کړیدے موږ دځانونو خپلو، اوکه بخنه اونکړے ته موږ ته

وَتَرْحَمْنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۲۳﴾

اوکه رحم اونکړے په موږ خامخا شو به موږه دَ تاوان والو نه۔

قَالَ اهْبِطُوْا بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ج

اوفرمائیل الله تعالیٰ کوز شئ بعضے ستاسو دَ بعضو دَپاره دُشمنان به وی۔

وَلَكُمْ فِى الْاَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَّمَتَاعٌ

او تاسو دَپاره په زمکه کښ ځائ دَاوسیدلو دے او مزے اخستل دی

دَظاهرنه خلاف دے اوتاویل دے په غیردَدلیل نه او مخالف دے دَقول دَ جمهور مفسرینو نه اوکه څوک سوال اوکړی چه دلیل په دے باندے وَلاتعرٰی دے سورة طٰهٰ ۱۱۸ کښ نوجواب دا دے چه دغه صفتونه په اصل کښ مقید وُو په شجرے نه خوړلوسره چه هرکله شجره یئے اوخوړله نودَهغه صفتونو نه محروم شول او وئیلے شوے دی چه دَ دوی په بدن باندے دَ نُور جامے وے نو هغه دَ دوی نه لرے شوے دَ دے څه دلیل نیشته دَجامو په حقیقت باندے الله تعالیٰ عالم دے اوصرف ځانونه ورته ښکاره شول بل چا بربنډ نه دی لیدلی په دے دلیل چه تثنیه په مقابله دَه تثنیه کښ تقسیم غواړی دَاحادو په احادو باندے۔ اودوی په ځان باندے پاڼړے دَجنت لګولے اشاره دَه چه عورت دَځان نه پټول لازم دی (بے ضرورته)۔ وَاَقُلْ لَّكُمَآ داقول دَالله تعالیٰ په سورة طٰهٰ ۱۱۷ کښ ذکر دے۔

۲۳ ظلم په معنیٰ دَنقصان دے یعنی موږ خپله حصه کمه کړه ځکه چه دَجنت نه اووتلو۔ وَاِنْ لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا دَګناه بخل مراد نه دی ځکه چه ګناه یئے نه دے کړے بلکه پرده اچول مراد دی۔ او رَحم نه مراد ائینده دَپاره دَداسے کار نه بچ کول دی۔ یا دا دعا دَ وجے دَانکسار اودَتضرع نه دَه نو دلالت نه کوی په ګناه کولو باندے او دا دَمقربینو عادت دے چه وړوکے نقصان غټ ګڼړی اوشربینی لیکلی دی چه دا صِرف خلاف اولیٰ کار وُو او په نسیان سره شوے وُو په دلیل دَسورة طٰهٰ ۱۱۵ سره نور تفصیل په سورة بقره کښ تیر شوے دے۔

إِلَىٰ حِينٍ ﴿٢٤﴾ قَالَ فِيهَا تَحْيَوْنَ وَفِيهَا

تر یو وخت پورے - او فرمائیل الله تعالیٰ پدے زمکه کښ به ژوند تیروئ تاسو او پدیکښ به

تَمُوتُونَ وَمِنْهَا تُخْرَجُونَ ﴿٢٥﴾ يَا بَنِي آدَمَ ع ١٥

مړه کیږئ تاسو او د دے نه به ویستلے کیږئ تاسو ۔ اے بنیادمو

قَدْ أَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ

یقینًا پیدا کړے ده مونږ تاسو لره جامه چه پټوی عورتونه ستاسو

وَرِيشًا ۖ وَلِبَاسُ التَّقْوَىٰ ذَٰلِكَ خَيْرٌ ۚ

او خائست د پاره او جامه د پرهیزګارئ داخو ډیره غوره ده

ذَٰلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾

دا د نعمتونو د الله تعالیٰ نه ده د دے د پاره چه نصیحت واخلئ۔

ف٢٤ د بخښش کولو او توبه قبلولو نه روستو دا حکم دلیل دے چه دا کوزول زمکے ته سزا د ګناه نه ده بلکه اثر د دغه شجرے دے او په دے آیت کښ د راکوزولو غایة تکوینی ذکر کړیده لکه په سورة بقره ف٣٦ کښ او غایة تشریعی به په ف٣٥ کښ ذکر کوی۔

ف٢٥ دا هم د غایة تکوینی سره تعلق لری او په دے کښ فنا او بعث هم ذکر کوی د پاره د دے چه غفلت رانشی د دے نه مراد عام ژوند دے او هغه په زمکه کښ دے نو بعض ژوند په طریقه د خرق عادت سره وی لکه په آسمان کښ ژوند د عیسیٰ علیه السلام نو په دے سره اعتراض نه رائحی۔

ف٢٦ ظاهر دا ده چه دا خطابات په وخت د راکوزولو د آدم علیه السلام کښ وؤ ځکه چه دا نعمت د لباس یوامت پورے خاص نه دے نو دا اول خطاب په یا بَنِيٓ اٰدَمَ سره د پاره د دے چه لباس د الله تعالیٰ نعمت دے نو د دے ناشکری مه کوئ په تحریم د هغے سره په ځان باندے په طواف کښ۔ اَنۡزَلۡنَا قرطبی د سعید بن جبیر نه نقل ذکر کړے دے چه انزال په معنی د خلق (پیدا کولو) سره دے لیکن انزال ئے ورته د دے وجے نه وئیلے دے چه د دے اسباب آسمانی دی لکه باران ورول او په هغے سره بوټی راویستل په هغه بوټوکښ بوټی د پوښ

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ الشَّيْطٰنُ كَمَآ اَخْرَجَ

اے بنیادمو دھوکه دے نکړی تاسو لره شیطان لکه چه ویستلے ئے دی

اَبَوَيْكُمْ مِّنَ الْجَنَّةِ يَنْزِعُ عَنْهُمَا لِبَاسَهُمَا

مور او پلار ستاسو دَ جنت نه اُویستلے ئے دَ دواړو نه جامے دَ هغوی

لِيُرِيَهُمَا سَوْاٰتِهِمَا ۭ اِنَّهٗ يَرٰىكُمْ هُوَ وَقَبِيْلُهٗ

دَ دے دپاره چه ښکاره کړی دواړو ته دَ دوی وجودونه یقینًا دے وینی تاسو لره، دے او اولاد دَ دهٔ

مِنْ حَيْثُ لَا تَرَوْنَهُمْ ۭ اِنَّا جَعَلْنَا الشَّيٰطِيْنَ

په داسے طریقه چه ته وینئ تاسو دوی لره یقینًا جوړ کړی دی موږ شیطانان

اَوْلِيَاۗءَ لِلَّذِيْنَ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿٢٧﴾ وَاِذَا فَعَلُوْا

دوستان (دَ تابعدارئ) هغه کسانو لره چه ایمان نه راوړی۔ او کله چه اوکړی دوی

اوریښم اوربړ وغیره پیدا کیدال او دا رنګ لفظ په سورة زمر ۲ـ اوحدید ۲۵ کښ هم راغلے دے۔ دَ جامے دوه فائدے دی یو عورت پټول دویم دَ وجود نوره حصه دَ زینت دپاره پټول دا دواړه فائدے یئے ذکرکړے اوله فائده ډیر ضروری ده نو هغه مخکښ ذکرکړه اودا یئے په فعل سره ذکرکړه اشاره ده چه دَ هغے هر وخت لحاظ پکار دے۔ وَلِبَاسُ التَّقْوٰى دَ دینه مراد هغه جامه ده چه دَ شرع مطابق وی یا مراد دَ دینه نفس تقوٰی ده یعنی ایمان او نیک عمل۔ اودا یئے دَ دے وجے نه ذکرکړو چه بنی اٰدم دَ لباس طرف ته زیاته توجه اونکړی او ایمان هیر نکړی۔

خَيْرٌ وجه دا ده چه په صِرف ظاهری لباس سره جنت نه حاصلیږی او په تقوٰی سره جنت حاصلیږی۔

۲۷ـ دا دویم خطاب دے په دیکښ منع ده دَ اتباع دَ شیطانؑ په تحریم دَ حلال کښ اوردے په دلیل دَ مشرکانو باندے۔ لَا يَفْتِنَنَّكُمُ مراد دَ دینه گمراه کول دی په طریقه دَ تحریم دَ حلال سره او دا شرک فعلی دے۔ كَمَآ اَخْرَجَ نه مخکښ عبارت پټ دے "بتحریم اللباس فی الطواف (په حرامولو دَ لباس سره په حال دَ طواف کښ)" او په دیکښ هغه پیران هم داخل دی چه پخپلو مریدانو باندے بعضِ جائز لباس حراموی او هغه خلق هم داخل دی چه په وخت دَ ګډا او دَ ډانس کښ

فَاحِشَةً قَالُوْا وَجَدْنَا عَلَيْهَآ اٰبَآءَنَا وَاللّٰهُ

خه بدکار دوی وائي موندلے دی موږ په دے باندے مشران خپل او الله تعالیٰ

اَمَرَنَا بِهَا ؕ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ

حکم کړیدے موږ ته دَ دے. او وایه یقینًا الله تعالیٰ حکم نه کوی

بِالْفَحْشَآءِ ؕ اَتَقُوْلُوْنَ عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۸﴾

دَ بد کار ایا جوړوئ تاسو په الله تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسو پرے نه پوهیږئ.

جاے اوباسی۔ دَ اخرج او ینزع اویُرِیَ نسبت ورته ابلیس ته په طریقه دَ سببیت سره دی.
دَ لفظ دَ قَبِیْلُهٗ نه معلومه شوه چه دَ ابلیس نسل او اولاد شته دے. بله دا معلومه
شوه چه جِن (چه ابلیس هم دَ هغوی نه دے) دا سے مخلوق دے چه انسانانو ته
نه ښکاری په اصلی شکل سره۔ هاں که شکل بدل کړی نو بیا انسانانو ته
ښکاری۔ مِنْ حَیْثُ نه مراد شکل اصلی سره لیدل دی نو کوم چه روایاتو کښ
دَ ابلیس او دَ جنا تو لیدل راغلی دی نو مراد دَ هغے نه شکل مثالی دے او بعض علماؤ
وئیلی دی چه هغه لیدل خاص کړے شویدی دَ عموم دَ دے ایت نه۔ اَوْلِیَآءَ (ملګری
او مددګاران) دا دلیل دے چه سرکش پیریان په ناکاره خلقو باندے حمله کوی
او په هغوی کښ داخلیږی او په هغے طریقے سره خلق ګمراه کوی۔
۲۸ فَاحِشَةً دا لفظ خو عام دے هره بدکارئ ته شامل دے، لیکن دلته اشاره
ده چه مشرکین عرب به طواف دَ بیت الله په بربنډه باندے کوو نارینو دَ ورځے
او زنانو دَ شپے او په خپل عورت خاصه باندے به ئے څکښ او روستولاس کیخودے
وؤ۔ دوی په حال دَ حج کښ جامه په ځان حرامه ګڼړله او غوړ خوراک ئے حرام
کړے وو او دا تحریمات دَ غیر الله دی۔ نو په دے ایت کښ رد دے په دوه دلیلونو
دَ مشرکانو باندے اول دلیل اتباع دَ مشرانو دویم الله تعالیٰ ته نسبت کول
اول دلیل خو ښکاره باطل دے نو دَ هغے رد ته حاجت نیشته او په دویم دلیل
باندے تفصیلی رد کوی اول دا چه قُلْ اِنَّ الخ دویم دا چه اَتَقُوْلُوْنَ یعنی دا افتراء
ده۔ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ مراد دَ علم نه دلیل دَ قرآن او دَ حدیث دے نو هغه چه چا سره
نه وی او وائي قَالَ اللّٰهُ او اَمَرَ اللّٰهُ نو دا دروغ جوړول دی په الله تعالیٰ۔ دا ایت دلالت کوی
چه دَ باطل پرستو دلیل تقلید دَ اباؤ وی یا تقوّل علی الله۔

قُلْ اَمَرَ رَبِّیْ بِالْقِسْطِ قف وَ اَقِیْمُوْا وُجُوْهَكُمْ

اودا یه حکم کړیدے رب زما په انصاف سره او برابر کړئ مخونه خپل (الله تعالیٰ ته)

عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ وَّ ادْعُوْهُ مُخْلِصِیْنَ

په وخت د هره سجده کښ او دُعاء غواړئ د هغه نه اخلاص کوونکی یئ

لَهُ الدِّیْنَ ط كَمَا بَدَاَكُمْ تَعُوْدُوْنَ ﴿۲۹﴾ ط

هغه ته د بلنے لکه چه الله تعالیٰ اول پیدا کړی یئ نو دوباره به را اوګرځئ تاسو۔

فَرِیْقًا هَدٰى وَ فَرِیْقًا حَقَّ عَلَیْهِمُ الضَّلٰلَةُ ط

یو ډلے ته ئے هدایت کړے دے او بله ډله بانده ے پوره شوے ده ګمراهی

اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا الشَّیٰطِیْنَ اَوْلِیَآءَ مِنْ

یقیناً دوی نیولے دی شیطانان دوستان (د تابعدارئ)

ف ۲۹ دا دریم دلیل دے په رد د دلیل د مشرکانو کښ مطلب دا دے الله تعالیٰ چه حکم کوم کړے دے د هغے پابندی کوئ ۔ قِسْطِ په اصل کښ حصه ده یعنی حقدار ته د هغه مناسب حصه ورکول نو د الله تعالیٰ مناسب حصه توحید دے دا نقل دے د ابن عباس رضی الله عنه نه۔ وَ اَقِیْمُوْا الخ د دے سره لِلّٰه مراد دے۔ مَسْجِدٍ مراد د دے نه سجده ده یعنی سجده الله تعالیٰ لره خاص کړئ دا هم رد دے په مشرکانو بانده ے چه سجده غیر الله ته کوی یا د مسجد نه مراد جماعت اوځائ د مونځ کولو دے نو معنیٰ دا ده چه خاص کعبے ته مخونه ګرزوئ په هر ځائ د مانځه کښ۔ وَادْعُوْهُ په دے کښ رد د شرک فی الدعا دے۔ مُخْلِصِیْنَ مراد د اخلاص نه پچ کول دی د شرک او تشبیه نه۔
كَمَا بَدَاَكُمْ الخ په دے کښ تخویف دے په ذکر د بعث بعد الموت سره۔ او د لفظ د كَمَا فائده دا ده چه بربنډ او بے پیزاره او نا سنته به پیدا کولے شئ لکه چه اول پیدائش هم داسے وؤ۔ داسے په حدیث کښ راغلے دی۔

دُوْنِ اللّٰهِ وَيَحْسَبُوْنَ اَنَّهُمْ مُّهْتَدُوْنَ ﴿۳۰﴾

سیوا دَ الله تعالیٰ نه او گمان کوی دوی چه دوی لار موندونکی دی.

يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ

اے بنیادمو اونیسئ دول (سنگار) خپل په وخت دَهر مانځه کښ

وَّكُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَلَا تُسْرِفُوْا ۚ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

او خورئ او څښکئ او دَ حد نه زیاتے مه کوئ یقیناً الله تعالیٰ محبت نه کوی

الْمُسْرِفِيْنَ ﴿۳۱﴾ ع قُلْ مَنْ حَرَّمَ زِيْنَةَ اللّٰهِ ۱۰ ع ۱۲

دَحد نه زیاتے کوونکو سره۔ او وایه چا حرام کړے دے دول دَ الله تعالیٰ

ف۳۰ فَرِيْقًا حال دے دَ تعودون دَ ضمیر نه یا دَضمیر دَ بداءکم نه او مراد دا دے چه دَچا په تقدیر کښ هدایت دے او دَچا گمراهی ده نو په قیامت کښ به دوه ډلے وی اِنَّهُمُ اتَّخَذُوا دا متعلق دے دَ روستو فریق سره یعنی دَگمراهئ سبب صرف تقدیر نه دے بلکه تابعداری دَ شیطانانو ده۔ وَيَحْسَبُوْنَ دا شامل دے هر مشرک او بدعت کوونکی ته چه گناه کوی او هغے ته ثواب وائي۔

ف۳۱ دا دریم خطاب دے په رد دَ شرک فعلی کښ چه دَهر مسجد په خوا کښ دَ جامے استعمال ضرورکوئ که مسجد حرام وی او که نور مساجد وی که دَطواف په وخت کښ وی او که دَمانځه په وخت کښ وی دَ دے آیت نه معلومه شوه چه عورت پټول په وخت دَمانځه او دَ طواف کښ فرض دی او تعبیر ئے په زینت سره اوکړو اشاره ده چه دَ عورت پټولونه علاوه مونځ په پاکو او صفا جامو کښ کول غوره دی په نسبت دَ دے چه دَکار یا دَ شپے په لباس کښ کوی اوځان ترینه خلاصوی او عادتاً نور اندامونه پټول هم پکار دی لکه سینه، شا، سر وغیرہ او مقصد په دے کښ رد دے په هغه چا باندے چه جامے ویستل ئے ثواب گڼړلو۔

وَكُلُوْا اه په دے کښ هم مقصود رد کول دی په هغه چا باندے چه په حالت دَحج کښ خوراک (زیادت دَ قوت) او غوړی په ځان باندے حرام کړے وو۔

وَكُلُوْا وَاشْرَبُوْا خوراک او څښکاک پقدر دَ حاجت فرض دے دَ پاره دَ حفاظت دَ بدن او دَ پاره دَ قوت په عبادت کولو باندے۔

وَلَا تُسْرِفُوْا اسراف په خوراک څښکاک او لباس کښ درے قسمه دے

الَّتِيْٓ اَخْرَجَ لِعِبَادِهٖ وَالطَّيِّبٰتِ مِنَ الرِّزْقِ ؕ

هغه چه حلال کړے دے بندګانو خپلو لره او پاک حلال رزقونه

قُلْ هِيَ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

اووایه دا حق دے مؤمنانو د پاره په ژوند د دنیا کښ (په شرکت سره)

خَالِصَةً يَّوْمَ الْقِيٰمَةِ ؕ كَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ

یواځے به وی دوی لره په ورځ د قیامت دغسے په تفصیل سره احکام بیانوؤ مونږ

لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۳۲﴾ قُلْ اِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ

د هغه قوم د پاره چه پوهیږی ۔ اووایه یقیناً حرام کړی دی رب زما

الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْاِثْمَ

بد کارونه هغه چه ښکاره وی د دینه او هغه چه پټ وی او هر ګناه

وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَاَنْ تُشْرِكُوْا بِاللّٰهِ

او ظلم کول په ناجائز سره او شریک جوړول الله تعالیٰ سره

(۱) د حاجت نه زیاتے کول (۲) حرام شے خوړل او اغوستل (۳) حلال په ځان باندے حرام کول، چه دا شرک فعلی دے ۔

۳۲ دا هم رد دے په تحریم د غیرالله باندے چه الله تعالیٰ نه دی حرام کړی نو بل چا حرام کړل؟ زینت نه مراد جامه ده په جائز او مناسب طریقه ۔ لِلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، یعنی دا حق دے د ایمان والو او مشرکین چه دا نعمتونه استعمالوی نو په ناحقه استعمال کوی ۔ ځکه چه الله تعالیٰ انعامات کړیدی نو ایمان او توحید والو د هغے حق ادا کړیدے او مشرکینو د هغے حق نه دے ادا کړے ۔ خَالِصَةً په دیکښ عبارت پټ دے "یخلص الله هذه الطیبات خالصة للمومنین یوم القیامة" (یعنی خالص به کړی الله تعالیٰ دا طیبات مؤمنانو لره خاص په ورځ د قیامت) او دا قول د عامو مفسرینو دے دویم قول دا دے چه فی الحیٰوة الدنیا متعلق دے د اٰمنوا سره یعنی کومو خلقو چه په ژوند د دنیا کښ ایمان راوړے دے د هغوی د پاره دا طیبات په قیامت کښ خاص دی ۔ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ اه مراد دا چه تفصیل د احکامو د توحید په قرآن کښ موجود دے لکه په دے تیر شوؤ اٰیاتونو کښ ۔

مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهٖ سُلْطٰنًا وَّاَنْ تَقُوْلُوْا

هغه څوک چه نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په هغے څه دلیل او جوړول ستاسو

عَلَى اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿۳۳﴾ وَلِكُلِّ اُمَّةٍ

په الله تعالیٰ باندے هغه خبرے چه تاسو پرے نه پوهیږئ - او د پاره د هرے ډلے

اَجَلٌ فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ لَا يَسْتَاْخِرُوْنَ

یو نیټه وی (د عذاب) پس کله چه راشی نیټه د دوی (تو عذاب به ورکړے شی) نه به روستو کیدے شو

سَاعَةً وَّلَا يَسْتَقْدِمُوْنَ ﴿۳۴﴾ يٰبَنِيْٓ اٰدَمَ

یو ساعت او نه به مخکښ کیدے شی - اے بنیادمو

ف۳۳ دا ذکر د تحریماتو د الله تعالیٰ دے په مقابله د تحریم د غیر الله کښ او دینه اصول د تحریماتو وئیلے شی ځکه دا په ټولو ادیانو سماویو کښ حرام دی. فَوَاحِشَ عام دے هغه ټولو ګناهونو ته چه ګناه کیدل یئے هر عقل والا ته ښکاره دی لکه زنا، دروغ وغیره. اِثْمَ په حقوق الله کښ خلاف کول دی. وَالْبَغْيَ په حقوق العباد کښ ګناه کول په غیر د حق نه او هر چه بغی بالحق ده نو هغه جهاد فی سبیل الله دے.

وَاَنْ تُشْرِكُوْا شرک اعتقادی ته اشاره ده. سُلْطٰنًا اشاره ده چه د شرک د جواز د پاره دلیل منزله پکار دے. وَاَنْ تَقُوْلُوْا شرک فعلی ته اشاره ده.

ف۳۴ جواب د سوال دے چه هر کله دوی د الله تعالیٰ د تحریماتو خلاف کوی نو په دوی باندے ولے عذاب نه راځی جواب دا دے چه د هغے د پاره مقرره نیټه ده. او دا ایت دلیل دے چه څوک اووژلے شو نو هغه په خپله نیټه باندے مړ شوے دے او قاتل له سزا په دے وجه ده چه د الله تعالیٰ د حکم خلاف یئے کړیدے. او دا سے ایت په سورة یونس ف۴۹ او سورة نحل ف۶۱ کښ هم راغلے دی په سورة یونس کښ په اذا باندے فا نه ده راوړے نو په جزا کښ فاء ذکر کړه او په دے سورت او سورة نحل کښ په اذا باندے فاء داخل ده نو په جزاء کښ ضرورت نیشته. سوال: کله چه اجل راشی نو روستو کیدل امکان لری لیکن مخکښ کیدل امکان نه لری نو د هغے په نفی کولو کښ څه فائده وه؟ اول جواب دا دے چه جزا د اذا پټه ده یعنی یعذبون. دویم جواب دا دے چه ولا یستقدمون عطف دے په اِذَا جَآءَ باندے دریم دا چه د دے نفی د پاره د تشبیه ده یعنی روستو کیدل داسے نفی دی لکه چه مخکښ کیدل امکان نه لری.

إِمَّا يَأْتِيَنَّكُمْ رُسُلٌ مِّنكُمْ يَقُصُّونَ

که راغلل تاسو ته رسولان ستاسو نه بیانوی

عَلَيْكُمْ ءَايَٰتِى فَمَنِ ٱتَّقَىٰ وَأَصْلَحَ

په تاسو باندے ایتونه زما پس چاچه ځان بچ کړو د شرک نه او عمل یې اوکړو په سنت باندے

فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٥﴾ وَٱلَّذِينَ

نو نه به وی یره په دوی باندے او نه به دوی غمژن کیږی. او هغه کسان

كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَٰتِنَا وَٱسْتَكْبَرُوا۟ عَنْهَآ أُو۟لَٰٓئِكَ

چه دروغژن کوی ایتونه زمونږ او لوئی کوی د هغے نه دغه کسان

أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٣٦﴾ فَمَنْ

اُور والا دی دوی به په هغے کښ همیشه وی. پس څوک

۳۵ داڅلورم خطاب دے د پاره د بیان د معیار د جنت او د جهنم. او د خطاب په اول کښ قُلنا پټ دے مطلب دا دے چه کله آدم علیه السلام راکوز شو نو هغه وخت نه داخطاب د هغه اولاد ته متوجه دے نو هغه سلسله د رسالت جاری وه په محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے ختم شوه.

سوال: دا آیت خو دلالت کوی چه د رسولانو د راتللو سلسله د قرآن نه روستو هم جاری ده؟

جواب: مخکښ مونږ ذکر کړے دی چه دا خطابات څلور په هغه وخت کښ وو چه آدم علیه السلام یې راکوز کړو په دے قرینے سره چه دا سے مضمون والا آیت په سورة بقره ۳۸ او سورة طٰهٰ ۱۲۳ کښ هم ذکر دے د پاره د غایة تشریعی د اهباط. نو د دے وجے نه د دے په ابتداء کښ قلنا پټ دے. جواب ۲: ابن جریر د یسار سلمی روایت راوړے دے چه الله تعالیٰ آدم او د هغه اولاد په خپل کف (ورغوی) کښ واچول او دا خطاب یې ورته کړے وؤ نو لفظ د قلنا پټ دے (روح المعانی).

۳۶ دا تخویف دے روستو د بشارت نه. تکذیب مقابل دے د تقوی او استکبار مقابل دے د اصلح. یا تکذیب په ژبے سره دے او استکبار په زړه سره دے. په اول آیت کښ فاء یې په فَمَنِ اتَّقَىٰ کښ ذکر کړے وه او دلته په خبر کښ فاء ذکر نه کړه ځکه چه بنا د بشارت په تاکید او مبالغه باندے ده او بنا د تخویف په مسامحه باندے ده. دا رنګ

أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرٰى عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اَوْ كَذَّبَ

ډیر ظالم دے دَهغه چا نه چه جوړ وی په الله تعالیٰ باندے دروغ یا دروغژن کړی

بِاٰيٰتِهٖ ۭ اُولٰۗىِٕكَ يَنَالُهُمْ نَصِيْبُهُمْ مِّنَ الْكِتٰبِ ۭ

آیتونه زمونږ دغه کسان او به رسی دوی ته برخه دَدوی لیکلے شوے (دَعمر او روزئ نه) په تقدیر کښ

حَتّٰٓي اِذَا جَاۗءَتْهُمْ رُسُلُنَا يَتَوَفَّوْنَهُمْ ۙ

تر هغے چه کله راشی دوی ته ملائک زمونږ سا اخلی دَ دوی نه

قَالُوْٓا اَيْنَ مَا كُنْتُمْ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ ۭ

دوی به ورته وائی څه شو هغه کسان چه تاسو به بلل په مصیبتونو کښ سیوا دَ الله تعالیٰ نه

قَالُوْا ضَلُّوْا عَنَّا وَشَهِدُوْا عَلٰٓي اَنْفُسِهِمْ

راوس ئے رااو بلئی) دوی به وائی ورک شول زمونږ نه او اقرار به اوکړی په ځانونو خپلو

اَنَّهُمْ كَانُوْا كٰفِرِيْنَ ﴿۳۷﴾ قَالَ ادْخُلُوْا فِيْٓ اُمَمٍ

چه یقینًا دوی وو منکران دَ توحید نه ۔ او به وائی الله تعالیٰ داخل شئ په هغه ډلو کښ

فمن اتقی ئے مفرد راوړو او والذین کذبوا ئے جمع ذکر کړو اشاره ده چه ایمان والالږ دی او تکذیب والا ډیر دی۔

۳۷ دا دریم باب دے تر ۵۳ پورے په دے کښ اول زورنه ده بیا تخویف دے په بیان دَ حالاتو دَ زنکدن او برزخ او بیا دَ آخرت بیا زیرے دے اخروی بیا مکالمه دَ اصحاب اعراف او آخر کښ رد دے دَ شفاعت قهریه دِ ۳۷ کښ ذکر دے زجر په افتراء کوونکو بیا ذکر دے دَ حالت دَ نزع او برزخ او په هغے کښ رد دے دَ شرک فی الدعاء۔ افْتَرٰی اه مراد دَ دے نه نسبت دَ شریک او ولد دے الله تعالیٰ ته۔

اَوْ كَذَّبَ بِاٰيٰتِهٖ مراد دَ دینه هغه کسان دی چه په ۳۶ کښ ذکر شول۔

نَصِيْبُهُمْ هر انسان دَ پاره په تقدیر کښ عمر او رزق او اعمال مقرر شوی دی هغه دَ دۀ حصه ده۔ مِنَ الْكِتٰبِ مراد دَ دے نه کتاب دَ تقدیر دے۔ رُسُلُنَا اشاره ده چه په وخت دَ مرګ کښ ډیر ملائک راځی هاں روح یو ملک قبض کړی او بیا ئے نورو ملائکو ته اوسپاری لکه چه حدیث کښ ذکر دی دَ دے وجے نه

قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِكُمْ مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ

چه تیرے شوے دی مخکښ ستاسو نه دَ پیریانو او انسانانو نه

فِي النَّارِ ۖ كُلَّمَا دَخَلَتْ أُمَّةٌ لَعَنَتْ أُخْتَهَا ۖ

په اُور کښ هر وخت چه داخل شی یوه ډله لعنت به کوی په ملګرو خپلو

حَتَّىٰ إِذَا ادَّارَكُوا فِيهَا جَمِيعًا قَالَتْ

تر دے چه کله یو ځائ شی په هغے کښ ټول او به وائي

أُخْرَاهُمْ لِأُولَاهُمْ رَبَّنَا هَٰؤُلَاءِ أَضَلُّونَا

روستنی خلق دَ دوی (مریدان) په باره دَ مخکنو (پیرانو) کښ اے ربه زمونږه دَ دغسانو بے لارے کړی یو مونږه

فَآتِهِمْ عَذَابًا ضِعْفًا مِنَ النَّارِ ۖ قَالَ

نو ورکړه دوی ته عذاب دوچند دَ اُور نه. او به وائي الله تعالیٰ

لِكُلٍّ ضِعْفٌ وَلَٰكِنْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٣٨﴾

هر یو لره دوچند عذاب دے او لیکن نه پوهیږئ تاسو.

په سورة سجده سلا کښ یو ملک ذکر دے. ضَالُّوا دا زجراً وینا ده. ضَلُّوا عَنَّا اشاره ده چه کدوی معبودان چه صالحین وو هغه کدوی دَ دعا نه ناخبره وو دے وجے نه هغوی دَ دوی نه په غائب وی. اَنَّهُمْ کَانُوْا کٰفِرِیْنَ دا دلیل دے چه دعا دَ غیرالله کفر دے. دَ دے ایت نه معلومه ده چه مشرک ته په وخت دَ ځنکدان کښ ولیلے کیږی چه خپل مددګاران را اوبله که هغوی درسره مدد کولے شی. لیکن هغه معبودان نه په جسمانی او نه په روحانی طریقه امداد کولے شی.

سلا دے ایت کښ حال دَ برزخ دے او خطاب ارواحو ته دے یا دا حال دَ حشر دے او خطاب به په ورځ دَ قیامت وی او دا ایتونه په باره دَ مشرکانو پیرانو او ملایانو کښ دی چه هغوی به دَ خپلو مریدانو او مقتدیانو سره دا مکالمه کوی. لَعَنَتْ اُخْتَهَا دا سے په سورة عنکبوت ۲۵ کښ هم دی. اُخْتَهَا نه مراد مشابه دی په شرک او کفر کښ او تعبیر په مؤنث سره دَ سپکوالی دَ پاره دے. ضِعْفًا یو عذاب دَ خپلے ګمراهئ او بل عذاب دَ ګمراه کولو ځکه چه حدیث کښ راغلے دی چا چه دعوت اوکړو

وَقَالَتْ اُوْلٰهُمْ لِاُخْرٰهُمْ فَمَا كَانَ لَكُمْ

او اوبه وائي مخکني دَ هغوی روستنو ته پس نيشته تاسو لره

عَلَيْنَا مِنْ فَضْلٍ فَذُوْقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنْتُمْ

په مونږ باندے څه احسان پس اوڅکئ عذاب په سبب دَ هغه چه تاسو

تَكْسِبُوْنَ ﴿۳۹﴾ اِنَّ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

کول. يقيناً هغه کسان چه دروغژن کړی دی ایتونه زمونږ

وَاسْتَكْبَرُوْا عَنْهَا لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ اَبْوَابُ السَّمَآءِ

او ځان ئې لوئې کړلے دَ هغے نه نه به شي پرانستلے کيدے دَدوی ارواحو ته دروازے دَ اسمان

وَلَا يَدْخُلُوْنَ الْجَنَّةَ حَتّٰى يَلِجَ الْجَمَلُ فِىْ سَمِّ

او نه به داخليدے شي جنت ته ترڅو چه ورننوځي اوښ په سوم

الْخِيَاطِ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۴۰﴾

دَ ستن کښ او دغسے سزا ورکوؤ مونږ مجرمانو ته .

ګمراهئ ته نو په هغه باندے به دَخپل ګناه نه علاوه ګناه دَ تابعدارئ کوونکو دَ هغوی.
لِكُلٍّ ضِعْفٌ عذاب دَ تابعدارو دَ پاره هم دوه وجے دی یو ګمراهي قبلول اويل تقليد
کول دَګمراهانو اشاره ده چه دَجهل دَ وجے تقليد په کفر او شرک کښ عذر نه دے هاں
ضعف دَ عذاب دَ مشرانو به ډيروی په سبب دَ ډيروالی دَ تابعدارانو سره.
۳۹ مِنْ فَضْلٍ ستاسو په مونږ څه احسان نيشته ځکه که مريدانو دوی له تحفے
ورکړيدی نو پيرانو ورله لنګرے ورکړے دی يا ستاسو په مونږ څه غوره والے نيشته
تاسو هم زمونږ په شان ګنهګار يئے او دا دوی ته دَ لِكُلٍّ ضِعْفٌ نه معلومه شوه.
تَكْسِبُوْنَ کسب هغه عمل ته وئيلے شي چه هميشه کيږی يعني مشرکانو خپل
شرکی عملونه هميشه کول.
۴۰ مخکښ ایتونو کښ ذکر دَ دخول دَ دوی وو جهنم ته اوس دے ایتونو کښ ذکر
دَ محروم کيدلو دَ دوی دے دَ جنت نه. لَا تُفَتَّحُ لَهُمْ الخ يعني دَ مؤمنانو دَ اعمالو او
دعاګانو او دَ ارواحو دَ پاره خو دروازے دَ اسمان پرانستے کيږی او دَ کافرانو دَ پاره

لَهُمْ مِّنْ جَهَنَّمَ مِهَادٌ وَّمِنْ فَوْقِهِمْ

د پاره د دوی د جهنم نه تولاپانے به وی او د پاسه د دوی به

غَوَاشٍ ؕ وَكَذٰلِكَ نَجْزِى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۱﴾

پر ستنی (د اُور) وی او دغسے سزا ورکوو مونږ ظالمانو ته۔

وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَا نُكَلِّفُ

او هغه کسان چه ایمان ئے راوړیدے او عملونه ئے کړیدی په طریقه د نبی تکلیف نه ورکوو مونږ

نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَاۤ ؗ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ ۚ

هیڅ چاته مګر په قدر د وس د هغه دغه کسان جنت والا دی

هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ﴿۴۲﴾ وَنَزَعْنَا مَا فِىْ

دوی به په هغے کښ همیشه وی۔ او اوبه باسو مونږ هغه چه په

نه پرانستے کیږی بلکه حدیث کښ راغلے دی چه د کافر روح چه دروازے د آسمان ته اوخیژوی نو واپس ئے ښکته سجین ته راګوزار کړی او هغے ته روح خبیث وئیلے شی څنګه چه د اُوخ ورننوتل په سوم د ستنه کښ ممتنع دی نو دارنګ د دے مشرکانو جنت کښ داخلیدل ممکن نه دی او دے ته تعلیق بالمحال وئیلے کیږی۔ د ابن مسعود رضی الله عنه نه یوکس تپوس اوکړو چه جمل څه څیز دے نو هغه ورته اُوئیل د اوخے خاوند۔ یعنی اشاره ئے اوکړه جهالت د تپوس کوونکی ته چه طلب د بلے معنی په دے کښ تکلف دے (شربینی)۔ او بعضو وئیلی دی چه په بل قراءت کښ الجمّل په شد سره راغلے دے او هغه رسئ د کیشتئ او د جهازونو ته وئیلے شی چه د سمندر په غاړه ئے په هغے سره تړی۔

۴۱ داهم په تخویف اخروی کښ داخل دے۔ مِهَادٌ هغه بستره چه غوړیدلے وی د پاره د سملا ستلو او غَوَاشٍ هغه چه د پاسه نه ئے پټوی او دا اشاره ده چه اُور د جهنم به په دوی باندے احاطه کړے وی د هر طرف نه مجرمین ئے د حرمان سره ذکر کړو او ظالمین ئے د احاطے سره ذکر کړو ځکه چه ظلم غټ ګناه دے د جرم نه۔

۴۲ دا زیرے اخروی دے۔ لَا نُكَلِّفُ نَفْسًا اه دا جمله معترضه ده چه ایمان او عمل صالح ستاسو د وس نه بهر نه دی او اشاره ده چه مؤمن د پاره ضروری دی چه خپل وس او طاقت د جنت د حصول د پاره خرچ کړی

صُدُوْرِهِمْ مِّنْ غِلٍّ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهِمُ

سینو دَ دوی کښ وی خه خفګان بهیږی به لاندے دَ بنګلو دَ دوی نه

الْاَنْهٰرُ ۚ وَقَالُوا الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِيْ هَدٰىنَا

ولے او وائی به دوی صفتونه دَ خدائے ټول الله تعالیٰ لره دی هغه ذات چه راولی مونږ

لِهٰذَا ۗ وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلَآ اَنْ هَدٰىنَا

دے ځائے ته او مونږ نهٔ شو رارسیدلے دلته که نه رارسولے مونږ لره

اللّٰهُ ۚ لَقَدْ جَآءَتْ رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۗ

الله تعالیٰ یقینًا راغلی وو رسولان دَ رب زمونږ په حق بیان سره

وَنُوْدُوْٓا اَنْ تِلْكُمُ الْجَنَّةُ اُوْرِثْتُمُوْهَا

او اواز به اوکړیشی دوی ته چه دا جنت دے درکړے شویدے تاسو ته

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ﴿٤٣﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْجَنَّةِ الثلاثة

په وجه دَ هغه عمل چه تاسو کوؤ. او اواز به اوکړی جنت والا

۴۳ مطلب دادے چه که څوک اووائی چه په جنت کښ چه دَ بیوبل نه دَرجے اوچتے وی نولاندے درجے والا به خفه کیږی او دیته غِل وئیلے شی نوجواب اوشو چه دا طبعي خفګان به الله تعالیٰ دَ دوی دَ زړونو نه اوباسی دا سے په سورة حجر ۴۷ کښ هم دی. هَدٰىنَا لِهٰذَا دے ایت کښ دَ هدایت اخری مرتبه مراد ده چه هغه جنت ته داخلول دی. بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ، سوال: حدیث کښ راغلی دی چه جنت ته په عمل نه شی داخلیدلے بلکه په رحم دَ الله تعالیٰ به داخلیږی؟
جواب: یو توجیه دا ده چه هلته دَ رحمت نه مراد توحید دے او دے ایت کښ دَ مَا تَعْمَلُوْنَ نه مراد هم توحید دے بله توجیه دا ده چه رحمت سبب باطنی دے او عمل سبب ظاهری دے. بله توجیه دا ده چه رحمت سبب دَ دخول جنت دے او عملونه سبب دَ درجاتو دَ جنت دی. غِلٍّ دا بے اختیاره خفګان دے نوګناه نه دے په دے شرط چه حسد او بغض ته اونه رسیږی. مِنْ تَحْتِهِمُ لاندے دَ بنګلو دَ دوی نه یا لاندے دَ تصرف او اختیار دَ دوی نه.

أَصْحٰبَ النَّارِ أَنْ قَدْ وَجَدْنَا مَا وَعَدَنَا

اُور والو ته چه یقینًا موندلے دے موږه هغه (جنت) چه وعده کړے وه موږ

رَبُّنَا حَقًّا فَهَلْ وَجَدْتُّمْ مَّا وَعَدَ رَبُّكُمْ

رب زموږ حقه نو آیا اوموندو تاسو هغه (اور) چه وعده کړیده رب ستاسو

حَقًّا ۚ قَالُوْا نَعَمْ ۚ فَاَذَّنَ مُؤَذِّنٌۢ بَيْنَهُمْ

حقه اوبه وائی دوی هاؤ نو اعلان به اوکړی یو اعلان کوونکے په مینځ د دوی کښ

أَنْ لَّعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۴﴾ الَّذِيْنَ

چه لعنت د الله تعالیٰ دے په ظالمانو بانَدے، دا هغه کسان دی

لَقَدْ جَآءَتْ اه دا ذکر د سبب د حصول د جنت دے په طور د خوشحالئ سره او د دے جملے نه روستو عبارت پټ دادے" فاهتدینا" موږ هدایت اوموندلو. اُوْرِثْتُمُوْهَا ذکر د میراث او مراد ترینه استحقاق دے پشان د میراث چه حق د وارث دے او بعض مفسرینو ذکر کړیدی چه حدیث کښ راغلی دی چه د هر شخص د پاره په جنت او جهنم کښ منزلونه دی نو چه کافران جهنم ته داخل شول نو د هغوی منزلونه د جنت مؤمنانو ته په میراث کښ پاتے شول د دے وجے نه اورثتموها ئې ذکر کړو.

۴۴ د دے اوازونو د وجے نه د دے ورځ یونوم یوم التناد دے لکه په سورة مؤمن ۳۲ کښ دے او دیته یوم الاذان هم وائي. طاؤس هشام بن عبدالملک بادشاه ته اوئیل اِتَّقِ اللّٰهَ وَاحْذَرْ يَوْمَ الْاَذَانِ، هغه ورته اوئیل یوم الاذان څه ده نو دا ایت ئې ورته اولوستلو او هشام بے هوشه پریوتو. طاؤس اوئیل هذا ذلّ الصفة فکیف ذل المعائنة، یعنی دا ذلت د بیان نه پیدا شو نو د معائنے ذلت به څنګه وی او د دے ایت نه منادات شروع کیږی په څلورو طریقو سره اوله طریقه نداء د جنت والو ده جهنم والو ته او په دے کښ مقصد تخویف اخروی دے.

مَاوَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا مراد هغه دی چه د ۳۲ نه تر ۴۱ پورے تخویفات ذکر شول کافران به د هغے اقرار اوکړی او د هغے وعیدونو اختتام ئې په الظالمین سره کړے وو نو د لعنت سره ئې هم ظالمین ذکر کړو.

يَصُدُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَيَبْغُوْنَهَا

چه منع کول ئې خلق دَ لار دَ الله تعالیٰ نه او لټوونې په هغې کښ

عِوَجًا ۚ وَهُمْ بِالْاٰخِرَةِ كٰفِرُوْنَ ﴿٤٥﴾

کوږوالے (په شکونو اچولو) او دوی دَ اٰخرت نه منکر دی۔

وقف لازم

وَبَيْنَهُمَا حِجَابٌ ۚ وَعَلَى الْاَعْرَافِ رِجَالٌ

او په مینځ دَ دوی کښ به پرده وی او په اوچت ځائ دَ دے حجاب به څه کسان وی

يَّعْرِفُوْنَ كُلًّا ۢ بِسِيْمٰهُمْ ۚ وَنَادَوْا اَصْحٰبَ الْجَنَّةِ

چه پیژنی به هر یو لره په نخو دَ هغوی او اٰواز به اوکړی دوی جنت والاته

اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ ۣ لَمْ يَدْخُلُوْهَا

چه سلام دِ وی په تاسو بانده ے ته دی داخل شوی (دا اعراف والا) جنت ته

٤٥ دا تفسیر دَ هغه ظلم دے چه په هغې سره دوی مستحق دَ دغه عذابونو اوګرزیدل
عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ عام دے توحید، ایمان، قرآن او سنت ته دَ هغې نه منع کول غټ
ظلم دے۔

عِوَجًا په معنی دَ معـوجة دے یعنی لټوی کږه لار. یا یبغونها په معنی دَ یبغون
فیها دے عوجا په خپله معنی دے یعنی لټوی په دغه حقه لار کښ کوږوالے په
شبهاتو او طعنونو سره۔

شربینی دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل کړے دی چه مونځونه کوی دَ پاره
دَ غیرالله او تعظیم دَ هغه څیزونو چه الله تعالیٰ ورله تعظیم نه دے ورکړے او عوج
په زیر دَ عین سره استعمالیږی په دین او معنوی څیزونو کښ او په زور دَ عین
سره استعمالیږی په اجسامو کښ او دا سے اٰیت په سورة هود ١٩ کښ راغلے دے هلته ئې
دَ شهادتونو نه روستو ذکر کړے وُ نو دَ تاکید دَ پاره هم ضمیر ئې دوه کرته ذکر کړے دے.

وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ ﴿۴۶﴾ وَاِذَا صُرِفَتْ اَبْصَارُهُمْ

او دوی طمعه لری او کله چه واړولے شی نظرونه دَ دوی

تِلْقَآءَ اَصْحٰبِ النَّارِ قَالُوْا رَبَّنَا لَا تَجْعَلْنَا

طرف دَ اور والو ته دوی به او وائی اے ربه مهٔ گرځوے مونږ

مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ﴿۴۷﴾ وَنَادٰٓى اَصْحٰبُ الْاَعْرَافِ ۵۸/۱۲

سرهٔ دَ قوم ظالمانو نه (په اور کښ)۔ او آواز به او کړی اعراف والا

رِجَالًا يَّعْرِفُوْنَهُمْ بِسِيْمٰهُمْ قَالُوْا مَآ اَغْنٰى

غټه کسانو ته (په جهنم کښ) چه پیژنی به هغوی لره په نخو دَ هغوی او به وائی څه فائده در کړه

عَنْكُمْ جَمْعُكُمْ وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ ﴿۴۸﴾

تاسو ته جمع کولو ستاسو او هغه چه تاسو په هغے لوئی کوله۔

ف۴۶ دے حجاب نه سور (دیوال) هم وائي لکه سورة حدید ۱۳ کښ، او دَ دے پورته حصے ته اعراف وائي دَ دے ځائ نه دَ اعراف والو دوه نداگانے ذکر کوی اوله نداء جنت والو ته۔ دَ اعراف دَ اوسیدونکو په باره کښ دَ مفسرینو لس اقوال دی غوره قول په هغے کښ چه حدیث مرفوع ابن کثیر نقل کړے دے دا دے چه دا هغه خلق (مؤمنان) دی چه نیک اعمال او بد اعمال ئے برابر وی نو څه وخت پورے به دوی دَ جنت نه حصار کړے شی او دَ جهنم نه به ئے بچ ساتی لکه په دے آیت کښ لم یدخلوها ذکر دے بیا به ئے روستو جنت ته داخل کړی لکه چه په ف۴۹ کښ راځی۔ بِسِيْمٰهُمْ نخے دَ جنت والو سپین مخونه او لا سونه و خپے۔ او نخے دَ جهنم والو تور مخونه او زیړے سترگے اَنْ سَلٰمٌ عَلَيْكُمْ دا په طریقه دَ سلام تحیه سره دے یا جمله خبریه ده یعنی بچ ئے تاسو دَ آفاتو او دَ اور دَ جهنم نه۔ وَهُمْ يَطْمَعُوْنَ وجه دَ طمع دا ده چه دَ اُور والو سره ئے نه دی یو ځائ کړی نو طمع دَ جنت ئے پیدا شوه۔

ف۴۷ اشاره ده په صیغه دَ مجهول کښ چه دوی په خپله رضا سره جهنم طرف ته نه گوری الله تعالیٰ به دَ دوی مخونه بغیر دَ اختیار دَ دوی نه اُور طرف ته او گرځوی نو دوی به او ویریږی هسے نه چه الله تعالیٰ مونږ جهنم ته بوزی نو دُعا به او غواړی رَبَّنَا اه۔

ف۴۸ دا دویمه نداده دَ اعراف والو جهنمیانو ته۔ رِجَالًا مراد دَ دے نه مالداران او متکبرین دی چه منکرووُ دَ توحید نه۔ مَآ اَغْنٰى ما نافیه یا استفهامیه دے۔ جَمْعُكُمْ نه مراد جمع کول

أَهٰٓؤُلَآءِ الَّذِيْنَ أَقْسَمْتُمْ لَا يَنَالُهُمُ اللّٰهُ

(اوبه وائی ملائک کافرانو ته) آیا دا هغه کسان دی چه تاسو به قسم کوؤ چه اوبه نه رسوی دوی ته الله تعالیٰ

بِرَحْمَةٍ ۭ اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ لَا خَوْفٌ عَلَيْكُمْ

هیڅ رحمت (اوبه وئیلے شی اعراف والو ته) داخل شئ جنت ته نه به وی هیڅ یره په تاسو باندے

وَلَآ أَنْتُمْ تَحْزَنُوْنَ ﴿۴۹﴾ وَنَادٰٓى أَصْحٰبُ النَّارِ

او نه به تاسو خفه کیږئ. او آواز به اوکړی اور والا

أَصْحٰبَ الْجَنَّةِ أَنْ أَفِيْضُوْا عَلَيْنَا مِنَ الْمَآءِ

جنت والو ته چه راتوے کړئ په موږ باندے د اوبو (د جنت) نه

أَوْ مِمَّا رَزَقَكُمُ اللّٰهُ ۭ قَالُوْٓا إِنَّ اللّٰهَ حَرَّمَهُمَا

یا (را اوغورځوئ) د هغے نه چه درکړیدی تاسو ته الله تعالیٰ. دوی به اُوائی یقیناً الله تعالیٰ منع کړیدی دا دواړه

عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿۵۰﴾ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا دِيْنَهُمْ

په کافرانو باندے. (دا کافران) هغه کسان دی چه جوړ کړے وو دین خپل

د مالونو یا ډلے د ملکر و دی. وَمَا كُنْتُمْ تَسْتَكْبِرُوْنَ مراد د دے نه جاه د دنیا یا تابعداران (مریدان وغیره) دی.

۴۹ دا قول د ملائکو دے خطاب دے جهنم والو ته. اُدْخُلُوا دا قول د ملائکو دے اصحاب اعراف ته. أَقْسَمْتُمْ ا ه لکه په سورة انعام ۵۳ اوپه سورة تطفیف ۲۹ نه تر د ۳۲ پورے ذکر دی.

۵۰ دا خلورمه ندا ده هرکله چه اعراف والا د مینځ نه لرے شول. او دا آیت دلیل دے چه په جهنم والو باندے لوږه او تنده راوستلے شی او د جنت د نعمتونو نه دوی همیشه محرومه دی. مِمَّا رَزَقَكُمُ مراد د دے نه نور مشروبات د جنت دی نو افیضوا سره متعلق دے یا مراد د دے نه د خوراک څیزونه دی او القوا پټ دے. حَرَّمَهُمَا مراد د دے نه تحریم لغوی دے یعنی منع کول ځکه چه په قیامت کښ تحریم او تحلیل شرعی نیشته دے.

لَهْوًا وَّلَعِبًا وَّغَرَّتْهُمُ الْحَيٰوةُ الدُّنْيَا ۚ

مشغله او لوبے او دهوکه کړے وو دوی لره ژوند دنیوی

فَالْيَوْمَ نَنْسٰىهُمْ كَمَا نَسُوْا لِقَآءَ يَوْمِهِمْ

پس نن به هیر ګوو (پریږدو) دوی په عذاب کښ لکه څنګه چه هیر کړے وو دوی پیښی (ملاقات) د دے ورځے

هٰذَا ۙ وَمَا كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا يَجْحَدُوْنَ ﴿۵۱﴾

او (څنګه) چه وو دوی چه زموږ د ایتونو نه یئے انکار کوو.

وَلَقَدْ جِئْنٰهُمْ بِكِتٰبٍ فَصَّلْنٰهُ عَلٰى عِلْمٍ

او یقیناً راوړے دے موږ دوی ته کتاب په تفصیل بیان کړیدے موږ هغے لره په علم سره

هُدًى وَّرَحْمَةً لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۵۲﴾

هدایت دے او رحمت دے دپاره د هغه قوم چه ایمان لری.

ؔ د دے تفسیر سورة انعام ۷۰ کښ ذکر شوے دے او اسباب د عذاب دوه دی یو انکار د قیامت دویم د ایتونو نه انکار کول نو کَمَا کښ کاف تعلیلیه دے مَا مصدریه دے وَمَا كَانُوْا عطف دے په مَا نَسُوْا باندے. لَهْوًا وَّلَعِبًا شربینی فرق ذکر کړیدے لهو یعنی هغه کار چه مناسب نه دے هغے ته همت صرف کول او همت ورته صرف کړی نو او خوشحالی طلب کول په هغه څیز چه په هغے خوشحالی نه حاصلیږی دا لعب دے. او آلوسی وئیلی دی چه دواړه لفظونه شریک دی په اشتغال کښ په بے مقصده څیز باندے او فرق یئے دا دے چه لعب هغه دے چه مقصد په هغے کښ زړ مسرت حاصلول وی او لهو هغه څیز دے چه مشغولتیا پیدا کوی اګر چه خوشحالی پکښ نه وی.
فائده: په سورة انعام کښ لعب مخکښ کړے او په دے سورت کښ لهو مخکښ کړے ده وجه دا ده چه سورة انعام ۳۲ کښ لعب اول ذکر کړیدے نو د هغے په مناسبت سره په دے کښ هم اول ذکر کړو او په دے سورت کښ د مشرکانو په بربنډه باندے طواف او نور څیزونه حرامول ذکر کړل او هغه مشغولتیا ده او دوی ورته هم لوبے نه وئیلی نو د هغے په مناسبت سره لهو یئے دلته مخکښ ذکر کړو.
غَرَّتْهُمُ، غره غفلت دے په حال د بیدارئ کښ او طمع کول د انسان دی د اوږد عمر او خائسته ژوند او ډیر مال او حصول د جاه او د شهواتو د پاره او هغه سبب او ګرځی د غفلت د دین نه.
ؔ ترغیب دے قرآن ته او علت د هغه زجر دے چه مخکښ ایت کښ ذکر شوے دے

هَلْ يَنْظُرُوْنَ اِلَّا تَاْوِيْلَهٗ ؕ يَوْمَ يَاْتِيْ تَاْوِيْلُهٗ

انتظار نه کوی دوی مګر د عاقبت د انکار د ګتاب په کومه ورځ چه راځی عاقبت د انکار د ے

يَقُوْلُ الَّذِيْنَ نَسُوْهُ مِنْ قَبْلُ قَدْ جَآءَتْ

او وائی هغه کسان چه هیر کړے دے دا کتاب د مخکښ نه يقيناً راغلی وو

رُسُلُ رَبِّنَا بِالْحَقِّ ۚ فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ

رسولان د رب زمونږ په حق سره (لیکن مونږ او نه منل) نو آیا شته مونږ لره څه سفارشیان

فَيَشْفَعُوْا لَنَآ اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ غَيْرَ الَّذِيْ

پس چه سفارش اوکړی مونږ لره یا واپس کړیشو (دنیا ته) پس عمل به اوکړو غیر د هغه عمل نه

كُنَّا نَعْمَلُ ؕ قَدْ خَسِرُوْٓا اَنْفُسَهُمْ وَضَلَّ

چه مونږ کوؤ. يقيناً تاوان کښ واچول دوی ځانونه خپل او ورک به شی

عَنْهُمْ مَّا كَانُوْا يَفْتَرُوْنَ ﴿٥٣﴾ ع اِنَّ رَبَّكُمُ اللّٰهُ ١٤

د دوی نه هغه چه دوی دروغ جوړول. يقيناً رب ستاسو الله تعالیٰ دے

يعني مونږ دوی لره تفصيل د احکامو د پاره هدايت او رحمت دا کتاب راوړے دے
نو دوی ولے انکار کوی.

٥٣ دا هم بيره اخروی ده. تَاْوِيْلَهٗ ضمير کتاب ته راجع دے او مراد د تاويل نه
عاقبت د انکار د کتاب دے او هغه عاقبت (چه عذاب ابدی دے) ښکاره
کيږی به په ورځ د قيامت او قَدْ جَآءَتْ رُسُلُ الخ په دے کښ اشاره ده چه د قرآن
منکرين د ټولو رسولانو منکران دی او دا منکرين د مخکنو رسولانو د حال نه خبر شوی وؤ په
قرآن کښ يا ضمير د نَسُوْهُ راجع دے يَوْمَ ته نو پديکښ حال د مخکنو او روستنو ټولو
منکرينو دے. فَهَلْ لَّنَا مِنْ شُفَعَآءَ يعني دوی ته معلومه شوه چه د بچ کيدلو سبب خو يا
شفاعت دے يا د نيک عمل د پاره دنيا ته واپس کيدل او دا دواړه نشی کيدلے.
شُفَعَآءَ د دے نه سفارشيان قهری (يعني بے اذنه) مراد دی ځکه دا عقيده د مشرکانو
وه په باره د معبودانو خپلو کښ لکه چه په سورة يونس ١٨ کښ دی اَوْ نُرَدُّ فَنَعْمَلَ الخ
د دے جواب په سورة انعام ٢٨ او سورة مومنون ١٠٠ او سورة سجده ١٢ او سورة فاطر ٣٧ کښ

الَّذِیْ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ فِیْ سِتَّۃِ

هغه ذات چه پیدا کړی دی اسمانو ته او زمکه په (اندازه) د شپږ

اَیَّامٍ ثُمَّ اسْتَوٰی عَلَی الْعَرْشِ قف یُغْشِی

ورځو کښ بیا برابر شو (د خپل شان مناسب) په عرش پاندے اغوندوی

الَّیْلَ النَّهَارَ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا وَّالشَّمْسَ

شپه ورځ ته چه طلب کوی یو بل لره په تیزئ سره او پیدا کړے دے نمر

وَالْقَمَرَ وَالنُّجُوْمَ مُسَخَّرٰتٍۭ بِاَمْرِهٖ ؕ اَلَا لَهُ

او سپوږمئ او ستوری تابع کړے شوی دی د حکم د هغه. خبردار الله تعالیٰ لره

الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ ؕ تَبٰرَكَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۵۴﴾

پیدا کول دی او اختیار دے، برکات ورکوونکے دے الله تعالیٰ، پالونکے د عالمو دے.

شته دے. قَدْ خَسِرُوْٓا متعلق دے نرد فنعمل سره یعنی دوی خپل ژوند په ناکاره اعمالو کښ برباد کړے دے. وَضَلَّ الخ متعلق دے د شفعاء سره.

۵۴ د دے ځائے نه دویمه حصه د سورت ده په دے کښ درے بابونه دی اول باب تر ۱۰۳ پورے دے په دے کښ اول درے ایاتونو کښ مسئله د توحید ده په لس جملو سره او په هغے کښ تعریف د الله تعالیٰ دے په رد د شرك فی الربوبیت والخلق والأمر والبرکات او په دُعا سره. بیا یو مثال دے بیا د پنځه انبیاؤ واقعات اول درے او پنځمه واقعه کښ ذکر دی چه دے انبیاؤ مسئله د توحید په بهادرئ سره بیان کړے وه او څلورمه واقعه کښ ذکر دی چه لوط علیه السلام د الله تعالیٰ نازل کړے شوی حکم ته خپل قوم را اوبللو او د شیطان د تابعدارئ نه ئے خلق منع کړل او اخر کښ ایاتونه کړ دے قصو سره تعلق لری او ابتلاء بالنعم والنقم ذکر کوی. ربط د ماقبل سره دا دے چه مخکښ اوئیلے شو چه د دوی شفعاء فائده نشی ورکولے ځکه چه هغوی معبودان نشی کیدلے معبود خو صرف الله تعالیٰ دے چه موصوف دے په دے صفتونو سره. د دے ایت حاصل دا دے چه الله تعالیٰ ستاسو رب (۱) دے خالق (۲) دے عرش والا (۳) دے نظام چلوونکے (۴) دے هر څه (۵) د هغه د حکم د لاندے دی اختیار (۶) منددے برکات ورکوونکے دے. اِنَّ رَبَّكُمُ شربینی

وئیلي دي چه رب په معنی د سیّد اومولا او مصلح د کارونو او فائده رسوونکي او مصیبتونه دفع کوونکي دے. فِيْ سِتَّةِ اَيَّامٍ مراد د دے نه ورځے د اٰخرت دي چه هره ورځ زر کاله ده ابن کثیر وئیلي دي چه دا قول د مجاهد او د ضحاك دے د ابن عباسؓ نه یې روایت کوي یا مراد د دے نه ورځے د دنیا دي.

سوال: ورځے د دنیا د نمر د ختلو او پریوتلو نه معلومیږي او هغه خو په دغه وخت نه وو پیدا شوے؟

جواب: مراد د دے نه مقدار د شپږو ورځو دے لکه په دے قول د الله تعالیٰ کښ لَهُمْ فِيْهَا رِزْقُهُمْ بُكْرَةً وَّعَشِيًّا. او دا شپږ ورځے سورة حٰم سجده ۱۰ کښ ذکر دي اوله ورځ د اتوار ده او په جمعه باندے ختم شویدے او د خالي ورځ خالي ده یعني پیدائش د زمکے اسمانونو وغیره یې په شپږو ورځو کښ کړے وو او د خالي (شنبې) ورځ هم د غسے پاتے وه. او کوم حدیث چه مسلم په باب د خلق اٰدم کښ راوړے دے چه په هغے کښ ابتدا د خلق د خالي ورځ ده او ټولے ورځے د پیدائش اووه دي نو هغے باندے ابن کثیر رد کړے دے. ثُمَّ اسْتَوٰى عَلَى الْعَرْشِ دا د هغه صفاتو نه دے چه په معنی سره محکمات دي ځکه چه معنی ظاهري یې معلومه ده او په اعتبار د کیفیت سره متشابهات دي یعني کیفیت یې مجهول دے لکه چه د عرش معنی معلومه ده او حقیقت یې معلوم نه دے دارنګ استواء او علو د الله تعالیٰ معنًا معلومه ده لیکن کیفیت یې معلوم نه دے نو عرش او استواء او اوچت والے معنی ظاهري مراد ده بغیر د تشبیه او تمثیل او تاویل او تکییف او تجسیم نه او دا مذهب د سلف صالحینو دے په ټولو متشابهاتو کښ د امام مالك اوزاعي، ثوري، لیث، شافعي، احمد، او اسحاق بن راهویه امام ابوحنیفه وغیرهم. د امام مالك مشهور قول دا دے چه الاستواء غیر مجهول والکیف غیر معلوم والایمان به واجب والسوال عنه بدعة. د نعیم بن حماد (د بخاري استاد) نه روایت دے چه چا الله تعالیٰ مشابه کړو د مخلوق سره نو کفر یې اوکړو او چا چه د الله تعالیٰ د یو صفت نه انکار اوکړو نو کفر یې اوکړو او قول د سلف صالحینو تفویض نه دے ځکه چه تفویض په صفاتو کښ دا دے چه د استواء او ید وغیره ښکاره معاني (لغوي حقیقي) نه مني یعني متشابه معنی او کیفیة یې ګڼړي او قول د سلف کښ معنی حقیقي لغوي سره به تعبیر کیدے شي لیکن کیفیت نه به بحث نه کیږي او د دے مسئلے زیات تفصیل او سوال وجواب د شیخ الاسلام په

فتاوی جلد ۵ او جلد ۳ او د ابن قیم کتاب الصواعق المرسله او د امام ذهبی مختصر کتاب العلو او نورو ډیر کتابونه د سلف صالحینو کښ اوګورئ او ایتونه د استواء په قرآن کریم کښ په ګڼړو سورتونوکښ دی یونس ۳ رعد ۲ طٰهٰ ۵ فرقان ۵۹ حم سجده ۴ حدید ۴ . او څوک چه د دے تاویل کوی په بادشاهئ سره یا د استولٰی معنی کوی په استولٰی سره نو شربینی په هغې باندے ردکړے دے چه دا شاذ قول دے دویم داچه دا د حقیقت نه مجازته اوړیدل دی او کوم شعرونه چه پیش کیږی چه استوٰی په معنٰی د استولٰی دے په هغې باندے ردکړے دے او د دے مسئلے تفصیل څما په یو مستقله رساله (غیر مطبوعه) کښ شته۔

یُغْشِی الَّیْلَ النَّهَارَ دا جمله دواړو طرفونو ته شامل ده مراد د دے نه تصرف انقلابی زمانی دے چه دا د الله تعالیٰ په اختیار کښ دے۔ یَطْلُبُهٗ حَثِیْثًا یعنی په مینځ کښ داسے وخت نه راځی چه نه شپه وی او نه ورځ وی۔ وَالشَّمْسَ الخ عطف دے په السموات باندے د خلق د لاندے دے۔ مُسَخَّرٰتٍ یعنی تابع کړے شویدی د هغه حالاتو چه الله تعالیٰ ترینه اراده لری ښکاره کیدل۔ پټیدل۔ کسوف او خسوف راتلل اولرے کیدل نزدے کیدل وغیره۔ اَلَا لَهُ الْخَلْقُ وَالْاَمْرُ مخکښ صرف خلق د امور خاصو ذکر کړے دے او په دے جمله کښ عام خلق او په طریقه د حصر سره ذکر کړیدے د پاره د افادے د توحید۔ وَالْاَمْرُ ټول تصرفات تکوینیه او تشریعیه دی نو کلام الله هم امر دے سفیان بن عیینه نه نقل دے چه امر کلام الله دے او معطوف دے په الخلق باندے او عطف مغایرت غواړی نو معلومه شوه چه کلام الله مخلوق نه دے او دا مذهب د سلف صالحینو دے او ابن جریر او ابن کثیر دلته حدیث د پلار د عبدالعزیز الشامی نه نقل کړے دے وَمَنْ زَعَمَ اَنَّ الله تعالیٰ جَعَلَ لِلْعِبَادِ مِنَ الْاَمْرِ شَیْئًا فَقَدْ کَفَرَ بِمَا اَنْزَلَ الله تعالیٰ عَلٰی اَنبیاءِه

ترجمه: چاچه عقیده اوساتله چه الله تعالیٰ ورکړیدے بندګانو له د خپل اختیاراتو نه څه حصه نو هغه کفر اوکړو په هغه کتابونو چه الله تعالیٰ نازل کړیدی په خپلو انبیاؤ علیهم السلام باندے۔ تَبٰرَكَ دا صفت خاص دے په الله تعالیٰ پورے دا رنګ مبارک لفظ په زیر د ر سره الله تعالیٰ پورے خاص دے او مبارک په زور د ر سره الله تعالیٰ ته نه شی وئیلے کیدے۔ برکت وئیلے کیدیشی فائدے پیدا کول د آسمان او د زمکے او نمر سپوږمئ وغیره فائدے او دا رنګ فائدے زیاتول او پیدا کوونکے د هر څه الله تعالیٰ دے نو د فائدو پیدا کوونکے

اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً ؕ اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ

دُعا غواړئ دَ رب خپل نه په عاجزئ او په پټه يقيناً الله تعالىٰ مينه نه کوی

الْمُعْتَدِيْنَ ﴿۵۵﴾ ج وَلَا تُفْسِدُوْا فِي الْاَرْضِ

دَ حد نه تيروتونکو سره. او وراني مه کوئ (په شرک کولو سره) په زمکه کښ

هم الله تعالىٰ دے نو برکت ورکوونکے صرف الله تعالىٰ دے او دا صيغه په قرآن کښ
اته کرته ذکر ده او تفصيل دَ دے په تنشيط الاذهان کښ مونږ ذکر کړے دے.
۵۵ دا رد دے په شرک دَ دُعا باندے تفريع ده په ما قبل باندے چه مالک او اختيارمند
او برکت ورکوونکے صرف الله تعالىٰ دے نو رامداد شه وئيل او حاجت غوښتل
هم په هغه پورے خاص دی او دے آيت کښ دَ دُعا رُکن او شرطونه ذکر دی
رکن دا دے چه خاص دَ رب نه غواړئ او شرطونه ظاهری تضرع او په پټه سره
غوښتل او اعتداء نه کول يعنی دَ طريقے دَ نبی صلی الله عليه وسلم نه خلاف کول
اعتداء ده. اُدْعُوْا مراد دَ دے نه سوال او دُعا ده چه خاص قسم دَ عبادت دے (خازن
سراج المنير) - تَضَرُّعًا عاجزی او تذلل په ظاهری اندامونو سره چه پيدا کيږی
دَ خشوع دَ زړه نه او دَ پوره يقين نه په وحدانيت او ربوبيت دَ الله تعالیٰ سره (ابن کثير)
وَخُفْيَةً په ژبه سره په غير دَ اوچت والی دَ آواز نه او دَ حسن بصری نه روايت دے
چه صحابه کرامو به کوشش کوؤ په دعا کښ او آواز دَ هغوی به او ريدے نشو په
غير دَ نری آواز نه او دا ادب سنت دَ زکريا عليه السلام دے لکه په سورة مريم ۳
کښ دی. ټولو مفسرينو او فقهاؤ دَ دے آيت نه استدلال کړيدے چه رفع دَ صوت
په ذکر او په دعا سره په غير دَ مواضعو شرعيه نه بدعت دے.

اِنَّهٗ لَا يُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ په دے کښ دريم شرط دَ دُعا دے په پټ عبارت سره يعنی
وَلَا تَعْتَدُوْا او اِنَّهٗ لَا يحب دَ دے علت دے او اعتداء دَ حدودو شرعيه نه تجاوز
کولو ته وئيلے شی نو دَ اعتداء په دعا کښ مختلف صورتونه دی (۱) په الفاظو کښ لکه
څوک اللهم انت السلام الاکښ دا الفاظ زيات کړی "حينا ربنا بالسلام اه" (۲) په رفع صوت
او جهر کولو سره (۳) په مطلوب کښ لکه چه قَصْرِ اَبْيَض په يَمِيْن (سپينه ماڼئ
په ښی طرف دَ جنت کښ) دَ جنت کښ غواړی (حديث) (۴) اجتماعی شکل په هغه
مونځونو کښ چه جمع په هغے کښ په دليل شرعی سره ثابت نه وی لکه فرض او سنت
مونځونه روستو او جنازے پسے په جمع دعا کانے کول (۵) لا سونه اوچتول

بَعْدَ اِصْلَاحِهَا وَادْعُوْهُ خَوْفًا وَّطَمَعًا ؕ

پس دَ اصلاح دَ هغې نه (په توحيد سره) او دُعا غواړئ دَ الله تعالیٰ نه په يره او طمعې سره

اِنَّ رَحْمَتَ اللّٰهِ قَرِيْبٌ مِّنَ الْمُحْسِنِيْنَ ﴿۵۶﴾

يقيناً رحمت دَ الله تعالیٰ نيزدې دې خائسته عمل کوونکو ته۔

وَهُوَ الَّذِيْ يُرْسِلُ الرِّيٰحَ بُشْرًاۢ بَيْنَ

او خاص الله تعالیٰ هغه ذات دې چه راليږي هوا ګانې زيرې ورکوونکې مخکښې

يَدَيْ رَحْمَتِهٖ ؕ حَتّٰۤى اِذَاۤ اَقَلَّتْ سَحَابًا

دَ رحمت دَ هغه نه تر هغې چه کله راپورته کړي وريځې

ثِقَالًا سُقْنٰهُ لِبَلَدٍ مَّيِّتٍ فَاَنْزَلْنَا بِهِ الْمَآءَ

درنې (په اُوبو) بوځو موږ هغه زمکې اوچې ته پس را اوروؤ موږ په هغې باندې اوبه

فَاَخْرَجْنَا بِهٖ مِنْ كُلِّ الثَّمَرٰتِ ؕ كَذٰلِكَ

نو را اوباسو په هغې سره هر قسم ميوې دغسې

په هغه ځايونو کښې چه ثابت نه وي اولا سونه په عامو دعاګانو کښې دَ حد نه زيات پورته کول.
۵۶ دې ايت کښې رد دې په شرک باندې ځکه فساد په معنیٰ دَ شرک دې او
اصلاح په معنیٰ دَ توحيد ده او دا دوه شرطونه ئې ذکر کړه خوف او طمع چه دَ باطن
سره تعلق لري. رَحْمَتَ نه مراد دلته قبلول دَ دُعا او ثواب دې. مُحْسِنِيْنَ هغه
خوک دي چه عمل په عقيده دَ توحيد او په طريقه دَ سنت سره کوي او دا رنګ
لَا تُفْسِدُوْا اه دا لفظ عام دې افساد دَ نفوسو په قتل سره او افساد دَ مالونو په
غصب او غلا کولو سره او افساد دَ دين په کفر او شرک او بدعت سره او افساد دَ
نسبونو په زنا او عمل دَ قوم لوط سره او اِصْلَاح نه مراد په راليږلو دَ انبياؤ او دَ کتابونو
الهيو سره ده. خَوْفًا وَّطَمَعًا دا دواړه په دُعا دَ صالحينو کښې په سورة السجده ۱۶
کښې ذکر دي او دَ باران په وخت کښې په سورة رعد ۱۲ او دَ برق په وخت په سورة
روم ۲۴ کښې ذکر دي. رَحْمَتَ اللّٰهِ رحمت په ډير معانو سره دې دلته معنیٰ دَ
دعا قبلول دي. قَرِيْبٌ مذکر راوړې دې ځکه چه رحمت الله تعالیٰ ته مضاف دې

نُخۡرِجُ الۡمَوۡتٰی لَعَلَّکُمۡ تَذَکَّرُوۡنَ ﴿۵۷﴾ وَالۡبَلَدُ

را اوباسو به مړی (دَقبرونونه) دے دَپاره چه نصیحت واخلئ۔ او زمکه

الطَّیِّبُ یَخۡرُجُ نَبَاتُهٗ بِاِذۡنِ رَبِّهٖ ۚ وَالَّذِیۡ

خوږه (ښه) را اوځی بوټی دَ هغے نه په حکم دَ رب دَ هغے او هغه زمکه

خَبُثَ لَا یَخۡرُجُ اِلَّا نَکِدًا ؕ کَذٰلِکَ نُصَرِّفُ

چه خوړه وی (ایکاره) نه را اوباسی مګر بے کاره بوټی دغسے قسم قسم بیانوو مونږ

الۡاٰیٰتِ لِقَوۡمٍ یَّشۡکُرُوۡنَ ﴿۵۸﴾ ع لَقَدۡ اَرۡسَلۡنَا ع ۷ ۱۵ ۱۳

ایتونه هغه قوم لره چه شکر کوی۔ یقینًا لیږلے دے مونږ

نوپه دےکښ ادب دے یارحمت په معنی دَ ثواب دے یادَ دے وجے نه چه تانیث دَرحمت حقیقی نه دے۔

۵۷ ۵۸ دا یو دلیل دے دَ توحید عطف دے په دے قول باندے یُغشی الیل اومثال هم دے دَپاره دَقرآن اودَ بیان دَ توحید لکه څنګه چه دَ باران نه مخکښ هواوی اودرنے وریځے وی دغسے دَ قرآن نه مخکښ کتابونوکښ بشارتونه وودَ قرآن اودَ رسول په باره کښ او په ابتداءکښ مشرکینو ډیرے سختے مقابلے اوتیرے جوړے کړے وے اوڅنګه چه زمکے دوه قسمه وی دَ یو نه په باران سره فائدے والا بوټی را اوځی اودَ بل قسم نه بے کاره بوټی را اوځی دغسے دَقرآن بیان بعضِ خلقونه فائده ورکوی او بعضوته نقصان۔ کَذٰلِکَ نُخۡرِجُ الۡمَوۡتٰی په دے سره اثبات دَ قیامت دے په طریقه دَقیاس کولو۔ بل داچه هرکله چه انسان دَ زمکے فصل ته اوګوری نو هسے نه چه دَخوشحالئ دَ وجے نه دوباره ژوند هیرکړی نو ورسره یئے دا ذکرکړو دَپاره دَذکر دَ اٰخرت۔ رِیَاحَ څلورقسمونه دی صبا وریځے را اوچتوی شمال وریځے جمع کوی جنوب وریځے ګرځوی دبور وریځے جدا جدا کوی۔ بُشۡرًا لکه په سوره روم ۴۵ کښ۔ الثَّمَرٰتِ هرقسم امدنئ دَ زمکے ته عام دے غلے، میوے، معدنیات وغیره۔ لِقَوۡمٍ یَّشۡکُرُوۡنَ یعنی هغه خلق چه دا نعمتونه الله تعالیٰ ته نسبت کوی او نفع اخلی په اوریدلو دَقرآن سره او توحید اوطاعت قبلوی۔

نُوۡحًا اِلٰى قَوۡمِهٖ فَقَالَ يٰقَوۡمِ اعۡبُدُوا

نوح علیه السلام قوم دَ هغه ته پس وے وئیل اے زما قومه بندګی خاص کړئ

اللّٰهَ مَا لَكُمۡ مِّنۡ اِلٰهٍ غَيۡرُهٗ ؕ اِنِّىۡۤ اَخَافُ

الله تعالی لره نیشته تاسو لره څوک معبود سیوا دَ الله تعالی نه یقینًا زهٔ یریږم

عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ ۵۹ قَالَ الۡمَلَاُ

په تاسو باندے دَ عذاب دَ ورځے لوئے نه۔ اوئیل غټانو

مِنۡ قَوۡمِهٖۤ اِنَّا لَنَرٰكَ فِىۡ ضَلٰلٍ مُّبِيۡنٍ ۶۰

دَ قوم دَ هغه نه یقینًا موږ وینو تا لره په ګمراهئ ښکاره کښں۔

ف۵۹ ددے ایت نه واقعات دَ شپږو انبیاء علیهم السلام ذکر کوی چه تعلق لری دَ دریے واړو دعوؤ دَ سورت سره لیکن اول دریے ښکاره تعلق لری دَ دریمے دعوے سره چه اثبات دَ توحید دے۔ اوهرے قصے خلاصه دریے اموردی اول دعوت دَ نبی دویم تکذیب دَ قوم دریم نزول دَ عذاب په هغوی باندے اوربط دَ دے دَ مخکښں ایت سره دا دے لکه چه موږ هوا کانے لیګو دَ باران سره دَ اختلاف دَ زمکونه نو دا رنګ لیږلے دی موږ انبیاء دَ شرع سرهٔ دَ اختلاف دَ قوم نه چا تصدیق اوکړو اوچا تکذیب دا واقعه اول دلیل نقلی دَے په مسئله دَ توحید فی العبادت باندے اشاره ده چه دا دَ ټولو انبیاؤ اتفاقی مسئله ده نوح علیه السلام اول رسول وؤ چه دَ مشرکینو دَ مقابلے دَ پاره رالیږلے شوے وؤ دَ دهٔ نه مخکښں هم انبیاء وؤ لیکن دَ شرک سره ئے مقابله نه وه نور اصلاحی احکامو باندے رالیږلے شوے وؤ۔ اِلٰى قَوۡمِهٖ دا دلیل دے چه نوح علیه السلام دَ ټولو انسانانو دَ پاره رسول نه وؤ صرف دَ خپل قوم وؤ لیکن هغه وخت په ټوله زمکه صرف دغه خلق وو نور څوک نه وو دے وجے نه مشهوره ده چه هغه هم ټولو خلقو ته مبعوث وو په حقیقت کښں دا خصوصیت زمونږ دَ نبی اخرالزمان صلی الله علیه وسلم دے او په دے ایت کښں ذکر دَ دعوت او دَ تخویف دے۔ اِلٰهٍ په معنیٰ دَ حقدار دَ بندګئ دے نو دا تفریع ده په امر باندے یا مراد دَ اله نه واکدار متصرف دے نو دا علت دے دَ امر چه اعبدوا دے او دا دلیل دے چه مراد دَ اعبدوا نه توحید دے۔ عَذَابَ يَوۡمٍ عَظِيۡمٍ دَ دنیا او دَ اخرت دواړو ته شامل ده۔

ف۶۰ په دے ایت کښں تکذیب دَ قوم ئے ذکر کړو اِنَّا لَنَرٰكَ یعنی توحید ته دعوت کول

قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ ضَلٰلَةٌ وَّلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ

اوئيل هغه اے قومه زما نيشته په ما باندے گمراهي ليکن زهٔ رسول يم

مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦١﴾ اُبَلِّغُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّيْ

دَ طرف دَ رب العٰلمين نه. رسوم تاسو ته پيغامونه دَ رب خپل

وَاَنْصَحُ لَكُمْ وَاَعْلَمُ مِنَ اللّٰهِ مَا لَا تَعْلَمُوْنَ ﴿٦٢﴾

او خير لمتوم ستاسو او پوهيږم دَ طرف دَ الله تعالىٰ نه په هغه څه چه تاسو پرے نه پوهيږئ.

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

ايا تعجب کوئ تاسو چه راغلے ده تاسو ته وحى دَ طرف دَ رب ستاسو نه

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُوْا

په يو سړى باندے ستاسو نه دے دَپاره چه اوبروى تاسو او چه بچ شئ دَ شرک نه

اودَ پنځو (ود، سواع، يغوث، يعوق اونسر) دَ بندګئ نه منع کول دا ګمراهي ده نو اهل حق ته دَګمراهئ اودَکم عقل والى وغيره بد نسبتونه دَ زړوکافرانو عادت دے. اَلْمَلَاُ دَقوم غټان اومالدار نسب دارخلق چه په هغوى سره مجلسونه ډک ښکارى يا هغوى ډک وى دَدنيا په مالونو اواقتدار سره دلته دَ ملاء سره كفروا نه دے ذکر کړے اشاره ده چه هغه ټول کافران وو.

٦١ دا جواب دے دَ طرف دَ نوح عليه السلام نه قوم ته ليکن ډير په نرمه طريقه سره. ضَلٰلَةٌ په جنس باندے دلالت کوى په خلاف دَ لفظ ضلال. نو نفىٔ دَ جنس سره نفى کامله راځى. وَلٰكِنِّيْ رَسُوْلٌ دَ توحيد دَ بيان سره دا دعوىٰ دَ رسالت ده.

٦٢ دا هم په جواب کښې داخل دے په ذکر دَ درے احوالو دَ رسول سره اول ابلاغ دويم نصيحت (خيرخواهي او اخلاص) دريم علم دَ وحى. مِنَ اللّٰهِ دليل دے چه علم دَ نبى صرف دَ الله تعالىٰ دَ طرف نه وى. مَا لَا تَعْلَمُوْنَ او علم دَ نبى دَ اُمت نه زيات وى ځکه چه په وحى سره وى.

وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ ﴿٦٣﴾ فَكَذَّبُوْهُ فَاَنْجَيْنٰهُ

او د پاره د دے چه رحم او کړیشی په تاسو باندے. پس دوی دروغژن اوګڼل هغه ته نو بچ کړو مونږ هغه او

وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ فِى الْفُلْكِ وَاَغْرَقْنَا

او هغه خوک چه د هغه سره وو په کشتئ کښ او غرق کړل مونږه

الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا ؕ اِنَّهُمْ كَانُوْا

هغه کسان چه دروغژن کړی وو آیاتونه زمونږ یقینًا دوی وو

قَوْمًا عَمِيْنَ ﴿٦٤﴾ ع وَاِلٰى عَادٍ اَخَاهُمْ هُوْدًا ؕ ٨ ع ٦ ١٥

قوم ړانده ؤ - او اولیږلو مونږ عادیانو ته رور د هغوی هود (علیه السلام)

سـ٦٣ د مخکښ نه د منکرینو په ذهن کښ داوه چه د رسالت او بشریت په مینځ کښ منافات دے نو داوهم د دے قومونو بلکه د دوی داقول په سورة مؤمنون سـ٢٤ کښ هم ذکر دے او داعقیده اوس هم په باطل پرستوکښ شته دے چه د نبی د بشریت نه انکار کوی لیکن موجوده منکرینو نبی نه دے لیدلے نو وائی نبی ووخو بشر نه وؤ او مخکنو خلقوخو انبیاء لیدلے وؤ او ورته معلومه وه چه دا بشر دی نو د هغوی د نبوت نه ئے انکار کوؤ نو سبب د انکار د ټولو یو دے چه هغه منافات دے په مینځ د بشریت او نبوت کښ او دا کفر دے. لِيُنْذِرَكُمْ دا فائده د رسالت ده په ترتیب سره یعنی رسالت د پاره د انذار دے او انذار سبب د تقوٰی دے او تقوٰی سبب د رحم الهی دے او دا آیت دلیل دے چه انبیاء علیهم السلام بشر اوسړی وی.

سـ٦٤ په دے آیت کښ دوام د تکذیب ذکر شو یعنی تمادوا (همیش والے او کړو دوی په تکذیب باندے) وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ د دوی تعداد کښ ډیر اقوال دی راجح داده چه شپږ کسان وؤ درے ځامن د هغه سام حام یافث او درے د هغوی بیبیانے وے الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا اه دا لفظ دلیل دے چه طوفان د وخت د نوح علیه السلام په ټوله زمکه باندے نه وو صرف د هغه د قوم په علاقه باندے وو او هغه علاقه د عراق وه ځکه چه په هغه وخت کښ په زمکه باندے نور خلق آباد نه وؤ ماسیوا د دغه قوم نه نو دا خبره چه مشهوره ده چه طوفان په ټوله زمکه باندے

قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ

اوئیل دهٔ اے قومه زما بندگی خاص کړئ الله تعالیٰ لره نیشته تاسو له

اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ ﴿۶۵﴾ قَالَ الْمَلَاُ

مددګار سیوا دَهغه نه ایا پس نه بچ کیږئ دَ شرک نه۔ اووئیل غټانو

الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖٓ اِنَّا لَنَرٰىكَ

چه کفر ئے کړے وو دَ قوم دَ هغه نه یقینًا مونږ خامخا وینو تا لره

فِيْ سَفَاهَةٍ وَّاِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ الْكٰذِبِيْنَ ﴿۶۶﴾

په کم عقلتیا کښ او یقینًا ګمان کوو مونږ په تا باندے دَ دروغژنو نه۔

راغلے وؤ مراد دا دے چه هغه ټوله زمکه (چه انسان پرے اباد وؤ) او دا رنګ چاچه اثار دَدے طوفان موندلے دی نو صرف په زمکه دَ عراق کوه ارارات دَ موصل سره نزدے ئے موندلے دی۔ اِنَّهُمْ كَانُوْا دا علت دَ عذاب دے۔ عَمِيْنَ نه مراد دَ زړونو ړوند والے دے لکه په سورة حج ۴۶ کښ دی۔

۶۵ دا دویم دلیل نقلی دَ توحید دے۔ عاد دَ اولاد دَ سام بن نوح نه وو په پنځه پُشته کښ او هود دَ عاد په اولاد کښ وو په درے پُشته کښ بیا عاد دَ ټولے قبیلے نوم شو۔ اَخَاهُمْ مراد دَ اخوت نه نسبی وؤ یعنی په قومیت کښ ورسره شریک وؤ او کله اخوت په معنیٰ دَ خیرخوائی سره وی۔ اَفَلَا تَتَّقُوْنَ سره تخویف ذکر دے سوال: په اوله قصه کښ فقال وؤ او دلته قال دے۔

جوابٔ: فا اشاره ده اتصال او دوام ته یعنی نوح علیه السلام دَ مبعوث کیدلو سره متصل او همیشه دعوت شروع کړے وؤ او دا دَ هغه خصوصی فضیلت وؤ۔

جوابٔ: فا دَ تفصیل دَ پاره ده او دلته قال جمله مستانفه ده جواب دَ سوال دے چه څه ئے اوئیل نو جواب اوشو چه قال اه۔

۶۶ دا تکذیب دے دَ طرف دَ قوم نه او اشاره ده چه چا توحید بیان کړے دے نو هغه ته کم عقل او دروغژن وئیلے شویدی۔ اَلَّذِيْنَ كَفَرُوْا په دے کښ اشاره ده چه دَ هغه دَ قوم نه بعض غټانو ایمان راوړے وؤ۔ فِيْ سَفَاهَةٍ دَ عقل او پوهے او دَ رائے کمزوروالی ته وئیلے شی دا لفظ متعلق دے دَ مسئلے دَ اُعْبُدُوْا سره

قَالَ يٰقَوْمِ لَيْسَ بِيْ سَفَاهَةٌ وَّلٰكِنِّيْ

اوئیل دهٔ اے قومه زما نیشته په ما باندے هیځ کم عقلتیا لیکن زهٔ

رَسُوْلٌ مِّنْ رَّبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿٦٧﴾ اُبَلِّغُكُمْ

رسول یم دَ طرف دَ رب العالمین نه۔ رسوُم تاسو ته

رِسٰلٰتِ رَبِّيْ وَاَنَا لَكُمْ نَاصِحٌ اَمِيْنٌ ﴿٦٨﴾

پیغامونه دَ ربِ خپل او زهٔ تاسو لره خیرخواه امانت دار یم۔

اَوَعَجِبْتُمْ اَنْ جَآءَكُمْ ذِكْرٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ

آیا تعجب کوئ تاسو چه راغلے دہ تاسو ته وحی دَ طرف دَ رب ستاسو نه

عَلٰى رَجُلٍ مِّنْكُمْ لِيُنْذِرَكُمْ ۚ وَاذْكُرُوْٓا

په یو سړی باندے ستاسو نه دَپاره دَدے چه اویروی تاسو لره او یاد کړئ

اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْ بَعْدِ قَوْمِ نُوْحٍ

کوم وخت چه جوړ کړئ تاسو الله تعالیٰ آبادوُنکی دَ زمکے پس دَ قوم دَ نوح نه

او مِنَ الْكٰذِبِيْنَ متعلق دے دَ نتقون سره چه په هغے کښ عذاب راتللو ته اشاره ده۔

ـ٦٧ اشاره ده چه رسول کمعقل نه وی بلکه دَ هغه عقل او علم دواړه کامل وی او په دے کښ دعوٰی دَ رسالت دَ هغه ذکر ده۔

ـ٦٨ په دے کښ درے اوصاف دَ رسول ذکر دی. نَاصِحٌ اَمِيْنٌ په صیغه دَ اسمِ فاعل سره اشاره ده شهرت دَ دے صفاتو ته عمومًا. یا نَاصِحٌ په دعوت دَ توحید کښ او اَمِيْنٌ په دعوٰی دَ رسالت کښ.

سوال: په باره دَ نوح علیه السلام کښ اَنْصَحُ فعل ذکر ووُ؟

جواب: فعل دلالت کوی په تجدد باندے یعنی دَ هغه دعوت په نوے نوے طریقه سره ووُ لکه چه په سورة نوح کښ ذکر دی. او هر کله چه وصف دَ سفاهة کښ خیانت ته اشاره ده ځکه کمعقل سړے پوره خبره نه کوی نو دَ هغوی په رد کښ ئے دَ هودؑ دَپاره اَمِيْنٌ لفظ زیات کړو۔

وَّزَادَكُمْ فِى الْخَلْقِ بَصْۜطَةً ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ

او زیات ئې کړه تاسو لره په پیدائښت کښې فراخي نو یادکړئ نعمتونه د

اللّٰهِ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۶۹﴾ قَالُوْٓا اَجِئْتَنَا

الله تعالٰی دے د پاره چه کامیاب شئ تاسو ۔ اوئیل دوی آیا ته راغلے ئې مونږ ته

لِنَعْبُدَ اللّٰهَ وَحْدَهٗ وَنَذَرَ مَا كَانَ يَعْبُدُ

دے د پاره چه مونږ بندگي اوکړو د یو الله تعالٰی او پریږدو هغه کسان چه بندگي کوله

اٰبَآؤُنَا ۚ فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اِنْ كُنْتَ مِنَ

مشرانو زمونږ پس راوړه مونږ ته هغه (عذاب) چه ته یروے مونږ که ته ئې د

الصّٰدِقِيْنَ ﴿۷۰﴾ قَالَ قَدْ وَقَعَ عَلَيْكُمْ

رشتینو نه ۔ اوئیل دهٔ یقینًا لازم شوے دے په تاسو باندے

ت۶۹ دهٔ باندے دا اعتراض وو چه ته بشر ئې او سړے ئې نو څنګه رسول شوے لکه چه په سورة ابراهیم ت۱۰ او سورة مؤمنون ت۳۳ کښې ذکر دے نو هغه ورته جواب ورکړو اَوَعَجِبْتُمْ سره ۔ بَصْطَةً ډیروالے د نسل مراد دے یا غټ والے د بدن سرهٔ د دنګ والی د قد نه مراد دے ۔ د حدیث صحیح نه معلوم ده چه د آدم علیه السلام قد شپیته ذراعه وو او اولاد به ئې د هغه نه کمیږی نو کوم اسرائیلی روایات چه د عادیانو په باره کښې راغلے دی چه هغوی سل ذراعه وو یا په دوی کښې عوج نوم والا سړے آسمان ته رسیدلو دا روایات بے اعتباره دی ۔ لِيُنْذِرَكُمْ هرکله چه د دهٔ بیان کښې اَفَلَا تَتَّقُوْنَ مخکښې ذکر وؤ د دے وجے نه دلته ئې لِتَتَّقُوْا ذکر نه کړو ۔
وَاذْكُرُوْٓا دا تاکید د دعوت دے په ذکر د نعمتونو سره د پاره د ترغیب ۔
فَاذْكُرُوْٓا اول ذکر په معنٰی د یادداشت دے او دا ذکر په معنٰی د شکر کولو دے ۔
اَلْآءَ لوئے او ښکاره نعمتونو ته وئیلے کیږی ۔

ت۷۰ دا طریقه د تکذیب د هغوی وه یعنی د توحید نه تعجب کول (الوسی وئیلے دی چه دا ډیر انهماک د هغوی وؤ په تقلید د ابأؤ کښې ۔ اَجِئْتَنَا، مجیئت ئې د دے وجے نه اوئیل چه دے د نبوت نه مخکښې د هغوی نه جدا اوسیدلو لکه چه زمونږ نبی صلی الله علیه وسلم په حراء کښې اوسیدلو مخکښې د نبوت نه یا دا قول په طریقه

مِّنْ رَّبِّكُمْ رِجْسٌ وَّغَضَبٌ ؕ اَتُجَادِلُوْنَنِيْ

دَ رب دَ طرف نه زنګ (عذاب) او غضب ایا جګړه کوئ تاسو زما سره

فِيْٓ اَسْمَآءٍ سَمَّيْتُمُوْهَآ اَنْتُمْ وَاٰبَآؤُكُمْ

په باره دَ هغه نومونو کښې چه کیخودلے دی هغهٔ تاسو او مشرانو ستاسو

مَّا نَزَّلَ اللّٰهُ بِهَا مِنْ سُلْطٰنٍ ؕ فَانْتَظِرُوْٓا

نه دے نازل کړے الله تعالیٰ په دې باندے هیڅ دلیل نو (دَ عذاب) انتظار کوئ

اِنِّيْ مَعَكُمْ مِّنَ الْمُنْتَظِرِيْنَ ﴿۷۱﴾

یقیناً زهٔ ستاسو سره دَ انتظار کوونکو نه یم.

دَ استهزاء سره دے چه دوی وئیل ایا ته دَ اسمان نه دَ دے خبرے دَ پاره راغلے یې یا دا چه نوے مسئلے راوړلو نه دوی کنایه اوکړه په نوے را تللو دَ هغه سره دا دلیل دے چه دَ هغوی (او دا رنګ دَ ټولو مشرکانو) جګړه په نفسِ عبادت کښې او صرف په الله تعالیٰ کښې نه ده بلکه په توحید کښې وه چه هغوی دُعا، سجدے، نذر وغیره الله تعالیٰ لره خاص نه منل بلکه تورکسانئې ورسره په دے کښې حقدار ګڼړل او دا سے په سورۃ اسراء ۴۶ او صافات ۳۵ او ص ۵ او زمر ۴۵ او مؤمن ۱۲ کښې هم دی فَاْتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ اه دا طلب دَ عذاب دے دَ وجے دَ ضد او عناد نه.

۷۱ قَدْ وَقَعَ په معنیٰ دَ وجب دے په سبب دَ دغه وینا سره. رِجْسٌ په معنیٰ دَ رِجْزٌ یعنی عذاب یا دَ زړونو زنګ. اَسْمَآءٍ دَ دینه مراد هغه صفات دی چه دوی به خپلو معبودانو لره منل او دَ هغے په باره کښې به یې دَ رسول سره جګړه کوله. لکه دے زمانه کښې وائي دَ بادو بابا، دَ ګوزن بابا، دَ سرخوګی بابا، داتا ګنج بخش او غوث اعظم وغیره دا نومونه دَ هغه بزرګانو روستو خلقو ایښے دی قرآن او سنت کښې په هغے څه دلیل نیشته او دا تسمیه دَ مور او پلار دَ طرف نه نه وی بلکه په شرکی عقیدہ سره دَ مشرکانو مشرانو او کشرانو دَ طرف نه وی. اٰبَآؤُكُمْ رد دے په تقلید دَ اٰباؤ باندے په شرکی نوم ذکر کولو کښې. مَا نَزَّلَ اشاره ده چه دَ شرک (او دَ هرے عقیدے) دَ اثبات دَ پاره دلیل منزله (ایاتونه او احادیث) پکار وی په غیر منزل دلیلونو (قیاسونه او حکایات خوبونو وغیره) سره عقیده نه ثابتیږی او دا سے سورۃ یوسف ۴۰

فَاَنْجَيْنٰهُ وَالَّذِيْنَ مَعَهٗ بِرَحْمَةٍ مِّنَّا

پس بچ کړو موږ دے او هغه کسان چه د ده ملګري وو په سبب د رحمت زموږ

وَقَطَعْنَا دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

او پرې کړے موږ جرړے د هغه کسانو چه دروغژن یې ګڼړل ایاتونه زموږ

وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ ﴿۷۲﴾ وَاِلٰى ثَمُوْدَ

او نه وو دوی مؤمنان ۔ او لیږلے وو موږ ثمودیانو ته

اَخَاهُمْ صٰلِحًا ۘ قَالَ يٰقَوْمِ اعْبُدُوا اللّٰهَ

رور د هغوی صالح (علیه السلام) او وئیل هغه اے قومه زما بندګی خاص کړئ الله تعالیٰ له

مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ

نیشته تاسو لره هیڅ څوک معبود کار سیوا د هغه نه. یقیناً راغلے ده تاسو ته ښکاره معجزه

وقف لازم ع ۵ ۱۶

او سورة نجم ۳۲ کښں هم ذکر دی فرق دا دے چه په دے سورت کښں معبودیت د الهو د دوی باندے رد دے او سورة یوسف کښں په عبادت کولو د هغوی باندے او سورة نجم کښں په دغه نومونو کیخودلو باندے رد دے او په لفظ نزل او انزل سره یې ذکر کړل اشاره ده چه په هغه کلام الهی کښں چه لړ لړ نازل شوے وی او هغه چه په یوکرت نازل شوے وی په دواړه طریقو کښں دلیل د شرک نیشته۔

۷۲ په دے کښں د نجات سبب یې صرف رحمت وئیلے دے او رحمت په اصل کښں توفیق د ایمان او د توحید دے او دا رحمت خاصه دے او اشاره ده چه د انبیاؤ او د هغوی د ملګرو نجات د هغوی د عمل په وجه (وجوبی) سره نه دے۔

دَابِرَ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا په دے کښں استیصالی عذاب مراد دے چه ټول نسل یې وړله تباه کړو۔

وَمَا كَانُوْا مُؤْمِنِيْنَ دا عطف دے په كَذَّبُوْا باندے یعنی تکذیب او عدم ایمان سبب دے د پاره د عذاب د دوی عذاب یې په سورة حم سجده ۱۶ احقاف ۲۴ ۲۵ او الحاقه ۶ کښں ذکر کړے دے۔

مِّنْ رَّبِّكُمْ ط هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ

دَ طرف دَ رب ستاسو نه دا ده اوښه دَ الله تعالیٰ

لَكُمْ اٰيَةً فَذَرُوْهَا تَاْكُلْ فِیْٓ

تاسو لره معجزه پس پریږدئ دا چه خوراک کوی په

اَرْضِ اللّٰهِ وَلَا تَمَسُّوْهَا بِسُوْٓءٍ

زمکه دَ الله تعالیٰ کښې او مه رسوئ هغې ته هیڅ تکلیف

فَيَاْخُذَكُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٧٣﴾ وَاذْكُرُوْٓا

پس اوبه نیسی تاسو لره عذاب دردناک . او یاد کړئ

اِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَآءَ مِنْۢ بَعْدِ

کله چه اوګرځولئ تاسو الله تعالیٰ آبادوونکی دَ زمکے روستو

۷۳ دا دریم دلیل نقلی دے په مسئله دَ توحید باندے . ثمود ځوے دَ عادوو بیا دَ هغه نسل ته قبیله دَ ثمود وئیلے کیږی . او صالح په پنځه پښته کښې دَ ثمود په اولادکښې وو او دوی دَ حجاز او دَ شام په مینځ کښې په لار دَ تبوک باندے آبادوو او س هغه ځائ ته مدائن صالح وائي او هغه کنډرات دی په دے آیت کښې دَ هود علیه السلام دعوت دَ توحید ذکر دے بیا دَ هغه قوم دَ طلب دَ معجزے دَ وجے نه دوی ته ئے اظهار دَ معجزے او کړو . بَيِّنَةٌ معجزے سره اظهار دَ رسالت او اثبات دَ توحید کیږی دَ دے وجے نه هغې ته بینه وئیلے شی . مِنْ رَّبِّكُمْ کښې اشاره ده چه معجزه دَ نبی اختیار کښې نه وی . هٰذِهٖ نَاقَةُ اللّٰهِ دا بیان دَ معجزے دے . نَاقَةُ اللّٰهِ اضافت الله تعالیٰ ته اضافت دَ مخلوق دے خالق ته او تخصیص ئے دَ وجے دَ شرافت نه دے او بله وجه دا ده چه بغیر دَ اسبابو ظاهریو نه پیدا شوه او اضافت په اَرْضِ اللّٰهِ کښې هم دا غه مخکښې په شان دے . تَاْكُلْ فِیْٓ اَرْضِ اللّٰهِ مراد دا دے چه په تاسو باندے دَ دے رزق او مشقت نیشته لیکن دَ دے بے عزتی مه کوئ دا دلیل دے چه دَ معجزے بے عزتی کول سبب دَ عذاب دے .

عَادٍ وَّ بَوَّاَكُمْ فِى الْاَرْضِ تَتَّخِذُوْنَ

دَ عاديانو نه، او ځائ ئې دَركړو تاسو ته په زمكه كښ چه جوړ وئ تاسو

مِنْ سُهُوْلِهَا قُصُوْرًا وَّ تَنْحِتُوْنَ الْجِبَالَ

دَ ميدانونو دَ هغې نه بنګلې او كنئ دَ غرونو نه

بُيُوْتًا ۚ فَاذْكُرُوْٓا اٰلَآءَ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا

كوټې ، پس ياد كړئ نعمتونه دَ الله تعالىٰ او مه ګرځئ

فِى الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ﴿٧٤﴾ قَالَ الْمَلَاُ

په زمكه كښ ورانے كوونكى . اُوئيل غټانو

الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لِلَّذِيْنَ

هغه چه لوئي ئې كړې وه (دَمال دَ وجے نه) دَ قوم دَ هغه نه هغه چاته چه

اسْتُضْعِفُوْا لِمَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ اَتَعْلَمُوْنَ

كمزورے ګڼلے كيدل (دَ وجے دَ غريبئ نه) هغه چاته چه ايمان ئې راوړے وُو دَ دوئ نه، اياتاسو يقين كوئ

اَنَّ صٰلِحًا مُّرْسَلٌ مِّنْ رَّبِّهٖ ؕ قَالُوْٓا

چه صالح (عليه السلام) رسول دے دَ طرف دَ رب خپل نه . دوى اُوئيل

۷۴ په دے ايت كښ تذكير دے په نعمتونو سره دَ پاره دَ دے چه توحيد او منئ
نعمتونه دَ عاديانو انفسى او بدنى وُو او نعمتونه دَ ثموديانو دَ ابادوالي او دَ صنعت كارئ
وُو. سُهُوْلِهَا يعنى په ميدانى زمكه كښ ئې د ښكلے بنګلے بے ضرورته جوړولے او په
غرونو كښ هم دَ كټو اباد ئ كولے او قوم ثمود دَ عماراتو او كټو په تراش كولو
كښ ډير هنرمند وو او دَ دے وجے نه ډير سرمايه دار وو.
مُفْسِدِيْنَ فسادِ عظيم دا وُو چه نهه كسان وُو او خلق به ئې دَ ايمان او دَ معجزاتو
دَ صالح عليه السلام نه منع كول لكه په سورة نمل ۴۸ كښ دى .

إِنَّا بِمَآ أُرْسِلَ بِهٖ مُؤْمِنُوْنَ ﴿٧٥﴾ قَالَ

یقیناً مونږ په هغه څه چه دے رالیږلے شوے په هغے باندے ایمان راوړے دے۔ اوویل

الَّذِیْنَ اسْتَکْبَرُوْٓا اِنَّا بِالَّذِیْٓ

هغه چا چه ځان یې اوچت ګڼړلو یقیناً مونږ په هغه څه

اٰمَنْتُمْ بِهٖ کٰفِرُوْنَ ﴿٧٦﴾ فَعَقَرُوا النَّاقَةَ

چه ایمان پے راوړے دے تاسو انکارکوونکی یو۔ نو مړه (هلاکه) کړه دوی اوښه

وَعَتَوْا عَنْ اَمْرِ رَبِّهِمْ وَقَالُوْا یٰصٰلِحُ

او نافرمانی اوکړه دوی د حکم د رب خپل نه او اوویل دوی اے صالح (علیه السلام)

۷۵ په دے قوم کښں سرمایه داران ډیر وو نو د هغوی کفر د وجے د دے نه وو چه ځان یې لوئے ګڼړلو ځکه یې دلته اسْتَکْبَرُوْا اوئیل۔

اسْتُضْعِفُوْا کمزوری د هغوی د وجے د غریبئ یا د نسب د وجے نه وه او حدیث هرقل (چه بخاری ذکرکړیدے) کښں دی چه تابعدار د انبیاؤ علیهم السلام اکثر ضعفاء د قوم وی لیکن لفظ د باب استفعال او صیغه د مجهول دلالت کوی چه هغوی په حقیقت کښں ضعیف نه وؤ بلکه مخالفینو ضعیف ګڼړل۔

لِمَنْ اٰمَنَ اشاره ده چه ټولو ضعفاؤ ایمان نه وؤ راوړے۔

اَتَعْلَمُوْنَ دا وینا د دوی په طریقه د دباؤ اچولو وه په مؤمنانو باندے لیکن هغوی په ترقئ سره جواب ورکړو یعنی صرف صالح باندے ایمان نه دے بلکه په مسئله د توحید باندے هم مونږ ایمان راوړے دے نو مخالفت ډیر ښکاره شو۔

۷۶ دا هم بیان د استکبار او د ضد د دوی دے او اشاره ده چه مونږ ستاسو د وجے نه ایمان نه راوړو ځکه چه زمونږ او ستاسو په مینځ کښں ډیر فرق دے۔

ائْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الْمُرْسَلِينَ ﴿۷۷﴾

راوړه موږ ته هغه عذاب چه ته يې ېره وې موږ ته، که يې ته د پيغمبرانو نه.

فَأَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ

پس اونيو دوی لره زلزلې نو شول دوی په کورونو (کلي) خپلو کښې

جَاثِمِينَ ﴿۷۸﴾ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَا قَوْمِ

پرمخې پراته (مړه). نو روان شو (صالح عليه السّلام) د دوی نه او اوئيل يې اې قومه!

لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَالَةَ رَبِّي وَنَصَحْتُ لَكُمْ

يقيناً رسولې دي ما تاسو ته پيغامونه د رب خپل او خير مې لټولې دې تاسو لره

۷۷ عَقَرَ په اصل کښې خپو پرېکولو ته وائي ليکن دلته مراد نحر دې نحر د اوښې يو کس اوکړو لکه په سورة قمر ۲۹ کښې دی د هغه نوم قدار بن سالف ذکر شويدې او حديث د مسلم کښې دی رجلٌ عزيزٌ عارِمٌ خبيثٌ مَنِيعٌ فِي رَهْطِهِ مثل أبي زَمْعَةَ. يا مراد دا چه اول يې ورله خپې پرې کړې بيا يې مړه کړه. او نورا ته کسان ورسره ملګري وو. عَنْ أَمْرِ رَبِّهِمْ، امر په ۳۷ کښې ذکر وؤ. مِنَ الْمُرْسَلِينَ دا دليل دې چه دوی ډېر مفسدان وؤ د رسالت نه منکروؤ او قوم عاد رسول ته الصادقين وئيلي وؤ يعني صرف تکذيب يې کوؤ په اخبار د عذاب کښې.

۷۸ رَجْفَةٌ زلزله د زمکې ده. او سورة هود کښې (صيحه) ده يعني دواړه عذابونه په دوی باندې جمع شوې وو يا د رجفه نه مراد تزلزل د زړه دې په سبب د صيحه سره يا مراد د صيحه نه هيبت ناک آواز دې په وخت د سختې زلزله کښې او په زلزلې سره د دوی ټول مکانات او غورزيدل. فَأَصْبَحُوا دلالت کوی چه عذاب د شپې راغلې وؤ. دَارِ په معنیٰ د هغه کلي دې چه مشتمل وی په ډېرو کوټو باندې د دې وجې نه مفرد ذکر شو.

جَاثِمِينَ د جثم نه دې په معنیٰ د جوختيدلو په زمکه باندې او دا رنګ کيناستل په زنګنانو باندې دواړه معاني لسان العرب کښې ذکر دی.

وَلٰكِنۡ لَّا تُحِبُّوۡنَ النّٰصِحِيۡنَ ﴿۷۹﴾ وَلُوۡطًا

او لیکن نه خوخوئ تاسو خیرخواهان خپل. او (لیږلے وو موږ) لوط (علیه السّلام)

اِذۡ قَالَ لِقَوۡمِهٖۤ اَتَاۡتُوۡنَ الۡفَاحِشَةَ

کوم وخت چه اوئیل ده قوم خپل ته ایا راتلل کوئ تاسو بدکارئ ته

مَا سَبَقَكُمۡ بِهَا مِنۡ اَحَدٍ مِّنَ الۡعٰلَمِيۡنَ ﴿۸۰﴾

چه مخکښې والے نه دے کړے ستاسو نه په دے کار کښې هیچا د خلقو نه.

۷۹ یٰقَوۡمِ اه سوال: دا دے چه دا مړو ته خطاب دے معلومه شوه چه مړی اوری؟

جواب: دا خطاب د عذاب د راتلو نه مخکښې دے لکه چه د سورة هود د ترتیب نه معلومیږی آیت ۶۶ ۶۷ تر.

جواب۲: دا خطاب په طریقه د معجزے دے لکه واقعه د بدر کښې دا سے شوی وو او معجزه په نبی پورے خاص وی.

جواب۳: چه دا افسوس دے لیکن افسوس د هغوی په انکار باندے دے نه په عذاب باندے نو د آیت د فَلَا تَاۡسَ عَلَی الۡقَوۡمِ الۡكٰفِرِيۡنَ سره تعارض نه راځی. په دے کښې اول جواب غوره دے ځکه چه مقصد د نبی الزام حجت دے لکه چه زمونږ نبی په خطبه د حجة الوداع کښې فرمائیلے وو اَلَا هَلۡ بَلَّغۡتُ. او دا رنګ عادتِ الٰهیه دا دے چه د عذاب راوستلو نه مخکښې نبی او مؤمنان د هغه وطن نه اوباسی او دلته فا په فَتَوَلّٰی کښې د پاره د تعقیب نه ده بلکه کلام کښې تقدیم او تاخیر دے.

۸۰ دا څلورمه واقعه ده د دے تعلق د سورت د دویمے دعوے سره دے چه لوط علیه السلام قوم لره د شیطان د تابعدارئ نه منع کړے وو خو هغوی منع نه شول نو عذاب پرے راغے او دا قوم په شرک کښې هم مبتلا وو لوط علیه السلام د دے قوم د نسب نه نه وو بلکه وراره وو د ابراهیم علیه السلام (لوط بن هاران بن تارخ (آزر)) د دے وجے نه اخوهم یئے اونه وئیل بیا د مَا سَبَقَكُمۡ لفظ نه معلومه شوه چه د دے قبیح ګناه ایجاد دے قوم کړے وو نو دا لوئے ګناه دے په نسبت د هغې چه د بل تابعداری کوی دا رنګ یو بدعت کول دی او بل بدعت ایجاد کول دی دا دویم د اول نه غټ ګناه دے. لِقَوۡمِهٖۤ دا قوم د هغه په دے اعتبار وۀ چه د هغوی د قیام (نظام دینی) د پاره رالیګلے شوے وو یا په دے وجه چه

إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ الرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ

يقينًا تاسو خامخا راتلل كوئ نارينو ته په شهوت سره ټيروتونكے ييئ دَ

النِّسَاءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾

زنانو (ښځو) نه بلكه تاسو قوم يئ مشركان -

وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلَّا أَن قَالُوا

او نه وو جواب دَ قوم دَ هغه مكر دا چه وئيل ئے

أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ

اوباسئ دوى لره دَ كلى ستاسو نه، يقينًا دوى داسے خلق دى

يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾ فَأَنجَيْنَاهُ وَأَهْلَهُ إِلَّا امْرَأَتَهُ

چه ځان پاك كنړى - پس بچ كړو مونږه دے اوكورنئ دَده مكر ښځه دَ ده

سخرگنى دَ لوط عليه السلام وه - اَلْفَاحِشَةَ هغه گناه چه ښكاره وى او عقل او عرف كښ سرهٔ دَ شرع نه بدگنړلے كيږى قرطبى وئيلى دى چه زنا ته ئے قرآن كښ فاحشه وئيلے ده او دے عمل دَ قوم لوط ته ئے هم فاحشه اوئيله معلومه شوه چه په دے عمل باندے هم سزا دَ زنا به جارى كيږى۔

۸۱ دا بيان دَ هغه فاحشه دے - مُسْرِفُوْنَ نه مراد مشركون دى او دا رنگ دَ دے تفسير په سورة عنكبوت ۲۹ كښ راغلے دے۔

۸۲ دَ دے قوم يو جواب دا دے او دا سے په سورة نمل ۵۶ كښ دى او بل جواب دَ دوى په سورة عنكبوت ۲۹ كښ دے او په دواړه كښ طريقه دَ حصر ده نو فرق دا دے چه دا جواب دَ دوى په باره دَ لوط عليه السلام كښ وو او هغه دَ سورة عنكبوت جواب په باره دَ خپلو ځانونو كښ دے - أَخْرِجُوهُمْ، لنخرجن ئے نه دے وئيلے اشاره ده چه دا قوم په سبب دَ دے خسيس عمل سره بے غيرته شوے وُو نو يو بل ته وائى چه دوى اوباسئ - إِنَّهُمْ أُنَاسٌ اه دا وينا دَ هغوى په طريقه دَ مسخرے سره وه قتاده وئيلے دى عَابُوهُمْ وَاللّٰهِ بِغَيْرِ عَيْبٍ (قسم په الله تعالىٰ چه دوى دَ هغوى نقصان وئيلو په غير دَ عيب نه په هغوى كښ)۔

كَانَتْ مِنَ الْغٰبِرِيْنَ ﴿۸۳﴾ وَاَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ

ده هغه د پاتیکیدونکو نه په عذاب کښې) او راووروو مونږ په دوی باندے

مَّطَرًا ؕ فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُجْرِمِيْنَ ﴿۸۴﴾ ع

باران ناآشنا. نو اوګوره چه څنګه شو انجام د مشرکانو.

ع ۱۲/۱۰

وَاِلٰى مَدْيَنَ اَخَاهُمْ شُعَيْبًا ؕ قَالَ يٰقَوْمِ

او لیږلے وو مونږ مدین والو ته رور د هغوی شعیب (علیه السلام). او وئیل ده اے قومه ځما

اعْبُدُوا اللّٰهَ مَا لَكُمْ مِّنْ اِلٰهٍ غَيْرُهٗ ؕ

بندګی خاص کړئ الله تعالیٰ لره نیشته تاسو لره هیڅ مددګار سیوا د هغه (الله) نه.

قَدْ جَآءَتْكُمْ بَيِّنَةٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ فَاَوْفُوا

یقینًا راغلے ده تاسو ته معجزه ښکاره د طرف د رب ستاسو نه نو پوره کوئ

الْكَيْلَ وَالْمِيْزَانَ وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ

پیمانه کول او تول کول او مه کموئ د خلقو نه

۸۳ ښځه د لوط علیه السلام مشرکه وه ځکه عذاب کښې پاتے شوه دا په سورة تحریم ۱۰
کښې ذکر دی. وَاَهْلَهٗٓ د سورة ذاریات ۳۶ نه معلومه ده چه سیوا د کور د هغه نه
بل چا ایمان نه وو راوړے او تاریخ کښې لیکلی دی چه د هغه صرف دوه لونړه وے
الْغٰبِرِيْنَ غبر د اضدادو نه دے تیر شوے او باقی پاتے شوے دواړو ته وئیلے
شی دلته دویمه معنی مراد ده او صیغه د مذکر کښې اشاره ده چه د دے ښځے عذاب
هم په شان د نارینو د هغه قوم وو اګرچه سبب ئے جدا جدا وو.
۸۴ دے ایت کښې د دوی یو قسم عذاب ذکر شو یعنی باران د کاڼړو په دلیل د
مَطَرًا نکره سره او په سورة هود ۸۲ او حجر ۷۴ کښې نور عذابونه هم ذکر شوے
دی دلته د دے یو عذاب ذکر خاص اوشو اشاره ده چه اصل عذاب د هلاکت
د دوی دا یو وو او نور ورسره مقدمات د عذاب وو او دا رنګ دا سزا د داسے
عمل کوونکو په دنیا کښې هم ده.

أَشْيَآءَهُمْ وَلَا تُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ بَعْدَ

مالونه دَ هغوی او ورانے مه کوئ په زمکه کښ پس دَ

إِصْلَاحِهَا ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُم

اصلاح دَ هغے نه. دا (کارونه) فائدے والا دی تاسو لره که یئ تاسو

مُّؤْمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقْعُدُوا بِكُلِّ صِرَاطٍ

ایمان والا. او مه کینئ په هره لار کښ

تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ

چه ېره وئ او منع کوئ دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه

۸۵ دا پنځمه واقعه ده دَ دویمے اودریمے دعوے سره تعلق لری دلیل نقلی دے په مسئله دَ توحید باندے او منع کول دَ قوم دی دَ تابعدارئ دَ شیطان نه په باره دَ حرامه امدنئ کښ. مدین ځوئے وو دَ ابراهیم علیه السلام او دَ هغه په نوم سره دا ښار مشهور شو او شعیب علیه السلام په دوه پشته کښ دَ اولاد دَ مدین نه وو او دئ ته خطیب الانبیاء وئیلے کیږی. په دے قصه کښ اول دعوت دَ توحید دے بیا اثبات دَ رسالت او ذکر دَ معجزے (چه معین نه ده) دے بیا دعوت دے احکامو مالیوته دَ پاره دَ اصلاح بیا نهی ده دَ عام اِفساد نه.

بَيِّنَةٌ دے نه معجزه مراد ده لیکن قرآن او سنت کښ دَ هغے څه تعین نیشته.

الْكَيْلَ وَالْمِيزَانَ په سورة هود ۸۵ کښ المکیال لفظ دے وجه دَ فرق دا ده چه دلته دَ الکیل والمیزان نه معنی مصدری مراد ده او په هغه سورت کښ آله دَ کیل او دَ وزن مراد ده.

وَلَا تَبْخَسُوا النَّاسَ اه دا لفظ شامل دے غلا او غصب او لوټ مار او حیلے کول دَ پاره دَ حرام مال اخستلو وغیره.

بَعْدَ إِصْلَاحِهَا. اصلاح په بعثت دَ انبیاؤ علیهم السلام او رالیکل دَ احکامو شرعیو سره وه.

إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ یعنی خیر (ثواب) به هغه وخت وی چه تاسو ایمان راوړئ یا خیر نه مراد خیریت دے په وصف دَ انسانیت کښ او ایمان نه مراد معنی لغوی ده یا دا خطاب دَ دے وجے نه وو چه دوی دعوی دَ ایمان کوله.

مَنْ اٰمَنَ بِهٖ وَتَبْغُوْنَهَا عِوَجًا ۚ وَاذْكُرُوْٓا

هغه څوک چه ایمان راوړی په هغه او لټوئ په هغے کښې کوږوالے ، او یاد کړئ هغه وخت

اِذْ كُنْتُمْ قَلِيْلًا فَكَثَّرَكُمْ ۪ وَانْظُرُوْا كَيْفَ

کوم وخت چه وئ تاسو لږ نو ډیر یے کړئ تاسو او اوګورئ څه رنګ

كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿٨٦﴾ وَاِنْ كَانَ

وو انجام دَ ورانی کوونکو۔ او که وی

طَآئِفَةٌ مِّنْكُمْ اٰمَنُوْا بِالَّذِیْٓ اُرْسِلْتُ

یوه ډله ستاسو نه چه ایمان لری په هغه څه چه رالیږلے شوے یم زهٔ

بِهٖ وَطَآئِفَةٌ لَّمْ يُؤْمِنُوْا فَاصْبِرُوْا حَتّٰى

په هغے او بله ډله وی چه ایمان نه لری نو انتظار اوکړئ تر دے چه

يَحْكُمَ اللّٰهُ بَيْنَنَا ۚ وَهُوَ خَيْرُ الْحٰكِمِيْنَ ﴿٨٧﴾

فیصله اوکړی الله تعالیٰ په مینځ زموږ کښې او هغه غوره فیصله کوونکے دے.

۸۶ روستو دَ ذکر دَ ضلال نه اضلال ذکر کوی په منع سره وَلَا تَقْعُدُوْا اه مراد دَ صراط نه هغه لار ده چه دَ شعیب علیه السلام کور ته رسوونکے وه او مراد دَ قعود نه بنکاره کینا ستل دی یا مراد دَ صراط نه لارے او کارونه دَ دین دی چه روستوئے هغے ته سبیل الله وئیلے دے. تُوْعِدُوْنَ منع کول په دوه طریقے سره وُو یو دباؤ کول او یره ورکول دویم په طریقه دَ شبهاتو او طعنونو سره په حق والا باندے. وَتَبْغُوْنَهَا اه تفسیر دے دَ دویمے معنے. عِوَجًا په زیر دَ عین سره استعمالیږی په معنوی څیزونو کښې او په زور سره په جسمونو کښې. وَاذْكُرُوْٓا ترغیب دے. وَانْظُرُوْا تخویف دے. قَلِيْلًا په اعتبار دَ مال یا دَ عدد دَ اشخاصو سره او دا اوامر نواهی او ترغیب او تخویف ذکر کول په تبلیغ کښې صفت دَ خطابت دے ځکه دهٔ ته خطیب وئیلے کیدلو.

الْمُفْسِدِيْنَ دا لفظ شامل دے دَ دوی شرک، حرام خورئ او دَ حق نه منع کولو ته.

۸۷ دا هم داخل دے په قول دَ شعیب علیه السلام کښې او دیته محاکمه دَ دعوت

الجزء ۹

قَالَ الْمَلَأُ الَّذِيْنَ اسْتَكْبَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ

اوئیل غټانو هغه چه لوئی کړې وه دَ قوم دَ هغه نه

لَنُخْرِجَنَّكَ يٰشُعَيْبُ وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

خامخا او به باسو مونږ تا اے شعیب (علیه السلام) او هغه خوک چه ایمان ئے راوړے دے

مَعَكَ مِنْ قَرْيَتِنَآ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ فِيْ مِلَّتِنَا ط

ستا په ملګرتیا کښ دَ کلی زمونږ نه یا به واپس شئ په دین زمونږ کښ

قَالَ اَوَلَوْ كُنَّا كٰرِهِيْنَ ﴿۸۸﴾ قَدِ افْتَرَيْنَا

اوئیل هغه اګرچه مونږ بد ګنړو. یقینًا مونږ جوړ کړے به وی

عَلَى اللّٰهِ كَذِبًا اِنْ عُدْنَا فِيْ مِلَّتِكُمْ

په الله تعالیٰ باندے دروغ که چرے واپس شو مونږ په دین ستاسو کښ

بَعْدَ اِذْ نَجّٰىنَا اللّٰهُ مِنْهَا ط وَمَا يَكُوْنُ لَنَآ

پس دَ هغے نه چه بچ سا تلے یو مونږ الله تعالیٰ دَ هغے نه. او نه دی جائز مونږ لره

وئیلے شی او تخویف دے په نرم عنوان سره. فَاصْبِرُوْا په معنی دَ انتظار دے په معنیٰ دَ صبر او دَ کلک کیدلو نه دے ځکه چه په غلط دین باندے دَ مضبوط کیدلو امر نبی نه کوی لفظ دَ حاکمین دلیل دے چه انسان ته هم حاکم وئیل جائز دی۔ او خَيْرٌ يهٔ په حکم دَ الله تعالیٰ کښ دا دے چه هغه پوخ وی او بناء وی په عدل کامل او څوک ئے مقابله نشی کولے۔

۸۸ په دے آیت کښ طریقه دَ تکذیب دَ هغوی ذکر ده۔ اَوْ لَتَعُوْدُنَّ اه سوال دا دے چه عود په معنیٰ دَ واپس کیدلو ده مخکښ حال ته نو شعیب علیه السلام خو مخکښ دَ دوی په ملت کښ نه وو؟

اول جواب دا دے چه هر کله شعیب علیه السلام دَ نبوت نه مخکښ چپ وو نو دوی خیال اوکړو چه دے زمونږ ملګرے وو په دین کښ۔

دویم جواب دا دے چه دا په اعتبار دَ نورو مؤمنانو سره وئیلے شوے دی چه هغوی مخکښ دَ دوی په دین کښ وو۔

أَنْ نَّعُوْدَ فِيْهَآ إِلَّآ أَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّنَا ؕ

چه واپس شو په دینکښې (دین ستاسو کښې) مګر دا چه اوغواړی الله تعالیٰ رب زمونږ ه۔

وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيْءٍ عِلْمًا ؕ عَلَى اللّٰهِ

راګیر کړیدے رب زمونږ هر څیز په علم خپل کښې. خاص په الله تعالیٰ باندے

تَوَكَّلْنَا ؕ رَبَّنَا افْتَحْ بَيْنَنَا وَبَيْنَ قَوْمِنَا

ځان سپارلے دے مونږ ۔ اے رب زمونږه ! فیصله اوکړے په مینځ زمونږ او په مینځ د قوم زمونږ کښې

بِالْحَقِّ وَأَنْتَ خَيْرُ الْفٰتِحِيْنَ ﴿۸۹﴾ وَقَالَ

حقه فیصله او ته غوره د فیصلے کوونکو نه یئے. او اوئیل

الْمَلَأُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْ قَوْمِهٖ لَئِنِ اتَّبَعْتُمْ

غټانو هغه کسان چه کفر ئے کړے وو د قوم د هغه نه که تاسو تابعداری اوکړه

شُعَيْبًا إِنَّكُمْ إِذًا لَّخٰسِرُوْنَ ﴿۹۰﴾ فَأَخَذَتْهُمُ

د شعیب (علیه السلام)، یقیناً تاسو به شئ د تاوان والو نه۔ نو اونیوو دوی لره

دریم جواب دا دے چه عود په معنیٰ د داخلیدلو دے د ابتداء نه او دا معنیٰ په هغه حدیث کښې هم ده چه "یُعَادُ روحه فی جسدهٖ"۔ اَسْتَکْبَرُوْا دوی هم سرمایه دار وُو د دے وجے د دوی په وصف کښې استکبار ذکر کړو په شان د ثمودیانو۔ قَالَ اَوَلَوْ کُنَّا کٰرِهِیْنَ دا جواب دے د طرف د شعیب علیه السلام نه پوخ جواب دے په نرمه لهجه سره چه مونږ خو ستاسو دین بدا ګڼړو۔

۸۹ دا ایت هم د قال د لاندے داخل دے قول د شعیب علیه السلام دے دلالت کوی چه مرتد کیدل ډیر لوئے ګناه دے دا په الله تعالیٰ باندے افتراء کول دی او په دے کښې اشاره ده چه بدا ګڼړل د عود کفر ته پوره ایمان دے لکه چه حدیث د "ذَاقَ طَعْمَ الْاِیْمَانِ" الخ کښې دی. اِلَّآ اَنْ یَّشَآءَ دا استثناء منقطع ده یا متصل مفرغ هم کیدیشی او مقصد په دیکښې تفویض الی الله دے تعلیق مراد نه دے او دا صریح دلیل دے چه کفر هم په مشیئت د الله تعالیٰ کښې داخل دے. وَسِعَ رَبُّنَا دا دوه جملے په طریقه د وسیلے سره دی په صفاتو د الله تعالیٰ سره او وروسته په رَبَّنَا افْتَحْ سره دعا ده رَبَّنَا افْتَحْ دا دعا د شر ده په لهجه د دعا د خیر کښې او دا هم خطابت د شعیب علیه السلام دے۔

نو او هر کله چه د باؤ د هغوی هیڅ فائده او نکړه نو بله طریقه ئے اختیار کړله چه هغه

الرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا فِي دَارِهِمْ جٰثِمِينَ ﴿٩١﴾

زلزلے نو شول دوی په کلی خپل کښې پړمخې پراته (مړه).

الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَأَنْ لَّمْ يَغْنَوْا

هغه کسان چه دروغ ژن يې ګڼړو شعيب عليه السلام، ګويا که نه وو ديره شوي

فِيهَا ۚ الَّذِينَ كَذَّبُوا شُعَيْبًا كَانُوا

په هغې (کلی) کښې، هغه کسان چه دروغژن يې اوګڼړو شعيب عليه السلام لره شول

مع

هُمُ الْخٰسِرِينَ ﴿٩٢﴾ فَتَوَلّٰى عَنْهُمْ وَقَالَ

دوی تاوان والا. پس روان شو ددويته او ئيل يې

يٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسٰلٰتِ رَبِّي

اے قومه زما، يقيناً رسولے دی ما تاسو ته پيغامونه دَ رب زما

وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۚ فَكَيْفَ اٰسٰى عَلٰى قَوْمٍ

او خيرے لټولے دے ستاسو، نو څنګه خفګان اوکړم په (هلاکت د) قوم

منع کول وو مؤمنانو لره دَ ايمان نه اتباع دَ نبی ته يې خسران اوئيلو دا زعم دَ باطل پرستو دے.

ؔ٩١ دَ دوی هم بل عذاب صيحه ده چه په سورة هود ؔ٩٤ کښې ذکر دے دا آيت پشان دَ ؔ٧٨ دے.

ؔ٩٢ دا په مقابله دَ کافرانو کښې دهِ هغوی وئيل چه تابعداری دَ شعيب عليه السلام سبب دَ خسران دے الله تعالیٰ اوئيل چه تکذيب دَ شعيب عليه السلام سبب دَ خسران دے.

الَّذِينَ كَذَّبُوا مبتدا ده او خبر يې محذوف دے يعنی فنوا (فنا شول).

يَغْنَوْا دا دَ غنی نه ماخوذ دے (ديره کيدل، په يو مکان کښې په عيش عشرت سره).

كَانُوا هُمُ الْخٰسِرِينَ دا حصر په نسبت دَ اتبعتم سره دے يعنی حصر اضافی دے.

كَٰفِرِينَ ﴿٩٣﴾ ع وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّبِىٍّ

کافرانو باندے. او نه دے لیږلے مونږ په کلی (یا ښار) کښې څوک پیغمبر (چه هغوی انکار وکړو)

إِلَّآ أَخَذْنَآ أَهْلَهَا بِٱلْبَأْسَآءِ وَٱلضَّرَّآءِ

مگر او نیول مونږ اوسیدونکی دَ هغې په سختو دَ مال او مرضونو سره

لَعَلَّهُمْ يَضَّرَّعُونَ ﴿٩٤﴾ ثُمَّ بَدَّلْنَا مَكَانَ

دے دپاره چه دوی عاجزی اوکړی (الله تعالیٰ ته) - بیا بدل کړه مونږ په ځائے

ٱلسَّيِّئَةِ ٱلْحَسَنَةَ حَتَّىٰ عَفَوا۟ وَّقَالُوا۟

دَ سختئ خوشحالی تر دے پورے چه زیات شو دوی او اوئیل دوی چه

قَدْ مَسَّ ءَابَآءَنَا ٱلضَّرَّآءُ وَٱلسَّرَّآءُ

یقیناً رسیدلے دی مشرانو زمونږ ته تکلیفونه او خوشحالئ

۹۳ دا دلیل دے چه کله په کافرانو او ظالمانو عذاب او مرګ راشی نو په هغې باندے غم او خفګان نه دے پکار دا سے ایت په ۶۸ کښې تیر شو. فرق دا دے چه هلته رسالة مفرد وؤ او دلته جمع ده وجه دا ده چه شعیب علیه السلام په خپل دعوت کښې ډیر پیغامات ذکر کړل.

اسی غمخوری او همدردی کولو ته وئیلے شی. عَلٰى قَوْمٍ نه عَلٰى عذابهم مراد دے نو که دَ هغوی په کفر کولو باندے خفګان کوی نو جائز دے لکه نورو نصوصو نه معلومیږی.

۹۴ دا درے ایتونه دَ مخکښې واقعاتو سره تعلق لری چه په دے قومونو باندے امتحان دَ مصیبتونو او بیا دَ نعمتونو راغلے وو اشاره ده چه الله تعالیٰ دَ دے قومونو هیڅ معذرت نه دے پریښودلے په هره طریقے سره دوی ته سبب دَ هدایت جوړ کړے وو او دیته ابتلاء بالنعم والنقم وئیلے شی لکه په سورة انعام ۴۲ کښې دی. إِلَّآ أَخَذْنَآ دَ دے نه مخکښې کذبوا پټ دے چه دلیل په هغې باندے تیرے شوے قصے دی. بِٱلْبَأْسَآءِ په سختئ کښې انسان اکثر الله تعالیٰ ته رجوع کوی او توبه کوی دا ئے مخکښې کړله.

فَاَخَذْنٰهُمْ بَغْتَةً وَّهُمْ لَا يَشْعُرُوْنَ ﴿۹۵﴾

نو اونیول مونږ دوی لره ناګاهه او دوی نه پوهیدل.

وَلَوْ اَنَّ اَهْلَ الْقُرٰٓى اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا

او که چرے یقیناً دے کلو والو ایمان راوړے وے او ځان ئے بچ کړے وے (د شرک نه) خامخا پرانستے به مونږه

عَلَيْهِمْ بَرَكٰتٍ مِّنَ السَّمَآءِ وَالْاَرْضِ وَلٰكِنْ

په دوی باندے برکتونه د اسمان او د زمکے نه لیکن دوی

كَذَّبُوْا فَاَخَذْنٰهُمْ بِمَا كَانُوْا يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۶﴾

دروغژن اوګڼړل (پیغمبران) نو اونیول مونږ دوی (په عذاب سره) په سبب د هغے عملونو چه دوی کول.

ف۹۵ په دے ایت کښ ابتلاء بالنعم ذکر کوی. اَلْحَسَنَةَ نه مراد وسعت د مالونو او صحت د بدنونو دے. عَفَوْا زیات شول. عفو زیاتیدلو ته وائی لکه حدیث کښ راغی واعفوا اللحی "زیاتے کړئ ګیرے". وَقَالُوْا قَدْ مَسَّ اٰ یعنی دوی وئیل چه دا د زمانے رفتار او انقلاب دے چه کله تکلیف وی او کله خوشحالی دا د ګناهونو په وجه سره نه دے دالویئ قسوة (سخت والے) د زړونو دے چه په هیڅ حالت کښ الله تعالیٰ ته رجوع نه کوی او دا سبب د عذاب دے.
بَغْتَةً چه تاریخ ورځ او وخت ئے معلوم نه وی سره د غفلت نه دے ته بغتة وئیلے شی اګرچه علامات راغلے وی لیکن د هغے نه عبرت نه اخلی.
ف۹۶ دا هم تعلق لری د مخکښ واقعاتو سره مطلب دا دے چه ایمان او د شرک نه ځان بچ کول سبب د نازلیدلو د برکتونو دے لیکن هغه قومونو شرک اوکړو او د الله تعالیٰ د حکم خلاف ئے اوکړو نو په هغوی عذابونه راغلل او په دے ایت کښ مقصد وعظ دے روستو قومونو ته چه ایمان او تقوی حاصل کړئ د پاره د ترقئ دنیوی. تقوٰی نه مراد د هر قسم کفر شرک او ګناهونو نه بچ کیدل دی لکه چه په سورة طلاق کښ ذکر دے. بَرَكٰتٍ نه مراد بارانونه او بوټي غلے میوے او وسعت د رزق دے دا سے په سورة هود ۳ ف۵۲ او نوح ۱۱ ف۱۲ کښ ذکر دی. فَاَخَذْنٰهُمْ مراد د دے نه هغه مختلف عذابونه دی چه تیر شوے قومونو باندے راغلے وو.

أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا
ایا په امن دی دا کلو والا دَ دینه چه رابشی دوی ته عذاب زمونږ ده
بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ
دَ شپې او دوی به اوده وی۔ او ایا په امن دی دا کلو والا
أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾
دَ دینه چه رابشی دوی ته عذاب زمونږ ده په وخت دَ ساخت کښی او دوی به لوبے کوی۔
أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ ۚ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ
ایا بے یرے دی دوی دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه، پس نه بے یرے کیږی دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه
إِلَّا الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٩٩﴾ أَوَلَمْ يَهْدِ لِلَّذِينَ
مګر قوم تاوان والا۔ ایا نه ده ښکاره شوے هغه کسانو ته

۱۲ ع ۲

۹۷ دا څلور ایتونه دَ موجوده خلقو حال ذکرکوی کوم چه شرک کوی چه دوی هم دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه نشی بچ کیدے که دَ شپے عذاب زائی اوکه دَ ورځے زائی. په دے ایت کښی عذاب دَ شپے ذکرکړے دے۔ اَفَاَمِنَ فَا دَ پاره دَ تعقیب ده او اَلْقُرٰی نه مراد موجوده خلق دی یعنی روستو دَ تکذیب نه دَ عذاب راتلل ضروری دی۔

۹۸ په دے ایت کښی عذاب دَ ساخت وخت (دَ ورځے) ذکر دے او اشاره ده چه منکرین یا په خوب اوده وی یا په لوبو کښی مشغوله وی دا دَ دوی ژوند دَ دنیا دے چه په خوب او لعب کښی تیریږی معلومه شوه چه ټوله شپه خوب کول او دَ ساخت وخت کښی لوبے کول دَ مؤمنانو دَ شان سره مناسب نه دی۔

۹۹ روستو دَ خاص اوقاتو نه اوس عموم دَ وختونو ته اشاره ده. مَکْرَ عذاب دَ الله تعالیٰ په طریقه دَ استدراج او مهلت سره دے۔ په دے ایت کښی دَ امن نه مراد بے خوفه کیدل دی په دنیا کښی یعنی دَ دوی په زړونو کښی دَ الله تعالیٰ دَ عذاب نه هیڅ یره نه وی او سورة انعام ایت ۸۲ کښی دَ اَمَن نه مراد بچ کیدل دی دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه په توحید سره نو تعارض نه راځی۔

يَرِثُونَ الْأَرْضَ مِنْ بَعْدِ أَهْلِهَا أَنْ لَوْ نَشَاءُ

چه وارثان شویدی دَ زمکے روستو دَ اوسیدونکو دَ هغے نه دا خبره چې اوغواړو مونږ

أَصَبْنَاهُمْ بِذُنُوبِهِمْ ۚ وَنَطْبَعُ عَلَىٰ قُلُوبِهِمْ

او به رسوو دوئ ته عذاب په سبب دَ ګناهونو دَ دوی، او مهر لګوو مونږ په زړونو دَ دوی

فَهُمْ لَا يَسْمَعُونَ ⑩⓪ تِلْكَ الْقُرَىٰ نَقُصُّ

پس دوی غوږ نه ږدی - دغه کلی ! بیانوو مونږ

عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَائِهَا ۚ وَلَقَدْ جَاءَتْهُمْ

په تا باندے بعض دَ خبرونو دَ هغے نه، او یقینًا راغلی وو دوئ ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنَاتِ ۚ فَمَا كَانُوا لِيُؤْمِنُوا

رسولان دَ هغوی په ښکاره حکمونو (دلیلونو) سره، پس نه وو هغوی چه ایمان ئې راوړے وے

بِمَا كَذَّبُوا مِنْ قَبْلُ ۚ كَذَٰلِكَ يَطْبَعُ اللَّهُ

په سبب دَ هغے چه انکار کړے وُو دوئ دَ مخکښ نه - دَ دے وجے نه مهر وهی الله تعالیٰ

عَلَىٰ قُلُوبِ الْكَافِرِينَ (101) وَمَا وَجَدْنَا

په زړونو دَ کافرانو باندے. او نه دے موندلے مونږه

ف۱ په دے ایت کښ زورنه ده اویره هم ده په عذاب دنیوی سره او په دے کښ تاکید دَ مخکښ ایاتونو دے په عذاب راتللو سره۔ یهد لهم دلته دَ هدایت نه مراد هدایت عقلی دے یعنی عقل ته ښکاره کیدل۔ بِذُنُوبِهِمْ اشاره ده چه په دے موجوده خلقوکښ هغه ټول ګناهونه جمع شویدی کوم چه په مخکښ قومونوکښ یو یو دوه دوه موجود وُو او دَ دوی دَ غفلت سبب ئې ذکر کړو مهر په زړونو او حق نه اوریدل مهر دَ زړه سبب دے دَ پاره دَ مهر دَ غوږونو دَ دے وجے نه فَهُمْ کښ ئې فا ذکر کړله۔

ف۲ په دے کښ دَ مخکښ قومونو ذکر دے دَ پاره دَ تذکیر دَ موجوده خلقو چه حالت دَ موجودو مشابه دے دَ حالت دَ مخکنو سره چه هغوی ته رسولان راغلی وُو

إِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ﴿۱۰۴﴾ حَقِيقٌ

یقیناً زۀ رسول یم دَ طرف دَ رب العالمین نه، کلک یم

عَلَىٰ أَن لَّا أَقُولَ عَلَى اللَّهِ إِلَّا الْحَقَّ ۚ

په دے چه نه به وایم په الله تعالیٰ سیوا دَ حق نه.

قَدْ جِئْتُكُم بِبَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ

یقیناً راوړے دے ما تاسو ته بیان ښکاره دَ طرف دَ رب ستاسو نه

فَأَرْسِلْ مَعِيَ بَنِي إِسْرَائِيلَ ﴿۱۰۵﴾

نو اولیږه زما سره بنی اسرائیلو لره.

قَالَ إِن كُنتَ جِئْتَ بِآيَةٍ فَأْتِ بِهَا

اوئیل (فرعون) که راوړے وی تا څه معجزه نو راوړه ئے دے کړه هغه

موسیٰ علیه السلام، تکذیب دَ فرعونیانو او بیا هلاکت دَ هغوی. مِنۢ بَعۡدِهِمۡ دا دلیل دے چه په شعیب علیه السلام پسے موسیٰ علیه السلام رالیږلے شوے دے. فَظَلَمُوا۟ بِهَا مراد دَ دے عنادی انکار دے لکه په سورة نمل ۱۴ کښ.

۱۰۴ دَ دے ځائے نه تر ۱۲۶ پورے اول مقام دے په دیکښ دعوت دے فرعون ته او هغه ته معجزے پیش کول بیا دَ ساحرانو سره مقابله کول او دَ ساحرانو بهادری پس دَ ایمان راوړلو نه یعنی شجاعت دَ موسیٰ علیه السلام او دَ ساحرانو روستو دَ ایمان راوړلو نه په دے کښ دوه مدعاګانے دی یو رسالت دَ موسیٰ علیه السلام دویم توحید دَ ربوبیت. او یٰفِرۡعَوۡنُ کښ خطاب دے په نرمه لهجه سره ځکه چه دا دَ هغه لقب وو په نوم سره ئے خطاب نه دے کړے او دا دَ طریقو دَ دعوت نه ده

۱۰۵ په اول جمله کښ اثبات دَ توحید دے دویمه جمله کښ تاکید دَ توحید او دَ رسالت دے په معجزه سره دریمه جمله کښ ازادول دَ موحدینو دی.

حَقِيقٌ مبالغه ده په حق کښ په معنی دَ ثابت، او مبتدا احذف ده اَنَا ثَابِتٌ مُّسۡتَمِرٌّ یا حَقِيقٌ په معنی دَ حریص دے.

إِنْ كُنْتَ مِنَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿١٠٦﴾ فَأَلْقٰى

که یې ته د رشتینو نه. لو اوغور زول هغه

عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِيْنٌ ﴿١٠٧﴾

همسا خپله نو ناګاهه هغه خامار وو ښکاره.

وَّنَزَعَ يَدَهٗ فَإِذَا هِيَ بَيْضَآءُ لِلنّٰظِرِيْنَ ﴿١٠٨﴾

اوراوبیستلو لاس خپل (دګریوان نه) نو ناګاهه هغه تک سپین وو کتونکو لره.

قَالَ الْمَلَاُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ

اوئیل غټانو د قوم د فرعون نه

۱۰۶ اشاره ده چه فرعون هم د مطلق معجزاتو قائل وو لیکن ضدی وو او هغه هم منله چه معجزه دلیل د صدق د رسول دے.

۱۰۷ دا اوله معجزه ده دلالت کوی په انقلاب باندے سره د تخویف او غلبے نه په مقابلینو باندے. مُبِيْنٌ یعنی حقیقت د هغے بدل شوے وو صرف نظربندی نه وه او دلته شربینی د هغے اژدها مقدار او هیبت ذکر کړے دے تردے پورے چه په فرعون باندے د یرے د وجے نه دستونه اولګیدل شلور سوه دستونه اوشول.

سوال: دلته او سورة شعراء کښ یې ثعبان وئیلے دی او سورة نمل ۱۰ او قصص ۳۱ کښ جان (نرے مار) وئیلے دے د دے څه تطبیق دے؟

جواب ۱: په صورت کښ ثعبان حقیقی وو لیکن په رفتار کښ په شان د جان تیزوو د دے وجے نه هلته یې کأنها وئیلے دی

جواب ۲: په ابتداء د وحی کښ جان وو او د فرعون په مخکښ ثعبان وو د دے د پاره چه په هغه باندے ښه رعب راشی.

۱۰۸ دا دویمه معجزه ده دلالت کوی په انقلاب سره د رڼړا او د بشارت نه. د نزع نه مخکښ ادخل يدك پټ دے په قرینه د سورة نمل ۱۲ او قصص ۳۲.

لِلنّٰظِرِيْنَ لفظ دلیل دے چه سپینوالے نا اشنا وو خلق یې په تعجب کښ اچول.

إِنَّ هٰذَا لَسٰحِرٌ عَلِيمٌ ﴿١٠٩﴾ يُّرِيدُ

يقيناً دا خامخا جادوګر دے پوهه (ماهر)، غواړي

أَنْ يُّخْرِجَكُمْ مِّنْ أَرْضِكُمْ فَمَاذَا تَأْمُرُونَ ﴿١١٠﴾

چه اوباسي تاسو د ملک ستاسو نه نو څه حکم کوئ تاسو.

قَالُوْٓا أَرْجِهْ وَأَخَاهُ وَأَرْسِلْ فِي الْمَدَآئِنِ

دوی اوئیل مهلت ورکړه ده لره او رور د ده لره، او اولیږه په ښارونو کښ

حٰشِرِيْنَ ﴿١١١﴾ يَأْتُوْكَ بِكُلِّ سٰحِرٍ عَلِيمٍ ﴿١١٢﴾

راجمع کوونکي، رابه ولي تا ته هر جادوګر پوهه (ماهر).

وَجَآءَ السَّحَرَةُ فِرْعَوْنَ قَالُوْٓا إِنَّ لَنَا

او راغلل جادوګر فرعون ته نو اوئیل دوی یقیناً موږ لره به

۱۰۹ اول فرعون سردارانو ته اوئیل چه دا ساحر دے لکه سورة شعراء ۳۴ کښ دی بیا دے مشرانو هغه په تقلید کښ عامو خلقو ته دا سے اوئیل- هر کله چه سحر په هغه زمانه کښ ډیر موجود وؤ او دا سے سحر وؤ چه په هغے سره به په نظر باندے اثر کیدلو د دے وجے نه دوی موسیٰ علیه السلام باندے داطعن اولګوؤ-

۱۱۰ دا بدنامه لګول دی چه دے ستاسو نه دا وطن قبضه کوی او ساحر وئیل د عامو خلقو دهوکه کولو د پاره وؤ او دا قول د اقتدار والو د غصه کولو د پاره دے-

۱۱۱ دے ایت کښ مشوره ورکول د عامو خلقو دی د مقابلے کولو د موسیٰ علیه السلام سره-

۱۱۲ هغه وخت په مصر کښ د سحر ډیره چرچه وه او د سحر مدرسے وے او د هغے استاذان او ماهران وؤ- او عادتِ الٰهیه دا دے چه هر نبی له هغه معجزه ورکوی چه د هغے زمانے سره مناسب وی او سبب د غلبے شی-

لَأَجْرًا إِنْ كُنَّا نَحْنُ الْغَالِبِينَ ﴿١١٣﴾ قَالَ

خامخا مزدوری وی کہ شو موږ زوراور۔ اوئیل (فرعون)

نَعَمْ وَإِنَّكُمْ لَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ ﴿١١٤﴾ قَالُوا

هاؤ! او یقینًا تاسو به خامخا د نیزدے کړے شوو نه یئ۔ دوی اوئیل

يَا مُوسَىٰ إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ

اے موسیٰ (علیہ السلام) یا ته اوغورزوه او یا به شو

نَحْنُ الْمُلْقِينَ ﴿١١٥﴾ قَالَ أَلْقُوا ۚ فَلَمَّا

موږه (مخکښ) غورزوونکي۔ اوئیل (موسیٰ علیہ السلام) اوغورزوئ تاسو، نو هر کله چه

أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ

اوغورځولے هغوی (رسئ او همسا گانے) نو جادو ئے اوکړو په سترګو د خلقو باندے او اوېرول ئے هغوی

وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ ﴿١١٦﴾ وَأَوْحَيْنَا

او راوړو ئے جادو لوئے (په تیز د دوی)۔ او وحی اوکړه موږ

١١٣ باطل پرست خلق هر عمل د دنیا په مقصد باندے کوی ځکه دوی د اجرت ذکر مخکښ کوی. قَالُوٓا کښې فا داخله نه کړه اشاره ده چه دا قول استیناف دے په جواب د سوال کښې دے د تاکید د پاره۔ إِنْ كُنَّا نَحْنُ دا دلیل د انصاف هغوی دے چه هسے اجرت بغیر د غلبے نه، نه غواړی۔

١١٤ هغه ورله زیات رغبت ورکړو ځکه چه نزدیکت بادشاه ته ډیره لویه مرتبه ده. شربینی لیکلے دی مداد غوختل د فرعون د دوی نه ښکاره دلیل دے چه هغه عاجز ذلیل بنده وو دارنګ طلب د اجرت د ساحرانو دلیل وو چه هغوی قادر نه وو په قلب د اعیانو باندے کنه ځان له به ئے سره او سپین زر جوړول او اجرت طلب کولو ته به محتاج نه وو ځوک چه د قلب اعیان دعوی کوی دروغ وائی۔

١١٥ دا ادب د ساحرانو دے د پاره د موسیٰ علیه السلام او د دے په وجه الله تعالیٰ دوی ته ایمان نصیب کړو دا شربینی لیکلے دی۔

١١٦ دا دلیل دے چه د سحر اثر حق دے او دا د کمال د چا سره منافی نه دے ځکه چه

إِلَىٰ مُوسَىٰٓ أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ ۖ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ

موسیٰ (علیہ السلام) ته چه اوغورزوه همسا خپله ، نو ناګاهه هغې تیر کړل

مَا يَأْفِكُونَ ﴿١١٧﴾ فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ

هغه څه چه دوی جوړول۔ پس ښکاره شو حق او بے کاره شول

مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١١٨﴾ فَغُلِبُوا هُنَالِكَ

هغه عملونه چه دوی کول۔ نو کمزوری شول دوی په دغه وخت کښ

موسیٰ علیه السلام باندے هم اثر اوشو لکه په سورة طٰهٰ ۲۲ کښ دی او دا سحر د نظربندئ وو په دے سره صرف د موسیٰ علیه السلام په قوت خیالیه باندے اثر شوے دے، سحر د انبیاء په قوت عاقله باندے اثر نشی کولے۔

وَاسْتَرْهَبُوهُمْ سین د پاره د مبالغې دے۔ عَظِيمٍ اشاره ده چه عصاګانے او رسئ او ساحران ډیر زیات وو دا عظمت د هغې دے یا مراد د عظمت نه د دوی په نیز باندے وؤ۔

۱۱۷ موسیٰ علیه السلام د وحی انتظار کوو ځکه یې اوفرمائیل وَأَوْحَيْنَا اِلٰه اشاره ده چه معجزه په اختیار د نبی کښ نه وی چه څه وخت غواړی نو کولے شی نه بلکه هر وخت وحی ته محتاج وی۔ تَلْقَفُ ښکاره معنیٰ دا ده چه هغه ښامار د عصا د موسیٰ علیه السلام ټولے رسئ او عصاګانے د هغوی په خپله خله کښ تیرے کړے بعض علماء وائی چه تیریدلو نه مراد دا دے چه د هغوی اثر یې ختم کړو۔ يَأْفِكُونَ افك معنیٰ اړول د څیز د اصل نه او په باطل کښ استعمالیږی نو دوی صورتونه د رسو او همساګانو بدل کړے وؤ په مار انو سره نو اثر د هغې ختم کول دا هم تیرول دی یا هغه ختم کول دا هم کیدیشی لیکن اول قول غوره دے۔

۱۱۸ دا د مقابلے اوله نتیجه ده لفظ د وَقَعَ دلالت کوی په یقینی ظهور باندے چه هیڅ شک پکښ نه وی پاتے شوے۔ وَبَطَلَ بے کاره او بے اثره شول یا فنا شول دواړه احتمالونه دی۔

وَانْقَلَبُوْا صٰغِرِيْنَ ﴿١١٩﴾ وَاُلْقِيَ السَّحَرَةُ

او شول دوی (دا فرعونیان) ذلیلان - او اوغورزولے شول جادوګر

سٰجِدِيْنَ ﴿١٢٠﴾ قَالُوْٓا اٰمَنَّا بِرَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ﴿١٢١﴾

سجده کوونکی ۔ اوئیل دوی ایمان راوړے مونږ په رب العالمین باندے ۔

رَبِّ مُوْسٰى وَهٰرُوْنَ ﴿١٢٢﴾ قَالَ فِرْعَوْنُ

چه رب دَ موسٰی او دَ هارون دے ۔ اوئیل فرعون

اٰمَنْتُمْ بِهٖ قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ اِنَّ هٰذَا

ایا ایمان راوړو تاسو پدهٔ باندے مخکښ دَ اجازت څما نه تاسو ته ، یقینًا دا معامله

لَمَكْرٌ مَّكَرْتُمُوْهُ فِى الْمَدِيْنَةِ لِتُخْرِجُوْا

خامخا یو جرګه ده چه کړیده تاسو په ښارکښ دے دَ پاره چه اوباسئ

مِنْهَآ اَهْلَهَا فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ ﴿١٢٣﴾ لَاُقَطِّعَنَّ

دَ دینه اوسیدونکی دَ دے ، نو زر ده چه پوهه به شئ تاسو ۔ خامخا پرے به کړم

۱۱۹ په دے کښ ضمیرونه فرعونیانو ته راجع دی او صریح دلیل دے چه فرعون اِله یا رب نشی کیدلے او دا دَ مقابلے بله ظاهری نتیجه ده ۔

۱۲۰ دا دَ هغوی نیک بختی وه چه دَ حق ښکاره کیدلو سره ئے زر ایمان راوړلو. او دَ حق دَ اثر دَ وجے نه دوی ایمان راوړلو ته مجبوره شول ځکه ئے مجهوله صیغه ذکر کړه "وَاُلْقِيَ" یا دَ جلتئ دَ سجدے کولو په وجه ئے صیغه دَ مجهول ذکر کړه۔

۱۲۱ دا اقرار او اعلان دَ ایمان دے او مخکنی ایت کښ عملی ایمان وو.

۱۲۲ دا ئے ځکه اوئیل چه فرعون وهم اونکړی چه رب العٰلمین زه یم. وَهٰرُوْنَ لفظ کښ دَ وهم دفع کول وُ یعنی فرعون اونه وائي چه رب موسٰی زه یم ځکه ما دَ ده تربیت کړے دے هرکله چه هٰرُوْنَ ئے ورسره ذکر کړو نو معلومه شوه چه هغه رب مراد دے چه موسٰی او هارون دَ هغه توحید طرف ته دعوت ورکوی.

۱۲۳ دا دَ فرعون تلبیس دے په عامو خلقو باندے ورنه هغه ته ښه معلومه وه

أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُم مِّنْ خِلَافٍ ثُمَّ

لاسونه ستاسو او خپې ستاسو ادل بدل بیا به

لَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ﴿١٢٤﴾ قَالُوا إِنَّا

خامخا په سولئ کړم تاسو ټول (په یو ځای). اوئیل دوی یقینًا مونږه

إِلَىٰ رَبِّنَا مُنقَلِبُونَ ﴿١٢٥﴾ وَمَا تَنقِمُ مِنَّا

خپل رب طرف ته ګرځیدونکی یو. او بدا ته ګنړے ته زمونږ نه

چه موسیٰ علیه السلام دَ دوی سره هیڅ جرګه نه ده کړے قَبْلَ اَنْ اٰذَنَ لَكُمْ په دے سره فرعون دَ خپل استکبار ذکر کوی چه هرڅه دَ هغه اذن ته محتاج دی او حال دا چه ایمان راوړل او حق منلو کښ دَ هیچا اذن ته حاجت نیشته.

اِنَّ هٰذَا لَمَكْرٌ دا خالص دروغ دی او صریح دلیل دے په عجز دَ فرعون باندے چه هر کله هغه دَ مصر دَ حالا تو نه خبر نه لری نو الله او رب څرنګ کیدلے شی.

لِتُخْرِجُوْا مِنْهَا اشاره کوی چه دَ موسیٰ علیه السلام مقصد حکومت قبضه کول دی حال دا چه دَ هغه مقصد اقامت دَ دین وو دا دَ باطل پرستو خلقو عادت دے چه په حق پرستو باندے دَ دنیا پرستئ طعن لګوی.

فَسَوْفَ تَعْلَمُوْنَ کښ دباؤ ذکر کوی او په طٰهٰ ۷۱ او شعراء ۴۹ کښ وئیلے دی چه دا ستاسو مشر استاد دے نو په هغے کښ اشاره کوی چه سبب دَ موافقت ستاسو په مشوره کښ دَ ده سره دا دے چه دے ستاسو استاد دے نو په هغه سورتونو کښ سبب ذکر دے او په دے کښ مسبب ذکر دے سره دَ غایة نه چه "لِتُخْرِجُوْا" دے ۱۲۴ دا تفصیل دَ فسوف تعلمون دے لاس خپے ادل بدل پریکول او بیا په سولئ خیژول دا دَ فرعون دَ وخت نه شروع شویدی دا سے ابن عباس نه نقل دے په دے کښ اشاره ده لوئے ظلم دَ فرعون ته ځکه چه کومه سزا الله تعالیٰ دَ قطاع الطریق او محاربه کوونکی دَ الله او رسول دَ پاره مقرر کړے ده مائده ۳۳ کښ نو هغه فرعون دَ ایمان والو دَ پاره مقرر کړه.

۱۲۵ دا دَ ساحرانو (چه مسلمانان شول) بهادری او تثبت دے یعنی په مرګ کښ خپله فائده ګنړی چه خپل رب ته ورتلل دی.

إِلَّآ أَنْ اٰمَنَّا بِاٰيٰتِ رَبِّنَا لَمَّا جَآءَتْنَا ؕ

مګر داخبره چه ایمان راوړے دے مونږه په ایتونو د رب خپل، کله چه راغلل مونږ ته.

رَبَّنَآ أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْرًا وَّتَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ ﴿١٢٦﴾

اے ربه زمونږ! راتوے کړے په مونږه ډیر صبر او مړه کړے مونږ مسلمانان (په عقیده د توحید).

وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ

او وئیل غټانو د قوم فرعون نه (هغه ته) ایا پرېږدے ته

مُوْسٰى وَقَوْمَهٗ لِيُفْسِدُوْا فِى الْأَرْضِ

موسٰی (علیه السلام) او قوم د هغه دے د پاره چه وراني اوکړي په دے ملک کښ

وَيَذَرَكَ وَاٰلِهَتَكَ ؕ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ

او پرېږدي بندګي ستا او د معبودانو ستا. اوئیل فرعون زر دے چه وژنو به ځامن د دوی

وَنَسْتَحْيِىْ نِسَآءَهُمْ ۚ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُوْنَ ﴿١٢٧﴾

او ژوندۍ به پرېږدو (بے حیا کوو به) زنانه د دوی، او یقیناً مونږ د دوی د پاسه زور اور یو.

۱۲۶ یعنی کوم کار چه سبب د اکرام دے هغه تا سبب د عیب اوګرځولو دا دلیل دے په دے خبره چه همیشه د حق پرستو سره خلقو دشمني د ایمان په وجه کړیده لکه په سورة بروج کښ دي. مفسرینو لیکلي دي چه فرعون د دوی لاس خپے پریکړل او په سولئ یے کړل. د مرګ وخت کښ دوی دا دعا اوستله. اَفْرِغْ دلالت کوي په کامل صبر باندے او دا رنګ طلب د صبر (چه فعل د بنده دے) د الله تعالٰی نه دلیل دے چه بنده په خپل فعل کښ الله تعالٰی ته محتاج دے. تَوَفَّنَا مُسْلِمِيْنَ اشاره ده چه دلته ایمان او اسلام یو څیز دے او دا رنګ دین د ټولو انبیاؤ اسلام دے.

۱۲۷ د دے ځائے نه دویم مقام دے په درے ایتونو کښ. او په دے مقام کښ نور مصیبتونه په موسٰی علیه السلام او د هغه په قوم بیانیږي او ورسره دعوٰی اثبت. دے ایت کښ د فساد نه مراد اختلاف پیدا کیدال دي په سبب د بیان د حق سره او دے ته همیشه باطل پرستو فساد وئیلے دے

قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهِ اسْتَعِيْنُوْا بِاللّٰهِ

اوئیل موسٰی (علیه السلام) قوم خپل ته مدد غواړئ په الله تعالٰی سره

وَاصْبِرُوْا ۚ اِنَّ الْاَرْضَ لِلّٰهِ ۙ قف يُوْرِثُهَا مَنْ

او صبر کوئ، یقینًا زمکه د الله تعالٰی په اختیار کښې ده، ورکوی ئې هغه چا ته چې

يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۭ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٨﴾

او غواړي د بندګانو خپلو نه. او ښه انجام د پاره د پرهیزګارو دے.

قَالُوْٓا اُوْذِيْنَا مِنْ قَبْلِ اَنْ تَاْتِيَنَا

اوئیل دوی تکلیفونه راکړے شوی دی مونږ ته مخکښې د راتللو ستا نه

وَمِنْۢ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا ۭ قَالَ عَسٰى رَبُّكُمْ

او روستو هم د راتللو ستا نه مونږ ته. اوئیل (موسٰی علیه السّلام) نیزدے ده چې رب ستاسو

اَنْ يُّهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِى

هلاک به کړی دشمن ستاسو او روستو به اباد کړی تاسو په دے

الْاَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُوْنَ ﴿١٢٩﴾ ع ١٥ ٣ ٥

زمکه (ملک) کښې پس ګوري به (په طریقه د امتحان) چې په کومه طریقه عمل کوئ تاسو.

وَاٰلِهَتَكَ د دے نه مراد هغه معبودان دی چه په مصر کښې د فرعون په امر سره د هغوی عبادت کیدلو چه په هغے کښې شکلونه د فرعون او غوا او پیسهٔ او نمر او سپوږمئ موجود وو فرعون هم پخپله د پیسهٔ عبادت کولو اګر چه فرعون په مناظره کښې مغلوب او عاجز شو لیکن سرهٔ د دینه ځان غالب ګنړی دا نهایت بے عقلی ده.

ف ١٢٨ په دے ایت کښې موسٰی علیه السلام خپل قوم ته د مصیبتونو په خلاف کښې دوه علاجونه اوخودل استعانت بالله او صبر کول او دوه زیری ئې بیان کړل یو د دُنیا بل د اخرت. الْاَرْضَ لِلّٰهِ ملکیت حقیقی د ټولے زمکے او د زمکے د مصر الله تعالٰی لره دے او په ملکیت حکمی سره ئې الله تعالٰی ورکوی او تقسیم کوی.

ف ١٢٩ دا قول د بنی اسرائیلو په طریقه د اظهار د تثبت وو ځکه موسٰی علیه السلام

وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَوْنَ بِالسِّنِينَ

او یقیناً نیولی وو موږه فرعونیان په کلونو د سوکړې سره

وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ ﴿١٣٠﴾

او په کموالي د میوو سره د دې دپاره چه دوی نصیحت واخلی.

فَإِذَا جَاءَتْهُمُ الْحَسَنَةُ قَالُوا لَنَا هَٰذِهِ ۖ

نو هر کله به چه راغله دوی ته خوشحالي دوی به وئیل دا زموږه حق دے،

وَإِن تُصِبْهُمْ سَيِّئَةٌ يَطَّيَّرُوا بِمُوسَىٰ

او که او به رسیده دوی ته څه تکلیف نو سپیره والے به ئې گڼړلو د موسی (علیه السلام)

وَمَن مَّعَهُ ۗ أَلَا إِنَّمَا طَائِرُهُمْ عِندَ اللَّهِ

او د هغه چا چه د هغه ملگری وو. خبردار یقیناً سپیره والے د دوی مقرر وو د نیز د الله تعالیٰ نه

وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ﴿١٣١﴾ وَقَالُوا

لیکن ډیر د دوی نه پوهیږی۔ او وئیل دوی

هغوی ته نور دوه زیری دنیوی پیش کړل۔ أُوذِينَا د هغکنی أَذًى نه مراد قتل او استحیاء ده او نور کارونه د ذلت د بنی اسرائیلونه اخستل او د اذی روستنی نه مراد د تذلیل کارونه او بیا اراده د قتل او د استحیاء ده۔ كَيْفَ تَعْمَلُونَ دا دلیل دے چه په عملونوکښ مقصد، کیفیات او شرعی طریقے دی او دائے په سورة یونس ۹۰کښ هم ذکر کړے دے۔

۱۳۰ د دے ځائے نه دریم مقام دے تر ۱۳۷ پورے یو پکښ ذکر د امداد د الله تعالیٰ دے د بنی اسرائیلو سره په راليږلو د اوو عذابونو په فرعونیانو باندے او په آخرکښ د هغوی غرقول۔ په دے آیت کښ دوه عذابونه ذکر شول سِنِينَ عذاب د باندیو او صحرا والو دے۔ وَنَقْصٍ مِّنَ الثَّمَرَاتِ دا عذاب د ښارونو والو دے او ثمرات د زمکے ټولو امدنیاتو او تجارتی منافعوته شامل دے۔

۱۳۱ لَنَا هَٰذِهِ ځان به ئې د فراخئ او خوشحالئ حقدار گڼړلو د الله تعالیٰ فضل او رحم ته ئې هیڅ دخل نه ورکوو۔ يَطَّيَّرُوا تطیر نه مراد دا دے چه هر کله

مَهْمَا تَأْتِنَا بِهٖ مِنْ اٰيَةٍ لِّتَسْحَرَنَا بِهَا

هرهغه چه راوړې ته موږ ته ځه نښه دپاره ددې چه جادوا وکړې په موږ باندې په هغې سره

فَمَا نَحْنُ لَكَ بِمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۳۲﴾ فَاَرْسَلْنَا

تو نه یو موږ په تا ایمان راوړونکي. پس رالیږلو موږ

عَلَيْهِمُ الطُّوْفَانَ وَالْجَرَادَ وَالْقُمَّلَ

په دوی باندې طوفان او ملخان او سپږې

وَالضَّفَادِعَ وَالدَّمَ اٰيٰتٍ مُّفَصَّلٰتٍ قف

او چینده خان ، او وینې (دا ټولې) نښې وې جدا جدا ،

فَاسْتَكْبَرُوْا وَكَانُوْا قَوْمًا مُّجْرِمِيْنَ ﴿۱۳۳﴾

نو دوی لوئي اوکړه (د ایمان راوړلو نه) او وو دوی قوم مجرمان .

مصیبتونه د هرخوا نه راشي نوخپل بد عمل ته نسبت نه کوی بلکه بل چا ته نسبت کوی وائي چه دا فلانے شخص یا فلانے کور یا سفر وغیره سپیرهٔ وو او حدیث کښی راغلے دی چه "لَاطِيَرَةَ فِي الْاِسْلَامِ". دے ایت نه معلومه شوه چه همیشه باطل پرستو نیکانو خلقو ته سپیرهٔ وئیلے دی او د خپلې بدحالئ نسبت ئې هغوی ته کړے دے لکه په سورة یس ۱۸ کښی دی. عِنْدَ اللّٰهِ د ابن عباس رضی الله عنه نه نقل دے چه مصیبتونه د دوی د طرف د الله تعالی نه دی یا مقرر دی د الله تعالی سره په تقدیر کښی. شربیني وئیلے دی چه سبب د دوی د سپیرهٔ والی عملونه د دوی دی چه مکتوب دی د الله تعالی سره. لَا يَعْلَمُوْنَ لیکن اکثر خلق د حوادثو مصیبتونو نسبت اسبابو محسوسو ته کوی او د الله تعالی نه غافل وی او د هغه تقدیر هم نه منی. فائده: اَلْحَسَنَةُ ئې معرفه ذکر کړیده او سَيِّئَةٌ نکره ده اشاره ده چه حسنات ډیر دی او سیئات لږ دی.

۱۳۲ دا د دوی سخت ضد او عناد وو ځکه چه هم ورته ایت وائي او هم ورته د سحر نسبت کوی.

۱۳۳ بعض مفسرینو لیکلي دی چه موسیٰ علیه السلام دوی ته دُعا د شر او کړله نو دا عذابونه په دوی باندې شروع شول. فَاَرْسَلْنَا په دے کښی اشاره ده

وَلَمَّا وَقَعَ عَلَيْهِمُ الرِّجْزُ قَالُوْا يٰمُوْسَى

اوهر کله چه رابه غئ پـه دوی پاندے یو عذاب (د دے عذابونو نه) دوی به وئیل اے موسٰی

ادْعُ لَنَا رَبَّكَ بِمَا عَهِدَ عِنْدَكَ ۚ

دُعا اوغواړه مونږ له د رب خپل نه پـه سبب د هغے چه لوظ ئے کړے دے ستا سره ،

لَئِنْ كَشَفْتَ عَنَّا الرِّجْزَ لَنُؤْمِنَنَّ لَكَ

که چرے لرے کړو تا (په دُعا سره) زمونږ نه دا عذاب خامخا ایمان به راوړو پـه تا

وَلَنُرْسِلَنَّ مَعَكَ بَنِيْٓ اِسْرَآءِيْلَ ﴿١٣٤﴾ ۚ

او خامخا او به لیږو ستا سره بنی اسرائیل ـ

ډیر والی ته او معلومه شوه چه د هغے د پاره اسمانی اسباب وؤ طوفان نه مراد هر هغه شے دے چه عام هلاکت راولی که سخت بارانونه وی یا عامه وباء وی لکه دلته بعضِ مفسرینو مرض د شری لیکلے دے نو دا عذاب مالی او بدنی دواړو ته شامل دے. وَالْجَرَادَ دا عذاب مالی دے ځکه ملخانو د دوی ټول فصلونه او میوے اوخوړلے او دا د قحط نښه وی. او ملخان خوړل بغیر د ذبح نه جائز دی که هره نوعه وی هاں په حدیث ابو داؤد کښ راغلی دی چه نبی صلی الله علیه وسلم نه خوړل ځکه چه طبعًا ئے بد ګڼړل لکه ضب (خاد مئ د صحرا). وَالْقُمَّلَ د دے یو قسم هغه دی چه تیارے غلے اوخوری هغے ته سپګئ وئیلے شی دویم قسم هغه دی چه په ویښتو او بدان کښ وی او چیچل کوی دریم هغه دی چه په څاروو پورے اونخلی او خوراک کوی هغے ته کُنی وئیلے شی دا ټول قسمونه دلته مراد دی نو دا هم مالی او بدنی عذاب دے. وَالضَّفَادِعَ دا هم د دوی په خوراک او څښکا کښ داخلیدل او د دوی په سرونو او بدنونو باندے ورختل. وَالدَّمَ دا هم د دوی په خوراک او څښکاک کښ ښکاره کیدله. مُفَصَّلٰتٍ عذابونه جدا جدا وو یو روایت کښ راغلی دی چه د هر دوو عذابونو په مینځ کښ اووه یا اته ورځے وقفه وه یا دا چه د دے دلالت کول په ایت الله باندے ښه ښکاره او واضح وؤ. فَاسْتَكْبَرُوْا دا مرض د عقیدے دے او مُجْرِمِيْنَ مرض د عملونو دے.

١٣٤ دا ایت دلیل دے په دے خبره چه فرعونیانو الله تعالیٰ منلو او په مصیبت کښ د الله تعالیٰ نه د دُعا د غوښتنے قائیل وؤ او په دے ایت کښ

فَلَمَّا كَشَفْنَا عَنْهُمُ الرِّجْزَ إِلَىٰ أَجَلٍ هُمْ

پس هر كله چه لرې به كړو مونږ دَ دوى نه عذاب تر يو نيټې چه دوى به

بَالِغُوهُ إِذَا هُمْ يَنكُثُونَ ﴿۱۳۵﴾ فَانتَقَمْنَا

رسيده وَنكى وو هغې ته دغه وخت دوى به ماتولو لوظ لره - پس بدله واخستو مونږ ه

مِنْهُمْ فَأَغْرَقْنَاهُمْ فِي الْيَمِّ بِأَنَّهُمْ

دَ دوى نه نو غرق كړل مونږ دوى په درياب كښې په دې وجه چه دوى

كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا وَكَانُوا عَنْهَا غَافِلِينَ ﴿۱۳۶﴾

دروغژن كړه ايا تونه زمونږ او وو دوى دَ هغې نه بې پرواه -

معلومه شوه چه دَ موسىٰ عليه السلام دوه مقصدا وو يو مسئله دَ توحيد او بل آزادول دَ مؤحد ينو. بِمَا عَهِدَ عِندَكَ مراد دَ عهد نه نبوت دې يا مراد ترينه اجابت دَ دعا دے او با په بما كښې متعلق ده په اُدْعُ پورې يعنى په حق دَ دے چه الله تعالىٰ تا لره نبوت دركړے. يا وسيله اونيسه په هغه عهد سره، يا با دَ پاره دَ قسم ده. لَئِن كَشَفْتَ نسبت دَ كشف مجازى دے يعنى په سبب دَ دعا ستا سره چه په ادع سره ذكر ده او دا سے په سورة زخرف ۴۹ كښې هم دى.

۱۳۵ دے ايت كښې دَ دوى ضد او عناد ذكر شويدے. إِلَىٰ أَجَلٍ مراد دَ دے نه هغه اووه يا اته ورځے دى چه الله تعالىٰ دَ هر عذاب دَ پاره مقرر كړے وے او دا سے په زخرف ۵۰ كښې هم دى.

۱۳۶ په دے ايت كښې دَ دوى آخرى عذاب دَ غرق ذكر شوے دے او دَ هغې دوه وجے ذكر كړے دى. فَانتَقَمْنَا نقمت په اصل كښې زائيل كول دَ نعمت دى په عذاب سره. الْيَمِّ ډونګى درياب يا غولئ دَ درياب ته وئيلے شى او ازهرى نه نقل دے چه يم بحر مالح او بحر عذب دواړو ته وئيلے شى لكه فَاقْذِفِيهِ فِي الْيَمِّ كښې عذب مراد وو او دلته بحر مالح (قلزم) مراد دے او بحر صرف مالح ته وئيلے شى. او دوه وجے دَ عذاب تكذيب او غفلت يے ذكر كړو اګرچه دَ دوى نور هم ډير ګناهونه وو ليكن دا دواړه دَ ټولو ګناهونو جرړے وے.

سوال: غفلت خو امر غير اختيارى دے نو دا ئے ولے سبب دَ عذاب كښې

وَأَوْرَثْنَا الْقَوْمَ الَّذِينَ كَانُوا يُسْتَضْعَفُونَ

او ورکړل مونږ هغه قوم ته چه کمزوري کړے شوي وو (په مصر کښ)

مَشَارِقَ الْأَرْضِ وَمَغَارِبَهَا الَّتِي بَارَكْنَا

مشرقونه د زمکې او مغربونه د هغې، هغه زمکه چه برکتونه اچولے دي مونږه

فِيهَا ۖ وَتَمَّتْ كَلِمَتُ رَبِّكَ الْحُسْنَىٰ عَلَىٰ

په هغې کښ. او پوره شوه وعده د رب ستا ښائسته د

بَنِي إِسْرَائِيلَ بِمَا صَبَرُوا ۖ وَدَمَّرْنَا

بني اسرائيلو سره، په وجه د دے چه صبر ئے کړے وو. او هلاک کړل مونږ

مَا كَانَ يَصْنَعُ فِرْعَوْنُ وَقَوْمُهُ

هغه چه جوړول فرعون او قوم د هغه

الربع

وَمَا كَانُوا يَعْرِشُونَ (١٣٧) وَجَاوَزْنَا

او هغه باغونه چه دوي اچولے وو په سفرونو - او پورے ویستل مونږ

ذکر کړو؟

جواب: مراد د دے نه اعراض کول او بے پرواهي کول دي او دیته تغافل وئیلے شي دا مستلزم دے توهین د آیاتو نو لره.

١٣٧ د دے زمکې نه مراد زمکه د شام ده چه په هغې کښ دنیوي او اخروي برکات ډیر دي بني اسرائیل اول د شام د زمکې وارثان شول بیا د داؤد علیه السلام او سلیمان علیه السلام په وخت کښ د مصر وارثان هم شول.

يُسْتَضْعَفُونَ مراد ترینه د دوي نه عبیدان جوړول او د اولاد ذبح او استحیاء او سخت کارونه کول او ذلیل کول دي او په سورة قصص ٤ ٥ کښ هم ذکر دي. مَشَارِقَ او مَغَارِبَ اشاره ده ټولو طرفونو ته او هر کله چه د هرے علاقے مشرق او مغرب جدا جدا وي د دے وجے نه جمع ئے ذکر کړل. الْأَرْضِ مراد د دے نه هغه علاقه ده چه د فرات نه تر بحر سرف (قلزم) پورے ده دا بقاعي ذکر کړے دي په سورة مائده کښ او دا زمکه په سورة انبیاء ٧١ ٨١ او سورة

بِبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱلۡبَحۡرَ فَأَتَوۡاْ عَلَىٰ قَوۡمٍ

بنی اسرائیل دَ دریاب نه تو راغلل دوی په یو قوم باندے

يَعۡكُفُونَ عَلَىٰٓ أَصۡنَامٖ لَّهُمۡۚ قَالُواْ

چه هغوی بندګی کوله دَ معبودانو خپلو ، دوی اوئیل

يَٰمُوسَى ٱجۡعَل لَّنَآ إِلَٰهٗا كَمَا لَهُمۡ

اے موسیٰ (علیه السّلام)! جوړکړه موږ لره دَ بندګئ حقدار لکه څه رنګه چه دوی لره

ءَالِهَةٞۚ قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ تَجۡهَلُونَ ١٣٨

معبودان دی. اوئیل هغه یقیناً تاسو قوم یئ ناپوهه -

اسراء ت کښ ذکر ده. كَلِمَتُ رَبِّكَ هغه ذکر ده په سورة قصص ت ۵ ت ۶ کښ.

مَا كَانَ يَصۡنَعُ مراد دَ دے نه بنګلے او کار خانے وغیره وے.

ت ۱۳۸ دا څلورم مقام دے تر ت ۱۴۱ پورے په دے کښ بیان دَ کمزوری والی دَ عقیدے دَ بنی اسرائیلو دے او پوهه کول دَ موسیٰ علیه السلام هغوی لره اشاره ده چه په بنی اسرائیلو کښ په وخت دَ وجود دَ نبی دَ هغوی کښ کمزوری دینی شروع شوے ده. وَجَٰوَزۡنَا دا مجاوزه (بچ کول) په ورځ دَ عاشوراوه دَ دے وجے نه هغوی دغه ورځ روژه نیوله او په دے اُمت کښ دغه روژه نیول سنت دی.

عَلَىٰ قَوۡمٍ دا قوم دَ لخم قبیلے وو او شکلونه ئے دَ غواګانو جوړ کړے وو او دَ هغے عبادت ئے کوو بعضو ناپوهو بنی اسرائیلو دا مطالبه کړے وه دَ وجے دَ زوړ عادت نه او دَ وجے دَ نوی ایمان راوړلو نه. او دغسے وینا په غزوهٔ دَ حنین کښ بعضِ نوی مسلمانانو هم کړے وه چه موږ لره یوه ونه مقرر کړه چه په هغے پورے اسلحے زوړندوو دَ پاره دَ برکت لکه څرنګ چه دے مشرکانو لره دا سے ونه ده او هغے ونے ته ذات انواط وئیلے کیدو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته زورنه اوکړه چه تاسو هم دَ بنی اسرائیلو په شان وینا کوئ.

سوال: دا دواړه واقعے خو دَ هغوی په کفر او ارتداد باندے دلالت کوی؟

جواب: دا دے چه دا کفر نه دے ځکه چه دَ خپل نبی نه ئے دَ دغه مثل مطالبه کړے ده په دے عقیده باندے چه حلول دَ إِلٰه ممکن دے او دا جهل عناد دے

إِنَّ هٰٓؤُلَآءِ مُتَبَّرٌ مَّا هُمْ فِيهِ وَبَاطِلٌ

یقینًا دا خلق هلاک به کړېشي هغه چه دوی مشغول دي په بندګئ د هغې کښې او باطل دي

مَّا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ﴿۱۳۹﴾ قَالَ أَغَيْرَ ٱللَّهِ

هغه عملونه چه دوی یې کوي. او وئیل (موسٰی علیه السلام) ایا سیوا د الله تعالیٰ نه

أَبْغِيكُمْ إِلَٰهًا وَهُوَ فَضَّلَكُمْ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿۱۴۰﴾

طلب کړم تاسو لره بل معبود او هغه (الله تعالیٰ) غوره والے ورکړے تاسو لره په خلقو د زمانې (په سبب د توحید)

وَإِذْ أَنجَيْنَٰكُم مِّنْ ءَالِ فِرْعَوْنَ يَسُومُونَكُمْ

او کله چه بچ کړئ موږ تاسو د فرعونیانو نه چه رسول یې تاسو ته

سُوٓءَ ٱلْعَذَابِ ۖ يُقَتِّلُونَ أَبْنَآءَكُمْ

بد عذابونه وژل یې ځامن ستاسو

وَيَسْتَحْيُونَ نِسَآءَكُمْ ۚ وَفِى ذَٰلِكُم

او بے حیا یې پرېښودلے زنانه ستاسو او په دیکښې

په نوی مسلما نانو کښې. يَعْكُفُونَ عکوف وئیلے کیږي لازم نیول د یو څیز او توجه کول هغه ته په طریقه د تعظیم سره. تَجْهَلُونَ اشاره ده چه مشابهت د مشرکانو سره هم جهل دے.

ف۱۳۹ د اولے جملے مطلب دا دے چه دا معبودان فناه کیدونکی دي په لاسونو د مؤحدینو او د طرف د الله تعالیٰ نه هم په بلے طریقے سره. د دوی عبادت نه دے جائز. د دویمے جملے مطلب دا دے چه د دوی دا شرکی عملونه بے فائدے دي نه نفعه ورکولے شي او نه ضرر دفع کولے شي.

ف۱۴۰ دا زورنه ده قوم ته د موسٰی علیه السلام اول یې ذکر کړه چه دا معبودان اهل د عبادت نه دي او س ذکر کوي چه الله تعالیٰ حقدار د بندګئ دے په توحید سره ځکه چه دا سبب د فضیلت دے او طریقه د فضیلت ذکر ده په سورة مائده ف۲۰ کښې.

ع ١٦ ١٢ ٢

بَلَاءٌ مِّنْ رَّبِّكُمْ عَظِيْمٌ ﴿١٤١﴾ وَوٰعَدْنَا

نعمت (امتحان) وو دَ طرف دَرب ستاسو نه لوئے۔ او وعده اوکړه موږ ه

مُوْسٰى ثَلٰثِيْنَ لَيْلَةً وَّاَتْمَمْنٰهَا بِعَشْرٍ

دَ موسٰی (علیه السلام) سره دَ دیرشو شپو او پوره کړلوه موږ هغه په لسو نورو سره

فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اَرْبَعِيْنَ لَيْلَةً ۚ وَقَالَ

نو پوره شو وخت مقرر دَ رب دَ خوانه څلويښت شپې او اوئيل

مُوْسٰى لِاَخِيْهِ هٰرُوْنَ اخْلُفْنِيْ فِيْ قَوْمِيْ

موسٰی (علیه السلام) خپل رور هارون (علیه السلام) ته چه نائب شه په قوم ځما کښ

وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ سَبِيْلَ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿١٤٢﴾

او اصلاح لټوه دَ دوی او مه ځه په لار دَ ورانی کوونکو پسے۔

سـ١٤١ دے ایت کښ بیان دَ سبب دَ فضیلت دَ بنی اسرائیلو دے او تذکیر دَ نعمت دَ الله تعالٰی دے او دا سے ایت په سورة بقره سـ٤٩ او ابراهیم سـ٦ کښ هم ذکر دے۔

سـ١٤٢ دَ دے ځائے نه پنځم مقام دے تر سـ١٥٤ پورے په دے کښ ذکر دَ اول میقات دے دَ پاره دَ کتاب ورکولو او استخلاف دَ هارون علیه السلام دے او بیان دَ طلب دَ رؤیت (لیدلو) دی دَ موسٰی علیه السلام الله تعالٰی لره او بیا شرک دَ بنی اسرائیلو په عبادت دَ سخی سره او غصه دَ موسٰی علیه السلام په هغے۔ دا څلویښت شپے میاشت دَ ذوالقعده او لس ورځے دَ ذالحجه وے او روایاتو کښ راغلی دی چه دَ میاشت نه روستو موسٰی علیه السلام مسواک مستعمل کړو نو الله تعالٰی ورته لس ورځے نورے زیاتی کړے دَ دے وجے نه بِعَشْرٍ ئے جدا ذکر کړو او په دے لسو کښ ورته تورات ملاؤ شو۔

سوال: فَتَمَّ مِيْقَاتُ رَبِّهٖٓ اه دے ته څه ضرورت وو؟

جواب: مراد په دے کښ دفع دَ وهم ده یعنی څوک دا وهم اونکړی چه عشر دَ ثَلٰثِيْنَ نه جزء دے بلکه روستو دے دَ ثلٰثین نه۔ فرق په مینځ دَ میقات او وقت کښ دا دے چه وقت مطلق وخت ته وئیلے شی او میقات هغه وخت دے چه دَ څه کار دَ پاره مقرر کړے شی۔ وَقَالَ مُوْسٰى اشاره ده چه په وخت

وَلَمَّا جَآءَ مُوْسٰى لِمِيْقَاتِنَا وَكَلَّمَهٗ رَبُّهٗ ۙ

او هر کله چه راغئ موسیٰ (علیه السلام) د پاره د نیټے مقرر زمونږه او خبرے اوکړے ده سره رب د ده

قَالَ رَبِّ اَرِنِيْٓ اَنْظُرْ اِلَيْكَ ؕ قَالَ لَنْ تَرٰىنِيْ

ده اوئیل! اے ربه زما او ښایه ما ته ځان خپل چه ځه اوګورم تا ته - الله تعالیٰ اوفرمائیل هیچرے نشے لیدلے ما په دنیا کښ

وَلٰكِنِ انْظُرْ اِلَى الْجَبَلِ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ

لیکن اوګوره د دغے غر ته که ټینګ شو دے په ځائے خپل با ندے

فَسَوْفَ تَرٰىنِيْ ۚ فَلَمَّا تَجَلّٰى رَبُّهٗ لِلْجَبَلِ

نو زر ده چه او به وینے ته ما لره، نو هر کله چه نور (جلوه) ښکاره کړو رب د ده غر ته

جَعَلَهٗ دَكًّا وَّخَرَّ مُوْسٰى صَعِقًا ۚ فَلَمَّآ اَفَاقَ

اوګرځولو ئے هغه هموار د زمکے سره او پریوتو موسیٰ (علیه السلام) بے هوشه، نو هر کله چه راوچت شو (په هوش شو)

قَالَ سُبْحٰنَكَ تُبْتُ اِلَيْكَ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۴۳﴾

اوئیل ئے پاکی ده تا لره ما توبه کړیده تا ته او زه اول یم د مؤمنانو نه (په دے وخت کښ)

د غیبوبت د امیر کښ استخلاف ضروری دے که امامتِ کبریٰ وی یا صغریٰ وی۔
سوال: هارون علیه السلام خو نبی وؤ نو نبی خو د بل چا نه خلیفه نه جوړیږی؟
جواب: انبیاؤ کښ درجات دی نو هارون علیه السلام نبی وؤ لیکن کار د خلافت په ذمه د موسیٰ علیه السلام وؤ نه په ذمه د ده۔ وَاَصْلِحْ وَلَا تَتَّبِعْ اه د پاره د تاکید دی لکه سورة ص ۲۲ او ۲۶ کښ دی۔

۱۴۳:- د کلام د اوریدلو نه شوق د دیدان پیدا شو او دا سوال د موسیٰ علیه السلام د وجے د محبت نه دے او سوال د بنی اسرائیلو (ارنا الله جهرة) د بے ادبئ او د انکار د وجے نه وؤ ځکه هغه سبب د عذاب شو او حق مسلک دا دے چه لیدل د الله تعالیٰ په دنیا کښ ممکن دی لیکن واقع نه دی او د بعضِ علماؤ په نیز په دنیا کښ ممتنع دے۔ د امکان د پاره ۸ دلیلونه دادی (۱) موسیٰ علیه السلام د دے طلب کړے دے او انبیاء علیهم السلام ممتنع نه طلب کوی ځکه چه طلب د ممتنع جهل دے او انبیاء د جهل نه پاک دی (۲) لن ترانی ئے وئیلے د لن ارٰی ئے

قَالَ يٰمُوْسٰٓى اِنِّى اصْطَفَيْتُكَ عَلَى النَّاسِ

او فرمائیل الله تعالیٰ اے موسیٰ (علیه السلام) یقینًا ما غوره کړے یے ته په خلقو باندے

بِرِسٰلٰتِىْ وَبِكَلَامِىْ ۖ فَخُذْ مَآ اٰتَيْتُكَ

په پیغامونو خما او په خبرو خما سره، نو اونیسه هغه (کتاب) چه درکړو ما تا ته

وَكُنْ مِّنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۴۴﴾ وَكَتَبْنَا لَهٗ

او شه د شکر کوونکو (په بیانولو د دے سره). او لیکلے دے مونږ هغه له

نه دے وئیلے (۳) تعلیق یے په استقرار د جبل پورے کړیدے او دا ممکن دے او تعلیق په ممکن پورے امکان فائده کوی۔

سوال: حرف د لن دلالت کوی په نفی تابیدی باندے او دا سے معتزلو وئیلی دی؟

جواب: لَن دلالت کوی په نفی مؤکد باندے که تابیدی وی او که نه وی او د دے تحقیق شربینی په سراج المنیر کښ ذکر کړے دے۔

سوال: موسیٰ علیه السلام تُبْتُ وئیلے دی؟

جواب: دا توبه د تواضع او د عبادیت د وجے نه ده د گناه د وجے نه نه ده بالاجماع هاں توبه ده د دے وجے نه چه بے اجازته یے دا دُعا کړے ده۔ او لیدل د الله تعالیٰ په آخرت کښ د پاره د جنت والو یقینی دی د دے تفصیل په سورة قیامه ۲۳ او سورة تطفیف ۱۵ کښ شته۔ فَاِنِ اسْتَقَرَّ مَكَانَهٗ دا یو مثال دے چه د غر ظاهری قوت ډیر زیات دے نو چه هغه د الله تعالیٰ د تجلی طاقت نه لرلو نو کمزورے وجود د انسان به څنګه طاقت اولری. او اجماع ده د اُمت چه دا توبه د موسیٰ علیه السلام د گناه نه نه وه ځکه چه هغه گناه نه ده کړے او حدیث صحیح کښ راغلی دی چه الله تعالیٰ په تجلی کښ صرف طرف د گوتے (کچه گوته) ښکاره کړے وۀ۔ او شربینی دلته وئیلی دی چه دلته د صاحب کشاف د خپل مذهب فاسد په اثبات کښ تاویلات دی د هغے نه ځان اوساتئ۔

۱۴۴ دا تسلی ده د الله تعالیٰ د طرف نه موسیٰ علیه السلام ته چه که دیدار م منع کړو ستا نه لیکن نور احسانات م په تا کړیدی النَّاسِ نه مراد اُمتیان دی او د شکر نه مراد بیانول د کتاب د الله تعالیٰ دی او رازی وئیلی دی چه دا تسلی هم دلالت کوی په امکان د رویت باندے۔

فِي الْأَلْوَاحِ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ مَّوْعِظَةً

په تختو کښې د هر قسم ضروری کارونه وعظ

وَّتَفْصِيلًا لِّكُلِّ شَيْءٍ ۚ فَخُذْهَا بِقُوَّةٍ

او تفصیل د هر ضروری حکمونو ، نو اونیسه دا په کوشش سره

وَّأْمُرْ قَوْمَكَ يَأْخُذُوا بِأَحْسَنِهَا ۚ سَأُورِيكُمْ

او حکم کوه قوم خپل ته چه اونیسی (عمل کوی) دا په ښائسته طریقے سره . زر دے چه اوبه ښایئم تاسو ته

دَارَ الْفَاسِقِينَ ﴿١٤٥﴾ سَأَصْرِفُ عَنْ آيَاتِيَ الَّذِينَ

ملک د نافرمانو خلقو - خامخا منع کوم د بوهے د آیتونو خپلو نه هغه کسان

يَتَكَبَّرُونَ فِي الْأَرْضِ بِغَيْرِ الْحَقِّ ۚ

چه لوئی کوی په زمکه کښې په ناحقه سره -

وَإِن يَرَوْا كُلَّ آيَةٍ لَّا يُؤْمِنُوا بِهَا ۚ

او که اووینی دوی هره نښه د حق نو نه راوړی ایمان په هغے باندے ،

١٤٥ تورات په تختوکښې نازل شوے وو لیکن د هغې تختو شمار او جنس په صحیح روایاتو کښې نه دے معلوم نو په هغې کښې بحث کول عبث کار دے۔

مَوْعِظَةً د دے نه مراد زجرونه او تخویفات وغیره دی۔

وَتَفْصِيلًا د دے نه مراد احکام د تورات دی۔

بِأَحْسَنِهَا دا اضافت بیانیه دے یعنی ټول احسن دے یا اشاره ده چه احسن عزیمت ته وئیلے شی او حسن رخصت ته وائي۔

دَارَ الْفٰسِقِينَ د دے نه مراد یا خو زمکه د شام ده چه په هغې کښې جبابرۀ او سیدال یا ملک د مِصر دے یا د دے نه مراد جهنم دے په ورځ د قیامت په روستنۍ توجیه سره خطاب دے مخالفت کوونکو د کتاب الله ته او په دے معنی سره دا تخویف دے او مخکنۍ معنی سره دا بشارت دے۔

وَإِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الرُّشْدِ لَا يَتَّخِذُوْهُ

اوکه اووینی دوی لار دَ هدایت نو نه نیسی هغې لره

سَبِيْلًا ۚ وَإِنْ يَّرَوْا سَبِيْلَ الْغَيِّ يَتَّخِذُوْهُ

لار (دَ ځان) - اوکه اووینی دوی لار دَ ګمراهئ نو نیسی هغې لره

سَبِيْلًا ۚ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِنَا

لار (دَ ځان) - دا په دے وجه چه دوی دروغژن ګڼړی ایتونه زمونږ

وَكَانُوْا عَنْهَا غٰفِلِيْنَ ﴿۱۴۶﴾ وَالَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

او دوی دَ هغې نه بے پروا دی - او هغه کسان چه دروغژن ګڼړی

بِاٰيٰتِنَا وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ

ایتونه زمونږ او ملاقات دَ اخرت نو برباد دی عملونه دَ دوی -

۱۴۶ مخکښې ایت کښې ترغیب ذکر شو دَ پاره دَ عمل په تورات باندے نو په دے ایت کښې زورنه ده دَ پاره دَ هغه چا چه هغوی دَ الله تعالیٰ دَ کتاب نه مخ اړوونکی دی دَ وجے دَ ضد او عناد نه او روستو جملے دلالت کوی دَ دوی په عناد کولو باندے دا ایت دلیل دے په دے خبره چه دَ چا په زړه کښې څه تکبر وی نو هغه دَ پوهے دَ کتاب الله نه محرومه وی او علماؤ هغه نهه صفات ذکر کړیدی چه هغه منع کوونکی دی دَ پوهے دَ قرآن نه چه هغه په اتقان ص ۲۳۲/۲ دَ سیوطی، او البرهان ص ۱۸۰/۲ دَ زرکشی کښې ذکر دی. عَنْ اٰيٰتِيَ دلیلونه دَ توحید او ایتونه دَ تورات او دَ قرآن مراد دی. سَاَصْرِفُ یعنی دَ فهم دَ قرآن نه منع کول په سبب دَ ختم او دَ طبع (مهر) سره په زړونو دَ دوی باندے. بِغَيْرِ الْحَقِّ مراد دَ دے نه دین باطل دے یعنی په دینِ باطل سره تکبر کوی او دا اشاره ده چه تکبر بالحق جائز دے یعنی تکبر دَ اهل حق په اهل باطل باندے او شربینی مشهور متل ذکر کړیدے چه تکبر په مقابله دَ متکبر کښې صدقه ده.

هَلْ يُجْزَوْنَ اِلَّا مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۴۷﴾ ع

نه شي ورکیدے دوی ته بدله مګر د هغه عملونو چه دوی یئے کوی.

وَاتَّخَذَ قَوْمُ مُوْسٰى مِنْۢ بَعْدِهٖ مِنْ

او جوړ کړو قوم د موسٰی (علیه السلام) روستو د تللو د هغه نه د

حُلِيِّهِمْ عِجْلًا جَسَدًا لَّهٗ خُوَارٌ ؕ اَلَمْ

کالو د دوی نه سخے یوه جوسه وه چه هغے لره اواز وو. ایا دوی

يَرَوْا اَنَّهٗ لَا يُكَلِّمُهُمْ وَلَا يَهْدِيْهِمْ

سوچ نه کوو چه دا سخے خبرے نشی کولے د دوی سره او نه خودلے شی دوی ته څه

وقف لازم

سَبِيْلًا ۘ اِتَّخَذُوْهُ وَكَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۱۴۸﴾

لار (د فائدے) او نیوو دوی هغے سخی لره (په خدایئ سره) او وو دوی ظلم (شرک) کوونکی.

ف۱۴۷ دے ایت کښ یره اخروی ده د پاره د منکرینو. وَلِقَآءِ الْاٰخِرَةِ کښ اشاره ده چه د دوی نه اُمید د توبے کولو نیشته ځکه چه اخرت نه منی نو مراد دا دے چه سره د تکذیب نه مړشی بغیر د توبے کولو نه. اَعْمَالُهُمْ مراد د دینه نیک عملونه د هغوی لکه صله رحمی او صدقه کول او ښه اخلاق د هغوی.
ف۱۴۸ دا بله واقعه ده په وخت د سفر کولو د موسٰی علیه السلام کښ میقات اول ته او د دے تفصیل په سورة طٰهٰ ف۸۵ کښ شته. دا ایت دلیل دے په دے خبره چه هغه سخے د سامری صرف جوسه وه او اواز د سخی ترینه وتلو د هغے نه غوښه او وینه نه وه جوړه شوے او دا قول غوره دے او په دے ایت کښ د معبودِ حق دوه صفات ذکر دی اول دا چه هغه له به صفت د کلام وی دویم دا چه هغه ښودنه د فائدے کولے شی او دا دواړه صفتونه په سخی کښ نیشته او نه په مړو کښ او نه په معبودانِ باطله کښ. اول اتخذ په معنی د جوړولو دے او دویم په معنی د معبود ګرځولو دے. حُلِيِّهِمْ دا اګرچه مستعار وو لیکن روستو د هلاکت د فرعونیانو نه هغه میراث او ملکیت د بنی اسرائیلو اوګرځیدلو لکه په سورة دخان ف۲۵ ف۲۸ کښ دی. لَا يُكَلِّمُهُمْ دا صریح دلیل دے چه الله تعالٰی لره

وَلَمَّا سُقِطَ فِيٓ اَيْدِيْهِمْ وَرَاَوْا اَنَّهُمْ

او هر کله چه اوغورزولے شو ددوی په مخکښ او پوهه شو دوی چه یقیناً

قَدْ ضَلُّوْا ۙ قَالُوْا لَئِنْ لَّمْ يَرْحَمْنَا رَبُّنَا

دوی گمراه شویدی، نو اوئیل دوی که اونکړو رحم په مونږه رب زمونږ

وَيَغْفِرْ لَنَا لَنَكُوْنَنَّ مِنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۱۴۹﴾

او بخنه ئے اونکړه مونږ ته نو خامخا شو به مونږ د تاوانیانو نه.

وَلَمَّا رَجَعَ مُوْسٰٓى اِلٰى قَوْمِهٖ غَضْبَانَ

او هر کله چه واپس شو موسیٰ (علیه السّلام) خپل قوم ته غصه وو (په شرک کولو د قوم)،

اَسِفًا ۙ قَالَ بِئْسَمَا خَلَفْتُمُوْنِيْ مِنْ بَعْدِيْ ۚ

غمژن وو، اوئیل ئے بد دے هغه کار چه کړے دے تاسو روستو زما نه،

اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ ۚ وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ

آیا تلوار اوکړه تاسو د وعدے د رب ستاسو نه او کیخودلے ئے تختے

صفت د کلام شته دے ځکه چه دا وصف د معبودیت دے. قَوْمُ مُوْسٰى مراد د دینه بعض کسان دی ټولو د سخی عبادت نه دے کړے په قرینه د سورۃ اعراف ۱۵۹ لره.
۱۴۹ د دے یو مطلب دا دے چه موسیٰ علیه السلام هغه سخے او سیزلو او ایرے د هغے ئے دریاب ته اوغورځولے لکه په سورۃ طٰهٰ ۹۸ کښ دی. دویم مطلب دا دے چه هر کله دوی پښیمانه شو په عبادت د سخی ځکه چه غورځیدل کنایه ده د پښیمانه کیدلو نه او سبب د پښیمانئ روستو آیت کښ ذکر دے.
قَالُوْا اه دا ذکر د توبے د بنی اسرائیلو دے د عبادت د سخی نه او دا سبب د عفو دے چه په سورۃ بقرہ ۵۲ کښ ذکر دے. يَرْحَمْنَا دلته رحم په معنی د اجابت د توبه دے او هغه مقدم دے په مغفرت باندے. او هر کله چه رحم په معنیٰ د بچ کولو وی د گناه نه، نو بیا مغفرت مقدم کیږی په رحم باندے لکه په دعا د ادم علیه السلام سورۃ اعراف ۲۳ کښ. او نور ځایونه هم دا سے ډیر ذکر دی.

وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ يَجُرُّهٗٓ اِلَيْهِ ۭ قَالَ

او ونیولو ئې سر دَ رور خپل راښکلو ئې ځانته - اوئیل (هارون علیه السلام)

ابْنَ اُمَّ اِنَّ الْقَوْمَ اسْتَضْعَفُوْنِيْ وَكَادُوْا

اے دَ مور ځویه! یقینًا دِے قوم کمزورے گنړلے وومه ځه او نیزدے وه

يَقْتُلُوْنَنِيْ ڮ فَلَا تُشْمِتْ بِيَ الْاَعْدَاۗءَ

چه وژلے وبے ځه ، پس مه خوشحالوه په ما باندے دُشمنان

وَلَا تَجْعَلْنِيْ مَعَ الْقَوْمِ الظّٰلِمِيْنَ ۱۵۰

او مه گرځوه ما دَ قوم ظالمانو سره .

نشا دَ کتاب ورکولونه روستو الله تعالٰی دهٔ ته خبر ورکړو په باره دَ شرک دَ قوم دَ هغه کښ دَ دے وجے نه هغه غصه او واپس شو. او اصل ترتیب دَ واقعے سورة طٰهٰ کښ ذکر دے چه اول خطاب ئې دَ قوم سره اوکړو بیا دَ هارون علیه السلام سره بیا دَ سامری سره. او دے سورت کښ ترتیب مقصود نه دے.

خَلَفْتُمُوْنِيْ اه خطاب دے عبادت کوونکو دَ سخی ته یعنی شرک دَ توحید په ځائے کیښودل دا نا کاره خلافت دے یا خطاب دے هارون علیه السلام او نورو مشرانو ته چه تاسو زما صحیح خلافت نه دے کړے ځکه چه تاسو دَ شرک نه منع نه ده کړے. اَعَجِلْتُمْ اَمْرَ رَبِّكُمْ تلوار نه مراد بدلول او امر نه مراد دین دَ توحید دے یا امر نه مراد وعده دَ څلویښتو ورځو ده او دا سے په سورة طٰهٰ ۸۶ کښ ذکر دی. وَاَلْقَى الْاَلْوَاحَ مراد دَ دینه کیښودل دی په حالت دَ غصه کښ غورځول په بے ادبئ سره نه دی مراد ځکه چه دا دَ نبی دَ شان سره نه ښائي او دارنګ صحیح دلیل نیشته په دے خبره چه څه تختے دَ هغے ماتے شویدی او دلته ابن جریر دَ قتاده نه څه اسرائیلی روایات نقل کړیدی چه په هغے باندے ابن عطیه او ابن کثیر رد کړیدے.

وَاَخَذَ بِرَاْسِ اَخِيْهِ دا نیول دَ وجے دَ غصے نه دی دَ خپل گمان دَ وجے نه نه دَ پاره دَ ذلیل کولو او سورة طٰهٰ کښ ذکر شویدی چه سر او گیره دواړه وولیکن په هغے کښ تصریح نیشته په نیولو دَ گیرے باندے صرف لا تَاْخُذْ ذکر دے او هغه

قَالَ رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَلِاَخِيْ وَاَدْخِلْنَا

اوئیل (موسیٰ علیه السّلام) اے ربه ځما بخنه اوکړه ما ته او رور ځما ته او داخل کړه مونږه

فِيْ رَحْمَتِكَ ۖ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِيْنَ ﴿۱۵۱﴾ ع ۱۸ ۸

په خاص رحمت ستا کښې، او ته يې زيات مهربان دَ مهربانو نه۔

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّخَذُوا الْعِجْلَ سَيَنَالُهُمْ

يقيناً هغه کسان چه نيولے دے سخے په خدايئ سره زر دَچه او به رسي دوى ته

غَضَبٌ مِّنْ رَّبِّهِمْ وَذِلَّةٌ فِي الْحَيٰوةِ

غضب دَ طرف دَ رب دَ دوى نه او رسوائي په ژوند

الدُّنْيَا ۗ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ ﴿۱۵۲﴾

دنيوى کښې او د غسے سزا ورکوو مونږ دروغ جوړوونکو ته۔

صريح نه دے۔ ابْنَ اُمَّ هارون عليه السلام دَ موسیٰ عليه السلام څکه رورو مور او پلار يې شريک وو ليکن ذکر دَ مور يې صرف دَ رحم دَ وجے نه کړيدے وَكَادُوْا يَقْتُلُوْنَنِيْ دا دليل دے په دے خبره چه هارون عليه السلام دوى ته مسئله دَ توحيد ښه په وضاحت سره بيان کړے وه ځکه دوى دَ هغه قتل ته تيار شول۔ او دَ هغه بيان په سورة طٰهٰ کښې ذکر دے۔ تُشْمِتْ شماتة خوشحالى ښکاره کول په بد حالئ دَ دشمن باندے دا اشاره ده چه اختلاف دَ مؤحدينو په کورنئ کښې سبب دَ خوشحالئ دَ مشرکينو دے دَ دے وجے نه دا اختلاف حرام دے۔

۱۵۱ دا دُعا دَ دے وجے نه ده که دَ موسیٰ عليه السلام نه په حالت دَ غصه کښې څه قصور شوے وى او دَ هارون عليه السلام نه په باره دَ اصلاح دَ قوم کښې څه کوتاهى شوے وى نو هغه معاف کړے دا مستلزم نه دے چه دوى دے ګناه کړے وى۔

۱۵۲ دے ايت کښې زور نه ده هغه بنى اسرائيلو ته چه دَ عبادت دَ سخى نه يې توبه نه وه کړے لکه سامرى او دَ هغه ملګرى او هغه اولاد دَ بنى اسرائيلو چه په دے عمل باندے راضى وى۔ وَكَذٰلِكَ نَجْزِي الْمُفْتَرِيْنَ امام مالك نه

وَالَّذِيْنَ عَمِلُوا السَّيِّاٰتِ ثُمَّ تَابُوْا

او هغه کسان چه عملونه کوی ناکاره بیا توبه اوباسی

مِنْ بَعْدِهَا وَاٰمَنُوْٓا اِنَّ رَبَّكَ مِنْ بَعْدِهَا

پس د دے (عملونو) نه او ایمان یې راوړو، یقیناً رب ستا پس د دے توبے نه

لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۵۳﴾ وَلَمَّا سَكَتَ عَنْ مُّوْسَى

خامخا بخونکے رحم کوونکے دے۔ او هر کله چه په آرام شوه د موسٰی علیه السلام نه

الْغَضَبُ اَخَذَ الْاَلْوَاحَ ۚ وَفِيْ نُسْخَتِهَا

غصه راواخستے یې تختے، او په لیکلوشوو د هغے کښ

هُدًى وَّرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ هُمْ لِرَبِّهِمْ يَرْهَبُوْنَ ﴿۱۵۴﴾

هدایت وو او رحمت وو هغه خلقو لره چه هغوی خاص د رب خپل نه یره کوی۔

روایت دے چه مفترین نه مراد مبتدعین دی او هر بدعتی د هغه په سر باندے ذلت وی او ابن کثیر نقل کړے دے د حسن بصری نه چه ذلت د بدعت به د دوی په اوږو باندے وی اگرچه په خچر او ترکی اسونو باندے دوی سواره وی او ابو قلابه نه روایت دے چه دا هر بدعتی ته ترقیامته پورے شامل دے او نورهم د اسبابو د غضب او ذلت نه په دوی باندے په سورة بقره ۶۱ او العمران ۱۱۲ کښ ذکر دی۔

۱۵۳ دا آیت ترغیب دے توبے ته پس د شرک نه. مِنْ بَعْدِهَا کښ اشاره ده قرب د توبے ته یعنی مخکښ د مرګ نه. وَاٰمَنُوْٓا په دے کښ اشاره ده چه په السیئات کښ کفر او شرک داخل دے او دا رنګ اشاره ده استقامت ته په توبه کولو باندے. دویم مِنْ بَعْدِهَا کښ ضمیر راجع دے التوبة ته۔

۱۵۴ دا آیت دلیل دے په دے خبره چه موسٰی علیه السلام کوم الواح ایښے وو نو هغه ټولے یې راواخستے نو معلومه شوه چه د هغے نه هیڅ نه وومات شوی ځکه چه اکثره قاعده دا ده چه معرفه معاد شی معرفه ته نو دویم بعینه اول وی نو کوم تختے یې چه کیخودلے وے بعینه هغه یې راواخستلے سکوت، سکون او زوال ته وئیلے شی نو صفت د غضب دپاره کیدیشی او سکت په معنی د ترک کلام سره

وَاخْتَارَ مُوْسٰى قَوْمَهٗ سَبْعِيْنَ رَجُلًا

او غوره کړل (او بیا کل) موسیٰ (علیه السلام) دَ قوم خپل نه سړی اویا

لِّمِيْقَاتِنَا ۚ فَلَمَّآ اَخَذَتْهُمُ الرَّجْفَةُ قَالَ

دَپاره دَ وخت مقرر زمونږ، نو هر کله چه اونیول دوی لره زلزلے او ئیل (موسیٰ علیه السلام)

رَبِّ لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ مِّنْ قَبْلُ وَاِيَّايَ ؕ

اے ربه څما که تا غوښتلے نو هلاک کړے به دِ دے وے دوی مخکښ دَ دینه او ما لره.

اَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ السُّفَهَآءُ مِنَّا ۚ اِنْ هِيَ

آیا هلاکوے ته مونږ لره په هغے کار چه کړیدے کم عقلو زمونږ نه ، نه دے دا

اِلَّا فِتْنَتُكَ ؕ تُضِلُّ بِهَا مَنْ تَشَآءُ وَتَهْدِيْ

مګر امتحان ستا. ګمراه کوے ته په دے سره چالره چه او غواړے او هدایت کوے

مَنْ تَشَآءُ ؕ اَنْتَ وَلِيُّنَا فَاغْفِرْ لَنَا وَارْحَمْنَا

چالره چه او غواړے. ته مدد ګار ئے زمونږ نو بخنه اوکړه مونږ لره او رحم اوکړه په مونږه

وَاَنْتَ خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ ﴿۱۵۵﴾ وَاكْتُبْ لَنَا

او ته غوره دَ بخونکو نه ئے. او توفیق راکړه مونږ له

رائجي هغه دلته مراد نه دے - يَرْهَبُوْنَ اشاره ده چه رهبت سبب دے دَ پاره دَ فائدے اخستلو دَ کتاب الله نه. نُسْخَتِهَا کښ اشاره ده چه موسیٰ علیه السلام لره لیکلے شوے کتاب (تختے) ورکړے شوے وُو.

۱۵۵ دَ دے ایت نه شپږم مقام دے تر ۱۶۸ پورے په دے کښ ذکر دَ دویم میقات دے او نزول دَ عذاب دے او دُعا دَ موسیٰ علیه السلام ده او بیا صفات دَ اخری نبی دی او ذکر دَ رسالت دَ هغه دے بیا تذکیر دے په نعمتونو او په عذابونو سره. دَ دے زلزلے دَ راتلو سبب سورة بقره ۵۵ کښ تیر شوے دے تندار په دوی باندے دَ برے طرف نه راغے زلزله دَ لاندے نه یا مراد دَ رجفے نه فیل کیدل دَ زړونودی دَ وجے دَ تندار نه. قَوْمَهٗ مِنْ دلته پټ دے یا داچه سبعین عطف

فِيْ هٰذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ

په دے دنیا کښې د نیکو کارونو او په اخرت کښې (ښائسته بدله)

اِنَّا هُدْنَا اِلَيْكَ ۭ قَالَ عَذَابِيْٓ اُصِيْبُ

یقیناً مونږ توبه کړیده تا ته. او فرمائیل الله تعالیٰ عذاب څما رسووم یې

بِهٖ مَنْ اَشَاۗءُ ۚ وَرَحْمَتِيْ وَسِعَتْ كُلَّ شَيْءٍ ۭ

هغه چاته چه اوغواړم. او رحمت زما رسیدلے دے هر څه ته.

فَسَاَكْتُبُهَا لِلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ وَيُؤْتُوْنَ

نو خامخا خاص کووم به دا رحمت هغه چا لره چه ځان ساتی د شرک نه او ورکوی

الزَّكٰوةَ وَالَّذِيْنَ هُمْ بِاٰيٰتِنَا يُؤْمِنُوْنَ ١٥٦

زکوٰة او هغه کسانو ته چه هغوی په ایاتونو زمونږ ایمان راوړی.

بیان یا بدل دے د قومه نه بیا تقدیر د من ته حاجت نیشته. لِمِيْقَاتِنَا دا میقات دویم دے د پاره د تعلیم د طریقے د توبے د عبادت د سخی نه. لَوْ شِئْتَ اَهْلَكْتَهُمْ الخ مقصد دا دے چه د دے وخت نه مخکښې هم تا دوی د هلاکت نه بچ ساتلے دی نو اوس هم دوی بچ کړے د هلاکتِ دائمه نه یعنی دوی ژوندی کړے نو دا سفارش دے د پاره د ژوندی کولو د هغوی. بِمَا فَعَلَ السُّفَهَاۗءُ دا اجتهاد د موسیٰ علیه السلام وو چه نسبت د دے عذاب یې هغه چا ته اوکړو چه هغوی د سخی عبادت کړے وو. یا مراد د سفهاءُ نه بعضِ کسان دی د دے اویاء سړو نه چه هغوی سوال کړے وو د لیدلو د الله تعالیٰ او نور کسان پرے غلی شول نو عذاب په ټولو راغے. اِنْ هِيَ ضمیر د هی راجع دے فعل د سفهاؤ ته په تاویل د فتنه سره. خَيْرُ الْغٰفِرِيْنَ یعنی ته ټول ګناهونه ښښے او بغیر د شرمنده کولو نه مغفرت کوے او د دے دعا نه روستو تقدیر دا دے چه هغوی ژوندی شول لکه په سورة بقره ۵۶ کښې دی.

۱۵۶ مراد د حَسَنَةً نه توفیق د نیکو اعمالو دے او هغه ژوند د دنیا چه صرف کولے شی د پاره د اخرت. عَذَابِيْٓ اشاره ده چه نیول په ګناه سره او عفو کول په اختیار د الله تعالیٰ کښې دی. وَرَحْمَتِيْ یعنی د عذاب نه بچ کول رحمت د الله تعالیٰ دے

الَّذِيْنَ يَتَّبِعُوْنَ الرَّسُوْلَ النَّبِيَّ الْاُمِّيَّ
دا هغه کسان دی چه تابعداری کوی دَ رسول دَ نبی اُمّی

الَّذِیْ یَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا عِنْدَهُمْ
هغه چه مومی دوی ذکر دَ هغه لیکلے شوے دَ دوی سره

فِی التَّوْرٰىةِ وَالْاِنْجِیْلِ٘ یَاْمُرُهُمْ
په تورات او انجیل کښ، حکم کوی دوی ته

بِالْمَعْرُوْفِ وَیَنْهٰىهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ
په هره نیکئ او منع کوی دوی لره دَ هرے بدئ نه

وَیُحِلُّ لَهُمُ الطَّیِّبٰتِ وَیُحَرِّمُ عَلَیْهِمُ
او حلالوی دوی لره پاک څیزونه (په بیان کولو سره) او حراموی په دوی باندے

الْخَبٰٓئِثَ وَیَضَعُ عَنْهُمْ اِصْرَهُمْ
گنده څیزونه (په بیان کولو) او لرے کوی دَ دوی نه درانه حکمونه دَ دوی

اومراد دَ دے نه رحمتِ عامه دنیویه دے او دا سے په سورۃ مؤمن کښ دی۔
وَرَحْمَتِیْ وَسِعَتْ کُلَّ شَیْءٍ بعض مفسرینو وئیلے دی چه دا نازل شونو ابلیس
او وئیل زه هم طمع کوم دَ هغه رحمت نو په هغه باندے رداوکړے شو په دے
قول سره چه فَسَاَكْتُبُهَا اه بیا یهود یا نو نصارا ؤ دعوی اوکړه دَ دے صفاتو چه
دا په مونږ کښ شته دے نو الله تعالیٰ نازل کړو ورپسے ایت چه په هغے کښ
رحمت دَ الله تعالیٰ خاص کړے شو په اخری اُمت پورے دَ وجے دَ صفت دَ الَّذِیْنَ
یَتَّبِعُوْنَ اه نه۔ او دا سے په سورۃ انعام ۱۵۵ کښ هم تیر شوے دی۔ یَتَّقُوْنَ مراد
دَ دے نه دَ ټولو اقسامو دَ شرك او کفر او گناهونو کبیره نه بچ کیدل دی۔ وَیُؤْتُوْنَ
الزَّکٰوةَ هر کله چه ادا دَ زکوٰة په بنی اسرائیلو باندے ډیر گران وو نو ځکه دَ هغے
تخصیص یے اوکړو ابن کثیر وئیلے دی چه مراد دَ دے نه عام دے که زکوٰة دَ
مال وی او که دَ نفس وی۔ بِاٰیٰتِنَا ټول احکام منزله مراد دی چه په تورات کښ
وی یا انجیل یا قرآن کښ)۔

وَالْأَغْلٰلَ الَّتِيْ كَانَتْ عَلَيْهِمْ ۚ فَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او سختئ سزاګانی هغه چه وے په دوی باندے . نو هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے

بِهٖ وَعَزَّرُوْهُ وَنَصَرُوْهُ وَاتَّبَعُوا النُّوْرَ

په پیغمبر او ملګرتیا ئے کړیده دده او مدد ئے کړیدے دده او تابعداری کړیده دَ هغې رنړا

الَّذِيْٓ اُنْزِلَ مَعَهٗٓ ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُوْنَ ﴿١٥٧﴾ ع ١٩/٤/٩

چه نازل کړے شویده پدهٔ باندے نو دغه کسان خاص دوی کامیاب دی.

١٥٧ هرکله چه یهودو نصاری دعوی اوکړله چه تیر شوی درے صفتونه په مونږ کښ موجود دی نو رحمت په مونږ پورے خاص دے نو دا صفت ئے ذکر کړو چه هغوی ترینه خارج شی او په دے ایت کښ دَ اخری نبی چه لس صفات ذکر دی نو دغسے صفات دَ هغه په تورات او انجیل کښ هم ذکر وو. رَسُوْل په اعتبار دَ پیغام راوړلو دے دَ الله تعالی دَ طرف نه. او نَبِی په اعتبار دَ خبر ورکولو دَ اُمت ته او په اعتبار دَ لوئے مرتبے سره. او اُمّی صفت دَ مدح دَ هغه دے دا دَ بل چا دَ پاره دَ مدح صفت نه شی کیدے او په دے صفت کښ معجزه ده او دَ هغې تفصیلی وجے تفسیر سراج المنیر لیکلے دی او بل قول دا دے چه اُمّی منسوب دے ام القری ته. یَجِدُوْنَهٗ مَكْتُوْبًا یعنی نوم او صفات دَ هغه او دلیل په دے باندے حدیث دَ مسند احمد دے چه ابن کثیر هغې ته حدیث جیّد وئیلے دے او یهود نصاری اګرچه په تحریف دَ هغې کښ ډیر کوشش کړے دے لیکن بیا هم داسے عبارات موجود دی چه دلالت کوی په رسالت دَ نبی اخر الزمان باندے. یَاْمُرُهُمْ بِالْمَعْرُوْفِ دَ عطاء نه نقل دے چه په معروف کښ ترک دَ شرکیاتو او خائسته اخلاق او صله رحمی سا تل داخل دی او منکر کښ ټول شرکیات او قطع دَ صله دَ رحمئ داخل ده. مَعْرُوْفِ هغه څیز دے چه په کتاب او سنت سره دَ هغې ښه والے معلوم وی او منکر هر هغه څیز دے چه مخالف وی دَ دلیل شرعی نه. وَيُحِلُّ نسبت دَ حلال او حرمت نبی صلی الله علیه وسلم ته په طریقه دَ بیان کولو سره دے نه په طریقه دَ تشریع سره په دلیل دَ حدیث دَ بخاری ص ٤٣٨/١ په باره دَ نکاح کولو دَ علی رضی الله عنه دَ لور دَ ابوجهل سره او حدیث مسلم ص ٢٠٩/١ کښ په باره دَ اوګه کښ. الطَّیِّبٰتِ مراد دَ دے نه هغه څیزونه دی چه مشرکینو او یهود او نصاراؤ بغیر

قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّىْ رَسُوْلُ اللّٰهِ

ته ووايه اے خلقو! يقيناً زه رسول د الله يم

اِلَيْكُمْ جَمِيْعَا ِۨ الَّذِىْ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

تاسو ټولو ته (او بيان كووم) چه الله تعالىٰ هغه ذات دے، چه خاص هغه له بادشاهي د اسمانونو

وَالْاَرْضِ ۚ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ يُحْىٖ وَيُمِيْتُ ۠

او د زمكے ده، نيشته حقدار د بندگئ بغير د هغه نه ژوندى كول او مړه كول كوى،

فَاٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهِ النَّبِىِّ الْاُمِّىِّ

نو ايمان راوړئ په الله تعالىٰ او په رسول د هغه چه نبى اُمّى دے

الَّذِىْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَكَلِمٰتِهٖ وَاتَّبِعُوْهُ

هغه چه ايمان لرى په الله تعالىٰ او په احكامو د هغه او تابعدارى اوكړئ د هغه

د دليل نه په ځان باندے حرام كړے وُو چه هغے ته تحريم د غيرالله وئيلے شى او خَبَآئِثَ نه مراد خنزير، وينه او ربوا وغيره ده چه يهودو نصاراؤ ځان له حلال كړے دى يا مراد د دے نه عام دے ابن كثير د بعض علماؤ نه نقل كړيدى چه هغه څيز چه شرعًا حلال دے نو هغه طيب دے او بدن او دين لره نفع وركوونكے دے او هغه څيز چه حرام دے شرعًا نو هغه خبيث او ضرر وركوونكے د دين او د بدن دے. اِصْرَهُمْ وَالْاَغْلٰلَ دے دواړو كښ فرق دا دے اِصْرَ هغه گناهونو ته وائي چه هغه بغير د توبے نه نه معاف كيږى يا مراد د دينه گران گران عملونه دى او اَغْلٰلَ نه مراد سختے سزاگانے دى په سبب د بدو عملونو د دوى وَعَزَّرُوْهُ د دے نه مراد حفاظت د دين د رسول الله دے په ردكولو د مشركانو او د مبتدعينو سره. وَنَصَرُوْهُ د دے نه مراد اشاعت د دين د رسول الله دے په جهاد او په قتال سره. حاصل دا دے چه دعا د موسىٰ عليه السلام چه مخكښ ايت كښ ذكر ده د هغه قوم ته ئے هم فائده وركړه ليكن خاصه فائده ئے د نبى صلى الله عليه وسلم اُمّت ته وركړه.

لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ ﴿۱۵۸﴾ وَمِنْ قَوْمِ مُوْسٰٓى اُمَّةٌ

دے دپارہ چہ ھدایت اومومئ ۔ او بعض دَ قوم دَ موسیٰ (علیہ السلام) نہ یوہ ډلہ دہ

يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۵۹﴾

چہ بیان کوی دَ حق (حق تہ بلنہ کوی) او پہ دے حق سرہ فیصلے کوی ۔

وَقَطَّعْنٰهُمُ اثْنَتَيْ عَشْرَةَ اَسْبَاطًا اُمَمًا ؕ

او تقسیم کړل مونږہ دوی دولس خاندانونہ مختلفے ډلے ۔

وَاَوْحَيْنَآ اِلٰى مُوْسٰٓى اِذِ اسْتَسْقٰىهُ قَوْمُهٗٓ

او وحی اوکړہ مونږ موسیٰ (علیہ السلام) تہ کلہ چہ اوبہ اوغوښتے دَ ھغہ نہ قوم دَ ھغہ

۱۵۸ ھرکلہ چہ صفات دَ نبی صلی اللہ علیہ وسلم ذکر شول نو اوس ذکر کوی دعوتِ عامہ دَ ھغہ سرۀ دَ ذکر دَ مقصد دَ رسالت نہ چہ ھغہ توحید دے اوامر دے پہ ایمان او اتباع دَ ھغہ سرہ دَ پارہ دَ حصول دَ ھدایت او پہ دے ایت کښں بیان دَ عموم دَ رسالت دَ اخری پیغمبر دے یھود او نصاراؤ وغیرہ ټولو انسانانو تہ ترقیامتہ پورے او داسے پہ سورۃ العمران ن۲۰ او انعام ن۱۹ کښں دی۔ اوالَّذِیْ لَهٗ اه سرہ بیان دَ ھغے مسئلے دَ توحید دے چہ پہ ھغے سرہ دا نبی صلی اللہ علیہ وسلم رالیږلے شوے دے اول توحید دَ ربوبیت دویم توحید دَ الوھیت دے الْاُمِّیِّ صفت یئے دَ دے وجے ذکر کړو چہ دا صفتِ خاصہ دَ اخری نبی دے۔
يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ دا دلیل دے پہ دے خبرہ چہ پیغمبر ھم مکلف دے پہ احکامو دَ اللہ تعالیٰ سرہ او دارنګ دَ دے نبی عقیدہ ھم دَ خپل دعوت سرہ موافق دہ۔
فائدہ: پہ دے ایت کښں ایمان یئے سرۀ دَ اتباع نہ سبب دَ ھدایت ګرځولے دے نو معلومہ شوہ چہ صرف تصدیق دَ نبی پہ غیر دَ اتباع نہ فائدہ نہ ورکوی۔
۱۵۹ دے ایت کښں اشارہ دہ چہ دَ بنی اسرائیلو نہ داسے خلق شتہ دے چہ دَ اخری نبی تابعداری دوی پہ زمانہ دَ موسیٰ علیہ السلام کښں وو او دارنګ پہ زمانہ دَ نبی اخرالزمان کښں ھم بعض کسان وو۔

أَنِ اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ ۚ فَانْبَجَسَتْ

چه اووهه په همسا خپلے سره دغه کیتے لره نو رااووتلے

مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا ۖ قَدْ عَلِمَ كُلُّ

دَ هغے نه دولس چینے . یقینًا پیژندلو هرے

أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ ۖ وَظَلَّلْنَا عَلَيْهِمُ

ډلے گودر خپل . او سورے (سایه) کړه مونږ په دوی باندے

الْغَمَامَ وَأَنْزَلْنَا عَلَيْهِمُ الْمَنَّ وَالسَّلْوَىٰ ۖ

وریځ او رااولیږل مونږ په دوی باندے تورنجبین او مرزان-

كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ ۚ وَمَا ظَلَمُونَا

(اُوئیل مونږ) خورئ دَ مزیدار هغے نه چه درکړیدی مونږ تاسو ته- او نه وو کړے مونږ په دوی ظلم

وَلَٰكِنْ كَانُوا أَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُونَ ﴿١٦٠﴾

لیکن وو دوی چه په ځانونو خپلو باندے یئے ظلم کوو-

ت ١٦٠ هرکله چه عموم دَ رسالت دَ آخری نبی او دعوت دَ هغه ذکر شو نو اوس بنی اسرائیلو ته تذکیر بالنِعم والنِقم ذکر کوی دَ پاره دَ ترغیب او تخویف تر ١٦٨ پورے نو په دے ایت کښں تذکیر دے بنی اسرائیلو ته په څلورو انعاماتو سره. اول انعام، تقسیمول دَ دوی وو په دولس ١٢ جماعتونو کښں دَ تنظیم دَ پاره- بنی اسرائیل دَ یعقوب علیه السلام دَ دولس ځامنو اولاد وُو او دَ هریو نه مستقل خاندان او جماعت جوړ شو او دَ هر یو جماعت جدا جدا نقیب وُو نو دا منظم کیدل سرهٔ دَ کثرت نه انعام وُو- دویم انعام اوبهٔ راویستل وو دَ کټے نه. دریم انعام سورے کول دَ وریځ. څلورم انعام مَن او سلوٰی. فَانْبَجَسَتْ، انبجاس په معنٰی دَ لږے لږے اوبو راوتلو دے. او انفجار په معنٰی دَ ډیرو اوبو راوتلو دے. نو اول اوبه لږے لږے راوتے بیا ډیرے شوے او دَ دے انعاماتو ذکر په سورة بقره ت ٥٧ ت ٦٠ کښں تیر شوے دے. اثْنَتَيْ عَشْرَةَ حال دے او أَسْبَاطًا بدل دے دَ حال نه او أُمَمًا صفت دَ اسباطا دے. فائده: په سورة بقره کښں

وَإِذْ قِيلَ لَهُمُ اسْكُنُوا هَٰذِهِ الْقَرْيَةَ

او کله چه اُوئیلے شو دوی ته اوسیږئ په دے کلی کښں

وَكُلُوا مِنْهَا حَيْثُ شِئْتُمْ وَقُولُوا حِطَّةٌ

او خورئ دَ هغے نه کوم ځائ چه خوښه وی ستاسو او وایئ لفظ دَ حطة

وَادْخُلُوا الْبَابَ سُجَّدًا نَّغْفِرْ لَكُمْ

او ورننوځئ دروازے ته سرخکته کوونکی ، نو او به بخو تاسو ته

خَطِيٓـَٔاتِكُمْ ۚ سَنَزِيدُ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٦١﴾

گناهونه ستاسو۔ خامخا زیات به کړو ثواب دَ ښائسته عمل کوونکو۔

فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْهُمْ قَوْلًا

پس بدل کړه ظالمانو دَ دوی نه وینا

غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ فَأَرْسَلْنَا عَلَيْهِمْ

(واخستنه ئے) غیر دَ هغے نه کوم چه وئیلے شوے وه دوی ته پس راولیږو مونږ په دوی باندے

مقصد تفصیل دَ انعاماتو وو نو دَ کمال دَ انعام دَ پاره ئے هلته انفجار ذکر کړو او دلته انبجاس ذکر شو۔

۱۶۱ دے کښں ذکر دَ پنځم انعام دے چه مشتمل دے په څلورو اوامرو باندے دوه انعامات دی او دوه احکام دی تفسیر ئے تیر شوے دے سورة بقره ۵۸ کښں۔ سورة بقره کښں داخلیدل ذکر کړے وو او دلته کښں ئے اوسیدل ذکر کړه ځکه داخلیدل مخکښں وی دَ اوسیدلو نه او ترتیب قرآنی کښں سورة بقره مخکښں ده په دے سورت باندے۔

رِجۡزًا مِّنَ السَّمَآءِ بِمَا كَانُوۡا يَظۡلِمُوۡنَ ۝١٦٢ ع

سخت عذاب دَ بره طرف نه په سبب دَ هغې چه دوی ظلم کوو۔

وَسۡئَلۡهُمۡ عَنِ الۡقَرۡيَةِ الَّتِىۡ كَانَتۡ

او تپوس اوکړه دَ دوی نه په باره دَ هغه کلی کښې چه وو هغه

حَاضِرَةَ الۡبَحۡرِ ۘ اِذۡ يَعۡدُوۡنَ فِى السَّبۡتِ

په غاړه دَ دریاب، کله چه دوی تیریدل کول (حد شرعی نه) په ورځ دَ خالی کښې

اِذۡ تَاۡتِيۡهِمۡ حِيۡتَانُهُمۡ يَوۡمَ سَبۡتِهِمۡ

کله چه راتلل دوی ته مهیان دَ دوی په ورځ دَ خالی کښې

شُرَّعًا وَّيَوۡمَ لَا يَسۡبِتُوۡنَ ۙ لَا تَاۡتِيۡهِمۡ ۛۚ

ښکاره، او کله به چه ورځ دَ خالی نه وه په دوی باندې، نه به راتلل دوی ته (مهیان)

كَذٰلِكَ ۛۚ نَبۡلُوۡهُمۡ بِمَا كَانُوۡا يَفۡسُقُوۡنَ ۝١٦٣

دغسې ازمیښت کوو مونږ په دوی باندې په سبب دَ هغې چه دوی تیریدل دَ حکم دَ الله تعالیٰ نه.

وَاِذۡ قَالَتۡ اُمَّةٌ مِّنۡهُمۡ لِمَ تَعِظُوۡنَ

او کوم وخت چه اووئیل یو ډلې دَ دوی نه ولې وعظ کوئ

۲۰ ع ۵
وقف لازم
معانقه ۱۲ عند المتاخرین النصف

۱۶۲ دا تذکیر دے په اول عذاب سره تفسیر ئې بیان شوے دے په سورة بقره ۵۹ کښې او سبب دَ دے عذاب تبدیل دَ قول شرعی او عمل شرعی دے او په دے آیت او دَ سورة بقره ۵۹ کښې اختلاف دَ عبارت دے په اته طریقو سره چه دَ هغې تفصیل په سورة بقره کښې ذکر دے۔

۱۶۳ دا تذکیر دے په دویم عذاب سره چه سبب ئې حیله کول وؤ۔ او دا واقعه یهودیانو پټوله دَ وجې دَ شرم نه نوځکه الله اوفرمائیل وَسۡئَلۡهُمۡ او دَ دے کلی نوم ایله وو او دے زمانه کښې هغې ته عقبهٔ داؤد وائي۔ دے آیت کښې اشاره ده چه کله الله تعالیٰ امتحان کوی نو حرام شیزونه ډیر کړی او حلال کم کړی۔ دویم په دے کښې اشاره ده چه حیلې کول په احکامو شرعیو کښې

قَوْمًا ۙ اللّٰهُ مُهْلِكُهُمْ اَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا

هغه قوم ته چه الله تعالیٰ به هلاک کړی هغوی (په دنیا کښ) یا به عذاب ورکړی هغوی ته عذاب

شَدِيْدًا ؕ قَالُوْا مَعْذِرَةً اِلٰى رَبِّكُمْ

سخت (په اخرت کښ) - دوی اُوئیل (داخو) دپاره دَعذر پیش کولو رب ستا سو ته

وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُوْنَ ﴿١٦٤﴾ فَلَمَّا نَسُوْا

او امید دے چه دوی به بچ شی (دَ دے گناه نه)۔ نو هر کله چه هیر کړو دوی

مَا ذُكِّرُوْا بِهٖۤ اَنْجَيْنَا الَّذِيْنَ يَنْهَوْنَ

هغه ذکر (حکم) چه بیان شویوو دوی ته، نو بچ کړل مونږ هغه کسان چه منع ئے کوله

دے ته عداوان وائی او دا حرام دی۔ اهلِ علم وائی چه هر هغه حیله چه حکمت شرعیه باطلوی یا په هغے سره رسیدل کیږی حراموته نو هغه ناجائزده بالاتفاق مثال دَ هغے په دے زمانه کښ حیله دَ اسقاطِ مروجه ده چه په دے سره حکمت شرعی ته نقصان رسی ځکه چه خلق په سبب دَ دے زړه ورشی په پریښودلو دَ مانځه او دَ غسے دَ نورو فرائضو بل دا چه فدیه شرعیه دَ مانځه او دَ روژے دا حق دَ فقیرانو دے او دَ دے حیلے په وجه ئے مال د اورولره اخستل جائزکوی نو دا حیله حرام ده او بدعت دے او دا سے په سورۃ بقره ۶۵ کښ تیر شویدی وَسْئَلْهُمْ مراد دَ سوال نه توبیخ او تقریر دَ گناه دَ دوی دے او په دے واقعه کښ دلیل دے په صدق دَ نبی صلی الله علیه وسلم چه امی وو چه دا واقعه ئے نه دَ چانه اوریدلے ده او نه ئے لوستلے ده او علماؤ دَیهودو ته ئے وریاده کړله۔ حَاضِرَةَ الْبَحْرِ مراد دَ دے نه بحر قلزم دے او مراد دَ حاضره نه مجاور (په غاړه) دے ځکه چه حضور نقیض (مقابل) دَ غیبت دے دَ دے وجے نه غائب شخص ته حضور او حضرت وئیل موهِم شرک دے۔

١٦۴ دا ایت دلالت کوی په دے باندے چه په هغے خلقو کښ درے ډلے شوے یوے ډلے منع کوله دَ دے حیلے نه او دویمے ډلے منع کول هغوی لره دَ تبلیغ دَ دے مسئلے نه نو هغه مخکنئ ډلے ورته جواب اوکړو چه په دے بیان کولو کښ دوه فائدے دی یو فائده زمونږ ذمه واری اداکول دی چه الله تعالیٰ زمونږ

عَنِ السُّوْٓءِ وَاَخَذْنَا الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

دَ بدئ نه او اونیول مونږ ظالمان

بِعَذَابٍۭ بَئِيْسٍۭ بِمَا كَانُوْا يَفْسُقُوْنَ ﴿١٦٥﴾

په عذاب سخت سره په سبب دَدے چه دوی نافرمانی کوله۔

فَلَمَّا عَتَوْا عَنْ مَّا نُهُوْا عَنْهُ قُلْنَا لَهُمْ

پس هر کله چه دوی نافرمانی اوکړه دَ هغے نه چه دوی منع شوی وو دَ هغے نه، نو اُوئیل مونږ دوی ته

كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِئِيْنَ ﴿١٦٦﴾ وَاِذْ تَاَذَّنَ

شئ شادوګان (بیزوګان) ذلیل۔ او کله چه اعلان اوکړو

غاړه اُزاده کړی او دویمه فائده اُمید دے چه دا خلق پوهه شی او دَ دے ګناه نه بچ اوساتی۔ او دریمه ډله هغه وه چه دا حیله یَے کوله نو په اَیت ۱۶۳ کښں ذکر دَ حیله ګرو وؤ او په ۱۶۴ کښں ذکر دَ دویمے ډلے (چه منع یَے کوله دَ وعظ کولونه صراحةً) او دریمه ډله په کښں ضمناً ذکر شویده۔ مَعْذِرَةً دا دلیل دے چه نهی عن المنکر فرض ده اَګرچه اوریدونکی ورباندے عمل نه کوی او غیر ضروری عذرونه
۱۶۵ دا اَیت دلالت کوی په دے خبره چه دَ عذاب نه بچ شوے ده صرف اوله ډله او په دویمه ډله هم سخت عذاب راغلے دے چه دَ هغے علم دَ الله تعالیٰ سره دے۔ نو په دے اَیت کښں مراد دَ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا نه هغه دویمه ډله ده۔ دا قول قرطبی دَ ابن عباس رضی الله عنه نه روایت راوړے دے اَګرچه دَ هغه نه دَ دے خلاف روایت هم شته دے۔
۱۶۶ په دے اَیت کښں عذاب دَ دریمے ډلے ذکر دے او دَ دوی جرم دَ دویمے ډلے نه زیات وو ځکه دَ دوی په باره کښں یَے لفظ دَ عَتَوْا اوفرمائیلو او عذاب دَ دوی دَ هغوی نه سخت وؤ۔ فائده: هر کله چه په حیلے سره مسخ دَ دین راځی دَ دے وجے نه عذاب په مسخ سره ورکړے شو دَ پاره دَ مناسبت۔

رَبُّكَ لَيَبْعَثَنَّ عَلَيْهِمْ اِلٰى يَوْمِ الْقِيٰمَةِ

رب ستا چه خامخا راليږي به په دوی باندے تر ورځ د قيامت پورے

مَنْ يَّسُوْمُهُمْ سُوْٓءَ الْعَذَابِؕ اِنَّ رَبَّكَ

هغه څوک چه رسوی به دوی ته په عذاب ، يقيناً رب ستا

لَسَرِيْعُ الْعِقَابِۖ وَاِنَّهٗ لَغَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۱۶۷﴾

خامخا زر عذاب ورکوونکے دے، او يقيناً هغه خامخا بخونکے رحم کوونکے دے۔

وَقَطَّعْنٰهُمْ فِى الْاَرْضِ اُمَمًاۚ مِنْهُمُ

او ټس نس کړل مونږه دوی په زمکه کښں مختلفو ډلے، بعض د دوی نه

الصّٰلِحُوْنَ وَمِنْهُمْ دُوْنَ ذٰلِكَ ز

نيکان دی او بعض د دوی نه سيوا دی د دے نه

وَبَلَوْنٰهُمْ بِالْحَسَنٰتِ وَالسَّيِّاٰتِ لَعَلَّهُمْ

او ازميښت اوکړو مونږ په دوی باندے په خوشحالو او په تکليفونو سره دے دپاره چه دوی

يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۶۸﴾ فَخَلَفَ مِنْۢ بَعْدِهِمْ

راوګرځی (د نافرمانئ نه)۔ پس پيدا شول روستو د دوی نه

ف۱۶۷ دے ايت کښں يره دنيوی ده هغه چالره چه هغوی دين د الله تعالیٰ بدلوی په حيلو وغيرو سره چه په دوی باندے به حاکمان مقرر شی چه دوی لره به ذليل کړی او جزيه به ترينه اخلی لکه چه مقرر شو په دوی باندے يونان والا کله انبيين بيا کله انبيين بيا نصاریٰ بيا امت د محمد صلی الله عليه وسلم او په اخر کښں به عيسیٰ عليه السلام مقرر شی۔

ف۱۶۸ دے ايت کښں هم يره دنيوی ده چه د دغے ګناه نه روستو په دوی کښں مختلفے ډلے پيدا شوے او په زمکه کښں مختلف مکانونو کښں تقسيم شول د پاره د دے چه يو ځائے کيږی نه او اتفاق ئے رانشی نو دا هم عذاب دے او امتحان اوشو په دوی باندے په نعمتونو او په عذابونو سره۔

خَلْفٌ وَّرِثُوا الْكِتٰبَ يَاْخُذُوْنَ عَرَضَ

ناکاره خلق وائے خستو کتاب په میراث کښی اخلی (حرام) مال

هٰذَا الْاَدْنٰى وَيَقُوْلُوْنَ سَيُغْفَرُ لَنَا ۚ

د دے ذلیل ژوند او وائی دوی خامخا بخښه به کیږی مونږ ته

وَاِنْ يَّاْتِهِمْ عَرَضٌ مِّثْلُهٗ يَاْخُذُوْهُ ؕ

او که راشی دوی ته حرام مال دغسے نور نو هغه هم اخلی.

اَلَمْ يُؤْخَذْ عَلَيْهِمْ مِّيْثَاقُ الْكِتٰبِ

آیا نه دے اخستے شوے د دوی نه کلک لوظ په کتاب کښی

اَنْ لَّا يَقُوْلُوْا عَلَى اللّٰهِ اِلَّا الْحَقَّ

چه نه به وائی د الله تعالیٰ په باره کښی مګر حقه خبره

وَدَرَسُوْا مَا فِيْهِ ؕ وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ خَيْرٌ

او لوستلے دی دوی هغه حکمونه چه په دے کتاب کښی دی. او کور روستنے (جنت) غوره دے

لِّلَّذِيْنَ يَتَّقُوْنَ ؕ اَفَلَا تَعْقِلُوْنَ ﴿۱۶۹﴾

هغه کسانو لره چه ځان ساتی د شرک نه. آیا نو عقل نه لرئ تاسو ؟.

ف ۱۶۹ د دے ځائے نه تر آخره پورے د دے حصے دریم باب دے په دے کښی د یهودیانو یو قول په څلورو طریقو سره رد کړیدے او بیا آیتونه دی چه تعلق لری د سورت د درے واړو دعوو سره او هغه اووه زواجر دی. او رد د شرک دے تفصیلاً او په آخر کښی آداب د دعوت الی الله دی . په دے آیت کښی ذکر د روستو خلقو دے پس د بیان د حال د مشرانو د دوی نه.
خَلَفَ په سکون د لام سره ناکاره نائبانو ته وائی مطلب دا دے چه د روستنو مُلایانو د دین په ذریعه حرام مالونه خوړل او وئیل به ئے چه دا مونږ ته حلال دی ځکه چه مونږه بښلے شوے یو. لکه په دے اُمت کښی هم بعضِ پیران او ملایان حرام خوری او دا بهانه کوی چه دا مونږ لره حلال دی زمونږ د مرتبے

وَالَّذِيْنَ يُمَسِّكُوْنَ بِالْكِتٰبِ وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ ؕ

او هغه کسان چه عمل کوی په کتاب د الله تعالیٰ او پابندی کوی د مانځه.

اِنَّا لَا نُضِيْعُ اَجْرَ الْمُصْلِحِيْنَ ﴿۱۷۰﴾ وَاِذْ نَتَقْنَا

یقیناً نه برباد وو مونږ ثواب د داسے اصلاح (نیکئ) کوونکو. او کله چه پورته کړه مونږ

الْجَبَلَ فَوْقَهُمْ كَاَنَّهٗ ظُلَّةٌ وَّظَنُّوْٓا

غر د دوی د پاسه گویا که دا چترئ وه او یقین اوکړو دوی

اَنَّهٗ وَاقِعٌۢ بِهِمْ ۚ خُذُوْا مَآ اٰتَيْنٰكُمْ

چه یقیناً دا راپریوتونکے دے په دوی باندے - (اوویل مونږ) اونیسئ هغه کتاب چه درکړے مونږ تاسو ته

بِقُوَّةٍ وَّاذْكُرُوْا مَا فِيْهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۷۱﴾ ع ع ۲۱ ۹ ۱۱

په کوشش سره او یادوئ هغه چه په دے کتاب کښ دی دے د پاره چه متقیان شئ.

د وجے نه اومفسر آلوسی د دے په شرح کښ حال د بعضِ پیرانو او صوفیاؤ ذکر کړے دے. عرضٌ په زور د راسره ټول سامان د دنیا ته وئیلے شی او په سکون د راسره سامانونه بغیر د روپو اشرفونه. اَلَمْ يُؤْخَذْ دا اول رد دے د دوی په قول باندے چه که دوی بښلے شوے وے نو ولے د دوی نه دا لوظ اخستلے کیدلو. اِلَّا الْحَقَّ حکم قطعی د خپل مغفرت سره د کولو د گناه نه دا ناحقه خبره ده. دَرَسُوْا اٰه اشاره ده چه دا حال د علماؤ د کتاب دے. وَالدَّارُ الْاٰخِرَةُ د ایت په ابتداء کښ د دوی دنیا پرستی ذکر کړه نو په اٰخر کښ ترغیب الی الاٰخرة ذکر کوی.

۱۷۰ دے ایت کښ د نیکانو ذکر دے او دلیل دے په دے خبره چه څوک د الله تعالیٰ په کتاب باندے عمل کوی او بیا نوی ئے هم او د مانځه پابندی وی نو دا بیان د امرِ مصلح (د عوکوونکی نیکئ ته) دے او ښکاره نښه ده د تمسك بالکتاب او هغه اصلاح کوونکی دی اگرچه مخالفین هغوی ته شر یان وائي.

۱۷۱ دا دویم رد دے د هغوی په قول باندے. مطلب دا دے که تاسو بښلے شوی یئ نو ولے ستاسو په مشرانو باندے د لوظ اخستلو په وخت کښ غر پورته کړے شوے وؤ او مجبور شوئ لوظ کولو ته بیا دا ایت صریح دے په دے خبره کښ چه دا غر په دوی باندے په حقیقت کښ پورته کړے شوے وؤ

وَاِذْ اَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيْٓ اٰدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ

او کله چه واخستو رب ستا د بنیادمو (انسانانو) نه د شاګانو د هغوی نه

ذُرِّيَّتَهُمْ وَاَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ

اولاد د هغوی او حال دا چه ګواهان کړیو دوی په ځانونو خپلو باندے

اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۭ قَالُوْا بَلٰى ۚ شَهِدْنَا ۚ

چه ایا نه یم رب ستاسو؟ دوی اوئیل ولے نه ئے، ګواهی کوو مونږ.

اَنْ تَقُوْلُوْا يَوْمَ الْقِيٰمَةِ اِنَّا كُنَّا عَنْ هٰذَا

(نو دا وعده دریاده کړه مونږه) چه او نه وایئ تاسو په ورځ د قیامت چه یقیناً مونږه د دے (توحید) نه

غٰفِلِيْنَ ﴿۱۷۲﴾ اَوْ تَقُوْلُوْٓا اِنَّمَآ اَشْرَكَ

بے خبره وو، یا او نه وایئ تاسو چه یقیناً شرک کړے وو

اودا سے په سورة بقره ۶۳ ۹۳ کښ ذکر دی.

نَتَقْنَا، نتق په لغت کښ څه څیزلره د ویخ نه راویستل او ویشتل دی دلته مراد پورته کول دی په دلیل د فوق اوظلّه سره. اوظُلّة هر هغه څیز ته وئیلے شی چه سورے کوی که چت د کوټے وی یا وریځ وی یا چترئ وی.

۱۷۲ دا دریم رد دے د هغوی په قول باندے که تاسو بخلے شوی یئ نو ولے ستاسو نه دا عهد د توحید اخستلے کیدو او بیا ولے یئ په واسطه د پیغمبرانو او د کتابونو سره یادولو. دے ایت کښ وعده د عالم ارواح د وخت مراد ده د هغے په باره کښ اګرچه مرفوع صحیح حدیث نیشته لیکن موقوف صحیح حدیث شته او په دے باب کښ موقوف حدیث پشان د حدیث مرفوع قبلیږی حاصل د هغے دا دے چه د ادم علیه السلام د شا نه د هغه ټول اولاد په شکل د نرو میږو کښ راویستلے شو او هغوی نه دا لوظ واخستلے شو او بعض مفسرینو د دے ایت نه مراد کړے دے پیدائش د هر بچی په توحید باندے او هغے نه کنایه کړے شوے ده په لوظ اخستلو سره. په اول تفسیر باندے د بنی ادم نه مراد ادم علیه السلام دے یا دا چه هغه وخت یئ دوی دا سے پیدا کړل لکه چه روستوئے په سلسلے سره پیدا کړے دی لیکن دا قول د صریح حدیث نه خلاف دے

معانقة ۷ عند النا خرین ۱۲

اٰبَآؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِّنْۢ بَعْدِهِمْ ۚ

مشرانو زمونږ د دیته مخکښې او وو مونږه اولاد روستو د هغوی نه

اَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُوْنَ ﴿۱۷۳﴾

نو آیا هلاکوې ته مونږ په هغه کار چه کړے دے باطل پرستو خلقو.

وَكَذٰلِكَ نُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ وَلَعَلَّهُمْ

او دغسې تفصیلي بیانوو مونږه آیاتونه (د دوی د یاداشت د پاره) او د دے د پاره چه دوی

يَرْجِعُوْنَ ﴿۱۷۴﴾ وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَاَ الَّذِيْٓ

را اوګرځي (حق ته). او بیان کړه په دوی باندے خبر د هغه چا

اوپه اول قول باندے هم اعتراض دے چه دا د فصیح کلام نه خلاف دے چه د آدم په ځائے ئے بني آدم ذکر کړے دے نو عزالدین بن عبدالسلام توجیه ذکر کړیده چه واشهدهم حال دے په تقدیر د قد سره او معنی دا ده چه الله تعالیٰ د اولاد آدم د شاګانو نه اولاد اخستلے دے تر زمانے (اُمت) د محمد صلی الله علیه وسلم پورے او حال دا دے چه دوی ئے په ورځ د ذر په ځانونو باندے هم ګواهان کړے وو نو په دے کښې د آیت په ظاهر او په حدیث موقوف دواړو باندے عمل اوشو دا غوره قول دے.

۱۷۳ د آیت حاصل دا دے چه د مشرکانو نه عهد نه وے اخستلے شوے او د رسول په ذریعه یاداشت نه وے ورکړے شوے چه دوی به دوه بهانے کولے یو غفلت (ناخبری) او دویم تقلید د مشرانو نو روستو د رالیږلو د رسولانو نه د چا جهل عذر نه دے او دا رنګ تقلید هم جائز نه دے.

۱۷۴ دا هم تاکید د ماقبل دے یعني تفصیل د آیاتونو سبب د ازالے د غفلت او د رجوع دے د تقلید نه.

اٰتَيْنٰهُ اٰيٰتِنَا فَانْسَلَخَ مِنْهَا فَاَتْبَعَهُ

چه ورکړي وو مونږ هغه ته علم د اياتونو زمونږ نو اووتلو د هغې نه (په پرېښودلو د عمل سره) نو ور پسې اولګيدلو

الشَّيْطٰنُ فَكَانَ مِنَ الْغٰوِيْنَ ﴿۱۷۵﴾

شيطان نو شو دے د ګمراهانو نه.

وَلَوْ شِئْنَا لَرَفَعْنٰهُ بِهَا وَلٰكِنَّهٗ اَخْلَدَ

او که غوښتلے مونږه خامخا پورته کړے به وه مونږه مرتبه د دهٔ په عمل د اياتونو سره ليکن دے کوز شو

اِلَى الْاَرْضِ وَاتَّبَعَ هَوٰىهُ فَمَثَلُهٗ

دنيا ته او روان شو په خواهش خپل پسے، نو حال د دهٔ

كَمَثَلِ الْكَلْبِ اِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ يَلْهَثْ

پشان د حال د هغه سپي شو، که حمله کوے ته په هغه باندے نو ژبه راوباسي

۱۷۵ داخلورم رد دے په قول د هغوی باندے که تاسو بښلے شوی يئ نو بيا
څه وجه ده چه ستاسو عالم د وجے د بد عملئ نه په شان د سپي شو. د ډيرو
صحابه کرامونه دا نقل کړے شوے ده چه دغه عالم بلعام ابن باعوراه
ووچه دے ډيرلوئے عالم وؤ دولس زراه شاګردان د دهٔ په مجلس کښ به
وؤ او دعوت يئے کوؤ ايمان ته ليکن د هغه وخت يو بادشاه ورله د مال
حرص ورکړو چه د هغې په وجه يئے د موسیٰ عليه السلام خلاف شروع کړو
او د تورات نه يئے مخ اوګرځوو او وئيلے شويدی چه په دُنيا کښ اول دهٔ کتاب
ليکلے وو په دے مسئله باندے چه د دُنيا د پاره څوک جوړوونکے نيشته يعنی
دُنيا قديم ده. په دے ايت کښ اشاره ده چه شيطان انسان لره په هغه وخت
کښ ګمراه کوی چه هغه د الله تعالیٰ د اٰيتونو نه مخ واړوی. اٰيٰتِنَا مراد د دينه
الٰهيو باندے عالم وو او د علم د دهٔ د اسم اعظم د پاره صحيح دليل نيشته.
فَانْسَلَخَ مِنْهَا. انسلاخ په اصل کښ د ښاروی نه څرمن ويستلو ته وئيلے شی
يا مارچه پوستکے اوغورزوی يعنی دهٔ د کتاب الله نه انکار اوکړو او په هغه باندے

أَوْ تَتْرُكْهُ يَلْهَثْ ۚ ذَٰلِكَ مَثَلُ الْقَوْمِ

اوکه پرېږدې هغه لره نو هم ژبه راوباسي دا مثال دَ هغې قوم دے

الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا ۚ فَاقْصُصِ

چه دروغژن کړي اياتونه زمونږه پس بيان کړه

الْقَصَصَ لَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ ﴿١٧٦﴾

دا بيان دے دَ پاره چه دوی فکر اوکړی.

عمل پرېښودلو. فَأَتْبَعَهُ الشَّيْطَانُ اتباع کنايه ده دَ لزوم نه يعنی شيطان دَده په گمراه کولو پسے اونښتلو. الْغَاوِينَ گمراهان دَ عقيدے اودَ عمل.

١٧٦ لَوْ شِئْنَا اشاره ده چه هدايت په اختيار دَ الله تعالیٰ کښ دے. لَرَفَعْنَاهُ بِهَا په عقيده او عمل کولو سره په کتاب الله باندے رفعت، عزت اولويه مرتبه حاصليږی. دے ايت کښ اول دَ ده دوه گناهونه ذکر شوے دی يو محبت دَ دُنيا سره، أَخْلَدَ کښ ميلان اولزوم دواړه داخل دی. بل تابعداری دَ خواهش او دا دواړه جرړ دَ ټولو گناهونو دے. دے دَ سپی سره مشابهه کړے شو په لهث کښ اولهث، وائي دے ته چه ژبه ئے راويستلے وی او خُله خوځوی اوهنګيږی لکه چه دا حالت دَ سپی په هروخت کښ وی که ته ئے شړے اوکه نه شړے نو دارنګ حال دَ هغه عالم شوچه هغه ته وعظ کيدے شو يا نه شوکيدے خو دَ خپل ذلت نه نه منع کيدلو. إِنْ تَحْمِلْ عَلَيْهِ تشبيه دَ مطلق سپی سره نه ده بلکه هغه سپے چه لاهث وی نو ښکاری (معلم سپے) دَ دے نه خارج دے. كَمَثَلِ الْكَلْبِ په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه دے په شکل دَ سپی لاهث شو يعنی ژبه ئے حقيقت کښ رابهر شوه. دويم قول، دا تشبيه ده په صفت کښ يعنی لهث دلالت کوی په ډير حرص دَ دنيا اودَ خوراک باندے.

فائده: مفسرينو ليکلے دی چه دا مثال شامل دے علماؤ دَ دے أُمت ته هم چه هغوی په قرآن او په سنت عمل پرېښودلے وی او په کفر شرك بدعاتو خواهشاتو کښ اخته شی دَ دنيا دَ محبت اودَ هغې دَ حصول دَ پاره نو هغه دَ دغسے سپی سره مشابهت لری. لکه څنګه چه سپے چاپسے غپيږی خو چه لږ خوراک ورته واچول شی [illegible] هم جنسو باندے حمله کوی.

سَآءَ مَثَلًا ۨ الْقَوْمُ الَّذِيْنَ كَذَّبُوْا

بد دے په مثال کښې هغه قوم چه دروغژن کنړی

بِاٰيٰتِنَا وَاَنْفُسَهُمْ كَانُوْا يَظْلِمُوْنَ ﴿۱۷۷﴾

اٰیاتونه زموږ او په خپلو ځانونو دوی ظلم کوی۔

مَنْ يَّهْدِ اللّٰهُ فَهُوَ الْمُهْتَدِيْ ۚ وَمَنْ

هغه څوک چه هدایت اوکړی هغه ته الله تعالیٰ نو هغه لار موندونکے دے ، او هغه څوک چه

يُّضْلِلْ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۷۸﴾

بے لارے ئے کړی نو دغه کسان بس دوی تاوان والا دی۔

او دا[۳] رنګ خپل قے هم واپس ستي ګ دے وجے نه په حدیث ګ بخاری کښې ګ هغه چا مثال ئے ګ سپی سره ورکړے دے چاله چه بخشش یا خیرات ورکړی او بیا ئے ترینه واپس اخلی۔ او دا[۴] رنګ دے چه په لارے روان وی نو خرطم په زمکه راکاږی او بوئیول کوی۔ دا[۵] رنګ دے ګ بدن نور اجزاء نه بوئیوی ماسیوا ګ ډیر خپل نه۔ او دا[۶] رنګ کله چه په ګټه باندے اویښتلے شی نو ګټه پسے منډا کړی او په هغے باندے چک اولګوی۔ او دا[۷] رنګ مردار ه ورته ډیره خوښه وی په نسبت ګ تازه او حلالے غوښے۔ او دا[۸] رنګ په مرداره باندے ګ ځان سره بل سپے هیڅرے نه پریږدی۔ او دا[۹] رنګ چه متیازے کوی نو خپه اوچته کړی او په پاک بوټي یا ګټ باندے بول کوی ګ دے ګ پاره چه زه پلیت لشم۔ او دا ټول اوصاف دلالت کوی په ډیر حرص او خساست باندے۔ يَتَفَكَّرُوْنَ علامه طیبی لیکلے دی چه چا ګ دے زمانے په ناکاره ملا یا نو کښې فکر اوکړو نو یقینًا او به مومی دوی ګ بلعام نه زیات ناکاره۔ او سمعانی په تفسیر کښې لیکلے دی چه دا ډیر سخت ایت دے په باره ګ علماؤ کښې ځکه ډیر لږ اهل علم به وی چه ګ محبت ګ دنیا او اتباع ګ هوا نه خالی وی۔ یا الله موږ ګ دے خصلتونو نه بچ کړے او څوک چه دا ایت په حق والو باندے تطبیق کوی نو هغه هلاک کړے۔

۱۷۷ دا ایت دلالت کوی په تعمیم او تقبیح ګ دے مثال باندے۔

۱۷۸ دا ایت تعلق لری ګ سورت ګ اولے دعوے سره او دا رنګ په دے ایت کښې

وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِّنَ الْجِنِّ

او یقیناً پیدا کړیدي موږ د جهنم دپاره ډیر د پیریانو نه

وَالْإِنسِ ۖ لَهُمْ قُلُوبٌ لَّا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ

او انسانانو نه، دوی لره داسې زړونه دي چه نه پوهیږي په هغې سره (په حق یا الله) او دوی لره

أَعْيُنٌ لَّا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَّا يَسْمَعُونَ

داسې سترګې دي چه نه وینې په هغې سره (حق لره)، او دوی لره داسې غوږونه دي چه نه اوري

بِهَا ۚ أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ ۚ

په هغې سره (حق لره)، دغه کسان پشان د څارو و دي بلکه د هغوی نه زیات دي (بې نا پوهۍ کښې)

أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ (۱۷۹) وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ

دغه کسان هم دوی بې پروا دي. او خاص الله تعالیٰ لره نومونه (او صفتونه) دي

الْحُسْنَىٰ فَادْعُوهُ بِهَا ۖ وَذَرُوا الَّذِينَ

ښائسته ښائسته نو دعا غواړئ د هغه نه په وسیله د هغې سره، او پرېږدئ هغه کسان

دوه ډلې ذکر دي چه پس د دغې مثال نه دا ډلې معلومیږي او د دې ایت نه زواجر شروع شول دا اول زجر دې۔

۱۷۹ دا ایت تعلق لري د سورت د دویمې دعوې سره او دا رنګ په تیر شوي ایت کښې چه دویمه ډله وه د هغې حال ذکر کوي او دویم زجر دې۔

سوال: سورة الذاریات کښې ئې فرمائیلي دي چه جن او انس مې د عبادت د پاره پیدا کړي دي او دې ایت کښې ذکر دي چه ډیر دي د جهنم د پاره پیدا دي؟

جواب (۱) سورة الذاریات کښې غایة تشریعي ذکر ده او په دې ایت کښې غایه تکویني ذکر ده۔

جواب (۲) دا دې چه په ایت کښې لام په لجهنم کښې د پاره د عاقبت دې۔

لَهُمْ قُلُوبٌ الخ اشاره ده چه اسباب د علم د دوی برباد دي دا پشان د ایت د ختم الله علی قلوبهم الخ دې او تشبیه په دې ایت کښې د څارو و سره په دې خبره کښې ده چه د هغوی مقصد هم صرف خوراک او څښکاک او شهوت چلول دي

يُلْحِدُوْنَ فِيْٓ اَسْمَآىِٕه ؕ سَيُجْزَوْنَ

چه کږلېچ کوي په نومونو (او صفتونو) د الله تعالىٰ کښې. ژر دے بدله به ورکړېشي دوي ته

مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ﴿۱۸۰﴾ وَمِمَّنْ خَلَقْنَآ

د هغه عملونو چه دوي ئے کوي. او د هغه چانه چه پيدا کړيدي مونږه

دغه مقصد د دے کافرانو هم دے. بَلْ هُمْ اَضَلُّ دا د دے وجے نه چه څاروو کښې شعور د دے خبرے شته چه د خپلے فائدے او د نقصان په ځايونو پوهيږي دا رنګ خپل مالک پيژنی او د هغه تابعداروی او په دے کسانو کښې دا سے نيشته ۱۸۰ دا آيت تعلق لری د سورت د دريمے دعوے سره چه حاجات صرف د يو الله تعالىٰ نه غواړئ او هغه سره په بلنه کښې شريک مه جوړوئ او دا دريم زجر دے او دا سے په قرآن کښې په څلورو سورتونو کښې دی سورة اسراء ۱۱۰ طٰهٰ ۸ حشر ۲۴ او دلته نومونو د الله تعالىٰ ته حسنیٰ ځکه وائي چه دا دلالت کوی د هغه په پيژندګلئ او په توحيد او په وجود او په کمال د هغه باندے. او د حسنیٰ بله وجه دا ده چه دا خاص دی په الله تعالىٰ پورے د دے اطلاق په غير الله نه کيږی سيوا د هغے نه چه الله تعالىٰ مستثنیٰ کړيدی او بله وجه دا ده چه دا نومونه الله تعالىٰ د پاره بخپله دی الله تعالىٰ په دے تسميه کښې هيچا ته محتاج نه دے بله وجه دا چه دا اسماء قديم دی حادث نه دی. بله دا چه اسماء د الله تعالىٰ توقيفي دی په نقل د قرآن او حديث باندے بناء دی. فَادْعُوْهُ بِهَا دا دليل دے په دے باندے چه په دعا کښې وسيله د الله تعالىٰ نومونه او صفات پيش کول پکار دی لکه څنګه چه د قرآن او د سنت په ډيرو دُعاګانو کښې نومونه او صفات د الله تعالىٰ په طريقه د وسيلے سره ذکر دی او د دے آيت په تفسير کښې قول د امام ابوحنيفه فقهاؤ نقل کړے دے "چه نه دی مناسب هيچا لره چه دُعا او غواړی د الله تعالىٰ نه مګر په وسيله د نومونو او صفتونو د الله تعالىٰ". دا رنګ د "فادعوا" بله معنیٰ دا ده چه ذکر کوئ الله تعالىٰ لره په دغه نومونو سره نو د دے وجے نه ذکر د الله تعالىٰ او دعا د هغه په لفظ د خدائ سره غوښتل جائز نه دی صرف د معنے په لحاظ سره د اطلاق کولو جواز لری لکه د خالق معنی پيدا کوونکے نو د مالک معنی خدا ده. يُلْحِدُوْنَ کوږ والے په نومونو د الله تعالىٰ کښې په يو څو طريقو سره دے

أُمَّةٌ يَّهْدُوْنَ بِالْحَقِّ وَبِهٖ يَعْدِلُوْنَ ﴿۱۸۱﴾ ع ۲۲ ۱۰ ۱۲

یوه ډله ده چه بیان کوی دَ حق او په هغې فیصلے کوی.

وَالَّذِیْنَ كَذَّبُوْا بِاٰیٰتِنَا سَنَسْتَدْرِجُهُمْ

او هغه کسان چه دروغژن گنړی آیتونه زمونږ پس زر ده چه او به نیسو هغوی لره

مِّنْ حَیْثُ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۲﴾ وَاُمْلِیْ لَهُمْ

په اسے طریقه چه دوی به نه پوهیږی. او مهلت ورکوم دوی ته.

اِنَّ كَیْدِیْ مَتِیْنٌ ﴿۱۸۳﴾ اَوَلَمْ یَتَفَكَّرُوْا سکتة

یقینًا نیول ځما ډیر کلک دی. آیا دوی سوچ نه کوی (په قرآن کښې)

مَا بِصَاحِبِهِمْ مِّنْ جِنَّةٍ ؕ اِنْ هُوَ

چه نیشته دَ دوی په خیرخواه باندے هیڅ لیونتوب. نه دے هغه

یو طریقه شرک کول دی په هغې کښې چه دَ الله تعالیٰ نومونه او صفتونه بل چاله هم منی. دویمه طریقه صفت کول دَ الله تعالیٰ دی په داسے صفت سره چه دَ هغه دَ شان سره نه ښائي او نه نقل وی. دریمه طریقه انکار کوی دَ هغه دَ بعضِ نومونو او دَ صفتونو نه.

۱۸۱ دا آیت دلیل دے په دے خبره باندے چه تر قیامت پورے په دے اُمت کښې داسے کسان به وی چه دعوت به کوی حق طرف ته او مقابله به کوی دَ ملحدینو سره. او داسے مضمون په صحیح حدیث کښې هم راغلے دے چه ابن کثیر رحمه الله نقل کړے دے.

۱۸۲ دا آیت تعلق لری دَ سورت دَ اولے دعوے سره او دا رنګ دا ذکر دَ دویمے ډلے دے په مقابله دَ هغه ډله کښې چه په رومبی آیت کښې ذکر شوه او خلورم زجر دے. استدراج دے ته وائي چه یو انسان گناه و نه کوی او توبه نه و باسی (یعنی بخپله گمراهئ کښې پوخ شوی وی) او سره دَ دے نه الله تعالیٰ هغه له نعمتونه دَ دنیا ورکوی او کله نا اشنا کارونه هم دَ هغه نه ښکاره کوی او بیا هم دے دَ الله تعالیٰ شکر نه کوی. لکه داسے حالت به دَ دجال وی.

۱۸۳ دا هم دَ استدراج یو قسم دے چه مهلت ورکوی او عذاب پرے نه راولی

إِلَّا نَذِيرٌ مُّبِينٌ ﴿۱۸۴﴾ أَوَلَمْ يَنظُرُوا

مګر يره ورکوونکے دے ښکاره - او ايا دوی نه ګوري (په نظر دَ عبرت)

فِي مَلَكُوتِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا

په بادشاهۍ دَ اسمانونو ، او دَ زمکه کښ او په هغے کښ

خَلَقَ اللَّهُ مِن شَيْءٍ وَأَنْ عَسَىٰ

چه پيدا کړي دي الله تعالیٰ هر يو څيز ، او په دے خبره کښ

أَن يَكُونَ قَدِ اقْتَرَبَ أَجَلُهُمْ ۖ فَبِأَيِّ

چه يقيناً نيزدے راغلے دَه نيټه دَ دوی ، نو په کومه

حَدِيثٍ بَعْدَهُ يُؤْمِنُونَ ﴿۱۸۵﴾ مَن يُضْلِلِ

خبره باندے پس دَ قرآن نه دوی ايمان راوړي - هغه څوک چه بے لارے کړي

او په ايت کښ يره ورکول دی دَ عذاب دنيوی نه او دا سے په سورة العمران ۱۷۸ کښ هم دی۔

۱۸۴ دا پنځم زجر دے منکرينو دَ رسالت ته چه دوی که په قران پاک کښ سوچ کړے وے يا دَ دے نبی په حالاتو او صفاتو کښ فکر کړے وے دوی ته به معلوم شوے وے چه دا رسول رشتينے دے مجنون نه دے۔

۱۸۵ دا شپږم زجر دے منکرينو دَ توحيد ته چه دوی ولے سوچ نه کوی دَ اسمانونو او دَ زمکے په نظام چليدلو کښ او دا رنګ په ټولو مخلوقاتو کښ چه دوی ته توحيد معلوم شی دا رنګ دوی دا سوچ ولے نه کوی چه زمونږه نيټه دَ مرګ يا دَ عذاب رانزدے دَه نو چه دَ هغے نه مخکښ مسئله دَ توحيد او مني - حَدِيثٍ هغه کلام ته وئيلے شی چه نقل کيږی نو قران هم دا سے دے چه نقل کړے دے جبرائيل دَ الله تعالیٰ نه او نبی صلی الله عليه وسلم نقل کړيدے دَ جبرائيل نه دا په معنی دَ حادث نه دے لکه چه معتزله وائي او دا ايت دليل دے چه روستو دَ قران نه بل منزل کتاب نيشته او روستو دَ محمد صلی الله عليه وسلم نه بل رسول نيشته۔

اللّٰهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ؕ وَیَذَرُهُمْ فِیْ

هغه لره الله تعالیٰ تو نیشته په لار روانوونکے هغه لره۔ او پریږدی دوی لره په

طُغْیَانِهِمْ یَعْمَهُوْنَ ﴿۱۸۶﴾ یَسْـَٔلُوْنَكَ

سرکشئ دَ دوی کښی سرګردانه (ګمراه)۔ تپوس کوی دوی ستانه

عَنِ السَّاعَةِ اَیَّانَ مُرْسٰهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا

په باره دَ قیامت کښی چه کله به وی راتلل دَ هغے۔ ته ورته اووایه یقیناً

عِلْمُهَا عِنْدَ رَبِّیْ ۚ لَا یُجَلِّیْهَا لِوَقْتِهَآ

علم دَ هغے دَ رب ځما سره دے، نه به ښکاره کوی هغے لره په وخت دَ هغے

اِلَّا هُوَ ؕ ثَقُلَتْ فِی السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

مګر الله تعالیٰ۔ درنه خبره ده په اسمانونو او په زمکه کښی

وقف لازم
وقف منزل

لَا تَاْتِیْكُمْ اِلَّا بَغْتَةً ؕ یَسْـَٔلُوْنَكَ كَاَنَّكَ

نه به راځی تاسو ته مګر ناساپه۔ تپوس کوی دوی ستانه، چه ګویا که ته

حَفِیٌّ عَنْهَا ؕ قُلْ اِنَّمَا عِلْمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ

تلاش کوونکے دَ هغے یئے۔ ته ورته اووایه یقیناً علم دَ هغے دَ الله تعالیٰ سره دے

وَلٰكِنَّ اَكْثَرَ النَّاسِ لَا یَعْلَمُوْنَ ﴿۱۸۷﴾

لیکن ډیر خلق نه پوهیږی۔

ف۱۸۶ دا اُومه زورنه ده منکرینو ته او وجه ده دَ پاره دَ سوچ نه کولو چه مخکښ
اٰیت کښی تیر شو او هغه وجه اضلال او طغیان او عمه (ګمراه ولګیدل) دی۔
ف۱۸۷ دا اتمه زورنه ده په باره دَ انکار دَ قیامت کښی او دا علت دَ سرکشئ دَ هغوی
دے چه مخکښ اٰیت کښی ذکر شو۔ یَسْـَٔلُوْنَكَ دا سوال په طریقه دَ استهزاء سره
دے او سَاعَةِ قیامت ته وئیلے شی اول دَ دے وجے نه چه ناګاه واقع کیږی
دویم دَ دے وجے نه چه دَ اعمالو فیصله به کیږی په یو ساعت کښی دریم دَ دے

قُلْ لَّآ اَمْلِكُ لِنَفْسِيْ نَفْعًا وَّلَا ضَرًّا

ته ورته او وایه چه اختیار نه لرم د ځان د پاره د هیڅ نفعې او نه د ضرر

اِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ ؕ وَلَوْ كُنْتُ اَعْلَمُ الْغَيْبَ

مګر هغه چه اوغواړی الله تعالیٰ - او که چرې پوهیدلے په غیب یاندے

لَاسْتَكْثَرْتُ مِنَ الْخَيْرِ ۚ ۖ وَمَا مَسَّنِيَ

نو خامخا ډیرے به حاصلے کړے وے ما فائدے ، او نه به رسیدلے ماته

السُّوْٓءُ ۚ اِنْ اَنَا اِلَّا نَذِيْرٌ وَّبَشِيْرٌ

څه تکلیف نه یم زه مګر یره ورکوونکے او زیرے ورکوونکے

معانقة ۸ عند المتأخرين ۱۲

وجے نه چه سرهٔ د اوکډ والی نه د الله تعالیٰ په نیز پشان د یو ساعت دے.

عِنْدَ رَبِّيْ یعنی علم د وخت د ساعت، الله تعالیٰ د ځان سره خاص کړیدے هیچا ته ئے دغه علم نه دے ورکړے. لِوَقْتِهَآ لام په معنی د فی سره دے. بَغْتَةً نه مراد غفلت دے د خلقو یعنی خلق به په خپلو کارونو کښ مشغول او غافل وی اګرچه د هغے علامات به راغلے وی. په دے ایت کښ تپوس دوه ځله ذکر دے دواړو کښ فرق دا دے چه اول تپوس په باره د وخت د قیامت کښ دے او دویم تپوس په باره د حقیقت او تفصیل د قیامت کښ دے. ثَقُلَتْ د دے یو معنیٰ دا ده چه د دے هیبت زیات دے په اسمانونو او په زمکے والو بله معنیٰ دا ده چه د دے علم پټ دے په اسمانونو والو او په زمکے والو د کوم څیز چه علم پټ وی نو دروند وی په نفس باندے. حَفِيٌّ وئیلے کیږی تلاش کوونکی ته او دا رنګ عالم ته مراد دا دے چه دوی په تا خیال کوی چه ته عالم ئے په قیامت باندے نو ځکه ستا نه د هغے تپوسونه کوی.

سوال: په اول جواب کښ رَبِّيْ او په دویم کښ لفظ د الله دے ؟

جواب: اول کښ مسئله د وخت ده او وخت مقرر کول او د هغے قائم کول کار د ربوبیت دے او په دویم کښ مسئله د تفصیل د احوالو او د اهوالو دے او د هغے سره مناسب لفظ د الله دے چه اعظم اسم دے.

۳۵/۷/۱۳

لِّقَوْمٍ يُّؤْمِنُوْنَ ﴿۱۸۸﴾ ع هُوَ الَّذِيْ خَلَقَكُمْ

هغه قوم لره چه ایمان لري. خاص الله تعالیٰ هغه ذات دے چه پیدا کړي یئ تاسو

مِّنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ وَّجَعَلَ مِنْهَا زَوْجَهَا

د جنس یو نه او پیدا کړیده د دغے جنس نه بي بي د دهٔ

لِيَسْكُنَ إِلَيْهَا ج فَلَمَّا تَغَشّٰهَا حَمَلَتْ

دے د پاره چه آرام اوکړي هغے ته (سره). پس هر کله چه پټه ئے کړه هغے لره، نو حمل ئے واخست

حَمْلًا خَفِيْفًا فَمَرَّتْ بِهٖ ج فَلَمَّآ

حمل سپک نو تله راتله کوي سرهٔ د هغے نه، نو هر کله چه

أَثْقَلَتْ دَّعَوَا اللّٰهَ رَبَّهُمَا لَئِنْ اٰتَيْتَنَا

درنه شوه، نو دُعا اوکړه دواړو د الله تعالیٰ نه چه رب د دوي دے، که راکړو تا مونږ ته

۱۸۸ داهم ترقي ده په جواب د سوال مخکښ کښ چه زهٔ ځان لره اختیار نه لرم د نفع او د ضرر نو د قیامت علم به څنګه اولرم. په دے آیت کښ رد د شرک في التصرف او شرک في العلم دواړو دے د پیغمبر نه. إِلَّا مَا شَآءَ اللّٰهُ دے ته استثناء منقطع وائي معنیٰ دا ده چه څه الله تعالیٰ اوغواړي هغه کیږي. اول وجه دا ده چه دا استثناء په سورة جن ۲۱ کښ نیشته او متصله استثناء لازمًا ذکر کیږي بله وجه دا چه مشیئت د الله تعالیٰ د نفع او ضرر نه غیر دے. فائده: دا ۱۰۰ په سورة یونس ۴۹ کښ هم شته. سوال: هلته ضَرًّا مخکښ کړیدے او په دے ځائے کښ نَفْعًا مخکښ کړے دے؟ جواب: دلته ذکر د علم دے او علم نفع ده او هلته ذکر د عذاب دے او عذاب ضرر دے. وَلَوْ كُنْتُ، لَوْ په عربئ کښ د پاره د نفي استعمالیږي یعني زهٔ په غیب نه پوهیږم ځکه ما ته تکلیفونه رارسیدلے دي په خیر حاصلولو کښ. یعني کلمه د لَوْ دلالت کوي په نفي د جزئینو سره نو علم غیب او استکثار د نفع دواړه منفي دي. وَمَا مَسَّنِيَ السُّوْٓءُ دا جمله حال دے په طریقه د قید سره د پاره د ما قبل یعني که علم د غیب وے نو ما ۱۰۰ به تکلیفه ډیر خیر حاصل کړے وے لیکن نبي صلی الله علیه وسلم ډیر تکلیفونه تیر کړے دي.

صَالِحًا لَّنَكُونَنَّ مِنَ الشّٰكِرِيْنَ ﴿۱۸۹﴾

روغ موړ بچے خامخا شو به مونږ د شکر کناارونه -

فَلَمَّآ اٰتٰهُمَا صَالِحًا جَعَلَا لَهٗ شُرَكَآءَ

نو هر کله چه ورکړو دوی ته الله تعالیٰ روغ موړ بچے، نو جوړ کړل دوی الله تعالیٰ لره شریکان

فِيْمَآ اٰتٰهُمَا ۚ فَتَعٰلَى اللّٰهُ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿۱۹۰﴾

په هغه بچی کښې چه ورکړے دوی ته، پس لوئے دے الله تعالیٰ د هغے نه چه دوی ورسره شریکوی -

ف۱۸۹ دا ایت تعلق لری د سورت د دویم او دریم دعوے سره او په ایت کښې نهمه زورنه ده هغه شخے خاوندا ته چه هغوی اولاد د الله تعالیٰ نه غواړی او هر کله چه اولاد ئے پیدا شی بیا د هغے نسبت د الله تعالیٰ نه سیوا بل چا ته کوی او شرک کوی. مِنْ نَّفْسٍ وَّاحِدَةٍ دا سے په سورۃ نحل ف۷۲ او روم ف۲۱ کښې دی په معنیٰ د جنس سره نو دلته هم په معنیٰ د جنس سره دے او ایت د ابتداء نه د ټولو انسانانو سره تعلق لری او دا قول سمعانی د عکرمه نه نقل کړے دے.

فائده: بعضو روایاتو کښې ذکر ده چه دا ایت په باره د ادم علیه السلام او حوا کښې دے ابن کثیر په هغے باندے په تفصیل سره رد کړے دے اول دا چه عمر بن ابراهیم ته ابو حاتم ضعیف وئیلے دی دویم دا چه دا د سمره نه موقوف نقل دے دریم دا چه حسن بصری د دے راوی دے او هغه پخپله وئیلے دی چه دویم ایت کښې مراد اولادِ ادم او حوا دی او راوی چه د خپل روایت نه خلاف کوی نو دا دلیل دے چه دغه حدیث مرفوع ثابت نه دے او ابن کثیر په اخر د بحث کښې او قرطبی او رازی وئیلے دی چه دا واقعه د اسرائیلیاتو نه ده د دے یقینی تصدیق نشی کیدلے او چا چه وئیلے دی چه دا شرک فی التسمیه دے حقیقی شرک نه دے دا قول باطل دے ځکه چه روستو ایاتو نه ټول د شرک حقیقی په رد کښې دی. نو مراد په ایت کښې په اولاد د ادم علیه السلام کښې مشرکان خلق دی او د نفس نه مراد دے ځائے کښې جنس دے.

ف۱۹۰ الله تعالیٰ سره شریک جوړول په اولاد کښې په یو څو طریقو سره دی یو دا چه وائي چه دا اولاد ما لره فلانکی ولی او بزرګ راکړے بل دویم دا چه د هغه نوم عبدالنبی یا بنده علی یا پیر بخش وغیره کیږدی. بل دا چه هغه اولاد نذر کړی

أَيُشْرِكُونَ مَا لَا يَخْلُقُ شَيْئًا وَّهُمْ
ایا دوی شریکوی هغه چا لره چه نشی پیدا کولے هیڅ خیز او دوی
يُخْلَقُونَ ﴿١٩١﴾ وَلَا يَسْتَطِيعُونَ لَهُمْ
پیدا کړے شویدی. او نه طاقت لری (دا شریکان) دے مشرکانو لره
نَصْرًا وَّلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ ﴿١٩٢﴾ وَإِن
د مدد کولو او نه د خپلو ځانونو سره مدد کولے شی. او که
تَدْعُوهُمْ إِلَى الْهُدَىٰ لَا يَتَّبِعُوكُمْ ط
تاسو بلئ دے شرکاؤ لره لار خودنے ته نو نه شی در پسے دوی تاسو ته.
سَوَآءٌ عَلَيْكُمْ أَدَعَوْتُمُوهُمْ أَمْ أَنتُمْ
برابر حال دے ستاسو که بلئ دوی لره او که تاسو
صَامِتُونَ ﴿١٩٣﴾ إِنَّ الَّذِينَ تَدْعُونَ
چُپ یئ. یقیناً هغه کسان چه بلئ تاسو هغوی لره (په حاجتونو کښ)

په نوم دَ غیر الله باندے او دا ټول اقسام دَ شرک حقیقی دی په دلیل دَ دے قول سره چه فتعالی الله عما یشرکون.

ف۱۹۱ دے ایت کښ او و رپسے ایت کښ رد دَ شرک فی الخالقیت دے یعنی مخلوق دَ خالق سره لشی شریک کیدلے لکه سورة نحل ف۲۰ کښ هم دی.

ف۱۹۲ په دے کښ رد دے په شرک فی الاستعانت باندے. وَلَآ أَنفُسَهُمْ يَنصُرُونَ یعنی دَ خپل ځان نه هیڅ ضرر مصیبت نشی دفع کولے په دے معبودانو باندے مرضونه تکالیف راځی مرګ پرے راځی خو دوی ئے دَ ځان نه نشی دفع کولے که څوک دَ دوی قبرونه ماتوی (یا دَ دوی قبرونه نړه وی) یا ترینه غلافونه او جنډے لرے کوی او سوزوی نو دوی ئے مدافعت نشی کولے او دا سے وصف والا معبود نشی کیدلے.

ف۱۹۳ په دے ایت کښ او و رپسے ایت کښ رد دَ شرک فی الدعاء دے. هُمْ ضمیر راجع دے معبود من دون الله ته. إِلَى الْهُدَىٰ مراد دَ دے نه طلب دَ هدایت او دَ خیر دے لکه چه دَ الله تعالیٰ نه طلب دَ خیر او دَ هدایت کیدے شی او هغه

مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ عِبَادٌ اَمْثَالُكُمْ فَادْعُوْهُمْ

سیوا دَ اللہ تعالیٰ نہ دا بندگان دی ستاسو پشان پس اوبلیئ دوی

فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لَكُمْ اِنْ كُنْتُمْ صٰدِقِيْنَ ﴿۱۹۴﴾

نو پورہ دے کړی دوی حاجت ستاسو کہ تاسو رشتینی یئ۔

اَلَهُمْ اَرْجُلٌ يَّمْشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ

ایا دوی لرہ خپے شتہ چہ تلے شی، پہ هغے سرہ ایا دَ دوی

اَيْدٍ يَّبْطِشُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اَعْيُنٌ

لاسونہ شتہ چہ ټینګول کولے شی پہ هغے سرہ، ایا دَ دوی سترګے شتہ

يُّبْصِرُوْنَ بِهَآ اَمْ لَهُمْ اٰذَانٌ

چہ لیدل اوکړی پہ هغے سرہ، ایا دَ دوی غوږونہ شتہ

يَّسْمَعُوْنَ بِهَا قُلِ ادْعُوْا شُرَكَآءَكُمْ

چہ اوریدل اوکړی پہ هغے سرہ؟ (نیشتہ)۔ تہ ورتہ اووایہ را اوبلیئ شریکان ستاسو (دَ پارہ دَ ضرر ځما)

اجابت کوی لیکن دا معبودان هیڅ اجابت نشی کولے کہ بتان وی اوکہ قبرونہ وی۔ پہ دے ایت کښ بل قول دا دے چہ هم ضمیر مشرکانو تہ راجع دے او مراد دَ دے نہ عنادیان مشرکان دی لیکن دا دَ سیاق دَ کلام نہ لرے تفسیر دے عَلَيْكُمْ پہ دے کښ اشارہ دہ چہ دَ دوی نہ پہ حاجت طلب کولو اونہ کولو کښ تاسو تہ هیڅ فائدہ نیشتہ۔

۱۹۴ دا ایت ښکارہ رد دے پہ هغے کسانو چہ دَ بندګانو عبادت کوی کہ ژوندی وی اوکہ مړہ وی او دَ هغوی نہ حاجتونہ غواړی او دا سے پہ سورۃ کهف ۱۰۲ کښ هم دی نو دارد دے پہ مشرکین بالعباد بانداے خصوصًا۔ اشارہ دہ چہ عبدیت منافی دے دَ معبودیت سرہ۔ اوکہ مراد دَ دے نہ بتان شی نو شربینی او رازی وئیلے دی چہ مطلب دا دے چہ تاسو دا پہ شکل دَ انسانانو باندے جوړوئ نو کہ دوی واقعی ژوندی انسانان شی ستاسو پشان نو هم ستاسو حاجت روائی نشی کولے۔ فَادْعُوْهُمْ دا پہ طریقہ دَ زور نے سرہ دے۔ نو دَ دینہ مراد صرف بُتان نہ دی۔

ثُمَّ كِيدُونِ فَلَا تُنظِرُونِ ﴿١٩٥﴾ إِنَّ وَلِـۧيَ ٱللَّهُ

بیا چل ول اوکړئ ما سره او مهلت مه راکوئ ما ته۔ یقینًا بچ کوونکے زما الله تعالیٰ دے

ٱلَّذِي نَزَّلَ ٱلۡكِتَٰبَ ۖ وَهُوَ يَتَوَلَّى

هغه ذات چه نازل کړیدے کتاب ، او هغه بچ کوی (بچاؤ ورکوی)

ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿١٩٦﴾ وَٱلَّذِينَ تَدۡعُونَ

نیکانو لره۔ او هغه کسان چه رامداد شه وایئ تاسو هغوی ته

مِن دُونِهِۦ لَا يَسۡتَطِيعُونَ نَصۡرَكُمۡ

سیوا دَ الله تعالیٰ نه طاقت نه لری دَ مدد کولو ستاسو

۱۹۵ دے آیت کښں هم رد دے دَ شرک فی التصرف او بیان دَ عجز دَ دغه معبودانو دے دَ پاره دَ تاکید دَ مخکښں آیت په نفی کولو دَ څلورو طاقتونو سره چه دَ دوی په خپو کښں طاقت دَ رسیدو نیشته او لا سونو کښں یئ طاقت دَ راټینګولو نیشته او په سترګو کښں یئ طاقت دَ لیدلو نیشته او په غوږونو کښں یئ طاقت دَ اوریدلو نیشته بیا ولے دوی ته رامداد شه وایئ۔ په دے کښں نفی دَ قید ده فقط ځکه چه دَ معبودانو دَ دوی خو دا اندامونه شته دے دَ که بتان وی نو هم ورله عابدانو جوړ کړے دی او که مړه وی نو هم دَ هغوی اعضاء خوشته دے په دے شرط چه خاورے شوے نه وی نو نفی دَ مقید دلته مراد نه ده او هر کله چه مدد کولو دَ پاره دا څلور قوتونه ضروری دی نو دَ هغے ذکر یئ اوکړو۔ قُلِ ادۡعُوا شُرَكَآءَكُمۡ دا جواب دے دَ سوال دَ مشرکینو چه هغوی وائی چه دا خبرے مه کوه ګنی دا معبودان به در ته تکره اورسوی نو جواب اوشو چه دے راوبلئ ما ته دَ ضرر رسولو دَ پاره او تاسو هم ورسره ملګری شئ او ما لره مهلت مه راکوئ زه نه یریږم۔

۱۹۶ دا علت دے دَ دے خبرے چه مؤحد دَ غیر الله نه یره نه کوی او وائی چه بچ کوونکے زما هغه الله تعالیٰ دے چه قرآن یئ په دے مسئله رالیږلے دے اشاره ده چه قرآن بیان کوونکے او توحید ته دعوت ورکوونکے دَ صالحینو دے او الله تعالیٰ دَ مؤحدینو امداد کوی۔

وَلَآ اَنْفُسَهُمْ يَنْصُرُوْنَ ﴿۱۹۷﴾ وَاِنْ تَدْعُوْهُمْ

او نه د خپلو ځانونو سره مداد کولے شي۔ او که رابلئ تاسو هغوی

اِلَى الْهُدٰى لَا يَسْمَعُوْا ؕ وَتَرٰىهُمْ

څه خير خودلو ته دوی نه اوری۔ او خيال کوے ته په دوی باندے

يَنْظُرُوْنَ اِلَيْكَ وَهُمْ لَا يُبْصِرُوْنَ ﴿۱۹۸﴾

چه گوری تا ته او حال دا چه دوی هيڅ نه وينی۔

خُذِ الْعَفْوَ وَاْمُرْ بِالْعُرْفِ وَاَعْرِضْ عَنِ

خوئ اوگرځوه په معافئ کولو او بيان کوه په شرعی طريقه (د توحيد) او مخ اړوه د

الْجٰهِلِيْنَ ﴿۱۹۹﴾ وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ

جاهلانو نه۔ او که اورسی تا ته د طرف د شيطان نه

ف۱۹۷ دا هم رد د شرک فی الدعاء دے چه دا معبودان طاقت د هيڅ مدد کولو نه لری نو ولے دوی ته رامداد شه وايئ دلته لَا يَسْتَطِيْعُوْنَ اه دليل دے د پاره د رد د شرک فی الدعاء او په ف۱۹۲ کښ دليل د رد د مطلق شرک يا رد د شرک فی التسميه وؤ۔

ف۱۹۸ دا هم رد د شرک فی الدعاء دے چه دا معبودان نه ستاسو حال وينی نه ستاسو خبرے اوری نو ولے دوی ته رامداد شه وايئ۔ الْهُدٰى مراد د دينه د خير او فائدے خبره ده۔ وَتَرٰىهُمْ يَنْظُرُوْنَ که ايت د بتانو په باره کښ شی نو هغوی خو بتانو لره سترگے جوړے کړے وے ځکه وائي تَرٰىهُمْ او که مراد ترينه مړی شی نو تَرٰىهُمْ خطاب دے مشرک ته او رويت په معنیٰ د عقيدے دے يعنی عقيده د مشرکانو چه دا مړی مونږه وينی او مونږ ته حاضر او ناظر دی۔

ف۱۹۹ روستو د رد نه په مشرکانو باندے ذکر کوی طريقه د رد کولو د دے ايت نه تر اخره د سورت پورے لس اداب بيانوی د پاره د مبلغ د حق او په دے ايت کښ درے اداب ذکر دی۔ خُذِ الْعَفْوَ، خُذْ نه مراد په عمل کښ

نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ ۚ اِنَّهٗ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝٢٠٠

څه وسوسه، نو پناه غواړه په الله تعالیٰ سره یقیناً هغه هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے.

اِنَّ الَّذِيْنَ اتَّقَوْا اِذَا مَسَّهُمْ طٰٓئِفٌ

یقیناً هغه کسان چه یریږی د الله تعالیٰ نه کله چه اورسیږی دوئ ته څه وسوسه

مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ۝٢٠١

د شیطان نه نو یادکړی دوی الله لره پس دغه وخت دوی پوهیدونکے وی.

وَاِخْوَانُهُمْ يَمُدُّوْنَهُمْ فِى الْغَىِّ ثُمَّ

او رونړه د دے شیطانانو راکاږی دوی لره سرکشئ طرفته بیا دوی

راوستل دی ابن کثیر او ابن جریر وئیلی دی چه د دے نه مراد معافی کول د مشرکانو دی کله چه هغوی سب او شتم او ظلم کوی نو د مؤمنانو نه عفوکول خوبکیښی طریقه اولیٰ سره داخل دی. العُرْفِ په معنیٰ د معروف سره ټولو طاعاتو ته شامل دے یعنی سرهٔ د معافئ کولو د ظلم او سختئ نه د معروف بیان کوه او د بیان نه روستوکه هغه بیا ضد او جهل کوی نو اَعْرِضْ یعنی د جاهلانو جواب په جهل سره مه ورکوه بلکه په سورة فرقان ۶۳ بانداے عمل کوه. فائده: امام جعفرصادق فرمائیلی دی چه نیشته په قرآن کښ د دے آیت په شان چه راجمع کړے وی خائسته اخلاق په اختصار سره. او په دے آیت کښ درے اداب دی.

۲۰۰ داخلورم ادب دے کله که مبلغ له غصه راشی د وجے د عمل د جاهلانو نه نو اعوذ بالله دِے اووائی او دا سے په سورة حٰم سجده ۳۶ کښ هم دی. سَمِيْعٌ کښ اشاره ده چه اعوذ بالله په ژبه سره وئیلے شی. او عَلِيْمٌ کښ اشاره ده چه په زړه کښ به د هغے عقیده او علم لری. شربینی لیکلی دی چه صرف لفظی ذکر فائده نه ورکوی بغیر د معرفتِ قلبیه نه.

۲۰۱ هر کله چه نزغ د شیطان ذکر شوے دلته اوس د هغے عموم ذکر کوی او اوده قسمونه د انسانانو ذکر کوی. طٰٓئِفٌ په معنیٰ د غضب او د ارادے د گناه او گناه کول او د پیر یانو حمله کول دی په دے ټولو معانو سره رائی. تَذَكَّرُوْا یادکړی

لَا يُقْصِرُونَ ﴿۲۰۲﴾ وَإِذَا لَمْ تَأْتِهِم بِآيَةٍ

هیڅ کمے نه کوی. او کله چه راونړے نه دوی ته یو معجزه (چه دوی یې غواړی)

قَالُوا لَوْلَا اجْتَبَيْتَهَا ۚ قُلْ إِنَّمَا أَتَّبِعُ

دوی وائی ولے دځان نه نه جوړوے دا (معجزه). ته ورته اووایه یقیناً زه خو تابعداری کوم

مَا يُوحَىٰ إِلَيَّ مِن رَّبِّي ۚ هَٰذَا بَصَائِرُ

دهغے چه وحی کیږی ما ته دطرف د رب زما نه. دا قرآن د پوهے خبرے دی

مِن رَّبِّكُمْ وَهُدًى وَرَحْمَةٌ لِّقَوْمٍ

دطرف د رب ستاسو نه او هدایت او رحمت دے هغه قوم لره

يُؤْمِنُونَ ﴿۲۰۳﴾ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ

چه ایمان لری. او کله چه لوستلے کیږی قرآن نو غوږ کیږدئ هغے ته

وعدا او وعید د الله تعالیٰ یا یادکړئ استعاذه وئیل- په دے ایت کښ پنځم ادب ذکر دے په لفظ د تذکروا سره. او اشاره ده دے ته چه شیطان غلبه نه شی کولے په متقیانو باندے.

۲۰۲ دے ایت کښ ذکر دے چه څوک د شیطان تابعداری کوی نو دے د هغه رور دے او دا دویمه ډله ده د شیطان ملګری دی غاویان دی په مقابله د متقیانو کښ. لَا يُقْصِرُونَ ضمیر شیطانانو یا اخوان ته راجع دے یعنی شیطانان په وسوسو کولو کښ او اخوان د هغوی په ګناه کولو کښ قصور او کمے نه کوی

۲۰۳ دے ایت کښ ذکر د ګمراهئ د هغوی دے چه دوی ایتونه او معجزے د پیغمبر خود ساخته ګڼړی د دے وجے نه د هغه نه د جوړولو طلب کوی بیا په دے ایت کښ شپږم ادب ذکر دے په قل اه سره. هَٰذَا بَصَائِرُ دا تفسیر دے د مایوحیٰ إِلَيَّ د پاره او اشاره ده که ستاسو غوختلے شوے معجزه را نوړم
څه حرج نیشته ځکه چه قرآن کافی معجزه ده. بَصَائِرُ مراد د دینه دا سے
ته او دلیلونه دی چه د عقل د پاره بصیرت پیدا کوی نو دا تسمیه د سبب
سم د مسبب سره. فائده اخستونکی د قرآن نه درے قسمه دی اول چه

وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ﴿۲۰۴﴾ وَاذْكُر
او چُپ شئ دے د پاره چه په تاسو رحم اوکړیشي - او یادوه

رَّبَّكَ فِي نَفْسِكَ تَضَرُّعًا وَخِيفَةً
رب خپل په زړه خپل کښ په عاجزئ او په یرې سره

مرتبه دَعین الیقین کښ وی نو دَ هغوی دَ پاره بصائر دے۔ دویم چه علم الیقین والاوی نو دَ هغوی دَ پاره هدای دے او دریم چه حق الیقین والاوی نو دَ هغوی دَ پاره رحمت دے۔

۲۰۴ دے ایت کښ دوه اداب ذکر دی اووم او اتم په وخت دَ لوستلو دَ قران کښ یعنی قاری له پکار دی چه اوریدو نکو ته دا ادب بیان کړی او صحیح داده چه دا ایت عام دے۔ مونځونو او خطبو ته شامل دے دا رنګ عام اوقاتو کښ چه قران لوستلے کیږی نو دا ادب واجب دے۔

فائده: استماع اوریدل دی په قصد او په اراده سره او سماع عام دی که قصد وی او که نه وی او انصات پریښودل دَ نورو مشاغلو ته وائي۔

په ایت کښ دوه بحثونه دی۔ اول بحث په باره دَ نزول او خطاب دَ دے ایت کښ امام رازی په دے کښ ډیر اقوال ذکر کړے دی اول دا چه دا ایت په خپل عموم باندے جاری دے په هر وخت کښ چه یو انسان قراءت دَ قران کوی نو په هر چا باندے دَ هغے اوریدل واجب دی که په مونځ کښ وی یا خطبه کښ یا درس دَ قران وی تر دے پورے چه شامی لیکلے دی "یکره ان یقروا القران جملة واحدة اه" یعنی ډیر کسان چه یو ځائے دَ قران قراءت په اوچت اواز سره کوی (لکه ختمیان) نو دا مکروهه کار دے۔ دویم قول دا دے چه دا نازل شویدے په رد دَ خبرو کولو کښ په مانځه کښ دریم قول دا دے چه دا نازل شویدے په باره دَ منع کولو دَ سلامونو په یو بل باندے په مانځه کښ څلورم قول دا چه دا نازل شویدے په باره دَ خطبه کښ پنځم قول دا دے چه دا نازل شویدے په باره دَ قراءت خلف الامام کښ او دا اقوال ابن کثیر او ابن جریر هم ذکر کړیدی۔ او شپږم قول دا دے چه دا خطاب دے کافرانو ته او دَ رحم نه مراد حصول دَ هدایت دے او امام رازی دا قول په درے وجو سره غوره کړیدے

اوله وجه ربط دَ ایت دَ ماقبل سره دے هغه دا سے دے چه هرکله قرآن بصائر او هدایت او رحمت دے او پوره معجزه ده دَ صدق دَ رسول دَ پاره نو کافرانو ته اوئیلے شول چه دَ قرآن دَ لوستلو په وخت ورته غوږ کیدئ دَ پاره دَ دے چه دَ دے فصاحت بلاغت او اعجاز تاسو ته معلوم شی نو رحم به در باندے اوشی په هدایت سره.
دویمه وجه دا ده چه دا په رد دَ کافرانو کښ دے چه دَ هغوی حال ئے په سورة حم سجده ۲۶ کښ ذکر کړے وؤ دَ (لا تسمعوا) په مقابله کښ فاستمعوا او (والغوا) په مقابله کښ وانصتوا دے. او دریمه وجه دا ده چه دَ مؤمنانو په باره کښ اوئیلے شول چه رحمةً لقوم یؤمنون نو دا په طریقه دَ یقین سره نو که روستو ایت هم خطاب شی مؤمنانو ته نو لعلکم ئے ولے اوئیلو.
سوال: امام احمد وئیلے دی چه په اجماع سره ثابت ده چه دا ایت په باره دَ صلوٰة کښ دے؟
جواب: امام زیلعی دَ دے هیڅ سند نه دے ذکر کړے او دارنګ بیهقی په هیڅ کتاب باندے حواله نه ده ورکړے او بله دا چه ابن کثیر په ډیرو سندونو سره نور اقوال (چه مخکښ ذکر شویدی) راوړے دی نو اجماع په یو قول باندے څنګه ثابته شوه. هاں اعتبار عموم دَ لفظ لره وی نه خصوص دَ سبب لره او کله ایاتونه نازل شوے دی په باره دَ کافرانو کښ او دَ هغے نه دَ مؤمنانو په باره کښ استدلال کیدے شی لکه ایت ان الذین یکتمون الا په باره دَ یهودو کښ دے لیکن شامل دے هغه مسلمانانو علماؤ ته چه بعض حق مسئلے پټوی. او هرچه لفظ دَ نزلت وئیلے شویدے دَ ډیرو اقوالو سره نو هغه په اصطلاح دَ مفسرینو کښ سبب نزول پورے خاص نه دے بلکه هر مصداق دَ ایت باندے دَ نزلت اطلاق کیدے شی.
دویم بحث: آیا دَ دے ایت استدلال په منع دَ قراءت خلف الامام سره صحیح دے او که نه؟.
جواب دا استدلال ضعیف دے په ډیرو وجو سره اوله وجه دا ده چه دَ ایت مطلب دا دے چه په امام پسے په اوچت اواز سره قراءت مه کوئ ځکه هغه دَ استماع او دَ انصات سره منافی دے او قراءت په پټه سره دَ استماع او دَ انصات سره هیڅ منافات نه لری. او تائید دَ دے دا دے چه صاحبِ هدایه په باب دَ خطبه دَ جمعے کښ وئیلے دی چه استماع او انصات خطبے ته

وَّدُوْنَ الْجَهْرِ مِنَ الْقَوْلِ بِالْغُدُوِّ

او خکته دَ جهری (او چتې) وینا نه په صبائی او

وَالْاٰصَالِ وَلَا تَكُنْ مِّنَ الْغٰفِلِيْنَ ﴿۲۰۵﴾

او بیګائی وخت کښ او مه کیږه دَ غفلت کوونکو نه ۔

واجب دے لیکن کله چه خطیب اولولی "یا ایها الذین امنوا صلوا علیه وسلموا تسلیما" نو اوریدونکے دِے په پټه درود اووائی ۔ کفایه کښ وئیلے دی چه په ژبه سره دِ پټ اووائی نو دا پټ وئیل په ژبه سره دَ استماع او انصات سره منافی نه دی که نه دِے فقهاؤ به دَ هغے اجازت نه ورکولے ۔ دویمه وجه دا ده چه مقتدی قراءت کوی په سکتا تو دَ امام کښ لکه چه امام ترمذی په ذکر دَ مذاهب دَ اصحاب الحدیث کښ وئیلے دی او امام بخاری په جزء القراءة کښ وئیلے دی چه په اوله سکته کښ دِ قراءت اوکړی ۔ دریمه وجه دا ده چه دا ایت اګرچه سورة فاتحه نه شامل او عام دے لیکن په احادیثو دَ لا صلوٰة .....اه ۔ ولا تجزئ صلوٰة .....اه خداج سره دا خاص کړے شو ید ے ابن حاجب په مختصر الاصول کښ وئیلے دی چه تخصیص دَ قران په خبر واحد سره قول دَ ائمه اربعه دے او په احنافو کښ صرف عیسیٰ ابن ابان او کرخی خلاف کړید ے بله دا چه کوم حدیث خبر واحد چه اکثر صحاح او سننو په صحیح سند سره ذکر کړے وی نو هغه ظنی نه وی بلکه قطعی وی چه بالاتفاق تخصیص دَ ایت کولے شی دویمه وجه او دریمه وجه امام ابو المظفر سمعانی هم په خپل تفسیر کښ لیکلے دی ۔ نو دَ دے وجوهو دَ وجے نه مولانا عبد الحیٔ اللکهنوی وئیلے دی چه دا ایت دلالت نه کوی په عدم جواز دَ قراءت په سر یه او جهریه مونځونو کښ په حال دَ سکته کښ ۔ او په دے طریقے سره عمل په قران او په صحیح احادیثو باند ے حاصلیږی او اصل په دلیلونو کښ اعمال دے نه اهمال ۔ وصیت: هر کله چه په مسئله کښ استدلالی اختلاف دَ صحابو او دَ ائمو مجتهدینو موجود دے نو په دے کښ تشدد کول او په یو بل پسے مونځونه پریښودل جائز نه دی ۔

نکته دے ایت کښ هم دوه اداب ذکر دی نهم اولسم او دَ ذکر دَ رب دوه طریقے ذکر کړے دی یو فِیْ نَفْسِكَ په زړه کښ ذکر کول بغیر دَ حرکت دَ ژبے نه او دا

إِنَّ الَّذِينَ عِندَ رَبِّكَ لَا يَسْتَكْبِرُونَ

يقينًا هغه کسان چه نیزدے دی رب ستا ته لوئي نه کوي

عَنْ عِبَادَتِهِ وَيُسَبِّحُونَهُ وَلَهُ يَسْجُدُونَ ۩ ﴿٢٠٦﴾

دَ هغه دَ بندگئ نه او پاکي وائي هغه لره او خاص هغه ته سجدے کوي.

اخفى ذكر دے اورازى اوالوسى وئيلے دى چه في نفسك كښ اشاره ده چه عالم به وى په معنى دَ ذكر باندے نوذكر لسانى بغير دَ علم دَ معنى نه ثواب نه لرى او چاچه كلمه طيبه اولوستله اودَ معنى لحاظ نه كوى اوجاهل وى دَ هغے دَ معنى نه نودے دَ الله تعالىٰ په نيز مؤمن نه دے۔ دويم وَدُونَ الْجَهْرِ په ژبه ذكركول په پټه دَ ابن عباس رضى الله عنه نه روايت دے چه دا سے وائي چه ځان ته ئے اوروى۔ دا آيت دليل دے چه اصل په ذكرونوكښ پټ والے دے شوپورے چه خاص دليل شرعى نه وى نواوچت ذكركول بدعت دے۔ اوداقول دَ امام ابوحنيفه رحمة الله عليه په استدلال دَ دے آيت سره دَ فقه حنفى كتابونو ليكلے دے (كبيرى۔ بحرالرائق۔ فتح القدير۔ تبين الحقائق۔ او روح المعانى)۔

او په دے آيت كښ ابن جرير يوقول دا ذكركړے دے چه مراد دَ دينه قراءت خلف الامام دے په پټه سره ليكن په هغه قول باندے ابن كثير ردكړيدے۔ بِالْغُدُوِّ وَالْآصَالِ مراد دَ دينه هر وخت دے ليكن تخصيص دَ دے دوه وختونو دَ څووجونه ئے كړے دے اوله وجه دا ده چه وخت دَ غداة وخت دَ بيدارئ دے او وخت دَ آصال وخت دَ راتللو دَ خوب دے نو اشاره ده چه ابتدا كول دَ بيدارئ اودَ خوب په ذكر دَ الله سره پكار ده۔ دويمه وجه دا ده چه روستو دَ مونځ دَ صبا اودَ مازيگر نه نور نفلي وغيره مونځونه كول مكروه دى نو هغه وخت كښ نور ذكركول پكاردى۔ دريمه وجه داده چه په دے دوه وختونوكښ ملائك عملونه دَ ورځے اودَ شپے بره ورخيژوى نو په دغه وختونوكښ كثرتِ ذكر پكار دے۔

۲۰۶ دے آيت كښ مقصد ترغيب دے مبلغ ته په بيان دَ حال دَ مقربينو سره چه دا درے صفات لرى يوصفت دَ زړه دے اودويم دَ ژبے دے او دريم دَ اندامونو دے۔ ختم شو تفسير دَ سورة اعراف په فضل دَ الله تعالىٰ سره۔

سورة الانفال مدنية | بسم الله الرحمن الرحیم | ایاتها ۷۵ رکوعاتها ۱۰

خاص په نوم د الله تعالیٰ امداد غواړو په شورو کولو کښې چه رحمان او رحیم دے

يَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ قُلِ الْاَنْفَالُ لِلّٰهِ

تپوس کوی دوی ستا نه په باره دَ غنیمتونو کښې، ته اووایه (اختیار) دَ غنیمتونو الله تعالیٰ

بسم الله الرحمٰن الرحیم

سورة الانفال

ربط دَ دے سورت دَ مخکښې سورت سره په دوو وجوهو سره دے اوله وجه داده چه مخکښې سورت کښې تشجیع وه په بیان دَ مسئلے سره په ژبه باندے او په دے سورت کښې ترغیب دے قتالؔ دَ پاره دَ اشاعت دَ مسئلے دَ توحید دویمه وجه داده چه په مخکنو سورتونو کښې توحید ثابت شو په دلیلونو سره نو په دے سورت کښې امر دے په قتال کولو سره دَ منکرینو سره۔
دعوے دَ دے سورت دوه دی: اوله داچه په غنیمتونو کښې خپل اختیار مه چلوئ بلکه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ حکم موافق ئے تقسیموئ په سلے او په سلے کښې دویمه دعویٰ امر دے په قتال فی سبیل الله سره۔ خلاصه دَ سورت: په دے سورت کښې دیارلس علتونه دی دَ اولے دعوے دَ پاره او دیارلس قوانین دی دَ دویمے دعوے دَ پاره او دیارلس کلمات دَ توحید دی او دیارلس اسماءِ حسنیٰ دی۔
تفصیلی خلاصه داده: په دے سورت کښې دوه حصے دی په اوله حصه کښې دوه بابونه دی او دا ترڅلویښتم ایت پورے ده۔ اول باب ترنولسم ایت پورے دے په دے کښې اوله دعویٰ ده بیا پنځه صفات دَ مؤمنانو مجاهدینو دی بیا علتونه دی دَ اولے دعوے او یو قانون دے دَ قتال دَ پاره۔
فائده: په دے سورت کښې حالات دَ غزوه بدر دی چه هغه په دویم کال دَ هجرت دَ رمضان په میاشت کښې واقع شویده په هغے کښې درے سوه دیارلس صحابه کرام وو او تقریباً زر کسان کافران وو په دے غزا کښې مؤمنانو فتح حاصله کړه او ډیر غنیمتونه ئے په لاس کښې راغلل هر کله چه دَ غنیمتونو په باره کښې دَ دے نه مخکښې حکم شرعی نه وو نو دَ دے وجے دَ دوی

وَالرَّسُوْلِ ۚ فَاتَّقُوا اللّٰهَ وَاَصْلِحُوْا ذَاتَ بَيْنِكُمْ ص

او رسول لره دے پس یره کوئ دَ الله تعالیٰ نه او جوړ ساتئ تعلق دَ مینځ خپل

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗۤ اِنْ كُنْتُمْ مُّؤْمِنِيْنَ ①

او تابعداری کوئ دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه حُکم چه تاسو مؤمنان يئ.

اِنَّمَا الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِيْنَ اِذَا ذُكِرَ اللّٰهُ وَجِلَتْ

یقینًا مؤمنان هغه کسان دی چه کله یاد کړیشي الله تعالیٰ اویریږی

قُلُوْبُهُمْ وَاِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ اٰيٰتُهٗ زَادَتْهُمْ

زړونه دَ دوی او کله چه لوستلے کیږی په دوی باندے ایتونه دَ هغه نوزیاتوی

په مینځ کښ اختلاف راغے یو ډله وه چه هغوی جنګ کړے وو هغوی وئیل دا زمونږ حق دے او دویمه ډله چه هغوی دَ جنګ کوونکو نه روستو ولاړ وو په نیت دَ امداد کولو هغوی وئیل په دے کښ زمونږه هم حصه ده او دریمه ډله چه هغوی دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم حفاظت کولو نو هغوی هم دَ حصے دعویٰ کوله نو الله تعالیٰ په دے اول ایت کښ اوفرمائیل چه تقسیم دَ غنیمتونو ستاسو په اختیار کښ نه دے نو دَ کوړ نئ دَ اختلاف نه ځان اوساتئ او دَ الله تعالیٰ او دَ هغه دَ رسول دَ حکم مطابق يے تقسیموئ. اوتفصیل دَ دے به دَ سورت په ایت یوڅلویښتم کښ راشي.

الْاَنْفَالِ داجمع دَ نفل ده اونفل زیاتی ته وائي اشاره ده دے ته چه مقصد دَ جهاد اِعلاء دَ کلمة الله ده، غنیمت نه دے دویمه اشاره ده دیته چه په نفل څیزکښ اختلاف جوړول نه دی جائز.

او په دے ایت کښ پنځه اداب دی. لِلّٰهِ وَالرَّسُوْلِ یعنی حکم دَ غنیمت خاص دے په الله تعالیٰ اورسول الله صلی الله علیه وسلم پورے الله تعالیٰ امر کوی اورسول يے تقسیم کوی په امر دَ الله تعالیٰ سره اوتقسیم دَ دے بل چاته نه دے سپارلے شوے. اِنْ كُنْتُمْ، اِنْ وئیلے شوے دے دَ ډیر ترغیب دَ پاره یا ان په معنی دَ اذ سره دے.

إِيمَانًا وَعَلَىٰ رَبِّهِمْ يَتَوَكَّلُونَ ﴿٢﴾ الَّذِينَ

ایمان دَ دوی او خاص په خپل رب باندې ځان سپاري دوی، دا هغه کسان دي

يُقِيمُونَ الصَّلَوٰةَ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ ﴿٣﴾

چه پابندي کوي دَ مانځه او دَ هغه مال نه چه ورکړيدے مونږ دوي ته خرچ کوي (په لار دَ الله تعالیٰ کښې)

أُولَٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُمْ دَرَجَٰتٌ

دغه کسان خاص دوی مؤمنان دي په رشتیا (یقیناً)، دوی دپاره ډیرے درجے دي

۲ ۳ په دے ایتونوکښ ذکر دَ صفاتو دَ مجاهدینو دے چه دَ دے اول مصداق صحابه کرام وو او دا پنځه صفات دي اول درے صفات عبادت قلبي دي او څلورم عبادت بدني دے او پنځم عبادت مالي دے۔

سوال: په دے ایت کښ فرمائیلي دي چه په وخت دَ ذکر دَ الله تعالیٰ زړونه رپیږي او سورة رعد کښ فرمائیلي دي په ایت ۲۸ کښ چه په ذکر دَ الله سره اطمینان دَ زړه حاصلیږي نو په دے کښ څه تطبیق دے۔؟

اول جواب دا دے چه یریدل دَ زړونو په هغه وخت کښ دي چه ذکر شي عذابونه دَ الله تعالیٰ او اطمینان دَ زړونو په هغے وخت کښ دے چه ذکر شي ثوابونه دَ الله تعالیٰ. دویم جواب دا دے چه دا یو صفت لازم دَ دَ دے بل سره یعني کله چه زړه اویریږي دَ الله تعالیٰ نه نو دَ کمال دَ یقین دَ وجے نه اطمینان په زړه کښ پیدا شي او دَ دے وجے نه یې دا دواړه جمع کړے دي په سورة زمر ۲۳ کښ او هر کله چه مقام دَ جهاد مقام دَ خوف الٰهي دے نو په دے سورت کښ صفت دَ خوف یې ذکر کړو او سورة رعد کښ مقام دَ دلیلونو او دَ مثالونو دَ توحید دے او هغه مقام دَ اطمینان دے۔ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا، ابن قیم بدائع الفوائد کښ وئیلي دي چه ایمان دوه قسمه دے یو ایمان مطلق دے چه هغه صرف یقین دَ زړه دے په هغے کښ زیاتوالے یا نقصان راتلل اختلافي مسئله ده صحیح دا ده چه په هغے کښ زیادت او نقصان راځي۔ او دویم ایمان مقید دے یقین سره دَ عمل نه، نو په هغے کښ زیاتے کمے راتلل په سبب دَ زیاتوالي دَ عمل او دَ نقصان دَ عمل اتفاقي خبره ده لیکن څوک دَ هغے نه په زیادت سره

عِنْدَ رَبِّهِمْ وَمَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴿۴﴾ كَمَا

په نيز دَ رب دَ دوی او بخنه ده او رزق عزتمند دے. څکه چه

اَخْرَجَكَ رَبُّكَ مِنْۢ بَيْتِكَ بِالْحَقِّ وَاِنَّ فَرِيْقًا

وويستلے يې ته رب ستا دَ كور ستا نه په حكمت سره، او يقينا يوه ډله

مِّنَ الْمُؤْمِنِيْنَ لَكٰرِهُوْنَ ﴿۵﴾ يُجَادِلُوْنَكَ

دَ ايمان والو نه خامخا خفه وو (طبعًا). بحث كوي دوی تا سره

فِي الْحَقِّ بَعْدَ مَا تَبَيَّنَ كَاَنَّمَا يُسَاقُوْنَ

په باره دَ جنگ كښ پس دَ هغې نه چه ښكاره شو (فرض كيدل دَ هغې) ګوياكے بوتللے كيدل دوی

تعبير كوی او څوک په پوخ والی سره تعبير كوی او دا سے په سورة توبه ۱۲۴ كښ هم دی - يَتَوَكَّلُوْنَ، په توكل كښ رجا (اميد ساتل) او پناهی طلب كول او حاجات غوښتل او رغبت كول ټول داخل دی چه دا خاص دی په الله تعالیٰ پورے (ابن كثير). او دا درے واړه صفتونه قلبی دی او روستو دوه صفتونه عملی ظاهری دی. ظاهر دا ده چه په دے آيت كښ دويم قسم ايمان مراد دے.

سک حق مؤمن ديته وائي چه ظاهر او باطن په ايمان كښ برابر وی او ديته كمالِ ايمان وائي او په دے آيت كښ زيرے دے دَ پاره دَ مجاهدينو په ښځه طريقو سره.

سے دَ لفظ دَ كَمَا په تعلق كښ دَ مفسرينو ډير اقوال دی ليكن غوره قول پكښ دا دے چه دا (ک) دَ پاره دَ علت دے دا بحرِ محيط كښ ذكر دی او دا متعلق دے دَ جملے الانفال لِلّٰهِ والرسول سره يعنی دا اول علت دے دَ اولے دعوے دَ پاره حاصل دَ هغې دا دے چه په ورځ دَ بدر دَ قتال دَ پاره راوتل ستاسو دَ طبيعت نه خلاف وو ليكن الله تعالیٰ را اوويستئ او غنيمتونه يې دركړل نو په هغې كښ ولے اختلاف كوئ او په دے آيت كښ مراد دَ كراهت نه كراهتِ طبعی غير اختياری دے دا قول دَ مبرد دے تقدير دَ عبارت دا دے قُلِ الانفال لِلّٰه والرسول وان كرهوا كما كانوا يكرهون الخروج. يا كاف په معنی دَ واو سره دے بِالْحَقِّ په معنی دَ حكمت يا په معنی جهاد سره دے (مدارك او كبير).

إِلَى الْمَوْتِ وَهُمْ يَنظُرُونَ ۝٦ وَإِذْ يَعِدُكُمُ

مرګ ته او دوی ورته کتل - او کوم وخت چه وعده اوکړه تاسو سره

اللَّهُ إِحْدَى الطَّائِفَتَيْنِ أَنَّهَا لَكُمْ وَتَوَدُّونَ

الله تعالیٰ دَ یو دَ دواړو ډلونه چه دا به ستاسو دَپاره دی او تاسو غوښته

أَنَّ غَيْرَ ذَاتِ الشَّوْكَةِ تَكُونُ لَكُمْ وَيُرِيدُ

چه دا بے وسلے ډله دے ستاسو دَپاره شی او غوښته

اللَّهُ أَن يُحِقَّ الْحَقَّ بِكَلِمَاتِهِ وَيَقْطَعَ

الله تعالیٰ چه ښکاره کړی حق لره په وعدو خپلو سره او پریکړی

دَابِرَ الْكَافِرِينَ ۝٧ لِيُحِقَّ الْحَقَّ وَيُبْطِلَ

جړے دَ کافرانو دے دَپاره چه غالب کړی حق لره او ختم کړی

ـــــــــــ

ك دَ جدال نه مراد بحث کول دی جګړه نه ده او هغه صرف دا قول ووکړ دوی چه دوی وئیل رسول الله ته که تا مخکښ مونږ لره خبر دَ قتال راکړے وے نو مونږ به ځان پوره تیار کړے وے۔ تَبَيَّنَ یعنی دوی ته واضح ده چه الله تعالیٰ دَ خپل نبی مدد کوی او دا رنګ نبی چه څه وائی نو په وحی سره وائی۔ كَأَنَّمَا يُسَاقُونَ، دا مثال دَ کراهت دے نو دَ کارهون سره متعلق دے او دا دلیل دے چه دا کراهت طبعی وو یا متعلق دے دَ يُجَادِلُونَكَ سره او په عبارت کښ تقدیر دے یخافون کانهم یساقون اه۔

ك دا دویم علت دے دَ اولے دعوے دَپاره حاصل ئے دا دے چه الله تعالیٰ دوی ته په خوب کښ ښودلے وو چه دَ کافرانو په یوه ډله باندے مومنانو غلبه حاصله کړے ده۔ لیکن دوی دا غوښتله چه هغه ډلہ " قافِلہ دَ ابوسفیان دِ وی " لیکن الله تعالیٰ هغه ډله لښکر دَ ابوجهل اوګرځود او مؤمنانو لره ئے په هغے غلبه ورکړه نو فرمائی " چه تاسو په غنیمت کښ و لے اختلاف کوئے، أَنَّهَا لَكُمْ یعنی دَ دوی مالونه تاسو ته حاصلیږی او تاسو به ورباندے غالب یئے۔ الشَّوْكَةِ اسلحه او قوت ته وئیلے شی

الْبَاطِلَ وَلَوْ كَرِهَ الْمُجْرِمُوْنَ ﴿۸﴾ إِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ

باطل لره	اګر چه بد ګڼړی مجرمان خلق ۔	کوم وخت چه فریاد کوۀ	

شوکت په لغت کښ از غی ته وئیلے شی ۔ ذَاتِ الشَّوْكَةِ نه مراد لښکر دَ ابوجهل وو او دَ غَيْرَ نه مراد قافله دَ ابوسفیان وه ۔ وَيُرِيْدُ اللّٰهُ، دا په معنی کښې علت دے دَ پټ عبارت دَ پاره یعنی اَرَادَ اللّٰهُ ذَاتَ الشَّوْكَةِ لَكُمْ لِاَنَّهٗ يُرِيْدُ الخ ۔ يُحِقَّ الْحَقَّ مراد دَ دے نه ښکاره کول او پخه ول دَ دین حق دی ۔ بِكَلِمٰتِهٖ، ایاتونه په باره دَ قتال کښ یا وعدے دَ نصرت دَ اللّٰه تعالیٰ ۔ دَابِرَ الْكٰفِرِيْنَ، اشاره ده چه ابوجهل او هغه کافران کسان چه په بدر کښ قتل کړے شوے وو دا جرړے او بیخ وو دَ کفر نو دَ هغوی په قتل سره دَ کفر جرړے پریکړے شوے ۔

فائده: دَ غزوه بدر په وخت کښ یو قافله دَ ابوسفیان وه چه دَ تجارت دَ پاره شام ته تلے وه او واپس راتلل دَ مدینے منورے په خوا کښ په ساحل دَ سمندر باندے او هغوی سره سامان دَ تجارت وو او سامان دَ جنګ ورسره نه وو نو دوی ته عیر وئیلے شی او دویمه ډله لښکر دَ ابوجهل وو چه پوره تیاری ئے کړے وه دَ پاره دَ جنګ، او مقام دَ بدر ته دَ جنګ دَ پاره راورسیدل او دوی سره اسلحے دَ جنګ ډیرے وے او دوی ته نفیر وئیلے شی ۔

ف دا ایت تعلق لری دَ دے لفظ سره چه وَيَقْطَعَ یعنی جرړے دَ کافرانو دَ دے فائدے دَ پاره پریکوی چه حق غالب شی او باطل مغلوب شی ۔

سوال: يحق الحق الخ کښ تکرار ولے شوے دے ؟

جواب: دا تکرار نه دے بلکه علت دے دَ پاره فرضیت دَ قتال دَ مشرکین (ابوجهل وغیره) سره او دویم علت دے په قطع دَ جرړو دَ مشرکینو سره او اول يحق کښ اظهار مراد دے او په دویم کښ پخه ول مراد دی او اول حق سره جهاد دَ بدر مراد دے او په دویم حق سره ټول دین حق مراد دے ۔

رَبَّكُمْ فَاسْتَجَابَ لَكُمْ اَنِّىْ مُمِدُّكُمْ بِاَلْفٍ

تاسو رب خپل ته پس قبول يې كړه دُعا ستاسو چه زه امداد كوم تاسو سره په زر (۱۰۰۰)

مِّنَ الْمَلٰٓئِكَةِ مُرْدِفِيْنَ ۝۹ وَمَا جَعَلَهُ اللّٰهُ

ملائيكو سره چه راځي په يو بل پسې. او نه دے ګرځولے الله تعالىٰ (دا ملائيك رالېږل)

اِلَّا بُشْرٰى وَلِتَطْمَئِنَّ بِهٖ قُلُوْبُكُمْ وَمَا النَّصْرُ

مګر زيرے او دے د پاره چه كلک شي په دے سره زړونه ستاسو او نه ده غلبه

اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ۝۱۰ ع ۱ ۱۰ ۱۵

مګر د طرف د الله تعالىٰ نه ده، يقيناً الله تعالىٰ زورور دے حكمت والا دے.

ف دا دريم علت دے د پاره د اولے دعوے حاصل دا دے چه رسول الله صلى الله عليه وسلم قبلے ته مخ كړو او لاس يې اوږده كړل او دُعا يې غوښتله په هغې كښې دا الفاظ دي اَللّٰهُمَّ اَنْجِزْلِىْ مَا وَعَدْتَّنِىْ، اَللّٰهُمَّ اٰتِنِىْ مَا وَعَدْتَّنِىْ اَللّٰهُمَّ اِنْ تُهْلِكْ هٰذِهِ الْعِصَابَةَ مِنْ اَهْلِ الْاِسْلَامِ لَا تُعْبَدْ فِى الْاَرْضِ، نو دا دُعا الله تعالىٰ قبوله كړه او يو زر (۱۰۰۰) ملائيك يې رالېږل او په هغې سره غنيمت حاصل شو. نو په هغې غنيمت كښې اختلاف مه كوئ. اِذْ تَسْتَغِيْثُوْنَ، د غوث نه اخستلے شويدے او غوث فرياد او طلب د مدد ته وئيلے شي او دا آيت ښكاره دليل دے چه استغاثه په رب پورې خاص ده. مُمِدُّكُمْ مدد كښې معنىٰ د نصرت او د زيادت دواړه ماخوذ ده. مُرْدِفِيْنَ، جماعتونه د ملائيكو په يو بل پسې راتلل او په دا سے راتللو سره ډير رعب پريوځي په دشمنانو باندے. دا طريقه د راتللو د ملائيكو وه په بدر كښې او په سورة آل عمران ۱۲۴ كښې د هغوى نازليدل ذكر دي اشاره ده چه آسماني ملائيك وو او په سورة آل عمران ۱۲۵ كښې د هغوى فوجي علامات ذكر وو په مسوّمين سره.

ف ۱ يعني ظاهري امداد كښې دوه فائدے دي يو د زړه اطمينان بل اثر د خوشحالئ په مخ باندے په دے كښې جواب د سوال دے يعنې كه څوک ګمان اوكړي چه مدد د ملائيكو په قدرت كښې دے نو جواب او شو

إِذْ يُغَشِّيكُمُ النُّعَاسَ أَمَنَةً مِّنْهُ وَيُنَزِّلُ

کوم وخت چه پټ کړئ تاسو الله تعالیٰ په پرکالے سره دَ امن دَ پاره دَ طرف دَ هغه نه او را او وروله ئے

عَلَيْكُم مِّنَ السَّمَاءِ مَاءً لِّيُطَهِّرَكُم بِهِ

په تاسو باندے دَ طرف دَ اسمان نه اوبه دے دَ پاره چه پاک کړی تاسو په هغے سره

وَيُذْهِبَ عَنكُمْ رِجْزَ الشَّيْطَانِ وَلِيَرْبِطَ

او لرے کړی ستاسو نه پلیتی (وسوسه) دَ شیطان او چه کلکوالے راولی

عَلَىٰ قُلُوبِكُمْ وَيُثَبِّتَ بِهِ الْأَقْدَامَ ﴿١١﴾ إِذْ يُوحِي

په زړونو ستاسو او کلک کړی په سبب دَ دے سره قدمونه ستاسو. کوم وخت چه وحی کوله

وَمَا النَّصْرُ دَ نصر دوه معنے دی اول لاندے دَ اسبابونه دا دَ مخلوق صفت دے لکه سورة العمران ۵۳ اوپه دے سورت ۲۲ کښ دویم پورته دَ اسبابونه دے هغه خاص دے په الله تعالیٰ پورے او هغه په معنی دَ غلبه سره دے په دے آیت کښ مراد دے دا سے آیت په سورة العمران ۱۲۶ کښ ذکر دے فرق ئے په درے طریقو سره دے اول په هغے کښ لکم ذکر دے او دلته نیشته ځکه هلته ئے سبب دَ غم ذکر کړو چه دَ کافرانو په کثرة سره راتلل دی نو دَ بشارت ئے په لکم سره تخصیص اوکړو دَ پاره دَ تاکید. دویم فرق هلته په دَ قلوبکم نه روستو ذکر کړے دے او دلته مخکښ ځکه چه دلته دَ اول امداد ذکر دے (چه زر ملائیک دی) او دا سبب اول دے نو په بِهٖ سره ئے اول سببیت ذکر کړو. دریم فرق هلته اِلَّا مِنْ عِنْدَ اللهِ الْعَزِيزِ الْحَكِيمِ او دلته اِلَّا مِنْ عِنْدِ اللهِ ذکر کړو او بیا ئے اوفرمائیل اِنَّ اللهَ ځکه چه دلته استغاثه ذکر ده نو دَ ډیر تاکید دَ وجے نه دواړه جملے جدا جدا راوړے او دویمه جمله ئے موکد کړه په اِنَّ سره. او هر کله چه په هغه سورت کښ اِنَّ نه وو ذکر کړے نو دَ تاکید دَ پاره العزیز الحکیم ئے معرفه ذکر کړل.

۱۱ دا څلورم علت دے او دَ نصرتِ الٰهیه نورے طریقے دی نعاس او باران دَ نعاس یوه فائده او دَ باران څلور فائدے ئے ذکر کړے دی.

رَبُّكَ اِلَى الْمَلٰٓئِكَةِ اَنِّىْ مَعَكُمْ فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ

رب ستا ملائیکو ته چه زهٔ ستاسو سره یم نو ټینګ کړئ هغه کسان

اٰمَنُوْا ؕ سَاُلْقِىْ فِىْ قُلُوْبِ الَّذِيْنَ كَفَرُوا

چه ایمان ئے راوړے دے، خامخا اچوم زهٔ په زړونو دَ کافرانو کښ

الرُّعْبَ فَاضْرِبُوْا فَوْقَ الْاَعْنَاقِ وَاضْرِبُوْا

یره (هیبت) نو وهئ بره دَ سټو نه او وهئ

حاصل دَ علتیت دا دے چه په میدان دَ بدر کښ په صحابه کرامو دَ کمو الی دَ وجے نه خوف راغے او بل دا چه شیطان وسوسے واچولے چه تاسو سره اوبه نیشته او په شکوکښ یئ نو تاسو به جنګ څنګه اوکړئ نو الله تعالیٰ یو پرکالی راوسته په دوی په هغے سره ئے ترینه خوف لرے کړو او باران ئے اوورولو چه په هغے سره پاکوالے حاصلیدلو او دَ شیطان وسوسے لاړے ۔ النُّعَاسَ، لږ خوب چه دَ هغے اثر دَ سر په درونډ والی سره معلومیږی اَمَنَةً هغے ته وئیلے شی چه سبب دَ خوف موجود وی لیکن خوف زائله شی او دا معجزه او کرامت وی ۔ او امن هغے ته وائی چه سبب دَ خوف هم زائله شی دلته خو مقابله کښ کافران تیار ولاړ دی جنګ موجود دے لیکن خوف زائله شو نو ځکه اَمَنَةً ئے ذکر کړو دا سے په سورة العمران ۱۵۴ کښ هم ذکر دی هلته ئے یو طائفه ذکر کړے ده ځکه چه جنګ احد کښ منافقان وو خو په هغوی باندے نعاس رانغے او په غزوه بدر کښ منافقان نیشته نو دلته ئے ټولو ته خطاب اوکړو ۔ لِيُطَهِّرَكُمْ، په اودس کولو او غسل کولو سره ۔ رِجْزَ الشَّيْطٰنِ بے اودسی او جنابت یا هغه وسوسے چه شیطان اچولے په زړونو دَ مؤمنانو کښ چه تاسو سره اوبه نیشته نو معلومه شوه چه تاسو په حق باندے نه یئ ۔ لِيَرْبِطَ، ربط القلب هم صفت دَ اولیاء الله دے ربط او اطمینان کښ فرق دے دَ اطمینان سره سبب ذکر وی او دَ ربط سره سبب ذکر نه وی او ربط عبارت دَ کلکوالی دَ زړه نه په عقیده او په دعوت او په جهاد کښ بغیر دَ څه خوف نه ۔ وَلِيَرْبِطَ په دیکښ لام ذکر کړو اشاره ده چه دَ دے تعلق دَ نعاس او باران دواړو سره دے ۔ يُثَبِّتَ بِهِ ه ضمیر ربط قلب ته راجع دے یا او بو دَ باران ته ۔

مِنْهُمْ كُلَّ بَنَانٍ ﴿١٢﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ شَآقُّوا اللّٰهَ

دَ دوی نه هر بند دَ گوتو. دا پدې وجه چه دوی خلاف کړې دے دَ الله تعالیٰ

وَرَسُوْلَهٗ ۚ وَمَنْ يُّشَاقِقِ اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

او دَ رسول دَ هغه نه او چا چه خلاف اوکړو دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه نه

فَاِنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿١٣﴾ ذٰلِكُمْ فَذُوْقُوْهُ

نو یقیناً الله تعالیٰ سخت عذاب ورکوونکے دے هغه لره. دا عذاب ستاسو پس اوڅکئ دا په دُنیا کښ

۱۲ دا پنځم علت دے دَ اولے دعوے، حاصل ئے دا دے چه الله تعالیٰ ملائیکو لره په جنګ کولو کښ تاسو سره شریک کړل او دَ هغې دَ وجے نه غنیمت حاصل شو نو په هغې کښ اختلاف مه کوئ. فَثَبِّتُوا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا، یو تثبیت قولی وو مطلب ئے دا دے چه زیرے ورکړئ مؤمنانو لره په مدد دَ الله تعالیٰ. دویم تثبیت ئے عملی وو چه ملائیک حاضر شوی وو دَ پاره دَ قتال په شکل دَ سړو کښ مؤمنانو بعض دَ هغې نه اولیدل او دَ بعضو ئے اوازونه اوریدل لیکن دوی نه پیژندل مخکښ دَ اخبار دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه. دریم تثبیت دے په طریقه دَ الهام سره په زړونو دَ مؤمنانو کښ. اَنِّيْ مَعَكُمْ، معیت دَ نصرت دے معلومه شوه چه ملائیک هم دَ الله تعالیٰ نصرت ته محتاج دی او یو احتمال دا دے چه دلته قولوا پټ دے یعنی او وایئ مؤمنانو ته دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه چه انی معکم. سَاُلْقِيْ، دا تفسیر دَ معکم دے یا نتیجه دَ فَثَبِّتُوْا ده. رُعْبَ، زړه دَ یرے نه ډکیدل په امید دَ مصیبت سره. فَوْقَ الْاَعْنَاقِ مراد دَ دے نه دَ سر روستنئ حصه ده یا ټول سر دے. بَنَانٍ، دا ئے ځکه خاص کړه په وهلو سره ځکه چه په دے باندے جنګ کیدے شی.

۱۳ دے ایت کښ سبب ذکر دے دَ پاره دَ وژلو دَ کافرانو چه هغه شقاق دے. شقاق په اصل کښ دے ته وائي چه دوه ټکړے جوړے شی او یو دَ بل په مقابله کښ وی. علماؤ لیکلی دی چه هر مشرک او مبتدع مشاق دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دے ځکه چه دَ هغوی په خلاف کښ ئے دین جوړ کړے دے کتاب الاعتصام ص ــــ. دا اسے ایت سورة حشر

وَأَنَّ لِلْكَافِرِينَ عَذَابَ النَّارِ ﴿۱۴﴾ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ

(او پوهه شئ) چه يقيناً كافرانو لره عذاب دَ أور دے. اے

آمَنُوا إِذَا لَقِيتُمُ الَّذِينَ كَفَرُوا زَحْفًا

ايمان والو كله چه مخامخ شئ تاسو دَ كافرانو سره په وخت دَ جنګ كولو كښ

فَلَا تُوَلُّوهُمُ الْأَدْبَارَ ﴿۱۵﴾ وَمَنْ يُوَلِّهِمْ

پس مه ګرځوئ هغوى ته شا ګانے. او چا چه اوګرځوله دوئ ته په دغه

يَوْمَئِذٍ دُبُرَهُ إِلَّا مُتَحَرِّفًا لِقِتَالٍ أَوْ مُتَحَيِّزًا

ورځ كښ شا خپله مګر كه هُنر كوونكى وى دَ پاره دَ جنګ يا يو ځائے كيدونكى وى

۱۳ كښ هم دے دا ايت په باره دَ عوامو كافرانو كښ دے او دَ هغوى شقاق خفيف دے دَ دے وجے نه دلته ئے په يشاقق كښ ادغام اونكړو او سورة حشر كښ حال دَ يهوديانو دے چه دَ هغوى شقاق ډير شديد دے دَ دے وجے نه ئے په ادغام (شد) سره ذكر كړے دے.

۱۴ دا خطاب كافرانو ته دے او په دے كښ اشاره ده قتل او قيد او ذلت دَ كافرانو په بدر كښ.

فَذُوقُوهُ، دا په طريقه دَ استهزاء سره ئے ذكر كړے دے ځكه چه ذوق په خوږو شيزونو كښ ذكر كيږى وَأَنَّ نه مخكښ لفظ "واعلموا" پټ دے.

۱۵ دا اول قانون دے مجاهدينو لره چه دَ ميدان جنګ نه تيښته اونكړئ او دا تيښته كول ګناه كبيره دے.

لفظ دَ أَدْبَارَ، دَ كار په قباحت باندے دلالت كوى.

زَحْفًا، په اصل كښ خاپوسے كولو دَ بچى ته وئيلے شى يعنى لښكر دَ ډيروالى دَ وجے نه په دمه دمه ځى. او دا رنګ زحف نزدے كيدلو ته وئيلے شى يعنى په وخت دَ جنګ كښ چه يو بل ته نزدے شئ.

إِلَىٰ فِئَةٍ فَقَدْ بَآءَ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ وَمَأْوَاهُ

دَ ډلې خپلې سره نو یقیناً اخته شو دے په غضب دَ الله تعالیٰ او ځائے دَ ورتلو دَده

جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿١٦﴾ فَلَمْ تَقْتُلُوهُمْ

جهنم دے ، او بد دے ځائے دَ ګرځیدو (دا جهنم). پس نه دی وژلی تاسو هغوی لره

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ ۚ وَمَا رَمَيْتَ إِذْ رَمَيْتَ

لیکن الله تعالیٰ وژلی دی هغوی لره او نه دی رسولی تا کاڼری سترګو دَ کافرانو ته کله چه تا ګذار

وَلَٰكِنَّ اللَّهَ رَمَىٰ ۚ وَلِيُبْلِيَ الْمُؤْمِنِينَ مِنْهُ

لیکن الله تعالیٰ او رسول سترګو دَ هغوی ته (او دا کار ئے اوکړو) دَ پاره دَ دے چه ورکړی مؤمنانو ته دَ خپل طرفنه

بَلَآءً حَسَنًا ۚ إِنَّ اللَّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴿١٧﴾ ذَٰلِكُمْ

انعام ښائسته یقیناً الله تعالیٰ هر څه اوریدونکے په هر څه پوهه دے. دا کار خو دا سے اوشو

ف ۱۶ په دے کښې ذکر دَ عذاب اخروی دے په تیښته کولو باندے لیکن دوه حالتونه ئے دَ هغے نه مستثنیٰ کړی دی یو هنر او طریقه جوړول دَ پاره دَ جنګ چه دُشمن ته شا اوګرځوی او ناساپه واپس شی او حمله پرے اوکړی، دویم دا دے چه دَ خپلے ډلے نه بیواځے شوے وی نو ځان هغے یا بلے ډلے ته رسوی دَ پاره دَ امداد حاصلولو. نو په دے دواړه حالتو کښې شا ګرځول شته لیکن په اراده دَ تیښتے کولو سره نه دی.

ف ۱۷ دا شپږم علت دے دَ اولے دعوے، حاصل ئے دا دے چه دا کوم مشرکان په بدر کښې قتل کړے شول یا په سترګو دَ هغوی کښې کاڼری اولګیدل دا تاسو نه دی کړی بلکه الله تعالیٰ کړیدی او په هغے سره غنیمت حاصل شوے دے نو په هغے کښې اختلاف مه کوئ. وَلَٰكِنَّ اللَّهَ قَتَلَهُمْ، دا نسبت یا په دے وجه سره دے چه الله تعالیٰ توفیق دَ قتل ورکړے وو مؤمنانو ته سره دَ کموالی دَ اسبابونه. بله وجه دا ده چه قتل کړے شوے وو په واسطه دَ ملائیکو ځکه بعضو روایاتو نه ثابته ده چه صحابی به لا ګوذار نه وو کړے او مخکښې به سر دَ کافر اوغورځیدا. سوال: د دے آیت کښې هم نسبت دَ رمی

وَأَنَّ اللّٰهَ مُوهِنُ كَيْدِ الْكٰفِرِيْنَ ⑱ إِنْ تَسْتَفْتِحُوا

او (پوهه شئ) یقینًا الله تعالیٰ کمزورے کوی چل ول دَ کافرانو. که تاسو فیصله غوښته

فَقَدْ جَاءَكُمُ الْفَتْحُ ۚ وَإِنْ تَنْتَهُوا فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

پس یقینًا راغله تاسو ته فیصله او که منع شوئ (دَ کفر نه) پس دا غوره ده تاسو لره

وَإِنْ تَعُودُوا نَعُدْ ۚ وَلَنْ تُغْنِيَ عَنْكُمْ فِئَتُكُمْ

او که راؤګرځیدئ (جنګ ته) نو را وبه ګرځو مونږ مدد دَ مؤمنانو ته. او چرے نشی لرګولے ستاسو نه ډله ستاسو

شویدے پیغمبر علیه السلام ته او هم ترے نفی شوے ده دَ دیخه وجه ده؟
جواب دا دے چه نسبت دَ رمی په اعتبار دَ ظاهر سره دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم یو موټے کانړی را واخستل او دَ کافرانو طرف ته یئے او ویشتل۔ او نفی دَ رمی په دے وجه سره ده چه هغه کانړی سترګو دَ کافرانو ته رسَول دا دَ پیغمبر کار نه وو دا دَ الله تعالیٰ کار وو ځکه چه دا معجزه ده۔
فائده: (۱) کوم فعل چه دَ بنده په اختیار او کسب سره دے چه هغه رمی ده (کانړی ویشتل دی دَ لاس نه) دَ هغے نسبت یئے نبی ته او کړو په اِذْ رمیت سره او کوم کار چه دَ بنده کسب او اختیار نه بهر دے نو هغه یئے دَ نبی نه نفی کړو او الله تعالیٰ ځان ته نسبت او کړو۔
فائده: (۲) ابن جریر او قرطبی وغیره مفسرینو وئیلي دی چه دا دلیل دے په دے خبره باندے چه دَ بندګانو ټول کارونه الله تعالیٰ پیدا کوی او بنده صرف کسب کوی۔
سوال: په قتل کښں وَلے نسبت ظاهری یئے مؤمنانو ته او نکړو پشان دَ رمی؟
جواب: قتل نه مراد روح قبض کول دی روستو دَ عمل دَ قاتل نه او دَ روح اخستلو نسبت صرف الله تعالیٰ ته کیدیشی او دَ بنده په کسب سره استعمال دَ آلے دَ قتل دے هغے ته هم قتل وئیلي شی لیکن دلته دا معنی مراد نه ده۔

ښله دا خطاب دے مؤمنانو ته ذٰلِكُمْ کښں اشاره ده بَلَاءً حَسَنًا ته مبتدا محذوف ده یعنی الغرض ذلکم او وَأَنَّ عطف دے په ذلکم باندے یا اعلموا حذف دے۔

شَيْـًٔا وَّلَوْ كَثُرَتْ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿١٩﴾ ع ۲ ۹ ۱۶

خه تکلیف اگر که ډیر وی (او پوهه شئ) یقیناً الله تعالیٰ ملګرے دَ مؤمنانو دے (په مدد کولو سره).

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ

اے ایمان والو تابعداری کوئ دَ الله تعالیٰ او دَ رسول دَ هغه

وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ ﴿٢٠﴾ وَلَا تَكُوْنُوْا

او مخ مه اړوئ دَ هغه نه او حال دا دے چه اورئ تاسو (قرآن او سنت). او مه کیږئ

ف۱ دا زجر او تخویف دے او خطاب دے کافرانو ته او په آخر کښ بشارت دے مؤمنانو ته دَ دے حاصل دا دے چه کافرانو یو دُعا غوښتلے وه او دَ هغے بد اثر الله تعالیٰ په هغوی باندے اوغورځوو او هغوی یئ مغلوب کړل. بیا دے آیت کښ دوه توجیه دی اول دا چه دا خطاب دے کافرانو ته او دا توجیه غوره ده ځکه چه روستو جملے په دے باندے دلالت کوی دویمه توجیه دا ده چه دا خطاب دے مؤمنانو ته مفسرینو لیکلی دی چه ابوجهل او دَ هغه ملګرو بدار ته دَ وتلو نه مخکښ دَ کعبے غلاف اونیوو او دا دُعائے لوستلے وه چه یا الله تعالیٰ په دے دواړو ډلوکښ چه کوم په هدایت باندے دی او کوم ستا په نیز باندے غوره وی نو هغوی سره امداد اوکړے لیکن دا دواړه صفتونه په مؤمنانو کښ وو نو الله تعالیٰ دا دُعا دَ هغوی په باره کښ قبوله کړه. وَاَنَّ اللّٰهَ نه مخکښ واعلموا پټ دے او دا بشارت دے مؤمنانو ته په نصرتِ خاصه سره.

ف۲ دے ځائے نه دویم باب دے څلویښتم آیت پورے په دے کښ څلور قوانین دَ جهاد ذکر کوی او په مینځ کښ ترغیب دے جهاد ته او دَ پنځم قانون نه روستو آثار دَ تقویٰ ذکر کوی وجوداً او عدماً او دوه علتونه ذکر کوی او تخویف دے دَ پاره دَ منکرینو او دویمه دعویٰ دَ سورت ده. بیا دے آیت کښ دویم قانون دے مطلب دَ هغے دا دے چه مجاهد باندے لازم دی چه دَ الله تعالیٰ او دَ رسول پوره تابعداری اوکړی. وَلَا تَوَلَّوْا عَنْهُ، مفرد ضمیر یئ ځکه ذکر کړو چه طاعت دَ الله تعالیٰ او دَ رسول یو دے. وَاَنْتُمْ تَسْمَعُوْنَ، دا قید دے دَ پاره دَ ډیر تاکید یعنی سره دَ علم نه إعراض اونه کړئ. او سماع نه مراد او ریدل دَ پوهے او دَ تصدیق کولو دی.

كَالَّذِيْنَ قَالُوْا سَمِعْنَا وَهُمْ لَا يَسْمَعُوْنَ ﴿۲۱﴾

پشان دَ هغې کسانو چه وائي اوریدلے دی مونږ او حال داچه دوی ندی اوریدلی (په زړه سره)

اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ عِنْدَ اللّٰهِ الصُّمُّ الْبُكْمُ

یقینًا بدتر دَ زنده سرونه په نیز دَ اللّٰه تعالیٰ کانړهٔ دی (دَحق نه) چاړه ګان دی

الَّذِيْنَ لَا يَعْقِلُوْنَ ﴿۲۲﴾ وَلَوْ عَلِمَ اللّٰهُ فِيْهِمْ

هغه کسان چه نه پوهیږی (په حق باندے). او که معلومه وے اللّٰه تعالیٰ ته په دوی کښ

خَيْرًا لَّاَسْمَعَهُمْ ؕ وَلَوْ اَسْمَعَهُمْ لَتَوَلَّوْا

طلب دَحق خامخا اوروله به ئې وے دوی ته (په پوهه ولو سره)، او که واوروی اللّٰه دوی ته (په داسے حال کښ) خامخا دوی به

سلا دا درے ایتونه زور نه دہ منافقینوته چه هغوی سستی کوی په جهاد کښ اومنع کول دی مؤمنانو لره دَ اخلاقو دَ منافقینونه. دا ایت دلیل دے په دے خبرہ چه څوک په خُلے اقرار کوی چه زه تابعدار یم او اُمتّی یم لیکن په هغه باندے دَ دے اثر نه ښکاری نو دا قول بے فائدے دے اودا علامت دَ نفاق دے.

لَايَسْمَعُوْنَ، نفی دَ سماع نه مراد نفی دَ قبولیت او دَ تصدیق دہ.

سلا دا دلیل دے دَ مخکښ ایت دَ پاره چه دَ منافقانو په شانتے مه کیږه ځکه چه دوی بدتر دی او دَ دے ایت نه معلومه شوه چه عنادی کافر او مشرک دَ اللّٰه تعالیٰ په نیز دَ ټول مخلوق نه بدتروی. او دا علت اصلی دے دَ پاره دَ قتال ځکه چه دَ شر والا څیز وژل ضروری دی. او دا ایت عام دے منافقانو او ښکاره کافرانوته او دا سے په دے سورت سه۵ او سورۃ بینه سه کښ هم شته. او وجه دَ شرّیت (بدترکیدلو) دَ دوی داده چه دَ نورو زنده سرو چه غوږونه اوژبه او دماغ دی نو هغوی ترے خپل مناسب فائده اخلی او دا کافران او منافقان فائده نه اخلی نو دَ هغوی نه بدترشول لکه چه په سورۃ اعراف سه۱۷۹ او فرقان سه۴۴ کښ دی.

وَهُمْ مُّعْرِضُونَ ﴿۲۳﴾ يَآأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا

او دوی همیشه مخ اړونکی دی. اے ایمان والو

اسْتَجِيبُوا لِلَّهِ وَلِلرَّسُولِ إِذَا دَعَاكُمْ

حکم قبلوئ دَ الله تعالیٰ او دَ رسول کله چه راوبلی تاسو

لِمَا يُحْيِيكُمْ ۖ وَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ يَحُولُ

هغه خيز ته چه ژوندی کوی تاسو او پوهه شئ يقيناً الله تعالیٰ پرده اچوی

بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهِ وَأَنَّهُ إِلَيْهِ تُحْشَرُونَ ﴿۲۴﴾

په مینځ دَ سړی او دَ زړه دَ هغه کښې او يقيناً خاص هغه ته به جمع کړے شئ تاسو.

ف۲۳ علم (پوهه) دَ الله تعالیٰ په باره دَ خیر کښې کنایه ده دَ وجود دَ هغې نه ځکه چه موجود وی نو الله تعالیٰ به پرے خامخا عالم وی او حاصل دَ دے جملے دا دے که چرے موجود وے په دوی کښې طلب دَ حق نو اوروله به یئے وے دوی ته په افهام او تصدیق سره ځکه چه په انابت سره هدایت حاصلیږی او دا جمله جواب دَ سوال دے یعنی که سوال اوشی چه سره دَ دے نه چه دوی صم بکم دی لیکن الله تعالیٰ دِے دوی ته اسماع دَ پوهے ورکړی؟ جواب دا دے چه په دوی کښې انابت نیشته دے نو ځکه فهم ورته نه حاصلیږی. وَلَوْ أَسْمَعَهُمْ، دا جواب دَ بل سوال دے سوال دا دے چه دوی اگرچه په حال دَ ضد او عناد کښې دی لیکن الله تعالیٰ دِ ورته واوروی کنه؟ نو جواب اوشو که په دا سے حال (عناد) کښې ورته واوروی نو دوی نو مخ گرځوی. معلومه شوه چه په دے ایت کښې دواړه جملے مستقلے دی صغریٰ او کبریٰ نه دی.

ف۲۴ دا دریم قانون دَ جهاد دے او حاصل دَ دے دا دے چه دَ جهاد فرض کیدلو په وخت کښې نفل کارونه پریږدی او په جهاد کښې ضرور شریک شئ. او دلیل په دے باندے حدیث دَ بخاری دے دَ ابوسعید ابن المعلیٰ نه چه هغه وئیلی دی " ما په مسجد کښې نفل مونځ کوو پس ما ته رسول الله آواز راکړو لیکن ما اجابت اونکړو چه دَ مانځه نه فارغ شوم نو ورته راغلم

وَاتَّقُوْا فِتْنَةً لَّا تُصِيْبَنَّ الَّذِيْنَ ظَلَمُوْا

او ځان بچ کړئ (په جهاد کولو سره) د هغه عذاب نه چه نه رسی ظالمانو ته

مِنْكُمْ خَآصَّةً ۚ وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ شَدِيْدُ

ستاسو نه یوازې او پوهه شئ یقینًا الله تعالیٰ سخت

الْعِقَابِ ﴿٢٥﴾ وَاذْكُرُوْٓا اِذْ اَنْتُمْ قَلِيْلٌ

عذاب ورکوونکے دے. او یاد کړئ هغه وخت کله چه تاسو لږ وئ

او عذاب دے ورته پیش کړو چه ما موخ کوو" نو هغه او فرمائیل چه تا دا ایت نه دے اوریدلے" نو د دے نه معلومه شوه چه د فرض کار د پاره هر نفل پریښودل ضروری وی.

لِمَا يُحْيِيْكُمْ، مراد د دے نه جهاد دے ځکه چه هغه سبب د ژوند دے. دا رنګ د دے نه مراد قرآن کریم او سنت دی ځکه چه هغه هم سبب د حیات دے او شربینی وئیلی دی چه مراد د دینه علوم دینیه دی او صحیح عقیده او ایمان او جهاد دے.

يَحُوْلُ بَيْنَ الْمَرْءِ وَقَلْبِهٖ، د پردے اچولو نه مراد مُهر لګول دی لکه بل ځائے چه دے نه خَتَمَ او طبع وئیلے شویده دا قول د مجاهد دے او ضحاك وئیلی دی چه دا عام دے یعنی د مؤمن او د معصیت او د کافر او د طاعت په مینځ کښ حائل او مانع پیدا کوی.

٢٥ دا عطف دے په استجیبوا باندے او ترغیب دے جهاد ته که په ژبے سره وی او که په توره سره وی او ویره د عذاب ده په وخت د پریښودلو د دے جهاد کښ.

حاصل دا دے چه کله په یو ځائے کښ ګناه کیږی او نور خلق د هغے منع او نکړی نو عذاب د دنیا به په ټولو باندے عام راځی "بے ادب تنها نه خود را داشت بد، بلکه آتش در همه آفاق زد" او په دے باره کښ ډیر احادیث ابن کثیر ذکر کړے دی او د ایت د مفهوم نه معلومه ده چه جهاد او دعوت د حق د دفع کولو د عذاب دنیوی سبب دے.

مُّسْتَضْعَفُوْنَ فِي الْاَرْضِ تَخَافُوْنَ اَنْ يَّتَخَطَّفَكُمُ

کمزوري کړے شوے وئے په زمکه کښې يريدے تاسو چه اوبه تختوي تاسو (؟)

النَّاسُ فَاٰوٰىكُمْ وَاَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهٖ وَرَزَقَكُمْ

خلق پس ځائے ورکړو تاسو ته او کلک يې کړئ په مدد خپل سره او روزي يې درکړه تاسو ته

مِّنَ الطَّيِّبٰتِ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُوْنَ ﴿۲۶﴾ يٰٓاَيُّهَا

د پاک څيزونو نه دے دپاره چه تاسو شکر اوکړئ . اے

الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَخُوْنُوا اللّٰهَ وَالرَّسُوْلَ

ايمان والو خيانت مه کوئ د الله تعالیٰ او د رسول سره

وَتَخُوْنُوْٓا اَمٰنٰتِكُمْ وَاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۷﴾

او خيانت مه کوئ په امانتونو خپلو کښې او تاسو پوهيږئ .

۲۶ دے ايت کښې هم ترغيب دے جهاد ته او اشاره ده چه دا درے انعامات د الله تعالیٰ د طرف نه په تا بانديے وی نو په هغه بانديے جهاد فرض دے اول انعام خپل ځائے لکه مدينه منوره، دويم امداد د الله تعالیٰ په ظاهري اسبابو سره لکه په بدر کښې، دريم رزق حلال لکه غنيمتونه حلالول. ددے ايت کښې د شکر نه مراد جهاد کول دی. يَّتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ، تخطف دے ته وئيلے شي چه تيپوس چرګوړے اوتختوي يا باز خپل ښکار لره په پنجو کښې اوچت کړي.

۲۷ دا څلورم قانون د جهاد دے چه مجاهد له هيڅ قسم خيانت کول نه دی جائز. خيانت د الله تعالیٰ سره د هغه په حکمونو کښې زياتے يا کمے کول دی او خيانت د رسول سره د هغه د سنت خلاف کول دی او د اما نا تو نه مراد هغه ټول حقونه دی چه بنده په هغے سره مکلف دے. خيانت مخالفت کول د حق دی په پټه لوړئ کولو سره په پټه بانديے او دا علامت د نفاق د دے دا امام راغب په مفردات کښې ذکر کړے دی.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَآ اَمْوَالُكُمْ وَاَوْلَادُكُمْ فِتْنَةٌ ۙ

او پوهه شئ چه يقيناً مالونه ستاسو او اولاد ستاسو امتحان دے

وَّاَنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۸﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ

او يقيناً دَ الله تعالیٰ سره ثواب لوئے دے. اے ايمان

اٰمَنُوْٓا اِنْ تَتَّقُوا اللّٰهَ يَجْعَلْ لَّكُمْ فُرْقَانًا

والو كه يره كوئ تاسو دَ الله تعالیٰ نه نو دريه كړی تاسو لره فتح

وَّيُكَفِّرْ عَنْكُمْ سَيِّاٰتِكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۭ وَاللّٰهُ

او لرے به كړی ستاسو نه بدئ ستاسو او بخنه به او كړی تاسو ته او الله تعالیٰ

ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيْمِ ﴿۲۹﴾ وَاِذْ يَمْكُرُ بِكَ الَّذِيْنَ

خاوند دَ فضل لوئے دے. او كله چه جرګه كوله ستا په باره كښ

۲۸ داعلت دَ مخكښ ايت دے چه خيانت كيږی نو دَ وجے دَ مال يا دَ اولاد نه كيږی او هغه فِتنه ده نو مراد دَ فتنے نه امتحان دے يا سبب دَ پريوتلو دے په ګناهونو كښ او په خيانت كولو كښ او دا صفت په مالونو كښ ډير دے په نسبت دَ اولاد سره او دا سے په سورة منافقون ۹ او سورة تغابن ۱۵ كښ ذكر دی كړے دے وجے نه ذكر دَ مالونو مخكښ كړے دے.

۲۹ دا پنځم قانون دَ پاره دَ جهاد دے، مطلب ئے دا دے چه مجاهد باندے لازم ده تقویٰ كول او هغه سبب دے دَ بچ كيدلو دَ خيانت او فتنے نه او مراد دَ تقویٰ نه تابعداری دَ اوامرو دَ الله تعالیٰ ده او بچ كيدل دَ نواهی دَ الله تعالیٰ نه او پريښودل دَ شبهاتو دی او په دے ايت كښ دَ دے تقویٰ ئے درے فائدے بيان كړے دی يو فتح حاصليدل دويم بدئ او سختئ لرے كيدل دريم ګناهونه معاف كيدل او دَ دے نه روستو اٰثار بيانوی دَ تقویٰ دَ شته والی او دَ نيشت والی. فُرْقَانًا كښ ډير اقوال دی او دا لفظ هغه ټولو ته شامل دے يعنی نور په زړه كښ چه په هغے سره دَ حق او باطل تميز كيدے شی، فتح، غلبه، نجات دَ دارينو، وتل دَ شبهاتو، شهرت دَ نوم دَ مؤمنانو، سَيِّاٰتِ ګناهونه صغيره او ناكاره صفتونه او سختئ

كَفَرُوْا لِيُثْبِتُوْكَ اَوْ يَقْتُلُوْكَ اَوْ يُخْرِجُوْكَ ط

کافرانو چه قید کړی تا لره یا او وژنی تا لره یا اوباسی تا لره ،

وَيَمْكُرُوْنَ وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ط وَاللّٰهُ خَيْرُ الْمٰكِرِيْنَ ﴿٣٠﴾

او چل ول کوو دوی او پټ تدبیر اوکړو الله تعالیٰ (دیځ کولوستا) او الله تعالیٰ ډیر نیک دے د تدبیر کوونکو

وَاِذَا تُتْلٰى عَلَيْهِمْ اٰيٰتُنَا قَالُوْا قَدْ سَمِعْنَا

او کله چه اولوستے شی په دوی باندے ایتونه زمونږه دوی وائی یقیناً واوریدو مونږ

لَوْ نَشَآءُ لَقُلْنَا مِثْلَ هٰذَآ اِنْ هٰذَآ اِلَّا

که غواړو مونږ نو خامخا اووایو پشان د دے نه دے دا (قرآن) مګر

درے معانو ته شامل دے۔

او يَغْفِرْ لَكُمْ ګناهونه کبیره ته شامل دے۔

ذُوالْفَضْلِ اشاره ده چه دا درے فائدے په فضل د الله تعالیٰ سره دی صرف په تقوی سره نه دی۔

نت۳ دا بیان د اثر د وجود د تقوی دے چه په چاکښ تقوی وی نو الله تعالیٰ ئے د مکر د دشمنانو نه بچ ساتی - بل دا ایت اووم علت دے د اولے دعوے د پاره۔

مطلب د ایت دا دے چه مشرکانو په دارالندوة کښ جرګه اوکړه چا وئیل چه دا پیغمبر قید کوؤ او چا وئیل چه دے د کلی نه اوباسو خو اخری اتفاق په دے راغے چه د هرے قبیلے نه ډے یو یو مشر راشی او په یو ځائے باندے ډے په ده حمله اوکړی او قتل به ئے کړی لیکن الله تعالیٰ دوی ړانده کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه د شپے د دوی نه اووتلو او هجرت ئے اوکړو او دا سبب شو د پاره د غزوه بدر او د غنیمتونو د حاصلولو د پاره نو تاسو د هغے په باره کښ اختلاف مه کوئ۔

وَيَمْكُرُ اللّٰهُ ، مکر پټ تدبیر کولو ته وئیلے شی که د خیر اوکه د شر وی او د الله تعالیٰ په صفت کښ په تدبیر د خیر کښ استعمالیږی دا سے په سورة ال عمران ۵۴ کښ شته دے نو دا نسبت الله تعالیٰ ته حقیقت دے مجاز نه دے۔

أَسَاطِيرُ الْأَوَّلِينَ ﴿٣١﴾ وَإِذْ قَالُوا اللَّهُمَّ إِنْ كَانَ

قيصئ دي دَ مخکنو خلقو - او کوم وخت چه دوی او ئیل اے الله تعالیٰ که وی

هَٰذَا هُوَ الْحَقَّ مِنْ عِنْدِكَ فَأَمْطِرْ عَلَيْنَا

دا قرآن حق دَ طرف ستا نه پس راواروه په مونږ باندے

حِجَارَةً مِنَ السَّمَاءِ أَوِ ائْتِنَا بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٢﴾

کانړی دَ اسمان نه یا راکړه مونږ ته عذاب دردناک۔

وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُعَذِّبَهُمْ وَأَنْتَ فِيهِمْ ۚ

او نه دے الله تعالیٰ چه عذاب ئے ورکړے دوئ ته او حال دا چه ته په دوی کښ وے

وَمَا كَانَ اللَّهُ مُعَذِّبَهُمْ وَهُمْ يَسْتَغْفِرُونَ ﴿٣٣﴾

او نه دے الله تعالیٰ عذاب ورکوونکے دوئ ته حال دا چه دوی بخنه غواړی۔

۳۱ دا زوړنه ده منکرینو ته او اثر دے دَ نیشتوالی دَ تقویٰ۔ تیر شوی آیت کښ مکر عملی دَ مشرکانو ذکر وؤ او په دے آیت کښ مکر قولی ذکر کوی۔ هغه په مقابله دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ وو او دا په مقابله دَ قرآن کښ دے۔ لَوْ نَشَاءُ لَقُلْنَا اه دا قول دَ وجے دَ سخت ضد او عناد نه دے ګنی نو اعجاز دَ قرآن کریم دوی ته واضح شوے وؤ او دوی په یو سورت او په یو خبرے سره هم دَ قرآن مقابله کولے نشوه۔ أَسَاطِيرُ جمع دَ اسطورة ده مکتوبة (لیکلے شوے ته وائی) یا جمع دَ اسطور ده او هغه جمع دَ سطر ده (کرخے لیکلے شوے)۔

۳۲ دا هم زوړنه ده منکرینو ته او اثر دے دَ نیشتوالی دَ تقویٰ او اتم علت دے دَ پاره دَ اولے دعوے۔ او دا وینا دَ دوی بناء ده په عناد باندے او دے دَ پاره چه نور خلق په شک کښ واچوی۔ پکار دا وؤ چه دوی وئیلے وے یا الله که دا حق وی نو مونږ ته دَ دے هدایت اوکړے او دا رنګ دَ عذاب طلب په سورة معارج ۱ او عنکبوت ۵۳ او په مخکنو قومونو کښ په سورة شعراء ۱۸۷ کښ ذکر دے

۳۳ دے آیت کښ دوه جملے دی په جواب دَ دوو سوالونو کښ اول سوال

وَمَا لَهُمْ اَلَّا يُعَذِّبَهُمُ اللّٰهُ وَهُمْ يَصُدُّوْنَ

او څه عذر دے دوی لره چه عذاب به نه ورکوی دوی ته الله تعالیٰ (اوس) او حال دا دے چه دوی منع کوونکی دی

عَنِ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ وَمَا كَانُوْٓا اَوْلِيَآءَهٗ ط

دَ مسجد حرام نه او نه دی دوی اختیارمند دَ هغے،

اِنْ اَوْلِيَآؤُهٗٓ اِلَّا الْمُتَّقُوْنَ وَلٰكِنَّ اَكْثَرَهُمْ

نه دی اختیارمند دَ هغے مگر متقیان خلق لیکن ډیر دَ دوی نه

لَا يَعْلَمُوْنَ ﴿۳۴﴾ وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ

نه پوهیږی۔ او نه دے مونځ دَ دوی دَ بیت الله په خوا کښ

دا دے چه هرکله دوی عذاب غوښتو نو ولے په دوی باندے عذاب نه راتلو او دا طلب دَ دوی په هغه وخت کښ وو چه نبی صلی الله علیه وسلم په مکه کښ وو۔ جواب او شو چه پیغمبر په یو قوم کښ موجود وی نو په هغے عذاب نه رائحی۔ دویم سوال دا دے چه هرکله نبی هجرت اوکړو بیا ولے په دوی باندے زر عذاب نه راتلو بلکه عذاب دَ دوی غزوهٔ بدر ته روستو کړے شو؟

جواب او شو چه دَ وجے دَ استغفار غوښتلو نه روستو کړے شو او په دے استغفار کښ دوه قوله دی اول دا چه دے مشرکینو به په حالت دَ طواف کښ وئیل غفرانك نو هغه سبب شو دَ روستو والی دَ عذاب دَ ابن عباس رضی الله عنهما نه نقل دے چه استغفار اگرچه دَ فجّارو دَ طرف نه وی خو دفع کیږی په هغے سره بعض شرونه او اضرار (قرطبی) حالانکه چه په هغے سره پوره عذاب نه دفع کیږی۔ دویم قول دا دے چه مراد دَ دے نه استغفار دَ هغے مؤمنانو دے چه هجرت ئے نه وو کړے دَ وجے دَ کمزورۍ والی نه او هغه په سورة فتح ۲۵ کښ ذکر دی۔ دا ایت دلیل دے په دے خبره چه امن دَ عذاب نه، یا په وجود دَ پیغمبر سره وی یا په استغفار سره۔ اول سبب دَ امن خو اوس نیشته لیکن دویم سبب تر قیامته پورے جاری دے او دا روایت دے دَ ابوموسیٰ اشعری او ابن عباس رضی الله عنهما نه۔

۳۴ په دے ایت کښ بیان دَ سبب دَ هغے عذاب دے چه نازل شو په مشرکانو

إِلَّا مُكَآءً وَّتَصۡدِيَةًۚ فَذُوقُوا الۡعَذَابَ

مکر شپیلی او لاسونه وهل (ټپول) پس اوڅکئ عذاب

بِمَا كُنتُمۡ تَكۡفُرُونَ ﴿۳۵﴾ إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا

په وجه دَدے چه تاسو کفر کوؤ . یقینًا هغه کسان چه کفرئے کړیدے

يُنفِقُونَ أَمۡوَالَهُمۡ لِيَصُدُّوا عَن سَبِيلِ اللَّهِۚ

خرچ کوی مالونه خپل دَپاره دَدے چه منع کړی خلق دَ لارے دَ الله تعالیٰ نه،

باندے په بدره کښ اوذکر دَ اٰثارو دَ عدم تقویٰ دے۔

إِنۡ أَوۡلِيَآؤُهُۥٓ إِلَّا الۡمُتَّقُونَ، دَدے دوه معنے دی اول داچه اختیارمند دَ مسجد صرف مؤمنان خلق دی کافران دَ هغے نه دَ منع کولوحق نه لری. دویمه معنیٰ داده چه دوستان دَ الله تعالیٰ متقیان وی نه لیونی او مجذوبان لکه داعقیدهٔ دَ جاهلانو ده اودَدے تفصیلی رد په روح المعانی کښ کړے دے اودا رنګ په سورة یونس ۶۲ ۶۳ کښ دی خودلته دَ تقویٰ اوله مرتبه مراد ده یعنی توحید او ایمان په اوله معنیٰ سره اوسورة یونس کښ تقویٰ کامله مراد ده.
وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَهُمۡ، اکثر په معنی دَ کل دے یا وجه داده چه لږ دَ دوی نه سرهٔ دَ علم نه عنادیان دی۔

۳۵ داهم زور نه ده منکرینو ته اوبیان دَ اثر دَ نیشتوالی دَ تقویٰ دے. دَ دے اٰیت دوه معنے دی اول داچه مشرکین قریشو به طواف کوؤ دَ بیت الله او شپیلی به ئے وهل اولاسونه به ئے ټپول اودا دَ دوی په ګمان کښ عبادت وو. لکه اوس دَ دے مثال بعضِ پیران دی چه په وخت دَ ذکر کښ ګډا کوی اولاس ټپوی، داټول دَ شرع نه خلاف دی دا دَ عاقلانو کار نه دے دا سے قرطبی ذکر کړے دی. دویم تفسیر داد ئے چه هغه مونځ دَ دوی دَ بیت الله په خوا کښ هغه دا سے برباد او عبث دے لکه شپیلی وهل اولاسونه ټپول چه عبث دی دامعنیٰ اٰلوسی اوراغب ذکر کړے ده معلومه شوه چه په دوی کښ صلوٰة (مونځ) وو لیکن دَ شرک دَ وجے نه برباد وؤ۔
او مُكَآءً وَّتَصۡدِيَةً په طریقه دَ تشبیه سره دی۔

فَسَيُنۡفِقُوۡنَهَا ثُمَّ تَكُوۡنُ عَلَيۡهِمۡ حَسۡرَةً

پس زر دے چه خرچ به کړی دوی هغه مالونه بیا به شی په دوی باندے ارمان

ثُمَّ يُغۡلَبُوۡنَ ۬ وَالَّذِيۡنَ كَفَرُوۡۤا اِلٰى جَهَنَّمَ

بیا به کمزورے کړے شی . او هغه کسان چه کافران دی بیا به جهنم ته

يُحۡشَرُوۡنَ ﴿۳۶﴾ لِيَمِيۡزَ اللّٰهُ الۡخَبِيۡثَ مِنَ الطَّيِّبِ

جمع کړے شی، دے دپاره چه جدا کړی الله تعالیٰ پلیت له د پاک نه

وَيَجۡعَلَ الۡخَبِيۡثَ بَعۡضَهٗ عَلٰى بَعۡضٍ فَيَرۡكُمَهٗ

او کیږده دی پلیتان بعضو له په بعضو باندے پس دند لئ به کړی دوی

جَمِيۡعًا فَيَجۡعَلَهٗ فِىۡ جَهَنَّمَ ؕ اُولٰٓئِكَ

ټولو له پس واچوی به ئے په جهنم کښ . دغه کسان

۳۶ په دے ایت کښ هم زور نه ده منکرینو ته او بیان دا اثر د نیشتوالی د تقوی دے چه هغه بربادی د عبادت مالیه ده روستو د ذکر کولو د بربادی د عبادت بدنیه نه۔

لِيَصُدُّوۡا، هر هغه انفاق چه د دین باطل د اشاعت د پاره وی په مقابله د دین حق کښ هغه په دے کښ داخل دے۔

حَسۡرَةً، په سبب د نه حاصلیدلو د مقصد د انفاق۔

ثُمَّ يُغۡلَبُوۡنَ، دا ترقی ده یعنی اول خو به د مقصد نه محروم شی نو بیا به د مؤمنانو مقابله کښ کمزورے شی۔

الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا، مراد د دے نه هغه کسان دی چه په کفر باندے پاخه پاتے شی۔

او بیا تخویف اخروی دے په دے دواړو ایتونو کښ۔

هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۳۷﴾ ع قُلْ لِّلَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا

هم دوی پوره تاوان والا دی. ته اووایه دَ هغه کسانو ته په باره کښی چه کافران دی

اِنْ يَّنْتَهُوْا يُغْفَرْ لَهُمْ مَّا قَدْ سَلَفَ ج

که دوی منع شول (دَ کفر او شرک نه) او به بخښلے شی دوی ته هغه گناهونه چه تیر شوی دی

وَاِنْ يَّعُوْدُوْا فَقَدْ مَضَتْ سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ ﴿۳۸﴾

او که دوی را اوگرځیدل جنگ ته نو یقیناً تیره شوی ده طریقه دَ مخکنو خلقو.

وَقَاتِلُوْهُمْ حَتّٰى لَا تَكُوْنَ فِتْنَةٌ وَّيَكُوْنَ

او جنگ کوئ دَ دوی سره ترڅو پورے چه پاتے نشی هیڅ شرک او شی

الدِّيْنُ كُلُّهٗ لِلّٰهِ ج فَاِنِ انْتَهَوْا فَاِنَّ اللّٰهَ

دین ټول دَ الله تعالیٰ، پس که منع شول دوی نو یقیناً الله تعالیٰ

۳۷ دے ایت کښی دَ منکرینو بد حالی دَ اخرت په پنځو طریقو سره ذکر شوے ده. لِيَمِيْزَ اللّٰهُ، لام علت دے دَ يحشرون یا لام دَ عاقبت دے.
خَبِيْثَ وَطَيِّبِ، په اعتبار دَ عقیدے دَ شرک سره خبیث دے او په عقیده دَ توحید سره پاک دے او دا تمیز په اخرت کښی دے لکه په سورة یٰس ۵۹ او یونس ۲۸ کښی او یا په دنیا کښی دے لکه په سورة العمران ۱۷۹ کښی.
۳۸ دا دعوت دے منکرینو ته دَ پاره دَ توبے روستو دَ ذکر دَ خباثتونو دَ هغوی نه. دا ایت دلیل دے په دے خبره چه په "ایمان راوړلو سره تمام گناهونه معاف کیږی که حقوق الله وی او که حقوق العباد وی لیکن دا دَ کافر حربی دَ پاره" او کافر ذمی ته حقوق العباد نه معاف کیږی. سُنَّتُ الْاَوَّلِيْنَ، مراد دَ دینه نصرت دَ الله تعالیٰ دے انبیاؤ او دَ مؤمنانو سره او عذاب او مغلوبه کول دی دَ کافرانو او مراد دَ اولین نه انبیاء او مؤمنان مخکنی دی لکه په سورة اسراء ۷۷ کښی یا مراد ترے نه مخکنی کافران دی لکه سورة فاطر ۴۳ کښی. او په دواړو معانو سره اضافت دَ سنت اولین اضافت دے مفعول ته او که اضافت وی فاعل ته لکه سورة اسراء ۷۷ او سورة فاطر ۴۳.

بِمَا يَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۳۹﴾ وَاِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمُوْٓا

په هغه عملونو چه دوی يې کوی ليدونکے دے، او که دوی مخ واړوو نو پوهه شئ

اَنَّ اللّٰهَ مَوْلٰىكُمْ ؕ نِعْمَ الْمَوْلٰى وَنِعْمَ النَّصِيْرُ ﴿۴۰﴾

چه يقيناً الله تعالىٰ مولىٰ ستاسو دے، ښه مولىٰ دے او ښه مددګار دے.

ف۳۹ دادويمه دعوىٰ دَ سورت ده او دا آيت دليل دے په دے خبره چه قتال به جاري وی تر هغه پورے ترڅو چه شرک په دنيا کښې موجود وی.

وَقَاتِلُوْ عطف دے په معنى دَ مضت سنت الاولين او دَ يعودو دَ لا نداے دے فِتْنَةٌ، شرک او مؤمن لره دَ دين نه اړول ليکن دلته اوله معنىٰ مناسب ده او په سورة بقره ف۱۹۳ کښې دويمه معنىٰ مناسب ده او ختمول دَ شرک مستلزم دے دَ دے چه ټول عالم کښې به توحيد وی دَ دے وجے نه په دے آيت کښې كُلُّهٗ ذکر کړے دے او په سورة بقره کښې كُلُّهٗ نه وؤ ذکر کړے او دَ دے معنے دَ وجے نه دلته حَتّٰى په معنى دَ اِلٰى سره دے او په سورة بقره کښې په معنى دَ علت سره دے.

ف۴۰ مطلب دَ آيت دا دے چه که دوی دَ قتال نه نه منع کيږی نو تاسو ورسره قتال کوئ او الله تعالىٰ به ستاسو امداد کوی ځکه چه هغه ستاسو مولا دے.

مَوْلٰكُمْ، مولا په معنى دَ متولى (سنبالوونکے) دے.

نِعْمَ الْمَوْلٰى، الله تعالىٰ چه دَ چا تَوَلّٰى (سنبالښت) کوی نو هغه هيچرے نه بربادېږی او چه دَ چا نصرت کوی نو هغه نه کمزورے کيږی او دا مقصد دَ نِعم دے په دواړو ځايونو کښې. دا سے په سورة حج ف۷۸ کښې هم دی هلته مقام دَ جهاد وو او هغه په معنى دَ دعوت سره وؤ او دلته مقام دَ قتال دے او مقام دَ قتال ډير سخت دے دَ دعوت نه دَ دے وجے نه په دے آيت کښې تاکيد ذکر شو په (فاعلموا ان الله) سره.

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّمَا غَنِمْتُمْ مِّنْ شَيْءٍ فَاَنَّ لِلّٰهِ

او پوهه شئ يقيناً هغه چه حاصل کړئ تاسو په جنګ سره د کافرانو نه هر څيز چه وی، نو يقيناً الله تعالیٰ لره

خُمُسَهٗ وَلِلرَّسُوْلِ وَلِذِي الْقُرْبٰى وَالْيَتٰمٰى

پنځمه حصه د هغې ده او رسول لره او خپلوانو (د رسول) لره او يتيمانانو

وَالْمَسٰكِيْنِ وَابْنِ السَّبِيْلِ اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ

او غريبانانو او مسافرو لره ، که ايمان راوړے وی تاسو

بِاللّٰهِ وَمَآ اَنْزَلْنَا عَلٰى عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ

په الله تعالیٰ باندے او په هغه (مدد) چه رالیږلے وو مونږ په بنده خپل په ورځ د فيصلے (ورځ د بدر)

يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعٰنِ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

په هغه ورځ چه مخامخ شوے دوه ډلے او الله تعالیٰ په هر څيز

قَدِيْرٌ ﴿٤١﴾ اِذْ اَنْتُمْ بِالْعُدْوَةِ الدُّنْيَا وَهُمْ

قدرت والا دے. کوم وخت چه وئ تاسو په غاړه نيزدے او دوی وو

د دے ځائے نه د سورت دويمه حصه ده او په ديکښ هم دوه بابونه دی اول باب ٥٦ ايت پوره دے په دے کښ اول تشريح د اولے دعوے ده او د هغے د پاره پنځه علتونه دی او يو قانون د جهاد دے او زوره نے دی او تخويف دنيوی او اخروی دے. مطلب د ايت دا دے چه مال غنيمت به امير د جهاد پنځه حصے کړی دا حکم د الله او د رسول دے لکه په اول ايت کښ تير شو يدی څلور حصے به په غازيانو کښ تقسيم کړی او پنځمه حصه حق د بيت المال دے چه د هغے پنځه مصرفونه په دے ايت کښ ذکر دی ربط د مخکښ سره دا دے چه مخکښ ايت کښ حکم د قتال ذکر شو نو په دے ايت کښ حکم د هغه مال ذکر کوی چه په قتال سره حاصل شی چه هغه غنيمت دے. او حلالیدل د غنيمت دا د دے اُمت خصوصيت دے مخکنو امتونو کښ په مال غنيمت باندے به د قبوليت د پاره اور د اسمان نه نازليدلو. لِلّٰهِ ذکر د الله تعالیٰ په طور د اختيارِ مطلقه او تبرک دے. وَلِلرَّسُوْلِ دا حصه د بعضِ علماؤ په نيز د هغه په ژوند

بِالْعُدْوَةِ الْقُصْوٰى وَالرَّكْبُ اَسْفَلَ مِنْكُمْ

په غاړه لرې کښې او قافله د سوداګرو ښکته روانه وه ستاسو نه

وَلَوْ تَوَاعَدْتُّمْ لَاخْتَلَفْتُمْ فِى الْمِيْعٰدِ

او که وعده کړې وے تاسو نو خامخا اختلاف به کړې وے تاسو په وخت مقرر کښې،

وَلٰكِنْ لِّيَقْضِىَ اللّٰهُ اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا

لیکن (الله تعالیٰ جمع کړئ تاسو بې وعدے) دے د پاره چه پوره کړی الله تعالیٰ هغه کار چه مقرر شوے وو

لِّيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ عَنْۢ بَيِّنَةٍ وَّيَحْيٰى مَنْ

دے د پاره چه مړ شی هغه څوک چه مړ شو پس د دلیل نه او ژوندے پاتے شی هغه څوک

حَیَّ عَنْۢ بَيِّنَةٍ ؕ وَاِنَّ اللّٰهَ لَسَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ۝۴۲

چه ژوندی وو پس د دلیل. او یقینًا الله تعالیٰ خامخا هر څه اوری او په هر څه پوهه دے

پورے خاص وه د هغه او د هغه د اهل او میلمنو وغیره د پاره او روستو د وفات
د هغه نه ساقطه شویده او د بعضِ علماؤ په نیز دا حصه به په بیت المال
کښې جمع کیږی د پاره د مصالحو د مسلمانانو د علماؤ چه مدرسین د تفسیر
او فقه او حدیث دی خرچه به د دے نه ورکیدے شی (شربینی او ابن کثیر)
وَلِذِى الْقُرْبٰى، مراد د دے نه ذوی قربیٰ د رسول صلی الله علیه وسلم دی چه
هغه فقط بنی هاشم او بنی مطلب دی۔ او په دے آیت کښې بیان د اول علت
دے په اِنْ كُنْتُمْ اٰمَنْتُمْ سره چه هرکله تاسو ایمان په الله تعالیٰ لرئ
او یقین کوئ چه په ورځ د بدر باندے الله تعالیٰ ستاسو امداد کړیدے نو
غنیمت کښې ولے اختلاف کوئ ۔ د اِنْ جزا پټه ده چه واعلموا په هغې باندے
دلالت کوی (نو تقسیم د غنیمت په دے طریقے سره اوکړئ) او دا دلیل دے چه ادا
د خمس د غنیمت د ایمان جزء دے لکه چه په حدیث د وفد د عبد القیس کښې ذکر
دی او بخاری باب ذکر کړے دے باب اداء الخمس مِن الایمان۔
۴۲ دا بل علت دے د پاره د دغه دعوے حاصل دا دے چه ستاسو جنګ د ډلے
د ابوجهل سره بغیر څه د وعدے نه الله تعالیٰ اوکړو او تاسو ته یې فتح درکړه

إِذْ يُرِيكَهُمُ اللَّهُ فِي مَنَامِكَ قَلِيلًا ۖ وَلَوْ أَرَاكَهُمْ

کوم وخت چه اوخودل دوی تاته الله تعالیٰ په خوب ستا کښې لږ۔ او که خودلے یې وے دوی تاته

كَثِيرًا لَّفَشِلْتُمْ وَلَتَنَازَعْتُمْ فِي الْأَمْرِ وَلَٰكِنَّ

ډیر نو خامخا کمزورے شوی به وی تاسو او خامخا اختلاف به کړے وُ تاسو په باره دَ جنګ کولو کښې لیکن

اللَّهَ سَلَّمَ ۗ إِنَّهُ عَلِيمٌ بِذَاتِ الصُّدُورِ ﴿۴۳﴾

الله تعالیٰ بچ کړئ تاسو (دَ کمزورئ او اختلاف نه) یقیناً هغه پوهه دے په هغه خبرو چه په سینو کښې وی۔

نو غنیمت کښې جګړه مه کوئ۔

تفسیر دَ آیت دا دے چه په بدر کښې یوه خوړ کئ ده دَ هغې په هغه طرف باندے چه کوم مدینے ته نزدے وو دَ مسلمانانو لښکر وو او هغه بل طرف چه دَ مدینے نه لرے وو او مکے ته نزدے وو او دَ مکے نه لاړ هغې ته راوتلے ده په هغې دَ ابوجهل لښکر وو او قافله دَ ابوسفیان دَ مدینے نه په ښکته طرف باندے دَ سمندر په غاړه روانه وه دَ بدر نه درے میله لرے وو۔

لَاخْتَلَفْتُمْ اختلاف به دَ دواړو طرفونو نه واقع شوے وے ځکه چه په یو بل باندے به مو دَ ډیر والی ګمان کړے وو۔

أَمْرًا كَانَ مَفْعُولًا، مراد دَ امر نه غلبه ده په قتال کښې مؤمنانو لره۔

لِيَهْلِكَ مَنْ هَلَكَ، دَ دے یو مطلب دا دے چه پس دَ فتح دَ بدر نه دلیل دَ صداقت دَ اسلام ښکاره شو نو که څوک مره شی نو مرګ یې پس دَ لیدلو دَ دلیل نه دے او که څوک ژوندی وی نو هم دلیل یې اولیدلو دویم مطلب یې دا دے چه مراد دَ هلاکت نه کفر دے او مراد دَ حیات نه ایمان دے او ډیرو مفسرینو دویم قول غوره کړے دے۔

وَإِنَّ اللَّهَ، دا معطوف دے په احوالو دَ مؤمنانو او کافرانو باندے چه په مخکښې جملو کښې ذکر شول۔

۴۳ دا دریم علت دَ هغې دعوے دے مطلب یې دا دے چه الله تعالیٰ خپل نبی صلی الله علیه وسلم ته په خوب کښې اوښودله چه کافران لږ دی که ډیر یې ورته ښودلے وے نو بیا دَ جنګ دَ نه کیدلو احتمال وو دَ وجے دَ یرے ستاسو نه لیکن الله تعالیٰ په دے طریقه

وَاِذْ يُرِيْكُمُوْهُمْ اِذِ الْتَقَيْتُمْ فِيْٓ اَعْيُنِكُمْ

او کوم وخت چه او خودل تاسو ته الله تعالیٰ دوی کله چه مخامخ شوئ، په سترګو ستاسو کښں

قَلِيْلًا وَّيُقَلِّلُكُمْ فِيْٓ اَعْيُنِهِمْ لِيَقْضِيَ اللّٰهُ

لږ او لږ ئے ښکاره کړئ تاسو په سترګو دَ هغوی کښں دِ دے دَ پاره چه پوره کړی الله تعالیٰ

اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا ۭ وَاِلَى اللّٰهِ تُرْجَعُ الْاُمُوْرُ ﴿٤٤﴾ ع ٥ ١٧

هغه کار چه وو مقرر شوے۔ او خاص الله تعالیٰ ته به ورګرځیدلے شی ټول کارونه۔

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِذَا لَقِيْتُمْ فِئَةً

اے ایمان والو کله چه مخامخ شئ یو ډلے دَ کافرانو سره

دَ جنګ او غنیمت سبب جوړ کړو دَ دے وجے نه غنیمت کښں خپل اختیار مه چلوئ۔

سوال: کافران ډیر وُو نو دَ هغوی کم ښودل خو په ظاهر کښں دروغ دی؟

جواب: بنا دَ خوبونو په باطنی امورو باندے وی نو په حقیقت کښں کافران لږ دی دَ وجے دَ سپکوالی او دَ ذلت دَ هغوی نه په نیز دَ الله تعالیٰ یا دَ دے وجے نه چه په مستقبل کښں بعضِ قتل شول او بعضو ایمان راوړو۔

اِنَّهٗ عَلِيْمٌ، بغیر دَ واو نه ئے ذکر کړو ځکه چه دا دلیل دَ مخکښں ملازے دے چه په لوار اکم اه کښں ده۔

٤٤ دا څلورم علت دے دَ پاره دَ دعوے حاصل ئے دا دے چه په میدان جنګ کښں دواړه ډلے الله تعالیٰ یوبل ته لږے لږے ښکاره کړے دِے دَ پاره چه جنګ اوشی او غنیمت حاصل شی نو غنیمت کښں جګړه مه کوئ۔

اَمْرًا كَانَ مَفْعُوْلًا، دے آیت کښں دَ دے نه مراد جنګ کول دی او په تیر شوی آیت ٤٣ کښں مراد دَ هغے نه فتح او غلبه وه۔

يُرِيْكُمُوْهُمْ، ضمیر دَ فاعل الله تعالیٰ ته راجع دے او كُمْ او هِمْ دوه مفعولونه دی او قليلًا حال دے۔

فَاثْبُتُوْا وَاذْكُرُوا اللّٰهَ كَثِيْرًا لَّعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ﴿۴۵﴾

نو ٹینګ کړئ ځانونه ځپل او یادوئ الله تعالیٰ لره ډیر دے د پاره چه کامیاب شئ۔

وَاَطِيْعُوا اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ وَلَا تَنَازَعُوْا فَتَفْشَلُوْا

او تابعداری کوئ د الله تعالیٰ او د رسول د هغه او اختلاف مه کوئ په کور ننئ کښ پس کمزوری به شئ

وَتَذْهَبَ رِيْحُكُمْ وَاصْبِرُوْا ۭ اِنَّ اللّٰهَ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۴۶﴾

او لاړه به شی دبدبه ستاسو او صبر کوئ۔ یقیناً الله تعالیٰ ملګرے دے د صبرناکو۔

۴۵ هرکله چه مخکښ آیاتونوکښ نعمتونه په صحابه کرامو باندے ذکر کړے شول چه هغه اسباب د قتال وو نو اوس آداب د قتال ذکر کوی مخکښ حصه کښ پنځه قوانین ذکر شوے دی او دا بیان د شپږم قانون دے په دے آیتونو کښ او په دے کښ شپږ خبرے دی د هغے نه دوه په دے آیت کښ دی اول دا چه په میدان جنګ کښ ثابت قدم شئ دویم دا چه الله تعالیٰ ډیر یادوئ دا دوه هم په حقیقت کښ کافی دی د کامیابئ د پاره ځکه د دے سره لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ ذکر شو۔

وَاذْكُرُوا اللّٰهَ، مراد د دے نه ذکر د زړه او د ژبے دواړو دے خو شرط دا دے چه پټ به وی ځکه ابن کثیر حدیث مرفوع او قرطبی د قیس بن عبادنه روایت راوړے دے چه اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم مکروه ګڼړل آوازونه راویستل په وخت د قتال کښ او په دے ذکر کښ دُعاګانے د طلب د نصرت او د غلبے هم داخل دی او هغے ته ترغیب دے۔

۴۶ په دے آیت کښ درے خبرے دی د جهاد د پاره اطاعت د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیه وسلم او د اختلاف نه بچ کیدل او صبر کول، او اختلاف سبب دے د کمزورئ او د زوال د طاقت او صبر سبب دے د مرګرتیا د الله تعالےٰ.

رِيْحُكُمْ په دے کښ دوه قولونه دی اول دا چه مراد د دے نه قوت او دبدبه ده په طریقه د تشبیه سره لکه چه ریح په هر ځائے کښ ور داخلیږی نو دا رنګ قوت او دبدبه هم تاثیر کوی۔

دویم قول دا دے چه مراد د دے نه معنی حقیقی ده ځکه چه د مدد د الله تعالیٰ سره هواګانے د امداد رائحی، او چه مدد الٰهی نه وی نو هواګانے بندے شی۔

وَلَا تَكُونُوا كَالَّذِينَ خَرَجُوا مِن دِيَارِهِم

او مه کیږئ پشان د هغه کسانو چه راووتل د کورونو خپلو نه

بَطَرًا وَرِئَاءَ النَّاسِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ

په لویئ کولو او په ځان خودنه سره خلقوته او چه منع کوي خلق د لارے د

اللَّهِ ۚ وَاللَّهُ بِمَا يَعْمَلُونَ مُحِيطٌ ﴿٤٧﴾ وَإِذْ زَيَّنَ

الله تعالیٰ نه. او الله تعالیٰ د دوی عملونو لره راګیرونکے دے (په خپل علم او قدرت کښ). او کوم وخت چه ښائسته کړل

لَهُمُ الشَّيْطَانُ أَعْمَالَهُمْ وَقَالَ لَا غَالِبَ

دوی ته شیطان عملونه د دوی او وئیل ئے نیشته زوراور

لَكُمُ الْيَوْمَ مِنَ النَّاسِ وَإِنِّي جَارٌ لَّكُمْ ۖ

په تاسو باندے نن ورځ کښ هیڅوک د خلقو نه او یقیناً زهٔ امدادی ستاسو یم،

فَلَمَّا تَرَاءَتِ الْفِئَتَانِ نَكَصَ عَلَىٰ عَقِبَيْهِ

نو هر کله چه اولیدو دواړو ډلو یو بل، نو واپس شو دے (شیطان) په پوندو خپلو

وَقَالَ إِنِّي بَرِيءٌ مِّنكُمْ إِنِّي أَرَىٰ مَا لَا تَرَوْنَ

او وئیل ئے یقیناً زهٔ جدا یم ستاسو نه یقیناً زهٔ وینم هغه شے چه تاسو ئے نه وینئ

نکته: دے ایت کښ شپږمه خبره ده د پاره د جهاد چه مشابهت مه کوئ د کافرانو سره په درے صفتونو کښ یو تکبر کول د حق نه دویم ریا کول په عمل سره دریم خلق د الله تعالیٰ د لارے نه منع کول.

بَطَرًا، په اصل کښ وئیلے کیږی نعمتونه د الله تعالیٰ په ګناهونو کښ خرچ کولو ته.

وَيَصُدُّونَ، دائے په فعل مضارع سره ذکر کړو اشاره ده چه د دوی خروج په طریقه د بطر او ریاء سره خو یو ځل وؤ او منع کول د سبیل الله نه خو د دوی همیشه عادت دے.

ع
إِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ ۚ وَاللّٰهُ شَدِيدُ الْعِقَابِ ﴿٤٨﴾

يقيناً زهٔ بريږم د (عذاب) الله تعالىٰ نه۔ او الله تعالىٰ سخت عذاب ورکوونکے دے

إِذْ يَقُولُ الْمُنٰفِقُونَ وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ

کله چه وئیل منافقانو او هغه کسانو چه په زړونو د هغوی کښ

مَّرَضٌ غَرَّ هٰٓؤُلَآءِ دِينُهُمْ ۗ وَمَن يَتَوَكَّلْ

مرض (شک) وو چه دهوکه ورکړیده دے کسانو ته دین د دوی۔ او چا چه اوسپارلو ځان

عَلَى اللّٰهِ فَإِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٩﴾ وَلَوْ تَرٰىٓ

په الله تعالىٰ باندے نو یقیناً الله تعالىٰ زورآور دے حکمتونو والا دے۔ او که وینے ته اے لیدونکیه

۴۸ دے آیت کښ پنځم علت دے د اولے دعوے۔ حاصل دا دے چه ابلیس په ورځ د بدر کافران زړاور کړی وو بیا هرکله چه ملائیک ئے اولیدل نو او تښتیدو۔ او الله تعالىٰ دوی کمزوری کړل او تاسو له ئے غنیمت درکړل نو په هغے کښ اختلاف مه کوئ۔ روایت د بیهقی کښ راغلی دی چه ابلیس په ورځ د بدر په شکل د سُراقه بن مالک کښ راغے (دا د یو قبیلے سردار وو) او ابوجهل ته ئے تیزی د جنګ ورکړه او لاس د یو مشرک ئے نیولے وو چه حارث بن هشام وو میدان جنګ ته لاړو هرکله چه دهٔ جبرائیل علیه السلام اولیدلو نو اوویریدو او اوتښتیدو۔ د دے نه دا هم معلومه شوه چه شیطان کله د انسان په شکل باندے کیږی او خلقو ته تیزی ورکوی په ګناه کولو سره او دا دلیل هم دے په دے خبره چه شیطان ملائیکو له وینی او په دے آیت کښ چه کوم خوف د شیطان ذکر دے دا خوف طبعی غیر اختیاری دے لکه انسان چه د مار او لړم وغیره نه یره کوی دغسے دے د جبرائیل نه اوویریدلو او د قتاده نه روایت دے چه ابلیس اِنِّيٓ أَرٰى مَا لَا تَرَوْنَ کښ رښتنے وو او اِنِّيٓ أَخَافُ اللّٰهَ کښ دروغژن وو۔ او په حدیث کښ راغلی دی چه ابلیس په ورځ د عرفے او په ورځ د بدر کښ ډیر ذلیل وو۔ او خوف د شیطان په سورة حشر ۱۶ کښ هم ذکر دے او دا خوف ایمانی نه دے۔

۴۹ دا هم علت دے د پارهٔ د اولے دعوے چه منافقینو په تاسو پورے خندل لیکن الله تعالىٰ د هغوی خندا په خفګان بدله کړه او دا علت داخل دے

إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَٰئِكَةُ يَضْرِبُونَ

هغه وخت چه ساه اخلی دَ کافرانو نه ملائک وهی

وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ

مخونه دَ دوی او شاګانے دَ دوی (او وائی ورته) اوڅکئ عذاب

الْحَرِيقِ ﴿٥٠﴾ ذَٰلِكَ بِمَا قَدَّمَتْ أَيْدِيكُمْ وَأَنَّ

دَ اور سوزوونکی۔ دا سزا په سبب دَ هغے عملونو ده چه کړیدی مخکښ لاسونو ستاسو او یقیناً

اللَّهَ لَيْسَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴿٥١﴾ كَدَأْبِ آلِ فِرْعَوْنَ

الله تعالیٰ نه دے هیڅ ظلم کوونکے په بندګانو خپلو باندے، حال دَ دوی پشان دَ حال دَ فرعونیانو دے

په مخکښ پنځم علت کښ یعنی په هغے کښ ذکر شول محروم کیدل دَ کافرانو دَ خپل مقصد نه او په دے کښ ذکر کیږی خلاف کیدل دَ ګمان دَ منافقانو نه۔

الْمُنَافِقُونَ، نه مراد منافقان اعتقادی دَ مدینے وو چه په ژبه ئے دَ ایمان دعوٰی کوله او په زړه کښ پوره انکار لرلو۔

وَالَّذِينَ فِي قُلُوبِهِم مَّرَضٌ، مراد دَ دے نه شک والا وو چه دَ مکے مکرمے او دَ نورو اطرافونه بدر ته راغلی وو دوی هم کافران دی ځکه چه ایمان په شک سره نه حاصلیږی۔

وَمَن يَتَوَكَّلْ دا صفت دَ مجاهدینو دَ بدر دے یعنی هغوی چه دَ ډیرو کافرانو مقابلے ته راوتلی وُو نو دا دَ وجے دَ غرور نه نه وُو بلکه دَ وجے دَ توکل نه وُو۔

نښه مخکښ آیاتونو کښ حالات دنیویه دَ کافرانو او منافقانو ذکر شول نو په دے آیت کښ بیره ورکول دی دَ عذاب، په وخت دَ ځنکدن او په برزخ کښ او دا عذاب واقع شوے وُو په هغه مشرکانو چه په بدر کښ اووژلے شول۔

يَضْرِبُونَ ااه وهل دَ مخ او دَ دبر کښ ډیره بے عزتی راځی نو ځکه دا ئے خاص کړل یا ترینه مراد هر طرف دے او دا سے په سورة محمد ۲۷ کښ هم دی۔

عَذَابَ الْحَرِيقِ، سوزوونکے دَ ظاهر او باطن دواړو دے۔

نښه دے آیت کښ اشاره ده چه دَ عذاب دوه سببونه دی یو بد عملونه دَ خلقو او دویم عدل دَ الله تعالیٰ دا سے په سورة آل عمران ۱۸۲ کښ هم ذکر دی۔

أَيْدِيكُمْ نه مراد دَ بدن ټول قوتونه دی لیکن اکثر عملونه په لاسونو سره کیږی ځکه ئے خاص ذکر کړل۔

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَفَرُوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ

او هغه کسان چه مخکښ وو د هغوی نه. کفر کړے وو هغوی په اياتونو د الله تعالیٰ

فَاَخَذَهُمُ اللّٰهُ بِذُنُوْبِهِمْ ؕ اِنَّ اللّٰهَ قَوِيٌّ

نو اونيول دوی لره الله تعالیٰ په سبب د ګناهونو د دوی. يقيناً الله تعالیٰ قوت والا دے

شَدِيْدُ الْعِقَابِ ﴿۵۲﴾ ذٰلِكَ بِاَنَّ اللّٰهَ لَمْ يَكُ مُغَيِّرًا

سخت عذاب ورکوونکے دے. دا عذاب پدے وجه دے چه يقيناً الله تعالیٰ نه دے بدلوونکے

نِّعْمَةً اَنْعَمَهَا عَلٰى قَوْمٍ حَتّٰى يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ

نعمت لره چه کړے وی هغه په يو قوم باندے ترڅو پورے چه دوی بدله کړی هغه عقيده چه زړونو د دوی

وَاَنَّ اللّٰهَ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۵۳﴾ كَدَاْبِ اٰلِ فِرْعَوْنَ

او (پوهه شئ) چه يقيناً الله تعالیٰ هر څه اوری په هر څه پوهه دے، حال د دوی پشان د حال د فرعونيانو دے

۵۲ په دے ايت کښ تشبيه د موجوده کافرانو ده د مخکنو کافرانو سره چه د هغوی عادت او د دوی عادت يو شان دے په کفر کولو کښ او دا رنګ په عذاب د دُنيا او د برزخ کښ چه مخکښ ذکر شو په باره د مشرکينو د بدر کښ نو پدے کښ زيات قباحتِ شان د دوی ذکر کوی او په دے کښ تفصيل د ما قدمت ايديکم دے

بِذُنُوْبِهِمْ، په دے کښ اشاره ده چه کفر مستلزم دے ډيرو ګناهونو لره.

۵۳ دا تفسير دے د هغه جملے چه ليس بظلام للعبيد، او دا سبب دے د عذاب چه مخکښ ايت کښ ذکر شو. جواب د سوال دے چه کفر خو په دوی کښ د مخکښ نه موجود وو نو په هغه وخت کښ ئے ولے عذاب نه ورکوو؟ حاصل جواب دا دے چه نفس کفر خو ناکاره حالت دے ليکن د هغے سره سره دوی ته امن وو. او هر کله چه دوی ته نبی راغے او اياتونه ورته راغلل نو کفر د دوی سخت شو نو الله تعالیٰ د دوی نعمت په نقمت (غصه) سره بدل کړو. نو مراد د نِعْمَةً نه هغه امن او طعام وو چه سره د کفر د دوی نه جاری وو او مراد د يُغَيِّرُوْا نه کفر بالآيات والنبی دے يا مراد د نعمت نه عام دے فراخی، امن او صحت او دين د پيغمبر او دے ايت کښ اشاره ده چه بدلول د دين د الله تعالیٰ سبب د عذاب دے.

وَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ ؕ كَذَّبُوْا بِاٰيٰتِ رَبِّهِمْ

او د هغې کسانو چه مخکښې د دوی نه وو. دروغژن کړیوو دوی ایتونه د رب خپل

فَاَهْلَكْنٰهُمْ بِذُنُوْبِهِمْ وَاَغْرَقْنَآ اٰلَ فِرْعَوْنَ ۚ

توهلاک کړل مونږه دوی په سبب د ګناهونو د دوی او غرق کړل مونږ فرعونیان

وَكُلٌّ كَانُوْا ظٰلِمِيْنَ ﴿۵۴﴾ اِنَّ شَرَّ الدَّوَآبِّ

او دا ټول وو ظالمان . یقینًا بدتر د ژوندو سرو نه

عِنْدَ اللّٰهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا فَهُمْ لَا يُؤْمِنُوْنَ ﴿۵۵﴾

په نیز د الله تعالی هغه کسان دی چه کفر ئې کړیدے پس دوی ایمان نه راوړی.

يُغَيِّرُوْا مَا بِاَنْفُسِهِمْ، مراد د دے نه بدلول د نیکو عملونو دی په بد عملونو سره یا بدلول د کفر دی په زیات کفر سره. او هغه سبب د تغیر د حال دے د امن نه عذاب ته او دا ۵۳ په سورة رعد ۱۱ کښې هم راغلی.

۵۴ دا ایت تکرار نه دے ځکه چه تیر شوی ایت کښې تشبیه وه په کفر کښې او په دے ایت کښې تشبیه ده په بدلولو د نعمت کښې دا رنګ مخکښې ایت کښې ذکر د کفر وو او په دے ایت کښې ذکر د تکذیب دے چه زیات کفر دے او په هغې کښې ذکر د اخذ اجمالی وو او په دے ایت کښې د هغې تفسیر او تفصیل دے په فَاَهْلَكْنٰهُمْ سره او اشاره ده چه عذابونه د مکذبینو مخکنو په مختلفو طریقو سره وو په سیلئ په رجفه په کانړو راورولو او په غرقولو سره نو عذاب د مشرکینو د مکے په توره او په قتل سره راغے. ظٰلِمِيْنَ، اشاره ده چه د غه عملونه د دوی ځکه سبب د عذاب وو چه هغه خالص ظلم وو.

۵۵ هر کله چه صفتِ مشترکه د ټولو کافرانو ذکر شو چه هغه ظلم دے نو اوس یو صفتِ خاصه ذکر کوی د یو نوع د کافرانو چه په هغوی کښې شلو قبائح دی او دا سبب هم دے د تیر شوی عذاب چه دا عذاب په دوی ځکه راغے چه دا شریر خلق دی او د دوی شلور قبائح ذکر کړیدی دوه په دے ایت کښې او دوه وروستے ایت کښې.

لَا يُؤْمِنُوْنَ، یعنی پاشه دی په کفر باندے د ایمان اُمید تر ینه نیشته

الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ مِنْهُمْ ثُمَّ يَنْقُضُوْنَ عَهْدَهُمْ

داهغه کسان دی چه لوظ کړی دی تا د دوی سره بیا ماتوی دوی لوظ خپل

فِيْ كُلِّ مَرَّةٍ وَّهُمْ لَا يَتَّقُوْنَ ﴿٥٦﴾

په هر ځل کښې او دوی ځان نه ساتی (د نورو ګناهونو نه).

فَاِمَّا تَثْقَفَنَّهُمْ فِي الْحَرْبِ فَشَرِّدْ بِهِمْ

پس که ته لاندے کړے دوی لره په جنګ کښې نو اوېره وه په سبب د دوی

مَّنْ خَلْفَهُمْ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُوْنَ ﴿٥٧﴾

د دوی نه روستو خلقو لره دے د پاره چه دوی (دا روستو خلق نصیحت قبول کړی.

اوسبب د هغې ذکر وؤ په ۲۲ کښې د هغه ایت مقصد وؤ ذکر د عناد د منافقانو او په دے ایت کښې ذکر د عناد د ښکاره کافرانو دے.

۵۶ دے ایت کښې دوه قبائح د دوی نور ذکر دی یو لوظ ماتول دویم عدم تقوی. حاصل دا دے چه شریر د خلقو نه کافران دی او شریر په کافرانو کښې ضد یان دی او شریر په ضد یانو کښې بے لوظه دی. الَّذِيْنَ عٰهَدْتَّ اول مصداق د دے یهود د بنی نضیر او بنو قریظه دی او مشرکین مکه دی او بیا عام دے. مِنْهُمْ دا لفظ د دے وجے نه دے چه عهد په اصل کښې د بعضو سره وی چه هغه مشران وی.

۵۷ د دے ځائے نه اخر پورے دویم باب دے د دے حصے. په دیکښې قوانین د جهاد ذکر کوی په هغې کښې یو قانون عام و مجاهدینو د پاره دے او نور د رسول الله صلی الله علیه وسلم د پاره خاص دی او هغه د پاره د امیر د جهاد هم دی او په اخر کښې پنځه اقسام د خلقو دی او د مؤمنانو د پاره زیرے دے. دا اووم قانون دے مخاطب په دے سره رسول صلی الله علیه وسلم دے او د هغه نائب چه امیر دے. مطلب د دے قانون سختی کول دی په جنګ کښې د مشرکینو سره چه نور خلق ترینه عبرت واخلی.

فَشَرِّدْ بِهِمْ، دا ذکر د مسبب مراد ترینه سبب دے چه دوی سره داسے عمل اوکړه یعنی (قتل کول او ډیرے وینے تویول) چه سبب اوګرځی د پاره د یره ولو د روستو خلقو، او عبرت اوګرځی.

وَاِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ

او كه يريږې ته د يو قوم نه د لوظ ماتولو نوخبر وركړه دوى لره (د لوظ ختمولو)

عَلٰى سَوَآءٍ ۭ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْخَآئِنِيْنَ ۝۵۸

چه شئ دواړه برابر. يقيناً الله تعالىٰ نه خوخوى خيانتګر (د لوظ ختمولو)

وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا سَبَقُوْا ۭ اِنَّهُمْ

او ګمان دې نه كوى كافران چه دوى به بچ شى . يقيناً دوى

لَا يُعْجِزُوْنَ ۝۵۹ وَاَعِدُّوْا لَهُمْ مَّا اسْتَطَعْتُمْ

نه شى عاجز (كمزورى) كولے الله تعالىٰ لره . او تيار كړئ د دوى مقابلے لره څومره موچه وس كيږى

مِّنْ قُوَّةٍ وَّمِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُوْنَ بِهٖ

د سامان د جنګ نه او د ساتلے شوے اسونو نه چه يروئ تاسو په هغے سره

۵۸ تتمه ده د مخكښ قانون چه هر كله يو ډلے د كافرانو سره جنګ كيږى او بلے ډلے سره لوظ كړے شوے وى د امن ليكن د هغوى نه معلومه شى چه دوى لوظ ماتوى نو هغوى لره به خبر وركړے كيږى د لوظ د ختميدلو.

تَخَافَنَّ، مراد دا دے چه غالب ګمان كښ معلومه شى په علاماتو سره چه دوى لوظ ماتوى او دا قبيح كار دے نو واقع كيدلو د مشكل كار نه خوف وئيلے كيږى.

فَانْبِذْ اِلَيْهِمْ، نبذ په معنى د ترك عهد دے او لفظ د اِلَيْهِمْ نه مراد دا دے چه دوى ته خبر اوليږه چه پس د دے نه لوظ ختم دے د پاره د دے چه دوى تا ته د خيانت ګر نسبت اونكړى.

عَلٰى سَوَآءٍ، يعنى چه تاسو ته كوم علم حاصل شوے وى د ترك د عهد چه د غسے هغوى ته هم دا علم حاصل شى.

۵۹ دا زور نه ده منكرينو ته چه كله دوى بے لوظه شى نو عذاب د الله تعالىٰ نه نشى بچ كيدے.

سَبَقُوْا په ځائے د مفعول دے د پاره د لا يحسبن په معنى د ان يسبقونا سره اِنَّهُمْ اه دا علت دے د لا يحسبن د پاره.

عَدُوَّ اللّٰهِ وَعَدُوَّكُمْ وَاٰخَرِيْنَ مِنْ دُوْنِهِمْ ج

دښمن دَ الله تعالیٰ او دښمن ستاسو او نور کسان سيوا دَ هغوی نه (منافقان)

لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ ج اَللّٰهُ يَعْلَمُهُمْ ط وَمَا تُنْفِقُوْا

چه تاسو نه پيژنئ هغوی لره، الله تعالیٰ پيژنی هغوی لره. او هغه چه خرچ کوئ تاسو

مِنْ شَيْءٍ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ يُوَفَّ اِلَيْكُمْ وَاَنْتُمْ

څه شے په لار دَ الله تعالیٰ کښ نو پوره به در کړيشی تاسو ته ثواب دَ هغے او تاسو

لَا تُظْلَمُوْنَ ﴿٦٠﴾ وَاِنْ جَنَحُوْا لِلسَّلْمِ فَاجْنَحْ لَهَا

هيڅ ظلم نشی کيږے. او که دوی مائل شو روغے ته پس ته هم مائل شه هغے ته

ن٦٠ دا اتم قانون دے دَ پاره دَ مجاهدينو مراد دَ دے نه تياری کول دی دَ سامانِ جنګ او دَ پياده فوج او دَ سوړ فوج او دَ جنګ نه مخکښ په دے کښ فائده داده چه مشرکانو او منافقانو باندے به رعب وی.

مِنْ قُوَّةٍ، مراد دَ قوت نه هر قسم سامان جنګ دے دَ هرے زمانے مناسب او په حديث کښ الرمی (ويشتل) ذکر دے هغه يو مثال دے دَ قوت دَ پاره او هغه پدے زمانه کښ مختلف قِسم بموته او ميزائيل وغيره ويشتل او جوړولو دَ هغے ته شامل دی.

وَمَا تُنْفِقُوْا، په دے کښ اشاره ده چه دَ جهاد په نيت څومره سامان باندے پيسے خرچ کړے شی نو هغه ثواب دے.

مِنْ رِّبَاطِ الْخَيْلِ، اسونو ته په هره زمانه کښ دَ جنګ دَ پاره ضرورت دے او دا معلومه خبره ده دَ دے وجے نه نبی صلی الله عليه وسلم فرمائيلی دی اَلْخَيْلُ مَعْقُوْدٌ فِيْ نَوَاصِيْهَا الْخَيْرُ اِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ. (دَ اسونو په تندو کښ تر قيامته پورے خير تړلے شوے دے) نو خير نه مراد جهاد او غنيمت دے دليل دے چه جهاد به تر قيامته پورے جاری وی.

لَا تَعْلَمُوْنَهُمْ، او داسے په سورة توبه ١٠١ کښ راغی. دا ايت ښکاره دليل دے پدے خبره چه رسول الله صلی الله عليه وسلم او صحابه کرام په غيب نه پوهيدل.

وَتَوَكَّلْ عَلَى اللّٰهِ ؕ اِنَّهٗ هُوَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْمُ ﴿۶۱﴾

او ځان سپاره په الله تعالیٰ باندے یقیناً الله تعالیٰ هرڅه اوری په هرڅه پوهه دے.

وَاِنْ يُّرِيْدُوْٓا اَنْ يَّخْدَعُوْكَ فَاِنَّ حَسْبَكَ

او که دوی اوغواړی چه دهوکه کوی ستا سره پس یقیناً پوره دے تا لره

اللّٰهُ ؕ هُوَ الَّذِيْٓ اَيَّدَكَ بِنَصْرِهٖ وَبِالْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۲﴾

الله تعالیٰ - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه کلک کړے یې ته په مدد خپل او په ملګرتیا د مؤمنانو.

وَاَلَّفَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ ؕ لَوْ اَنْفَقْتَ مَا فِى الْاَرْضِ

او مینه یې راوسته په مینځ د زړونو د دوی کښ که خرچ کړے وے تا هغه څیزونه چه په زمکه کښ دی

جَمِيْعًا مَّآ اَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوْبِهِمْ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ

ټول نه به وے پیدا کړے تا مینه په مینځ د زړونو د دوی کښ لیکن الله تعالیٰ

ت۶۱ دا نهم قانون دے د پاره د جهاد او مطلب د دے دا دے چه مؤمنان به د صلح دعوت کافرانو ته نه ورکوی او که کافران طلب کوی نو صلحه کول جائز دی.
فَاجْنَحْ، دا امر د پاره د وجوب نه دے. او چه هغوی طلب نه وی کړے نو صلح کول منع دی او هغه ته وهن وئیلے شی لکه چه په سورة محمد ت۳۵ کښ دی.
ت۶۲ دا تعلق لری د مخکښ ایت سره که دوی په صلحه کولو کښ اراده د دهوکے لری نو ریره مه کوه (د دوی نه) دا جزا پټه ده.
فائده(۱): لفظ د حسب خاص دے په الله تعالیٰ پورے په دلیل د سورة توبه ت۱۲۹ او سورة آل عمران ت۱۷۳ او تائید په مخلوق سره هم کیدے شی.
هُوَ الَّذِيْٓ یې بغیر د عطف نه ذکر کړو ځکه دا تفسیر د حسبیت الٰهیه دے.
سوال: تائید په نصرت الٰهی سره بالمؤمنین ته څه حاجت دے؟
جواب: تائید دوه قسمه دے اول په غیر د اسبابو ظاهرونه دا په نصرهٖ سره مراد دے دویم په اسبابو سره دا په بالمؤمنین کښ مراد دے.
فائده(۲): بالمؤمنین سره اشاره ده مدحه د صحابه کرامو ته لکه په حدیث د اِخْتَارَ اللّٰهُ لِيْ صَحَابَةً (الله تعالیٰ زما د پاره صحابه غوره کړیدی).

اَلَّفَ بَيْنَهُمْ ۭ اِنَّهٗ عَزِيْزٌ حَكِيْمٌ ﴿٦٣﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ

مینه پیدا کړه په مینځ د دوی کښې - یقیناً الله تعالیٰ زورا ور دے حکمتونو والا دے۔ اے نبی (صلی الله علیه وسلم)

حَسْبُكَ اللّٰهُ وَمَنِ اتَّبَعَكَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿٦٤﴾ ع ٨ ٤ ٢

بوره دے تالره الله تعالیٰ او هغه چا لره چه تابعداری ستا د مؤمنانو نه۔

يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ حَرِّضِ الْمُؤْمِنِيْنَ عَلَى الْقِتَالِ ۭ

اے نبی (صلی الله علیه وسلم) تیزی ورکوه مؤمنانو لره په جنګ کولو باندے

اِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ عِشْرُوْنَ صٰبِرُوْنَ يَغْلِبُوْا

که وی ستاسو نه شل کسان صبرناک نو غالب کیږی به

مِائَتَيْنِ ۚ وَاِنْ يَّكُنْ مِّنْكُمْ مِّائَةٌ يَّغْلِبُوْٓا

په دوؤ سوو او که وی ستاسو نه سل کسان نو غالب کیږی به

سلا دابیان د تائید دے په مؤمنانو سره چه هغه بغیر د اتفاق نه نه حاصلیږی۔ مَآ اَلَّفْتَ، په دیکښې اشاره ده چه نبی صلی الله علیه وسلم د چا په زړه باندے قدرت نه لری نو مختار کل نه دے۔

فائده: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه د صحابه کرامو په مینځ کښې مینه او محبت وو د هغوی په مینځ کښې دشمنی نه وه۔ نو هغه تاریخ چه د هغے نه دُشمنی د صحابو معلومیږی هغه د دے ایت خلاف دے هغے ته هیڅ اعتبار نیشته او دا سے په سورة العمران سلا او سورة فتح ۲۹ کښې هم راغلی دی۔

سلا دا لسم قانون دے د پاره د امیر چه توکل په هر حالت کښې په الله تعالیٰ باندے پکار دے ځکه چه الله تعالیٰ کافی دے په هر حال کښې۔

سوال: دا خو تکرار دے د ۲۲ سره۔

جواب: هلته حسبیت خاصه مراد وو د پاره د دفع کولو د ضرر د دشمنانو نه او دلته عامو حالاتو کښې حسبیت مراد دے۔ وَمَنِ اتَّبَعَكَ، دا عطف دے په (ک) باندے او یا مبتدا ده خبر ئے محذوف دے (حسبهم الله) او څوک چه وائي چه دا معطوف دے په الله باندے نو دا غلط قول دے ځکه چه مخکښې ذکر شوه چه حسبیت صفت خاص دے په الله تعالیٰ پورے په هغے کښې شرکت ممکن نه دے او شیخ الاسلام ابن تیمیهؒ په دے باندے تفصیلاً رد کړے دے۔

اَلۡفًا مِّنَ الَّذِیۡنَ کَفَرُوۡا بِاَنَّهُمۡ قَوۡمٌ لَّا یَفۡقَهُوۡنَ ﴿۶۵﴾

په زرګسانو دَ کافرانو نه پدې وجه چه دوی داسې قوم دے چه نه پوهيږي.

اَلۡـٰٔنَ خَفَّفَ اللّٰهُ عَنۡكُمۡ وَعَلِمَ اَنَّ فِیۡكُمۡ ضَعۡفًا ؕ

اوس اسانتيا راوسته الله تعالیٰ په تاسو باندے او پوهه شو چه پتاسو کښې کمزورتيا ده

فَاِنۡ یَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ مِّائَةٌ صَابِرَةٌ یَّغۡلِبُوۡا مِائَتَیۡنِ ۚ

نو که وي ستاسو نه سل کسان صبرناک غالب کيږي به په دوو سوو

وَاِنۡ یَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ اَلۡفٌ یَّغۡلِبُوۡۤا اَلۡفَیۡنِ

او که وي ستاسو نه زر کسان غالب کيږي به په دوو زرو

۶۵ دا يوولسم قانون دے دَ پاره دَ امير حاصل دادے چه نبی صلی الله عليه وسلم او بيا امير باندے لازم دي چه مجاهدينو ته داسے تيزي ورکړي په جهاد باندے چه يوکس مقابله دَ لسو تنو کولے شي او که داسے نشي کولے نوکم ازکم يوکس دے دَ دوؤکسو مقابله کوي دا فرض دي۔ نو په حَرِّضِ سره يې دا قانون ذکر کړو لکه په سورة نساء ۸۴ کښې او اِنۡ یَّكُنۡ مِّنۡكُمۡ الخ سره طريقه دَ تحريض ذکر کړې ده۔
سوال: دَ دے ايت مقصد دادے چه يو په لس باندے مقابله کوئ نو دومره اوږد عبارت يې ولے ذکر کړو؟
جواب: په ابتداء دَ اسلام کښې دَ صحابو شمار کم وؤ نو اکثر سرية به دَ شلو نه زياتے ترسلو پورے تعداد باندے مشتمل وے۔
صَابِرُوۡنَ، شربيني وئيلي دي چه دَ دے حکم شرط صبر دے او مراد دَ صبر نه دادے چه بدن يې قوي او سالم اندامونو والا وي او زړه يې کلک او شجاع وي او دا رنګ ايمان يې مضبوط وي او پابند وي دَ هغه قوانينو چه په دے سورت کښې بيان شوے دي. او هر کله چه يو کرت دا صفت ذکر شو نو دويم کرت دَ مائة سره ذکر کولو ته حاجت نيشته۔

بِإِذْنِ اللّٰهِ ۗ وَاللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ﴿۶۶﴾ مَا كَانَ لِنَبِيٍّ

په امداد دَ الله تعالیٰ سره. او الله تعالیٰ خاص ملګرے دے دَ صبرناکو. نه دی مناسب نبی لره

أَنْ يَّكُوْنَ لَهٗٓ أَسْرٰى حَتّٰى يُثْخِنَ فِى الْأَرْضِ ۚ

چه وی دے هغه لره قیدیان تر دے پورے چه ډیرے وینے تو یے کړی په زمکه کښ

تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَا ۖ وَاللّٰهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَ ۗ

غواړئ تاسو سامان دَ دُنیا. او الله تعالیٰ غواړی آخرت (ستاسو دَ پاره)

۶۶ دا آیت په نیز دَ مقدمینو علماؤ ناسخ دے دَ مخکښ آیت دَ پاره او په نیز دَ روستو علماؤ دا تخفیف دے او دا غوره خبره ده یو وجه دا ده چه آیت کښ لفظ دَ خفف موجود دے دویم دا ده چه په تیرشوی آیت باندے عمل کول هم ثواب دے او په منسوخ باندے خو عمل نشی کیدے نو معلومه شوه چه مخکنی حکم منسوخ نه دے. وَعَلِمَ أَنَّ فِيْكُمْ ضَعْفًا، مراد دَ دینه کمزوری والے دَ همت دے لیکن دا صفت دَ بدیٔ نه دے بلکه دلالت کوی په دے خبره چه دَ صحابو په درجاتو کښ فرق وؤ او سفیان بن شبرمه وئیلے دی چه دَ امر بالمعروف والنهی عن المنکر دا حکم دے چه په دے آیت کښ ذکر دے.

فائده: دَ اول آیت په آخر کښ سبب ذکر کړو عدم فقاهت دَ کافرانو او مراد دَ هغے نه جهل دَ توحید او دَ ایمان بالرسول او قرآن او آخرت دے او په طریقه مفهوم سره معلومه شوه چه مؤمنان مجاهدین په فقاهت سره موصوف دی او دَ دے صفت دَ وجود سره زیات تعداد نه حاجت نیشته.

او دویم آیت کښ سبب بِإِذْنِ اللّٰهِ او مَعَ الصّٰبِرِيْنَ ذکر کړے دے اشاره ده چه دَ صفت دَ فقاهت نه اذن دَ الله او صبر او نصرت الٰهی ډیر ضروری دے. او دا رنګ اول آیت کښ ذکر دَ صفت سلبیه دے علت دَ پاره دَ مغلوبیت دَ کافرانو او په دویم آیت کښ ذکر دَ صفتِ ثبوتیه دے دَ پاره دَ غلبے دَ مؤمنانو.

وَاللّٰهُ عَزِيۡزٌ حَكِيۡمٌ ﴿۶۷﴾ لَوۡلَا كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ سَبَقَ

او الله تعالیٰ زوراور دے حکمتونو والا دے. که نه وے حکم دَ الله تعالیٰ چه مخکښ فیصله شوی وه

لَمَسَّكُمۡ فِيۡمَاۤ اَخَذۡتُمۡ عَذَابٌ عَظِيۡمٌ ﴿۶۸﴾

نو خامخا رسیدلے به وے تاسو ته په وجه دَ هغے مال چه واخستو تاسو (دَ قیدیانو په فدیه کښ) عذاب لوئے.

۶۷ دا دولسم قانون دے دَ امیر دَ پاره حاصل دا دے چه په ابتداء کښ دَ کافرانو قتلول ضروری دی دَ دے دَ پاره چه رُعب قائم شی په دشمنانو. دا آیت نازل شوے وُو په واقعه دَ بدر کښ چه کله په هغے کښ دَ کافرانو نه اویا کسان په قید کښ راوستے شول او تردغه وخته پورے دَ قیدیانو په باره کښ حکم شرعی نه وو نازل شوے نو نبی صلی الله علیه وسلم دَ صحابوؓ سره مشوره اوکړه نو بعضو رائے پیش کړه چه دا ټول قتلول پکار دی او بعضو رائے پیش کړه چه دَ دوی نه به فدیه واخلو او په هغے به ځان له سامان جنګ واخلو نو رسول الله صلی الله علیه وسلم په دے روستنئ رائے اتفاق اوکړو او دَ هغوی نه فدیه واخستے شوه. نو دا آیت نازل شو چه داسے کول نه وُو پکار.

لِنَبِيٍّ یے نکره راوړه اشاره ده چه دا حکم ټولو انبیاؤ ته دے.

اَسۡرٰی، یعنی داسے قیدیان چه په فدیه ورکولو سره خلاصیږی بغیر دَ قتل نه. نو په دے کښ اشاره ده چه قتل دَ مشرکانو دَ بدر غوره وُو دَ فدیے اخستلو او پریخودلو دَ هغوی نه. او دا واقعه دلیل دے چه نبی صلی الله علیه وسلم په وخت دَ عدم وجود دَ وحی کښ رجوع کړے ده اجتهاد ته چه طریقه دَ هغے شوری کول دی. او هر کله چه دا اجتهادی فیصله الله مسترد نه کړه صرف اولیٰ جانب ته یے توجّه ورکړه نو معلومه شوه چه اجتهاد دَ نبی هم وحی ده.

تُرِيۡدُوۡنَ، دلته خطاب صرف صحابوؤ ته او شو دَ پاره دَ لحاظ دَ ادب دَ نبی صلی الله علیه وسلم.

۶۸ دا جواب دَ یو سوال دے، چه هر کله دوی دا فدیه واخستله نو ګنهګار شول نو پکار وُو چه په دوی عذاب راغلے وے؟

دَ جواب حاصل دا دے که الله تعالیٰ دَ مخکښ نه قانون نه وے ایښود دے نو واقعی عذاب به راغلے وے لیکن الله تعالیٰ قانون ایښود دے دے هغه داسے دے چه عذاب چالره نه ورکوی ترهغے چه مخکښ نه دغه حکم نه وی رالیږلے

فَكُلُوْا مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلٰلًا طَيِّبًا ۖ وَّاتَّقُوا اللّٰهَ ۗ

پس خورئ دَ هغے مال نه چه غنیمت کښې واخستے تاسو حلال پاک او یره کوئ دَ الله تعالیٰ نه

إِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٦٩﴾ ع يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ قُلْ

۵ ع ۹

یقیناً الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے. اے نبی (صلی الله علیه وسلم) او وایه

لِّمَنْ فِيْٓ اَيْدِيْكُمْ مِّنَ الْاَسْرٰٓى ۙ اِنْ يَّعْلَمِ اللّٰهُ

هغه چاته چه په لاسونو ستاسو کښې دی دَ قیدیانو نه که معلوم کړو الله تعالیٰ

فِيْ قُلُوْبِكُمْ خَيْرًا يُّؤْتِكُمْ خَيْرًا مِّمَّآ اُخِذَ

په زړونو ستاسو کښې ایمان نو در به کړی تاسو ته غوره دَ هغه مال نه چه اخستے شویدے

مِنْكُمْ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿٧٠﴾

ستاسو نه او بخنه به اوکړی تاسو ته او الله تعالیٰ بخنه کوونکے رحم کوونکے دے.

او دا په سورة توبه ت۱۱۵ کښې ذکر دے. او دَ فدیئے دَ منع په باره کښې دَ مخکښې نه حکم نه وو راليږلے شوے نو مخالفت دَ حکم نه دے راغلے. بل دا قانون چه الله تعالیٰ دِے اُمت دَ پاره مال غنیمت حلال کړے دے بل دا قانون وو چه الله تعالیٰ بدر والا مجاهدین ټول بخلی دی. لفظ دَ كِتٰبٌ مِّنَ اللّٰهِ دِے درے واړو خبرو ته شامل دے.

ت۶۹ هرکله چه بعضِ صحابه کرامو دَ دے زوړ نے نه روستو دَ هغې فدیئے دَ استعمالولو نه نفرت کوؤ نو دا آیت نازل شو چه نفرت مه کوئ دا مال غنیمت دے او حلال دے. فَكُلُوْا کښې فاء دَ سببیت وو او شرط محذوف دے یعنی لما ابیحت لکم الغنائم (هرکله چه حلال کړے شو ستاسو دَ پاره غنیمتونه).

ت۷۰ دا دیار رسم قانون دے دَ امیر دَ پاره حاصل دا دے چه په دا سے قیدیانو کښې څوک دعوی دَ ایمان کوی دَ پاره دَ دے چه دَ فدیئے ورکولو نه خلاص شی نو هغه ته او وایه چه فدیه ورکول په تا لازم دی او که دعوی دَ ایمان صحیح وی نو الله تعالیٰ به دَ دے ډیر عوض درکړی او دا خبره په واقعه دَ بدر کښې عباس رض ته پیش راغلے وه اګرچه آیت عام دے او حکمت دَ دے قانون دا دے که په دعوی دَ ایمان سره یو تن دَ فدیئے نه معاف کړے شی نو دا سے به هر یو دعوی کوی

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا خِيَانَتَكَ فَقَدْ خَانُوا اللّٰهَ مِنْ

او كه دوى غواړى دهوكه كول ستا سره نو يقيناً دهوكه كړيوه دوى دَ الله تعالىٰ سره دَ دينه

قَبْلُ فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ ط وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۷۱﴾

مخكښ پس قدرت يې دركړو تاسو لره په دوى باندے او الله تعالىٰ پوهه دے حكمتونو والادے.

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا وَجٰهَدُوْا

يقيناً هغه كسان چه ايمان يې راوړيدے او هجرت يې كړيدے او جهاد يې كړے دے

بِاَمْوَالِهِمْ وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

په مالونو خپلو سره او په ځانونو خپلو سره په لار دَ الله تعالىٰ كښ

وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّنَصَرُوْٓا اُولٰٓئِكَ بَعْضُهُمْ

او هغه كسان چه ځائے وركړيدے او امداد يې كړيدے (مهاجرينو سره) دغه كسان بعض دَ دوى نه

اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ط وَالَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَلَمْ يُهَاجِرُوْا

دوستان دَ بعضو دى او هغه كسان چه ايمان يې راوړيدے او هجرت يې نه دے كړے

اوصفت دَ ايمان خوښ دے نو هريو ته به فديه معاف كړے شي نو قانون دَ فديئ عبث اومهمل گرځي.

اِنْ يَّعْلَمِ، داكنايه ده دَ وجود دَ خير نه اودَ خير نه مراد ايمان او اخلاص دے

يُؤْتِكُمْ اه داوعده عامه ده دنيا او اخرت ته.

فائده: داايت دليل دے چه طاعت دَ الله تعالىٰ اودَ رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بركاتِ دنيويه او اخرويه حاصليږى.

ك خَانُوا اللّٰهَ، دَ خيانت نه مراد كفر او شرك دَ دوى دے اوجنگ كول دى دَ مسلمانانو سره. مِنْ قَبْلُ مخكښ دَ واقعے دَ بدر نه.

فَاَمْكَنَ مِنْهُمْ، مراد دَ دے نه غلبه دَ مؤمنانو ده په كافرانو باندے په بدر كښ

وَاِنْ يُّرِيْدُوْا، جزاء پټه ده (ذليل به كړى دوى په دنيا او اخرت كښ).

مَا لَكُمْ مِّنْ وَّلَايَتِهِمْ مِّنْ شَيْءٍ حَتّٰى

نيشته تاسو لره دَ دوستانې دَ هغوی نه هیڅ حق ترڅو چه

يُهَاجِرُوْا ۚ وَاِنِ اسْتَنْصَرُوْكُمْ فِى الدِّيْنِ

هجرت اوکړی هغوی او که مدد غواړی ستاسو نه په باره دَ دین کښې

فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ اِلَّا عَلٰى قَوْمٍ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ

نو په تاسو بانديے لازم دي مدد کول دَ هغوی سره مګر په مقابله دَ هغه قوم کښې چه په مينځ ستاسو او په مينځ دَ هغوی کښې

مِّيْثَاقٌ ؕ وَاللّٰهُ بِمَا تَعْمَلُوْنَ بَصِيْرٌ ﴿۷۲﴾

وعده وی (دَ امن) - او الله تعالیٰ په هغه عملونو چه تاسو ئې کوئ ليدونکے دے.

وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْا بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ؕ

او هغه کسان چه کفر ئې کړيدے بعض دَ دوی دوستان دَ بعضو دی.

۷۲ هرکله چه قوانين دَ جهاد تفصيلي بيان شول نو اوس مجاهدينو ته يو بل سره دَ ولايت او دَ نصرت کولو ترغيب ورکوی دَ پاره دَ دے چه دَ دوی په محبت سره په کافرانو باندے رعب پريوځی - په دے ايت کښې دَ مؤمنانو درے قسمه ذکر دی او دَ هغې احکام - يو قسم مهاجرين، دويم قسم انصار، دَ دے دواړو حکم دا دے چه دوی به يو بل سره پوره دوستانه ساتی او پوره امداد به کوی دا معنی دَ ولايت ده او بعضو مفسرينو په دے کښې توارث هم داخل کړے دے يعنی دوی به دَ يو بل وارثان وی ليکن دا روستو منسوخ شوے دے په ۷۵ سره او سورة احزاب ۶ سره - دريم قسم مؤمنان غير مهاجرين دی دَ هغوی حکم دا دے چه هغوی سره دوستانه او هر قسمه مدد نه دے جائز دَ وجے دَ عدم هجرت نه او نه توارث دَ هغوی شته مګر که هغوی دَ دين په باره کښې څه مدد غواړی نو امداد ورسره پکار دے خو په دے شرط سره چه دَ نوره معاهدينو سره مقابله نه کوی په دے کښې ډير ترغيب دے په هجرت کولو باندے او دَ دے نه معلومه شوه چه دَ دوی سره دشمنی جائز نه ده بلکه دينی نصرت دَ دوی واجب دے.

إِلَّا تَفْعَلُوهُ تَكُن فِتْنَةٌ فِي الْأَرْضِ وَفَسَادٌ

اوکه اونکړئ تاسو دا امداد نو پیدا به شي فتنه په زمکه کښ او فساد

كَبِيرٌ ﴿۷۳﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا

لوئے۔ او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے او هجرت ئے کړے دے او جهاد ئے کړے دے

فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوا وَّنَصَرُوا

په لار د الله تعالیٰ کښ او هغه کسان چه ځائے ور کړے دے او مدد ئے کړے دے مهاجرینو سره

أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا ۚ لَّهُم مَّغْفِرَةٌ

دغه کسان بس هم دوی مؤمنان دی په رشتیا۔ دوی لره بخښنه ده

وَرِزْقٌ كَرِيمٌ ﴿۷۴﴾ وَالَّذِينَ آمَنُوا مِن بَعْدُ

او رزق دے عزتمند۔ او هغه کسان چه ایمان ئے راوړے دے روستو د هغوی نه

۷۳ په دے کښ څلورم قسم د خلقو ذکر دے چه هغه کافران دی او مقصد ئے دا دے چه هغوی د یو بل سره امداد کوی په کفر کښ نو تاسو ولے د یو بل سره امداد نه کوئ په اسلام کښ مراد د ولایت د کافرانو نه د یو بل سره مشابهت دے په کارونو د کفر کښ او مدد او ډله کول د یو بل سره. او د دویم جملے مطلب دا دے که تاسو د یو بل سره په دین کښ امداد اونکړئ نو دے نه به فتنه پیدا شی په غلبے د کافرانو سره په مسلمانانو باندے او لوئے فساد به جوړ شی په شرک عام کیدلو سره.
تَفْعَلُوهُ، ضمیر ولایت او نصرة ته راجع دے.

۷۴ دے آیت کښ زیرے دے مؤمنانو ته او شان د صحابه کرامو ذکر دے چه هغوی یقینی او کامل مؤمنان دی او هغوی بښلے شوے دی د دے سورت په اول کښ پنځه صفات ذکر وو او بیا دا جمله ذکر وه چه اولئك هم المومنون حقا نو د دے آیت او د هغه آیت د اتصال نه دا نتیجه راووتله چه مهاجرین او انصار په هغه پنځه صفتونو سره متصف دی او دوی مستحق د هغه بشارت دی چه په اول د سورت او په دے آیت کښ ذکر دے نو د دے وجے نه لعنت دے په

وَهَاجَرُوْا وَجَاهَدُوْا مَعَكُمْ فَاُولٰٓئِكَ مِنْكُمْ ط

او هجرت يې کړيدې او جهاد يې کړيدے په ملګرتيا ستاسو کښې نو دغه کسان ستاسو د ډلې نه دي.

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ بَعْضُهُمْ اَوْلٰى بِبَعْضٍ فِيْ

او يو نسب والا خپلوان بعض د دوی حقدار دی (د ميراث) د بعضو په

كِتٰبِ اللّٰهِ ط اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيْمٌ ﴿۷۵﴾ ع ۱۰

حکم د الله تعالیٰ کښې. يقيناً الله تعالیٰ په هر څيز باندے پوهه دے.

هغه چاچه هغوی صحابه کرامو ته بد وائي او په هغوی طعن کوی چه هغه شيعه او روافض دی خصوصًا اماميه اثنا عشريه د دوی نه.

ځکه په دے ايت کښې ذکر د پنځم قسم د خلقو دے چه هغه صحابه کرام دی چه هغوی پس د فتحې نه ايمان راوړے دے او هجرت او جهاد يې کړے دے نو دوی د مخکنو صحابه کرامو په جماعت کښې شمار دی او د فتحې نه مراد يا د حديبيه صلحه ده چه په شپږم کال د هجرت شوے وه. يا فتح د مکے ده چه په اتم کال د هجرت شوے وه.

نو په دے کښې اشاره ده تقسيم د صحابه کرامو ته چه د هغوی په مينځ کښې تفاوت او تفاضل شته ليکن صفت د صحابيت کښې ټول شريک دی.

وَاُولُوا الْاَرْحَامِ، مطلب د دے دا دے چه ميراث په سبب د نسب سره وی په سبب د دوستانے سره نه وی.

فِيْ كِتٰبِ اللّٰهِ نه مراد حکم د ميراث دے په قرآن کښې چه په سورة نساء کښې په تفصيل سره ذکر دے او هغه ذوی الفروض او عصبه دی او مسئله د ذوی الارحامو کښې اختلاف دے.

او دا ايت ناسخ شو د ټے د پاره چه په هغے کښې سبب د ميراث هجرت او اخوت ګرځولے شوے وۀ.

(ختم شو تفسير د سورة انفال)

اٰیاتها ۱۲۹ | سُوْرَةُ التَّوْبَةِ مَدَنِيَّةٌ (۱۱۳) | رُکُوْعَاتُهَا ۱۶

بَرَآءَةٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى الَّذِيْنَ

اعلان دَجدائیٔ دے دَطرف دَ الله تعالیٰ او دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه نه هغې خلقو ته

سورة توبه

ربط دَ دے سورت دَ مخکښ سره په ډیرو طریقو سره دے اوله طریقه داده هرکله چه سورة انفال کښ قاعدے دَ جهاد بیان شوے نو په دے سورت کښ اعلان جهاد دے دویمه طریقه داده چه سورة انفال کښ صرف اعلان دَ جهاد وو نو په دے سورت کښ ذکر دَ هغه ډلودے چه دَ هغوی سره جهاد کیدے شی دریمه طریقه داده چه په هغه سورت کښ اعلان قتال وؤ نو په دے سورت کښ علتونه دَ قتال دَ مشرکانو او دَ کتابیانو ذکرکوی سره دَ جوابا تو دَ موانعو دَ قتال نه۔

دعوٰی دَ دے سورت: قتال کول دَ مشرکینو او دَ کتابیانو سره او جهاد کول دَ منافقینو سره او دا شیږ کرته ذکر شوے دے په ۵ ۱۴ ۲۹ ۳۶ ۷۳ ۱۲۳ کښ۔ او مسئله دَ توحید دَ سورت په اٰخر کښ ذکر ده په ۳۱ ۱۱۶ ۱۲۹ کښ او اسماء حسنیٰ دَ الله تعالیٰ په دیکښ (۱۳) ذکر دی۔

خلاصه دَ سورت: په دے سورت کښ څلور حصے دی اوله حصه کښ ذکر دَ قتال دَ مشرکانو دے او دویمه حصه کښ ذکر دَ قتال دَ کتابیانو دے او دریمه حصه کښ عیبونه دَ منافقانو دی او څلورمه حصه کښ صفات دَ مؤمنانو دی۔ اوله حصه ۲۸ اٰیت پورے ده په دے کښ ذکر دَ درے قسمو مشرکانو دے او رد دے په څلورو موانعو دَ قتال باندے او دیارلس علتونه دَ قتال ذکر دی او ترغیب دے جهاد ته۔

فائده: دَ دے سورت په ابتداء کښ دَ بسم الله دَ نه لیکلو یو سبب دا دے چه دَ دے په ابتداء کښ بسم الله نه وه نازل شوے دویم سبب حدیث دَ عثمان رضی الله عنه دے چه روایت کړے دے ترمذی او ابوداؤد او نقل کړے دے صاحب مشکوٰة په صفحه ۱۹۴ کښ چه دَ هغې حاصل دا دے چه دَ دے سورت راوړل په سورة انفال پسے اجتهادی مسئله ده دَ دے احتمال دَ وجے نه چه دا سورت دَ مخکنی سورت جُزء دے دَ ډیر مناسبت دَ وجے نه ځکه بسم الله دَ دے په سر کښ او نه لیکلے شوه

عَاهَدْتُّمْ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۞ فَسِيْحُوْا فِي
چه لوظ ورسره کړیدے تاسو دَ مشرکانو نه (او لوظ ئے مات کړیدے). پس اوګرځئ په
الْاَرْضِ اَرْبَعَةَ اَشْهُرٍ وَّاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ
زمکه کښې څلور میاشتے او پوهه شئ چه یقینًا تاسو
غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ۙ وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ ۞
نه شئ کمزورے کولے الله تعالیٰ لره او یقینًا الله تعالیٰ شرموونکے دے کافرانو لره.
وَاَذَانٌ مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖٓ اِلَى النَّاسِ يَوْمَ
او اعلان دے دَ طرف دَ الله تعالیٰ نه او دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه نه خلقو ته په ورځ
الْحَجِّ الْاَكْبَرِ اَنَّ اللّٰهَ بَرِيْٓءٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ ۙ
دَ حج لوئے چه یقینًا الله تعالیٰ جدا دے دَ مشرکانو نه

اوکدے احتمال دَ وجے نه چه مستقل سورت دے نو نوم دَ سورت په اول کښې اولیکلے شو. او دارنګ دَ بسم الله دَ نه لیکلو یو حکمت دا دے چه بسم الله دَ پاره دَ امن ده او دا سورت دَ پاره دَ لرکولو دَ امن دے. دویم حکمت دا دے چه طریقه داوه چه چاته به خط دَ اعلان جنګ لیکلے کیدو نو دَ هغې په سر کښې به بسم الله نه وه.

۱ په دے اول آیت کښې اوله ډله دَ مشرکینو ذکر ده چه هغوی ته محاربین وائي ځکه چه هغوی عهد مات کړے دے او هغه پکښې هم داخل دی چه دَ هغوی سره عهد غیر مؤجل وُو. او دَ هغې یو حکم براءت دے او مراد دَ براءت نه هر قسم امن او ذمه لرے کول او هر تعلق قطع کول دی او دَ هغې بیان په آیت ۵، ۱۲، ۱۵، ۱۷، ۲۳، ۲۸، ۳۶، ۳۷، ۱۱۳ کښې دے.

۲ په دے آیت کښې دَ هغې مشرکینو دویم حکم دے چه هغه مهلت دَ څلورو میاشتو دے. شوال، ذوالقعده، ذوالحجه او محرم ځکه چه دَ زهری نه نقل دے چه دا سورت دَ شوال په اول کښې نازل شوے دے دویم قول دا دے چه دَ حج اکبر دَ ورځ نه څلور میاشتے به حسابیږی تر اخره دَ ربیع الثانی پورے. لیکن اول قول غوره دے په قرینه دَ آیت ۵ سره. او دا مهلت دَ پاره دَ فکر کولو دے دَ پاره دَ دے چه ایمان

وَرَسُوْلُهٗ ؕ فَاِنْ تُبْتُمْ فَهُوَ خَيْرٌ لَّكُمْ ۚ

اورسول (صلی اللہ علیہ وسلم) دَ هغه هم. پس که تاسو توبه ویستله (دَ شرک نه) نو دا به غوره وی تاسو لره،

وَاِنْ تَوَلَّيْتُمْ فَاعْلَمُوْٓا اَنَّكُمْ غَيْرُ مُعْجِزِي اللّٰهِ ؕ

او که تاسو مخ واړوَ نو پوهه شئ چه یقینًا تاسو نه شئ کمزورے کولے الله لره

وَبَشِّرِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا بِعَذَابٍ اَلِيْمٍ ﴿۳﴾

او زیرے ورکړه کافرانو لره په عذاب دردناک سره.

راوړی. وَاعْلَمُوْٓا، په دے سره دوه وهمونه دفع کوی اول وهم دا چه آیا دا مهلت دَ وجے دَ عجز دَ الله تعالٰی نه دے دَ دوی دَ مقابلے نه؟ جواب اوشو په اَنَّكُمْ غَيْرُ الخ سره. دویم وهم دا دے چه دا مهلت دلالت کوی دَ دوی په اکرام او په عزت باندے؟ نو جواب اوشو وَاَنَّ اللّٰهَ مُخْزِي الْكٰفِرِيْنَ.

ف. په دے آیت کښ اعلان دَ براءت ذکر دے روستو دَ فیصلے دَ براءت نه مشرکینو محاربینو ته چه هغوی لوظ مات کړے وو. بیا هرکله چه دا اعلان په ورځ دَ حج باندے دے او دَ هغے نه تر محرم پورے څلور میاشتے نه وے پاتے نو ځکه دے آیت کښ دَ څلورو میاشتو ذکر نه دے شوے.

سوال: اول آیت کښ الی الذین عاهدتم الخ ذکر دے او په دے کښ الی الناس ذکر دے؟

جواب: هغه براءت خاص دے په هغه معاهدینو پورے چه لوظ ئے مات کړے وؤ او دا اعلان عام دے ټولو مشرکانو ته که معاهد وی او که نه وی بلکه دَ اعلان په اوریدلو کښ مؤمنان هم شامل دی.

وَرَسُوْلُهٗ، دا په رفع (پیښ) سره دے مبتداء ده خبر ئے حذف دے یا عطف دے په محل دَ اسم دَ اَنَّ باندے. فَاِنْ تُبْتُمْ، په دے کښ ترغیب دے توبه کولو ته په زمانه دَ مهلت کښ. فَاعْلَمُوْٓا الخ په دے کښ تهدید مقصد دے او په ۲ کښ دفع دَ وهم مقصد وه لکه چه مخکښ تیر شول. وَبَشِّرِ، بشارت ئے په طریقه دَ تهکم (مسخرے) سره وئیلے دے. عَذَابٍ اَلِيْمٍ، په دنیا کښ په قتل او قید کولو سره او په آخرت کښ په عذاب ابدی سره.

فائده: حج اکبر ورځ دَ عرفے ده یا ورځ دَ نحر ده او هر یو حج ته اکبر وئیلے کیږی

إِلَّا الَّذِينَ عَاهَدتُّم مِّنَ الْمُشْرِكِينَ ثُمَّ

مگر هغه کسان چه لوظ کړېوو تاسو دَ هغوی سره دَ مشرکانو نه بیا ئې

لَمْ يَنقُصُوكُمْ شَيْـًٔا وَلَمْ يُظَاهِرُوا عَلَيْكُمْ

کمے نه دے کړے ستاسو نه هیڅ او نه ئې امداد کړېدے ستاسو مقابله کښ

أَحَدًا فَأَتِمُّوٓا إِلَيْهِمْ عَهْدَهُمْ إِلَىٰ مُدَّتِهِمْ

دَ هیچا سره نو پوره کړئ دَ هغوی سره لوظ دَ هغوی تر مودے (نیټے) خپلے پورے

إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٤﴾ فَإِذَا انسَلَخَ

یقیناً الله تعالیٰ خوخوی متقیان (بچکید ونکی دَ بے لوظئ نه). پس هر کله چه تیرے شی

الْأَشْهُرُ الْحُرُمُ فَاقْتُلُوا الْمُشْرِكِينَ حَيْثُ

میاشتے عزت والا نو وژنئ مشرکان کوم ځائے چه

اوعمرے ته حج اصغر وئیلے کیږی اوداوینا چه مشهوره ده چه حج اکبر هغه دے چه عرفه په ورځ دَ جمعے وی داخبره ثابت نه ده لیکن کوم حج چه رسول الله صلی الله علیه وسلم کړے وؤ "حجة الوداع" په هغے کښ ورځ دَ عرفے ورځ دَ جمعے وه نو په دے وجه باندے کوم حج چه دَ هغے سره موافق شی نو خلق ئې مسمّیٰ کوی په حج اکبر سره۔

سے په دے ایت کښ دویم قسم مشرکان ذکر دی او هغوی ته معاهدین وائی په عهد مؤجل سره محکه چه هغوی خپل عهد نه وومات کړے او هغه دوه قبیلے وے یو بنو ضمره دویم کنانه، دَ هغوی حکم دا دے چه دَ هغوی عهد پوره کړئ تر هغے مودے پورے کوم چه مقرر شوے وه او دَ هغوی په عهد کښ نهه میاشتے باقی پاتے وے۔ لیکن دَ هغوی دَ پاره دوه شرطونه دی (۱) لم ینقصوکم (۲) لم یظاهروا۔ او حکم دَ هغوی ذکر دے په دے قول سره چه فَأَتِمُّوٓا۔ او اِنَّ اللهَ اه دا علت دے دَ اتموا دَ پاره او دا دلیل دے چه په عهد باندے وفا کول عمل دَ تقویٰ دے۔

وَجَدْتُّمُوْهُمْ وَخُذُوْهُمْ وَاحْصُرُوْهُمْ

مومئ هغوی لره او تیسئ هغوی لره او راګیروئ هغوی لره

وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ ۚ فَإِنْ تَابُوْا

او کینئ هغوی ته په هره مورچه کښې، پس که دوی توبه کړه (د شرک نه)

وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا

او پابندی یې کوله د مانځه او ورکوی یې زکوٰة نو خالی کړئ

سَبِيْلَهُمْ ۗ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ۝٥

لار د هغوی. یقینًا الله تعالیٰ بخونکے رحم کوونکے دے.

وَاِنْ اَحَدٌ مِّنَ الْمُشْرِكِيْنَ اسْتَجَارَكَ فَاَجِرْهُ

او که یو تن د مشرکانو نه امن او غواړی ستانه (د پاره د داخلیدو دار الاسلام ته) نو امن ورکړه هغه له

ك په دے ایت کښې بل حکم د اولے ډلے ذکر دے مطلب یې دا دے کله چه موده د مهلت (چه څلور میاشتے وے) او اخری میاشت د هغې محرم وه تیره شی دوی سره قتال کوئ. الْمُشْرِكِيْنَ، مراد د دوی نه هغه کسان دی چه عهد یې مات کړے دے. وَخُذُوْهُمْ، مراد د دے نه قید کول دی بیا خوښه د امیر ده که قتلوی یې او که فدیه ترے اخلی او احسانی یې پریږدی. وَاحْصُرُوْهُمْ، د دے یو معنیٰ دا ده چه د دوی د قلعه ګانو نه محاصره اوکړئ او راګیر یې کړئ. دویمه معنیٰ دا ده چه دار اسلام ته د داخلیدلو نه دوی منع کړئ بغیر د اجازت ستاسو نه. وَاقْعُدُوْا لَهُمْ كُلَّ مَرْصَدٍ، مراد دا دے چه د دوی لارے بندے کړئ د پاره د دے چه په دار اسلام کښې ازاد او نګرځی. تَابُوْا، توبه د کفر او شرک نه چه د هغې نه په حدیث کښې تعبیر کړے شوے دے په یشهدوا ان لا اله الا الله وان محمدًا رسول الله سره. وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ، دا دلیل دے په دے خبره چه د کافر صرف په توبه لفظ باندے اعتبار نه شی کیدلے څو پورے چه دا عملونه ورسره نه وی یو ځائے کړی د پاره د تحقیق د توبے. وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ، ابن کثیر وئیلی دی چه ابوبکر رضی الله عنه د زکوٰة منع کوونکو سره د قتال د پاره په دے ایت سره دلیل نیولے وو. فَخَلُّوْا الخ مراد

حَتّٰی یَسْمَعَ کَلٰمَ اللّٰهِ ثُمَّ اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ ط

تر دے پورے چه واوري کلام دَ الله تعالیٰ بیا اورسوه هغه لره ځائے دَ امن دَ هغه ته.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ لَّا یَعْلَمُوْنَ ⑥ کَیْفَ یَكُوْنُ

دا په دے وجه چه دوی داسے قوم دے چه نه پوهیږی. څنګه به وی

لِلْمُشْرِكِیْنَ عَهْدٌ عِنْدَ اللّٰهِ وَعِنْدَ رَسُوْلِهٖٓ

مشرکانو لره لوظ په نیز دَ الله تعالیٰ او په نیز دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه

اِلَّا الَّذِیْنَ عٰهَدْتُّمْ عِنْدَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ ج

مګر هغه کسان چه لوظ ورسره کړے دے تاسو په خوا (قریب) دَ مسجد حرام کښ

فَمَا اسْتَقَامُوْا لَكُمْ فَاسْتَقِیْمُوْا لَهُمْ ط

نو څو پورے چه کلک وی دوی تاسو سره (په وعدے باندے) نو کلک اوسیږئ تاسو هم دَ دوی سره.

دَ دے نه عصمت دَ وینو او مالونو دَ هغوی دے لکه چه په حدیث دَ بخاری او احمد کښ ذکر دی.

سل په دے کښ دریم قسم دَ مشرکینو ذکر دے چه هغوی ته مستامنین وائي حکم ئے دا دے چه کافران که دار اسلام ته دَ داخلیدلو اجازت غواړی نو هغوی له اجازت ورکول پکار دی لیکن مقصد به داوی چه هغوی په دار اسلام کښ قرآن پاک واوری چه هغه ذریعه دَ حصول دَ علم دَ توحید ده او دا ذکر دا هم مقصد دے او بغیر دَ دے نه نورو مقصدونو دَ پاره (چه شرعًا منع نه وی) هم امن ورکول جائز دی لکه پیغام راوړل، طلب دَ صلح - راوړل دَ جزیے (دا ابن کثیر ذکر کړے دی).
یَسْمَعَ كَلٰمَ اللّٰهِ، دا صریح دلیل دے چه مسموع کلام الله دے او دا مذاهب دَ سلف صالحینو دے چه متلو او مسموع او مکتوب کلام الله دے او هغه قول غلط دے چه وائي چه دا کلام لفظی دے دال دے په کلام نفسی باندے او کلام نفسی کلام الله دے. اَبْلِغْهُ مَاْمَنَهٗ، یعنی بیا ئے دَ خپلے سرحدی پولے نه واړوه چه خپل وطن ته اورسی. اهلِ علمو وئیلی دی چه ترکال پورے دَ دیره کیدلو اجازت نشی ورکیدلے او څلورو میاشتو پورے اجازت ورکیدلے شی).

١٠ ع ٧

إِنَّ اللّٰهَ يُحِبُّ الْمُتَّقِينَ ﴿٧﴾ كَيْفَ وَإِن يَظْهَرُوا

يقيناً الله تعالىٰ خوخوى متقيان (ځان ساتونكى دَ بے لوظئ نه) - څنګه به وى (اعتبار دَ لوظ دَ دوى)، او كه دوى زور اوشو

عَلَيْكُمْ لَا يَرْقُبُوا فِيكُمْ إِلًّا وَلَا ذِمَّةً ۚ يُرْضُونَكُم

په تاسو باندے نو لحاظ نه كوى دوى په تاسو كښ دَ خپلولئ او نه دَ لوظ، رضا كوى تاسو

بِأَفْوَاهِهِمْ وَتَأْبَىٰ قُلُوبُهُمْ وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ ﴿٨﴾

په خُلو خپلو او انكار كوى زړونه دَ دوى او ډير دَ دوى نافرمان دى۔

ك دارد دے دَ اول مانع دَ قتال چه چا داخيال كوؤ چه مشركين مكّه سره خو عهد شوے وؤ نو دَ هغوى سره قتال كول څنګه جائز شول؟

حاصل دَ جواب دا دے چه هغوى خپل عهد مات كړے دے او وعدة چه ماته كړے شى نو دَ هغے دَ الله تعالىٰ او دَ رسول الله صلى الله عليه وسلم په نيز باندے هيڅ اعتبار نيشته ماسِوا دَ هغے دويمے ډلے نه چه هغوى په خپل عهد باندے مضبوط وو نو هغوى سره به عهد (لوظ) پوره كيدے شى۔ او په دے ايت كښ حكمت دَ براءت ذكر كوى۔ اَلَّذِيْنَ، دَ دوى نه مراد هغه دى كوم چه په سك كښ ذكر وؤ يا مراد دَ دے نه مكے والا دى چه دَ هغوى سره حديبيه كښ صلح كړے شوے وۃ او عهد ئے نه وؤ مات كړے تر دوه كاله پورے بيا دوه كاله روستو ئے عهد مات كړو۔

ش دَ دے ايت نه تفصيل دَ هغے صفاتو دَ مشركينو شروع دے چه هغه اسباب دَ قتال دى او په دے ايت كښ څلور ذكر دى۔ كَيْفَ، دا اعاده ده دَ مخكښ كيف او فعل ئے پټ دے "كيف يكون لهم عهد"۔ إِلًّا دَ ابن عباس رضى الله عنهما نه اكثر راويانو روايت كړے دے چه إِلًّا په معنى دَ خپلولئ سره دے او دَ قتاده په روايت كښ په معنى دَ حلف سره دے او دَ مجاهد په روايت كښ په معنى دَ الله سره دے ليكن اول قول غوره دے۔ يُرْضُونَكُمْ، مراد دَ دے نه په باره دَ وفا دَ عهد كښ خبرے كول دى په باره دَ ايمان كښ دا سے نه دى ځكه چه دا صفات دَ مشركانو دى په باره دَ منافقانو كښ نه دى۔

وَأَكْثَرُهُمْ، سوال: كافران خو ټول فاسقان دى نو اكثر ئے ولے اوئيل؟
جواب (۱) دلته دَ فاسقون نه مراد ښكاره بے لوظى كوونكى دى۔

اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ ثَمَنًا قَلِيْلًا فَصَدُّوْا

اخستے دے دوی پہ بدل د ایتونو د اللّٰہ تعالٰی کښں عوض لږ تو منع کوی دوی خلق

عَنْ سَبِيْلِهٖ ؕ اِنَّهُمْ سَآءَ مَا كَانُوْا يَعْمَلُوْنَ ۝۹

د لارے د اللّٰہ تعالٰی نہ۔ یقینًا دوی چہ دی، بد دے هغہ عمل چہ دوی ئے کوی۔

لَا يَرْقُبُوْنَ فِيْ مُؤْمِنٍ اِلًّا وَّلَا ذِمَّةً ؕ وَاُولٰٓئِكَ

لحاظ نہ کوی دوی د هیڅ مؤمن پہ بارہ کښں د خپلولئ او نہ د لوظ۔ او دغہ کسان

هُمُ الْمُعْتَدُوْنَ ۝۱۰ فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ

خاص دوی د حد نہ تیروتونکی دی۔ پس کہ دوی توبہ وویستلہ (د دے گناہونو نہ) او پابندی ئے کولہ د مانځہ

وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَاِخْوَانُكُمْ فِي الدِّيْنِ ؕ وَنُفَصِّلُ

او ورکوو ئے زکوٰۃ نو رونړہ ستاسو دی پہ دین کښں۔ او تفصیلی بیانوو مونږ ہ

جواب (۲) بعضو د دوی نہ روستو ایمان راوړے وؤ او مراد د فاسقون نہ هغہ دی چہ ترمرګہ پورے پہ کفر باندے کلک وؤ۔

ف پہ دے ایت کښں نور درے صفات ذکر دی۔ اِشْتَرَوْا بِاٰيٰتِ اللّٰهِ، د دے نہ مراد دا دے چہ دے مشرکانو قرآن پاک او احکام د اللّٰہ تعالٰی پریخودلے دی او دنیا ئے غورہ کړے دہ۔ او د هر مشرک او کافر دا حال دے چہ د اللّٰہ تعالٰی د دین پہ مقابلہ کښں دنیا ئے غورہ کړے دہ۔

فَصَدُّوْا، لازمی او متعدی دواړہ احتمالونہ شتہ یعنی پخپلہ منع شول یا نور خلق منع کوی د لارے د اللّٰہ تعالٰی نہ۔

ف دے ایت کښں دوہ صفات ذکر دی۔

لَا يَرْقُبُوْنَ، پہ دے کښں تکرار نیشتہ دے ځکہ چہ مخکښں خاص ذکر شوے وؤ او دا عام دے۔

اَلْمُعْتَدُوْنَ، دا ترقی دہ پہ خباثت کښں یعنی صرف ترک د لحاظ نہ دے بلکہ ظلم ورسرہ هم یو ځائے کوی۔

الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يَّعْلَمُوْنَ ﴿۱۱﴾ وَاِنْ نَّكَثُوْٓا اَيْمَانَهُمْ

احکام دَ پاره دَ هغه قوم چه پوهیږی ـ او که مات کړل دوی قسمونه خپل

مِّنْۢ بَعْدِ عَهْدِهِمْ وَطَعَنُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ

پس دَ کلکوالی دَ هغې نه او طعن یې کوؤ په دین ستاسو کښ

فَقَاتِلُوْٓا اَئِمَّةَ الْكُفْرِ ۙ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ

نو جنګ کوئ دَ مشرانو دَ کفر سره یقینًا دوی، نیشته هیڅ قسمونه دَ دوی

لَعَلَّهُمْ يَنْتَهُوْنَ ﴿۱۲﴾ اَلَا تُقَاتِلُوْنَ قَوْمًا نَّكَثُوْٓا

دے دَ پاره چه دوی منع شی (دَ کفرنه). ولے جنګ نه کوئ دَ هغې قوم سره چه مات کړیدی

۱۱ دے آیت کښ ترغیب دے توبے ته لیکن په ۵ کښ مقصد منع دَ قتال او حصول دَ عصمت دَ وینو او دَ مال وؤ دَ دے وجے نه هلته فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ وئیلے وؤ او په دے آیت کښ مقصد اعتبار کول دی په عهد دَ هغوی باندے او په چا باندے چه اعتبار کیدے شی نو هغه ته رور وئیلے شی دَ دے وجے نه دلته یې فَاِخْوَانُكُمْ اه او وئیل نو تکرار آیا تو نو کښ نیشته دے۔ وَنُفَصِّلُ الْاٰيٰتِ، مراد دَ آیت نه اوصاف دَ ماتوؤنکو دَ عهد دی چه هغه علتونه دَ قتال دی او دا رنګ بیان دَ صفاتو دَ توبه کوؤنکو دے۔

۱۲ دے آیت کښ دوه توجیه دی اول توجیه دا ده چه مراد دَ دے نه مشرکان معاهدین دی، ځکه لفظ دَ اِنْ یې راوړے دے یعنی که دغه معاهدینو دَ مودے دَ پوره کیدلو نه مخکښ لوظ مات کړو نو قتال ورسره کوئ ۔ او دویمه توجیه دا ده چه مراد دَ دے نه هغه بے لوظه مشرکان دی، او اِنْ په معنٰی دَ اِذَا دے معنٰی دا ده " او کله چه دوی مات کړو لوظ خپل" بیا په دے آیت کښ درے صفات ذکر دی۔ دا آیت دلیل دے په دے خبره چه چا طعن اوکړو په دین اسلام کښ نو هغه کافر دے یا کافر معاهد او ذمی طعن اوکړی نو دَ هغه ذمه او امن ختم شو (خازن مدارک) طعن دا دے چه نسبت اوکړی دین ته دَ هغه څیز چه مناسب نه وی یا سپک اوګنړی دین لره او دا رنګ کنځل اوکړی پیغمبر ته یا قرآن پاک ته یا نورو دَ دین احکامو ته نو دا طعن کول کفر دے او دوی ته یې اماما ن دَ کفر او وئیل ځکه چه دا سے سړے بنیاد دَ کفر جوړوی او نور خلق یې تابعداری کوی۔ اَيْمَانَهُمْ، په وخت

أَيْمَانَهُمْ وَهَمُّوا بِإِخْرَاجِ الرَّسُولِ وَهُمْ

قسمونه خپل او کوشش ئې کړیوو په ویستلو دَ رسول (صلّی الله علیه وسلّم) او دوی

بَدَءُوكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ أَتَخْشَوْنَهُمْ فَاللَّهُ أَحَقُّ

شروع اوکړه په تاسو باندې (په جنګ کولو کښې) اول ځل - آیا یریږئ تاسو دَ دوی نه، پس الله تعالیٰ زیات حقدار دے

أَنْ تَخْشَوْهُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ⑬ قَاتِلُوهُمْ

چه یره اوکړئ دَ هغه نه ځکه چه تاسو مؤمنان یئ. جنګ کوئ دَ دوی سره

يُعَذِّبْهُمُ اللَّهُ بِأَيْدِيكُمْ وَيُخْزِهِمْ وَيَنْصُرْكُمْ

عذاب به ورکړی دوی ته الله تعالیٰ په لاسونو ستاسو او او به شرموی دوی لره او امداد به اوکړی تاسو سره

عَلَيْهِمْ وَيَشْفِ صُدُورَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ ⑭

په مقابله دَ دوی کښې او شفاء به ورکړی سینو دَ قوم مؤمنانو ته.

دَ عهد کښې قسم ذکر کیږی ځکه ئې ایمان اوئیلو۔ اِنَّهُمْ لَآ اَيْمَانَ لَهُمْ، اول ئې دوی له ایمان (قسمونه) ثابت کړل او اوس ئې ترینه نفی کړل ځکه چه هر کله ئې اَيْمَان مات کړل نو پشان دَ نیشت شول.

۱۳ په دے آیت کښې نور دوه صفات دی او ترغیب دے مؤمنانو ته په قتال دَ هغې مشرکانو سره چه په هغوی کښې دا صفات موجود دوی او ترغیب په پنځو طریقو سره دے۔ (۱) لفظ اَلَا دَ پاره دَ تحضیض (۲) ذکر دَ دوه علتونو (۳) اتخشونهم (۴) فالله احق (۵) ان کنتم مؤمنین۔ وَهَمُّوْا، هم په معنی دَ کوشش کولو دے ځکه صرف هَمْ دَ ګناه خو ګناه نه دے۔ او اِخْرَاج نه مراد اخراج دے دَ مکے نه او په هغه هَمْ کښې دوی کامیاب شول یا اخراج دَ مدینے نه او په دے کښې دوی کامیاب نه شول.

۱۴ په دے آیت کښې اعلان قتال دے پس دَ بیان دَ اسبابو دَ هغې نه او دَ هغې خلور فائدے ذکر کوی۔ يُعَذِّبْهُمْ، مراد دَ دے نه قتل دے۔ وَيُخْزِهِمْ شامل دے قید کولو او ذلیل کولو ته۔ يَشْفِ، مراد دَ شِفَاء نه خوشحالی دَ زړونو ده۔

وَيُذْهِبْ غَيْظَ قُلُوْبِهِمْ ۚ وَيَتُوْبُ اللّٰهُ عَلٰى

او لرې به کړي غصه د زړونو د کافرانو نه۔ او مهرباني به اوکړي الله تعالىٰ په هغه چا باندې

مَنْ يَّشَآءُ ۚ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿١٥﴾ اَمْ حَسِبْتُمْ

چه او يې غواړي (د توفيق د ايمان) او الله تعالىٰ پوهه دے حکمتونو والا دے۔ آيا گمان کوئ تاسو

اَنْ تُتْرَكُوْا وَلَمَّا يَعْلَمِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ جَاهَدُوْا

چه پرې به خودے شئ (بغير د امتحان نه) او تر اوسه نه دی ښکاره کړي الله تعالىٰ هغه کسان چه جهاد يې کړيوی

مِنْكُمْ وَلَمْ يَتَّخِذُوْا مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَلَا رَسُوْلِهٖ

ستاسو نه او نه يې وی نيولے سيوا د الله تعالىٰ نه او نه د رسول د هغه نه

وَلَا الْمُؤْمِنِيْنَ وَلِيْجَةً ۚ وَاللّٰهُ خَبِيْرٌۢ بِمَا تَعْمَلُوْنَ ﴿١٦﴾ ع ٢ ٨

او نه د مؤمنانو نه رازدار دوست۔ او الله تعالىٰ خبردار دے په هغه عملونو چه تاسو يې کوئ۔

مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسٰجِدَ اللّٰهِ

نشي قبليدے د مشرکانو د پاره چه آباد وی دوی جوماتونه د الله تعالىٰ

ف ١٥ په دے آيت کښ دوه فائدے د قتال ذکر دی۔ او ضمير د قُلُوْبِهِمْ کافرانو ته راجع دے۔

وَيَتُوْبُ، دا کلام مستانف دے ځکه مرفوع دے۔

ف ١٦ دے کښ ترغيب دے جهاد ته، مطلب يې دا دے چه الله تعالىٰ مؤمنانو لره بغير د امتحانه نه پريږدی لکه د دوی امتحان به په دوه طريقو سره وی يو جهاد دويم براءت د مشرکينو نه۔

وَلَمْ يَتَّخِذُوْا، دا جمله يې د دے وجے نه راوړه چه په دے سورت کښ اعلانِ براءت وؤ او براءت وائي دے ته چه هغوی سره تعلق پريږدی۔

وَلِيْجَةً، فراء وئيلي دی چه وليجه د راز دوستانے ته وئيلے شی او امام راغب وئيلي دی وليجه هر هغه څوک کيدے شی چه انسان په هغه باندے اعتماد کوی۔

شَاهِدِيْنَ عَلٰٓى اَنْفُسِهِمْ بِالْكُفْرِ ؕ اُولٰٓئِكَ

اقرار کوونکے دی په ځانونو خپلو باندے په کفر سره. دغه کسان

حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ ۚ وَفِي النَّارِ هُمْ خٰلِدُوْنَ ﴿۱۷﴾

برباد دی عملونه د دوی او په اور کښې به دوی همیشه وی.

اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسٰجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

یقینًا آبادوی جوماتونه د الله تعالیٰ هغه څوک چه ایمان لري په الله تعالیٰ او په ورځ

الْاٰخِرِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ وَلَمْ يَخْشَ

روستنۍ او پابندی کوی د مانځه او ورکوی زکوٰة او نه یریږی د هیچا نه

اِلَّا اللّٰهَ فَعَسٰٓى اُولٰٓئِكَ اَنْ يَّكُوْنُوْا مِنَ

سیوا د الله تعالیٰ نه. پس لائق ده چه هم دغه کسان به وی د

الْمُهْتَدِيْنَ ﴿۱۸﴾ اَجَعَلْتُمْ سِقَايَةَ الْحَآجِّ

هدایتوالو نه. آیا گرځئ تاسو اوبه څښکول په حاجیانو

۱۷ په دے آیت کښې جواب دے د دویم مانع د قتال. چه سوال راتلو چه دا مشرکان خوخدمت کوی د مساجدو او خاصکر د مسجد حرام او په حاجیانو باندے اوبه څښکوی نو د دوی سره قتال ولے جائز دے؟ نو جواب ورکړے شو چه د مشرکانو عملونه دغسے برباد وی. شَاهِدِيْنَ، اقرار ئے د کفر دا دے (په ژبے سره) چه خپل معبودانو ته مخلوق وائي او بیا هم الله تعالیٰ سره شریکوی او اقرار په عمل سره دا دے چه کارونه د شرک ښکاره کوی لکه سجده او دُعا د غیر الله. مَا كَانَ کښې اشاره ده چه مؤمنان به مشرکانو ته د جوماتونو د جوړولو تمکین (طاقت) نه ورکوی. مَسٰجِدَ اللّٰهِ، جمع ئے ذکر کړه د پاره د تعمیم د حکم ټولو مساجدو ته.

۱۸ دے آیت کښې صفات د مؤمنانو ذکر دی چه د دے وجے نه د هغوی آبادول جوماتونو له قبول دی. او آبادول دوه قسمه دی یو ظاهری آبادی دا هم عبادت دے د هغے صفائي او په هغے کښې رڼاکول وغیره. دویم آبادول د جوماتونو په

وَعِمَارَةَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ كَمَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ

او اباڈول دَ مسجد حرام پشان دَ هغه چا چه ایمان لري په الله تعالیٰ

وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَجَاهَدَ فِىْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

او په ورځ روستنۍ او جهاد کوي په لار دَ الله تعالیٰ کښې

لَا يَسْتَوٗنَ عِنْدَ اللّٰهِ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى

نه دي برابر دوي په نيز دَ الله تعالیٰ - او الله تعالیٰ نه ورکوي ثواب

الْقَوْمَ الظّٰلِمِيْنَ ⑲ اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَهَاجَرُوْا

قوم ظالمانو ته - هغه کسان چه ایمان يې راوړے دے او هجرت يې کړے دے

وقف لازم

عبادت سره دي په عقيده دَ توحيد او په طريقه دَ سنت باندے - وَلَمْ يَخْشَ اِلَّا اللّٰهَ خشيت هغه يره ده چه سره دَ تعظيم نه وي او داخاص ده په الله تعالیٰ پورے. اَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ، په دے کښې اشاره ده چه نفل کارونه (لکه تعمير دَ مسجد) روستو دے دَ اداکولو دَ فرضونه چه فرض بدني وي او مالي وي. وَلَمْ يَخْشَ کښې اشاره ده اخلاص ته په ټولو عباداتو کښې دَ دے وجے نه روستو يې ذکر کړو. فَعَسٰى، عسٰى دَ الله تعالیٰ دَ طرف نه دَ وجوب (يقين) دَ پاره وي ليکن هر کله چه اهتداء نه مراد قبوليت دے او دَ هغے علم دَ الله تعالیٰ سره دے نو دَ دے وجے په لفظ دَ عسٰى سره ذکر کړو.

۱۹ دا ایت هم دَ مخکښې جواب سره متعلق دے، حاصل دا دے چه نيک عملونه دَ مشرکانو برباد دي دے وجے نه هغوي په دغے عمل سره دَ ايمان والو سره نه شي برابر کيدلے. او په دے ایت کښې رد دے په هغه چا باندے چه فخر کوي په نيک کارونو باندے لکه جوماتونه جوړول او خيراتونه کول سره دَ عقيدے دَ شرک او کفر نه.

سِقَايَةَ، دَ دے نه مخکښې لفظ دَ اهل پټ دے يا په كَمَنْ سره لفظ دَ ايمان پټ دے. لَا يَهْدِى، مراد دَ هدايت نه قبوليت او ثواب ورکول دي يا مراد دَ دے بصيرت او پوهه ده دَ پاره دَ فرق کولو دَ خير او شر.

وَجٰهَدُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ بِاَمْوَالِهِمْ

او جهاد ئې کړيدے په لار د الله تعالیٰ کښې په مالونو خپلو سره

وَاَنْفُسِهِمْ ۙ اَعْظَمُ دَرَجَةً عِنْدَ اللّٰهِ ؕ

او په ځانونو خپلو سره، لوئې درجے والا دی په نيز د الله تعالیٰ.

وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْفَآئِزُوْنَ ﴿۲۰﴾ يُبَشِّرُهُمْ

او دغه کسان خاص دوی کامياب دی. زيرے ورکوی دوی لره

رَبُّهُمْ بِرَحْمَةٍ مِّنْهُ وَرِضْوَانٍ وَّجَنّٰتٍ

رب د دوی په مهربانئ خپلے سره او په رضامندئ خپلے سره او په جنتونو سره

لَّهُمْ فِيْهَا نَعِيْمٌ مُّقِيْمٌ ﴿۲۱﴾ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ

چه دوی لره به په هغے کښې نعمتونه هميشه وی، دوی هميشه به وی په هغے کښې

اَبَدًا ؕ اِنَّ اللّٰهَ عِنْدَهٗٓ اَجْرٌ عَظِيْمٌ ﴿۲۲﴾

هميشه. يقيناً د الله تعالیٰ سره دے اجر (بدله) لوئے،

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَتَّخِذُوْٓا اٰبَآءَكُمْ

اے ايمان والو مه نيسئ پلاران خپل

ن۲۰ دا ايت علت دے يا تفسير دے د مخکښې ايت د پاره چه په هغے کښې فرمائيلي وو لا يستوون. او په دے کښې بل جانب مرجوح نه دے ذکر کړے محکه چه کالعدم دے.

ن۲۱ ۲۲ په دے دواړو ايتونو کښې اخروی زيرے دے او دا تفسير دے د الفائزون د پاره.

برحمة، مراد د دے نه بچ کول دی د هر عذاب نه لکه په سورة انعام ن۱۶ او مؤمن ن۹ کښې دی يا مراد د دے نه قبلول د عملونو د دوی دی.

وَاِخْوَانَكُمْ اَوْلِيَآءَ اِنِ اسْتَحَبُّوا الْكُفْرَ عَلَى

او رونړه خپل دوستان که خوخوي دوى كفر لره په

الْاِيْمَانِ ؕ وَمَنْ يَّتَوَلَّهُمْ مِّنْكُمْ فَاُولٰٓئِكَ

ايمان باندے. او چاچه دوستانه اوكړه د دوى سره ستاسو نه پس دغه كسان

هُمُ الظّٰلِمُوْنَ ﴿٢٣﴾ قُلْ اِنْ كَانَ اٰبَآؤُكُمْ

خاص دوى ظالمان دى ته اووايه كه وى پلاران ستاسو

وَاَبْنَآؤُكُمْ وَاِخْوَانُكُمْ وَاَزْوَاجُكُمْ وَعَشِيْرَتُكُمْ

او ځامن ستاسو او رونړه ستاسو او بيبيانے ستاسو او قبيلے ستاسو

وَاَمْوَالُ ۨاقْتَرَفْتُمُوْهَا وَتِجَارَةٌ تَخْشَوْنَ

او هغه مالونه چه ګټلي تاسو هغے لره او تجارت چه يريږئ تاسو

كَسَادَهَا وَمَسٰكِنُ تَرْضَوْنَهَآ اَحَبَّ اِلَيْكُمْ

د كوپه كيدلو د هغے نه او هغه كورونه چه خوخوئ تاسو هغے لره ډير خوږ دى تاسو ته

٢٣ داجواب دے د دريم مانع د قتال. سوال داوو چه دے مشركانو سره زمونږه خپلولى ده او صله رحمى ساتل خو واجب وى نو دوى سره قتال ولے واجب شو؟

نوجواب اوشو چه د مشركانو سره دوستانه كول اګرچه خپلوان وى حرامه ده او د دوستانے تفسير دادے چه په كار د كفر او د شرك كښ د هغوى تابعدارى كوى يا په دغے كارونو كښ د دوى امداد كوى يا د هغے د وجے نه جهاد پريږدى

فائده: په دے ايت كښ ئے ذكر د ځامنو ځكه نه دے كړے چه ځامن تابع د پلار وى. نو پلار د ځوى سره دوستانه په طريقه د تابعدارئ د هغه نه كوى.

او د دے ايت په تفسير كښ د عبدالله ابن عباس رضى الله عنهما نه نقل دے چه څوک په شرک باندے رضا شو نو هغه مشرک دے.

مِّنَ اللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ

دَ اللّٰه تعالىٰ نه او دَ رسول (صلى الله عليه وسلم) دَ هغه نه او دَ جهاد نه په لاره دَ هغه کښې

فَتَرَبَّصُوْا حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ ؕ وَاللّٰهُ

پس انتظار اوکړئ تر دے چه راپه ولی الله تعالىٰ فيصله خپله، او الله تعالىٰ

لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ۟ؑ ۲۴ لَقَدْ

ع ۳/۸ ۹

توفيق نه ورکوی قوم نافرمان ته. يقيناً

نَصَرَكُمُ اللّٰهُ فِيْ مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ ۙ وَّيَوْمَ حُنَيْنٍ ۙ

امداد کړے دے تاسو سره الله تعالىٰ په ځايونو ډيرو کښې او په ورځ دَ حنين

اِذْ اَعْجَبَتْكُمْ كَثْرَتُكُمْ فَلَمْ تُغْنِ عَنْكُمْ شَيْـًٔا

کله چه خوشحاله کړئ تاسو ډيروالی ستاسو. پس فائده ئے درنکړه تاسو ته هيڅ فائده

۲۴ دا آيت هم دَ مخکښې آيت سره تعلق لری او دَ مخکښې نه ترقی ده په بيان کښې ځکه چه مخکښې ئے ولايت منع کړو دَ کافرانو سره او په دے آيت کښې هر قسم تعلق ساتل دَ هر چا سره په مخالفت دَ الله او دَ رسول کښې منع کوی - او زور نه ده هغه چا ته چه دَ الله تعالىٰ او دَ رسول صلى الله عليه وسلم دَ حکم په مقابله کښې خپلوان يا دَ دُنيا څيزونه غوره کوی دا رنګ دَ هغوی دَ مينے دَ وجے نه هجرت او جهاد پريږدی -

کشاف وئيلے دی چه دا ډير سخت آيت دے په بندګانو باندے يعنی هر مسلمان دے دَ ځان سره انصاف اوکړی چه آيا دے خپل ځان لره دَ الله تعالىٰ په دين کښې داسے کلک مومی لکه چه دَ دے آيت تقاضا ده - او رازی وئيلے دی دا آيت دليل دے چه يو طرف ته دَ دين يو مصلحت وی او بل طرف ته دَ دنيا بے شماره مصلحتونه وی ليکن په مسلمان باندے فرض دے رعايت دَ مصلحت دَ دين او ترجيح دَ دين په دنيا باندے - وَجِهَادٍ فِيْ سَبِيْلِهٖ، دَ دے تخصيص په دے وجے سره او شو چه دا ذريعه دَ إعلاء او غلبے دَ دين الٰهي ده - اَمْرِهٖ، مراد دَ دے نه عذاب دے دَ دنيا په مختلفو طريقو سره - الْفٰسِقِيْنَ، مراد هغه خلق دی چه ښکاره وتلے دی دَ طاعت دَ الله او دَ رسول نه او توبه ئے نه ده کړے - او لَا يَهْدِي نه مراد دَ عذاب نه بچ کول دی.

وَّضَاقَتْ عَلَيْكُمُ الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ ثُمَّ

او تنګه شوه په تاسو باندې زمکه سره ددې فراخوالي نه بيا

وَلَّيْتُمْ مُّدْبِرِيْنَ ﴿٢٥﴾ ثُمَّ اَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ

او ګرځيدئ تاسو (د ميدان جنګ نه) شاګرځونکي۔ بيا را اوليږله الله تعالیٰ تسلي د خپل طرفه

عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَعَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ وَاَنْزَلَ

په رسول (صلی الله عليه وسلم) خپل او په مؤمنانو باندې او را اوليږل ئې

جُنُوْدًا لَّمْ تَرَوْهَا وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ط

داسې لښکرې چه نه ليدل تاسو هغه او عذاب ئې ورکړو کافرانو لره۔

۲۵ ربط د مخکښ سره دادې لکه چه اعتماد په دغه ذکر کړې شوې څيزونو باندې منع دې نو دارنګ اعتماد کول په خپل ډيروالي باندې هم منع دې او په دې آيت کښ زيرې دې په امداد د الله تعالیٰ سره د پاره د ترغيب د جهاد، دويم مقصد دا دې چه اعتماد په خپل ډيروالي باندې مه کوئ بلکه توکل کوئ په الله تعالیٰ۔

مَوَاطِنَ كَثِيْرَةٍ، مراد د دې نه مغازي (غزاګانې) دي. مؤرخينو وئيلي دي چه اتيا[80] مغازي په ژوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم کښ موجود شول او په روايت د بخاري کښ دي چه نبي صلی الله عليه وسلم پخپله په نولس[19] غزاګانو کښ شريک شوې دې۔

وَيَوْمَ حُنَيْنٍ، د دې تخصيص ئې د دفع د وهم د وجې نه اوکړو که څوک وهم اوکړي چه په حنين کښ خو هزيمت شوې دې نو معلومه شوه چه نصرت الٰهي نه وو نو د هغې جواب ئې اوکړو. او حُنَيْن د مکې او د طائف په مينځ کښ وادي ده او په مقابله کښ د هوازن او ثقيف قبيلو څلور زره کسان وو چه هغوی د غشو ويشتلو ډير تکړه وو غزوه د حنين د فتح مکې نه روستو وه او لښکر د مؤمنانو دولس زره کسان وو ليکن په هغوی کښ نوي مسلمانان وو چه دا د ادابو نه پوره خبر نه وو نو د دې وجې نه د جنګ په ابتداء کښ تنګ شول او ميدان ئې پريښودلو۔

وَذٰلِكَ جَزَآءُ الْكٰفِرِيْنَ ﴿٢٦﴾ ثُمَّ يَتُوْبُ اللّٰهُ

او دا سزا ده دَ کافرانو - بیا مهربانی اوکړه الله تعالیٰ

مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ ۗ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ

روستو دَ دے (غلبے) نه په هغه چاچه اوئے غوښتل- او الله تعالیٰ بخونکے

رَّحِيْمٌ ﴿٢٧﴾ يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْٓا اِنَّمَا الْمُشْرِكُوْنَ

رحم کوونکے دے- اے ایمان والو یقیناً مشرکان

نَجَسٌ فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ بَعْدَ

پلیت دی نو نه دے نیزدے کیږی مسجد حرام ته روستو د

عَامِهِمْ هٰذَا ۚ وَاِنْ خِفْتُمْ عَيْلَةً فَسَوْفَ

دے کال نه (نهم کال دَ هجرت)- او که یریږئ تاسو دَ فقیرئ نه نو زر دے چه

يُغْنِيْكُمُ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖٓ اِنْ شَآءَ ۭ اِنَّ اللّٰهَ

مالدار به کړی تاسو لره الله تعالیٰ دَ فضل خپل نه که اوغواړی- یقیناً الله تعالیٰ

٢٦ دے ایت کښ ذکر دَ امداد دَ الله تعالیٰ دے په ورځ دَ حنین پسے روستو حالت چه الله تعالیٰ ملائیک رالیږل او کافران ئے مغلوب کړل-
علیٰ رَسُوْلِهٖ، دا سے په سورة فتح ٢٦ کښ هم دی او په دے کښ اشاره ده چه رسول هم دَ الله تعالیٰ سکینے ته محتاج دے اګرچه په هغه باندے په دے واقعه کښ هیڅ اضطراب نه وو راغلے صرف خفګان وربانده راغے کمزورو دَ تللو دَ وجے نه-
وَعَذَّبَ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا، څه ئے قتل کړل او ډیرئے قید کړل بیا روستو دَ ایمان راوړلو نه ئے واپس ورکړل-
٢٧ دے کښ اشاره ده چه پس دَ جنګ نه ډیرو کافرانو ته توفیق دَ ایمان ورکړے شو دا رنګ په دے ایت کښ بخنه دَ صحابو کرامو ته هم اشاره ده-
يَتُوْبُ حکایت دَ حال ماضیه دے دَ پاره دَ دے چه راتلونکے زمانے ته شامل شی.

عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿۲۸﴾ قَاتِلُوا الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ

پوهه دے حکمت والا دے ۔ جنګ کوئ د هغه کسانو سره چه ایمان نه لري

بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَلَا يُحَرِّمُوْنَ

په الله تعالیٰ باندے او نه په ورځ روستنئ (په شان د ایمان د صحابه کرامو) او حرام نه ګڼري

مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ وَلَا يَدِيْنُوْنَ دِيْنَ

هغه څیز چه حرام کړیدے الله تعالیٰ او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه، او تابعداري نه کوي د دین

الْحَقِّ مِنَ الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ حَتّٰى

حق د هغه کسانو نه چه ورکړے شوے دے ورته کتاب تر دے

۲۸ په دے آیت کښ د براءت یو طریقه ذکر ده، او هغه داده چه مشرکانو لره د حج او د عمرے او د حرم د داخلیدلو نه منع کړئ او د هغے علت ذکر شو چه دوی نجس (پلیت) دی۔ اکثرو علماؤ وئیلی دی چه مراد د نجاست نه نجاست باطنی دے چه هغه شرک دے او د بعضو اهلِ علمو په نیز باندے مراد د نجاست نه نجاست ظاهری د بدن دے۔

فَلَا يَقْرَبُوا الْمَسْجِدَ الْحَرَامَ، مراد د دے نه د حج او عمرے او طواف نه منع کول دی او مسجد حرام ته او نورو مساجدو ته داخلیدل په نیز د احنافو جائز دی او په نیز د امام شافعی صرف مسجد حرام ته منع دی نورو مساجدو ته جائز دی او په نیز د امام مالک ټولو مساجدو ته منع دی. غوره داده چه مراد د مسجد حرام نه ټول حرم دے او د مشرکانو کافرانو داخله حرم ته منع ده۔

بیا په دے آیت کښ جواب دے د څلورم مانع د قتال۔ سوال داوو چه د مشرکانو د طرف نه مونږ له مالونه راځی نو که هغوی سره قتال کوو او د حرم نه ئے بند کړو نو هغه مالونه به بند شی؟

نو جواب اوشو چه پرواه مه کوئ الله تعالیٰ به د بل طرف نه څه سبب جوړکړی إِنْ شَاءَ، دا دلیل دے په دے باندے چه مالداری او غریبی په اختیار د بندګانو کښ نه دی بلکه دا اختیار د الله تعالیٰ دے۔

يُعْطُوا الْجِزْيَةَ عَنْ يَّدٍ وَّهُمْ صٰغِرُوْنَ ﴿٢٩﴾ ع

چه ورکوی به جزیه (ټیکس) په خپل لاس سره او دوی به ذلیلان وی.

وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ عُزَيْرُ ابْنُ اللّٰهِ وَقَالَتِ

او وائی یهودیان عزیر (علیه السلام) ځوئے د الله تعالیٰ دے او وائی

النَّصٰرَى الْمَسِيْحُ ابْنُ اللّٰهِ ۭ ذٰلِكَ قَوْلُهُمْ

نصاریٰ چه عیسیٰ (علیه السلام) ځوئے د الله تعالیٰ دے، دا وینا د دوی ده

۲۹ د دے ایت نه دویمه حصه د سورت ده تر اوو دیرش ایت پورے او په دے حصه کښ ذکر د اهلِ کتابو کافرانو دے او د هغوی د قتال د پاره ۱۳ دیارلس وجے یے ذکر کړے دی۔ په دے ایت کښ د هغے نه درے ذکر دی، او دِے ایت نه دا معلومه شوه چه د قتال د دے کافرانو نه مقصد کمزورے کول د دوی دی نو که دار اسلام کښ اوسی او جزیه ورکوی یا د دار اسلام نه بهر وی لیکن مسلمانانو سره صلحه اوکړی په جزیه ورکولو نو دا جائز دی او تفصیلی احکام د جزیئے په احادیثو کښ او په کتابونو د فقهه کښ ذکر دی۔

وَهُمْ صٰغِرُوْنَ، دا دلالت کوی په دے خبره چه اهل ذمه په دار اسلام کښ به د عزت په طور نه شی اوسیدلے۔

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَلَا بِالْيَوْمِ الْاٰخِرِ، مراد د دے نه نفی د ایمان شرعی ده چه هغه ایمان د صحابو دے او یهودیان عقیده د تجسیم او تشبیه لری او نصاریٰ عقیده د حلول او تثلیث لری او بعث د ارواحو بغیر د اجسادو نه منی او جنت د ځان د پاره خاص کوی۔

مَا حَرَّمَ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ، یعنی تحریمات د قرآن او د سنت نه منی یا د تورات او انجیل هم نه منی په هغے کښ یے تحریف کړے دے۔

عَنْ يَّدٍ، په خپل لاس به یے ورکوی او نقد به اداکوی او په زور سره به ورکوی دے ته عَنْ يَّدٍ وئیلے شی۔

وَهُمْ صٰغِرُوْنَ، دا دلیل دے چه معاهد او اهلِ ذمه به دار اسلام کښ په عزت سره نه اوسیږی اهلِ علمو وئیلی دی چه په ښارونو کښ به نه اوسیږی د ځنګے آبادئ به نه کوی د اسلامی حکومت په فوج کښ او نورو اعلیٰ عهدو باندے به نه مقرریږی.

بِأَفْوَاهِهِمْ ۖ يُضَاهِئُونَ قَوْلَ الَّذِينَ

په خلو د دوی (بې دلیله) یو شان والے کوی دوی د وینا د هغې کسانو سره

كَفَرُوا مِن قَبْلُ ۚ قَاتَلَهُمُ اللَّهُ ۚ أَنَّىٰ

چه کفر یې کړیدے د دوی نه مخکښ - لعنت دے اوکړی الله تعالیٰ په دوی باندے، څه رنګه

يُؤْفَكُونَ ﴿٣٠﴾ اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ

اوړولے کیږی دوی د حق نه - جوړ کړیدی دوی ملیان خپل او پیران خپل

ن۳۰ په دے آیت کښ نور څلور اسباب د قتال د هغوی ذکر دی.اوشرک د یهودو داووچه عزیر علیه السلام ته یې ابن الله وئیلو او شرک د عیسایانو داووچه عیسیٰ علیه السلام ته یې ابن الله وئیلو.او په دوی کښ د عوامو عقیده داوه چه دوی حقیقتاً ځامن د الله تعالیٰ دی.اود خاصو خلقو عقیده داوه چه دوی د الله تعالیٰ د پاره پشانته د نازولو ځامنو دی چه پلار د هغوی خبره منی اوهغوی ته یې اختیارات سپارلے وی اودا دواړه عقیدے د کفر دی.اود دے اُمت په جاهلانو کښ دادویمه عقیده په کثرت سره موجود ده.ابن عطیه په محرر الوجیز کښ وئیلی دی چه دا ځوئي والے د محبت اود شفقت دے حقیقی نه دے اوبیشاپوری وئیلی دی چه هرکله عزیر علیه السلام یهودوته ډیره زمانه روستو تورات په یاد وباندے اولوستلو نو هغوی عقیده اوساتله چه دے مظهر د صفت د علم د الله تعالیٰ دے یعنی دے یې علیم بکل شئ ګرځولے دے اوهرکله چه عیسیٰ علیه السلام معجزات پیش کړل نو نصاراؤ عقیده اوساتله چه دهٔ ته الله تعالیٰ صفت د تصرف د کل شئ ورکړیدے اومظهر د صفت د قدرت او تصرف یې ګرځولے دے یعنی اثر د الوهیت په عزیر او عیسیٰ علیهما السلام کښ ښکاره دے لکه چه اثر د پلار په ځوئي کښ ښکاریږی.

قَوْلُهُم بِأَفْوَاهِهِمْ، مراد د دے نه وینا بے دلیله ده. قَوْلَ الَّذِينَ كَفَرُوا، مراد د دے نه هغه امیان کافران دی چه هغوی ملائیکوته بنات الله وئیل (لونړه د الله تعالیٰ) یا مراد د دینه مشران د دوی دی چه دوی په کفر کښ د هغوی تقلید کوؤ یا مقصد دا دے چه موجوده یهود او نصاریٰ تقلید کوی د مشرانو ګمراهانو.دارنګ مراد د دینه بوذیه او براهمه کافران دی چه د یهود او نصاراؤ نه مخکښ تیر شویدی او هغوی د بوذا اود برهما په باره کښ عقیده ساتله چه دوی ځامن د الله تعالیٰ دی (تاریخ ابو زهره).

قَاتَلَهُمُ اللَّهُ، دا دُعاءِ شر ده (خیرے) او مراد د دے نه لعنت دے.

أَرْبَابًا مِّنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ ج

اختیار من (د احکامو د حلال وحرام) سیوا د الله تعالیٰ نه او مسیح ځوئے د مریم

وَمَآ اُمِرُوْٓا اِلَّا لِيَعْبُدُوْٓا اِلٰهًا وَّاحِدًا ج

او نه دے کړے شوے حکم دوی ته مګر د دے خبرے چه بندګی د دے خاص کړی د معبود کار یو،

لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ ط سُبْحٰنَهٗ عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴿٣١﴾

نیشته حقدار د بندګی سیوا د هغه نه. پاک دے الله تعالیٰ د هغے نه چه دوی ور سره څه شریک جوړوی.

---

٣١ په دے ایت کښ نور اسباب د قتال ذکر دی. اَحْبَار هغه علماؤ ته وائي چه الفاظ او معنیٰ په خائسته طریقے سره راوړی. او رُهْبَان هغه کسانو ته وائي چه یره کوی د الله تعالیٰ نه او خپل وخت او عمل خاص د الله تعالیٰ د پاره خرچ کوی. لیکن په دے ایت کښ چه اضافت د دوی ئے ضمیر د هغوی ته اوکړو دا دلیل دے په دے بانده چه مراد د دے نه ناکاره مُلایان او پیران دی چه هغوی به دوی ته شرک او کفر او بدعات خائسته کول او وئیل به ئے چه دا دین دے. اَرْبَابًا، مراد د دے نه دا نه دے چه دوی ملایان او پیران خدایان ګنړل. دا رنګ هغوی لره عبادت ئے هم نه دے کړے لیکن مراد دا دے که هغوی به دوی لره یو حرام شیز جائز کوو نو دوی به جائز ګنړلو او که یو حلال شیز به ئے حراملو نو دوی به حرام ګنړلو لکه دا رنګ حدیث د عدی ابن حاتم رضؓ کښ راغلے دی چه ترمذی روایت کړے دے نو د دینه دا معلوم شوه چه د ملا یانو او د پیرانو وغیرهٔ تقلید کول په خلاف د حکم شرعی کښ شرک دے. او معلومه شوه چه رب په معنیٰ اختیارمند د حکم سره دے او دیته شرک فی الحکم او فی التشریع وئیلے کیږی او لفظ د یشرکون په دے دلالت کوی. او امام رازی په تفسیر کښ د ابوالعالیه نه نقل کړیدی چه دوی به هر کله په کتاب د الله کښ داسے حکم اومندلو چه د قول د احبارو او رهبانو نه به مخالف وو نو دوی به قول د کتاب الله پریخودلو او د هغوی قول به ئے اخستلو بیا ئے ورپسے ذکر کړیدی چه داسے حال زمونږ د زمانے د مقلدینو هم دے چه د دوی د مذهب نه خلاف ایت یا حدیث دوی ته اولوستلے شی نو هغے ته التفات نه کوی.

وَالْمَسِيْحَ ابْنَ مَرْيَمَ، دائے جدا ځکه ذکر کړو چه هغه ئے د الله تعالیٰ سره صرف په عبادت کښ شریک کړے وو نه په تابعدارئ کښ بلکه د هغه تابعداری ئے

يُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّطْفِـُٔوْا نُوْرَ اللّٰهِ بِاَفْوَاهِهِمْ

کوشش کوی دوی چه مړه کړی رڼړا د الله تعالیٰ په خپلو خلو سره

وَيَاْبَى اللّٰهُ اِلَّاۤ اَنْ يُّتِمَّ نُوْرَهٗ وَلَوْ كَرِهَ

او نه غواړی الله تعالیٰ مګر دا خبره چه پوره کړی رڼړا خپله اګرکه بد یئ ګڼړی

الْكٰفِرُوْنَ ﴿٣٢﴾ هُوَ الَّذِيْۤ اَرْسَلَ رَسُوْلَهٗ

کافران - الله تعالیٰ هغه ذات دے چه رالیږلے یئ دے رسول خپل

بِالْهُدٰى وَدِيْنِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهٗ عَلَى الدِّيْنِ

په هدایت سره او په دین حق سره دے د پاره چه غالب یئ کړی په دینونو

كُلِّهٖ ۙ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُوْنَ ﴿٣٣﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا

ټولو باندے اګرکه بد یئ ګڼړی مشرکان - اے ایمان والو

النصف

پریښودلے وه او دا شرک فی الالوهیت دے او دا دواړه قسمه شرکونه د دے اُمت په جاهلانو کښ هم موجود دی - فائده: دا آیت دلیل دے په دے خبره چه کتابی عمل د شرک کوی اګرچه هغے ته شرک نه وائي لتو دے مشرک دے -

۳۲ دا بل سبب د قتال دے - نُوْرَ اللّٰهِ نه مراد دین توحید دے - او بِاَفْوَاهِهِمْ نه مراد بے دلیله خبرے دی - يُرِيْدُوْنَ، مراد د اراده نه کوشش کول دی او دا سے په سورة صف ۸ کښ هم دی - اَنْ يُّطْفِـُٔوْا، بغیر د لام نه یئ ذکر کړے دے اشاره ده چه نور (رڼړا) مړکول د دوی اصل مقصد دے -

۳۳ دے آیت کښ بیان د اِتمام د نور دے او بیان د صداقت د آخری پیغمبر دے د هُدٰى نه مراد اصول او عقائد دی - او دِيْنِ الْحَقِّ احکام او فروع دی - لِيُظْهِرَهٗ دا ضمیر یا راجع دے دین ته، معنیٰ دا ده چه دین اسلام لره په ټولو دینونو غالب کوی په اعتبار د دلیلونو سره غالب دے په هره زمانه کښ او په اعتبار د تسلّط سره غالب به وی په زمانه د نزول د عیسیٰ علیه السلام کښ یا مراد د دے نه غلبه د دین ده په جزیرة العرب کښ او دا په زمانه د نبی صلی الله علیه وسلم کښ موجود شوے وه - یا دا ضمیر راجع دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته معنیٰ

إِنَّ كَثِيرًا مِّنَ الْأَحْبَارِ وَالرُّهْبَانِ لَيَأْكُلُونَ

يقيناً ډير د ملياتو نه او پيراتو نه خامخا خوري

أَمْوَالَ النَّاسِ بِالْبَاطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن

مالونه د خلقو په ناروا طريقه او منع كوي خلق د

سَبِيلِ اللَّهِ ۗ وَالَّذِينَ يَكْنِزُونَ الذَّهَبَ

لارے د الله تعالىٰ نه، او هغه كسان چه جمع كوي سره زر

وَالْفِضَّةَ وَلَا يُنفِقُونَهَا فِي سَبِيلِ اللَّهِ لا

او سپين زر او نه خرچ كوي هغه په لارے د الله تعالىٰ كښ

فَبَشِّرْهُم بِعَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣٤﴾ يَوْمَ يُحْمَىٰ

نو زيرے وركړه دوى لره په عذاب دردناك سره. په هغه ورځ چه گرمولے به شي

داشوه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم له خبر وركوى په ټول دين اسلام باندے
اوداسے آيت په سورة صف ت٩ اوسورة فتح ت٢٨ كښ هم دے. فائده: د اول آيت
فاصله په لفظ د كافرون سره ده او د دے آيت فاصله په لفظ د مشركون سره ده
ځكه چه اول آيت كښ لفظ د نور دے اومقابل د نور تيارة ده. اوكفر تيرے ته وائي
اوپه دے آيت كښ هدىٰ توحيد دے اومقابل د هغے مشركان دى.
ت٣٣ ربط دادے چه مخكښ آياتونو كښ د دوى دشمنى د اسلام سره ذكر كړه نو په دے
آيت كښ مؤمنانو ته تنبيه وركوى د هغوى د مشابهت نه په ذكر د نورو قبيح صفتونو
سره چه هغه حرص د مال اوگمراه كول د خلقو او بخل دى او دا نور اسباب د قتال دى.
مراد د كَثِيرًا نه هغه مليان او پيران دى چه په آيت يو ديرش كښ ذكر شول.
لَيَأْكُلُونَ، مراد د اكل نه اخستل اوحاصلول دى ليكن لوئے مقصد د هغے خوراك دے
د دے وجے نه تعبير ئے په اكل سره اوكړو او دا رنگ په دے تعبير كښ ډيره بدى ده
چه دوى د گيډے د پاره دين برباد كړے دے. النَّاسِ نه مراد د دوى مقلدين او
مريدان دى چه په ت٣١ كښ ذكر شول. بِالْبَاطِلِ، باطل نه مراد هغه ټولے طريقے
دى د مال د حاصلولو چه د شرعے نه خلاف وى او هغه خلقو ته ثواب ښكاره كوى لكه

عَلَيْهَا فِيْ نَارِ جَهَنَّمَ فَتُكْوٰى بِهَا جِبَاهُهُمْ

دغه خيزونه په اور دَ جهنم کښې نو داغلے کيږي به په هغے سره تندی دَ دوی

وَجُنُوْبُهُمْ وَظُهُوْرُهُمْ ۖ هٰذَا مَا كَنَزْتُمْ

او اړخونه دَ دوی او شاګانے دَ دوی. (ويلے کيږي به) چه دا هغه شے دے چه جمع کړي وو تاسو

لِاَنْفُسِكُمْ فَذُوْقُوْا مَا كُنْتُمْ تَكْنِزُوْنَ ﴿٣٥﴾

دَ ځانونو ستاسو دَ پاره نو اوڅکئ سزا دَ هغے چه تاسو جمع کول.

اِنَّ عِدَّةَ الشُّهُوْرِ عِنْدَ اللّٰهِ اثْنَا عَشَرَ شَهْرًا

يقيناً شمار دَ مياشتو په نيز دَ الله تعالىٰ دولس مياشتے دی

رشوتونه، اړے، نذرانے وغيره. سَبِيْلِ اللّٰهِ نه مراد توحيد، سنت او قرآن دے. وَالَّذِيْنَ يَكْنِزُوْنَ، دا هم عطف دے په مخکښې باندے او صفت دَ احبار او رهبان دے او مراد دَ مال جمع زکوٰة او واجبات نه ورکول دی اګرچه مالدار وی او دا قول دَ جمهور صحابه کرامو دے سيوا دَ ابوذر رضی الله عنه نه ليکن تائيد دَ دهٔ دَ ابوداؤد حديث دے دَ عمر رضی الله عنه چه هغه دَ دے تفسير دَ رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اوتپوسلو او هغه جواب ورکړو حاصل دَ جواب دا وو چه الله تعالىٰ چه په زکوٰة کښې څلويښتمه او عشر مقرر کړے دے او ميراث يې دَ ورثو حق ګرځولے دے دا دليل دے چه زياتی مال جمع کول جائز دی. وَلَا يُنْفِقُوْنَهَا، ها ضمير کنوز او اموال ته راجع دے. فائده: دے آيتونو کښې اګرچه صفات دَ يهوديانو او دَ نصارىٰ دی ليکن دَ دے امت هغه مليان پکښې هم داخل دی چه په هغوی کښې دا درے صفات وی. حديث دَ بخاری په دے باندے دليل دے چه په هغے کښې دا الفاظ دی "نزلت فينا وفيهم" (دا آيت نازل شويدے زمونږه په باره کښې او دَ دوی په باره کښې) او دارنګ ابن کثير وئيلے دی چه په دے کښې تحذير دَ ټولو علماءِ سوء او ګمراه پيرانو نه دے. او رازی په تفسير کښې دَ دے زمانے دَ علماء سوء بد اخلاق ذکر کړيدی.
٣٥ دے آيت کښې بيرته اخروی ذکر دهٔ دَ پاره دَ دغے مخکښې صفاتو والو او په دے آيت کښې دا درے اندامونه ذکر دی ځکه چه په وخت دَ ليدلو دَ فقراؤ کښې دَ دوی تندے تريو شو او بيا به يې اړخ بدلولو نو بيا به يې شا ګرځوله. او بله وجه دا ده چه دا کنايه ده دَ احاطے دَ څلورو طرفونو نه په دے کښې هم عليها او بها ضميرونه کنوز او اموال ته راجع دی.

فِىْ كِتٰبِ اللّٰهِ يَوْمَ خَلَقَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ

په حکم د الله تعالی کښې د هغه ورځې نه چه پیدا کړې دی اسمانونه او زمکه

مِنْهَآ اَرْبَعَةٌ حُرُمٌ ؕ ذٰلِكَ الدِّيْنُ الْقَيِّمُ ۙ ۵

د هغې نه څلور میاشتې د عزت دی. دا دین کلک دے

فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ اَنْفُسَكُمْ وَقَاتِلُوا

نو مه کوئ ظلم په دے میاشتو کښې په ځانونو خپلو باندے او جنګ کوئ

الْمُشْرِكِيْنَ كَآفَّةً كَمَا يُقَاتِلُوْنَكُمْ كَآفَّةً ؕ

د مشرکانو ټولو سره لکه چه جنګ کوی دوی تاسو ټولو سره

وَاعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿٣٦﴾ اِنَّمَا النَّسِىْٓءُ

او پوهه شئ چه یقیناً الله تعالی ملګرے د متقیانو دے. یقیناً روستوکول (د عزت د میاشتې)

ف٣٦ په دے ایت کریمه کښې هم رد دے په اهل کتابو باندے چه د هغوی په نیز باندے په کال کښې د دولسو میاشتو نه څه ورځې زیاتے وی او بعضِ کلونو کښې د هغوی په نیز دیارلس میاشتے وی او دا سبب دے د ګډوډ کولو د حج او د رمضان د رنګے رد دے په مشرکین عرب باندے چه هغوی د حرمت په میاشتو کښې تبدیلی کوله او اهل کتابو هم د هغوی سره په دے کښې اتفاق کوو- الدِّيْنُ الْقَيِّمُ، قرطبی وئیلے دی چه حق داده چه دین په معنٰی مشهور سره دے او قَيِّمُ په معنٰی د مستقیم سره دے ځکه دا دین د ابراهیم علیه السلام دے- او په دے ایت کښې بیا امر د قتال دے د ټولو مشرکینو سره- فَلَا تَظْلِمُوْا فِيْهِنَّ، معنٰی داده چه ظلم مه کوئ په دے ټولو میاشتو کښې په زیاتوالی سره دا رنګ په تبدیل سره او په مخکښې کولو روستو کولو سره او په نورو ګناهونو سره- فائده (١) دا ایت دلیل دے په دے خبره چه اعتبار په احکامو د شریعت کښې حساب د سپوږمئ ته دے نه حساب د نمر ته- فائده (٢) د میاشتے په حساب سره د کال ټولے ورځے درې سوه پنځه پنځوس دی او د نمر په حساب سره درې سوه پنځه شپیته او څلورمه حصه د ورځے. نو شمسی کال د قمری کال نه تقریباً لس ورځے زیات وی نو په درے کاله کښې یو میاشت زیاتیږی نو دیارلس میاشتے د کال جوړیږی او دا د الله تعالی د قانون نه

زِيَادَةٌ فِي الْكُفْرِ يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا

زیاتولے دے پہ کفر کښې زیاتی کیدا بشی پدے سرہ گمراهی دَ کافرانو

يُحِلُّوْنَهٗ عَامًا وَّيُحَرِّمُوْنَهٗ عَامًا لِّيُوَاطِـُٔوْا

حلال گنړی دوی هغه میاشت یو کال او حرامه گنړی هغه میاشت بل کال دے دَ پاره چه پوره کړی

عِدَّةَ مَا حَرَّمَ اللّٰهُ فَيُحِلُّوْا مَا حَرَّمَ اللّٰهُ ؕ

شمار دَ هغے میاشتو چه عزت ورکړے یدی الله تعالیٰ نو حلالوی دوی (پدے طریقے سره) هغه میاشتے چه حرامے کړی یدی الله تعالیٰ

زُيِّنَ لَهُمْ سُوْٓءُ اَعْمَالِهِمْ ؕ وَاللّٰهُ لَا يَهْدِى

ښولی کړے شوی دی دوی ته بد عملونه دَ دوی. او الله تعالیٰ توفیق نه ورکوی

الْقَوْمَ الْكٰفِرِيْنَ ۝٣٧ ع يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا ع ٥ ١١

قوم کافرانو ته. اے ایمان والو

خلاف دے. فائده (٣) دَ عند الله نه روستو کتاب الله لفظ دلیل دے چه دا حکم په لوح محفوظ کښې لیکلے شویدے. فائده (٤) كَآفَّةً، یعنی ټول قسمونه مشرکان یا ټولے میاشتے بناء په روستنئ معنیٰ سره دا آیت ناسخ دے دَ حرمت دَ قتال په میاشتو دَ عزتمنو کښې. ٣٧ دے آیت کښې رد دے په یو رسم باطل دَ مشرکانو چه هغه تعلق لری دَ میاشتو سره لکه چه تیر شوی آیت کښې رد وُو په کتابیانو په زیادت دَ میاشتے سره. تفصیل ئے دا دے چه درے میاشتے دَ حرمت پرله پسے وے ذوالقعده، ذوالحجه او محرم. نو عرب مشرکینو باندے دا گرانه وه چه درے میاشتے پرله پسے دَ جنگونو کولو نه صبر اوکړی نو دوی به چه کله په حج کښې دَ مِنا نه واپس شول نو یو سړے به دَ بنوکنانه او در یدلو چه دَ هغه نوم قلمس وو او دَ هغه فیصله به چا نه شوه واپس کولے دوی به ورته اوئیل چه په حرمت دَ محرم کښې مونږ لره النَّسِيُّ (روستوالے) اوکړه نو هغه به اوئیل چه دَ محرم نه حرمت صفر ته نقل شو نو میاشت دَ محرم به دوی حلاله کړه بل کال به دا حرمت ربیع الاول ته نقل شو په دا سے طریقه هر کال کښې بلے بلے میاشتے ته به ئے نقل کوؤ نو په دے رسم کښې کفر دا وو چه دَ حرامو تحلیل به ئے کوؤ نو ځکه په دے آیت کریمه کښې دیته دَ کفر زیاتوالے اوئیلے شو یعنی دَ دوی نور کفریات هم وُو لیکن تحریم او تحلیل دَ میاشتو دَ خپل ځان دَ طرف نه دا بل کار دَ کفر وو نو لکه چه په ایمان کښې

مَا لَكُمْ اِذَا قِيْلَ لَكُمُ انْفِرُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ

څه عذر دے ستاسو کله چه اوئیلے شی تاسو ته اووځئ په لار د الله تعالیٰ کښ

اثَّاقَلْتُمْ (١) اِلَى الْاَرْضِ ؕ اَرَضِيْتُمْ (٢) بِالْحَيٰوةِ

نو درانه شئ تاسو زمکے ته (دُنیا ته) - ایا خوښ کړیدلے تاسو ژوند

الدُّنْيَا مِنَ الْاٰخِرَةِ ۚ فَمَا مَتَاعُ الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا

دنیوی په بدله د اٰخرت کښ پس نه دے سامان د ژوند دنیوی

فِي الْاٰخِرَةِ اِلَّا قَلِيْلٌ ﴿٣٨﴾ اِلَّا تَنْفِرُوْا يُعَذِّبْكُمْ

په مقابله دَ اٰخرت کښ مګر لږ دے. که اونه ځئ تاسو (جهاد له) نو عذاب به درکړی الله تعالیٰ

زیاتوالے راځی نو دارنګ په کفر کښ هم زیادت راځی. فائده: دا دلیل دے په دے باندے چه څوک د یو عبادت دَ پاره وخت شرعی بدلوی او بل وخت دَ هغے دَ پاره مقرر کوی نو داحرام کار دے دارنګ تحریم تحلیل بے دَ شرعی دلیل نه کفر دے. يُضَلُّ بِهِ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا، اضلال دَ شیطان په وسوسه دے که انسی او که جنی دی. لِيُوَاطِئُوْا، یعنی دوی صرف شمار ته اعتبار ورکوی او وصف دَ تحریم بدلوی دَ هغے پرواه نه کوی.

۳۸ دَ دے ځائے نه تریوکم سل ۹۹ ایت پورے دریمه حصه دَ سورت ده او په دے کښ زورنے دی منافقانو ته او دَ هغوی شپږ اویا ۴۷ صفات قبیحه ذکر دی بغیر دَ تکرار نه! په هر صفت باندے دَ پاسه رقم (نمبر) لګولے شویدے او په دے ایتونو کښ اشاره ده واقعے دَ غزوه تبوک ته چه نهم کال دَ هجرت باندے وه او بعضِ منافقینو په هغے سفر کښ شمولیت کړیوو او بعضِ دَ هغے نه پاتے شوی وو دَ وجے دَ نفاق نه او دَ مؤمنانو نه هم بعضِ پاتے شوی وو بیا هغوی توبه ویستله او دَ هغوی ذکر به په څلورمه حصه کښ راځی. دے ایت کریمه کښ مراد په اٰمَنُوْا سره منافقان خلق دی او په دے کښ دَ منافقینو دوه خصلته ذکر دی. اثَّاقَلْتُمْ، مراد دَ دے نه سُستی کول دی دَ جهاد نه دَ دُنیا سره دَ محبت دَ وجے نه. الْاَرْضِ، کنایه ده دَ مزو او سامانونو دَ دنیا نه او دَ دے په هغه وخت کښ څلور وجے وے (١) سخت والے دَ ګرمئ (٢) لرے والے دَ مسافت (٣) فصلونه او میوے په مدینه کښ پخیدل (٤) مقابله دَ سخت دشمن سره.

مِنَ الْاٰخِرَةِ، من په معنیٰ دَ بدل دے لکه په سورة زخرف ۶۰ کښ دی او دا ایت

عَذَابًا اَلِيْمًا ۝ وَّيَسْتَبْدِلْ قَوْمًا غَيْرَكُمْ

عذاب دردناک او ستاسو بدله کښې به راولی بل قوم غیر ستاسو نه

وَلَا تَضُرُّوْهُ شَيْـًٔا ؕ وَاللّٰهُ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ

او ضرر نه شئ ورکولے تاسو الله تعالیٰ ته هیڅ ضرر. او الله تعالیٰ په هر څیز باندے

قَدِيْرٌ ۝٣٩ اِلَّا تَنْصُرُوْهُ فَقَدْ نَصَرَهُ اللّٰهُ اِذْ

قدرت لرونکے دے. که امداد نه کوئ تاسو د دے رسول سره، نو یقیناً امداد کړیدے د ده سره الله تعالیٰ کله چه

اَخْرَجَهُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ثَانِيَ اثْنَيْنِ اِذْ هُمَا

ویستلے وو ده لره کافرانو دویم د دوو نه کله چه دواړه

فِى الْغَارِ اِذْ يَقُوْلُ لِصَاحِبِهٖ لَا تَحْزَنْ

په غار کښې وو کله چه اوئیل پیغمبر خپل ملګری ته مه خفه کیږه

اِنَّ اللّٰهَ مَعَنَا ۚ فَاَنْزَلَ اللّٰهُ سَكِيْنَتَهٗ عَلَيْهِ

یقیناً الله تعالیٰ زمونږ ملګرے دے، نو را اولیږله الله تعالیٰ تسلّی (د زړه) په هغه باندے

وَاَيَّدَهٗ بِجُنُوْدٍ لَّمْ تَرَوْهَا وَجَعَلَ كَلِمَةَ

او کلک ئے کړو دے په داسے لښکرو سره چه نه لیدل تاسو هغه او او ګرځوله الله تعالیٰ کلمه (خبره)

دلیل دے په دے خبره چه ټول څیزونه د دُنیا په مقابله د عمل اخروی کښې لږ دی او داسے په سورة نساء ۷۷ کښې هم دی.

۳۹ دے ایت کښې یره ورکول دی په عذاب او په هلاکت سره په سبب د پریښودلو د جهاد. عذاب اګرچه عام دے لیکن بعضو روایاتو کښې (روایات د ابوداؤد) د هغې مثال ذکر کړے دے په شو کړے سره.

عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ، نو قدرت لری په بدلولو د قومونو او په نصرت باندے بغیر د لښکر نه لکه چه وړستے ایت کښې ذکر دی.

الَّذِينَ كَفَرُوا السُّفْلَىٰ ۗ وَكَلِمَةُ اللَّهِ هِيَ الْعُلْيَا ۗ

دَ کافرانو لاندې . او کلمه دَ الله تعالیٰ هغه اوچته ده

وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ﴿٤٠﴾ انفِرُوا خِفَافًا وَثِقَالًا

او الله تعالیٰ زور اور دے حکمتونو والا دے ۔ او وځئ که سپک یئ او که درانه یئ

وَجَاهِدُوا بِأَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ فِي

او جهاد کوئ په مالونو خپلو سره او ځانونو خپلو سره په

سَبِيلِ اللَّهِ ۚ ذَٰلِكُمْ خَيْرٌ لَّكُمْ إِن كُنتُمْ

لاره دَ الله تعالیٰ کښ. دا ډیره فائده ده ستاسو دپاره که تاسو

ف۵ دے آیت کښ زور نه ده په پریښودلو دَ جهاد او په دے کښ اشاره ده واقعے دَ هجرت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه په دے هجرت کښ ابوبکر رضی الله تعالیٰ عنه دَ هغه ملګرے وُو او بیا دواړه په غار ثور کښ درے ورځے پاتے شوے وو تفصیل دَ واقعے محدثینو ذکر کړے دے او په دے آیت کښ فضیلت دَ ابوبکر صدیق رضی الله عنه دے او دلیل دے دَ هغه په صحابیت باندے نو چه څوک دَ هغے نه انکار کوی نو هغه کافر دے۔

اِلَّا تَنْصُرُوْهُ، جزاء حذف ده "فالله متکفل به" (الله تعالیٰ ذمه وار دے دَ مدد دَ هغه)۔

ثَانِيَ اثْنَيْنِ، په معنی دَ احد هما دے او دا لفظ دلیل دے چه دَ دوؤ نه زیات نه وُو او دلیل دے په اولیت دَ نبی صلی الله علیه وسلم یعنی هغه اول وُو او ابوبکر رضی الله عنه دویم وُو

لِصَاحِبِهٖ، مراد په دے کښ صحبتِ دینیه دے ځکه چه صحبت دَ غارئے خو مخکښ ذکر کړو

لَا تَحْزَنْ، حزن او خوف په انبیاء علیهم السلام باندے هم راځی لکه په یعقوب او ابراهیم او موسیٰ او لوط علیهم السلام باندے راغلے وو نو دا نقصان نه دے او قرطبی وئیلے دی چه دا حزن دَ ابوبکر په باره دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ دے نو دا خو کمال دے۔

عَلَيْهِ ضمیر ابوبکر رضی الله عنه ته راجع دے په قرینه دَ ما قبل سره۔ وَاَيَّدَهٗ، ضمیر راجع دے نبی صلی الله علیه وسلم ته نو عطف دے په فقد نصره الله باندے او دا تائید مختص په غار پورے نه دے بلکه دَ هغے نه روستو په ډیرو غزاګانو کښ ملائیک رالیږلے شوی وُو۔

كَلِمَةَ الَّذِيْنَ اه مراد دَ دینه ټول اقوال او اعمال دَ کفر دی او دا رنګ اراده دَ کافرانو په باره دَ قتل دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ۔

تَعْلَمُوْنَ ﴿٤١﴾ لَوْ كَانَ (٣) عَرَضًا قَرِيْبًا وَّسَفَرًا

پوهیږئ. که (غزوه دَ تبوک) وے سامان اسان حاصلیدونکے او سفر

قَاصِدًا لَّاتَّبَعُوْكَ وَلٰكِنْۢ بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ

درمیانه خامخا دوی به تلی وے تا سره لیکن لرے شویدے پهٔ دوی باندے

الشُّقَّةُ ۚ وَسَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَوِ اسْتَطَعْنَا

سفر او زر دے چه قسمونه به اوکړی دوی په الله تعالیٰ، که طاقت لرلے مونږه

لَخَرَجْنَا مَعَكُمْ ۚ يُهْلِكُوْنَ اَنْفُسَهُمْ ۚ وَاللّٰهُ

خامخا وتلے به وُو مونږ ستاسو سره هلاکوی دوی ځانونه خپل (په دروغ قسم سره)، او الله تعالیٰ

يَعْلَمُ اِنَّهُمْ لَكٰذِبُوْنَ ﴿٤٢﴾ عَفَا اللّٰهُ عَنْكَ ۚ ع ۵ / ۱۲

پوهه دے چه یقیناً دوی خامخا دروغژن دی. معافی کړیده الله تعالیٰ تا ته

ن۴۱ دے ایت کښ امر دے دَ پاره دَ فرضیت دَ قتال په هر حالت کښ. او خفافًا وثقالًا په دے کښ دَ مفسرینو لس اقوال دی بعضِ دَ هغے نه دادی (١) خفافًا لږ دے وسلے والا او ثقالًا ډیرے وسلے والا (٢) خفافًا فقیران، ثقالًا مالداران (٣) خفافًا بے عیاله، ثقالًا عیال والا (۴) خفافًا روغ بدن والا، ثقالًا بیماران په لږه بیماری سره وغیره. لیکن په دے کښ معذورین داخل نه دی نو ایت منسوخ نه دے. بِاَمْوَالِكُمْ، مالونه ئے مخکښ ذکر کړل ځکه چه اول تیاری دَ وسلو او خرچ پکار دے او هغه په مال سره کیږی. تَعْلَمُوْنَ، دا شرط ئے دَ دے وجے نه اولګوؤ چه په علم سره تمیز دَ خیر او شر حاصلیږی یا مراد دَ علم نه علم دَ حق دے یعنی ایمان ځکه چه خیر (ثواب) بغیر دَ ایمان نه نه حاصلیږی.

ن۴۲ په دے ایت کښ زورنه ده منافقینو ته په پریښودلو دَ جهاد سره او شلور صفات قبیحه دی او مطلب دَ ایت دا دے چه سفر دَ تبوک ډیر اوږد وؤ او دَ مدینے منورے نه تقریبًا اته سوه (٨٠٠) کلومیټره لرے وؤ او په هغے کښ غنیمت حاصلول هم ګران وؤ ځکه چه دشمن قوم هم سخت وو په جنګ کښ دَ دے وجے نه بعضِ منافقان دَ دے سفر نه پاتے شول او دے ایت کښ دلیل دے په دے خبره چه په دروغه

لِمَ أَذِنتَ لَهُمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَكَ الَّذِينَ

په څه وجه تا اجازت اوکړو دوی ته ترهغې چه ښکاره شوے وے تاته هغه کسان

صَدَقُوا وَتَعْلَمَ الْكَاذِبِينَ ﴿٤٣﴾ لَا يَسْتَأْذِنُكَ

چه رښتیا وائي او پیژندلے وے تا دروغژن. نه غواړی اجازت ستا نه

الَّذِينَ يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

هغه کسان چه ایمان لری په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ

أَن يُجَاهِدُوا بِأَمْوَالِهِمْ وَأَنفُسِهِمْ ۗ وَاللَّهُ

(په پریخودلو د دے) چه جهاد اوکړی په مالونو خپلو او په ځانونو خپلو. او الله تعالیٰ

قسم کول سبب د هلاکت دے. عَرَضًا، د دنیا ټولو مالونو ته عرض وئیلے شی ځکه عارضی څیزونه دی او په وجود کښ الله تعالیٰ ته محتاج دی نو جوهر په کښ نیشته کوم چه د منطقیانو اصطلاح ده. وَسَيَحْلِفُونَ، س د استقبال یئے د دے وجے نه ذکر کړو چه دا آیاتونه په سفر د تبوک کښ نازل شوے وو یعنی هر کله چه اے نبی ته دوی ته واپس لاړشے نو دوی به قسمونه کوی.

٤٣ په دے آیت کښ په نیز د عمرو بن میمون عتاب دے رسول الله صلی الله علیه وسلم ته په نرمے لهجے سره ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم بعض منافقینو ته اجازت ورکړے وو د پاتے کیدلو د جهاد نه کله چه هغوی اجازت طلب کړے وو لیکن رسول الله صلی الله علیه وسلم پوهه نه وو د هغوی په دروغو باندے نو په دے کښ څه ګناه په نبی صلی الله علیه وسلم باندے نیشته او قاضی عیاض په شفاء کښ وئیلے دی چه دا عتاب نه دے ځکه چه الله تعالیٰ د دے وخت نه مخکښ نهی نه ده کړے او نه الله تعالیٰ په دے باندے د معصیت اطلاق کړیدے نو عَفَا په معنی د غفر نه دے بلکه په معنی د لم یلزم سره دے لکه عَفَا اللهُ عَنْ صَدَقَةِ الْخَيْلِ نو مطلب دا شو چه په تا باندے څه لزوم نیشته. او مکی وئیلے دی چه دا استفتاح د کلام ده لکه چه اعزك الله وئیلے کیږی. او رازی وئیلے دی چه دا مبالغه ده په اکرام او تعظیم د هغه کښ دا اقوال خطیب شربینی نقل کړیدی.

فائده: او دا آیت صریح دے په دے خبره چه پیغمبر غیب دان نه دے.

عَلِيْمٌۢ بِالْمُتَّقِيْنَ ﴿٤٤﴾ اِنَّمَا يَسْتَاْذِنُكَ الَّذِيْنَ

پوهه دے په متقیانو باندے. یقینًا اجازت غواړی ستانه (دَجهاد پرېخودلو) هغه کسان

لَا يُؤْمِنُوْنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَارْتَابَتْ

چه ایمان نه لري په الله تعالیٰ او په ورځ روستنئ او شک کړے دے

قُلُوْبُهُمْ فَهُمْ فِيْ رَيْبِهِمْ يَتَرَدَّدُوْنَ ﴿٤٥﴾

زړونو دَدوی پس دوی دَوجے دَشک خپل نه کښې وه دی.

وَلَوْ اَرَادُوا الْخُرُوْجَ لَاَعَدُّوْا لَهٗ عُدَّةً

او که دوی نیت لرلے دَ وتلو جهاد له خامخا دوی به تیار کړے وے هغے لره دَ سامان

وَّلٰكِنْ كَرِهَ اللّٰهُ انْۢبِعَاثَهُمْ فَثَبَّطَهُمْ وَقِيْلَ

لیکن بد ګڼړلے دی الله تعالیٰ پورته کیدل دَدوی (جهادته) پس منع ئے کړل دوی لره، او وئیلے شو دوی ته

٤٤ دے ایت کښ صفت دَ مؤمنانو ذکر دے چه هغوی بغیر دَ عذر نه دَ جهاد نه نه پاتے کیږی او نه دَ پیغمبر نه دَ پاتے کیدلو اذن غواړی. نو دا تائید دے دَ ماقبل دَ پاره چه په دے موقع (تبوک) کښ رشتینی مؤمن او دروغژن پیژندل آسان دی معلومیږی په اجازت طلب کولو او په نه طلب کولو سره.

سوال: په سورة نور ۶۲ کښ صفت دَ مؤمنانو استیذان دے او دلته عدم استیذان؟

جواب دا دے چه په هغه سورت کښ ذکر دَ استیذان دے دَ پاره دَ رخصت کیدلو دَ مجلس دَ نبی صلی الله علیه وسلم نه او په دے سورت کښ ذکر دَ استیذان دے دَ پریښودلو دَ جهاد.

٤٥ دے ایت کښ زور نه دے منافقینو ته او په دے کښ هم دَ هغوی څلور صفات قبیحه ذکر دی او دلته استیذان په باره دَ پریښودلو دَ جهاد کښ مراد دے.

وَارْتَابَتْ، دا صیغه دلالت کوی په کلک شک باندے چه هغه په طریقه دَ انکار سره دے او دا علت دے دَ لایؤمنون دَ پاره.

يَتَرَدَّدُوْنَ، یعنی حیران دی چه مؤمنانو سره شی او که دَ کافرانو سره شی.

اقْعُدُوْا مَعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿٤٦﴾ لَوْ خَرَجُوْا فِيْكُمْ

چه کینئ سره د کیناستونکو. که وتلے وے دوی په لښکر ستاسو کښ

مَّا زَادُوْكُمْ(١٣) اِلَّا خَبَالًا وَّلَاۡاَوْضَعُوْا(١٤) خِلٰلَكُمْ

نه به وو زیات کړے دوی تاسو لره مګر نقصان او خامخا منډې به وهلے وے دوی په مینځ ستاسو کښ (په چغلخورئ سره)

يَبْغُوْنَكُمُ(١٥) الْفِتْنَةَ ۚ وَفِيْكُمْ(١٦) سَمّٰعُوْنَ لَهُمْ ؕ

غواړي دوی په تاسو کښ اختلاف او په (لښکر) ستاسو کښ جاسوسان شته د دوی.

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌۢ بِالظّٰلِمِيْنَ(١٧) ﴿٤٧﴾ لَقَدِ(١٨) ابْتَغَوُا

او الله تعالیٰ ښه پوهه دے په ظالمانو. یقیناً غوښتلے وه دوی

۴٦ دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینو ته چه هغوی د جهاد نیت هم نه لری او نه د هغے د پاره تیاری کوی ځکه چه لفظ د لَوْ دلالت کوی په نفی باندے او تیاری نه کول مخالفت د هغه امر نه دے چه په سورة انفال ۶۰ کښ وو. او په دے ایت کښ دوه صفات قبیحه د منافقینو دی. وَلٰكِنْ نه روستو درے جملے دلیل دے چه معصیتونو د انسانانو پورے اراده د الله تعالیٰ متعلق ده. انْۢبِعَاثَهُمْ، د دوی د جهاد د پاره تلل په صحیح نیت سره نه وو او په ناراستئ سره وو د دے وجے نه په دے لفظ سره ئے تعبیر اوشو په لفظ د خروج سره ئے تعبیر نه دے کړے. قِيْلَ اه دا قول د تقدیر الٰهی دے یا قول د رسول او د صحابو دے منافقانو ته. قٰعِدِيْنَ نه مراد ړانده او ګوډ او زنانه او واړه دی.

۴٧ دے ایت کښ مؤمنانو ته تسلّی ده په پاتے کیدلو د منافقینو د جهاد نه او زورنه ده منافقینو ته په ذکر د پنځو صفاتو قبیحو او دا علت دے د پاره د كَرِهَ اللّٰهُ اه یعنی د دوی په وتلو کښ ډیر مفاسد دی. اِلَّا خَبَالًا، که ماقبل کښ لفظ د شيئًا مقدر شی نو دا استثناء متصل ده او که خیرًا مقدر شی نو استثناء منقطع ده او اوله توجیه غوره ده. الْفِتْنَةَ، مراد د دے نه اختلاف او د جهاد نه واپس کول او د دین نه اړول دی. وَفِيْكُمْ اه په دیکښ مراد هغه منافقان دی چه په سفر د تبوک کښ شریک وو د پاره د جاسوسئ کولو.

الْفِتْنَةَ مِنْ قَبْلُ وَقَلَّبُوا لَكَ الْأُمُورَ(۱۹) حَتّٰى

فتنه مخکښ د دیته او جوړ کړے وو دوی ستا په خلاف کښ ډیر مکرونه تر دے

جَآءَ الْحَقُّ وَظَهَرَ اَمْرُ اللّٰهِ وَهُمْ كٰرِهُوْنَ(۲۰) ۝۴۸

چه راغے حق او ښکاره شو دین د الله تعالیٰ او دوی (هغه) بد گڼړی.

وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ ائْذَنْ لِّيْ وَلَا تَفْتِنِّيْ(۲۱) ط

او بعض د دوی نه هغه څوک دی چه وائی اجازت راکړه ما ته (د پاتیکیدلو) او ما اچوه ما په فتنه کښ

اَلَا فِي الْفِتْنَةِ سَقَطُوْا(۲۲) وَاِنَّ جَهَنَّمَ لَمُحِيْطَةٌ

خبر شئ په فتنه کښ دوی پریوتے دی او یقینًا جهنّم خامخا راګیرووَنکے دے

بِالْكٰفِرِيْنَ ۝۴۹ اِنْ تُصِبْكَ حَسَنَةٌ تَسُؤْهُمْ(۲۳) ج

کافرانو لره. که اورسی تا ته خوشحالی نو خفه کوی دوی لره

۴۸ په دے کښ هم زورنه ده منافقینو ته په ذکر د دریو صفاتو قبیحو او دا دلیل دے د پاره د لزوم د هغه مفاسدو چه په تیر شوی ایت کښ ذکر دی.

لَقَدِ ابْتَغَوُا الْفِتْنَةَ، په دے کښ اشاره ده ښکاره کولو د منافقت ته په تیرو شوؤ غزاګانو کښ لکه غزوهٔ احد او غزوهٔ احزاب.

وَقَلَّبُوْا لَكَ الْاُمُوْرَ، د دے یو مطلب دا دے چه دوی د پیغمبر د قتلولو د پاره وخت په وخت تدبیرونه جوړ کړی وو. دویم مقصد دا دے چه دوی خپله رائے او خیالات ګرځولے دی په مقابله د دین د پیغمبر کښ او تدبیرونه ئے جوړ کړیدی.

۴۹ دا هم زورنه ده منافقینو ته او یو قسم د هغے منافقینو ذکر دے چه د غزوه تبوک نه پاتے شوی وؤ چه د هغه یو نوم جد ابن قیس وؤ او په دے کښ د هغوی دوه صفاتِ قبیحه دی.

حاصل دا دے چه څوک د پیغمبر تابعداری ته فتنه وائي نو هغه منافق دے.

فِي الْفِتْنَةِ، پاتے کیدل د جهاد نه او مخالفت کول د نبی صلی الله علیه وسلم ته فتنه ده.

بِالْكٰفِرِيْنَ، اشاره ده چه په دے لفظ (لا تفتنی) سره دوی خپل کفر ښکاره کړو. ځکه چه اتباع د نبی صلی الله علیه وسلم او جهاد ته ئے فتنه وئیلے ده.

وَإِنْ تُصِبْكَ مُصِيبَةٌ يَقُولُوا قَدْ أَخَذْنَا

کہ اورسی تاتہ خہ مصیبت وائی دوی یقیناً عمل کړیدلے موږ

أَمْرَنَا مِنْ قَبْلُ وَيَتَوَلَّوْا وَهُمْ فَرِحُونَ (٢٥) ﴿٥٠﴾

په تدبیرخپل مخکښ د دینه او اوګرځی دوی او دوی خوشحالی کوی (ستاسو په مصیبت کښ)

قُلْ لَنْ يُصِيبَنَا إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَنَا ج

ته اووایه هیڅ کله او به نه رسی موږته مګر هغه چه مقرر کړیدی الله تعالی موږ لره

هُوَ مَوْلَانَا ج وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ

هغه مولی (مددګار) زموږ دے او خاص په الله دے ځان سپاری

الْمُؤْمِنُونَ ﴿٥١﴾ قُلْ هَلْ تَرَبَّصُونَ بِنَا

مؤمنان - ته ورته او وایه چه نه کوئ تاسو انتظار په باره زموږ کښ

إِلَّا إِحْدَى الْحُسْنَيَيْنِ ط وَنَحْنُ نَتَرَبَّصُ (٢٦)

مګر یو د دوو خوشحالو نه - او موږ انتظار کوو

(٢٥) دا هم زورنه ده منافقینوته او په دے کښ د هغوی درے صفاتِ قبیحه دی.
أَخَذْنَا أَمْرَنَا، مراد د دے نه خپل ځان ته هوښیار وئیل دی چه د هغے د وجے نه د
قتال نه پاتے شول. تَسُؤْهُمْ، دا د حسد د وجے نه. حَسَنَةٌ، مراد د دینه نصرت
او غنیمت دے چه ښکاره اولوے نعمت دے د دے وجے نه تُصِبْكَ سره یے
ذکر کړے تمسك سره یے نه دے ذکر کړے.
(٢٦) دا اول جواب دے منافقانوته چه کله هغوی په مصیبت د مؤمنانو خوشحاله
شی نو هغوی ته به دا سے جواب کیدے شی او دا دلیل دے چه تقدیر د الله تعالی
لیکلے شوے دے د مخکښ نه او په هغے باندے ایمان راوړل فرض دی.
هُوَ مَوْلَانَا، په دے کښ اشاره ده چه په تقدیر د الله تعالی کښ هر قسم خیر دے د
باره د مؤمنانو.
وَعَلَى اللَّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الخ یعنی ایمان په تقدیر باندے مستلزم دے توکل کولو لره.

بِكُمْ أَنْ يُّصِيبَكُمُ اللّٰهُ بِعَذَابٍ مِّنْ عِنْدِهٖ

ستاسو په باره کښ چه اوبه رسوی تاسو ته الله تعالیٰ عذاب د خپل طرف نه

أَوْ بِأَيْدِينَا ۖ فَتَرَبَّصُوا إِنَّا مَعَكُمْ

یا زمونږ په لاسونو، نو انتظار کوئ یقیناً مونږ تاسو سره

مُّتَرَبِّصُونَ ﴿۵۲﴾ قُلْ أَنْفِقُوا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا

انتظار کوونکی یو. ته او وایه خرچ کوئ په خوښه یا په ناخوښه

لَّنْ يُّتَقَبَّلَ مِنْكُمْ ۖ (۲۸) إِنَّكُمْ كُنْتُمْ قَوْمًا

هیڅ کله به قبول نه کړیشی ستاسو نه. یقیناً تاسو قوم یئ

فَاسِقِينَ (۲۹) ﴿۵۳﴾ وَمَا مَنَعَهُمْ أَنْ تُقْبَلَ مِنْهُمْ

نافرمان. او نه دے منع کړے دوی چه قبول کړیشی د دوی نه

نَفَقَاتُهُمْ إِلَّا أَنَّهُمْ كَفَرُوا بِاللّٰهِ وَبِرَسُولِهٖ

خیراتونه د دوی مګر دے خبرے چه دوی کفر کړیدے په الله تعالیٰ او په رسول د هغه

۵۲ دا دویم جواب دے د قول د منافقینو او په دے کښ د هغوی دوه صفات قبیحه ذکر دی. حُسْنَیَیْنِ نه مراد فتح ده سره د غنیمت نه او شهادت دے. نَتَرَبَّصُ بِكُمْ، د دے نه روستو احدی السُّوْئَیَیْنِ مقدار دے او روستو د هغے دواړو تفصیل ذکر دے.

فائده: تربص اکثر په هغه ځائے کښ ذکر کیږی چه ضرور واقع کیږی او انتظار عام دے واقع کیدونکے او نه واقع کیدونکے دواړو کښ استعمالیږی.

۵۳ دے ایت کښ هم دوه صفات قبیحه دی د منافقینو. اَنْفِقُوْا، دا امر په معنیٰ د خبر دے یعنی انفاق دواړه قسمونه په نه قبلیدلو کښ برابر دے او دا ایت دلیل دے په دے خبره چه نیک اعمال په کفر او په نفاق سره باطلیږی.

فَاسِقِیْنَ د فسق نه مراد فسقِ اعتقادی دے یعنی کفر.

وَلَا يَأْتُونَ الصَّلٰوةَ إِلَّا وَهُمْ كُسَالٰى
او نه راځی دوی مانځه ته مګر په داسے حال چه ناراست وی
وَلَا يُنْفِقُوْنَ إِلَّا وَهُمْ كٰرِهُوْنَ ﴿۵۴﴾ فَلَا تُعْجِبْكَ
او خرچ نه کوی مګر په داسے حال چه بد ئے ګنړی۔ نو تعجب کښ دے نه اچوی تا ته
أَمْوَالُهُمْ وَلَآ أَوْلَادُهُمْ ۚ إِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ
مالونه د دوی او نه اولاد د دوی۔ یقینًا غواړی الله تعالیٰ ربّ ئے دیروالی د مالونو او اولاد د دوی
لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَتَزْهَقَ
چه عذاب ورکړی دوی لره په هغے سره په ژوند د دنیا کښ او اوځی
أَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۵۵﴾ وَيَحْلِفُوْنَ
روحونه (ساه ګانے) د دوی په داسے حال چه دوی به کافران وی۔ او قسمونه کوی دوی

۵۴ دا ایت تفصیل د فسق دے چه مانع دے د قبولیت د نفقاتو نه او په دے ایت کښ درے صفات قبیحه د هغوی ذکر دی یعنی په دوی کښ ایمان نیشته او عبادات بدنیه او مالیه هم د عبادت په طور باندے نه کوی۔ وَهُمْ كُسَالٰى، داسے په سورة نساء ۱۴۲ کښ هم دی۔

۵۵ هر کله چه مخکښ ایت کښ ذکر شو چه د دوی نفقات نه قبلیږی نو دے ایت کښ په هغے باندے تفریع ده په حرف د فاء سره چه د دوی مالونه بے فائدے دی چه په هغے څه ثواب نه ملاویږی او اولاد ئے هم بے فائدے دی چه د هغوی په عمل کښ دوی ته څه فائده نه رسی بلکه دا دواړه سبب د عذاب د دوی دے د هغے په حاصلولو کښ او بیا د هغے په ساتنه کولو کښ ستړے والے او مشقتونه او غمونه وغیره برداشت کوی او هیڅ ثواب ئے نه کیږی او هرچه مؤمن مالدار دے نو د هغه کسب مشقت مصیبتونه سبب د اجر دے نو هغه عذاب نه دے۔
او دا دیر والے د مالونو او د اولاد د دوی داخو استدراج دے د دوی د پاره او په دے ایت کښ دوه صفات قبیحه دی اخری جمله کښ اشاره ده چه د وجے د شغل د مالونو او اولاد نه ترمرګه پورے توبه کولو ته نه اوزګاریږی نو په کفر کښ مړ شی۔

بِاللّٰهِ اِنَّهُمْ لَمِنْكُمْ ۭ وَمَا هُمْ مِّنْكُمْ وَلٰكِنَّهُمْ

په الله تعالیٰ چه یقیناً دوی ستاسو د ډلے نه دی - او حال دا چه نه دی دوی ستاسو د ډلے نه لیکن دوی

قَوْمٌ يَّفْرَقُوْنَ (٣٦) ﴿٥٦﴾ لَوْ يَجِدُوْنَ مَلْجَاً

داسے قوم دے چه یریږی . که دوی مونده لے وے ځائے د پناهئ

اَوْ مَغٰرٰتٍ اَوْ مُدَّخَلًا لَّوَلَّوْا اِلَيْهِ (٣٧) وَهُمْ

یا غارانو یا سمسے خاځا ورغلی به وو هغے ته په داسے حال چه

يَجْمَحُوْنَ ﴿٥٧﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ يَّلْمِزُكَ (٣٨) فِي

منډے به ئے وهلے . او بعض د دوی نه هغه څوک دی چه عیب لګوی په تا باندے په تقسیم

الصَّدَقٰتِ ۚ فَاِنْ اُعْطُوْا مِنْهَا (٣٩) رَضُوْا وَاِنْ لَّمْ

د زکوٰتونو کښ ، نو که ورکړے شی دوی ته د هغے نه نو خوشحاله شی (رضا وی) او که

يُعْطَوْا مِنْهَآ اِذَا هُمْ يَسْخَطُوْنَ (٤٠) ﴿٥٨﴾ وَلَوْ اَنَّهُمْ

ورنکړے شی د هغے نه نو دغه وخت دوی خفګان کوی . او که چرے دوی

ف۵۶ په دے آیت کښ هم زورنه ده منافقینوته او د هغوی دوه صفات قبیحه دی هرکله چه د دوی علامات د کفر ذکر شول نو دوی د مؤمنانو د دهوکه کولو د پاره دروغ قسمونه شروع کړل چه مونږ د کافرانو سره نه یو بلکه ستاسو ملګری یو. وَلٰكِنَّهُمْ نه روستو عبارت پټ دے یعنی لکنهم یظهرون الیکم الایمان یعنی دوی ایمان ښکاره کوی د وجے د یرے نه. يَفْرَقُوْنَ، د فرق نه ماخوذ دے یره سره د جزع او د هیبت نه نو دا د خوف نه زیاته ده . مراد د يَفْرَقُوْنَ نه دا دے چه دوی یریږی د دے خبرے نه چه هسے نه چه زمونږ نفاق ښکاره شی او مسلمانان مونږ لره قتل کړی .

ف۵۷ دا هم زورنه ده منافقینوته او بیان د خوف د هغے دے او په دیکښ یو صفت قبیحه دے . مَلْجَاً ځائے د پناهئ لکه قلعه ګانے . مَغٰرٰتٍ او غارونه چه په غرونو کښ وی . مُدَّخَلًا هغه سمستے چه په زمکه کښ وی . يَجْمَحُوْنَ، جمح هغه منډه د آس ده چه په واګے سره هم نه حصاریږی.

ف۵۸ په دے آیت کښ هم زورنه ده منافقینوته او په دے کښ درے صفات

رَضُوۡا مَاۤ اٰتٰهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوۡلُهٗ ۙ وَقَالُوۡا

خوشحاله شوی به هغې چه ورکړی دی دوی ته الله تعالیٰ او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه، او وئیلي دي دوی

حَسۡبُنَا اللّٰهُ سَيُؤۡتِيۡنَا اللّٰهُ مِنۡ فَضۡلِهٖ

چه پوره دے مونږ لره الله تعالیٰ، زر دے چه رابکړی مونږ ته الله تعالیٰ د فضل خپل نه

وَرَسُوۡلُهٗۤ ۙ اِنَّاۤ اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ ﴿۵۹﴾ اِنَّمَا ع ۷/۱۳

او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه (په تقسیم کولو سره)- یقیناً مونږ خاص الله تعالیٰ ته رغبت کوونکی یو. یقیناً هغه

الصَّدَقٰتُ لِلۡفُقَرَآءِ وَالۡمَسٰكِيۡنِ وَالۡعٰمِلِيۡنَ

زکوتونه (ورکیدلی شی) محتاجو ته او مسکینانو (غریبانو) ته او کار کوونکو ته

قبیحه دی او دا ایت دلیل دے په دے خبره چه څوک د پیغمبر په یو طریقه باندے
اعتراض کوی نو هغه منافق دے- دارنګ هغه څوک چه د دین کارکوی د مالی مفاداتو
د پاره نو هغه منافق دے او د دے پشان په سورة بقره ۲۰۴ او سورة نور ۴۹ او سورة
ج ۱۱ کښ هم دی. یَلۡمِزُكَ، لمز مخاطب ته عیب وئیل او دارنګ د سترګو په اشارو
سره بے عزتی کول دی او د دے نه نهی په سورة حجرات ۱۱ کښ او په دے باندے
زجر په سورة همزه ۱ کښ ذکر دی. یَسۡخَطُوۡنَ، سخط په معنی د خفګان دے سره
د غضب نه- او اِذَا ئے د مفاجات د پاره ځکه راوړے دے چه دوی هیڅ فکر نه کوی
په سبب د نه ورکولو کښ بلکه ناڅا په بے فکره خفګان او غصه کوی.
۵۹ دا ترغیب دے د خائسته اخلاقو چه په هغې سره د نفاق نه بچ کیږی.
وَلَوۡ اَنَّهُمۡ جزا د دے محذوف ده یعنی لکان خیرالهم (د دوی د پاره به غوره وے).
وَرَسُوۡلُهٗ، د ورکولو د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مراد په دے ځائے کښ د
زکوٰة او د غنیمت نه حصے ورکول دی په امر د الله تعالیٰ سره او د دے تشریح په حدیث
صحیح کښ ده چه "انما انا قاسم والله یعطی". نو د دے ایت نه د مشرکانو دلیل نیول
(چه نبی هم اختیارمن د نفع او ضرر دے) دا غلط دے ځکه په دے کښ مراد په
طریقه د تقسیم سره ورکول دی- اِلَى اللّٰهِ رٰغِبُوۡنَ، معنی دا چه مونږ مال طرف
ته رغبت نه کوؤ بلکه د الله تعالیٰ د رضا د طرف رغبت لرو یا رغبت نه مراد الله تعالیٰ
ته عاجزی کول او دعا کول او دا عمل خاص دے په الله تعالیٰ پورے د دے وجے نه
اِلَى اللّٰهِ لفظ ئے مخکښ ذکر کړے دے.

عَلَيۡهَا وَالۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوۡبُهُمۡ وَفِي الرِّقَابِ

چه مقرر دي په هغې باندې، او هغه څوک چه خوشحالول ئې شي زړونه د هغوي، او په آزادولو د سټو کښې

وَالۡغٰرِمِيۡنَ وَفِيۡ سَبِيۡلِ اللّٰهِ وَابۡنِ السَّبِيۡلِ ؕ

او قرضدارو ته، او په لار د الله تعالیٰ کښې او مسافرو ته۔

فَرِيۡضَةً مِّنَ اللّٰهِ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيۡمٌ حَكِيۡمٌ ﴿۶۰﴾

فرض کړې شوې د طرف د الله تعالیٰ نه۔ او الله تعالیٰ پوهه دے حکمتونو والا دے۔

ﻧﺌﮯ په دے ایت کښې بیان د مصارفو د زکوٰة دے او مقصد په دے کښې رد دے په هغه منافقینو چه هغوی په نبی صلی الله علیه وسلم باندے اعتراض کوؤ په تقسیم د صدقاتو کښې۔ فقیر او مسکین کښې فرق دے په ډیرو طریقو سره مشهور په هغې کښې دا دے چه فقیر هغه دے چه د هغه د ګذارے کولو د پاره څه مال وی لیکن د نصاب نه کم وی او مسکین هغه څوک دے چه د هغه د پاره هیڅ څیز نه وی۔ او دویم قول د دے په عکس سره دے او دا فرق د دے په هغه وخت کښې دے چه دوی یو ځائے کښې ذکر شی او هر کله چه جدا جدا ذکر وی نو د دواړو یو شان معنیٰ وی۔

الۡعٰمِلِيۡنَ، مراد د دے نه هغه کسان دی چه هغوی د امیر د طرف نه مقرر کړے شوے وی د پاره د جمع کولو د زکوٰة د مال د مالدارو خلقو نه اګرچه مالداروی نو ده لره به هم ورکیدے شی د زکوٰة نه په قدر د عمل د هغه ځکه چه دے بند دے په خدمت د فقراؤ کښې او په دے کښې لیکونکے او تقسیم کوؤنکے او ساعی او عاشر او څوکیدار وغیره ټول داخل دی۔

وَالۡمُؤَلَّفَةِ قُلُوۡبُهُمۡ، دا ډیر قسمونه دی اول هغه چه اسلام ئې ښکاره کوؤ لیکن یقین ئې کمزورے وو نو دوی له هم زکوٰة ورکیدے شو د پاره د الفت د زړونو د دوی دویم هغه دی چه کافروی خو د هغه نه امید د ایمان کیدیشی. دریم هغه څوک چه د هغه د وجے نه نور خلق اسلام راوړی۔ څلورم هغه دے چه د هغه په وجے سره ضرر د مسلمانانو دفع کیږی۔ او د دوی د حصے په منسوخ کیدلو کښې روستو د وفات د نبی صلی الله علیه وسلم نه اختلاف دے خو غوره دا ده چه په وخت د ضعف د اسلام کښې دا حصه ورکول پکار دی او دا قول ابن کثیر هم غوره کړے دے۔ الۡغٰرِمِيۡنَ، مراد د دے نه هغه کسان دی چه هغوی

وَمِنْهُمُ الَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ (۴١) النَّبِيَّ وَيَقُوْلُوْنَ (۴٢)

او بعض د دوی نه هغه کسان دی چه خفه کوی نبی (صلی الله علیه وسلم) لره او دوی وائی

هُوَ اُذُنٌ ؕ قُلْ اُذُنُ خَيْرٍ لَّكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ

چه دے هره خبره منونکے دے۔ ته او وایه چه دے منونکے د خیر د خیرے دے ستاسو ایمان لری په الله تعالی

وَيُؤْمِنُ لِلْمُؤْمِنِيْنَ وَرَحْمَةٌ لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا

او خبره منی د مؤمنانو او رحمت دے د پاره د ایمان والو

مِنْكُمْ ؕ وَالَّذِيْنَ يُؤْذُوْنَ رَسُوْلَ اللّٰهِ لَهُمْ

ستاسو نه او هغه کسان چه خفه کوی رسول د الله لره دوی لره

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٦١﴾ يَحْلِفُوْنَ (۴٣) بِاللّٰهِ لَكُمْ لِيُرْضُوْكُمْ ۚ

عذاب دردناک دے۔ قسمونه کوی په الله تعالی تاسو ته دے د پاره چه رضا کړی تاسو

د نیکئ په یو کار کښ یا د عامو خلقو د فائدے د پاره یا د دوو ډلو د صلح کولو د پاره
تاوان په ځان باندے کیښود او دے مالدار وئ لیکن مال د ده د تاوان نه کم وئ نو
ده لره هم زکوٰة ورکول پکار دی په سراج المنیر کښ ذکر دی چه چا د یو میلمه د میلمستیا
د پاره یا د مسجد د ابادئ د پاره یا د پُل د جوړولو د پاره یا د قیدی د خلاصولو د پاره
(او زه وایم چه د مدرسے د ابادئ یا د خرچ د پاره) قرضه په ځان باندے اخوستے
وی هغه په کښ هم داخل دی په دے شرط چه د هغه خپل مال د قرضے نه کم وی۔
او عام قرضداری هم په دے کښ داخل دے چه قرض ئے د مال سره برابر وی
یا ډیر وی اگرچه دے د گناه په یو کار کښ قرضدارے شوے وی لیکن توبه ئے کړے وی۔
وَفِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ، مراد د دے نه غازیان دی ورکیدے شی دوی ته زکوٰة د پاره د خرچ
د غزا اگرکه دوی مالداروی دارنګ داخل دی په دے کښ طالبان د علم دین
او دارنګ دعوت د دین په دے کښ داخل دے۔
۴١ دا زورنه ده منافقینو ته او په دے ایت کښ دوه صفات قبیحه د هغوی ذکر دی۔
مطلب دا دے چه دوی په نبی صلی الله علیه وسلم پسے بدے خبرے کولے او په
هغه به ئے عیبونه لګول که دوی ته به او وئیلے شو که نبی صلی الله علیه وسلم

وَاللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗۤ اَحَقُّ اَنْ يُّرْضُوْهُ اِنْ كَانُوْا

او الله تعالیٰ او رسول (صلی الله علیه وسلم) ده غه زیات حقدار دی چه رضا کړی دوی هغوی لره که وی دوی

مُؤْمِنِيْنَ ﴿۶۲﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّهٗ مَنْ يُّحَادِدِ

مؤمنان. ایا نه پوهیږی دوی چه یقیناً چا چه خلاف اوکړو د حدونو (پولو)

اللّٰهَ وَرَسُوْلَهٗ فَاَنَّ لَهٗ نَارَ جَهَنَّمَ خَالِدًا فِيْهَا ط

د الله تعالیٰ او د رسول د هغه نو یقیناً هغه لره اور د جهنم دے همیشه به وی په هغے کښ

ذٰلِكَ الْخِزْيُ الْعَظِيْمُ ﴿۶۳﴾ يَحْذَرُ الْمُنٰفِقُوْنَ

دا شرمندګی لویه ده. یریږی منافقان

خبر شی نو ستاسو نه به خفه شی نو دوی به وئیل چه هغه هره خبره قبلوی اوکه مونږ ورته په دروغه بهانه اوکړو نو هغه به ضرور قبوله کړی نو جواب کښ اووئیلے شول چه دا نبی صلی الله علیه وسلم ایمان په الله تعالیٰ لری او خبرے د مؤمنانو قبلوی د منافقانو د خبرے تصدیق نه کوی. اُذُنٌ، په اصل کښ غوږ ته وئیلے شی دلته مراد هغه څوک دے چه د غوږ په شان هره خبره او هر عذر قبلوی. نو اُذُنٌ ورته مُبالغةً وئیلے شی. يُؤْمِنُ، دا تفسیر د ماقبل دے. بِاللّٰهِ، په حرف د باء سره ایمان شرعی مراد دے او په حرف د لام سره ایمان لغوی مراد دے. وَرَحْمَةٌ، دا عطف دے په اُذُنُ خَيْرٍ باندے. اٰمَنُوْا، هغه څوک چه اظهار د ایمان کوی که مخلص وی او که منافق وی د هغوی د زړه رازونه نه معلوموی په ظاهری ایمان باندے اکتفا کوی او د هغوی د پاره دعاګانے غواړی. هر کله چه دا لفظ منافقانو ته شامل دے نو ورپسے جمله کښ د هغوی (په سبب د ایذاء ورکولو سره) استثناء کوی او تخویف ورکوی.

۶۲ دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینو ته او د هغوی یو صفت قبیحه ذکر دے. یعنی د مخلوق د رضا کولو کوشش کوی په دروغه قسمونو باندے او الله تعالیٰ او رسول الله صلی الله علیه وسلم خفه کوی. اَنْ يُّرْضُوْهُ، یو ضمیر ئے ذکر کړو ځکه رضا د الله او د رسول یو شان ده او دا ضمیر راجع دے الله ته په نیز د بیضاوی او راجع دے رسول ته په نیز د سیبویه.

۶۳ په دے ایت کښ بیره اخروی ده او یو صفت قبیحه دے د هغوی. يُحَادِدِ، مطلب دا دے چه د الله تعالیٰ او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدودو نه مخالف د ځان نه حدود

أَنْ تُنَزَّلَ عَلَيْهِمْ سُورَةٌ تُنَبِّئُهُمْ بِمَا

چه نازل به شي په دوى (مسلمانانو) باندې يو سورت چه خبر به كړي دوى لره په هغه څه

فِي قُلُوبِهِمْ ۚ قُلِ اسْتَهْزِءُوا ۚ إِنَّ اللَّهَ

چه په زړونو د منافقانو كښې دي. ته ورته اووايه چه ټوقې كوئ تاسو يقيناً الله تعالى

مُخْرِجٌ مَّا تَحْذَرُونَ ﴿٦٤﴾ وَلَئِنْ سَأَلْتَهُمْ

ښكاره كوى هغه څيز چه يريږئ تاسو د هغې (د ښكاره كولو) نه. او كه تپوس اوكړې ته د دوى نه

لَيَقُولُنَّ إِنَّمَا كُنَّا نَخُوضُ وَنَلْعَبُ ۚ قُلْ

خامخا وائي به دوى يقيناً مونږ وو ځان مشغولوؤ او لوبې موكولې، ته اووايه

أَبِاللَّهِ وَآيَاتِهِ وَرَسُولِهِ كُنْتُمْ تَسْتَهْزِءُونَ ﴿٦٥﴾

آيا په الله تعالى پورې او په آيتونو د هغې پورې او په رسول د هغې پورې تاسو ټوقې كوئ.

جوړه وى او حدود دوه قسمه دى يو قسم شرعي سزا گانې د پاره د بعض گناهونو لكه
حد د زنا او غلا وغيره. دويم قسم د هر حكم شرعي سنت طريقه د هغې حد دے. د دے
وجے نه هر مبتدع محاد د الله تعالى او د رسول صلى الله عليه وسلم دے او دا سے په سورة
مجادله ۵ او ۲۰ كښې هم ذكر دى. فَأَنَّ په دے كښې لفظ د حُقَّ پټ دے يا دا أَنَّ تكرار دے
د مخكښې أَنَّ سره يا جواب حذف دے يعنى يَهلك.
٦٤ دے آيت كښې هم زورنه ده منافقينو ته او د هغوى يو صفت قبيحه ذكر دے مطلب د آيت
دا دے چه دوى به ټوقې كولے په پيغمبر او په قرآن پورے او بيا به يريدل د دے خبرے نه
هسے نه چه الله تعالى زمونږ د بدو په باره كښې سورت نازل كړى او مؤمنان زمونږ د حال
نه خبر كړى ليكن دا سورت الله تعالى د هغوى د عيبونو په باره كښې نازل كړيدے د دے
وجے نه دے سورت ته سورة الفاضحه هم وائي (شرموونكے). او سورة المثيرة او مبعثرة
ورته هم وائي (را ښكاره كوونكے نقصانونو لره) او سورة الحفارة ورته هم وائي (كنستونكے
هغه خبرے چه د دوى په زړونو كښې دى). قُلِ اسْتَهْزِءُوا، دا دليل دے چه استهزا ئے
كوله په الله او رسول او مؤمنانو پورے او دا امر د پاره د تهديد (زورنے) دے.
٦٥ دے آيت كښې د هغوى دوه صفات قبيحه ذكر دى. سَأَلْتَهُمْ، تفصيل د سوال د مخكښې
آيت نه معلوم دے يعنى سبب د استهزاء كولو. نَخُوضُ وَنَلْعَبُ، دا عذر د استهزاء كولو دے

لَا تَعْتَذِرُوْا قَدْ كَفَرْتُمْ بَعْدَ اِيْمَانِكُمْ ؕ

بهانې مه کوئ یقینًا کفر ښکاره کړې دې تاسو روستو د ایمان (ښکاره کولو) ستاسو نه.

اِنْ نَّعْفُ عَنْ طَآئِفَةٍ مِّنْكُمْ نُعَذِّبْ طَآئِفَةً م

که معافي اوکړو مونږ د یو ډلې ستاسو نه (په توفیق د توبې) نو عذاب به ورکړو ولې ډلې ته

بِاَنَّهُمْ كَانُوْا مُجْرِمِيْنَ ﴿۶۶﴾ ع ۱۴ اَلْمُنٰفِقُوْنَ وَالْمُنٰفِقٰتُ ع ۹ ۱۴

په دې وجه چه دوی مجرمان دی. منافقان سړی او منافقانې ښځې

بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمُنْكَرِ وَيَنْهَوْنَ وقف لازم

بعض د دوی د بعضو نه دی، حکم کوی په ناروا او منع کوی

عَنِ الْمَعْرُوْفِ وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ ؕ

د نیکئ نه او بندوي لاسونه خپل.

اودا مصداق دے د هغه مَتَل مشهور چه "عذر گناه بدتر از گناه" ځکه چه خوض او لعب په الله او رسول او اٰیاتو پورې غټ ګناه دے او جصاص او رازی لیکلی دی چه کلمه د کفر په توقه سره وئیل هم کفر دے.

نَخُوْضُ، خوض په ناجائز خبرو کښ مشغولیدل د پاره د ګپ شپ. نَلْعَبُ یو ناجائز قول یا عمل کول د پاره د وخت تیرولو اګرچه هغه ئې مقصد نه وی.

تَسْتَهْزِءُوْنَ، دا دلیل دے چه خوض او لعب مرادف دے د استهزاء سره او استهزاء بالله عام دے یعنی د هغه په نومونو او صفتونو او حکمونو پورې استهزاء کول.

۶۶ دے ایت کښ هم زورنه ده منافقانو ته او د هغوی دوه صفات قبیحه ذکر دی او دا ایت دلیل دے په دے خبره چه څوک په الله تعالٰی پورې یا رسول صلی الله علیه وسلم او قراٰن پورې توقے کوی او هغه سپک ګڼړی نو هغه کافر دے او مرتد دے.

اِنْ نَّعْفُ، مراد دا دے چه الله تعالٰی بعض منافقینو ته توفیق د توبې ورکړو او هغوی ئې معاف کړل. په دے کښ اشاره ده چه توبه د مرتد هم قبلیږی.

مُجْرِمِيْنَ، هغه کسان چه په ګناه باندے پاتې وی توبه نه اوباسی.

نَسُوا اللّٰهَ فَنَسِيَهُمْ ؕ اِنَّ الْمُنٰفِقِيْنَ هُمُ

هیر کړی دی دوی الله تعالیٰ لره، نو الله تعالیٰ هم پریخودل دوی لره (په محرومولو سره د خیر نه) یقیناً منافقان خاص دوی

الْفٰسِقُوْنَ ﴿٦٧﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُنٰفِقِيْنَ

لوئے نافرمان دی. وعده کړیده الله تعالیٰ د منافقو سړو سره

وَالْمُنٰفِقٰتِ وَالْكُفَّارَ نَارَ جَهَنَّمَ خٰلِدِيْنَ

او منافقو ښځو سره او د کافرانو سره د اور د جهنم همیشه به وی دوی

فِيْهَا ؕ هِيَ حَسْبُهُمْ ۚ وَلَعَنَهُمُ اللّٰهُ ۚ وَلَهُمْ

په هغے کښ - هغه پوره سزا د دوی ده، او لعنت کړیدے په دوی باندے الله تعالیٰ، او دوی لره

عَذَابٌ مُّقِيْمٌ ﴿٦٨﴾ كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ كَانُوْٓا

عذاب همیشه دے. تاسو یئ پشان د هغے کسانو چه مخکښ وو ستاسو نه، وو هغوی

اَشَدَّ مِنْكُمْ قُوَّةً وَّاَكْثَرَ اَمْوَالًا وَّاَوْلَادًا ؕ

زیات ستاسو نه په طاقت کښ او ډیر وو په مالونو او په اولاد کښ.

ش ٦٧ په دے ایت کښ زورنه ده منافقانو ته او د هغوی شلو صفات قبیحه ئے ذکر کړیدی.

بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ، معنیٰ دا ده چه دوی د یو بل په شان دی په ټولو کښ د دین نه اوداړنګ په دے صفاتو ذکر شوو کښ. او اشاره ده دے ته چه په دے حکم کښ نارینه او زنانه برابر دی. لفظ د مِنْ استعمالیږی په تشبیه او اشتراک عمل کښ.

وَيَقْبِضُوْنَ اَيْدِيَهُمْ، مراد د دے نه پریښودل د جهاد او د انفاق فی سبیل الله او د نورو واجباتو دی.

نَسُوا اللّٰهَ، مراد د دے قصداً پریښودل دی خو دا سے پریښودل چه او کړئ په شان د هیر شوی مطلب دا دے چه دوی پریښودلے دے ذکر او طاعت د الله تعالیٰ لره.

ش ٦٨ دے ایت کښ یره اُخروی ده منافقینو ته په پینځه طریقو سره.

وَعَدَ، د دے اکثر استعمال په خیر کښ وی او د اوعد استعمال په شر کښ وی لیکن هر کله چه د وعد سره نار جهنم ذکر شونو مراد د دے نه وعید دے.

فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ فَاسْتَمْتَعْتُمْ

پس فائده واخسته هغوی په برخه خپله نو تاسو هم فائده واخسته

بِخَلَاقِكُمْ كَمَا اسْتَمْتَعَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ

په برخه ستاسو لکه چه فائده اخستے وه هغه کسانو چه مخکښ وو ستاسو نه

بِخَلَاقِهِمْ وَخُضْتُمْ كَالَّذِيْ خَاضُوْا ط

په برخه خپله او مشغول شوئ تاسو پشان د هغے کسانو چه مشغول شو یو و۔

اُولٰٓئِكَ حَبِطَتْ اَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا

دغه کسان برباد شویدی عملونه د هغوی په دُنیا کښ

وَالْاٰخِرَةِ ج وَاُولٰٓئِكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۶۹﴾

او په آخرت کښ او دغه کسان هم دوی تاوان والا دی۔

ف۶۹ په دے ایت کښ تشبیه د دے منافقانو اوکافرانو ده د مخکنو کافرانو سره په هغه صفاتو قبیحو کښ چه تیر شوی دی او په صفت د استمتاع اوخوض کښ نو دا دوه نور قبیح اوصاف جامعه دی او په سزا کښ۔ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ، په دے کښ اشاره ده صفت د فاسقانو اوفاجرانو ته چه هغوی د دُنیا شیزونه د خپل خواهش مطابق استعمالول۔ وَخُضْتُمْ، په دے کښ اشاره ده مرض د مبتدعینو اود مکذبینو د حق ته چه هغوی د ځان نه دین ایجاد کړے وی د خپل خواهشاتو مطابق۔ كَالَّذِيْنَ، د دے نه مخکښ لفظ (اَنْتُمْ) پټ دے۔ قُوَّةً، طاقت د بدنونو یا زور د ظلم او د نیولو د مظلومانو مراد دے۔ فَاسْتَمْتَعُوْا بِخَلَاقِهِمْ، د خلاق نه مراد د دُنیا مالونه اومرتبے دی چه دا تقدیری برخه ده د طرف د الله تعالیٰ نه او دا لفظ یۓ ځکه ذکر کړو چه دلالت اوکړی په قباحت د تیر شوی خلقو بیا روستو جمله کښ د هغوی د عمل سره تشبیه ورکړے شوه۔ فِي الدُّنْيَا، حبط په دنیا کښ دا دے چه نتیجه د خیر په هغے کښ نه حاصلیږی دا رنګ په دنیا کښ د هغوی مداح په عباداتو د هغوی سره نه کیږی چه دا متقی دے مونځ ګذار دے یا حاجی دے۔ وَالْاٰخِرَةِ، او په اخرت کښ په دغه عملونو سره ثواب نه حاصلیږی۔

أَلَمْ يَأْتِهِمْ نَبَأُ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ قَوْمِ

ایا نه دے راغلے دوی ته خبر د هغه کسانو چه مخکښ وو د دوی نه قوم د

نُوْحٍ وَّعَادٍ وَّثَمُوْدَ ۙ۬ وَقَوْمِ اِبْرٰهِيْمَ

نوح (علیه السلام) او عادیان او ثمودیان او قوم د ابراهیم (علیه السلام)

وَاَصْحٰبِ مَدْيَنَ وَالْمُؤْتَفِكٰتِ ؕ اَتَتْهُمْ

او اوسیدونکی د مداین او د اُلټه کړے شوو کلو والا (قوم لوط) راغلی دی دوی ته

رُسُلُهُمْ بِالْبَيِّنٰتِ ۚ فَمَا كَانَ اللّٰهُ

رسولان د دوی په ښکاره حکمونو سره نو نه وو الله تعالیٰ

لِيَظْلِمَهُمْ وَلٰكِنْ كَانُوْٓا اَنْفُسَهُمْ

چه ظلم ئے کړے وے په دوی باندے لیکن وو دوی په خپلو ځانونو باندے

يَظْلِمُوْنَ ﴿٧٠﴾ وَالْمُؤْمِنُوْنَ وَالْمُؤْمِنٰتُ

ظلم کوونکی۔ او مؤمنان سړی او مؤمنانے ښځے

وقف لازم

بَعْضُهُمْ اَوْلِيَآءُ بَعْضٍ ۘ يَاْمُرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ

بعض د دوی دوستان د بعضو دی حکم کوی په نیکئ سره

ت دا ایت تفسیر دے د مخکښ ایت د پاره چه په هغے کښ فرمائیلی وو كَالَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ، یعنی ذکر د مخکنو قومونو مکذبینو دے سرۀ د اشارے کولونه د هغوی دنیوی عذابونو ته چه په نورو سورتونو مکیو کښ ذکر دی دا قومونه په سورۃ حج ۴۲ تر ۴۳ تر ۴۴ کښ او په سورۃ ص ۱۲ تر ۱۳ کښ ذکر دی۔

اَنْفُسَهُمْ يَظْلِمُوْنَ، مراد د ظلم نه تکذیب او کفر کول دی چه هغه سبب د عذاب د دوی او ګرځیدلو۔

وَيَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَيُقِيمُونَ الصَّلٰوةَ

او منع کوی د بدئ نه او پابندی کوی د مانځه

وَيُؤْتُونَ الزَّكٰوةَ وَيُطِيعُونَ اللّٰهَ وَرَسُولَهٗ ؕ

او ورکوی زکوٰة لره او تابعداری کوی د الله تعالیٰ او د رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه

اُولٰٓئِكَ سَيَرْحَمُهُمُ اللّٰهُ ؕ اِنَّ اللّٰهَ عَزِيزٌ

دغه کسان خامخا رحم کوی په دوی باندے الله تعالیٰ. یقیناً الله تعالیٰ زوراور دے

حَكِيمٌ ﴿۷۱﴾ وَعَدَ اللّٰهُ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُؤْمِنٰتِ

حکمتونو والا دے. وعده کړیده الله تعالیٰ د مؤمنانو سره او د مؤمنانو ښځو سره

جَنّٰتٍ تَجْرِى مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِينَ

د باغونو چه بهیږی لاندے د هغے نه ویالے همیشه به وی دوی

ف دے ایت کښ صفات د مؤمنانو دی په مقابله د منافقانو کښ. فائده: د دوی په باره کښ اولیاءُ لفظ دے او د منافقینو په باره کښ بَعْضُهُمْ مِّنْ بَعْضٍ لفظ وو دیکښ نکته داده چه د مؤمنانو زړونه یو دی په محبت کولو کښ د یو بل سره او په شفقت کولو کښ په یو بل باندے او هرچه منافقان دی د هغوی په زړونو کښ د یو بل سره اختلاف دے لیکن په حکم کښ د یو بل سره پیوست دی.

بِالْمَعْرُوفِ، شریعتی وئیلی دی چه هرخیر او طاعت چه شرعی وی نو اول په هغے کښ ایمان او توحید او سنت داخل دی.

الْمُنْكَرِ، هرهغه څیز چه په شرع کښ د هغے قباحت معلوم وی اول په هغے کښ شرک او بدعت داخل دے.

وَيُطِيعُونَ، دا په مقابله د نَسُوا اللّٰهَ (په صفت د منافقانو) کښ دے. د دے صفتونو خلاصه څلور اموردی اول په کورنۍ کښ ولایت یعنی د نورونه براءت دویم دعوت دریم نیک اعمال څلورم اتباع د قرآن او حدیث. په دے ایت کښ معلومه شوه چه دعوت د حق په زنانو باندے هم لازم دے لیکن د نارینو او د زنانو په اوصافو کښ شرعاً فرق وی د هغے لحاظ کول ضروری دی.

فِيهَا وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً فِي جَنّٰتِ عَدْنٍ ؕ
په هغې کښې او په ځايونو مزيدارو په جنتونو دَ هميشوالی کښې.
وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَكْبَرُ ؕ ذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ
او رضامندی دَ الله تعالیٰ ډير لوئے نعمت دے. دا کاميابی
ع ٩ ١٥ الْعَظِيمُ ﴿٧٢﴾ يٰٓاَيُّهَا النَّبِيُّ جَاهِدِ الْكُفَّارَ
لويه ده. اے نبی (صلی الله عليه وسلم) جهاد کوه دَ کافرانو سره
وَالْمُنٰفِقِينَ وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ ؕ وَمَاْوٰىهُمْ
او منافقانو سره او سخت شه په مقابله دَ هغوی کښې. او ځائے دَ دوی (کافرانو)
جَهَنَّمُ ؕ وَبِئْسَ الْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾ يَحْلِفُونَ بِاللّٰهِ
جهنم دے. او بد دے ځائے دَ ورتللو (دا جهنم). قسمونه کوی دوی په الله تعالیٰ باندے

۷۲ دے ايت کښې زيرے اُخروی دے مؤمنانوته په مقابله دَ عذاب دَ منافقانو کښې. وَمَسٰكِنَ طَيِّبَةً يعنی بنګلے به وی جوړے کړے شوے دَ ملغلرو او دَ ياقوت وغيره نه اوخوشبويه به وی او په مزل دَ پنځوسوو کالو کښې دَ هغې خوشبوئي به خوريږی اومشتمل به وی په بے شماره نعمتونو سره. په دے ايت کښې لفظ جَنّٰتٍ دوه کرته ذکر دے يووجه داده چه دَ اول نه مراد دار دَ ثواب دے دَ ټولو مؤمنانو دَ پاره او دَ دويم نه مراد باغونه دی بله وجه داده چه دَ اول نه ټول جنت مراد دے او دَ دويم نه مراد په جنت کښې يو معيّن ځائے دے. په دے ايت کښې والمؤمنات هم ذکر کړيدی دَ دے دَ پاره چه څوک وهم اونکړی چه دا سورت دَ جهاد په باره کښې دے او جهاد خو دَ نارينو کار دے نو جنت به صرف دَ هغوی وی؟

۷۳ په دے ايت کښې خطاب دے پيغمبرته او داخل دی په دے خطاب کښې مؤمنان هر کله چه مخکښې اياتونو کښې مقابله ذکر شوه په صفاتو او حالاتو کښې دَ کافرانو او دَ منافقينو سره نو اوس په دے ايت کښې اعلان دَ جهاد دے دَ ټولو کافرانو سره او جهاد دَ کافرانو سره په توره سره او په ژبه سره دے او جهاد دَ منافقانو سره که هجرت ئې نه وی کړے نو هم په توره سره دے او که په دار اسلام کښې وی نو په ژبه سره دے. وَاغْلُظْ عَلَيْهِمْ غلظت مقابل دَ شفقت دے

مَا قَالُوْا ۭ وَلَقَدْ (۵۶) قَالُوْا كَلِمَةَ الْكُفْرِ وَكَفَرُوْا

چه نه دي ويلي دوی ستا په باره کښې. او يقينًا ويلي ده دوی کلمه (خبره) د کفر او کفر يې ښکاره کړيدے

بَعْدَ اِسْلَامِهِمْ وَهَمُّوْا (۵۷) بِمَا لَمْ يَنَالُوْا ۚ

پس د اسلام ښکاره کولو د دوی نه او قصد يې کړيدے د هغے کار چه حاصل يې نه کړو

وَمَا نَقَمُوْٓا اِلَّآ (۵۸) اَنْ اَغْنٰىهُمُ اللّٰهُ وَرَسُوْلُهٗ

او بد نه گڼړی دوی مگر دا خبره چه مالدار کړل دوی لره الله تعالٰی او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه

مِنْ فَضْلِهٖ ۚ فَاِنْ يَّتُوْبُوْا يَكُ خَيْرًا لَّهُمْ ۚ

د فضل د الله تعالٰی نه، پس که دوی توبه ويستله نو وی به غوره د دوی د پاره

وَاِنْ يَّتَوَلَّوْا يُعَذِّبْهُمُ اللّٰهُ عَذَابًا اَلِيْمًا ۙ

او که دوی مخ اوګرځولو نو عذاب به ورکړی دوی ته الله تعالٰی عذاب دردناک

فِى الدُّنْيَا وَالْاٰخِرَةِ ۚ وَمَا لَهُمْ فِى الْاَرْضِ

په دُنيا کښې او په آخرت کښې، او نه به وی دوی لره په ټوله زمکه کښې

مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۷۴﴾ وَمِنْهُمْ مَّنْ عٰهَدَ اللّٰهَ

څوک دوست او نه مددګار۔ او بعض د دوی نه هغه څوک دی چه لوظ يې کړيدے الله تعالٰی

او ويلي کيږی سختوالی د زړه ته په معامله کښې مراد دا دے چه د دے دواړو ډلو سره هيڅ شفقت او نرمی مه کوئ او د دوی په مقابله کښې کلک شئ د خلے کنځل کول د دے نه نه دی مراد. دارنګ غلظت نه مراد ذکر د هغه عيبونو د منافقانو دے چه په دے سورت کښې ذکر شويدی۔

۵۶ په دے آيت کښې زور نه ده منافقانو ته د هغوی په دريو صفاتو قبيحو سره هرکله چه مخکښې آيت کښې منافقان يې شريک کړل په حکم د کافرانو کښې نو هغوی انکار اوکړو د کفر کولو نه په قسم کولو سره نو په دے آيت کښې د هغے جواب دے۔ كَلِمَةَ الْكُفْرِ نه مراد کنځل کول دی پيغمبر ته او طعن کول دی په اسلام باندے وَهَمُّوْا بِمَا لَمْ يَنَالُوْا مراد د دے نه واقعه د هغه دولس [12] منافقانو ده په

لَئِنْ اٰتٰىنَا مِنْ فَضْلِهٖ لَنَصَّدَّقَنَّ

که چرې رائې کړو موږ ته د فضل خپل نه (څه مال) نو خامخا صدقه به کوو

وَلَنَكُوْنَنَّ مِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿۷۵﴾ فَلَمَّآ اٰتٰىهُمْ

او خامخا شو به د نیک عمل کوونکو نه. نو هر کله چې ورکړو الله تعالیٰ دوی ته

مِّنْ فَضْلِهٖ بَخِلُوْا بِهٖ[۵۹] وَتَوَلَّوْا وَّهُمْ مُّعْرِضُوْنَ[۶۰] ﴿۷۶﴾

د فضل خپل نه نو شو مټیا او کړه دوی په هغې سره او او ګرځېدل (د لوظ خپل نه) او دوی مخ اړوونکی دی.

فَاَعْقَبَهُمْ نِفَاقًا فِيْ قُلُوْبِهِمْ اِلٰى يَوْمِ

پس پیدا کړو الله تعالیٰ منافقت په زړونو د دوی کښې تر هغې ورځې پورې

غزوه تبوک کښې چه اراده یې کړې وه د قتل د پیغمبر لیکن هغه اراده کښې کامیاب نه شول ځکه چه الله تعالیٰ نبی لره خبر ورکړو. وَمَا نَقَمُوْٓا مراد د دے دا دے چه منافق سړے د احسان کوونکی سره بدا کوی. په دے ایت کښې نسبت د مالدارکولو الله تعالیٰ ته په طریقه د ورکولو سره دے او نسبت د هغې رسول صلی الله علیه وسلم ته په طریقه د تقسیم سره دے یعنی رسول صلی الله علیه وسلم به دوی ته په مال فئ او غنیمت او زکوٰة کښې مالونه ورکول تر دے چه دوی مالدار شول. ځکه حدیث شریف کښې راغلے دی اِنَّمَا اَنَا قَاسِمٌ وَاللّٰهُ يُعْطِيْ " یقینًا زه تقسیم کوونکے یم او الله تعالیٰ ورکوی".

[۵۹] په دے ایت کښې اشاره ده بل قسم منافقینو ته او د هغوی قبیحه صفاتو ته چه نذر اوکړی د الله تعالیٰ په نوم او هغه نه پوره کوی او وعده او کړی د الله سره او د هغې هم خلاف کوی. فائده: ډیرو مفسرینو په سبب د نزول د دے ایت کښې ثعلبه بن حاطب انصاری لیکلے دے لیکن هغه صحیح نه دے ځکه چه هغه بدری صحابی وو هغه منافق نه شی کیدلے په دغه قصه باندے ډیرو اهل علمو رد کړیدے بیهقی په دلائل النبوة کښې دیته ضعیف وئیلے دی دارنګ ابن عبد البر او ابن الاثیر. او هیثمی په مجمع الزوائد او صاحب د فیض القدیر او نسیب رفاعی په مختصر ابن کثیر او سیوطی وغیره هم ورته ضعیف وئیلے دی.

[۶۰] په دے ایت کښې دوه صفات قبیحه د منافقانو ذکر دی او دا ایت دلیل دے په دے باندے چه څوک د نذر صحیح وفا نه کوی نو هغه ګنهګار دے.

يَلْقَوْنَهٗ بِمَآ اَخْلَفُوا اللّٰهَ مَا وَعَدُوْهُ وَبِمَا

چه مخامخ به شي دوي د هغه سره په سبب د دے چه خلاف کړے دوي د الله تعالىٰ نه، د هغے وعدے چه کړے وه د هغه سره او په د

كَانُوْا يَكْذِبُوْنَ ﴿٧٧﴾ اَلَمْ يَعْلَمُوْٓا اَنَّ اللّٰهَ

چه دوي دروغ وئيل. آيا نه پوهيږي دوي چه يقيناً الله تعالىٰ

يَعْلَمُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰىهُمْ وَاَنَّ اللّٰهَ

پوهيږي په پټو خبرو د دوي او په جرګو د دوي او يقيناً الله تعالىٰ

عَلَّامُ الْغُيُوْبِ ﴿٧٨﴾ اَلَّذِيْنَ يَلْمِزُوْنَ الْمُطَّوِّعِيْنَ

ښه پوهيږي ونکے دے په ټولو عيبونو باندے. (دا منافقان) هغه کسان دي چه عيب لګوي په رغبت کوونکو

مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ فِي الصَّدَقٰتِ وَالَّذِيْنَ

د مؤمنانو نه په صدقو ورکولو کښ او هغه کسان

لَا يَجِدُوْنَ اِلَّا جُهْدَهُمْ فَيَسْخَرُوْنَ

چه نه مومي هغوي مګر مزدوري خپله پس دوي مسخرے کوي

ف٧٧ دا آيت هم متعلق دے د تير شوي آيت سره او په دے کښ يو صفت قبيحه د هغوي ذکر دے.

يَوْمِ يَلْقَوْنَهٗ مراد د دے نه ورځ د مرګ ده.

فَاَعْقَبَهُمْ ضمير فاعل راجع دے الله تعالىٰ ته يا راجع دے بخل ته او يَلْقَوْنَهٗ ضمير هم راجع دے الله تعالىٰ ته يا بخل ته په تقدير د جزاء د بخل سره.

ف٧٨ دا هم زورنه ده منافقينو ته او مطلب دا دے چه الله تعالىٰ د دے منافقانو په ټولو عملونو باندے عالم دے نو دوي له به سزا ورکوي. او آيت ښکاره دليل دے په دے خبره چه علم د غيب خاص صفت د الله تعالىٰ دے.

سِرَّهُمْ هغه خبرے چه په زړه کښ وي او نَجْوٰىهُمْ پټے جرګے کول.

مِنْهُمْ ؕ سَخِرَ اللّٰهُ مِنْهُمْ ؗ وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۷۹﴾

په هغوی پورې. الله تعالیٰ به سزا دَ مسخرو ورکړی دوئته، او دوی لره عذاب دردناک دے.

اِسْتَغْفِرْ لَهُمْ اَوْ لَا تَسْتَغْفِرْ لَهُمْ ؕ اِنْ تَسْتَغْفِرْ

که بخنه غواړې ته دوی لره او که نه غواړې بخنه دوی لره (یوشان ده). که ته بخنه اوغواړې

لَهُمْ سَبْعِيْنَ مَرَّةً فَلَنْ يَّغْفِرَ اللّٰهُ لَهُمْ ؕ

دوی لره اویا کرته نو هیچرې بخنه نه کوی الله تعالیٰ دوئته.

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ

دا په دے وجه چه یقیناً دوی کفر کړیدے په الله تعالیٰ او په رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه

وَاللّٰهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْفٰسِقِيْنَ ﴿۸۰﴾ ع

او الله تعالیٰ نه ورکوی توفیق دَ هدایت قوم نافرمان ته.

ع ۱۶ ۱۲

۷۹ دے ایت کښ هم زوړنه ده منافقینو ته اودَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکردی مراد دادے که څوک دَ الله تعالیٰ په لاره کښ ډیرخرچ کوی دَ مالدارئ دَ وجے نه نومنافقان په هغه باندے عیب لګوی چه دا ریاکار دے او که څوک لږ خرچ کوی دَ غریبئ دَ وجے نومنافقان هغه پورے مسخرے کوی. فائده: دا ایت دلیل دے په دے خبره چه څوک په صحابه کرامو طعن کوی نو هغه منافقان دی لکه شیعه اوروافض ۸۰ په دے ایت کښ خطاب دے پیغمبر اومؤمنانو ته او ویره ده منافقینو لره چه هغوی دَ پاره استغفار نه قبلیږی. ابتداءِ دَ دے ایت کښ اختلاف دے بعضو علماؤ وئیلے دی چه مقصد په دے کښ ناامیده کول دی دَ مغفرت دَ هغے نه نو استغفار دَ هغے دَ پاره بے فائدے شو اودَ بعضو علماؤ په نیز دا اختیار ورکول دی. حدیث دَ بخاری دلیل دے چه دا اختیار وو نبی صلی الله علیه وسلم ته لیکن بیا منسوخ شویدے په ایت ۸۴ او ۱۱۳ باندے. سَبْعِيْنَ مراد په دے سره صرف اویا نه دی بلکه بناء په عدد دَ عربو دالفظ استعمالیږی دَ ډیر والی دَ پاره عدد دَ سبع دا سے عدد دے چه مشتمل دے په ټولو صفتونو دَ عدد باندے فرد اوزوج اصم اومنطق احد او مرکب او دا رنګ اووه مرتبے دَ عدد دی. یویز. لسیز. سلیز. زریز. لس زریز.

فَرِحَ الْمُخَلَّفُوْنَ بِمَقْعَدِهِمْ خِلٰفَ

خوشحاله دي داپاتے کړے شوي (دَ جهاد نه) په کیناستلو خپلو باندے په خلاف

رَسُوْلِ اللّٰهِ وَكَرِهُوْٓا اَنْ يُّجَاهِدُوْا بِاَمْوَالِهِمْ

دَ رسول الله کښ او بد کتړي دوي چه جهاد اوکړي په مالونو خپلو

وَاَنْفُسِهِمْ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَقَالُوْا لَا تَنْفِرُوْا

او په ځانونو خپلو سره په لار دَ الله تعالیٰ کښ او وائي دوي (نورو خلقوته) مه اوځئ

فِي الْحَرِّ ؕ قُلْ نَارُ جَهَنَّمَ اَشَدُّ حَرًّا ؕ لَوْ كَانُوْا

په ګرمئ کښ (جهاد لره) - ته ورته او وايه اُور دَ جهنم ډير سخت ګرم دے که چرے دوي

يَفْقَهُوْنَ ۝٨١ فَلْيَضْحَكُوْا قَلِيْلًا وَّلْيَبْكُوْا

پوهيدلے (نو داسے به ئے نه کولے) - نو او دِ خاندي دوي لږه موده او او دِ ژاړي

سل زریز- ملیون- نوکَ دے وجے نه عرب کَ ډیر والی کَ پاره سبع ذکرکوی او کله کَ تاکید کَ پاره سبعین ذکرکړی او کَ زیات تاکید کَ پاره سبعمائة ذکرکوی۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَفَرُوْا اشاره ده چه عدم مغفرت کَ دوی کَ وجے کَ نقصان کَ نبی صلی الله علیه وسلم او کَ بخل او قصور کَ الله تعالیٰ نه نه دے بلکه کَ دوی کَ کفر کَ وجے نه دے۔

سلہ دے ایت کښ هم زورنه ده منافقینو ته او څلور صفات قبیحه کَ هغوی دی۔ کَ اول صفت مطلب دا دے چه کیناستل کَ جهاد نه یو ګناه دے او مخالفت کَ رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دویم ګناه دے او خوشحالی په هغے باندے دریم ګناه دے او دا مرض کَ مبتدعینو هم دے چه په هغه عمل چه خلاف کَ رسول وی خوشحالی کوی۔ الْمُخَلَّفُوْنَ دوی اګرچه پخپله پاتے شوے وو کَ جهاد نه لیکن دا په حقیقت کښ قهر او غضب دے کَ الله تعالیٰ په دوی باندے یعنی الله تعالیٰ پاتے کړل دوی لره لکه په سلہ کښ تیر شول۔ خِلٰفَ په معنی کَ مخالفت سره دے او دا مفعول لهٗ دے یا په معنی کَ خلف سره دے۔ يَفْقَهُوْنَ یعنی علم کَ فرق کَ دنیا او کَ اخرت او کَ مشقتونو او کَ نعمتونو کَ دواړو او دا حقیقی علم دے کَ دے وجے نه دیته فقاهت او ئیلے شو۔

كَثِيرًا جَزَآءًۢ بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿۸۲﴾

ډیره موده، بدله ورکیدیشی په سبب دَ هغې عملونو چه دوی یې کوی.

فَإِن رَّجَعَكَ اللَّهُ إِلَىٰ طَائِفَةٍ مِّنْهُمْ

پس که واپس راوستے نه الله تعالیٰ یوې ډلے ته دَ دوی نه

فَاسْتَأْذَنُوكَ لِلْخُرُوجِ فَقُل لَّن تَخْرُجُوا

نو اِجازت به غواړی ستا نه دَ پاره دَ وتلو (جهاد دَ پاره) نو ته ورته اووایه هرګز مه اوځئ

مَعِيَ أَبَدًا وَلَن تُقَاتِلُوا مَعِيَ عَدُوًّا إِنَّكُمْ

زما سره هیچرے او هیڅ کله جهاد مه کوئ زما ملګرتیا کښی دشمن سره. یقیناً تاسو

رَضِيتُم بِالْقُعُودِ أَوَّلَ مَرَّةٍ فَاقْعُدُوا

رضا شوی یئ په کیناستلو اول ځل. نو کینئ

مَعَ الْخَالِفِينَ ﴿۸۳﴾ وَلَا تُصَلِّ عَلَىٰ أَحَدٍ مِّنْهُم

دَ پاتے کیدونکو سره. او مونځ (جنازه) مه کوه په هیڅ یو دَ دوی نه

۸۲ داهم زورنه ده منافقانو ته او په دے سره امر مراد نه دے بلکه خبر او زورنه مراد ده او دارنګ وَلْيَبْكُوا په امر سره خبر مراد دے او دَ قَلِيلًا نه مراد دنیا ده او دَ كَثِيرًا نه مراد جهنم دے او دَ ضحك او بكاء نه مراد معنی حقیقی ده او احتمال دے چه مراد وی دَ دے نه خوشحالی او غمونه.

فائده: خندا کول بغیر دَ قهقهے نه دَ نبی او دَ صحابه کرامو نه ثابت ده لیکن ډیر والے دَ هغے عمل دَ بے وقوفانو دے.

۸۳ دے ایت کښی هم زورنه ده منافقانو ته او په دے کښی منع کول دَ دوی دی په ائنده زمانه کښی دَ وتلو دَ جهاد دَ پاره او هرکله چه دا ایتونه په سفر دَ تبوک کښی نازل شوی وو نو ځکه یې اوفرمائیل چه فَإِن رَّجَعَكَ اللَّهُ او الْخَالِفِينَ زنانه او واړه او کمزوری سړی په دے کښی داخل دی. او خالفین فاسدینو ته هم وائي او فاسدین په معنی دَ ګنده بانده دے او فراء وئیلی دی چه خالفین مخالفت کوونکو ته هم وئیلے شی. فائده: په دے ایت کښی دلیل دے په دے خبره چه

مَّاتَ اَبَدًا وَّلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ ؕ اِنَّهُمْ

چه مړشي هیڅکله او مه اودرېږه ده څه د قبر په خوا کښې. یقینًا دوی

كَفَرُوْا بِاللّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ وَمَاتُوْا وَهُمْ

کفر کړیدی په الله تعالیٰ او په رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه او مړه شویدي دوی په داسې حال چه دوی

فٰسِقُوْنَ ﴿۸۴﴾ وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ ؕ

نافرمان وو. او تعجب کښې دې نه اچوي تا لره مالونه د دوی او اولاد د دوی

اِنَّمَا یُرِیْدُ اللّٰهُ اَنْ یُّعَذِّبَهُمْ بِهَا فِی الدُّنْیَا

یقینًا غواړي الله تعالیٰ چه عذاب ورکړي دوی لره په هغې سره په دنیا کښې

خلاف کوونکي وی د پیغمبر نه نو د هغوی سره ملګرتیا منع ده هم دا رنګ امام رازی په تفسیر کبیر کښې ذکر کړے دی. اِلٰی طَآئِفَةٍ طائفه یې ځکه اوئیل چه په دوی کښې بعضو ایمان راوړو او بعض د نبی صلی الله علیه وسلم د واپس راتللو نه مخکښې مړه شول. یا طائفه نه مراد منافقین دی ځکه چه پاتے شوی بعض مومنان وو.
۸۴ دا عطف دے په مخکښې آیت کښې فقل باندے په مضمون کښې او د فَاسْتَاْذَنُوْكَ د لاندے داخل نه دے. په دے آیت کښې هم زور نه ده منافقینو ته اویره ورکول دی چه د منافقت د وجے نه په دوی باندے جنازه او پس د مرګه دوی ته دُعا کول منع دی. وَلَا تَقُمْ عَلٰى قَبْرِهٖ مطلب دا دے چه د رسول الله صلی الله علیه وسلم عادت وو چه کله به مړے دفن کړے شو او قبر به تیار شو نو د هغه د قبر په خوا کښې به اودریدلو او دُعا به یې کوله او دا رنګ چه کله زیارت د یو قبر به یې کوؤ نو هم به یې په اولاړے دُعا کوله لیکن د منافقانو د پاره د دے طریقے نه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړے شو. دا دلیل دے چه د قبر په خوا کښې دعا کول په ولاړه سره سُنت ده عَلٰى قَبْرِهٖ علی په معنی د عند سره دے ځکه د قبر د پاسه اودریدل جائز نه دی. اِنَّهُمْ كَفَرُوْا دا علت دے د منع د صلوٰة او قیام د قبر سره د پاره د دُعا. فٰسِقُوْنَ چه کفر او ګناهونه ښکاره کوی.

وَتَزْهَقَ اَنْفُسُهُمْ وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۸۵﴾ وَاِذَآ

او اوځي روحونه د دوى او حال دا چه دوى کافران وى. او کله چه

اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ اَنْ اٰمِنُوْا بِاللّٰهِ وَجَاهِدُوْا

نازل کړې شي يو سورت (يعنې مضمون سره) چه ايمان راوړئ په الله تعالىٰ او جهاد کوئ

مَعَ رَسُوْلِهِ اسْتَاْذَنَكَ اُولُوا الطَّوْلِ مِنْهُمْ

په ملګرتيا د رسول (صلى الله عليه وسلم) د هغه کښې، نو اجازت غواړي ستا نه طاقت والا خلق د دوى نه

وَقَالُوْا ذَرْنَا نَكُنْ مَّعَ الْقٰعِدِيْنَ ﴿۸۶﴾

او وائي چه پرېږده مونږه چه شو د کيناستونکو سره.

۸۵ دا جواب د يو وهم دے که څوک دا وهم اوکړي چه د دوى د مال اړوئ د وجے يا د دوى د ځامنو د وجے نه جنازه کول په دوى باندے به جائز وى؟ نو په دے ايت کښې د هغې جواب اوشو او دا بل حکم د منافقانو دے عطف دے په لا تصل باندے.

سوال: دا ايت مخکښې ۵۵ کښې تير شوے دے نو د مکرر راوړلو څه فائده ده.

جواب[۱]: مخکښې ايت کښې تفريع وه د پاره د منع د قبول د نفقاتو د دے وجے نه يئے په فاسره راوړلو او دا ايت جواب د هغه وهم دے چه مخکښې ذکر شول. جواب[۲] مخکښې ايت په باره د هغه منافقينو کښې وو چه موجود وو په وخت د نزول د ايت کښې او دا ايت عام دے او دواړه ايا تونو کښې فرق دے په څلورو طريقو سره اول دا چه د هغې په سر کښې فاء ده او د دے په سر کښې واو دے د هغې وجه مخکښې معلومه شوه دويم دا چه هلته کلمه د لا دوه کرته وه او دلته يو کرت ده ځکه چه هغه تفريع وو او بناء د تفريع په تفصيل باندے وى او په دے ايت کښې صرف حکم دے د هغې تفصيل ته حاجت نيشته. دريم هلته ليعذبهم په لام سره او دلته ان يعذبهم دے ځکه هلته مفعول حذف دے يعنې تکثير الاموال والاولاد او دلته ان يعذبهم پخپله مفعول دے. څلورم هلته لفظ د الحياة الدنيا ذکر وو او دلته لفظ د حياة محذوف دے وجه دا ده چه هلته تاکيد مقصد وو او دلته مقصد تاکيد نه دے (او الله تعالىٰ ښه پوهيږى په حکمت د کتاب خپل باندے).

۸۶ دا هم په طور د عطف سره ذکر کړے شوے دے ته عطف د قصه په قصه باندے وئيلے شي په دے ايت کښې هم زوړنه ده منافقينو ته چه کله د جهاد اعلان اوشي نو مالدار کسان

رَضُوۡا بِاَنۡ (٦٨) یَّکُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ وَطُبِعَ

رضا (خوشحاله) دي دوي په دے خبره چه شي د پاتے کيدونکو ښځو سره او مهر وهلے شوے دے

عَلٰی (٦٩) قُلُوۡبِهِمۡ فَهُمۡ لَا یَفۡقَهُوۡنَ ﴿٨٧﴾ لٰکِنِ

په زړونو د دوي نو دوي نه پوهيږي (ددے نقصان باندے). ليکن

الرَّسُوۡلُ وَالَّذِیۡنَ اٰمَنُوۡا مَعَهٗ جٰهَدُوۡا

رسول (صلى الله عليه وسلم) او ايمان والا د هغه ملگري جهاد کوي

بِاَمۡوَالِهِمۡ وَاَنۡفُسِهِمۡ ؕ وَاُولٰٓئِکَ لَهُمُ

په مالونو خپلو سره او په ځانونو خپلو سره. او دغه کسان دوي د پاره

الۡخَیۡرٰتُ ۫ وَاُولٰٓئِکَ هُمُ الۡمُفۡلِحُوۡنَ ﴿٨٨﴾

ډيرے خوشحالئ دي او دغه کسان دوي کامياب دي.

د دوی نه د پاتے کیدلو کوشش کوی۔ د اٰمَنُوۡا نه مراد مؤمنانو د پاره همیشګیری د ایمان ده او د منافقو د پاره اخلاص د ایمان دے او دا ئے مخکښ ځکه ذکر کړو چه جهاد بغیر د ایمان نه نه قبلیږی۔ سُوۡرَةٌ څه حصے د سورت ته هم سورت ویلے شی یا مراد د سورت نه ټول سورة توبه دے۔ اُولُوا الطَّوۡلِ ئے ځکه خاص ذکر کړل چه د دوی طاقت اووس رسی او سرهٔ د دے نه جهاد نه کوی۔ الۡقٰعِدِیۡنَ عام مراد دے که مریضان او معذوره وی او که زنانه او بچی او بوډاګان وی۔

۸۷ په دے ایت کښ هم زور نه ده منافقینو ته او د هغوی دوه صفتونه قبیحه ذکر دی۔ خَوَالِفِ جمع د خالفة ده، زنانه او واړه او معذوره سری د دے نه مراد دی۔ دا رنګ خوالف ذلیل کسانو ته هم وائی۔ یَفۡقَهُوۡنَ مراد د فقاهت نه دلته فرق دے په مینځ د فائدو د جهاد او د نقصانونو د ترک الجهاد کښ او دا رنګ په مینځ د صحبت د مجاهدینو کښ او د صحبت د زنانو کښ او دا رنګ په مقاصدو د سورت باندے پوهه لرل۔

۸۸ ۸۹ په دے ایتونو کښ صفت د رسول الله او د صحابه کرامو دے په جهاد کولو سره په مقابله د منافقانو کښ او دوی د پاره زیرے اُخروی دے او په لفظ

أَعَدَّ اللّٰهُ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا

تیار کړیدی الله تعالیٰ دوی دپاره باغونه چه بهیږی
لاندې دَ هغے نه

الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ۭ ذٰلِكَ الْفَوْزُ

ولے همیشه به وی دوی په هغے کښ. دا
کامیابی

الْعَظِيْمُ ﴿٨٩﴾ ع وَجَاۗءَ الْمُعَذِّرُوْنَ مِنَ الْاَعْرَابِ

ع ۱۱

لویه ده. او راغلل په دروغه بهانے کوونکی دَ بانډچیانو نه

لِيُؤْذَنَ لَهُمْ وَقَعَدَ الَّذِيْنَ كَذَبُوا اللّٰهَ

دے دپاره چه اجازت اوکړیشی دوئیته، او کیناستل هغه کسان چه دروغ ئے وئیلے وو الله تعالیٰ ته

وَرَسُوْلَهٗ ۭ سَيُصِيْبُ الَّذِيْنَ كَفَرُوْا مِنْهُمْ

او رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه ته، زر دے چه اوبه رسی هغه کسانو ته چه په کفر پاتے شویدی دَ دوئیته

عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿٩٠﴾ لَيْسَ عَلَى الضُّعَفَاۗءِ

عذاب دردناک. نیشته په کمزورو باندے

دَ لٰکِنِ کښ فائده دا ده چه منافقان دِ دا خیال نکوی چه مونږ جهاد نه کوؤ نو بلځوک نیشته چه جهاد اوکړی نو الله تعالیٰ دَ مجاهدینو شان ذکر کړو او بشارت په څلورو طریقو سره په اول ایت کښ دوه طریقے دی او په دویم کښ هم دوه طریقے دی او په دویم ایت کښ ذکر دَ خیراتِ اخرویه دے. اَلْخَيْرٰتُ مراد دَ دے نه منافع دَ دُنیا او اخرت دی یا مراد دَ دے نه بیبیانے دی په جنت کښ لکه سورة رحمٰن ایت ۷۰ کښ دی.

۹۰ په دے ایت کښ هم زور نه ده منافقینو ته او بیان دَ حال دَ بانډچیانو منافقانو دے پس دَ بیان دَ حال دَ مدینے والونه. مُعَذِّرُوْنَ په شد سره هغه چا ته وائی چه په دروغه عذر کوی یعنی دے کسانو په دروغه عذر کړے وو او کله استعمالیږی دَ پاره دَ عذر صحیح. وَقَعَدَ الَّذِيْنَ مراد دَ دے نه بله ډله ده چه هغوی بغیر دَ عذر ښکاره کولو نه دَ جهاد نه پاتے شول او معنیٰ دا ده چه کیناستل دَ عذر کولو نه یا مراد دَ دے نه دا ځکنئ ډله ده چه دروغ عذرئے پیش کړو

وَلَا عَلَى الْمَرْضٰى وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ
او نه په مریضانو باندے او نه په هغه کسانو چه

لَا يَجِدُوْنَ مَا يُنْفِقُوْنَ حَرَجٌ اِذَا نَصَحُوْا
نه مومی هغه څیز چه خرچ کړی، څه ګناه (په کیناستلو د جهاد نه) کله چه اخلاص کوی

لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ ؕ مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ مِنْ
الله تعالیٰ او رسول (صلی الله علیه وسلم) د هغه کښ. نیشته په احسان کوونکو باندے هیڅ

سَبِيْلٍ ؕ وَاللّٰهُ غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۱﴾
ملامتیا. او الله تعالیٰ بخونکے رحم کوونکے دے،

وَلَا عَلَى الَّذِيْنَ اِذَا مَآ اَتَوْكَ لِتَحْمِلَهُمْ
او نیشته ګناه په هغه کسانو باندے چه کله راغلل تا ته دے د پاره چه سورلی ورکړے دوی ته

او پاتے شول د جهاد نه نو معنیٰ دا شوه چه کیناستل د جهاد نه. ګنا بُوا مراد د دے
دروغونه دعوه د ایمان د دوی ده یا مراد د دے نه دروغ عذر دے. کَفَرُوْا مِنْهُمْ
منهم ئے ځکه او فرمائیلو چه بعض کسانو د دے نه د نفاق نه توبه ویستلے وه.
۹۱ په دے آیت کښ ذکر د معذورینو دے چه هغوی د صحیح عذر د وجے نه د جهاد
نه پاتے شویدی نو دوی ګنهګار نه دی په دے آیت کښ د هغوی نه درے قسمه
ذکر کړیدی. یو ضعیفان ، دا عام لفظ دے چه د بدن نه داسے طاقت ختم
شوے وی چه په هغے سره جهاد کیدے شی، لکه ړوند شوے وی، ګوډ، شل
یا بوډا شوے وی. دویم مریضان په داسے مرض سره چه په جهاد کولو کښ
زیاتی کیږی مرض د هغوی یا هلاکت ته رسوونکی وی. دریم معذور هغه کسان
دی چه خرچه د جهاد نه مومی لیکن په دوی ئے دوه شرطه لګولے دی یو دا چه
نَصَحُوْا لِلّٰهِ وَرَسُوْلِهٖ نصیحت د پاره د الله تعالیٰ اخلاص د عقیدے د توحید
او د هر قسم شرک نه بچ کیدل او عمل کول ئې په اوامرو د الله تعالیٰ او بچ کیدل
د منهیاتو د هغه نه او نصیحت د رسول الله دا دے چه ایمان راوړی په هغه
او د هغه اطاعت کوی او د هغه توقیر او محبت کوی او د هغه د سنت اتباع کوی
او د هغه نه د مخالفت کوونکو سره دشمنی کوی. دویم شرط دا دے

قُلْتَ لَآ اَجِدُ مَآ اَحْمِلُكُمْ عَلَيْهِ ص تَوَلَّوْا

نو تا اوئیل چه زه نه مومم هغه څیز چه سواره کړم تاسو په هغې باندې، نو واپس شول دوی

وَّاَعْيُنُهُمْ تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ حَزَنًا

او سترګو د دوی بهیدلے او ښکے د وجې د غم نه

اَلَّا يَجِدُوْا مَا يُنْفِقُوْنَ ط ﴿٩٢﴾ اِنَّمَا السَّبِيْلُ

په دے خبره چه نه مومی هغه څیز چه خرچ کړی یقیناً ملامتیا

عَلَى الَّذِيْنَ يَسْتَاْذِنُوْنَكَ وَهُمْ اَغْنِيَآءُ ج

په هغه کسانو ده چه اجازت غواړی ستانه (د پاتیکیدلو د جهاد) او دوی مالداروی

مَا عَلَى الْمُحْسِنِيْنَ په دے کښ اشاره ده دیته چه دا معذورین د خپل طاقت مناسب د ژبے جهاد کوی او احسان کوی د مجاهدینو سره په حفاظت د اهل وعیال او د مالونو د هغوی کښ یا دا چه دوی سره د عذر نه نصیحت یو ځائے کړے دے نو د دوی نوم محسنین شو۔

سـ٩٢ دے کښ څلورم قسم معذور ذکر دی یعنی هغه څوک چه د سفر کولو د پاره سورلی نه مومی او دا د غزوه تبوک په وخت کښ اووه کسان وو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل او طلب د سورلوئے ترینه اوکړو لیکن د هغه طاقت کښ سورلی ورکول نه وو نو دوی ډیر په خفګان سره واپس شول او ډیره زمانه ئے ژړا کوله او دوی ته بکاوون وئیلے کیدل. اوبل قول دا دے چه دوی پیزار یا موزے غوختلے و. اول قول غوره دے تَفِيْضُ مِنَ الدَّمْعِ په دے کلام کښ مبالغه د جزا مقصد ده ځکه چه په اصل کښ دموعهم تفیض من الاعین یا تمتلئ الاعین من الدموع ثم تفیض. ترجمه: او ښکے د دوی بهیږی د سترګونه یا سترګے ډکیږی د اوښکونه بیا بهیږی۔

فائده: دا آیت دلیل دے په دے خبره چه د نبی صلی الله علیه وسلم په اختیار کښ چاله څاروی ورکول هم نیشته د جهاد د پاره اګرچه هغه په هغې وخت کښ ژوندے وؤ. نو د مړو په لاس کښ به څنګه څه اختیار وی چه مشرکین خلق د مړو نه څاروی وغیره غواړی۔

رَضُوۡا بِاَنۡ يَّكُوۡنُوۡا مَعَ الۡخَوَالِفِ وَطَبَعَ اللّٰهُ

خوشحاله دي په دې خبره چه شي دَ پاتې كيدونكو سره ، او مهر وهلے دے الله تعالىٰ

عَلٰى قُلُوۡبِهِمۡ فَهُمۡ لَا يَعۡلَمُوۡنَ ﴿۹۳﴾

په زړونو دَ دوی پس دوی نه پوهيږي -

س٩٣ په دے آيت کښ زوړنه ده مالدارو منافقينو ته دا په مقابله دَ لَا يَجِدُوۡنَ مَا يُنۡفِقُوۡنَ او اَتَوۡكَ لِتَحۡمِلَهُمۡ کښ دے۔

اَغۡنِيَآءُ يعنى دوى قادر دي په نفقه او سورلئ باندے او معذوره نه دي -

رَضُوۡا جمله مستانفه ده علت دے دَ طلب دَ اذن دَ دوی او په ٨٦ ٨٧ کښ هم ذاسے مضمون ذکر وو ليکن هلته هغه اغنياء مراد دي چه ډير مالدار دي ځکه ئے هغوی ته اولوالطول وئيلے وو او دلته لږ ے غناء والا مراد دی چه صرف نفقه او سورلئ باندے قادر دی دارنګ هلته حال دَ منافقانو په وخت دَ نزول دَ سورت کښ ذکر وو او دلته حال دَ هغوی په وخت دَ اعلان دَ غزوه تبوک کښ ذکر دے بيا هر کله چه هلته انزلت مجهول ذکر وو نو طبع ئے هم مجهول ذکر کړو- او هلته عدم فقاهت په سورت باندے او دلته عدم علم په نقصانانو دَ ترک دَ جهاد باندے مراد دے دَ دے وجے نه هلته نفي دَ فقه او دلته نفي دَ علم ئے اوکړله -

يَعۡتَذِرُوۡنَ اِلَيۡكُمۡ اِذَا رَجَعۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ ؕ
دروغ بهانې به کوي دوی تاسو ته کله چه واپس شئ تاسو دوی ته -
قُلۡ لَّا تَعۡتَذِرُوۡا لَنۡ نُّؤۡمِنَ لَكُمۡ قَدۡ نَبَّاَنَا
ته ووايه اووايه مه کوئ بهانې هيڅ کله باور نه کوؤ موږ په تاسو بانده يقيناً خبر راکړيدے موږ ته
اللّٰهُ مِنۡ اَخۡبَارِكُمۡ ؕ وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ
الله تعالى د حالاتو ستاسو نه، او زر ده چه اوبه ويني الله تعالى عمل ستاسو
وَرَسُوۡلُهٗ ثُمَّ تُرَدُّوۡنَ اِلٰى عٰلِمِ الۡغَيۡبِ
او رسول (صلى الله عليه وسلم) دهغه بيا به اوګرځولے شئ هغه ذات ته چه عالِم دے په هر پټ
وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمۡ بِمَا كُنۡتُمۡ تَعۡمَلُوۡنَ ﴿٩٤﴾
او ښکاره نو خبر به کړی تاسو په هغه عملونو چه تاسو يې کوئ -

س٩٤ داهم زورنه ده منافقينو ته او داوحی نبی کريم صلى الله عليه وسلم ته په سفر دتبوک کښ راغلے وه په طريقه د پيشنګوئيے په دليل د اِذَا رَجَعۡتُمۡ اِلَيۡهِمۡ سره او يَعۡتَذِرُوۡنَ استيناف دے يعنی که اووئيلے شی چه دوی څنګه استيذان کوی نو طريقه د هغے يې ذکرکړه په اعتذار سره- يَعۡتَذِرُوۡنَ اعتذار په معنی د دروغژن عذر دے- قَدۡ نَبَّاَنَا اللّٰهُ نسبت د انباء الله تعالى ته او حرف د مِن دليل دے په دے خبره چه نبی صلى الله عليه وسلم په بعضِ پټو خبرو بانده هله عالم وو چه الله تعالى به ورله خبر ورکړو لکه په سورة تحريم س٢ کښ دی او دا ايت ښکاره دليل دے په دے خبره چه غيبدان صرف الله تعالى دے- وَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمۡ لفظ د مستقبل دليل دے چه مراد د عملکم نه راتلونکی اعمال دی يعنی توبه کول د نفاق نه يا نه کول او امداد کول د مؤمنانو سره په شرکت د قتال يا نه کول-

فائده: د دے ايت نه بعضِ جاهلانو استدلال کړيدے چه نبی صلى الله عليه وسلم حاضروناظر دے د هغے جواب په ډيرو طريقو سره دے اول دا چه په دے ايت کښ لفظ نَبَّاَنَا اللّٰهُ مِنۡ اَخۡبَارِكُمۡ د دے خلاف دے دويم دا چه وروسته جمله کښ عالم الغيب صفت د الله تعالى د پاره ذکرشوے دے دريم دا چه په ايت ١٠٥ کښ المؤمنون هم ذکر دی نو لازم دا شوه چه ټول مؤمنان دِ حاضروناظر وی

سَيَحْلِفُوْنَ بِاللّٰهِ لَكُمْ اِذَا انْقَلَبْتُمْ اِلَيْهِمْ (۷۰)

زر دے چہ قسمونہ بہ کوی پہ اللہ تعالیٰ تاسو تہ کلہ چہ واپس شئ تاسو دوی تہ

لِتُعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ ۭ اِنَّهُمْ

دے دپارہ چہ مخ واړوئ دَ دوی نہ نو مخ واړوئ دَ دوی نہ یقینًا دوی

رِجْسٌ ۡ وَّمَاْوٰىهُمْ جَهَنَّمُ ۚ جَزَاۗءًۢ بِمَا كَانُوْا (۷۱)

پلیت دی او ځائے دَ دوی جهنم دے، بدلہ بہ ورکیږی دَهغہ عملونو چہ دوی

يَكْسِبُوْنَ ﴿۹۵﴾ يَحْلِفُوْنَ لَكُمْ لِتَرْضَوْا عَنْهُمْ

یې کوی۔ قسمونہ کوی دوی تاسو تہ دِ دپارہ چہ رضا شئ تاسو دَ دوی نہ

څلورم داچہ پہ رؤیت (علم) دَ اللہ او دَ رسول کښې دَ فرق دَ پاره مفعول یې مقدم کړے پہ معطوف (رسولہ) باندے دا روستو وجہ روح المعانی کښې ذکر کړے دہ۔

تـ۹۵ دا ایت بیا زوړنہ دہ منافقینو تہ او دَهغوی دوہ صفات قبیحہ ذکر دی۔ فَاَعْرِضُوْا عَنْهُمْ مراد دا دے چہ دَ دوی سرہ خبرے هم مہ کوئ او کیناستل هم مہ کوئ۔ لِتُعْرِضُوْا مراد دَ دے نہ اعراض دَ صفح دے یعنی نہ ملامتہ کول او اعرضوا کښې مراد دَ اعراض نہ مجلس او سلام کلام پریښودل دی پہ دلیل دَ علت سرہ چہ اِنَّهُمْ رِجْسٌ دے او مراد دَ دے نہ نجاست معنویہ باطنیہ دے یعنی لکہ چہ دَ پلیت څیز نہ ځان ساتل ضروری دی نو دارنګ دَ دوی نہ ځان ساتل لازم دی دَ پاره دَ دے چہ دَ دوی پلیتی پہ تاسو کښې اثر اونکړی۔ فائده[۱]: مخکښې ایت کښې رَجَعْتُمْ او يَعْتَذِرُوْنَ ذکر دے او پہ دے کښې اِنْقَلَبْتُمْ او سَيَحْلِفُوْنَ ذکر دے دَ دے حکمت دا دے چہ رجوع مطلق واپسئ تہ وئیلے شی کہ تبدیلی دَ حال راغلے وی او کہ نہ، او انقلاب تبدیلئ دَ حال تہ وئیلے شی نو پہ اول ایت کښې صرف واپس کیدل مدینے تہ مراد دی قطع نظر دَ تبدیلئ دَ حال نہ نو هغہ وخت منافقان صرف دَ ملامتیانہ دَ بچ کیدلو دَ پاره عذرونہ پیش کوی او پہ دے ایت کښې واپسی سرہ دَ تبدیل دَ حال نہ مراد دہ یعنی مومنان روستو دَ غلبے نہ پہ تبوک کښې پہ خوشحالئ واپس شول نو منافقان اویریدل نو قسمونہ یې پیش کړل دَ پاره دَ طلب دَ معافئ کولو۔ فائده[۲]: مشرکانو تہ یې نجس وئیلے وو پہ تـ۲۸ کښې او منافقانو تہ رجس وئیلے دے ځکہ نَجَسٌ هغہ دے چہ پلیتی یې ښکاره او پټہ دواړه وی او

فَإِنْ تَرْضَوْا عَنْهُمْ فَإِنَّ اللّٰهَ لَا يَرْضٰى (٧٢)
پس که رضا شوئ تاسو د دوی نه نو يقيناً الله تعالىٰ خو نه رضا كيږي
عَنِ الْقَوْمِ الْفٰسِقِيْنَ ﴿٩٦﴾ اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ (٧٣)
د قوم نافرمان نه . بانډچيان ډير سخت دي
كُفْرًا وَّ نِفَاقًا وَّ اَجْدَرُ اَلَّا يَعْلَمُوْا حُدُوْدَ
په كفر كښې او په منافقت كښې او لائق دي د دے خبرے چه نه پوهيږي په مطلب
مَا اَنْزَلَ اللّٰهُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ ؕ وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ
د هغې احكامو چه نازل كړي دي الله تعالىٰ په رسول (صلى الله عليه وسلم) خپل باندے - او الله تعالىٰ پوهه دے
حَكِيْمٌ ﴿٩٧﴾ وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يَّتَّخِذُ (٧٥)
حكمتونو والا دے - او بعض د بانډچيانو نه هغه څوک دي چه گڼړي
مَا يُنْفِقُ مَغْرَمًا وَّ يَتَرَبَّصُ (٧٦) بِكُمُ الدَّوَآئِرَ ؕ
هغه مال چه خرچ كوي (په لار د الله كښې) تاوان او انتظار كوي په تاسو باندے د آفتونو -

رجُعْ هغه دے چه پليتي يې پټه وي نو اول وصف د مشركانو او دويم د منافقانو سره مناسب دے -

٩٦ دا هم زور نه دے منافقانو ته او صريح دا په دے خبره كښې چه الله تعالىٰ د منافقينو نه خفه دے او رضا كيدل اوچت دي د اعراض نه نو دا ترقي ده د ماقبل نه او معلومه شوه چه د منافقانو نه اعراض كول جائز دي ليكن رضا كيدل د هغوي نه منع دي -

٩٧ دا هم زور نه دے بانډچيانو منافقانو ته په ذكر د دوه صفاتو قبيحو سره اَلْاَعْرَابُ جمع د اعرابي ده هغه څوک چه په بانډه كښې اوسي او عربي هغه وي چه نسب يې د عربو سره وي - وَاَجْدَرُ دا علت دے د اَشَدُّ د پاره يعني كفر او نفاق د دوي ځكه سخت دے چه دوي د قرآن پاك او د سنت نه او د احكامو د شريعت نه ډير ناخبره دي - حُدُوْدَ لفظ عام دے احكامو او ادابو او معاني او مقاصدو ته -

عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ ۗ وَاللّٰهُ سَمِيْعٌ عَلِيْمٌ ﴿۹۸﴾

په دوی باندے دے دِ وی آفت ناکاره ، او الله تعالیٰ هر څه اوری په هر څه پوهه دے

وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ

او بعض دَ باندې چیانو نه هغه څوک دی چه ایمان لری په الله او په ورځ

الْاٰخِرِ وَيَتَّخِذُ مَا يُنْفِقُ قُرُبٰتٍ عِنْدَ اللّٰهِ

دَ آخرت او گنړی خرچ کول (په لار دَ الله تعالیٰ کښ) سبب دَ نزدیکت الله تعالیٰ ته

وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ ۗ اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ ۗ

او سبب دَ دُعاګانو دَ رسول (صلی الله علیه وسلم). خبر شئ یقیناً دا خرچ کول سبب دَ نیزدے والی دَ دوی دے

سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ فِيْ رَحْمَتِهٖ ۗ اِنَّ اللّٰهَ

زر دے چه داخل به کړی دوی لره الله تعالیٰ په خاص رحمت خپل کښ. یقیناً الله تعالیٰ

غَفُوْرٌ رَّحِيْمٌ ﴿۹۹﴾ ع وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ ع ۱۲ ۱۰

بخونکے رحم کوونکے دے. او مخکښ کیدونکی ایمان ته چه ړومبی دی

۹۸ دے کښ هم زورنه ده دغے منافقینو ته او دَ هغوی دوه صفات قبیحه ذکر دی. مَغْرَمًا هغه څیز چه انسان یې واجب او فائده من نه ګڼړی او مجبوراً یې کوی او دا صفت په علاماتو دَ قیامت کښ هم حساب دے. دَوَآئِرَ جمع دَ دائرة ده، هغه حالت ته وائی چه بدل شی دَ نعمت نه مصیبت ته مراد ترینه عامے حادثے دی. عَلَيْهِمْ دَآئِرَةُ السَّوْءِ دا دُعاءِ شر ده په دوی باندے په آخر دَ تولو صفاتو کښ، او دَ دینه مراد حادثے دَ مصیبتونو او دَ عذابونو او دَ شکست دی.
۹۹ دا ذکر دَ بعضِ باندے چیانو مؤمنانو دے په مقابله دَ منافقانو کښ او بشارت دے هغوی ته. وَصَلَوٰتِ الرَّسُوْلِ مراد دَ دے نه دعاګانے دَ پیغمبر دی چه هغه به صدقه ورکوونکو ته دعا کوله لکه آیت ۱۰۳ کښ را تلونکے دے. اَلَآ اِنَّهَا قُرْبَةٌ لَّهُمْ هر کله چه په صلوات الرسول کښ هم مقصد حصول دَ قربت الٰهی وو دَ دے وجے نه صرف دَ قربت ذکر یې په ډیر تاکید سره او کړو او غایه دَ قربت یې په سَيُدْخِلُهُمُ اللّٰهُ سره ذکر کړله او دَ رحمت نه مراد جنتونه دی

مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ

دَ مهاجرينو نه او دَ انصارو نه او هغه کسان چه

اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ ۙ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ

تابعداري کوي دَ دوي په ښه وينا کولو سره، رضا (خوشحاله) دے الله تعالیٰ دَ دوي نه

وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ

او دوي رضا دي دَ هغه نه او تيار کړيدي دوي لره باغونه چه بهيږي

تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ

لاندے دَ هغے نه ولے هميشه به وي دوي په هغے کښ هميشه.

ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١٠٠﴾ وَمِمَّنْ حَوْلَكُمْ

دا کاميابي لويه ده. او دَ هغه چانه چه چاپيره دي ستاسو نه

ت دَ دے ځائے نه تر آخر دَ سورت پورے څلورمه حصه ده او په دے حصه کښ
درے قسمه دَ صحابو کرامو نه ذکر شويدي په واقعه دَ تبوک کښ. يو قسم مجاهدين
دويم قسم پاتے کيدونکي دَ جهاد نه ليکن زر توبه ايستونکي، او دريم قسم پاتے کيدونکي
دَ جهاد نه او روستو کوونکي توبے لره. او په دے حصه کښ ترغيبات دي جهاد ته
او دا رنګ زورنے دي منافقينو ته دَ هغوي په ناکاره اعمالو او په آخر دَ سورت کښ
صداقت دَ رسول صلی الله علیه وسلم او دعوه دَ توحيد ده! په دے آيت کښ
لوئے والے دَ شان او زيرے په رضا دَ الله تعالیٰ او په جنتونو سره دَ ټولو صحابو
رضوان الله اجمعين دَ پاره ذکر دے. او دا رنګ هغه کسان چه دَ صحابه کرامو
تابعداري کوونکي وي سره دَ دے نه چه مدحه کوي دَ صحابو په دے آيت کښ دوه قولونه دي
اول دا چه دَ السابقون نه مراد هغه صحابه کرام دي چه دَ ټولو نه مخکښ دَ ايمان او
هجرت او نصرت صفت ئے حاصل کړيدے او دَ والذين اتبعوا نه مراد نور صحابه
کرام دي چه روستوئے ايمان راوړے دے او دا دواړه قسمونه دَ سورة انفال په ۷۲
۷۵ کښ ذکر شويدي نو آيت صرف دَ صحابه کرامو په باره کښ دے او تائيد دَ دے
روايت دَ محمد بن کعب قرظي دے چه خازن او آلوسي وغيره نقل کړے دے.
دويم قول دا دے چه مراد السابقون الاولون نه ټول صحابه کرام دي لکه چه

مِنَ الْاَعْرَابِ مُنٰفِقُوْنَ ۛؕ وَمِنْ اَهْلِ

دَ بانډچیانو نه منافقان دی - او بعض دَ

الْمَدِيْنَةِ ۛ مَرَدُوْا عَلَى النِّفَاقِ لَا تَعْلَمُهُمْ ؕ

مدینے والو نه کلک دی په منافقت باندے، ته نه پیژنے دوی

نَحْنُ نَعْلَمُهُمْ ؕ سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ

مونږ پیژنو دوی لره زر دے چه عذاب به ورکړو دوی لره دوه کرته

الواحدی په تفسیرالوجیزکښ ذکرکړے دی چه ټول صحابه کرام دَ اُمت نه مخکښ دی په ایمان راوړلو او په صحبت او رویت دَ نبی صلی الله علیه وسلم کښ - او وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْ نه روستو خلق مراد دی په شرط دَ اتباع اودَ احسان سره ترقیامته پورے نو بنا په اول قول باندے په دے ایت کښ تفاوت دَ مرتبو دَ صحابو ته هم اشاره ده یو قسم وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ اودویم قسم دَ هغوی نه روستو ایمان راوړونکی۔ دَ سَابِقُوْنَ معنیٰ دا ده چه دَ نورو کسانو نه ئے مخکښ ایمان راوړے دے اودَ پیغمبر تابعداری ئے کړے ده او هجرت او نصرت ئے کړے دے اودَ اَلْاَوَّلُوْنَ مراد دادے چه دَ دوی زمانه دَ ایمان راوړلو دَ نورو نه مخکښ ده۔ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ په دے کښ دوه قوله دی اول قول دَ دے نه روستو صحابه کرام مراد دی چه هغوی دَ مخکنو صحابه کرامو تابعداری کړے ده۔ دویم قول هغه کسان مراد دی چه ترقیامته پورے دَ صحابه کرامو تابعداری ئے کړے وی۔ بِاِحْسَانٍ دوه معنے دی اوله معنیٰ دا ده چه تابعداری کوی دَ هغوی په هغه کارونو کښ چه هغه دَ قرآن وسنت موافق وی، نو کوم کارونه چه دَ هغوی نه په خطایئے صادر شوے وی هغه ترینه خارج شول۔ دویمه معنیٰ دا ده چه تابعداری کوی دَ صحابه کرامو سره دَ نیکے وینا نه په باره دَ هغوی کښ نو په دے لفظ سره هغه خلق خارج شول چه هغوی دَ صحابه کرامو عیبونه بیانوی او په هغوی طعن کوی لکه شیعه ګان او روافض وغیره۔

نکتۀ: دَ تاکید دَ بشارت دَ وجے نه دَ تَحْتَهَا نه مِنْ غورځولے دے چه دلالت کوی په ډیر نزدیکت باندے سره دَ لاندے والی نه۔

مع عند المتقدمين ١٢

ثُمَّ يُرَدُّوْنَ اِلٰى عَذَابٍ عَظِيْمٍ ۚ (۱۰۱)

بیا به اوگرځولے شی دوی عذاب لوئے ته .

<u>ت۱۰۱</u> دے ایت کښ ذکر دے دَ منافقینو او هغوی له یره وړکول دی په عذاب سره او ربط دَ دے دَ مخکښ ایت سره ربط دَ مقابلے دے یعنی دَ منافقانو مقابل صحابه کرام دی.
لَا تَعْلَمُهُمْ الوسی او قرطبی وئیلے دی چه دا ایت صریح دلیل دے په دے خبره چه پیغمبر پاک ترا اخر وخت پورے هم په غیب باندے نه پوهیدلو ځکه چه دا سورت دَ هغے سورتونو نه دے چه په نهم اولسم کال دَ هجرت نازل شوے دی. بل دا دلیل دے په دے خبره چه دَ هیچا په باره کښ یقیناً حکم نه شی کیدے چه دا جنتی دے یا دوزخی دے ماسیوا دَ هغے کسانو نه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ هغوی په باره کښ خبر ورکړے دے
سوال۱: سورة محمد ت۳۰ کښ دی چه "لَتَعْرِفَنَّهُمْ فِیْ لَحْنِ الْقَوْلِ"؟
جواب دَ دے دَ ابن کثیر نه په تفسیر دَ سورة محمد کښ موندن نقل کړے دے هلته کښ اوګورئ حاصل جواب دا دے چه دلته علم په ټولو منافقینو باندے مراد دے او سورة محمد کښ علم په بعضو باندے مراد دے.
سوال۲: تفسیر جمل کښ وئیلے دی چه ایت دَ سورة محمد ناسخ دے دَ دے ایت او دا منسوخ دے؟
جواب: ټولو محققینو مفسرینو وئیلے دی چه دا سورت په ترتیب دَ نزول کښ ع۱۱۳ دے او سورة محمد ع۹۵ دے نو هغه دَ دے ناسخ نشی کیدلے دا رنګ صاحب دَ تفسیر جمل دَ دا سے مقام نه دے چه دَ هغه قول دَ محققینو مفسرینو په مقابله کښ نشی قبلیدلے
سوال۳: روایت ح دَ ابن عباس او دَ ابن مسعود نه مفسرینو دلته او سورة محمد کښ ذکر کړے دے هغه دلالت کوی چه نبی صلی الله علیه وسلم دوی پوره پیژندل؟
جواب: هغه روایت ضعیف دے پو راوی دَ هغے اسباط دے تهذیب التهذیب ص۲۱۲/۱ کښ هغه ته ضعیف وئیلے دی او بل راوی سدی کبیر دے په هغه باندے په دغه کتاب ص۳۱۴/۱ کښ کلام دے یعنی په باب دَ حدیث کښ کمزوړے دے.
سَنُعَذِّبُهُمْ مَّرَّتَيْنِ په دیکښ یو عذاب دنیوی دے او دویم عذاب قبر دے . ثُمَّ يُرَدُّوْنَ دینه مراد عذاب دَ قیامت دے دا سے الواحدی په الوجیز کښ او ابن کثیر ذکر کړے دی.

وَاٰخَرُوْنَ اعْتَرَفُوْا بِذُنُوْبِهِمْ خَلَطُوْا

او نور کسان دی چه اقرار ئے کړیدے په ګناهونو خپلو یا نده ګډ کړیدے دوی

عَمَلًا صَالِحًا وَّاٰخَرَ سَيِّئًا ۭ عَسَى اللّٰهُ

ښه عمل نیک او نور بد عمل۔ نیزدے ده چه الله تعالیٰ

اَنْ يَّتُوْبَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّ اللّٰهَ غَفُوْرٌ

توبه قبوله کړی د دوی۔ یقینًا الله تعالیٰ بخونکے دے

رَّحِيْمٌ ﴿۱۰۲﴾ خُذْ مِنْ اَمْوَالِهِمْ صَدَقَةً

رحم کوونکے دے۔ اخله د مالونو د دوینه زکوٰة

تُطَهِّرُهُمْ وَتُزَكِّيْهِمْ بِهَا وَصَلِّ عَلَيْهِمْ ۭ

چه پاکوے ته دوی لره (د ګناهونو نه) او زیاتی کوے دوی لره مال په سبب د هغے او دُعا کوه دوینه

۱۰۲ دے اٰیت کښں دویم قسم د صحابو کرامو ته اشاره ده چه هغوی د غزوه تبوک نه پاتے شوے وو او بیا ئے ځانونه د جماعت په ستنو پورے تړلے وو او وعده ئے کړے وه چه مونږ ځان نه پرانیزو تر دے چه زمونږ توبه قبوله شی او رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ پرانیزی او د غسے اوشول۔ د ابو عثمان نه روایت دے چه نیشته په قراٰن کښں یو اٰیت چه زما په نیز ډیر اُمید کیدے شی د هغے د پاره د دے اُمت، مګر دا دے، اشاره ده دیته چه دا اٰیت عام دے صحابو پورے خاص نه دے عَمَلًا صَالِحًا په نورجهادونو کښں شرکت کول او دارنګ د دے ګناه نه زړ توبه کول۔

تُطَهِّرُهُمْ ضمیر د فاعل راجع دے صدقة ته او صیغه د مونث غائب ده یا صیغه د مخاطب ده چه نبی صلی الله علیه وسلم دے۔

وَتُزَكِّيْهِمْ دا صیغه د مخاطب ده یقینًا او مراد د تزکیه نه بچ کول دی د خباثت د نفاق نه او زیادت د مال او د درجاتو سره او نسبت د دے نبی صلی الله علیه وسلم ته سببی دے چه هغه دُعا د هغه ده چه ورپسے د صَلِّ سره ذکر ده۔

إِنَّ صَلٰوتَكَ سَكَنٌ لَّهُمْ وَاللّٰهُ سَمِيعٌ

یقیناً دُعا ستا آرام دے (د زړونو) دوی او الله تعالی هر څه اوری

عَلِيمٌ ﴿۱۰۳﴾ أَلَمْ يَعْلَمُوٓا أَنَّ اللّٰهَ هُوَ يَقْبَلُ

په هر څه پوهه دے۔ آیا دوی نه پوهیږی چه یقیناً الله تعالی، خاص هغه قبلوی

التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَيَأْخُذُ الصَّدَقٰتِ

توبه د بندګانو خپلو نه او قبلوی زکوٰتونه

وَأَنَّ اللّٰهَ هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿۱۰۴﴾

او یقیناً الله تعالی خاص هغه ډیر توبه قبلوونکے رحم کوونکے دے۔

وَقُلِ اعْمَلُوا فَسَيَرَى اللّٰهُ عَمَلَكُمْ

او ته ورته اووایه عمل کوئ پس خامخا وینی الله تعالی عمل ستاسو

س۱۰۳ دا آیت هم د دغه صحابه کرامو په باره کښ دے چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د زکوٰة قبض کولو نه منع کړے وه نو الله تعالی اوفرمائیل چه د دوی توبه قبول شوے ده نو زکوٰة د دوی قبض کوه او دا حکم بیا عام دے هر امیرالمومنین ته چه د مؤمنانو زکوٰة دے قبض کوی او هغوی ته دے دُعا کوی۔

فائده: طریقه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا وه چه زکوٰة به صحابه کرامو راوړونو رسول الله صلی الله علیه وسلم به قبض کوو لیکن دا قبض په طریقه د وکالت سره وو، نه په طریقه د ملکیت سره اوبیا به یئے د هغے په مصرفونو کښ خرچ کوؤ او زکوٰة ورکوونکو ته به یئے دعا کوله خاص په لفظ د صلوٰة سره۔

س۱۰۴ دے آیت کښ ترغیب دے توبے کولو ته او صدقاتو ورکولو ته، اشاره ده په دے کښ دیته چه عبادت مالی سره عبادت بدنی یعنی توبه یوځائے کول پکار دی۔ او دا آیت دلیل دے چه په س۱۰۲ کښ عسیٰ د پاره د شک نه دے۔

یَأْخُذُ دا صفت د الله تعالی په حدیث د ابن مسعود کښ ذکر کړے دے چه اِنَّ الصدقة تقع فی ید الله تعالی قبل ان تقع فی یَدِ السَّائل (ابن کثیر)۔ یقیناً صدقه د الله تعالی په لاس کښ پریوزی مخکښ د پریوتلو نه په لاس د سوال کوونکی کښ۔

وَرَسُولُهٗ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ۭ وَسَتُرَدُّوْنَ اِلٰى

اورسول (صلی اللہ علیہ وسلم) دَ هغه او مؤمنان - او زر دے چه اوبه کړے شی تاسو هغه ذات ته

عٰلِمِ الْغَيْبِ وَالشَّهَادَةِ فَيُنَبِّئُكُمْ

چه پوهه دے په پټو او ښکاره وُ نو خبر به درکړی تاسو لره

بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ۚ﴿۱۰۵﴾ وَاٰخَرُوْنَ مُرْجَوْنَ

په هغه عملونو چه تاسو یئے کوئ - او نور کسان دی چه روستو کړے شوے دی

لِاَمْرِ اللّٰهِ اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ ۭ

فیصلے دَ الله تعالیٰ ته یا به عذاب ورکړی دوی لره او یا به توفیق دَ توبے ورکړی دوی ته

وَاللّٰهُ عَلِيْمٌ حَكِيْمٌ ﴿۱۰۶﴾ وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا

او الله تعالیٰ پوهه دے په هر څه، حکمتونو والا دے. (او بعض دَ منافقانو نه) هغه کسان دی چه جوړ کړی یئے

ف۱۰۵ دا آیت هم خطاب وو اولاً صحابو ته او بیا ټولو مؤمنانو ته.

نکته: په دے آیت کښې والمؤمنون، ذکر دے او آیت ۹۴ کښې دا نه وو ذکر شوے دَ دے وجه دا ده چه هغه آیت په باره دَ منافقینو کښې وو او هغوی دَ مؤمنانو نه پټ کارونه کول نو هلته ځکه مؤمنون ذکر نه شو او دا آیت په باره دَ مؤمنانو کښې دے او دَ مؤمنانو عمل دَ نورو مؤمنانو سره شریک وی او دَ هغوی په مخکښې وی او هغوی ترینه خبریږی او بعضِ مفسرینو ذکر کړے دی چه مراد دا دے چه دَ ژوندو عملونه په مؤمنانو رشته دارانو مړو باندے پیش کیږی او دَ دے دَ پاره حدیث دَ ابوداؤد طیالسی باندے استدلال کوی او هغه مسند احمد په روایاتو دَ انس رضی الله عنه کښې ذکر کړے دے (چه اعمال ستاسو په خپلوانو مړو باندے پیش کیږی) لیکن دَ دے په سند کښې مجهول راوی دے په دے استدلال صحیح نه دے بله وجه دا ده چه عرض مستلزم دَ علم نه دے لکه ثم عرضهم علی الملائكة.

ف۱۰۶ دا دریم قسم صحابه کرام دی، دا درے کسان وو، کعب بن مالک، هلال ابن أمیه او مراره بن ربیع رضی الله عنهم دوی دَ غزوه تبوک نه پاتے شوے وو بغیر دَ څه عذر نه او بیا ئے په توبه کښې هم تاخیر کړے وو چه دَ هغے تفصیل په حدیث

مَسْجِدًا ضِرَارًا وَّكُفْرًا وَّتَفْرِيْقًا بَيْنَ

جومات دَ ضرر ورکولو دَپاره او دَ دوجې دَ کفرته او دَ جدا ایئ دَ پاره په مینځ

الْمُؤْمِنِيْنَ وَاِرْصَادًا لِّمَنْ حَارَبَ اللّٰهَ

دَ مؤمنانو کښې او مورچه دَ پاره دَ هغه چاچه خلاف یئے کړے دَ الله تعالیٰ

وَرَسُوْلَهٗ مِنْ قَبْلُ ؕ وَلَيَحْلِفُنَّ اِنْ اَرَدْنَآ

او دَ رسول (صلی الله علیه وسلم) دَ هغه مخکښې دَ دے نه۔ او خامخا قسمونه کوی دوی چه اراده نه ده کړے مونږه

اِلَّا الْحُسْنٰى ؕ وَاللّٰهُ يَشْهَدُ اِنَّهُمْ

مګر نیکی کول۔ او الله تعالیٰ خبر ورکوی چه یقینًا دوی

لَكٰذِبُوْنَ ﴿١٠٧﴾ لَا تَقُمْ فِيْهِ اَبَدًا ؕ لَمَسْجِدٌ

خامخا دروغژن دی۔ مه اودریږه ته په دے جومات کښې هیچرے۔ خامخا هغه جومات

دَ بخاری کښې راغلی دے په دے ایت کښې دَ هغوی فیصله موقوف شوه او دَ دوی
توبه پنځوس ورځے بعد قبوله شوے ده چه دَ هغے ذکر ١١٨ ایت کښې به رائی۔
اِمَّا يُعَذِّبُهُمْ وَاِمَّا يَتُوْبُ عَلَيْهِمْ دا تردید په نسبت دَ بندګانو سره دے چه تاسو
دَ دے انتظار اوکړئ یعنی یا عذاب یا توبه۔
١٠٧ په دے ایت کښې زور نه ده په خاص عمل دَ منافقانو چه هغه مسجد ضرار
جوړول وو او دا یئے دَ دے دَ پاره ذکر کړو چه دَ مؤمنانو او دَ منافقینو په مینځ
کښې تمیز راشی۔ دا مسجد ضرار دے منافقانو په مقابله دَ مسجد قبا کښې جوړ
کړے وو او دا طریقه دوی ته ښودلے وه ابو عامر راهب، چه هغه مرتد شوے وو
او دَ قیصرِ روم سره یئے رابطه جوړه کړے وه۔ تفصیلی واقعه مفسرینو لیکلے ده هرکله
چه دا مسجد یئے تیار کړو نو راغلل رسول الله صلی الله علیه وسلم ته او هغه دَ
تبوک دَ پاره تیاری کوله نو دوی ورته اوئیل چه مونږ یو جومات جوړ کړے دے
دَ معذورو خلقو دَ پاره او زمونږ دا خوښه ده چه ته په هغے کښې اول مونځ
اوکړے او دَ برکت دُعا اوکړے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چه
اوس زه مشغول یم په تیارئ دَ سفر کښې او هرکله چه واپس راشم نو بیا به ستاسو
مسجد کښې مونځ اوکړم هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم لاړو تبوک ته

أُسِّسَ عَلَى التَّقْوٰى مِنْ أَوَّلِ يَوْمٍ أَحَقُّ

چه بنیاد ئې ایښودلے شوے په اخلاص دَ عقیدے باندے دَ اولے ورځے نه زیات لائق دے دَ دے

أَنْ تَقُوْمَ فِيْهِ ۚ فِيْهِ رِجَالٌ يُّحِبُّوْنَ

چه ته اودرېږے په هغے کښې (دَ مونځ دَ پاره) . پراته دی جومات کښې داسے سړی دی، چه خوښوی

أَنْ يَّتَطَهَّرُوْا ۚ وَاللّٰهُ يُحِبُّ الْمُطَّهِّرِيْنَ ﴿۱۰۸﴾

دا چه پاک کړی ځان ، او الله تعالیٰ مینه کوی دَ داسے پاکانو سره.

او واپس شو نو الله تعالیٰ دا وحی را اولیږله او په دے آیت[۱۰۷] کښې دَ هغې مسجد څلور صفاتِ قبیحه ئې بیان کړیدی او هغه په اصل کښې صفات دی دَ جوړوونکو دَ مسجد. اول ضرار ورکول بل مسجد ته، او ضرار او ضرر کښې دا فرق دے، ضرار هغه کار دے چه نه وی په هغې کښې هیڅ فائده او ستا کاونړای ته نقصان وی. او ضرر هغے ته وائي چه ستا په هغې کښې فائده وی او ضرر کاونړای ته وی. دویم صفت کفر دے یعنی جوړوونکو دا مسجد دَ کفر په عقیده باندے جوړ کړے دے. او دریم تفریق دے یعنی دے دَ پاره ئې جوړ کړیدے چه دَ مؤمنانو په مینځ کښې جدائي راشی. او څلورم اِرْصَاد دے یعنی هغه څوک چه مشرک او مبتدع وی نو هغه له په دے مسجد کښې ځائے ورکوی دَ پاره دَ بیان یا دَ پاره دَ نورو مکرونو. فائده[۱]: دَ دے آیت نه معلومه شوه چه هر مسجد جوړول چه په هغې کښې دَ دے صفاتو نه یو صفت هم وی نو هغه مسجد ضرار دے. او په وخت دَ قدرت کښې دَ هغې نړول واجب دی. او شیخ الاسلام ابن تیمیه په کتاب الاقتضاء کښې ذکر کړے دی چه کوم جوماتونه چه دَ قبرونو دَ بزرګانو په خوا کښې جوړ شویدی دَ هغوی دَ دفن نه روستو دَ هغوی دَ تعظیم په نیت سره نو هغه هم په حکم دَ مسجد ضرار کښې راځی او شربینی لیکلی دی چه هر مسجد چه جوړ شی په فخر کولو، ریا کولو یا بل غرض وی سیوا دَ رضا دَ الله تعالیٰ نه نو هغه هم په حکم دَ مسجد ضرار کښې داخل دے. فائده[۲]: دَ دے نه معلومه شوه چه هر کار دَ دین چه څوک په غرضِ فاسد سره کوی نو په هغه کښې صفت دَ نفاق دے.

مِنْ قَبْلُ مخکښې دَ مسجد جوړولو نه یا مخکښې دَ غزوه تبوک نه. اِلَّا الْحُسْنٰى یعنی دوی وئیل چه دا مونږ دَ بوډاګانو او معذورو خلقو دَ پاره جوړ کړیدے چه مسجد قبا او مسجد نبوی ته نشی رسیدلے.

ف[۱۰۸] په دے آیت کښې حکم دَ مسجد ضرار بیان شو چه په هغې کښې مونځ کول منع دی.

أَفَمَنْ أَسَّسَ بُنْيَانَهُ عَلَىٰ تَقْوَىٰ مِنَ

ایا پس هغه څوک چه ایخې دے بنیاد د اٰبادئ خپلے په یره د

اللَّهِ وَرِضْوَانٍ خَيْرٌ أَمْ مَنْ أَسَّسَ

الله تعالیٰ نه او په رضامندئ د هغه، غوره دے؟ او که هغه څوک چه ایخې دے بنیاد

بُنْيَانَهُ عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ هَارٍ فَانْهَارَ بِهِ

د اٰبادئ خپلے په غاړه د یو ډډ کمر باندے چه غورزیږی، پس او غورزیږی سره د دغه

فِي نَارِ جَهَنَّمَ ۗ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ

په اور د جهنم کښ - او الله تعالیٰ توفیق د نیکئ نه ورکوی قوم

الظَّالِمِينَ ﴿١٠٩﴾ لَا يَزَالُ بُنْيَانُهُمُ الَّذِي

ظالمانو ته ۔ همیشه به وی اٰبادی د دوی هغه چه دوی

لَمَسْجِدٌ أُسِّسَ عَلَى التَّقْوَىٰ په دے کښ اختلاف دے چه مراد د دینه مسجد قبا دے
یا مسجد نبوی دے. غوره په دیکښ اول قول دے لیکن دا حکم عام دے. مِنْ أَوَّلِ
یَوْمٍ مراد ترینه هغه اوله ورځ د هجرت د نبی صلی الله علیه وسلم ده چه په هغے کښ
مدینے منورے ته را اورسیدل او د مسجد قبا بنیاد ئے کیښودو او د دے لفظ نه
عمر رضی الله تعالیٰ عنه استنباط کړیدے د پاره د شروع کولو د تاریخ د هجرت.
رِجَالٌ يُحِبُّونَ دا صفت دے د صحابه کرامو. أَنْ يَتَطَهَّرُوا مراد د تطهر نه عام
دے باطنی پاکوالے یعنی د شرک او گناهونو نه ځان بچ ساتل او ظاهری پاکوالے
یعنی استنجاء کول او په اودس ماتے پسے زر بیا اودس کول او په اودس پسے دوه
رکعتونه کول او په جنابت پسے زر غسل کول دا په مختلف روایاتو سره ثابت دی.
۱۰۹ په دے اٰیت کښ د دغه دوو قسمونو جوماتونو په مینځ کښ تقابل دے او مسجد
ضرار والو ته یره ورکول دی او دا علت دے د پاره د ماقبل اٰیت. تَقْوَىٰ
مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانٍ تقوی علتِ مادیه دے او رضوان علتِ غائیه دے او په
دیکښ اشاره ده چه بنیاد د دوی قوی او مضبوط دے او د مقابل بنیاد کمزورے
دے. او عَلَىٰ شَفَا جُرُفٍ اه په طریقه د مثال دے د پاره د کمزورئ بنیاد او په
دیکښ اشاره ده چه د مسجد ضرار بنیاد کمزورے دے. لَا يَهْدِي مراد د دینه

بُنۡيَٰنُهُمُ ٱلَّذِي بَنَوۡاْ رِيبَةٗ فِي قُلُوبِهِمۡ إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ

جوړه کړې بوه سبب دَ غصے په زړونو دَ دوی کښې (پس دَ نړیدلو دَ هغې نه) تر هغه وخته چه ټکړے ټکړے شي

قُلُوبُهُمۡۗ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿١١٠﴾ ۞إِنَّ ٱللَّهَ

زړونه دَ دوی. او الله تعالی پوهه دے حکمتونو والا دے. یقینًا الله تعالی

ٱشۡتَرَىٰ[1] مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَنفُسَهُمۡ

اخستے دی دَ مؤمنانو نه نفسونه دَ هغوی

وَأَمۡوَٰلَهُم بِأَنَّ لَهُمُ ٱلۡجَنَّةَۚ[2] يُقَٰتِلُونَ

او مالونه دَ هغوی په بدل دَ دیکښې چه دوی لره به جنت وی. جنګ به کوی

فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ فَيَقۡتُلُونَ وَيُقۡتَلُونَۖ

په لار دَ الله تعالی کښې نو وژنی به کافرانو لره او دوی به هم وژلے کیدی شی،

هدایت دَ اصلاح او دَ نجات دے. جُرُفٍ هغه کمر په کنده دَ اوبو کښې یا په ویخ دَ کوهی کښې چه اوبو خوړلے وی نو په کښې دَ ړ وی.

۱۱۰ هرکله چه رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ مسجد ضرار دَ نړولو حکم اوکړو او صحابه کرامو هغه اونړوو نو په هغے منافقان ډیر غصه شول لیکن هیڅ مقابله یې نه شوه کولے دے ایت کښې هغے ته اشاره ده.

بُنۡيَانُهُمُ دا مصدر په معنی دَ مفعول دے او دلته مضاف محذوف دے یعنی هدم بنیاهم (نړول دَ ابادئ دَ دوی) او رِيبَةً نه مراد غضب او غیظ دے یا بنیان نه مراد نفس ابادول دَ مسجد ضرار دی یعنی مصدر په خپله معنی سره دے او مضاف محذوف نه دے یعنی هرکله چه مسجد ضرار یې اباد کړو نو سبب شو دَ پاره دَ زیادت دَ منافقت نو مراد دَ ریبة نه نفاق دے.

إِلَّآ أَن تَقَطَّعَ إِلَّا په معنی دَ الی أن سره دے او مراد دَ دینه مرګ دے په غصه او په نفاق باندے او وئیلے شویدی چه مراد دَ دے نه توبه ده په اخلاص دَ زړه سره.

وَعْدًا عَلَيْهِ حَقًّا فِي التَّوْرٰىةِ وَالْإِنْجِيْلِ

وعده کړیده دَ دوی سره الله تعالیٰ وعده رښتینې، چه ذکر شویده په تورات او په انجیل کښ

وَالْقُرْاٰنِ ۭ وَمَنْ اَوْفٰى بِعَهْدِهٖ مِنَ اللّٰهِ

او قرآن کښ۔ او څوک به ئې پوره کوونکے دے لوظ خپل لره دَ الله تعالیٰ نه

فَاسْتَبْشِرُوْا بِبَيْعِكُمُ الَّذِيْ بَايَعْتُمْ بِهٖ ۭ

نو خوشحاله شئ په خرڅولو خپلو سره هغه خرڅول چه سودا کړیده تاسو په هغې الله تعالیٰ سره۔

وَذٰلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴿١١١﴾ اَلتَّاۗىِٕبُوْنَ

او دا کامیابي لویه ده۔ (دا خلق) توبه کوونکی دی

الْعٰبِدُوْنَ الْحٰمِدُوْنَ السَّاۗىِٕحُوْنَ الرّٰكِعُوْنَ

بندګی کوونکی دی ستائنه کوونکی دی (دَ الله تعالیٰ) ګرځیدونکے دی (دَ جهاد دپاره) رکوع کوونکی دی

السّٰجِدُوْنَ الْاٰمِرُوْنَ بِالْمَعْرُوْفِ وَالنَّاهُوْنَ

سجده کوونکی دی (الله تعالیٰ ته) حکم کوونکی دی په نیکئ سره او منع کوونکی دی

عَنِ الْمُنْكَرِ وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ ۭ

دَ بدئ نه او ساتنه کوونکی دی دَ پولو دَ الله تعالیٰ۔

سلا دے ایت کریمه کښ ترغیب دے جهاد ته په لس تاکیداتو سره روستو دَ زجر شدیدانه په پریښودونکو دَ جهاد باندے ربه هغه لس تاکیداتو نمبر لګولے شویدے) اِشْتَرٰی ا ه. داپه طریقه دَ تمثیل سره دے چه دَ مؤمنانو نفسونه او مالونه د الله تعالیٰ په طاعت کښ خرڅ کیدل داپشان دَ مبیعه (سودا) ده او جنت دَ هغې عوض پشان دَ قیمت دے۔ يُقَاتِلُوْنَ دا بیان دَ اَنفسهم دے چه مبیعه ده. نو په دیکښ اشاره ده چه مالونه او نفسونه دَ مؤمنانو ملکیت دَ الله تعالیٰ دے نو مؤمنانو لره اختیار نیشته چه دا بغیر دَ رضا دَ الله تعالیٰ نه خرڅ کړي۔ اَنْفُسَهُمْ دا ئې دَ دے وجے نه مخکښ کړو چه عباداتِ بدنیه ډیر دی په نسبت دَ عباداتِ مالیو۔ او دَ دے ایت پشان ایت دَ سورة صف سلا هم دے۔

وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ ﴿۱۱۲﴾ مَا كَانَ لِلنَّبِيِّ وَالَّذِيْنَ

او زیرے ورکہ داسے ایمان والو تہ۔ نہ دی جائز پیغمبر لرہ او هغه کسانو لرہ

اٰمَنُوْٓا اَنْ يَّسْتَغْفِرُوْا لِلْمُشْرِكِيْنَ وَلَوْ كَانُوْٓا

چہ ایمان والا دی، دا خبرہ چہ بخنہ غواړی مشرکانو لرہ اګر کہ وی دا

اُولِيْ قُرْبٰى مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمْ

خپلوان د دوی، روستو د هغے نہ چہ ښکارہ شو یدہ دوی تہ

۱۱۲ پہ دے آیت کښ د مؤمنانو لس صفات ذکر دی د ترغیب د پارہ۔ او د دے د پارہ چہ
د صفت د جهاد سرہ دالس صفات هم ضروری دی د پارہ د حصول د درجاتو د جنت
او دا صفات باطنیہ او ظاهریہ بدنیہ ټولو تہ شامل دی۔ اَلتَّآئِبُوْنَ مراد د دے نہ
د ټولو ګناهونو نہ توبہ کول دی کہ شرک یا کفر وی او کہ نور ګناهونہ کبیرہ او صغیرہ
وی پہ حقوق الله او پہ حقوق العباد کښ۔ اَلْعٰبِدُوْنَ مراد د دے نہ ټول عبادات
قلبیہ ظاهریہ، بدنیہ او مالیہ دی۔ اَلسّٰٓئِحُوْنَ یو معنیٰ روژہ دار، ځکہ چہ روژہ دار
سړے خوراک او څښاک او شهوات پریږدی، دویمہ معنیٰ مجاهدین، دریمہ
معنیٰ مهاجرین، څلورمہ معنیٰ طالبان د علم شربینی وئیلے دی چہ سیاحت د پارہ
د طلب د علم کښ ډیرے فائدے دی اولہ دا چہ د ډیر مختلف علماؤ سرہ
ملاقاتونہ اوشی او مختلف علمونہ حاصل کړی دویمہ دا چہ د ځان نہ بہ لوئے
علماء اووینی نو خپل ځان بہ ورتہ سپک ښکارہ شی دریمہ دا چہ د سفر د تکالیفو
سرہ بہ عادت شی۔ او پنځمہ معنیٰ د اَلسّٰٓئِحُوْنَ ګرځوونکی خپلو فکرونو لرہ پہ
توحید د الله تعالیٰ کښ۔ اَلْمَعْرُوْفِ توحید و سنت دے او المنکر شرک و بدعت
دے دارنګ دا دواړہ لفظونہ هرنیکئ او بدئ تہ شامل دی۔ وَالنَّاهُوْنَ پہ دیکښ
واؤ ذکر شو یو د دے وجے نہ چہ واؤ د پارہ د جمع دے نو مطلب دا شو چہ امر
بالمعروف او نهی عن المنکر پہ جمع صفت د مدح دے یو اځے یو نہ کافی کیږی۔
دویمہ وجہ دا دہ چہ دا واؤ ثمانیہ دے مطلب دا دے چہ د عربو عادت دا وو چہ کلہ
اووہ څیزونہ شمار کړی نو د اتم پہ ابتداء کښ واؤ ذکر کوی۔
وَالْحٰفِظُوْنَ لِحُدُوْدِ اللّٰهِ پہ دے صفت کښ اشارہ دہ چہ پہ دے ټولو کارونو
کښ د الله تعالیٰ او د رسول صلی الله علیہ وسلم د حدود رعایت کول ضروری دی۔

أَنَّهُمْ أَصْحٰبُ الْجَحِيْمِ ﴿١١٣﴾ وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ

چه يقيناً دوى جهنم والا دى. او نه وه بخنه غوښتل

اِبْرٰهِيْمَ لِاَبِيْهِ اِلَّا عَنْ مَّوْعِدَةٍ وَّعَدَهَآ

دَ ابراهيم (عليه السلام) خپل پلار لره مګر دَ وجې دَ وعدې نه وه چه کړې وه وعده

اِيَّاهُ ۚ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهٗٓ اَنَّهٗ عَدُوٌّ لِّلّٰهِ

دَ هغه (پلار) سره، پس هر کله چه ښکاره شو دهٔ ته چه يقيناً دے دُشمن دَ الله تعالىٰ دے

تَبَرَّاَ مِنْهُ ؕ اِنَّ اِبْرٰهِيْمَ لَاَوَّاهٌ حَلِيْمٌ ﴿١١٤﴾

نو جدا شو دَ هغه نه، يقيناً ابراهيم (عليه السلام) ډير نرم زړے او صبرناک وؤ.

اولحاظ دَ حدودو نه کول بدعت دے. وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِيْنَ اشاره ده چه ماقبل صفتونه بغير دَ ايمان نه سبب دَ بشارت نشي کيدلے.

١١٣ هر کله چه صفات دَ کمال دَ مؤمنانو دَ پاره ذکر شول نو په دے آيت کښ دَ مشرکانو نه دَ براءت کولو يو خاص طريقه دَ مؤمنانو دَ پاره ذکر کوى هغه دا ده چه پيغمبر او مؤمنانو له مشرکانو دَ پاره بخنه غوښتل منع دى او کوم چه حديث کښ راغلى دى رب اغفر لقومي فانهم لا يعلمون. نو دَ هغے جواب دا دے چه هغه دَ دے آيت دَ نزول نه مخکښ وو بل جواب دا دے چه اِغفر په معنىٰ دَ اِهدِ دے.

مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ دَ دے دوه مطلبه دى يو دا دے چه په قرآن کريم سره معلومه شوے ده چه مشرک ته بخنه نه کيږى لکه په سورة نساء ٤٨ ١١٦ کښ نو دے به هميشه جهنمى وى لکه په سورة مائده ٧٢ کښ او دويم مطلب دا دے چه کله مړشى په شرک باندے نو ښکاره شوه دا خبره چه دے هميشه جهنمى دے. په دے توجيه سره دا خاص دے په روستو دَ مرګ پورے ليکن اوله توجيه غوره ده ځکه مشرک ژوندى دَ پاره سوال دَ مغفرت منع دے هاں سوال دَ هدايت ورله جائز دے.

١١٤ دا جواب دے دَ يو سوال نه چه ابراهيم عليه السلام دَ مشرک پلار دَ پاره بخنه غوښتلے ده لکه سورة ابراهيم آيت ٤١ او سورة شعراء آيت ٨٦ کښ راغلے دى. نو دَ دے جواب او شو چه ابراهيم عليه السلام هغه سره وعدهٔ کړے وه نو خپله

وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِلَّ قَوْمًا بَعْدَ اِذْ هَدٰىهُمْ

او نه دے الله تعالىٰ چه گمراه (گنهگار) كړى يو قوم پس د هغے نه چه هدايت يے كړے وو دوى ته

حَتّٰى يُبَيِّنَ لَهُمْ مَّا يَتَّقُوْنَ ؕ اِنَّ اللّٰهَ بِكُلِّ

تر هغے چه ښكاره (بيان) كړى دوى ته هغه څه چه ځان بچ كوى د هغے نه. يقيناً الله تعالىٰ په هر

شَیْءٍ عَلِیْمٌ ﴿۱۱۵﴾ اِنَّ اللّٰهَ لَهٗ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ

خيز پوهه دے. يقيناً الله تعالىٰ خاص هغه لره بادشاهى ده د آسمانونو

وَالْاَرْضِ ؕ يُحْيٖ وَيُمِيْتُ ؕ وَمَا لَكُمْ مِّنْ

او د زمكے. ژوندى كول كوى او مړه كول كوى. او نيشته تاسو لره د

وعده يے پوره كړه او وعده د ده ذكر ده په سورة مريم ۴۷ او په سورة ممتحنه ۴ كښ. بيا سوال دا دے چه هركله هغه پلار يے مشرك وو نو وعده د استغفار يے ولے كوله. فَلَمَّا تَبَيَّنَ دے سره اشاره اوشوه جواب ته حاصل د جواب دا دے چه د وعدے كولو په وخت كښ دۀ ته يقين نه وو راغلے چه دا كافر او مشرك دے او هركله چه يقين يے راغے نو استغفار غوښتل يے پريښودو. دويمه توجيه دا ده چه د وعدے په وخت كښ هغه ته وحى نه وه راغلے چه مشرك د پاره استغفار منع دے نو هركله چه ورته وحى راغله د منع د استغفار د پاره د مشرك نو بيا يے استغفار بند كړو دا توجيه غوره ده. اَوَّاهٌ قرطبى د دے پنځلس معانى ذكر كړيدى ټول راجع دى نرم والى د زړه ته او دا متعلق دے د وعده كولو د پلار سره د استغفار او حَلِيْمٌ متعلق دے د استغفار غوختلو سره.

۱۱۵ دا جواب د بل سوال دے سوال دا وو هركله چه استغفار د مشرك د پاره منع وو نو د دے نه مخكښ چه چا استغفار غوښتلے دے نو هغوى گنهگار شول؟ په دے آيت كښ جواب اوشو حاصل د جواب دا دے چه قانون د الله تعالىٰ دا دے چه څو پورے يو حكم نه وى بيان كړے نو د هغے په مخالفت كولو سره مؤمن سړے نه گمراه كيږى ځكه معصيت خو وئيلے شى خلاف د مامور به ته او ارتكاب د منهى عنه ته. او مراد د لِيُضِلَّ نه حكم كول دى د گمراهئ يا سزا وركول دى د گمراهئ. فائده ۱: د دے آيت نه معلومه شوه چه احكام شرعيه بنا دى په وحى باندے. فائده ۲: دا رنگ د ورود د شرعے نه وړاندے په چا باندے حكم د گنهگاركيدلو نه شى كيدے.

دُوْنِ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿١١٦﴾

الله تعالیٰ نه سيوا خوک دوست او نه مددګار .

لَقَدْ تَّابَ اللّٰهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهٰجِرِيْنَ

يقيناً مهربانی کړيده الله تعالیٰ (په اسانتيا راوستلو) په نبی (صلی الله عليه وسلم) او په مهاجرينو

وَالْاَنْصَارِ الَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُ فِيْ سَاعَةِ

او په انصارو هغه کسان چه تابعداری ئې کړيده دده په حالت

الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيْغُ قُلُوْبُ

د تنګسيا کښ پس د هغې نه چه نيزدے وه چه کاږه شوے وے زړونه

فَرِيْقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ ۭ اِنَّهٗ

د يوے ډلے د دوی نه بيا کلکوالے راوستو الله تعالیٰ په دوی باندے . يقيناً هغه

بِهِمْ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١١٧﴾ وَّعَلَى الثَّلٰثَةِ

په دوی باندے شفقت کوونکے رحم کوونکے دے ، (او توبه ئې قبوله کړه) د هغه درے

١١٦ داعلت د مخکښ ايت دے چه قانون بيانول د الله تعالیٰ اختيار دے ځکه چه بادشاهی د الله تعالیٰ د پاره ده - او په دے ايت کښ دعوه د توحيد ده په رد د شرک فی التصرف سره - يُحْيٖ وَيُمِيْتُ احياء او اماتت حقيقيه مراد دے او جائز ده چه هدايت او ګمراهی ترينه اشاره ګ مراد شی -

١١٧ په دے ايت کريمه کښ زيرے دے مؤمنانو ته په قبوليت د توبے او په دے ايت کښ اشاره ده تکاليفو ته په غزوه د تبوک کښ چه ګرمی سخته وه سفر اوګد وو او په سوړلو باندے هم نمبر په نمبر تلل وو او توخه د دوی زړے کهجورے وے - بيا د توبے نه مراد په دے ايت کښ تخفيف او اسانتيا راوستل دی په اول تاب کښ او زړونه کلکول دی په دويم تاب کښ - په دے کښ اشاره ده چه نبی ؑ توبے ته محتاج دے ليکن د هغه توبه د ګناه نه نه ده بلکه اسانتيا راوستل مراد دی - يَزِيْغُ مراد د زيغ نه ترک د جهاد دے ارتداد نه دے مراد - فائده: جصاص وئيلے دی چه په دے کښ مدحه د صحابه کرامو ده چه د هغوی

الَّذِيْنَ خُلِّفُوْا ؕ حَتّٰۤى اِذَا ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ

کسانو چه روستو کړے شوی وه معامله دَ هغوی، تر دے پورے چه کله تنګه شوه په دوی باندے

الْاَرْضُ بِمَا رَحُبَتْ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ

زمکه سره دَ ارتوالی نه او تنګ شو په دوی باندے زړونه دَ دوی

وَظَنُّوْۤا اَنْ لَّا مَلْجَاَ مِنَ اللّٰهِ اِلَّاۤ اِلَيْهِ ؕ

او یقین اوکړو دوی چه نیشته دے ځائے دَ پناه دَ عذاب دَ الله تعالیٰ نه مګر هغه ته دے۔

ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ لِيَتُوْبُوْا ؕ اِنَّ اللّٰهَ

بیا توفیق دَ توبے ورکړو دوی ته، دے دَ پاره چه توبه اوکړی یقیناً الله تعالیٰ

هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ ﴿۱۱۸﴾ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ع ١٤

خاص هغه توبه قبلوونکے رحم کوونکے دے۔ اے ایمان والو!

ظاهر او باطن موافق وُو او رد دے په طعن کوونکو (روافض) باندے۔

۱۱۸ په دے آیت کښ زیرے دے دَ قبولیت دَ توبے دَ هغه دریو کسانو چه په آیت ۱۰۶ کښ تیر شویدی. خُلِّفُوْا، دَ کعب رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دے چه مراد دَ دے نه روستو والے دَ حکم دَ دوی دے روستو والے دَ جهاد نه مراد نه دے ځکه هغه صفت دَ منافقانو دے۔

ضَاقَتْ عَلَيْهِمُ الْاَرْضُ، دا دے وجے نه چه دَ دوی سره صحابه کرامو معامله پریښودلے وه او خبرے ئے ورسره نه کولے په حکم دَ نبی صلی الله علیه وسلم سره۔ وَضَاقَتْ عَلَيْهِمْ اَنْفُسُهُمْ، دا دَ دے وجے نه چه ملګری به کله دوی سره مخامخ شول نو سخته وینا به ئے ورته کوله بل دا چه په دوی باندے په زړونو دَ دوی کښ ډیر غم او فکر راغلے وو. ابوبکر وراق نه روایت دے چه دَ توبهٔ نصوح علامت دا دے چه دَ ګناه دَ وجے نه په انسان باندے دَ غمے حالت راشی۔ حَتّٰۤى اِذَا، اذا غایه ده دَ خُلِّفُوْا دَ پاره او ثُمَّ تَابَ عطف دے په اذا ضاقت باندے۔

اتَّقُوا اللّٰهَ وَكُوْنُوْا مَعَ الصّٰدِقِيْنَ ﴿۱۱۹﴾

یرہ کوئ د الله تعالیٰ نه او شئ ملګری د رشتینو خلقو۔

مَا كَانَ لِاَهْلِ الْمَدِيْنَةِ وَمَنْ حَوْلَهُمْ

نه ده مناسب مدینې والو لره او هغه چا لره چه ګیر چاپیره دی

مِّنَ الْاَعْرَابِ اَنْ يَّتَخَلَّفُوْا عَنْ رَّسُوْلِ

د بانډچیانو نه چه روستو پاتې شي د رسول الله (صلی الله علیه

اللّٰهِ وَلَا يَرْغَبُوْا بِاَنْفُسِهِمْ عَنْ نَّفْسِهٖ ط

وسلم) نه او نه دې غوره کوی خپل ځانونه د هغه د ځان نه۔

ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ لَا يُصِيْبُهُمْ ظَمَاٌ وَّلَا نَصَبٌ

دا حکم په دې وجه دے چه نه رسی دوی ته تنده او نه ستړیوالے

وَّلَا مَخْمَصَةٌ فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ وَلَا يَطَـُٔوْنَ

او نه لوږه په لار د الله تعالیٰ کښې او نه ګرځي دوی

مَوْطِئًا يَّغِيْظُ الْكُفَّارَ وَلَا يَنَالُوْنَ مِنْ

په یو لارې چه غصه کوی کافرانو لره او نه حاصلوی دوی د

عَدُوٍّ نَّيْلًا اِلَّا كُتِبَ لَهُمْ بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ ط

دشمن نه څه څیز مګر لیکلې کیږی دوی لره په بدله د هغې کښې عمل نیک۔

ف۱۱۹ دا ترغیب دے جهاد ته او منع ده د پاتې کیدلو د جهاد نه پس د ذکر د پاتې کیدونکو نه، او ترغیب دے په مرکز تیا د مجاهدینو او د رشتینو خلقو۔ او په دې آیت کښې دوه امرونه دی اول کښې اصلاح د نفس انفرادی مراد ده په تقوی سره او په دویم کښې اصلاح اجتماعی مراد ده یعنی د صادقینو مرکز تیا اختیارول۔

إِنَّ اللّٰهَ لَا يُضِيعُ أَجْرَ الْمُحْسِنِينَ ﴿١٢٠﴾

يقيناً الله تعالىٰ نه ضائع كوى (برباد وى) ثواب دَ ښائسته عمل كوونكو.

وَلَا يُنفِقُونَ نَفَقَةً صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً

او نه خرچ كوى دوى څه خرچ لږ او نه ډير

وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا إِلَّا كُتِبَ لَهُمْ لِيَجْزِيَهُمُ

او نه سفر كوى دوى په يو ميدان كښې مگر ليكلے كيږى دوى لره دَ دې دَ پاره چه بدله يې وركړى دوى ته

اللّٰهُ أَحْسَنَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٢١﴾

الله تعالىٰ ډيره ښائسته دَ هغې عملونو چه دوى يې كوى.

ف١٢٠ په دے آيت كښې ترغيب دے جهاد ته يو په دے طريقه چه رسول الله صلى الله عليه وسلم جهاد كوى او په خپل نفس تكليف تيره وى نو تاسو ولے نه كوئ او ولے ځان له تكليف نه وركوئ بله طريقه داده چه په جهاد كښې هر يو تكليف تيرول سبب دَ ثواب دے. وَلَا يَطَـُٔونَ مَوْطِئًا، مطلب داده چه كله مؤمنان مجاهدين په زمكه ګرځى او كافران ورته ګورى او غصه كيږى دا هم ثواب دے. وَلَا يَنَالُونَ، مراد دَ دے نه داده چه كافران قتل كول يا هغوى له شكست وركول يا دَ هغوى نه غنيمت حاصلول دا ټول ثوابونه دى. أَن يَتَخَلَّفُوا، دَ هغه دَ حكم نه يا دَ هغه په مركز تيا كښې دَ جهاد كولو نه خلاف كول. بِأَنفُسِهِمْ الخ يعنى نبى صلى الله صلى الله عليه وسلم ډير مصيبتونه او تكليفونه بدانى په جهاد كښې په ځان باندے تيروى نو تاسو دَ هغه نه غوره نه يئ نو تاسو مصيبتونه دَ جهاد تير كړئ. بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ، يعنى دا تكليفونه پخپله عبادات نه دى ليكن دَ فى سبيل الله دَ وجے نه په دے سره اجر دَ عملِ صالح ليكلے كيږى. الْمُحْسِنِينَ كښې اشاره ده توحيد او سُنت ته يعنى دَ ثواب اصل سبب احسان دے.

ف١٢١ په دے آيت كښې هم نور عملونه دَ مجاهد ذكر دى چه په هغے سره هغه ته ثواب حاصليږى او دا عملونه پخپله عبادات دى دَ دے وجے نه دَ دے سره بِهٖ عَمَلٌ صَالِحٌ نه دے ذكر كړے. او مخكنى پخپله نيك اعمال نه وؤ ليكن دَ جهاد دَ وجے نه ثواب دَ نيك عمل وربانده وركولے

وَمَا كَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنْفِرُوا كَافَّةً ۚ
او نه ده مناسب چه مؤمنان دے اوځي (د جهاد يا د علم د پاره) ټول (په يو ځائے)
فَلَوْلَا نَفَرَ مِنْ كُلِّ فِرْقَةٍ مِّنْهُمْ طَائِفَةٌ
پس ولے نه اوځي د هرے ډلے د دوی نه کسان
لِّيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ وَلِيُنْذِرُوا قَوْمَهُمْ
دے د پاره چه پوهه حاصل کړي په دين کښ او چه يره ورکړي قوم خپل ته (په بيان د دغه علم)
إِذَا رَجَعُوا إِلَيْهِمْ لَعَلَّهُمْ يَحْذَرُونَ ﴿١٢٢﴾ ع
چه واپس شي دوی ته (قوم ته) دے د پاره چه دوی (قوم) ځان بچ کړي د ګناهونو نه.

ايت کښ محسنين ذکر کړو يعنی دغه عملونه د احسان د وجے نه صالح کړئي او په ايت کښ اَحْسَنَ ذکر کړو اشاره ده چه دا عملونه په خپله احسن دی. وَلَا يَقْطَعُونَ وَادِيًا، مراد د دينه سفر کول دی په نيت د جهاد سره. وَادِي، په اصل کښ هغه فراخ ځائے دے چه په مينځ د غرونو او ډيرکو کښ وی چونکه هغه کنده (دره) هم ده او ميدان هم دے نو د وادی اطلاق په دواړو کيږی.

١٢٢ په دے ايت کښ ترغيب دے علم د دين ته د پاره د تکميل د جهاد يعنی د جهاد د پاره مخکښ د هغے نه علم د دين ضروری دے. حاصل د ايت دا دے چه ټول کسان جهاد له مه اوزئ (کله چه جهاد فرض کفائي وی) بلکه بعضِ کسان جهاد له اوزئ او بعضِ کسان د علم د دين د پاره ځان وقف کړئ نو دا ايت دليل دے په دے خبره چه علم د دين ټول فرض کفائي دے او علم د هغے احکامو چه فرض عين وی هم فرض عين دے. فائده: په ايت کښ توجيهات دی اوله دا چه لِيَنْفِرُوا نه مراد وتل دی د جهاد د پاره ځکه چه مخکښ ايا تونو کښ ترغيب د جهاد ذکر شو. طَائِفَةٌ، د دينه مراد طائفه د مجاهدينو ده. او لِيَتَفَقَّهُوا ضمير دغه طائفے ته راجع دے په دے شرط سره چه نبی صلی الله عليه وسلم ورسره وی نو د هغه نه دين ايزده کوی يا راجع دے فِرْقَةٍ ته يعنی د جهاد نه پاتے شوی کسان دِ دين ايزده کړی او دا په زمانه د نبی پورے خاص نه دے. دويمه توجيه دا ده چه لِيَنْفِرُوا نه مراد وتل د طلب د علم د پاره دی او طائفه نه مراد طلبګار د علم دی. لِيَتَفَقَّهُوا فِي الدِّينِ، مراد د دين نه کتاب الله او سنت دے

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا قَاتِلُوا الَّذِيْنَ يَلُوْنَكُمْ

اے ایمان والو جنګ کوئ دَ هغه کسانو سره چه نیږدے دي تاسوته

مِّنَ الْكُفَّارِ وَلْيَجِدُوْا فِيْكُمْ غِلْظَةً ؕ وَاعْلَمُوْٓا

دَ کافرانو نه او او دې مومي هغوی په تاسو کښې کلکوالے۔ او پوهه شئ

اَنَّ اللّٰهَ مَعَ الْمُتَّقِيْنَ ﴿١٢٣﴾ وَاِذَا مَآ اُنْزِلَتْ الربع

چه یقینًا اللّٰه تعالیٰ ملګرے دَ متقیانو دے۔ او کله چه نازل کړې شي

سُوْرَةٌ فَمِنْهُمْ مَّنْ يَّقُوْلُ اَيُّكُمْ زَادَتْهُ

یو سورت نو بعض دَ دوي نه هغه څوک دے چه وائي کوم یو لره ستاسو نه زیاتي کړو

هٰذِهٖٓ اِيْمَانًا ۚ فَاَمَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا فَزَادَتْهُمْ

دے سورت ایمان ، پس هر چه هغه کسان دي چه ایمان ئې راوړے دے نو زیات ئې کړو هغوی لره

اِيْمَانًا وَّهُمْ يَسْتَبْشِرُوْنَ ﴿١٢٤﴾ وَاَمَّا الَّذِيْنَ

ایمان او هغوی خوشحالي کوي (دَ دے سورت په نازلیدو) - او هر چه هغه کسان دي

او تفقه نه مراد دا سے علم دے چه په هغے سره دَ حکمتونو او دَ حکمونو استنباط کیدیشي او په حدیث کښې وارد دي "مَنْ يُّرِدِ اللّٰهُ بِهٖ خَيْرًا يُّفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ"۔ وَلِيُنْذِرُوْا، مراد دَ انذار نه تبلیغ دَ قرآن او سنت دے نو دَ هغے په منلو سره او عمل کولو سره تقلید نه لازمیږي ځکه چه دا علم دے په دلیلونو سره او تقلید خو خبر منل بغیر دَ دلیل نه دي۔

١٢٣ په دے ایت کښې هم حکم دَ قتال دے او تعلیم دَ طریقے دَ جهاد دے چه دَ نږدے نه دے شروع کیدے شي. او غِلْظَةً، په معنیٰ دَ کلکوالي او دَ غیرت دے. فائده: په دے دواړو ایاتونو کښې په ترتیب سره درے ذمه وارئ دَ مؤمنانو ذکر شوے اول علم دَ دین دویم دعوت دریم قتال فی سبیل اللّٰه۔

١٢٤ هر کله چه تر دے ځائے پورے دَ دے سورت تفصیلي احکام ذکر شول او خصوصًا مسئله دَ جهاد نو په دے ایت کښې رد او زجر دے په منافقینو باندے کله چه هغه سورت نازل شو چه په هغے کښې مسئله دَ جهاد وه نو منافقانو اعتراض کوؤ چه

فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَتْهُمْ رِجْسًا

چه په زړونو د هغوی کښې مرض (د نفاق) دے نو زیاتوی (دا سورت) هغوی لره پلیتي

اِلٰی رِجْسِهِمْ وَمَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ ﴿۱۲۵﴾

د پلیتئ د هغوی سره او مړه کیږی دوی په داسے حال کښې چه کافر وی۔

اَوَلَا یَرَوْنَ اَنَّهُمْ یُفْتَنُوْنَ فِیْ كُلِّ عَامٍ مَّرَّةً

او ایا دوی سوچ نه کوی چه یقیناً دوی باندے امتحان راځی په هر کال کښې یو ځل

اَوْ مَرَّتَیْنِ ثُمَّ لَا یَتُوْبُوْنَ وَلَا هُمْ یَذَّكَّرُوْنَ ﴿۱۲۶﴾

یا دوه ځله بیا دوی نه کوی توبه او نه دوی نصیحت قبلوی۔

وَاِذَا مَاۤ اُنْزِلَتْ سُوْرَةٌ نَّظَرَ بَعْضُهُمْ

او کله چه نازل شی یو سورت (چه د منافقانو عیب پکښې وی) نو ګوری بعض د دوی

اِلٰی بَعْضٍ هَلْ یَرٰىكُمْ مِّنْ اَحَدٍ ثُمَّ

بعضو ته۔ (او د سترګو په اشاره یو بل ته وائی) ایا وینی تاسو لره څوک، بیا

ددے د نازلیدلو څه فائده ده نو جواب اوشو چه په دے سره د مؤمنانو ایمان زیاتی کیږی ځکه چه هغوی په دے باندے عمل کوی۔ فَزَادَتْهُمْ اِیْمَانًا، مجاهد نه نقل دے چه دا آیت دلیل دے چه ایمان زیادت قبلوی یعنی ایمان کښې زیاتے راځی که په درجه د نفسِ تصدیق او یقین کښې وی او که اعمالو سره وی۔

۱۲۵ دا بیان د حال د منافقینو دے چه حکم د قتال چه کله نازل شی نو منافقان د هغے نه خلاف کوی او سستی کوی نو د هغوی پلیت والے نور زیات شی۔ او د دے زیادت ذکر په سورة مائده ۶۴ ۶۸ او اسراء ۸۲ کښې هم شته او رجس د منافقت په دے سورة ۹۵ کښې ذکر دے۔

۱۲۶ دے کښې زورنه ده منافقینو ته چه په دوی باندے هر کال امتحان راځی په فرض کولو د جهاد سره یو ځل یا دوه ځله لیکن دوی د منافقت نه توبه نه اوباسی یعنی سره د وجود د سبب د توبے نه دوی توبه نه اوباسی نو دا علت دے د مَاتُوْا وَهُمْ كٰفِرُوْنَ۔ مَرَّةً اَوْ مَرَّتَیْنِ، یعنی غزاګانے به هر کال یو یا دوه ځله واقع کیدلے۔ یَذَّكَّرُوْنَ، توبه د افتتان سره تعلق لری او تذکر د اوریدلو د قرآن سره تعلق لری۔

انْصَرَفُوْا ؕ صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ بِاَنَّهُمْ قَوْمٌ

(او ګرځي (د مجلس ستاسو نه). ګرځوي الله تعالیٰ زړونه د دوی (د حق نه) په دې وجه چه دا قوم دے)

لَّا يَفْقَهُوْنَ ﴿١٢٧﴾ لَقَدْ جَآءَكُمْ رَسُوْلٌ مِّنْ

(چه نه پوهیږي. یقینًا راغلے دے تاسو ته رسول (صلی الله علیه وسلم) د)

اَنْفُسِكُمْ عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيْصٌ

(جنس ستاسو نه، ګران دے په هغه باندے هغه کار چه تاسو پرے تکلیف مومئ، او حرص کوونکے دے)

عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِيْنَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴿١٢٨﴾

(ستاسو په هدایت، خاص د مؤمنانو سره ډیره مینه کوونکے رحم کوونکے دے.)

ف۱۲۷ په دے کښ هم بیان د حال د منافقینو دے په هغه وخت کښ چه بیان شي سورت د جهاد او ذکر د قبائحو د منافقانو لکه دا سورت نو دوی د هغې مجلس نه د تښتې کوشش کوي. هَلْ يَرٰىكُمْ، دلته یشیرون پټ دے یعني په سترګو بل نه په اشارو سره تپوس کوي چه صحابه کرام مونږ ته ګوري او که نه. لیکن صحابه کرامو به د نبي صلی الله علیه وسلم په مجلس کښ سرونه ښکته کړے وو لکه چه په سرونو باندے ئې مارغان ناست وي او د منافقانو خوبه خیال دا وو چه دوی مونږ ته نه ګوري د ثُمَّ انصرفوا نه مخکښ دا عبارت پټ دے. لَا يَفْقَهُوْنَ، دا صفت د دوی په ۸۱ او ۸۷ کښ تیر شویدے. صَرَفَ اللّٰهُ قُلُوْبَهُمْ، دا دُعا د شر ده (خبرے) منافقانو ته پس د بیان د حالاتو د هغوی نه تفصیلًا یا جمله خبریه ده.

ف۱۲۸ دا بیان د صداقت د رسول الله صلی الله علیه وسلم دے او د نبي علیه السلام شپږ صفات پکښ ذکر دي.

اول صفت رَسُوْلٌ، دا په صفاتو د بشریت کښ اعلیٰ صفت دے او اشاره ده چه دے د ځان نه خبرے نه جوړوي نو د دهٔ اتباع فرض ده.

دویم مِنْ اَنْفُسِكُمْ، یعني ستاسو د جنس نه دے عربي دے، او بشر دے او په دے کښ اشاره ده شرافت د نسب د هغه ته او اسانتیا د حصول د علم ته د هغه نه ځکه د هم جنس نه استفاده کیدلے شي.

دریم عَزِيْزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ، یعني تاسو ته چه کوم شے تکلیف درکوي نو د هغې

فَإِنْ تَوَلَّوْا فَقُلْ حَسْبِيَ اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ

پس که دوی مخ واړوي نو ووایه بس دی ماله الله تعالیٰ، نیشته هیڅوک مستحق د عبادت سیوا د هغه نه

عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ ﴿۱۲۹﴾

په هغه باندې ما خان سپارلے دے او هغه مالک د عرش لوئې دے۔

بوج په هغه باندے وی او هغه پرے خفه کیږی۔ په دے کښ اشاره ده دې ته چه د هغه په طریقه کښ په اُمت باندے اسانتیا ده۔

څلورم حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ، مطلب دا دے چه هغه کوشش کوی د دے خبرے چه تاسو مؤمنان شئ او جنت ته داخل شئ۔

پنځم رَءُوفٌ، په مؤمنانو باندے ډیر شفقت کوونکے دے او ستاسو د حفاظت دعا ګانے غواړی۔

او شپږم رَحِيمٌ، په مؤمنانو رحم کوونکے دے۔ په دے دواړو کښ اشاره ده دے خبرے ته چه هغه به په آخرت کښ د مؤمنانو د پاره شفاعت کوی او په دُنیا کښ هم د هغه د شفقت او رحمت ډیرے واقعے موجود دی۔

۱۲۹ په دے آیت کښ بیان د مسئلے د توحید دے په څلورو جملو سره چه په آیت کښ په هره جمله نمبر لګیدلے دے اوله جمله په مقابله د منکرینو کښ وئیلے کیږی دلته هم د کافرانو د ټولو قسمونو او د منافقانو د خبائثو په مقابله کښ ذکر ده۔ دویمه جمله علت د اولے دے او دریمه تفریع ده په اول دواړو جملو باندے او څلورمه علت دے د ماقبل د پاره او ربوبیت د عرش مستلزم دے ربوبیت د ټول عالم لره۔ په روایت د ابو داوود کښ راغلی دی چه چا دا څلور کلمات صبا او بیګا اووه اووه ځله لوستل نو الله تعالیٰ به د هغه نه غمونه لرے کوی دا روایت مرفوعًا ضعیف دے او موقوف په سند حسن سره دے۔

الحمد لله چه ختم شو تفسیر د سورة التوبة۔ او د اول جلد دریمه حصه

بحمد الله ختم شوه۔

- - - - - - - - - -

کاتب: ارقم جان (خروه خیل)

فهرست دَ مضامينو